تفسیر ایوبی حنفی

تالیف

علامۂ عصر حسیب الدہر ابو الفضل مولانا محمد عبد الشہید الایوبی

القندھاری السلیمانخیلی الحنفی النقشبندی عفی عنہ

از ناشر

مکتبۃ القراءۃ والتجوید

کانسی روڈ شالدرہ کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

بسم الله الرحمن الرحیم

په پښتو ژبه کښې اولنی او په افغاني تاریخ کې بې

سارى په زرګونو جدید او نوو مسئلو باندي مشتمل

تفسیر ایوبي حنفي

دریم ټوک ۳

تالیف اوتصنیف

د علامة العصر ابو الفضل شیخ التفسیر والحدیث فقیه دوران مفسر الزمان

حضرت مولانا محمد عبید الله الایوبي

الکندهاري السلیمانخیلي الحنفي النقشبندي حفظه الله تعالی

مکتبة القراءة والتجوید

کانسي روډ شالدره کوټه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم .... تفسیر ایوبي پښتو دریم توک

مؤلف............... الحاج مولنا محمد عبید الله الایوبي الکندهاري

السلیمانخیلي الحنفي حفظه الله تعالی بفضله الوهبي

کمپوزر............... حبیب الحق حقاني

ټایپ .... حقاني کمپیوټر اداره

نشر کوونکې اداره............... مکتبة القراء ت والتجوید کانسي روډ کوټه

د چاپ ځای .... لاهور پاکستان

زېری

ومحترمو پر دین مینو مسلمانانو ورونوته خبر ورکول کېږي چې د فقیه الدوران محقق الزمان حضرت امام غزالي رحمة الله علیه کتاب یعنې **مکاشفة القلوب** زموږ اداري له عربي څخه ومعیاري او عام فهمه پښتو ته راړولی دی په کوم کې چې د حضرت فخر موجودات سردار دو عالم حضرت محمد مصطفی ﷺ او د هغه د خوږو ملګرو یعني صحابه کرامو رضي الله عنهم او اولیاء عظامو په زرګونه واقعاتې موجودي دي، دا کتاب د وعظ په باره کې د پېش امامانو لپاره یوه دري بېبها تحفه ده، د کوم په مطالعه کولو سره چې د انسان بنیادي زندګي جوړېدلای سي، او ددې کتاب په واقعاتو سره په عمل کولو کې د دواړو جهانو ګټه ده، خدای ﷻ دې موږ ته ددې کتاب پر مطالعه کولو باندې توفیق راکړي، آمین

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

جميع الحقوق محفوظة

جميع حقوق الملكية الادبية والفنية محفوظة لمكتبة القراءة والتجويد كوئته – باكستان و يحظر طبع أو تصوير أو ترجمة أو إعادة تنضيد الكتاب كاملاً أو مجزأ أو تسجيله على أشرطة كاسيت أو إدخاله على الكمبيوتر أو برمجته على اسطوانات ضوئية إلا بموافقة الناشر خطياً .

Copyright ©

All rights reserved

Exclusive rights by Maktabatul-Qraati waltajweed Quetta - Pakistan. No part of this publication may be translated, reproduced distributed in any form or by any means, or stored in a data base or retrieval system, without the prior written permission of the publisher.

الطبعة الأولى

١٤٢٦ هجري – ٢٠٠٥ ميلادي

مكتبة القراءة و التجويد

كوئته – باكستان

MAKTABTUL-QIRRAT WALTAJWEED

KANSI ROAD QUETTA BALOCHISTAN

الحمد لله وحده والصلواة والسلام علی من لانبي بعده.

وبعد: د خالق کائنات له لوی احسان سره الحمدلله د تفسير ايوبي دوه جلده له مخه تر دي دريم جزء چي پکښي د "الٓمٓ" تفسير دی، د چاپ ومنګلوته رسېدلی وو.

د الله تعالی په لوی فضل او احسان سره دادی د تفسير ايوبي دريم جلد چي پکښي د "سيقول" مکمله دوهمه سپاره ده ستاسو په لاسونو کي دی. باقي فيصله پر تاسو ده چي حضرت استاذ الاساتذه حضرت ايوبي صاحب د افغانانو لپاره تر کومه حده پوري ملا ترلي ده.

زمونږ دعاء ده چي الله تعالی دي دده صحت دائم ولري آمين" همدارنګه د تولو لوستونکو څخه دا هيله لرو چي د حضرت ايوبي لپاره د صحت کامله دعاوي وکړي، ولي چي حضرت ايوبي

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

اوس د عمر په نوي یم (۹۰) کال کښي دی،
او سره ددې چي اوس يې هم شپه او ورځ پر
ځان یوه کړیده او د مسلمانانو د اخلاقي،
عقيدوي، تعليمي او اجتماعي گټو لپاره يې خپلي موټي را نغښتي دي. الله تعالی دي د صحت کامله ژوند ورکړي، نو ان شاء الله نور جلدونه به هم ددې دريم جلد په څېر د نورو سپارو هم داغسي په يوه جلد کښي تفسير او تشريح وکړي.

زموږ اداره تکل لري چي ان شاء الله ژرنگه چي د حضرت له قلمه څخه تفسير را ووزي سمدستي به يې د کمپوټر و منگولو ته سپارو.

له محترمو لوستونکو څخه هيله ده چي که چېري څه گذارشونه د تفسير په اړه ولري تر موږ پوري يې را ورسوي. تر څو ددوئ له گټورو مشورو څخه گټه واخستل سي

له ټولو محترمو لوستونکو څخه د مكتبة القرآة والتجويد لپاره د دعاؤ هيله ده، چي الله تعالى د ادارې وکار کونکو او چلونکو ته د الله تعالى د دين د خدمت توفيق ورکړي.

نور مو پر خدای سپارو

والسلام

د مكتبة القراءت والتجويد باني

قاري فضل الحق حقاني

کوټه بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله الذي وفق لهذا العبد العاصي الفقير الى الله الغني محمد عبدالله ايوبي قندهاري لتفسير جزء "الٓمّٓ" من الكتاب العزيز والقرآن المجيد في مجلدين، والصلوة والسلام على وسيلتنا في الدارين محمد المصطفى سيد الثقلين امام الحرمين، وعلى آله وصحبه الهادين الى السبيلين.

اما بعد: فلما فرغت عن تفسير جزء " الٓمّٓ" فحان ان اشرع في تفسير جزء سيقول بتوفيقه وتوقيضه تعالى وتقدس وكان تاريخ الشروع ساعة (۱۰) ساعت من يوم الاربعاء التاسع عشر من الشهر الذي انزل فيه القرآن، وارجوا من الله الكريم ان يوفقني لتفسير هذا الجزء بل لتفسير سائر اجزاء القرآن العظيم بالخير والعافية والسلامة والفرح والسرور ويجعله خالصاً لوجهه الكريم انه على كل شيئ قدير وبالاجابة جدير، واطلب بالعجز والانكسار عن المستفيدين من هذا التفسير لا بعين الحسد والانكار، ان يدعوا لاخيهم المفسر دعاء المغفرة من العزيز الغفار.

اقتباس: از كلمات شائسته خواجه عبدالله انصاري هروي

خدايا اين زنده گاني نيست بلكه عذاب است وابن نه عمر است بنيادي بر آب است

اگر نظر عنايت تو نباشد كار خراب است الهي، ما درين دنيا معصيت ميكرديم، و دوست تو محمد ﷺ اندوگين ميشد، ودشمن تو ابليس شاد، ودر آخرت اگر عقوبت كني، باز دوست تو اندوه گين شود، ودشمن تو شاد خدايا دو شادي بدشمن مده، ودو اندوه بدل دوست خود منه، الهي اگر پرسي حجت نه داريم، واگر سوزي طاقت نه داريم. ماهمه مفلسانيم بيمايه وهمه از طاعت توبي پيرايه. خدايا اگر يكبار گويي بنده من، از عرش بگزرد خنده من، الهي پاكانرا چون استغفار تو بايد كرد، ناپاكانرا چكار بايد كرد.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ابیات

اگر د ر ظلمتي ا ینک سر ا جت　حساب امروز کن فردا چه حاجت
هم ا کنون کل من علیها　ستا نند از تو ا ینک تخت وتاجت
بکنج تخته تابو ت خسپی　بخواري گربود تخت زعاجت
ترا پر هیز با ید چند گا می　که فاسد گشت ازعصیان مزاجت

خدایا! عاصي چه کند ازیک طرف عصیان بې پایان دارد
و از دیگر طرف حاسدا ن پر او ا ن دارد
دفع هر دو طرف در قدرت و رحمت رحمان است.

درویش وایي

غرض نقشیست کز ما یا د ما ند　که هستي را نمي بینم بقایي
مگر صاحب دلي روزي برحمت کند　در حق این مسکین دعایي
که الدعاء بظهر الغیب مقبولة　**درویش وایي**

د صاحب د ل قید اتفاقي نه دی یارانو
بلکه دادی احتراز د دوریش د حاسدانو

ګرانه و روره که حسد کې که د عاء
زما په د وا ړ وکي فا ئده بې اشتباه

لویه ورخ مو ده په مخ کې زما وستا
د حسد حساب به و کړي پاک الله

هغه ورخ چې نه د ینار وي نه درهم
نیک عمل به نقل کا ندي پاک الله

تبصره: یو امي سړی چې ډېر سرمایه داره وي او بل معمولي دکاندار وي، که څوک ومعمولي دکاندار ته ووایي چې فلانی اوس ډېر سرمایه داره سوی دی، هغه معمولي دکاندار ووایي بنه دی خدای دې دده روزي کړي، موږ ته دې هم خدای ﷻ ډېره حلاله راکړي، دا ډېر معقول څواب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی. ولي چي ددې خواباتو حاصل غبطه ده پر حال د سرمايه داره، او غبطه که په دين کي وي او که په دنيا کي علماء يې جائز بولي، او که څوک د يو عالم صفت وبل عالم ته وکړي، هغه عالم وايي چي حاسد وي چي دده په حال نو زه بنه خبر يم! ته يې په حال نه يې خبر!؟ وروسته د غيبت او بهتان خوله خلاصه کړي. افسوس چي امي سړی تر عالم بهتر سو.

فائده: د درويش بيان په عمومي او اکثر علماؤ پوري تعلق لري. فلا يرد ان الکل ليسوا کذالک.

نصيحت: د هر عالم په تدريس، وعظ او په تصنيف کي اصل مقصود بايد رضاء د الله تعالی ﷻ او نفع د وروڼو مسلمانانو وي نه ريا او نه سمعه، او نه جاه او جلال وي لکن عز وجوده في العصر الحاضر والعصر الجاري.

معذرت: درويش په دې تفسير کي حتی الوسع کوشش او جان فشاني کړې ده او کوي يې. مگر بيا هم درويش قليل البضاعة دی او د بحر ځخه د قرآن عزيز ملغلري را ويستل غواړي، ما للعبد الضعيف ولکلام الرب اللطيف لکن د محبوب د خبرو صبر کول امکان پزير نه دی لهذا په ميدان کي د تفسير ودريدی که خطا پيښه سي اميد ده عفو د کردگار فراخه دی.

قال الرومي قدس سره السامي

نی مشو نومید خود را شاد کن | پیش آن فریاد رس فریاد کن
که ای محب عفو ما را عفو کن | ای طبیب رنج ناسوري کهن

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

اعوذ بالله من الشيطن الرجيم

سَيَقُولُ السُّفَهَآءُ مِنَ النَّاسِ مَا وَلّٰهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِيْ كَانُوْا عَلَيْهَا

ژر دی چي وبه وايي هغه خلگ چي بېوقوفان دي له انسانانو څخه چي منافقين، يهود، نصارى او مشركان دي، څه شي واړول عليه السلام او مسلمانان له توجه څخه په لمانځه کي له هغي قبلې څخه چي دوئ وهغې قبلې ته توجه په لمانځه کي کوله يعني البيت المقدس.

فائده: وجه د ربط ددې آيت د ماقبل سره داده چي مخنی آيت قدح وه په اصولو کي ددين د يهودو، او دا آيت بيان دی د بېوقوفی. ددوئ په فروع ددين

فائده: د منکرينو څخه د تحويل د قبلې تعبير يې په سفهاؤ وکړی له دې سببه چي کعبه مباركه خو قبله د ملت ابراهيمي ده. وقد قال الله تعالى ﴿ومن يرغب عن ملة ابراهيم الا من سفه نفسه فهم السفهاء﴾

پوه سه: سفه لازمي هم راغلې ده يعني چي ماضي يې سَفُهَ بضم الفاء وي، نو معنا يې خفة العقل ده. او متعدي هم راغلې ده چي ماضي يې سفِه بكسر الفاء وي، نو معنا يې ذليلول د خپل خان ده. يعني په سبب د تقليد د اباؤ او اعراض د نظر صحيحه څخه.

فائده: بيان ددغو سفهاؤ په "من الناس" سره يې وکړی يعني داسي يې نه وويل "من العلماء، تاكيداً في ذمهم" په دې معنا چي دغه منكران صرف او صرف انسانان دي د کمالاتو د انسانيت هيڅ شی نسته پکښي كالنظر الصحيح والتاني في الانكار.

پوه سه: چي سابق کلام که څه هم د يهودو سره وو لكن منكران د قبلې د تحويل يهود هم وه دوئ به دا ويل چي بيت المقدس خو قبله د ډېرو انبياء عليهم السلام وه نو ولي مسلمانانو دا قبله پرېښول، او دوئ به دا هم ويل چي محمد ﷺ چي کعبې ته توجه في الصلوة مختاره کړه ميلاً

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الی دين آبائه يعني الشرک، او منافقين هم د تحويله څخه منکره وه هغو په دې سبب انکار کاوه چې په دين پسې د اسلام يو عيب ووايي، او مشرکان د مکې هم وه هغو به ويله چې زمونږ کعبې ته را واوښتی نو ژر دی چې زمونږ دين ته به را واوړي.

پوښتنه: مفسرين رح په يوه خوله دا وايي چې خدای ﷻ د څه حکمت لپاره مسلمانان د مخه تر کولو ددغه اعتراض له طرفه څخه د مذکوره درو ډلو له خوا خبر کړه؟

ځواب: يو حکمت خو دادی چې د مسلمانانو زړونه به ددغه اعتراضه سره عادت سي ولې چې نابيره مصيبت پر خلګو بد تاثير کوي، مثلاً د يو چا چې قريب نابيره مړسي ډېر بد تاثير کوي تر هغه چې ناجوړی وي او مړ سي کما يشهد به التجربة، او بل حکمت دادی چې تر سوال د مخه چې سړی په سوال خبر سي دمخه تر سوال به لا جواب ورته اراسته کړي، او بل حکمت دادی چې يو سائل چې په زړه کې د يو سوال نيت لري او قبل ايراد السوال چې ځواب د خصم د خوا واوري. نو سوال که انسان و ګرسره به يې پر خوله راونه وړي.

فائده: کلمه د "ما" استفهامي ده، او استفهام انکاري دی، يعني د دوئ په زعم فاسد هيڅ سبب د تحويل د قبلې نسته بلکه محمد ﷺ په تشهي د نفس ورته کارونه کوي.

پوه سه: چې کلمه د "ما" مبتداء ده "ولهم" يې خبر دی او کلمه د "عن" متعلق په "ولهم" سره ده، او مجموع جمله منصوب محلاً مقوله د قول ده

فائده: "قبلة" چونکه وزن يې "فعلة" دی يعني بکسر القاف، او د صرفو په کتابو کې وايي چې فعلة لپاره د هيئت دی، نو معنا د قبلة هغه حال چې انسان پر هغه حال وي په وخت کې د استقبال، وروسته بيا لفظ د قبلې نقل سو وهغه ځای ته چې سړی توجه په لمانځه کې وهغه ځای ته کوي، روح، بيض، مظ، در، بحاصله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بيت

له حا سده سه ګله مه کوه عبيد دا عادت دی له پخوا سه را روان
يهوديان د آنحضرت په هرڅه پوه وه لکن د انکار پر لور حسد کړله روان

قُل لِّلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ يَهْدِي مَن يَشَاءُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٤٢﴾

او ته ووايه دوی ته چي خدای ﷻ لره دی مشرق او مغرب يعني د خدای ﷻ سره يو ځای او بل ځای کوم خصوصيت ذاتي نه لري يعني خصوصيت د جهت او مکان په عبادت کي کوم دخل نه لري، بلکه اعتبار امر لره د خدای ﷻ دی، او خدای ﷻ هدايت کوي هغه چا ته چي اراده يې وي ولاري سمي ته، نو ګاهي بندګان په لمونځو کي متوجه وبيت المقدس ته وګرځوي او ګاهي يې کعبې ته "يفعل مايشاء ويحکم مايريد، لا يسئل عما يفعل وهم يسئلون".

پوه سه: چي جمله مذکوره جمله مستانفه ده، ګويا عليه السلام پوښتنه وکړه چي مادا اقول، فقال قل آه.

حاصل ددې خواب الهي دادی چي جهات او اطراف د مځکي ټوله د خدای پاک ﷻ دي ملکاً وخلقاً، نو هيڅ شی له جهاتو څخه خصوصيت ذاتي نه لري چي بل طرف او جهت دي د هغه پر ځای دربدل ممتنع وي، نو ټوله جهات متساوية الاقدام دي چي قبله د توجه د لمانځه دي وګرځي، په صرف امر د خدای ﷻ قبله د توجه به ګرځي، نو خدای ﷻ کولای سي چي په هر وخت کي قبله د توجه بدله کړي وبل جهت ته علی حسب ارادته ومشيته. نو لائق د مخلوق د شان سره داده چي فرمانبرداري د امر الهي وکړي او چون وچرا ونه وايي، او په خصوصيت کي د مامور جهت بحث او پوښتنه ونه کړي، او په افعالو کي د خدای ﷻ علل او اغراض نه ولټوي لان افعال تعالی ونواهيه ليست معللة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بالاغراض عند اهل السنة والجماعة وهذا الرای یدل علیه الآیات القرآنیة والاحادیث واقوال دعائم الدین المبین رحمهم الله تعالی.

پوښتنه: منکران د تبدیل خو دري طائفې وې مشرکان د مکې، یهود، او نصاری فای حکمة الله تعالی فی ذکر المشرق والمغرب دون الجنوب والشمال ما ان جمیع الجهات مملوکة له تعالی ولم یتعرض للکبعة الشریفة؟

ځواب: روح البیان وجه د تخصیص داسي بیان کړې ده چې یهودانو په خپل هوایي نفساني بېله امر الهی جهت د مغرب قبله ده توجه ګرځولې وه، دوئ به دا ویل چې موسی ﷺ په جانب کي د مغرب و، نو خدای ﷻ و ده ته نبوت ورکړی ویدل علیه قوله تعالی "وما کنت بجانب الغربی اذ قضینا الی موسی الامر، ای النبوة" او نصاری وو جهت د مشرق قبله ګرځولې وه دلیل یې دا وایه چې مریمه چې له کوره ووتله جانب ته د مشرق ولاړه کما قال الله تعالی "واذکر فی الکتاب مریم اذ انبذت من اهلها مکاناً شرقیاً"، او دا هم ددوئ استدلال عقلي و امر الهی نه و. او عدم ذکر د کعبې لانها لا شرقیة ولا غربیة بل هی قلب الارض کلها یتوجه الیها من الجوانب الاربعة وحاصل الجواب انه لا قبلة فی الجنوب والشمال لاحد من اهل الملل المتنوعه، نو یې ذکر د مشرق او مغرب تخصیص په ذکر سره وکړی لکن "فاینما تولوا فثم وجه الله" یعني اذا کان التوجه بامره تعالی لان الاعتبار لامره تعالی لا للجهة.

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا

او هم دغه شان لکه تاسي ته چې مي هدایت د صراط مستقیم وکړی، نو ذالک اشارة دی ومضمون ته د جمله سابقه، ما ګرځولي یاست تاسي ای امت محمدیه ﷺ داسي امت چې خیار او عدول یاست یعني په علم او عمل او معرفت سره ښائسته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: په "کذالک" کي خو اخر کاف د خطاب دی، او قانون صرفي خو دادی که مخاطب مفرد مذکر و "کذالک" به وایي او که موٌنث و کذالک بکسر الکاف به وایي، او که مخاطب دوه نفره وه یا مذکر یا موٌنث ذالکما به وایي، او که مخاطب جمع مذکر وه ذالکم به وایي وهکذا، نو دلته یعني په آیت کي خو خطاب و ټولو موٌمنانو ته دی، نو حق د خطاب ذالکم و ؟

ځواب: خطاب په تاویل د فریق دی وهو مفرد .

پوه سه: چي وسط په اصل کي هغه ځای ته وایي چي اندازه وده ته د ټولو جوانبو څخه برابره وي کالمرکز للدائرة او الکرة، وروسته بیا دا لفظ استعاره وښو محموده خویو ته سو .

فائده: خدای ﷻ په انسان کي دري قوته پیدا کړي دي (۱) قوت علقیه (۲) قوت شهویه (۳) قوت غضبیه، او هر یو ددې قوتو څخه افراط او تفریط او توسط لري چي مجموع نهه (۹) ګرځي، نو درې په هغو کي چي د توسط مرتبې دي محمود او خیار دي، او درې مرتبې د افراط او درې د تفریط مذمومي دي، د قوت عقلیه افراط قوت عقلیه ده، حکما دي چي ددین سماوي مراعات په خپلو مسائلو کي نه لري، او تفریط یې چي بلادت یې بولي دادی چي په امور شرعیه ته پوهېږي، او میانه مرتبه یې ذکاوت دی او افراط د قوت شهویه چي فجوریه یې بولي دادی چي د خپلي مایني مثلاً او بلي ښځي فرق نه پر کېږي په جماعو کي، او تفریط یې چي خمول یې بولي دادی چي د خپلي مایني د جماعو پوره اجراء نسي ویلای او توسط چي عفت یې بولي انیکون العبد لا هکذا ولا کذالک، او افراط د قوت غضبي چي تهور یې بولي دادی چي پر هر کم او لږ شي دونه غصه ورسي چي موجب د قتل د چا وګرځي مثلاً، او تفریط یې چي جبن یې بولي دادی چي په وخت کي د غلبې د کافرانو په مخ کي نسي دربدلای او هر حکم ته د کافر تسلیم وي بلکه د جبن څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

او یا مال ډالر وغیره له سببه او یا د جاه د څوکئ لپاره معاون وي د کافرانو، او متوسطه درجه یې شجاعت دی لا الی هؤلاء ولا الی هؤلاء .

درویش وایي: چي ددغو ملکاتو ثلثه متوسطه وو څخه بیا ډېر افعال متوسطه بین الافراط والتفریط پیدا کېږي کالجود بین الاسراف والبخل او وروسته په وینا د مظهري رحمه الله دا لفظ د "وسط" پر هغه سړي یې هم اطلاق کېږي چي مذکوره خصال حمیده پکښې وي، نو پر دې تقدیر په دې لفظ مذکر او مونث او مفرد او جمع برابر دي کما قال الله تعالی "قال اوسطهم، ای خیرهم" او کلبي رحمه الله وایي چي په عبارت کي د آیت مضاف محذوف دی ای اهل دین وسط بین الغلو والتقصیر .

درویش وایي: چي کلمات قرآنیه چي پر ظاهر صحیح وي نو حذف ته څه ضرورت سته، د ابي سعید خدري رضی الله عنه څخه روایت دی چي یوه ورځ وروسته د مازدیګر آنحضرت ﷺ زموږ په منځ کي ودرېدی نو یې نه پرېښولو شی چي تر قیامته پوري راتلونکی مګر علیه السلام یې ذکر وکړی په دغه ځای کي حتی چي لمر پر سرو د درختو او د دېوالو پر سرو سو، نو یې وویله چي پاته دنیا نسبت و تېري سوي دنیا ته داسي معلومېږي لکه باقي وخت ته د نني ورځي نسبت وتېري ته، او بیا یې وویل آګاه اوسئ؛ په دې امت محمدي سره اویا (۷۰) امته پوره سوه یعني امتونه تر اوسه نهه شپېته (۶۹) وه او اوس اویا (۷۰) پوره سوه، او دا امت اخیر د ټولو امتو دی، او اکرم د ټولو امتو دی علی الله عزوجل، رواه البغوي والترمذي وابن ماجه والدارمي کذا قال المظهري رحمهم الله .

لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا ۗ

ددې لپاره ما تاسي امت وسط یعني عدول وګرځولاست چي تاسي به شاهدي اداء کړئ یعني په ورځ د قیامت پر تېرو سوو امتو، یعني پر کافرانو د هغو امتو چي هغه انکار وکړي له تبلیغه د خپلو انبیاو، او تاسي به داسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شاهدي ورکړې چي دغو انبياوُ ودغو امتو ته تبليغ کړې دی، او آنحضرت ﷺ به پر تاسي شاهد سي يعني د عدالت ستاسي او د تزکيه ستاسي.

پوه سه: چي په فقه کي وايي چي په شهادت کي عدالت شرط دی، او که مدعي عليه جرح پر شاهدانو وکړي بيا تزکيه د شاهدانو پر قاضي لازمه ده ورنه مستحب ده، وهذا الآية تدل على ماقالوا .

پوښتنه: اهل لغت وايي چي لفظ د شاهدي چي متعدي په لام سره سي نحو شهد له په معنا د نفع دی، او چي متعدي په على سره سي لپاره د ضرر راځي، نو په دې آيت شاهدي د امت محمديه پر کفارو د امم ماضيه وو که څه هم د هغو پر ضرر تماميږي ولي چي د امت محمديه په شاهدي دغه کفار مستحق د عذاب النار وګرځېدل لکن شاهدي د تزکيه د عليه السلام له خوا څخه د امت نفع ده، ولي چي ددوئ شاهدي په دغه تعديل او تزکيه سره په نيز د خدای ﷻ قبوله سوه، نو په دې آيت کي چي داسي ويل سوي وای "ويكون الرسول لكم شهيداً" ښه به نه وای؟

ځواب: شاهدي د تزکيه او تعديل هلته ځوک اداء کوي چي هغه ځوک رقيب وي او مطلع وي پر احوالو د مزکي، نو که دغه چا په شاهدانو کي صلاح او ښه کارونه ولېدل نو دي تزکيه وکړي، او که يې نه ولېدل ساکت دي سي يعني لا ادري دي ووايي، او غيبت دي هم نه کوي، او صله د "رقيب" على راځي، نو خدای ﷻ لپاره د تنبيه پر دغه نکته شهيد يې متضمن معنا لره د رقيب وګرځاوه او متعدي يې په على سره کړی، فتنبه.

درويش وايي: چي په صحيح کتابو کي د احاديثو مبارکه وو په شان نزول کي د آيت فوق په متقاربو الفاظو داسي حديث راغلی چي خدای ﷻ په ورځ د قيامت اولين او اخرين د امتو سره را غونډ کړي، بيا د هر امت و کفارانو ته ووايي هل جائكم نذير؟ يعني په ذريعه د ملکو لقوله تعالى "لا يكلمهم الله آه" نو کافران انکار وکړي او داسي ووايي ماجائنا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من نذير ولا بشير فيسئل الانبياء عن ذالک نو انبياء عليهم السلام ووايي دروغ وايي موږ ودوئ ته پوره تبليغ او تنذير او تبشير كړى دى، نو خداى ﷻ لـه انبياء كرامو څخه شاهدان وغواړي لان البينة على المدعى واليمين على المنكر.

پوه سه: چي خداى ﷻ خو ښه خبر دى په تبليغ د انبياء كرامو لكن طلب د شاهدانو يو خو اقامت د حجت دى پر كافرانو او بل اظهار د شرافت د امت محمديه ﷺ او اظهار د جلالت د قدر د آنحضرت ﷺ دى، نو انبياء وو ايي چي زموږ شاهدان امت د محمد ﷺ دي، نو اكابر او علماء د امت محمدي ﷺ پر هغو كافرانو شاهدي د تبليغ د دوئ د نبي اداء كړي چي دغو انبياوُ ودغو كفارو ته تبليغ كړى دى، نو كافران د امم ماضيه به پر دوئ جرح داسي وكړي چي دوئ خرنگه پر موږ شاهدي ادا كړه او دوئ خو په سوو بلكه په زرو كلونه تر موږ وروسته و دنيا ته راغلي وه، نو خداى ﷻ ددغو شاهدانو څخه د امت محمدي ﷺ پوښتنه وكړي چي تاسي د څه رويه پر دوئ شاهدي اداء كړه، دوئ به ورته وو ايي چي تا زموږ پر نبي ﷺ كتاب قرآن نازل كړى او په هغه كتاب كي تا موږ ته قصې د دغو انبياء كرامو د تبليغ او د قوم د انكار موږ ته كړي دي او ته اى ربه صادق يې پخپل كتاب كي، نو موږ د خپل كتاب د رويه پر دوئ شاهدي اداء كړه بيا امم ماضيه د كافرانو پر دغو شاهدانو دعوې د فسق او كذب وكړي، نو بيا خداى ﷻ د محمد ﷺ څخه پوښتنه د حال د امت وكړي، نو عليه السلام به د خپل امت د شاهدانو تزكيه وكړي او ددوئ صدق به بيان كړي، نو خداى ﷻ به امر صادر كړي چي دغه كفار دي تولـه وجهنم تـه تحويـل سي انتهى بحاصله. ويكفى لشرف هذه الامة ماقال النبي ﷺ علماء امتي كانبياء بني اسرائيل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وذكر الراغب الاصفهاني رحمه الله چي امام شاذلي چي مصنف د حزب البحر دی وايي چي زه يوه شپه په مسجد کي د بيت المقدس بيده وم نو خوب مي ليدی چي يو تخت په منځ کي د حرم د بيت الاقصی كښېښول سوو او ډله ډله نوراني کسان راغي نو په خوب کي ما د حاضر سړي څخه د خادمانو د بيت المقدس پوښتنه وکړه چي دا څه قصه ده او دا نوراني خلگ څوک دي هغه راته وويل چي دا جماعت د رسولانو دی، چي ددې لپاره حاضر سوي دي چي د حسين حلاج په باره کي شفاعت و سيد المرسلين ﷺ ته وکړي چي د حسين حلاج يوه بې ادبي په شان کي د عليه السلام سوې ده، نو ما چي تخت ته وکتل يوازي سيد المرسلين ﷺ پر ناست وو، او نور انبياء كرام عليهم وعلى نبينا الصلوة والسلام پر مخکه ناست وه حتى ابراهيم وموسى وعيسى ونوح عليهم السلام، نو زه ورغلم او ودرېدم او ددوئ خبري مي اورېدلې، نو په دې ضمن کي موسى عليه السلام و آنحضرت ﷺ ته وويل چي تا ويلي دي علماء امتي كانبياء بني اسرائيل، نو ته د يو عالم ستا روحانيت پېش کړه، نو عليه الصلوة والسلام اشاره وامام غزالي رحمه الله ته وکړه چي دغه يو عالم زما د امت دی، نو موسى عليه السلام يوه پوښتنه څندي وکړه، امام غزالي رحمه الله لس ځوابه ورکړه، نو موسى عليه السلام اعتراض پر وکړی چي د يوه سوال ځو يو ځواب كافي و، نو تا ولي لس ځوابه راکړه، نو امام غزالي رحمه الله وموسى عليه السلام ته وويل چي دا سوال زما څخه د مخه پر تا وارد دی، چي خدای ﷻ په کوه تور کي تا ته وويل "وماتلك بيمينك ياموسى" نو ددې سوال په ځواب کي ځو صرف دومره كافي وه "عصاي" نو تا ولي وويل "هى عصاى اتوكاء عليها واهش بها على غنمى ولى فيها مآرب اخرى" دې زائدو اوصافو ته د لکړي څه ضرورت و. امام شاذلي رحمه الله وايي چي زه په فکر کي ولاړ وم او فکر مي په جلالت د قدر د عليه السلام واهه چي څرنگه يوازي پر تخت د قدر او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عزت ناست دی او نور انبیاء کرام پر مخکه چي په دې حالت کي يو سړي سخت په لغته ووهلم او ډېر يي وبېرولم چي نابېره له خوبه راوېښ سوم د خادمانو څخه د بيت الاقصى مي يو سړی په خيال راغلی لکن بيا مي تر اوسه هغه رنګه سړی په بيت الاقصى کي نه دی ليدلی والله اعلم چي څوک و، او نه سوم پوه چي شفاعت د حسين حلاج څرنګه سو.

درويش وايي: چي غالباً شفاعت ددې لوئ جماعت د انبياء عليهم السلام په بېله عذره قبول سوی وي، قال المولف قصيدة البردة فانسب الى ذاته ماشئت من شرف، وانسب الى قدره ماشئت من عظم.

درويش وايي: چي امام شاذلي رحمه الله چي وويل د حسين جلاح په شان کي د نبي سوء ادب پېښ سوی و هغه سوء ادب دا و چي حسين جلاح ډېر لوئ عاشق د عليه السلام و حتى چي ګويا په عشق کي د عليه السلام فاني و او فيوضات نبويه به همېشه ده ته راتله لکن يوه ورځ ده دا قول د عليه السلام د تاريخ په وينا "شفاعتي لاهل الكبائر من امتي" ووايه، نو دا خبر يي تر خوله ووتل چي د عليه السلام همت تر مرتبه دده کم و، ولي چي دده د رتبې سره عند الله لائق داوه چي ويلي يې وای شفاعتي للكافرين من امتي يعني امة الدعوة د ګناه کبائرو والا وو به ماشفاعت کړی وای، څرنګه دا خبره ده وکړه هغه فيوضات او انوار محمدي ﷺ چي ده ته به فائض وه ټوله يو دم بند سوه، او حسين جلاح په ځان پوه سو چي له ډېره محبته بې ادبي در څخه وسوه، نو هغه و چي حسين جلاح قبر انور ته د آنحضرت ﷺ تائباً نادماً ورغلی او بيا بيت المقدس ته ولاړی او هلته پر قبرو د انبياء کرامو سر ګردانه وګرځېدی او د هر نبي پر قبر بې وژړل چي زما په باره کي شفاعت و شفيع المذنبين ته وکړئ، نو دغه واقعه امام شاذلي رحمه الله په خوب کي ولېدل. والله جل سلطانه اعلم بحقيقة الحال وليس على الفقير الا نقل قول اهل المقال.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یو شاعر په مدح کي د علیه الصلوة والسلام داسي وایي

آفا قها گر دیده ام عشق بتّان ورزیده ام

بسیار خوبان دیده ام اما تو چیزي دیگري

بیت

از خدا خواهم توفیق ادب بي ادب محروم گشت از فضل رب

وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنْتَ عَلَيْهَا إِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يَتَّبِعُ الرَّسُولَ

او مونږ نه ده گرځولې هغه قبله چي ته پر هغه قبلې وې، یعني توجه په لمانځه کي دي ورته کول وهي بیت المقدس .

یوه سه: که "جعلنا" متعدي و دوه مفعوله ته سي نو لفظ د "قبلة" سره د موصول مفعول اول دی، ان مفعول ثاني یې محذوف دی ای منسوخة، نو معنا داده چي مونږ نه د گرځولې هغه قبله چي تاپه لمانځه کي توجه ورته کول چي هغه بیت المقدس و منسوخه وکعبې شریف ته الا لنعلم آه .

او که "جعلنا" متعدي و یوه مفعول ته سي نو موصول یعني التی سره د صلې یعني کنت علیها صفت دی د قبلة والمضاف محذوف فالمعنی وما خلقنا تحویل القبلة التی آه یعني مونږ نه دی پیدا کړی تحویل یعني بدلول د هغې قبلې ته پر دې چي بیت المقدس وه وکعبې ته الا آه والمآل واحد ، وهو بیان حکمة نسخ قبلة بیت المقدس الی الکعبة الشریفة وهي امتحان الناس فی متابعة الرسول وعدمها .

او دا احتمال هم سته چي قبله دي مفعول اول وي د "جلعنا" او مفعول ثاني دي موصول وي په حذف د موصوف ای ماجعلنا القبلة في سابق الزمان الجهة التي کنت علیها ، یعني جهة بیت المقدس الی وقت نسخها، الا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لنعلم آه، نو يې حاصل دادی چي اصل حال ستا خو د استقبال د كعبې تقاضا كول لانها قبلة ابراهيم ﷺ وانت تدعى ملة ابراهيم لكن جعلنا قبلتک اشهور معدودة بيت المقدس لحكمة وهى امتحان الناس.

درويش وايي: چي پر دې تقدير هم بيان د حال د قبلة منسوخي دي يعني بيت المقدس.

پوه سه: چي بيضاوي ؒ اولاً ترجمه د آيت داسي کړې ده چي "جلعنا" خو يې متعدي و مفعولينو ته گرځولی دی، مفعول اول يې القبلة دی او مفعول ثاني يې موصوول دی په حذف د موصوف ای الجهة التي كنت آه لكن "د جهة التي كنت عليها" څخه يې مراد كعبه بللې ده. نو بناء ددې قول پر دې ده چي عليه الصلوة والسلام چي په مكه كي تشريف فرما و لمونځ يې وكعبې مبارکې ته کاوه لکن چي هجرت يې وکړی مدينې ته خدای ﷻ دی امر کړی چي لمونځ وجنت ته د بيت المقدس كوه لپاره د الفت د زړو د يهوديانو، پس له څورلسو (۱۴) يا پنځلسو (۱۵) مياشتو بيرته عليه السلام مامور سو په توجه د كعبې مبارکې، نو پر دې تقدير آيت مذكوره بيان د جعل ناسخ دی لکه پر دمخه تقدير چي مقصود بالآية بيان د جعل منسوخ و، او بيضاوي هغه احتمال اول په خپل تفسير کي ثانياً راوړی دی، لكن ابن حجر په فتح الباري شرح البخاري كي تفسير اول د بيضاوي ضعيف گڼلی دی وقال لانه يلزم النسخ مرتين آه، يعني د كعبه قبله منسوخه سوه وبيت المقدس ته او د بيت المقدس قبله بيرته منسوخه سوه كعبې ته.

درويش وايي: چي چونکه نسخ مطلقاً خای د اعتراض ده کمامر فالمناسب للنسخ مهما امكن التقليل، او مظهري ؒ هم تفسير اول د بيضاوي ضعيف بللی، او مظهري ويلي دي چي په دغه آيت کي "سيقول السفهاء الآية"

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

خو قطعاً د موصول څخه یعني في قوله تعالی "عن قبلتهم التی کانوا آه" بیت المقدس مراد ده والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب.

او صاحب د روح البیان خو فقط دا یو احتمال راوړی دی چي په دي آیت کي مراد له موصوله کعبه ده.

درویش وایي: چي د پښتنو د علاقو د ملایانو او طالبانو او عوامو په خولو کي دغه تفسیر چي روح البیان ذکر کړی مشهور دی. او بعض محدثین هم تفسیر مذکور تائیدوي والعلم عند الله قوله تعالی الا لنعلم آه.

پوه سه: چي ددې آیت څخه خو ظاهراً دا معلومېږي چي علم د خدای ﷻ پر دغو دوو طائفو وروسته تر تحویل القبله حاصل سو، مع ان علمه تعالی قدیم فکیف یکون غایة لتحویل القبلة.

ځواب: علم معاني وایي چي لام دلته د تعلیل دی لبیان الغایة نه دی، او صیغه د مضارع یعني "لنعلم" په معنا د ماضي ده کما في قوله تعالی فلم تقتلون انبیاء الله لان المعنی هناک فلم قتلتم آه لان قتل الانبیاء وقع من الیهود في الزمان الماضي لا في الزمان الحاضر ولا في المستقبل فالمعنی آه الا لما علمنا من یتبع الرسول ممن ینقلب علی عقبیه، یعني له دې سببه موږ تحویل د قبلې وکړی چي موږ د مخه خبروو چي تحویل د قبلې به سبب د هدایت د یو قوم وګرځي او سبب د ضلالت د بل قوم. نو دا خپل علم ازلي مو خلګو ته هم وروښووی.

دوهم ځواب: مراد له علمه څخه تمیز دی یعني جلا کول علاقه ددې مجاز داده چي علم سبب د تمیز دی نو ذکر سبب دی مراد څندي مسبب دی کما في قولهم "رعینا الغیث" ای النبات الحاصل بالغیث، نو معنا د آیت داده الا لنمیز بین المحق والمبطل في امر القبلة.

دریم ځواب: اصل مراد دا دی لیعلم رسولنا واولیائنا بیا یې مضاف حذف کړی، او خدای ﷻ فعل د رسول او د اولیاؤ وخان ته مسند کړي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکه په یو حدیث طویل کي چي راغلي دي چي خدای ﷻ په اخرت کي یو چا ته وایي مرضت فلم تعدني! یعني زه ناجوړی سوم ته پوښتني ته زانه غلې، مظهري رحمه الله وایي چي په دې تولو تاویلو کي خو قول بالمجاز دی.

درویش وایي: چي قول بالمجاز په قرآن مبارک کي کومه نوې خبره نه ده چي مظهري دي تضعیف د اقوالو د محققینو په وکړي بلکه که څوک څېړنه د قرآن مبارک وکړي هر نوعه مجاز به پکښي ومومي البته قول بالمجاز په قرآن مبارک کي به د ضرورت له کبله څوک کوي.

درویش وایي: چي خالي د تکلفاتو او بیله ارتکابه د هیڅ قسم مجاز څواب د اشکال مذکوره دادی چي خدای ﷻ لره یو علم ازلي سته پر ټولو مخلوقاتو ذره ذره في ازمنة وجوده فیما لا یزال وکذالک له تعالی علما ازلیاً باعمال جیمع المکلفین کفراً وایماناً وطاعة وعصیاناً في ازمنة وجود تلک الاعمال من المکلفین، وهذا العلم لیس مناطاً للثواب والعقاب والجنة والنار ولم یکن هذا العلم حجة عن الکفار والعصات والا لا یثبت الاحتیاج الی ارسال الرسل وانزال الکتب والیه اشار الله عز وجل بقوله "لئلایکون للناس حجة بعد الرسل" وهذا العلم هو الذي یسمیه اهل المعقول علماً اجمالیاً له تعالی لا بمعنی انه لا یمیز له تعالی فی هذا العلم الاشیاء والاعمال بتفاصیلها في ازمنة وجودها بل لان الموجود في الازل هو ذاته تعالی وتقدس فقط، کما ورد کان الله ولم یکن شیئاً وعلماً ثانیاً بالاشیاء کلها والاعمال جمیعاً في ازمنة وجودها وهذا العلم مطابق للعلم الازلي، والفرق ان العلم الازلي لم یکن مقیداً بوجود الاشیاء لعدم وجود الاشیاء في ازل الازال، والعلم الثاني مقید بازمنة وجودها شیئاً فشیئاً تدریجاً، وهذا العلم هو المناط للثواب والعقاب ومثبتاً للحجة علی العباد یوم القیامة، وهذا العلم هو الذي یسمیه اهل المعقول علماً تفصیلاً لا بمعنی ان في هذا العلم انکشافاً زائداً وتمیزاً تا ماً للاشیاء علی ما في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العلم الازلي بل بمعنى ان العلم الازلي لم يكن بان الاشياء موجودة بالفعل لعدم كونها موجودة وقتئذ بل انها سيوجد في ازمنتها تدريجاً ووقتاً فوقتاً، والعلم الثاني متعلقة بها بانها موجودة كل في وقته فعلى هذا علمه تعالى الازلي متعلق بتحويل القبلة من بيت المقدس الى الكعبة المكرمة فيما لايزال يعني وقت وجود التحويل وهو تعالى عالم بالعلم الازلي بان بعض الناس ينكرون التحويل المذكور وقت وجوده وبعضهم يومنون به و وحينئذ، فلهذا قال الله تعالى الا لنعلم آه اى ليتعلق علمنا بوجوده وهذا حاصل الجواب الذي اورده الامام ابو منصور الماتريدي رحمه الله بالاجمال وفصلناه تفصيلاً، وقال المظهري رحمه الله ان هذا الجواب هو التحقيق والى هذا الجواب اشار البروسوي في روح البيان بقوله معنى لنعلم آه ليظهر علمنا على مظاهر الرسول والمؤمنين ويتميز عندهم الثابت على الاسلام الصادق فيه من المتردد الذي يرتد بادنى سبب لضعف ايمانه لا انه تعالى لم يعلم وانهم في الازل بانه يكون كذا فيما لا يزال عند وجود التحويل ووجود المومنين به والكافر المرتدين، منه، وهذا هو المعنى الذي اختاره القاشاني رحمه الله وزيف ماعداه من الاجوبة، والى هذا الجواب اشار المحقق البيضاوي بقوله ولنعلم الآن من يتبع الرسول ممن لا يتبعه ثم قال البيضاوي بعد ايراد السوال المذكور، قلت ظهور باعتبار هذا العلم التعلق الحالي الذي هو مناط الجزاء، والمعنى ليتعلق علمنا به موجوداً آه.

درويش وايي: چي دا وو تحقيق ددې آيت متلوه سره د نقصان د علم د درويش والتوفيق من الله والعلم عند الله.

سوال: ستا د تفسير وضع خو په پښتو ژبه ده، ددې آيت په تحقيق کي دې اکثر عربي عبارات اختيار کړي دي څه باعث و ؟

ځواب: که درويش ددغو عربي عباراتو فقط پښتو ترجمه راوړې واى که څه هم ماخذ ته يې حوله هم کړې وايي، نو بعض حاسدانو به ويلاى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي عبيدالله خداى خبر چي د هغو عباراتو په معنا پوه سوى دى او كه يې صرف له خياله څخه خپل يې دا تحقيق كړى دى او حواله يې مذكوره كتابو ته وركړه او په هغه كتابو دى نه دى پوه سوى.

درويش وايي:- چي معلوم الحال حاسدان ځما تخميناً معلوم دي د بعضو حسد پر قوميت مبني دى، او د بعضو حسد د حزبيت پر بناء دى، او د بعضو دا د علميت پر اساس دى، او توله ملايان چي د تبليغ پر منبر كښېني او كبائر ګنهونه خلګو ته بيانوي نو په تعداد د هغو غيبت او حسد او بهتان په ډېر شد او مد سره بيانوي، او سره ددې چي دغه درې كبائر ګنهونه په دوئ كي هر و روزه موجود وي، چو كفر از كعبه بر خيزد كجا ماند مسلماني، حافظ شيرازي ميګويد

واعظان كين جلوه در محراب ومنبر ميكنند

چون بخلوت مير وند كار د يگر ميكنند

حكايت: يو عالم د يو چا غيبت كاوه، يو امي سړي ورته وويل چي څه يې كوې غيبت پرېږده، ملا صاحب ورته وويل چي زه خو يې غيبت نه كوم بلكه دده حال وتاسي ته بيانوم، درويش وايي عذر از ګناه بدتر، قوله تعالى

مِمَّنْ يَّنْقَلِبُ عَلٰى عَقِبَيْهِ

د هغه چا څخه يې وبېږني چي بيرته پر شا ګرځي.

پوه سه: چي عقب پندى ته وايي او پر پندو ګرځېدل كنايه د ارتداد څخه ده يعني چي دين اسلام پرېږدى كما ورد في الحديث الصحيح چي څه وخت چي قبله د بيت المقدس څخه و كعبې ته وا وښته بعض مسلمانان د اسلام څخه يهوديت ته واوښتل، او دوئ به ويل رجع محمد الى دين آبائه.

وَاِنْ كَانَتْ لَكَبِيْرَةً اِلَّا عَلَى الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ

پوه سه: چي ان مخفف د مثقل څخه دى نو اصل يې "وانها" او ضمير موئث راجع دى و "قبلة محولة" ته اويا د تحويل موئث ته چي تحويل دى راجع دى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي نحات وايي چي لام په لکبيرة کي فرق دی په منځ کي د ان الشرطية او ان مخفف د مثقله څخه. يعني که لام نه وای نو به ان شرطيه وايي، او کوفيان نحات وايي چي ان نافيه دی او لام لکبيرة په معنی د الا دی، والتقدير چي نه ده قبله محوله مګر درنه يعني پر خلګو الا آداو نه ده درنه پر هغو کسانو چي خدای ﷻ هدايت ورته کړی وي، يعني حکمت ته د احکامو الهيه وو، يعني په دې پوهيږي او پر دې يې ايمان وي چي هر حکم چي حکيم مطلق وکړي هغه د حکمت څخه خالي نه وي که څه هم په هغه حکمت دوئ بخصوصها نه پوهيږي، نو نيک بخته سړي هغه دی چي دخپل حکيم بادار اطاعت وکړي، او بد بخته د دنيا و آخرت هغه دی چي د عليم حکيم رب العزت د حکم څخه انکار وکړي.

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ

او نه دی خدای ﷻ چي ضائع دي کړي ستاسي ايمان او "ثباتکم علی الايمان، او بعض مفسرين رح وايي چي مراد ددې ايمان دي پر قبله منسوخه چي بيت المقدس وه يعني هغه وخت چي تاسي ايمان در لودی پر قبله منسوخه باندي هغه ايمان ستاسي په نسخ سره د قبله مذکوره ضائع او بې فائده نه دی ګرځېدلی ولي هغه ايمان ستاسي خو هم په امر د خدای ﷻ وو نو ايمان پر هغه او توجه دهغې قبلې ته ثواب يې پر ځای دی، او بعض مفسرين وايي چي مراد له ايمان څخه لمونځ دی من قبيل ذکر الشرط وارادة المشروط ولي چي په حديث شريف کي راغلي دي چي قبله د بيت المقدس څخه وکعبې شريفې ته منسوخه سوله نو حيی بن اخطب او نور يهود هم ورسره وه، مسلمانانو ته يې ويل چي تاسي چي لمونځونه وبيت المقدس ته کول د هغو لمونځو په باره کي څه واياست که هغه بناء پر هدايت وه نو اوس خو تاسي هدايت پريښوی، نو بايد دا اوس لمونځونه چي کعبې ته کوئ دا ضلالت دی، او که چېري دا لمونځونه ضلالت وه، نو تاسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خو څورلس پنځلس میاشتې په دغه ضلالت کې تېرې کړې؟

مسلمانانو په ځواب کې ورته وویل چې د هدایت خو لار هغه ده چې خدای ﷻ امر په کړی وي، نو په هغه وخت کې چې لمونځونه د بیت المقدس لوري ته کېدل چونکه په امر د خدای ﷻ وه، نو هغه هدایت و، او اوس چې هغه قبله خدای ﷻ منسوخه کړه او موږ یې په لمانځه کې وجهت ته د کعبې مبارکې امر کړو اوس بیا دا هدایت دی .

او بیا حیی ابن اخطب او ملګرو مسلمانانو ته وویل چې دمخه تر تحویل د قبلې ستاسې بعض مسلمانان لکه اسعد بن زاره د بني النجار او براء بن معروده بني سلمه او نور ډېر کسان هم مړه سوي دي نو د هغو په باره کې تاسې څه شاهدي ورکوئ. نو بعض قبائل چې د هغو مړو عزیزان وه وعلیه الصلوة والسلام ته ورغله او ورته وه یې ویل یارسول الله ستا مخ خو په لمانځه کې خدای ﷻ وقبله ابراهیمي ته واړاوه، نو هغه زموږ وړونه چې دوئ مړه سوه او لمونځونه یې بیت المقدس ته کوله د هغو د لمونځو به څه حال وي؟ فانزل الله تعالی "وماکان الله لیضع ایمانکم" یعني صلاتکم کذا فسره کثیر من المحدثین رح. وروی البخاري هذا الحدیث مختصراً عن البراء بن عاذب ﷺ.

إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٤٣﴾

په تحقیق خدای ﷻ پر خلګو مهربان او رحم کونکی دی .

پوه سه: چې رحمت انعام او احسان ته وایي، او رافت شفقت او لطف ته وایي، نو رتبه د رافت تر مرتبې د رحمت مقدمه ده نو ځکه په هر ځای کې د قرآن کریم رافت تر رحمت دمخه ذکر کوي. او څوک چې وایي چې رافت شدت رحمت دی فقد غلط. فتدبر .

حکایت: په زمانه کې د داوُد ﷺ یو امیر د کافرانو چې ډېر ظالم او قاتل و، ګرفتاره سو، نو داوُد ﷺ امر وکړی چې د غره پر سر یې د دار په لرګي پورې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کلک وترړۍ یعني د شپې چې تر سهاره به مړ سي، او عسکرو د داؤد ﷺ هم دغسه وکړه او خلګ خپلو کورو ته ولاړه. نو دې کافر مشرک د دار پر لرګي خپلو بتانو ته ډېرې چغارې بغارې وکړې لکن هیڅ فائده یې ونه کړه، اخر یې رجوع وخدای ﷻ ته وکړه او وه یې ویل چې ستا پر د ښمنی او شرک ماته دا موضوع راپښنه سوه، اوس زه له شرکه بېزاره یم او تا واحد لا شریک منم نو ته رحم راباندې وکړې او فریاد مې واورې، نو جبرائیل ﷺ ته ارحم الراحمین ﷻ امر وکړی چې دغه سړی له داره ښخه خلاص کړه او صحیح سالم یې پر مځکه کښېږده، جبرائیل ﷺ هم سړی صحیح سلامت پر مځکه ایله کړی، سهار خلګو ولیدی چې هغه سړی لمونځ کوي، او داؤد ﷺ ته یې راپور ورورې، داؤد ﷺ هغه سړی راوغوښتی چې حال څندې وپوښتي، خدای ﷻ وداؤد ﷺ ته وحي وکړې چې چې زه ډېر مهربانه یم پر هغه چا چې ما بولي او پر ما ایمان راوړي، ولې که زه دغسې نه سم نو زما او دده د پخوانیو خدایانو څه فرق دی

قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ

پوه سه: چې "قد" چې پر مضارع داخل سي په اصل کې خو لپاره د تقلیل وي، لکن دلته لپاره د تکثیر دی استعارة للفظ الموضع للضد الى الضد الآخر كما تقرر في علم البيان، او لفظ د "نرى" مضارع ده لفظاً ماضي ده معناً او تقلب باب د تفعل بمعنى الفعل مرةً بعد اخرى، او دا آیت که څه هم په تلاوت کې وروسته دی، لکن په اتفاق د مفسرینو رح اول د قصې د تحویل دا آیت دی، نو معنی د آیت داده موږ ډېر لیدلي په باربار کتل، او مخ ګرځول ستا په جهت کې د آسمان یعني په انتظار د جبرائیل ﷺ د راتګ.

فائده: د علیه السلام په زړه کې دا خوښه وه چې زما توجه په لمانځه کې د کعبې پر خوا سي یو خو په دې سبب چې اقدم د قبلیتنو ده، او بل ادعی وایمان ته د عربو ده، ولې د عربو ټولو مخ پر کعبه مکرمه و، او ددوی مزار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او مطاف وه، او بل لپاره د مخالفت د یهودیانو ولي دوئ به ویل چې محمد ﷺ زموږ ددین مخالفت کوي او زموږ قبلې ته لمونځ کوي که زموږ قبله نه وای دی به حیران وای چې کومه خوا ته لمونځ وکړم، او د جهت د ادب مع الله ﷻ یې صراحةً په خوله خواست نه کاوه. حتی په یوه حدیث کې راغلي دي چې آنحضرت ﷺ په یو ملاقات کې جبرائیل ؑ ته داسي وویل "وددت ان صرفني الله عن قبلة اليهود الى غيرها" نو جبرائیل ؑ ورته وویل چې زه خو هم بنده یم تا غوندې بلکه ته کریم یې پر خدای ﷻ باندې، نو د خدای ﷻ څخه سوال د تحویل وکړه، نو جبرائیل ؑ ولاړی علیه السلام به هر ګړی د آسمان خوا ته کتل چې ګوندې جبرائیل زما پر ځای خدای ﷻ ته خواست کړی وي، فانزل الله قد نرى تقلب وجهك آه.

فائده: او که نسخ په امور شرعیه وو کې وروسته تر هجرت نسخ د قبلې د بیت المقدس وه، او چا چې ویلي دي چې اوله نسخه د اسلام په دین کې نسخ د پنځوسو (۵۰) لمونځو وه پنځو ته. لکن هغه خو صحیح ده چې په صحاح سته وو کې ثابته هم ده، لکن زموږ خبره په هغه نسخ کې ده چې بعد العمل بالمنسوخ منځ ته راسي، او په پنځوسو لمونځو خو عمل نه دی سوی، او هغه خبره چې فتاري ﷫ په تفسیر کې د فاتحه کړې ده چې په مکه مکرمه کې اول حکم دا و "فاينما تولوا فثم وجه الله" وروسته هغه منسوخ سو بالاستقبال الى البيت المقدس او الكعبة كما سیناتي آه د منلو وړ خبره نه ده ولې چې آیت د اینما تولوا آه خو په لمانځه د مسافر نفلي لمونځ هر جهت ته چې وي، او یا په لمانځه فرضي کې چې د خلګو څخه قبله ورکه وي، فافهم تدرك.

اختلاف العلماء: پوه سه چې په دې کې د علماؤ اختلاف دی چې علیه الصلوة والسلام چې په مکه مکرمه کې ولمونځ یې کعبې شریفې ته کاوه او که بیت المقدس ته. ډیر علماء وایي چې چې علیه السلام په مکه شریفه کې لمونځ وبیت المقدس ته کاوه او کعبه شریفه به هم دده مخته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وه يعني مخ دده مبارک به دواړو قبلو ته برابر و، ولهذا اشتبه على الناس انه يصلي الى الكعبة او بيت المقدس. لكن كان في الحقيقة يصلي الى البيت المقدس فنسخ تلك القبلة في المدينة فعلى هذا يكون النسخ مرة واحدة رواه احمد عن ابن عباس ﷺ ورواه ابن سعد ايضاً وهذا قول اكثر العلماء رح، وقال البغوي ﷺ چي عليه الصلوة والسلام په مكه مكرمه كي لمونځ وكعبې شريفې ته كاوه، چي هجرت يې مديني منورې ته وكړی خدای ﷻ امر كړی چي لمونځ وبيت المقدس ته كوه تالفاً لليهود فهذا نسخ واحد. دا روايت ابن جرير راوړی دی ثم نسخ استقبال بيت المقدس بالاستقبال الى الكعبة وهذا نسخ آخر فيلزم النسخ مرتين.

درويش وايي: چي دا قول كه څه هم مشهور بين الناس دی لكن محققين د مفسرينو رح پر قول اول دي للتحاشي عن النسخ مرتين لان النسخ مظان اشتباه الناس واعتراضهم.

پوه سه: چي په دې كي هم اختلاف دی چي آنحضرت ﷺ په مدينه منوره كي څو مياشتي لمونځ وبيت المقدس ته كړی دی، په روايت كي د ابي داوُد د ابن عباس ﷺ څخه اولس مياشتي وای، او طبراني او بزار وايي چي مدت د استقبال و بيت المقدس ته شپاړس مياشتي وې، او بخاري ﷺ بيا ترديد وايي عليه السلام د مكې څخه په ورځ د دوشنبې پر پنځه د ربيع الاول ووتی او مديني منورې ته په ورځ د دوشنبې په دولس د ربيع الاول ورسېدی. او تحويل د قبلې د بيت المقدس څخه وكعبې ته پر پنځلس د رجب په دوهم كال د هجرت منځ ته راغلی دی دوې مياشتي تر غزاء د بدر دمخه، نو بعض روات هغه كسر د ورځو پوره مياشت فرضوي نو اولس مياشتي زمانه ده د استقبال د بيت المقدس بولي، او بعض راويان كسر ساقطوي نو شپاړس مياشتي كاملې پاتېږي.

درويش وايي: چي دواړه كاره په نيز د اهل حساب مروج دي، يعني تكميل الكسر واسقاطه من البين، او هغه بعض روات چي وايي ديارلس مياشتي وې،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او بعض وايي نولس مياشتي وې، او بعض وايي چي اتلس مياشتي وې، او بعض وايي چي دوې مياشتي وې، او بعض وايي چي دوه كاله وه هغه په اتفاق د مفسرينو ضعيف روايات دي والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب.

فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضٰهَا ۠ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۭ

نو مونږ به تاته قدرت درکړو پر هغه قبله چي ته به راضي يې، يعني پر توجه وهغي قبلې ته چي ستا د هغې قبلې استقبال په لمانځه كي خوښ دى، يعني كعبه مكرمه، نو وګرځوه مخ د بيت المقدس څخه وطرفته د مسجد حرام.

پوه سه: چي اصل معنا د "نولينک تجعلک واليأ لها" او يا يې معنا داده "فلنجعلنک الى جهتها"، يعني ته به مخ ګرځوې په لمانځه كي وجهت ته د هغي قبلې وانما زدنا لفظ الجهة لان التولية لا يشترط فيها عين القبلة بل انما يكفى تولى جهتها كما في البلاد الشرقية او الغربية او الجنوبية او الشمالية عن المسجد الحرام.

فائده: معنا د "ول" صرف يعني واړوه مخ لـه بيت المقدس څخه و مسجد الحرام ته.

فائده: حرام معنا محرم فيه القتال او محرم وممنوع عن الظلمة ان تعرضوه.

فائده: انما ذكر المسجد الحرام دون الكعبة لـه دې سببه چي عليه السلام په وخت كي د تحويل په مدينه منوره كي وو والبعيد يكفيه مراعات الجهة دون عين الكعبة لان فيه من الحرج كما لايخفى، وعليه الفتوى علماء المذاهب الاربعة، واما حاضر الكعبة فالواجب عليه استقبال عينها مثلاً

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولې چې ددغو دوو لمونځ کونکو که څه هم مخ وجهت ته د کعبې دی ولکن وعین ته د کعبې نه دی کما لايخفى.

فائده: قاضي بيضاوي رحمه الله وايي چې آنحضرت ﷺ د ماسپښين لمونځ په مسجد کې د بني سلمه اداء کاوه او دوه رکعته يې بيت المقدس ته اداء کړي وه چې جبرائيل عليه السلام ورته راغلی چې مخ وکعبې ته واړوه، نو عليه الصلوة والسلام په دغه لمانځه کې مخ واړاوه وکعبې ته فتحول الرجال والنساء صفوفهم فسمي هذا المسجد مسجد القبلتين.

درويش وايي: چې علامه جلال الدين سيوطي رحمه الله وايي چې دا تحريف د حديث دی لان قصة بني سلمه لم يكن فيها النبي ﷺ اماما او نه عليه الصلوة والسلام لمونځ ودوو قبلو ته کړی دی، بلکه تحول د قبلې د سهار د لمانځه په وخت کې سوی دی، او عليه السلام د سهار لمونځ پوره وکعبې ته کړی دی، لکن خبر د تحويل وبني سلمه وو ته هغه وخت ورسېدی چې دوئ د ماسپښين لمونځ دوه رکعته کړی وو، او يو سړی راغلی وه يې ويل چې په اشهد بالله ما د سهار لمونځ د عليه السلام سره وکعبې ته وکړی، نو د مسجد لمونځ کونکو صفوف سره بدل کړه او مخ يې د کعبې شريفې پر خوا کړی، نو ځکه دغه مسجد په مسجد القبلتين سره شهرت مندلی دی من وقت التحويل الى يومنا هذا والاختلاف بين البيضاوي والسيوطي صرف په دې کې دی چې عليه الصلوة والسلام امام وو په دغه مسجد کې او دوو قبلو ته يې لمونځ وکړی، او که امام بل څوک و هغه امام په سبب د شاهدي د صحابي رضي الله عنه لمونځ و دوو قبلوته وکړی، نو پر هر تقدير حيثيت او نوم د ذي القبلتين خو د بني سلمه د مسجد دی.

درويش وايي: چې بخاري او مسلم د ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې "بينما الناس بقباء في صلوة الصبح اذ جائهم آت فقال ان النبي ﷺ قد انزل عليه القرآن وقد امر ان يستقبل الكعبة فاستقبلوها وكان وجوههم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الی الشام فاستداروا الی الکعبة، ددې حدیث صحیح څخه دا خبره معلومه سوه چې علیه السلام یو لمونځ و دوو قبلو ته نه دی کړی، او بل دا هم معلومه سوه چې امام د مسجد د بني سلمه وو چې په ذي القبلتین سره شهرت لري آنحضرت ﷺ نه وو.

پوښتنه: دمخه عنقریب تېره سوه چې خبر رسونکي خبره د تحویل د قبلې وبني سلمه وو ته د ماسپښین په لمانځه کې ورساوه او په حدیث کې د شیخینو راغله چې مخبر خبر د تحویل د مسجد قباء خلګو ته د سهار په وخت کې ورساوه، نو ددې دوو حدیثو تر منځ تعارض نسته که څرنګه؟

ځواب: هیڅ تعارض نسته ولې چې د بني سلمه کلی خو د مدینې منورې څخه ګوښه دی او قباء خو ومسجد نبوي ته ډېر نژدې دی تخمیناً درې میله دی، نو څکه خبر رسونکی د بني سلمه وو جلا سری و، او ماسپښین یې خبر وروړساوه، او خبر رسونکی د قباء بل سړی و نو یې د سهار په لمانځه کې خبر ورساوه.

سوال: مخبر د قباء چې د سهار لمونځ د علیه الصلوة والسلام سره په مسجد نبوي کې اداء کړی او بیا قباء ته راغلی نو څرنګه اهل قباء تر هغو پورې د سهار په لمانځه کې وه؟

ځواب: چونکه علیه الصلوة والسلام د سهار لمونځ ډېر وختي کاوه نو څه بعیده نه ده چې هغه مخبر د قباء دې په ډېره چټکی سره لپاره د زېرې په تحویل د قبلې وکعبې ته راغلی وي او اهل قباء چې لمونځ د سهار غالباً څه ناوخته کاوه، نو مخبر چې راغلی دوی په لمانځه کې وه او خبر یې ورکړی.

پوښتنه: دا دوې قصې که دواړې صحیح وي یعني واقعه د بني سلمه وو ودوو قبلو ته، او واقعه د اهل قباء وو دوو قبلو ته، نو ولې مسجد بني مسلمه دمخه تر دې واقعې د هغه قوم په نامه یادېدی دا واقعه چې پېښه سوه هغو تبرکاً خپل پر مسجد د ذي القبلتین نوم کېښښود تا چې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاریخ په پاڼو ددې مسجد دغه مبارک نوم او دې واقعې ته اشارة پاته او ثبت وي، او د مسجد قباء اول باني آنحضرت ﷺ لانه ورد في الاحاديث الصحيحة انه صلى الله عليه وسلم لما هاجر من مكة نزل قبل د خول المدينة في قباء وامر ببناء المسجد هناک فبنى ذالک المسجد في (۱۴) يوم تخميناً وسماه النبي ﷺ بمسجد قباء ثم ذهب النبي ﷺ الى المدينة المنورة الى اخر الحديث، فلهذا لم يتبدلوا اسمه الشريف.

فائده: مظهري رحمه الله لکه بيضاوي رحمه الله ودې ته کلک ولاړ دی چې تحويل د قبلې په مسجد کې د بني مسلمه او هغه هم د ماسپښين لمونځ په منځ کې راغلی دی، حيث قال المظهري في المواهب وسبيل الرشاد، انه صلى الله عليه وسلم لما زار ام بشر بن براء بن معرور في بني سلمه يعني بعد ما مات براء فضعت له طعاماً وحانت الظهر فصلى رسول الله ﷺ باصحابه في مسجد هناک الظهر فلما صلى ركعتين نزل جبرائيل فاشار اليه ان صل الى البيت فاستدار الى الكعبة واستقبل الميزاب فتحول النساء مكان الرجال والرجال مكان النساء فسمى ذالک المسجد مسجد القبلتين، او مظهري دا هم وايي قال الواحدي وهذا عندنا اثبت يعني فصلى النبى ﷺ صلوة الظهر ركعتين الى بيت المقدس وركعتين الى الكعبة.

درويش وايي: چې نه بيضاوي د جلال الدين سيوطي درجه لري لان السيوطي رحمه الله اعلم بالحديث النبوي ﷺ من البيضاوي رحمه الله كما لا يخفى على الواقف على التاريخ لعلماء الاسلام، او نه مواهب او سبيل الرشاد د بخاري او مسلم درجه لري. قال الامام النواوي في مقدمة شرحه على صحيح مسلم قد اتفقت الامة على ان اصح الكتب بعد كتاب الله الصحيحان للبخاري ومسلم، انتهى.

درويش وايي: چې مظهري وصحيح البخاري ته حواله کړې ده په روايت د براء بن عازب چې انه صلى الله عليه وسلم صلى اول صلوة صلاها الى الكعبة صلوة العصر آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چې دا حدیث خو د بخاري له دمخه حدیث څخه چې درویش یې عنقریب نقل وکړی چې اول لمونځ چې اول علیه السلام وکعبې ته وکړی صلوة الصبح و. او د مظهري د هغه روایت څخه هم مخالف دی چې دی وایي چې اول لمونځ وکعبې ته د ماسپښین د لمانځه دوه اخیر رکعتونه وه، نو مظهري ﷫ د خپل خوا ځواب داسي ورکړی دی چې براء ﷛ په دې نه وو خبر چې علیه الصلوة والسلام د ماسپښین لمونځ یعني دوه رکعته هم وکعبې ته کړی دی. نو ځکه یې صلوة العصر ذکر کړی، نو موږ په دفع کې د تعارض د دوو حدیثو د بخاري هم عیناً دغه خبره کوو چې براء ﷛ نه وو خبر چې تحویل د قبلې د سهار په لمانځه کې سوی دی، مازدیگر چې یې علیه السلام ولیدی چې ده د مازدیگر لمونځ وکعبې ته وکړی نو ده خیال دا سو چې دغه یې اول لمونځ دی چې کعبې ته یې وکړی، نو ځکه یې اول صلوة وکعبې ته صلوة العصر وباله.

سوال: براء ﷛ چې علیه السلام ولیدی چې د مازدیگر لمونځ یې و کعبې ته وکړی نو که دی د سهار او ماسپښین په لمونځو کې حاضر نه وو، نو ده باید پوښتنه کړې وای چې علیه الصلوة والسلام بل لمونځ هم وکعبې مبارکې ته کړی او که دغه د مازدیگر لمونځ یې اول لمونځ دی وکعبې ته، نو به صحابه وو ﷛ ورته ویلي وای چې یا دا اول لمونځ وکعبې ته نه دی، بلکه سهار او ماسپښین یې هم وکعبې ته وکړی؟

ځواب: دا سوال خو د مظهري پر تاویل هم وارد دی چې ده وویل چې براء ﷛ د بني سلمه د مسجد په واقعه نه وو خبر موږ وایو نو ولې یې پوښتنه نه کول. تاچې خلگو به دی په واقعه د بني سلمه وو خبر کړی وای

درویش وایي: چې دا وو تحقیق د تحویل د قبلې د وخت او د ځای او د علماؤ اختلاف په دې باره کې، نو هر عالم دې په نظر د انصاف بدون الاعتساف وگوري چې کومه رایه به صحیح وي، پر درویش صرف نقل و هغه یې وکړی، البته د درېش په ناقص عقل به یې یوې خواته ترجیح ورکړې وي، هغه هر عالم ددې حق لري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ ط

او چېرې او په هر ځای کې یاست تاسې یعنې امت محمد ﷺ نو تاسې اړوئ مخان خپل یعنې په وخت کې د لمانځه وجهت ته د مسجد حرام.

یوه سه: چې اول خدای ﷻ وعلیه الصلوة والسلام ته امر د توجه وبیت الحرام ته ورکړی لپاره د تعظیم دده، او هغه امر د نبي ﷺ که څه امت ته هم شامل وو لکن بیا یې صراحةً امت نبوي هم مخاطب کړه په توجه و مسجد الحرام ته تاکیداً لامر القبلة.

فائده: حیث ماکنتم" لپاره د عموم د ټولو اکنافو د مځکې دي، یعنې که شرقاً یاست او که غرباً جنوباً یاست او که شمالاً په وخت کې د لمانځه توجه و جهت ته د مسجد الحرام کوئ فانه القبلة الی یوم القیامة لانسخ ولا تبدیل.

وَإِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ط وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ ﴿١٤٤﴾

او په تحقیق هغه کسان چې دوئ ته کتاب ورکړه سوی دی یعنې تورات چې هغه یهود دي حتماً پوهېږي چې دغه تحویل د قبلې او توجه وکعبې مبارکې ته حق او ثابت دی له جانبه څخه د رب ددوئ، ولې په توارت کې د نبي آخر الزمان په بیان کې یوه دا خبره هم وه چې دی به ودوو قبلو ته لمونځ کوي، مګر علماوؤ د بني اسرائیلو دا خبره پټه ساتلې وه او څنډي منکره وه له جهته څخه د حسد او خوفاً علی ریاستهم وحباً للدنیا، او نه دی خدای ﷻ غافله او ناخبره د هغه کاروه څخه چې تاسې یې کوئ.

یوه سه: چې مخاطب په دې آیت کې مسلمانان او اهل کتاب دواړه دي تغلیبا للمسلمین المخاطبین علی اهل الکتاب الغائبین.

یوه سه: چې کارونه د مسلمانانو تسلیم او انقیاد د امر الهی دی او عمل د اهل کتابو انکار دی او تعنت او عناد او حسد دی، نو په دې آیت کې وعده د ثواب د مسلمانانو ته او وعید دی اهل کتابو ته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَئِنْ أَتَيْتَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتٰبَ بِكُلِّ آيَةٍ مَّا تَبِعُوْا قِبْلَتَكَ ۚ وَمَا أَنْتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ ۚ

پوه سه: چې لام موطئة د قسم دی، یعني قسم دی په خدای ﷻ که ته ای محمد ﷺ راتګ وکړې وهغو کسانو ته چې کتاب ورکړه سوی دی یعني الیهود والنصاری چې کتاب یې تورات او انجیل دی، په هر آیت یعني دلیل پر دې باندې چې کعبه قبله د دوئ متابعت نه کوي ستا د قبلې.

پوه سه: چې "ماتبعوا" ځواب د هغه قسم مقدر دی او په ځواب کې د شرط هم ولاړ دی، یعني متابعت ستا د قبلې چې کعبه ده نه کول په سبب د اشتباه نه ده چې په حجت سره ازاله وکړې بلکه په سبب د عناد او حسد دی، او دا شی په حجت ویلو ددوئ له زړو ځخه نه وځي، او نه هم ته تابع کېدای سې ددوئ د قبلې ولې چې امر د قبلې د کعبې متسحکم دی لا ینسخ ابداً په دې آیت کې قطع ددوئ ده طمعې ده چې ګوندي علیه السلام به بېرته زموږ قبلې ته راوګرځي.

سوال: قبله د یهودو او نصاری وو خو سره جلا ده، ولې چې یهود وبیت المقدس ته لمونځ کوي چې هغه د مدینې منورې ځخه غربې ده، او نصری لمر خاته ته لمونځ کوي، نو څرنګه د دواړو لپاره د "قبلتهم" په لفظ د مفرد وویل سو؟

ځواب: هوا چونکه دا دواړې سره یو وې په اعتبار د بطلان او منسوخیت نو ځکه یې مفرد لفظ ووایه.

وَمَا بَعْضُهُمْ بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ ۭ

او نه سي کېدای بعض اهل کتاب تابع د نورو اهل کتابو په قبله کي لمامر آنفاً

پوه سه: چې حکم د عدم متابعت د قبلې زموږ په اعتبار د اعم اغلب د اهل کتابو دی ورنه عبدالله بن سلام واضرابه د یهودو د مدینې او نصاری وو د نجران خو متابعت د علیه السلام وکړی په امر د قبلې د کعبې مبارکې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُم مِّن بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ إِنَّكَ إِذًا لَّمِنَ الظَّالِمِينَ ﴿١٤٥﴾

او كه چېرې ته متابعت وكړې د خواهشاتو ژانغه وو د دوئ يعنې اهل كتاب چې دوئ وايي ته بيرته زموږ قبلې ته مخ كړه حتى بعض يهوديانو به ويل كه چېرې ده يعني عليه السلام زموږ له قبلې څخه روه گرداني نه واى كړې نو موږ به ويلاى چې دى هغه نبي موعود في التوراة دى په دې خبره كې غرض ددوئ دا وو چې گوندې عليه السلام موږ خطاباسو او بېرته زموږ وقبلې ته مخ راواړوي، نو خكه خداى ﷻ عليه الصلوة والسلام مخاطب كړى "او لئن اتبعت آه" خطاب يې ورته وكړى كه ته بالفرض والمحال دغسي وكړې وروسته تر دې چې تاته علم له جانبه څخه د خداى ﷻ په وحي سره راغلى چې مفيد د حق اليقين دى په باره كې د قبلې د كعبې نو ته به له ډلې څخه د ظالمانو وگرځې.

فائده: عقلاً او نقلاً صدق د قضيه شرطيه صدق د مقدم او تالي نه غواړي بلكه بناء د صدق د شرطيه پر علاقه بين المقدم والتالي دى اما نقلاً فلقوله تعالى "قل ان للرحمن ولد فانا اول العبدين" واما عقلاً فلقول اهل المعقول ان كان زيد حماراً كان ناحقاً.

پوښتنه: په علم نحو كي وايي چې كلمه د "ان" پر امور محتمله و داخلېږي، آيا د ايت احتمال د متابعت د رسول الله ﷺ د اهل كتابو قبلې لره هم سته او كه څرنگه؟

ځواب: امور محتمله عام دي كه يې احتمال په واقع كي وي لكه ان دخلت دار فانت طالق، او كه يې احتمال صرف فرضي وي كما في المثالين المذكورين النقلي والعقلي، وما نحن فيه يعني احتمال د متابعت د رسول الله ﷺ قبلې لره د اهل كتابو صرف فرضي دى.

پوښتنه: په كومه قرينه موږ دا ويلاى سو چې دلته احتمال صرف فرضي دى؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: په قرینه د هغه آیت چي خدای ﷻ اخبار وکړی "وما انت بتابع قبلتهم"، ولي چي خلاف د اخبار الهي څخه چونکه مستلزم کذب لره د اخبار الهي دی، نو وقوع یې محاله ده، کما تقرر في کتب العقائد.

پوښتنه: وقوع د متابعت د علیه الصلوة والسلام قبلې لره د اهل کتابو محال هم وه او خدای ﷻ د مخه هم اخبار د عدم کړی وو. نو څرنګه په دې شرطیه قضیه کي یعني "ولئن آه" مخاطب یې علیه السلام وګرځاوه؟

ځواب: لپاره د تشدید پر امت او مسلمانانو باندي چي تاسي باید متابعت د قبلې د اهل کتابو ونه کړئ، ولي سید البشر ﷺ په صورت کي متابعت خدای ﷻ داسي خطاب ورته وکړی "انک اذاً لمن الظالمین" نو دا تهدید عظیم دی د امتیانو لپاره په متابعت کي د قبلې د اهل کتابو

فائده: خدای ﷻ په ډېرو انواعو سره د مبالغې دا متابعت ممنوع وګرځاوه.

(۱) دا شرطیه قضیه مؤکده په قسم مقدر سره چي لام موطئه د قسم دلالت پر کوي مصدر وګرځول.

(۲) مخاطب یې علیه السلام وګرځاوه چي هغه حبیب الله وو او عبد معصوم د ټولو معاصي څخه وو فغیره، اولی واحري بالتهدید.

(۳) تفصیل بعد الاجمال في قوله تعالی بعد ماجائک من العلم.

(۴) تعظیم د علم نبوي ﷺ لکونه معرفاً باللام.

(۵) جزاء د شرط مذکور یې په ان المؤکده سره راوړه یعني انک اذاً آه

(۶) او په خبر د هغې جملې د جزاء یې لام مؤکده راوړی یعني لمن

(۷) جمله اسمیه یې راوړه (۸) کلمه د من تبعیضیه یې راوړه یعني من الظالمین، ولي چي علماء د معاني و وایي چي زید من العلماء ابلغ دی تر زید عالم، ولي چي په اول صورت کي د عوی د علم د زید سره د دلیل د راجع في ذلک علم المعاني.

(۹) ظالمین یې معرفه راوړه المستلزم نسبته الظالم العظیم الیه لانهم قالوا ان المطلق یحمل علی الفرد الکامل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي ددې مبالغاتو بیان قاضي بیضاوي کړی دی وتبعه المظهري وزاد علیه بعض وجوه المبالغة.

فائده: دا شرطیه چي مونږ یې تفصیل وکړی د عصمت سره د سید البشر ﷺ منافات لري کما علمت من التفصیل المذکور باحسن وجه والله الموفق.

یادګار: دا تفصیل په وخت کي د صبح صادق په ورځي د عید الفطر وکړه سو یوم یکشنبه پنځه نیمي بجې (۱۴۲۵ هجري قمري)

اللهم اغفرلي ذنوبي کلها واغفر لوالدي بحرمة الشهر المبارک الذي انتهی صیامه وقیامه وبحرمة یوم عید الفطر یوم نزول الرحمة العامة من الرحمن الرحیم، علی عباده المؤمنین وانصر الاسلام والمسلمین وکبت وذلل اعداء الدین واطرد الامریکین المتغلبین علی ممالک المسلمین بحولک وقدرتک یا ارحم الراحمین آمین.

اَلَّذِیْنَ اٰتَیْنٰهُمُ الْکِتٰبَ یَعْرِفُوْنَهٗ کَمَا یَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ

هغه کسان چي مونږ ورکړی دی ودوئ ته کتاب چي تورات او انجیل دي یعني ملایان ددوئ پېژني رسول کریم ﷺ لکه چي دوئ پېژني خپل زامن یعني چي نبي موعود چي په توارت او انجیل کي یې بیان راغلی دی، همدغه محمد ﷺ دی.

پوه سه: چي ضمیر منصوب د "یعرفونه" و علیه الصلوة والسلام ته راجع دی وهو الاظهر.

سوال: د علیه الصلوة والسلام ذکر خو د مخه نه دی راغلی؟

ځواب: چونکه ټوله سابق آیتونه په باره کي د نبوت د علیه الصلوة والسلام وه نو مذکور حکماً دي، او بعض مفسران رح وایي چي ضمیر مذکور وقرآن ته راجع دی، او بعض مفسران وایي چي ضمیر تحویل القبله ته راجع دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي تشبیه د معرفت سره ده انباء هم ددې دوو تفسیرو سره ډېره بعیده او مناسب نه ده.

پوښتنه: تخصیص د ابناء یې ولي وکړه سو نبات خو هم سړی پېژني؟

ځواب: خلګ زامن ډېر پېژني تر لوڼو، ولي چي د زامنو ګزاره د پلار سره تر لوڼو ډېره وي، او بل دا چي پر عمومي خلګو زامن تر لوڼو ګران وي، او د پلاره سره زامن په کومک کي ډېر د پلار سره اخته وي تر لوڼو حتی چي خلګ وایي د لور په باره کي چي دا د بل د کور ده کما یدل علیه التجربة.

سوال: اقرب تر ټولو شیانو هر سړي ته خپل ځان دی، نو چي داسي ویل سوي وای کما یعرفون انفسهم ابلغ به نه وای؟

ځواب: هیڅ سړی خپل ځان نه پېژني تر ډېره وخته پوري یعني زمان غایة الطفولیة، او زوئ د هغه وخته څخه چي و زېږي پلار یې پېژني کما لایخفی، لکن سره د هغه ملایان د اهل الکتاب د علیه الصلوة والسلام د نبوت څخه انکار کوي، نو معلومه سوه چي دوئ صرف د تعصب او عناد او حسد له سببه دا انکار کوي.

پوه سه: چي عبدالله بن سلام ﷺ چي یو ستر عالم د یهودو و او په اول قدوم کي د علیه الصلوة والسلام پسله څو پوښتنو په اسلام مشرف سو، نو حضرت عمر ﷺ وده ته وویل چي په قرآن کریم کي خو دا آیت نازل دی "الذین اتوا الکتاب یعرفونه کما یعرفونه ابنائهم" نو ستا ددې معرفت په باره کي څه رایه ده؟ عبدالله بن سلام ﷺ ورته وویل یاعمر! لقد عرفته حین رئیته کما اعرف ابني ومعرفتي بمحمد ﷺ اشد من معرفة ابني، فقال عمر ﷺ وکیف ذالک قال اشهد انه رسول الله حقاً وقد نعته الله في کتابنا ولا ادري ماتضع النساء، فقال عمر ﷺ وفقک الله یا ابن سلام فقد صدقت.

ترجمه: ای عمر قسم په خدای ﷻ دی چي ما وپېژندی علیه الصلوة والسلام یعني چي نبي آخر الزمان دی هغه وخت چي ما ولیدی لکه زه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي پېژنم خپل زوئ او پېژندل زما په محمد ﷺ يعني چي نبي دی ډېر بالا دی زما د خپل زوئ تر پېژندو، نو عمر ﷺ وويل چي څرنګه پېژندل د عليه الصلوة والسلام تاته اشد تر پېژندلو د زوئ وه، عبدالله بن سلام ﷺ ورته وويل چي زه شاهدي اداء کوم چي دی رسول د خدای ﷻ دی په حقه سره ولي ما ليدلي دده صفتونه او بيان زموږ په کتاب کي يعني په تورات کي چي هغه حتماً صادق دی، او زه نه يم خبر چي ښځي څه کارونه کوي، يعني زه نه يم خبر چي زما زوئ به زما له نطفې څخه وي او که به يې مور زنا کړې وي، نو عمر ﷺ ورته وويل چي خدای ﷻ دي تاته توفيق درکړي ای ابن سلامه په تحقيق ته رشتيا وايې.

درویش وايي: چي دا حديث په صحاح سته وو کي ډېر اورد دی چي عنقريب به په طول سره راوړه سي ان شاء الله تعالی.

وَإِنَّ فَرِيقًا مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ الْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٤٦﴾ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿١٤٧﴾

او په تحقيق سره يوه ډله د اهل کتابو يعني ملايان د دوئ هر آئينه پټوي حق عموماً خصوصاً په باره کي د عليه الصلوة والسلام اود قبلې د کعبې، او دوئ هم په حق پوهېږي، نو انکار د ملايانو ددوئ د جهل سبب نه دی بلکه د حسد او عناد او د حب المال والجاه له سببه دی، وورد في الحديث الصحيح للجاهل ويل وللعالم سبعين ويل. فلهم سبعون ويل، او حق يعني عموماً و خصوصاً له جانبه څخه د خدای ﷻ دی، نو ته ای محمد ﷺ هرګز مه ګرځه د ډلي د شک کونکو په حق کي.

پوه سه: چي په دې نهي کي هم تهديد د امت مقصود دی کمامر تفصيله في بيان "ولئن اتبعت الآية".

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه:- چي دلته مراد په قرینه د مقام د حق څخه نعوت د علیه الصلوة والسلام دی چي په تورات او انجیل کي وه، او بل حال د قبلې د کعبې دی.

فائده: د اعراب له لاري ظاهر اعراب دادی چي الحق مبتداء ده او من ربک یې خبر دی، یعني الحق ماثبت من ربک، وهو ماانت علیه یعني لا غیر ذالک کالذي علیه اهل الکتاب، او دا احتمال هم مظهري ذکر کړی چي الحق دی خبر د مبتداء محذوف وي، ای هذا الحق، یعني ماثبت من قبل في امر القبلة وغیرها حق دی، او من ربک دي خبر بعد الخبر وي ای کاین من ربک، او یا دي من ربک حال وي د ضمیر څخه د الحق ای کائناً من ربک، او یا دي الحق فاعل د فعل مقدر وي، او من ربک متعلق په هغه فعل پوري وي ای جائک الحق من ربک، قال الامام القشیري رحمه الله في حق علماء اهل الکتاب حملهم مستکنات الحسد وسوء الاختیار علی المکابرة لماعلموا بالاضطرار.

درویش وایي: چي د یهودیانو ملایانو که څه هم ډېر کوشش کاوه چي علیه الصلوة والسلام او دین د اسلام بدنامه کړي او دخلګو په زړو کي نفرت ددې دین الهي څخه پیدا کړي او دا لوئ کاروان د اسلام درهم برهم کړي لکن ددې مثال د سپو دی، د سپي په خوله لوئ دریاب او جاري رود نه مردارېږي او کاروان د اسلام به پر مخ روان وي، او سپي به ورته غاپي الی یوم القیامة، وهذا کله لاجل حسد علماء الیهود، وهذه السلسلة جاریة للعلماء الحاسدین مع العلماء الروحانیین في کل عصر وزمان فالواجب علی العلماء الروحانیین الصبر علی ایذاء الحاسدین واغتیابهم وبهتانهم.

پوه سه: چي راه رو که د هر سپي سره په مقابله او طرد اخته سي دده سفر به قطعه سي، نو ښه داده چي مسافر او راه رو وخپل سفر ته ادامه ورکړي، سپی او غفا سره پرېږدي، والله متم نوره ولوکره الکافرون وقد تم الله عزوجل نور الاسلام ولوکره کفار الهیود والنصاری.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ

پوه سه: چي تنوين د كل عوض دی د مضاف اليه څخه ای لكل امة من اهل الاديان، او د "وجهة" معنا هغه مكان متوجه اليه دی چي قبله ورته وايي او د هو ضمير راجع دی و كل ته، او د موليها يو مفعول محذوف دی ای هو موليها وجهه يعني في الصلوة يعني دی مخ اړونكی دی هغه جهت ته خپل مخ په لمانځه كي، حاصل دا چي خدای ﷻ هر امت ويوې قبلې ته متوجه كوي حتی جعل لموسی ﷺ قبلة وهی بيت المقدس وليشی: قبلة وهي جهة المشرق ولمحمد ﷺ قبلتين بيت المقدس و الكعبة، نو امر د قبلې يو تعبدي كار دی چي په عقل سره يې ادراک د حكمت الهي نه كيږي او نه هم خلكو لره نزاع په امر د قبلې بنايي بل كه پر دوی امتثال د امر الهي لازم دی وليس لمكان اقتضاء ذاتي لكونه قبلة حتی يخوض الناس في ترجيح جهة علی جهة في كونها قبلة، نو تاسي مبادرت كوئ ايها الناس د خير و كارو ته چي هغه امتثال د امر الهی دی كه امر د استقبال د بيت المقدس وكړي او كه د كعبې وكړي فان الله يحكم مايشاء ويفعل مايريد فان لله حكم غامضة في احكامه وافعاله لا يسئال عما يفعل وهم يسئلون.

فائده: موصوف د خيرات محذوف دی اي الفعلات الخيرات او مراد د خيرات څخه يواځي توجه د قبلې نه ده بلكه ټوله د خير كارونه يعني چي د امر الهي سره برابر وي لان العبرة لعموم اللفظ لا لخصوص المورد كما هو الحكم المسلم والمجمع عليه عند جميع المفسرين واهل الحديث والفقهاء رحمهم الله تعالی اجمعين.

فائده: صاحب د روح البيان استبقوا متعدي په واسطه د حرف جر محذوف بولي ای الی الخيرات، او بعض مفسرين يې متعدي بنفسه بولي والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَيْنَ مَا تَكُونُوا يَأْتِ بِكُمُ اللَّهُ جَمِيعًا إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٤٨﴾

هر چېرې چې تاسي ياست، يعني په هر مكان كي چي د خداى ﷻ رضا پكښې وي يعني په استقبال د كعبه مباركي او يا د خداى ﷻ رضا نه وي پكښې لكه استقبال وبيت المقدس ته وروسته تر نسخي راتگ به وكړي خداى ﷻ پس له مرگه ومحشر ته د قيامت لپاره د جزاء او لپاره د جلا كولو د محق او مبطل. نو دا آيت وعده د جنت و اهل طاعت ته ده او وعيد دى د اهل عصيان لپاره د دخول د دوزخ سره، او خداى ﷻ قادر دى پر هر شي چي له هغه جملې څخه احياء او اماتت دى او په يوم الحشر كي جمع كول ستاسي دي لپاره د جزاء، او بعض مفسران وايي چي معنا د آيت داده چي هر چېرې چې ياست يعني كه شرقاً او كه غرباً او كه جنوباً يا شملاً ياست او لمونځ وكعبې ته كوئ، راتگ يې وكړى خداى ﷻ ستاسي په لمونځو سره، سره له اختلافه د جهاتو جميعاً يعني متحد الجهة يعني په حكم كي د يوه لمانځه لان الاعتبار لجهة الكعبة لا للشرق والغرب مثلاً، نو پر دې تفسير جميعاً حال دى د ضمير څخه د كم والمعنى مجتمعين في الجهة او اتيان بكم مجاز دى عن جعل صلاتكم متحدة في الجهة، او مظهري يې داسي تفسير هم كړى دى چي هر مسلمان لره قبله سته چي هغه جهت د كعبې دى كه چېرې ورمعلومه وه نو خود به مخ په لمانځه كي هغه لوري ته كوئ. او كه قبله خندي وركه وه نو جهت د تحري دده قبله ده. او كه يې نفل كول تر ښار دباندي پر دابه باندي، نو قبله دده جهت د استقبال الدابة ده، نو حاصل دادى چي لمونځ په سبب د اشتباه القبلة تر وخت نه خنډوئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي دا حکمونه خو تـوله صحیح او د فقه سره برابر دي لکه درویش نـه پوهیږي چي سلیسـه ترجمـه د آیت بـه سرې څرنگه کوي چي دامذکوره احکام به تـوله پکښې وي، فتامل لعل الله یحدث بعد ذالک امراً

وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۖ وَإِنَّهُ لَلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿١٤٩﴾

او ده هر ځای چي ته ووځې یعني سفر تـه نـو اړوه خپـل مخ یعني پـه لمانځه کي ولوري ته د مسجد الحرام او په تحقیق دا امر د توجـه و مسجد الحرام ته لازماً حق دی، له جانبه څخه د رب ستا او نه دی غافل یعني بې خبره خدای ﷻ له هغه کارو څخه چي تاسي یې کوئ عموماً وخصوصاً.

پوه سه: چي دا آیت لپاره ددې دی چي حکم د لمانځـه د کـور او د سفر سره برابر دی په توجه کي و جهت تـه د مسـجد الحرام، پـه حدیث صحیح کي چي روایت یې حذیفه بن الیمان ﷺ کړی دی علیـه الصلوۃ والسلام وایي چي موږ تـه یعني امت محمدیه ﷺ تـه خـدای ﷻ فضیلت راکړی دي پر نـورو خلگـو پـه درې شـیه کي، یـو دادی چي صفونه زمـوږ یعنـي پـه لمانځه کي لکه صفونه د ملکو گرځولي دي یعني پـه تسـویه کي او بـل دا چي موږ لـره یې تـولـه مځکـه مسجد گرځولې ده، یعني چي هـر ځـای د لمانځه وخت راسي هغه ځای زموږ لپاره د لمانځـه ځـای دی، مطلب لکـه چي په مسجد کي د وطن او حضر چي موږ لمونځ وجهت ته د بیت الحرام کوو په سفر کي هم لازماً به موږ جهت ته د مسجد الحرام لمونځونه کوو.

درویش وایي: چي په دغه تفصیل دا حدیث د آیت مبارکـه سره برابرېږي، او بل دا چي موږ لره خاوري د مځکي پـاکي گرځولي د حدث اصغر او اکبر څخه چي موږ اوبـه نـه کـړو پیـدا، ددې حدیث څخه معلومـه سوه چي حکم د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تیمم پر امم سابقه وو نه وو، او دغه رنګه معلومه سوه چي لمونځونه د نورو امتو بیله ځیلو کلیساوو او معابدو نه وه روا یعني چي امکان به یې و، او موږ که څه هم امکان د مسجد د رسېدګي هم وي لمونځونه بل ځای هم روا دي که څه هم مسجد ته ځان رسول افضل دی او بل دا هم معلومه سوه چي لمونځ د نورو امتو په صف بندي سره نه وو، رواه مسلم بطوله

فائده: حکم د سفر قریب او بعید سره برابر دی ویحتمل چي ده خروج څخه دي وتل د کلي او بانډو څخه وي که څه هم سفر مصطلح نه وي.

فائده: که څه هم مخاطب په آیت کي خو علیه الصلوٰة والسلام دی اما د امت لپاره هم داغه حکم دی.

فائده: په دي کلماتو کي وما الله بغافل آه وعده وركوي خدای ﷻ چي تاسي ته به ستاسي پر اعمالو حسنه وو احسن الجزاء خدای ﷻ درکوي

فائده نحویه: "حیث" ظرف مکان دی او لازمة الاضافة دی وجملي ته غالبا. ولي چي وضع د حیث لپاره د هغه مکان د هغه ځای د حدث وي چي جمله متضمن هغه حدث لره وي، نو بعض مفسران ح وایي چي من حیث متعلق دی له "ول" پوري او ما بعد فا عمل په ماقبل کي کولای سي لکن دا تفسیر خفاجي رد کړی دی په دي سره چي تقدیر د کلام خو داسي ګرځي فول ومن حیث ولا معنی لاجتماع الواو والفاء نو صحیح وجه داده چي من حیث متعلق په فعل مقدر پوري دی یعني افعل ما امرت به من حیث خرجت وقوله فول عطف پر هغه مقدر دی

وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۖ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ

درویش وایي: چي ترجمه د آیت خو ظاهره ده لکن بعض ناپوهان به توهم ددي کوي چي په تکرار کي ددي آیت څه فائده ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: دادی چي قبله توجه لره په ټولو امتو کي لوي شان دي کما لايخفى، او نسخ ځاى د فتنې ده او د شبهي ده. ځکه بعض مسلمانان ددې نسخ له کبله کافران سوه، نو بايد ددې نسخ د قبلې چي اوله نسخ وروسته تر هجرت د مرة بعد اخرى تکرار سي هذا ماذكر روح البيان. او قاضي بيضاوي وايي وتبعه المظهري رحمه الله چي دليل د تکرار ددې آيت دادی چي علتونه ددې نسخ د قبلې درې وه، اول تعظيم د رسول کريم ﷺ چي خداى ﷻ دده مرضات پر ځاى کړي چي توجه وکعبې ته وه کمايدل عليه قوله قد نرى تقلب وجهک في السماء فلنولينک قبلة ترضاها فول وجهک آه. دوهم خبره داده چي عادت الهي پر دې باندي دی چي هر اهل ملت او شريعت مخ به په لمانځه کي وجلا قبلې ته اړوي کما يدل عليه قوله تعالى "ولكل وجهة هو موليها" چي تفسير او تفصيل يې تاسي واورېدی او دريم دفع د دلائلو د مخالفينو ده لکه په دې وروسته آيت کي چي به راسي، نو خداى ﷻ پاک جوت کړی د هر علت سره خپل معلول لکه عقلاء چي د هر دليل سره مدعي جوت راوړي يا دمخه او يا وروسته تاچي مدعي په تکرار سره د مخاطبينو او سامعانو په زړه کي ښه قرار ونسي، لکن په قرآن مبارک کي يې په اولو دوو ځايو کي علت تر معلول دمخه راوړي دي، او په اخر کي معلول تر علت دمخه راوړی کماسيأتي

لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ إِلَّا الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ

علة للقول السابق فولوا وجوهكم آه. يعني اړول ستاسي د مخانو مي کعبې ته وکړه له دې سببه چي خلگو لره پر تاسي حجت او دليل نه سي پاته

پوه سه: چي لام جاره متعلق دی په "فول" سره او علت دی د توليه وه جهت ته د بيت الحرام.

فائدہ: مراد له ناس څخه يهود دي چي دوئ په هغه وخت کي چي عليه الصلوة والسلام وبيت المقدس ته لمونځ کاوه دا يې وويله چي هغه نبي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې منعوت في التوراة دی د هغه قبله خو کعبه ښوول سوې ده او دا نبي خو زموږ قبلې ته لمونځ کوي او مشرکانو د مکې به دا احتجاج کاوه چې محمد ﷺ د ملة ابراهيم دعوی کوي او وخلاف ته د ابراهيم ﷺ د قبلې چې کعبه ده لمونځ کوي، قوله الاالذين آه استثناء ده له ناس څخه يعنی مګر د ظالمانو معاندانو احتجاج نه قطع کېږی ولې چې د يهودو معاندانو ظالمانو به وروسته تر تحويل القبلة داسې ويله ماترک قبلتنا الی الکعبة الا ميلا الی دين آبانه ای الشرک وحباً لبلده ولوکان علی الحق للزم قبلة الانبياء يعنی بيت المقدس، او معاندانو ظالمانو د مکې به ويله رجع الی قبلة آبانه ويوشک ان يرجع الی دينهم

سوال: دا خبره د يهودانو يا د مشرکانو خو صرف درواغ وه او فحش باطل خبري وې نو حجة ولې ورته وويل سو بلکه لائق داوه چې پر دې خبرو ددوئ نوم د جدل کېښودل سي؟

ځواب: تسميه بالحجة ددوئ پر زعم باطل بناء ده، نو ګويا دا تسميه مجاز دی تهکماً بهم. او بعض مفسران وايي چې استثناء منقطع ده، نو معنا يې داده لکن الذين ظلموا يجادلونکم بالباطل، او بعض وايي چې حجة په معنا د احتجاج دی، احتجاج خو ددوئ فعل دی وفيه انه يرد عليه مايرد علی الحجة بالمعنی الوصفی من انه لم سمی فعلهم احتجاجاً بل ينبغي ان يسمی جدالاً فافهم.

فَلَا تَخۡشَوۡهُمۡ وَاخۡشَوۡنِيۡ

نو تاسي مسلمانان ددوئ څخه مه بېرېږئ ولې چې زه ستاسي سره کومک کوم او په حجت تاسي پر دوئ غالبه ګرځوم. او نفس طعن ددوئ تاسي ته ضرر نه رسوي، او زما څخه وبېرېږي يعني مخالفت زما له امره مه کوئ چې په توجه د کعبې يې تاسي ته کړی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلِأُتِمَّ نِعْمَتِي عَلَيْكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥٠﴾

پوه سه: چي "ولاتم آه" معطوف دی پر "لئلا آه" باندي ای تولوا وجوهکم لئلا يكون للناس عليكم حجة ولاتم نعمتي عليكم آه، او دا هم احتمال سته چي ولاتم آه دي علت وي د جمله محذوف ای امرتکم بالتولية الى المجسد الحرام وعدم الخشية لاتمامي نعمتي عليكم وارادة اهتدائكم. پر دې تقدير هم دا جمله عطف ده پر جمله معلله سابقه باندي يعني لئلا يكون للناس آه.

پوه سه: چي چونكه حقيقت ترجي پر خدای ﷻ محال وه، نو ځکه يې په مورډ تفسير په اراده سره وکړی، او يا دا جمله عطف ده پر علت مقدره مثل واخشوني لاحفظكم عنهم ولاتم نعمتي عليكم آه، وعن معاذ ﷺ قال قال رسول الله ﷺ تمام نعمتي دخول الجنة والنجاة من النار رواه البخاري، وعن علي ﷺ تمام النعمة الموت على الاسلام. هذا حاصل ما في البيضاوي والمظهري، او روح البيان ډېر په زړه پوري تفصيل داسي کړی دی، علة لمحذوف ای امرتكم بتولية الوجوه شطر المسجد الحرام للاتمام النعمة عليكم ولي چي دا توليه يو نعمت جليله دی، ولي چي توله تكاليف الهيه كه څه هم نعمتونه دي چي مكلف يې امتثال وکړی ولي چي مكلف وصل کوي و ثواب جزيل ته د آخرت. لكن امر د خدای ﷻ بالتوجه الى قبلة ابراهيم تام د نعمت دی په امر کي د قبلې، ولي چي تولو عربو فخر کاوه په اتباع د ملت ابراهيم ﷺ في جميع ماكانوا يفعلونه، نو چي دوئ متوجه کړه سوه وقبلة ابراهيم ته چي کعبه وه نو ځکه خدای ﷻ د اتمام د نعمت وباله پر دوئ باندي.

درويش وايي: چي كه څه هم تفسير د روح البيان په سبب د مناسبت د مقام سره د تحويل القبلة په زړه پوري دی، لكن چونکه تفسير د تمام النعمة منصوصي موجود دی کمامر في الحديثين المذكورين عنقريب، نو ځکه مفسرينو رح عموما وهغه منصوصي تفسير ته ترجيح ورکړې ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الآن يقال چي مراد د صاحب د روح البيان حصر د تمام نعمت چي مذکور په دې آيت دی په ماذکره نه دی بلکه مراد دده بيان د يوې نوعي د تمام النعمة ده فلا منافات بين ماذكر في الحديثين من تمام النعمة وبين ماذکره صاحب روح البيـان، ولـي چـي نعمتونـه د خـدای ﷻ پر دې امت مرحومـه بانـدې تـر حساب تېر دي، نو هر نعمت الهي تمام النعمة ګڼل کېدای سي وماذکر في الحديثين هو التمام الحقيقي بجميع النعم الالهيـة لهذه الامة المرحومة، اللهم اتمم لنا نعمتک الحقيقة برحمتک يا ارحم الراحمين

درويش وايي: چې سليسـه ترجمه د تېرو آيتـو د "قد نرى آه" څخه تر دې ځای پوري داده. په تحقيق موږ وينو په بار بار کتل ستا و طرفته د اسمان په انتظار د وحي په باره کي د قبلة الكعبة نو هر آئينه موږ ستا مخ اړ وو هغه قبلې ته چي ته په راضي يې يعني کعبه، نو واړوه مخ خپل يعني په لمانځه کي وجهت ته د مسجد الحرام يعني چي په هغه کي کعبه موجودده، او هر چېرې چي ياست ای امت محمديه ﷺ که په سفر کي ياست او که حضر کي او که په شرق کي ياست او که په غرب کي ياست مثلاً نو تاسي اړوئ مخان خپل يعني په لمانځه کي وجهت ته دمسجد الحرام، او په تحقيق هغه کسان چـي دوئ تـه کتـاب ورکـړه سوی دی يعنـي تورات او انجيـل چـي يهـود او نصارې دي، دوئ پوهېږي چـي دا تحويـل د قبلې حق دی لـه جانبـه څخه د خدای ﷻ ددوئ، او نه دی خدای ﷻ غافله د هغو عملو څخه چي دوئ يې کوي، او په تحقيق که ته ای محمد ﷺ راتګ وکړې د دغو کسانو ته چي اهل کتاب دي په هر دليل او حجت سره دوئ متابعت نه کوي ستا د قبلې يعني عناداً وحسداً، او نه ته تابع کېدای سې د قبلې ددوئ، ولي چي ستا قبله په امر الهي د چي کعبه ده يعني تر ورځي د قيامت، او نه بعض اهل کتاب تابع کېدای سي د بل بعض په قبله کي، ولي چي د اهل کتابو قبلې هم يو له بله سره جلا دي. او بالفرض والتقدير که ته متابعت وکړې د خواهشاتو ددوئ يعني چي زموږ وقبلې ته بېرته مخ راواړوه، پسله دې چي تاته علم د خدای ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

له خوا در کړه سو چي قبله بالحق کعبه ده، نو په تحقیق ته به د ظالمانو له ډلي څخه يې. او هغه کسان چي موږ کتاب ورکړی یعني تر تاسي دمخه چي یهود او نصاری دي، پېژني آنحضرت ﷺ یعني چي بر حق دی او نبي اخر الزمان هم دی، لکه دوئ چي پېژني خپل زامن یعني په سبب د هغه نعتو د علیه الصلوة والسلام چي ددوئ په کتابو کي مذکور دي، او په تحقیق یوه ډله ددوئ یعني چي علماء ددوئ دي پوټوي حق یعني چي نبوت د علیه الصلوة والسلام دی او دوئ هم علم پر حق والي لري او حق یعني ستا نبوت او یا تحویل د قبلې له جانبه څخه د خدای ﷻ ستا دی، نو ته هر ګز مه ګرځه د شک کونکو څخه په باره کي ددې حق، او هر امت لره یو جهت سته چي هغه هر امت و هغه جهت ته مخ اړوي یعني په لمانځه کي، او تاسي وړاندي والي کوئ د خیر وکارو ته، او هري چېري چي تاسي یاست خدای ﷻ به راټګ وکړي په تاسي سره ټوله په ورځ د قیامت لپاره د جزاء بالجنة او بالنار، په تحقیق خدای ﷻ پر هر شي قادر دی، او له هر خایه چي ته ووځي یعني سفر ته نو ته مخ اروه په لمانځه کي وجهت ته د مسجد الحرام او تحقیق سره دا امر د تولیې وکعبې ته حق دی له جانبه څخه د خدای ﷻ او نه دی خدای ﷻ بېخبره د هغو کارو څخه چي تاسي يې کوئ یعني که خیر وي او که شر، او له هرخایه چي ووځې وسفرته نو مخ اروه یعني له لمانځه کي و جهت ته د مسجد الحرام، او موږ ستاسي قبله کعبه ورګرځول ددې لپاره چي خلګو لره یعني اهل کتابو لره پر تاسي دلیل نه سي پیدا چي نبي آخر الزمان خو دوو قبلوته لمونځ کوئ، مګر نه هغه کسان چي ظالمان وي ددوئ څخه یعني هغه ظالمان پسله تحویله د قبلې خپل احتجاج او جدال نه قطع کوي، نو تاسي د هغو له جداله مه بېرېږئ، او زما څخه بېرېږي، او بل ددې لپاره تحویل د قبلې منځ ته راغلی چي زه پوره کړم نعمت خپل پر تاسي باندي یعني په باره کي د قبلې او زما اراده ده چي پر سمه لار سئ، انتهی الترجمه لتلک الآیات، او دا ترجمه پر ویه خای د پښتنو د عوامو لپاره وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي:- چي دا ټوله رسوايي او بد بختي او انکار د نبوت محمدي ﷺ څخه چي اهل کتابو ته پېښه ده د دوئ د ملايانو له خوا ورپېښه ده کمايدل عليه قوله تعالی "وان فريقا منهم ليكتمون الحق وهم يعلمون كمامر تفسيره" او ملايانو د اهل کتابو بالخصوص د يهوديانو ملايانو په نصائحو کي عوامو ته د يهوديانو به ويل چي پر خپل دين حق يهوديت باندي قائم ووسئ، محمد ﷺ نبي موعود ي التوارت او نبي آخر الزمان نه دی او چي ملايان خود په خانه سره پو خای سوه دوئ به سره ويل چي محمد ﷺ خو هغه موعود دی لکن که يې موږ د رشتيا بيان وکړو زموږ رياست پر عوامو او جاه او جلال له منځه ځي، نو نعتونه د نبي آخر الزمان چي په تورات کي موجود دي تغير به ورکړو، او موږ به په دي گناه خدای ﷻ په ورځ د قيامت دوږخ ته نه واچوي، ولي زموږ نيکه گان انبياء دي زموږ حتماً شفاعت کوي، او دا به يې هم ويل نحن ابناء الله واحبائه او دا به يې هم ويل لن تمسنا النار الا اياماً معدودة كما حكى الله ﷻ عنهم في القرآن المجيد.

حافظ شيرازي رحمه الله د ورته خلگو په باره کي داسي وايي

واعظان کين جلوه در محراب ومنبر ميکنند	چون بخلوت مير وند آن کار ديگر ميکنند
مشکلي دارم ز دانشمند مجلس باز پرس	توبه فرمايان چرا خود توبه کمتر ميکنند
گوئيا با ور نميد ا رند روز داوري	کين همه قلب ودغل در کار داور ميکنند
خانه خالي کن دلا تامنزل جانان شود	کين هوسناکان دل وجان جای ديگر ميکنند

كَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْكُمْ رَسُوْلًا مِّنْكُمْ

لکه چي موږ استولی دی په تاسي کي يا معشر قريش رسول محمد ﷺ چي ستاسي يعني له قوم او قبيلې څخه دی، يعني تاسي په حال دده قبل النبوة وبعد النبوة تر نورو خلگو ښه خبر ياست حتی چي تاسي به دی قبل النبوة امين مکه باله.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

پوه سه: چي دا آيت متصل دی د ماقبل سره ای لاتم نعمتي عليكم في امر القبلة او في الآخرة بدخول الجنة كما اتممتها بارسال رسول منكم. نو كلمه د ما مصدريه ده او ذكر په آيت كي ارسال دی او مراد ځنـدي اتمام دی اقامة للسبب وهو الارسال مقام المسبب ای الاتمام، او بيضاوي رحمه الله يو احتمال بعيد هم ذكر كړی دی چي دا آيت د وروسته سره تعلق لري يعني فاذكروني، نو بي تقدير داسي بيان كړی دی فاذكروني كما ذكرتكم بارسال رسول منكم فافهم.

فائده: مخاطب په دي آيت كي قريش دي او نور خلگ د دوی تبع دي، لقوله عليه الصلوة والسلام الناس تبع لقريش، وايضاً پر دي تبعيت دلالت كوي دا قول د خدای ﷻ و ابراهيم ته "اني جاعلك للناس اماماً. قال ای ابراهيم ومن ذريتي، او عليه الصلوة والسلام هم د ذريت څخه د ابراهيم دی، وايضاً قال ابراهيم عليه السلام وابعث فيهم رسولاً منهم كما حكى الله ذالك منه.

يَتْلُوا عَلَيْكُمْ اٰيٰتِنَا وَيُزَكِّيْكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۵۱﴾

چي تلاوت كوي هغه رسول پر تاسي باندي آيات زموږ چي قرآن عظيم الشان دی، او تاسي باعثه كوي پر داسي اعمالو چي تاسي په هغه عملو سره پاك سئ له خيرو څخه د ګنهو.

پوه سه: چي موږ تفسير د تزكيه په باعثه كولو سره وكړی له دي كبله چي شان د ټولو رسولانو دعوت دی. او باعثه كول دي د خلګو پر هغو عملو چي خلگ د شرك او معاصيو څخه خلاص كړي، غرض په دي تفسير كي دادی اصل مزكي خو خدای ﷻ دی، او تاسي ته در ښيي هغه نبي كتاب يعني ما في القرآن من الشرائع والاحكام والمعاني والاسرار والاوامر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والنواهي، او هم ددې جهته قرآن مبارک ته هدیً ونوراً ویل سوی دی، او علیه الصلوة والسلام تلاوت د قرآن عظیم الشان کاوه وا اصحابو کرامو ﷺ ته تاچي دوئ بې نظم او الفاظ په یاد کړي، نو به قرآن مبارک پر ژبو د اهل تواتر پاته سي محفوظ له زیادت او نقصان څخه، نو به قرآن مبارک معجزه باقیه پاته سي الی یوم القیامة. ولي هر څوک چي په قرآن مبارک شک او نکار ولري هغه ته دا ویل کېږي "ان کنتم في ریب مما نزلنا علی عبدنا فاتوا بسورة الآیة، ولایوتون بمثله ولوکان بعضهم لبعض ظهیراً، نو د قرآن مبارک تلاوت په لمانځه کي او په خارج کي د لمانځه به عبادت باقیه وي الی یوم القیامة، او در بنیي دغه رسول وتاسي ته حکمت.

پوه سه: چي حکمت اصابت دی په قول او عمل کي او حکیم نه بلل کېږي مگر هغه سړی چي مصیب وي په قول او عمل کذا قال الامام الرازي ﷺ في التفسیر الکبیر.

پوه سه: چي عمل په قران سره بناء دی پر معرفت د معنا د قرآن وهو متضرع علی معرفة الفاظه من اللغة العربیة والعلوم العربیة من النحو، والصرف والمعاني والبیان والبدیع، او دا رسول وتاسي ته درشیي هغه شیان چي تاسي پر هغو علم نه درلودی.

پوښتنه: د عطف څخه د "ویعلمکم آه" داسي معلومېږي چي د قرآن او حکمت څخه علاوه شیان دي، نو هغه څه شیان دي؟

ځواب: د کتاب او حکمت څخه مراد هغه شیان دي چي في الجملة عقل لره مجال د معرفت هم وي، او د مالم تکونوا آه هغه جزئیات او کلیات دي چي ببله وحي هیڅ مدخل عقل لره نه وي. هذا مافي روح البیان، او د بیضاوي له کلامه هم دغه فهمېږي حیث قال بالفکر والنظر. وقال الخفاجي في شرح البیضاوي والمراد مایستفاد من النبي ﷺ غیر القرآن فهو جنس آخر، وقال البیضاوي وکرر الفعل یعني ویعلمکم آه لیدل علی انه جنس آخر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي مظهري رحمه الله په بیان کي ددې آیت یو طویل بیان کړی دی چي دېر مفسران د حدیث د ابي هریرة رضي الله عنه څخه روایت کوي چي هغه وایي "حفظت من رسول الله ﷺ دعائین من العلم فاما احدهما فبثثته فیکم، واما الآخر فلو بثثته یقطع هذا العلوم" عام شارحین ددې حدیث داسي ترجمه کوي چي ابو هریره رضي الله عنه وایي چي ما دوه لوښي یعني ظرفونه چي مراد څني د قوت حافظې دوې خزانې دي یو ظرف له هغو دوو څخه ما په تاسي کي نشر او بیان کړی، چي مراد څني علم العبادات دي من الزکوٰت والصلوٰة وغیرهما وعلم الحلال والحرام وعلم الجنة والنار وغیرها دي، او هر چه هغه بل ظرف د علم که یې زه نشر کړم په تاسي کي. نو زما سره غاړه به قطعه سي رواه البخاري، نو مظهري وایي او دا قول یې هم په قیل سره راوړی دی چي مراد د وعاء ثاني څخه هغه وعاء ده چي علیه الصلوٰة والسلام وده ته نومان د امراء الجور ښوولي لکه یزید بن معاویه او نور مروانیان امراء الجور چي هغه کسان چي ابو هریره رضي الله عنه دا حدیث وایه پر سر قدرت وه، نو اشارةً به ابو هریره رضي الله عنه داسي وویل اعوذ بالله من راس الستین وامارة الصبیان یشیر الی امارة یزید بن معاویه انتهی قول شراح الآحادیث النبویة ﷺ، نو مظهري دا تر تنقید لاندي نیولې ده او وایي چي دا ترجمه مستحسن نه ده، او بیا یې له خانه څخه اوږد بیان کړی دی.

درویش وایي: چي ترجمه د حدیث د ابي هریره رضي الله عنه چي نقل کړه هغه ترجمه د ټولو شراح الحدیث ترجمه ده، او مظهري چي کومه ترجمه د حدیث کړې ده په هیڅ شرحه کي د کتب د حدیثو ما خو نه ده لیدلې او نه مي له یو محدثه څخه اورېدلې ده والعلم عندالله.

درویش وایي: چي په دې آیت کي خدای ﷻ تزکیه چي معنا یې پاک کول دي له شرکه او نورو نقائصو او منهیاتو څخه تر تعلیم الکتاب والحکمة دمخه راوړې ده او په دعاء ابراهیم کي چي دمخه تېره سوه وروسته یې راوړې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ده په دې کې ښخه حکمت الهي دی، واشار الی جوابه البيضاوي بغاية الاجمال في قوله قدمه باعتبار المقصد واخره في دعوة ابراهيم باعتبار الفعل، وتفصيل الجواب المذكور دادی چې تزکیه علت غایت ده د تعليم الكتاب والحكمة كما لايخفى على الو النهى، او په کتابو کې د معقول وايي چې علت غایت په قصد کې د فاعل او په تصور کې دده دمخه وي تر فعل او په عمل او وجود کې وروسته وي تر فعل نو تزکیه د مخه کړه سوه په دې آيت کې او وروسته سول په دعاء ابراهيم کې رعاية لكل جهتي الغاية، ولې چې دعا چې څوک کوي بايد موافق د فعل سره وي يعني چې مبادي به تر مقاصدو ده، او مراد د مبادي ځخه تعليم الكتاب والحكمة دی او مراد د مقاصدو ځخه تزکیه ده دمخه کوي، يعني مبادي د تزکیه چې تعليم الكتاب والحكمة دی، نو ځکه يې په دعاء ابراهيم کې تعليم الكتاب والحكمة دمخه راوړه سو او تزکیه چې اصل مقصد وه وروسته راوړه سوه، او دا آيت خو ځای د بيان د نعمت الهي دی پر امت محمدي ﷺ باندې، نو اول بايد اصل مقصود راوړه سي چې تزکیه ده، او تعليم الكتاب يې په دواړو آيتو کې دمخه ذکر کړی، لان ثبوت رسالة النبي ﷺ باعتبار تلاوت الآيات القرآنية المعجزة للخصم باعتبار غاية البلاغة والاشتمال على المغيبات كمايدل عليه قوله تعالى " ان كنتم في ريب آ. درويش به ددې خواب په یو شان سره وکړي چې نجار چې چار پايي جوړوي د پروتي لپاره، نو په قصد او تصور کې د نجار خو نقشه د مخه پرته ده او په وجود کې پروت پر چار پايي وروسته تر جوړېدو د چار پايي ده وعلى هذا فقس سائر الغايات.

درویش وايي: چې والعجب من بعض المفسرين رح چې ده دغه عبارت مجمله د بيضاوي راوړی دی او تفصيل يې نه دی ذکر کړی، وجه د تعجب داده چې د بيضاوي کتاب خو اوس حاشیه لري او هم شروح، نو بايد دی مفسر هغه تفصيل د حواشيو او د شرحو ځخه د بيضاوي هم رانقل کړي وای ولې چې دده د تفسير وجود خو ډېر وروسته تر بيضاوي او تر حواشيو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د هغه منځ ته راغلی دی، نو که ده تفصیل مذکور هم رانقل کړی وای دا به ده د ډېر شفقت وای پر زده کونکو د ده د تفسیر والله اعلم.

فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوا لِي وَلَا تَكْفُرُونِ ﴿١٥٢﴾

او تاسي زما ذکر کوئ زه به ستاسي ذکر کوم او شکر وایاستِ زما او ناشکري مه کوئ زما.

پوه سه: چي مراد له ذکره د خدای ﷻ ذکر په طاعت سره دی او مراد له ذکره څخه د خدای ﷻ دوئ له ثواب دی پر طاعت.

فائده: ذکر یې تر شکر دمخه راوړی ولي چي په ذکر کي اشتغال په خدای ﷻ سره دی، او په شکر کي اشتغال په نعمت د خدای ﷻ ولا ریب ان الاشتغال بذاته تعالی اولی من الاشتغال بنعمته تعالی، قال الامام الهمام ابو حامد محمد الغزالي ﷫ في احیاء العلوم چي ذکر د خدای ﷻ دري قسمه دی ذکر دی په ژبه سره، ذکر دی په زړه سره او ذکر دی په اندامو سره د بدن، نو ذکر لساني د بندګانو دادی چي په ژبه د خدای ﷻ حمد ووایي او تسبیح ووایي او تحمید د خدای ﷻ ووایي یعني جل مجده مثلاً او تلاوت د قرآن پاک وکړي، او تعلیم د علوم دینه وو طالبانو ته علم وکړي الی غیر ذلک ممایتعلق باللسان.

او ذکر بالقلب دري قسمه دی، یو دا چي فکر ووهي په هغه دلائلو انفسیه وو او افاقیه وو کي چي دال پر ذات او صفاتو د خدای ﷻ وي والی الدلائل الانفسیه اشیر بقوله تعالی "وفي انفسکم افلا تبصرون" او فکر وکړئ په جواباتو د اهل البدع والاهواء والدهریة والملحدین، او بل دا دی چي فکر وکړي په هغو دلائلو کي چي مشتمل پر حکم الهیه وو وي په اوامرو او نواهي وو کي د خدای ﷻ په وعده کي د خدای ﷻ اهل ایمان والطاعة ته په جنت سره او په وعید کي د خدای ﷻ د اهل الکفر والعصیان سره په دوزخ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره، او فکر وکړي بما في الفعل من الوعد وفي الترک من الوعيد فيسهل عليه الفعل والترک.

او بل ذکر بالقلب دادی چې سړی دي فکر وکړي په اسرارو کې د مخلوقاتو د خدای ﷻ من السموات العلی والکواکب النيرات، وانواع الحيوانات من الطيور والوحش والحيوانات الاهلية وطبقات الاناسي من الاسود والاحمر وفي السنتهم المختلفة الی غير ذالک من المخلوقات التی ورد فيها ولايعلم جنود ربک الاهو، حتی چې هره ذره د ذراتو څخه د مخلوقاتو لکه صافه انداره وګرځي لپاره د عالم قدس نو چې بنده د ذراتو په اندازو کې وګوري مشاهده د عالم الجلال ورته کېږي او دا مرتبه مرتبه مخصوصه په اولياء کرامو پورې ده وروسته تر انبياء کرامو عليهم الصلوة والسلام، او دا مرتبه هيڅ نهايت او پای نه لري، ولهذا خاطب الله عزوجل سيد المرسلين ﷺ بقوله "وقل رب زدني علماً".

واما ذکره تعالی بالجوارح هغه دادي چې ټوله اندامونه يې خالي وي د هغو عملو څخه چې خدای ﷻ دی څنډي نهي کړی وي، نو څکه خدای ﷻ لمونځ خپل ذکر بللی دی يعني د اندامو ذکر "فاسعو الی ذکر الله" انتهی قول الغزالي رحمه الله مع زيادة کثيرة من العبدالعاصي. حاصل د کلام دادی چې فاذکروني شامل دی ټولو طاعاتو ته. وهذا من ايجاز القرآن واعجازه.

لقمان حکيم رحمه الله وخپل زوئ ته وويل چې ته ووينې مجلس د اهل الذکر نو ورسره کښېنه، نو که ته عالم يې ستا ذکر به تاته فائده وکړي. او که ته جاهل يې اهل الذکر به يې در وښيي انتهی، په حديث شريف کې چې روايت يې ابو هريره رضي الله عنه کړی داسي راغلي دي قال قال رسول الله ﷺ انا عند ظن عبدي بي و انا معه اذا ذکرني، فان ذکرني في نفسه ذکرته في نفسي وان ذکرني في ملاء ذکرته في ملاء خير منه وان تقرب العبد الي شبراً تقربت اليه ذراعاً وان تقرب الي ذراعاً تقربت اليه باعاً وان اتاني يمشي اتيته هرولةً.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ترجمة الحديث: وويل ابو هريره ﷺ چي وويل عليه الصلوة والسلام زه په نيز د گمان بنده يم په ماسره، زه د بنده سره ورسره يم چي زما ذكر كوي، نو كه يې زه ذكر كړم يوازي يوازي زه به يې هم يوازي ذكر كوم. او كه يې زه ذكر كړم په يو جماعت كې د خلگو زه به يې ذكر كړم په داسي جماعت كي چي دده تر جماعت به خير وي اى ملأ الملائكة، او كه بنده نږدې سي وماته يوه لوېشت يعني په لړ والي زه به نږدې سمه وده ته يوه هته، او كه بنده ماته نږدې سي يوه هته زه به ده ته نږدې سمه يوه غېږ، او كه بنده ماته راروان وي په عادي تگ زه به وده ته په خغاسته ورځم.

يوه سه: چي اطلاق د نفس پر خداى ﷻ مشاكلة دى.

يوه سه: چي لوېشت او ذراع كنايه دي د لږ قرب څخه او د ډېر قرب څخه د خداى ﷻ.

يوه سه: چي اطلاق د ذراع او غېږي هم تمثيلاً وي لزيادة قرب الله من العبد من قربه اليه.

فائده: حاصل ددې حديث دادى چي د بنده له خوا لږ ذكر د خداى ﷻ دى د خداى ﷻ له خوا به ډېر ثواب وركړه كېږي، او كه د بنده له خوا لږ خداى طلبي وي د خداى ﷻ له خوا به ډېر توفيق وركړه كېږي عبارات د حديث مبارك ټوله تمثيلات دي لپاره د تفهيم د خلگو، او بغوي رحمه الله د انس ﷺ ددغه حديث روايت كړى دى، او انس ﷺ وايي چي ما دغه حديث د رسول الله ﷺ څخه اورېدلى دى په حساب زما د گوتو چي لس دي، هكذا قال المظهري رحمه الله.

درويش وايي: چي په يوه حديث كي چي روايت يې نسائي او ترمذي وغيرهما كړى دى عليه الصلوة والسلام وايي چي افضل الذكر لا اله الا الله، وافضل الدعاء الحمدلله.

درويش وايي: چي كېداى سي چي د الحمدلله څخه دي پوره سورت مراد وي، له دې سببه چي فقط لفظ د الحمدلله خو ذكر دى دعاء نه ده. لكن په ټوله سورت كي چي اهدنا الصراط المستقيم آه ته ورسېږي، نو دعاء شروع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کېږي ولاشک ان الدعاء المذکور في الحمد لله افضل الادعیة لکونها مشتملة علی خیرات الدارین، او د سمره بن جندب ﷺ څخه روایت دی چي علیه الصلوة والسلام وویله افضل الکلام اربع سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر رواه مسلم .

درویش وایي: چي ددغو څلورو کلمو فضیلت بلکه افضلیت ددې څخه هم معلومېږي چي آنحضرت ﷺ چي خپل اکا عباس ﷺ ته صلوة التسبیح چي افضل د نوافلو دي وروښووی په هغه لمانځه کي دغه کلماتي په مختلفو ځایو کي د لمانځه یې وروښوولي کما هو المعروف عند المسلمین، په حدیث قدسي کي چي روایت یې ترمذي او دارمي د ابي سعید خدري ﷺ څخه کړی دی داسي راغلي دي "من شغله القرآن عن ذکري ومسئلتي اعطیته افضل ما اعتی السائلین وفضل کلام الله یعني القرآن علی سائر الکلام کفضل الله تعالی علی خلقه.

درویش وایي: چي صوفیه کرام رح کلمه طیبه بلکه هر ذکر الهي بالقلب واللسان جهراً و اخفاء ټوله روا بولي البته په افضلیت کي اختلاف سته. لکن ټوله فضائل د ذکر الهي مربوط په حضور القلب پوري او دا په اخلاص پوري منوط دي، یو شاعر وایي

بر زبانت یا صمد پیدا ودر دل یا صنم
ای بباطن کافر ظاهر مسلماني چه سود

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ٱسۡتَعِينُوا بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٥٣﴾

ای هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی تاسي کومک وغواړئ پر شدائد دینیه او دنیویه وو په صبر سره او په لمانځه سره، او په تحقیق خدای ﷻ ملګری د صبر کونکو دی بالعون والنصرة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي لفظ د صبر گاهي متعدي په کلمه د علی وي، يعني صبر علی الشيئ نو ددې معنا داده که يو کار او عمل چي پر تا سخت وي پر هغه کار باندي ځان پابنده کړه په دې معنی صبر تولـه عباداتو الهيه وو ته شامل دی ولي چي عبادت د خدای ﷻ چونکه خلاف د هوی نفساني څخه دی پر سړي ژوند شاق گرځي، نو بايد مسلمانان پر هغه عبادت صبر وکړي، او گاهي لفظ د صبر متعدي په کلمه د عن وي، ای الصبر عن الشيئ يعني ځان بندول له هغه کار څخه که څه هم وهغه ته زړه غواړي په دې معنا صبر شامل دی ترک لره د تولو منهياتو. ولي منهيات چونکه د خواهش نفساني سره موافق دي، نو زړه طبعاً وهغو ته مائل دی لکن چونکه حکيم مطلق جله شانه انسانان څخه منع کړي دي بايد مؤمن له هغو منهياتو لـه کولـو څخه صبر وکړي، او گاهي لفظ د صبر متعدي په کلمه د في وي ای الصبر في الشيئ يعني په نازل کار کي دي سړی وخدای ﷻ ته صبر وکړي، په دې معنا کي يو مصيبت لـه قسمه څخه د ناجوړی يا فقر او مسکنت او يا موت الاولاد والاقارب الی غير ذالک د خدای ﷻ له خوا څخه سړي ته پېښ سي چي د سړي زړه مضطرب سي بايد مؤمن په دې واقع کار کي وخدای ﷻ ته صبر وکړي.

پوه سه: چي د صبر په مصيبت کي مثلاً په ناجوړی کي دا معنا نه ده چي مريض به دوا نه کوي يا به خدای ﷻ ته د دفع د مرض خواست نـه کـوي، او يا په مسکنت کي به سړی د وسائلو څخه کار نه اخلي بلکه د خدای ﷻ څخه دي شکايت نـه کـوي، علمـاء کرام وايي چي شکايت الی الله جائز دی بلکه مستحب دی او شکايت من الله حرام دی، ع کشت کن پس تکيه بر جبار کن.

درويش وايي: چي دا حال د مبتدي او متوسط مؤمن دی او اولياء الله الکرام الکمل فيجدون في قلوبهم اللذة في المصيبة فوق اللذة في النعمة.

فائده: لفظ د صبر که څه هم ثلاثي دی لکن تولـو طاعـاتو او تولو منهياتو ته او تولو مصائبوته شامل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فائده: لفظ د صلوة تخصیص بعد التعمیم دی ولې چې په لمانځه کې هم صبر سته د اکل او شرب او خبرو څخه او نور ورته شیان چې په لمانځه کې منهي عنها وي، او لمونځ اعظم د عباداتو دی او جامع د عباداتو قلبیه وو او د عباداتو ارکانیه وو په خشوع او خضوع کې بلکه عبادات مالیه ته هم شامل دی مثلاً که د اوداسه اوبه یې په بیعه وي. او بل لمونځ معراج المؤمنین دی کما ورد في حدیث علی ﷺ مرفوعاً. او لمونځ په قرار د فرمودې د علیه الصلوة والسلام عماد الدین دی فمن اقامها فقد اقام الدین ومن هدم فقد هدم الدین، رواه ارباب الاحادیث الصحاح. او د انس ﷺ څخه روایت دی "الصلوة نور المؤمن، وقد ورد في الحدیث الصحیح المتفق علیه ان رسول الله ﷺ اذا حزبه امر، وفي روایت اذا حزنه امر افزع الی الصلوة.

فائده: صبر سخت ترین د اعمالو باطنه وو دی، او لمونځ سخت ترین د اعمالو ظاهره وو دی پر بدن، ولهذا خصهما بالذکر. واما الزکوة فهو مخصوص باصحاب النصاب من الاموال الظاهرة والباطنة وکذا الحج مخصوص بمن استطاع الیه سبیلاً، واما الصوم مخصوص بشهر واحد والصبر والصلوة یعمان جمیع السنة.

پوه سه: چې مراد د معیت څخه د خدای ﷻ نصرت واجابة الدعوة دی لا المعیة المکانیة لتنزه تعالی عن المکان کما ثبت في علم الکلام.

پوښتنه: خدای ﷻ په دې آیت کې وویل "ان الله مع الصابرین" ولم یقل مع المصلین، او به یو بل آیت کې خدای ﷻ داسې فرمایلي دي "واستعینوا الصبر والصلوة وانها لکبیرة، چې ضمیر د انها راجع دی ولمانځه ته، نو په هغه آیت کې یې یوازې لمانځه ته اعتبار ورکړی دی دون الصبر یعني عکس هذه الآیة؟

ځواب: چونکه صبر له لمانځه څخه جلا کېږي په دې معنا چې صبر خو په خارج کې د لمانځه هم ضروري دی کما في حالة الفقر والمرض وغیرهما، او لمونځ له صبره څخه نه جلا کېږي لان الصبر عن الاکل والشرب وغیرهما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ضروری في الصلوة، نو چي خدای مع الصابرین دی نو مع المصلین خو په طریق اولی دی، او په هغه بل آیت کي چې انها لکبیرة "ویلي دي لپاره د تنبیه پر دې چي لمونځ اعظم درجه دی تر صبر مجرد، خواجه عبدالله انصاري رحمه الله چه خوش نصیحت فرموده.

ای طالبي که دعوه عشق خدا کني بر غیر او نظر محبت چرا کني

از جستجوی خلق تو بیگانه شو اگر خواهي که دل بحضرت او اشنا کني

حقاً که شور ولو له در آسمان فتد آندم که تو زبیم خدا یک ندا کني

انصاریا چو روز روشن از شبی خود را بعجز بر سبحان گدا کني

پوښتنه: چي په حدیث نبوي ﷺ کي راغلي دي، الصبر من الایمان بمنزلة الراس من الجسد، ددې حکمت څه دی؟

ځواب: چونکه په صبر کي تحمل او برداشت د ډېرو سختیو دی بېله جزع او اضطراب القلب څخه نو صبر واسطه وهر خیر ته ده، ولي چي اول د تویې صبر دی د ټولو ګنهو څخه، او اول د زهد صبر دی د مستلذاتو مباحاتو څخه، نو ځکه آنحضرت ﷺ هغه مذکور ارشاد وفرمایه "وقال الصبر خیر کله" او دلمانځه فضیلت ددې آیت مبارک څخه باید سرې وفهموي "ان الصلوة تنهی عن الفحشاء والمنکر" قال الحافظ الشیرازي

صبر کن حافظ بسختي روز وشب عاقبت روزي بیابي کام را

روح البیان مع زیادة البیان

وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ ۚ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ ﴿١٥٤﴾

او تاسي مه وایاست هغه کسانو ته چي ووژل سي په لارکي د خدای ﷻ چي دا کسان مړه دي، بلکه ژوندي دي لکن تاسي په ژوند د هغو نه پوهېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: دا آیت په اتفاق د مفسرینو رح په شهداء کي د بدر نازل سوی دی چي هغه څورلس (١۴) صحابه ﷺ وه، شپږ (۶) له مهاجرینو څخه وه او اته (٨) کسان د انصارو څخه ﷺ، نو خلگو به ویل په باره کي ددغو شهداء ﷺ مات فلان وذهب عنه نعیم الدنیا ولذتها فانزل الله تعالی هذه الآیة.

فائده: مراد له سبیل الله څخه جهاد دی له کفارو سره لپاره د اعلاء د کلمة الله فقط، دې ته ولي سبیل الله وایي له دې سببه چي دغه جهاد موصل الی الله وثوابه ونعیمه في الجنة دی.

فائده: اموات خبر د مبتداء محذوف دی او احیاء هم خبر د مبتداء محذوف دی، او داسي نه سي کېدای چي احیاء دي پر اموات عطف وي، عطف المفرد علی المفرد، او نه هم پس له تقدیره د "هم احیاء" عطف دي سي پر جمله د "هم اموات" عطف الجملة علی الجملة، لان هم احیاء لیس داخل تحت القول کجملة هم اموات بلکه هم احیاء اضراب دی د قول څخه د هم اموات چي خلگو به ویل.

پوښتنه: خدای ﷻ چي دوئ ته ژوندي وویل نو باید چي ددوئ اموال تقسیم نه سي، او د دوئ د زوجاتو نکاح دي هم د بل چا سره روا نه سي؟

ځواب: ددوئ ژوند خو حیات معنوي دی عند ربهم یرزقون من نعیم الجنان، او مانع د تقسیم د اموالو او د نکاح د ازواجو خو حیات ظاهري دی.

پوښتنه: د انبیاء علیهم الصلوة والسلام حیوة خو هم برزخي او معنوي دی، نو ولي نکاح د وزجاتو ددوئ نه ده روا؟

ځواب: مانع د نکاح د زوجاتو ددوئ په دې آیت سره دی ولا تنکحوا ازواجه من بعده ابداً، وقال وازاجه امهاتهم، واما عدم تقسیم اموالهم فلان الانبیاء علیهم الصلوة والسلام لم یورثوا دنیار ولا درهم، او روح البیان دفع ته د سوال په خذ د حرف تشبیه اشاره کړې ده، حیث قال کالاحیاء في الحکم آه. په دې معنا چي هر مسلمان د خدای ﷻ په لاره کي خپل ژوند د لاسه ورکړي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الی یوم القیامة هغه شهداء د بدر یې په ثواب کې شامل دي لانهم سنوا هذه السنة الحسنة. قوله ولکن لا تشعرون ای ماحالهم في تلک الحیاة.

پوه سه: چې بیضاوي رحمه الله وایي وهو تنبیه علی ان حیوتهم لیست بالجسد ولا من جنس ما یحسن به من الحیوانات وانما هو امر لایدرک بالعقل بل بالوحي وروي عن الحسن البصري ان الشهداء احیاء عندالله تعرض ارزاقهم علی ارواحهم فیصل الیهم الفرح والسرور کما تعرض النار علی ارواح آل فرعون غدواً وعشیاً فیصل الیهم الوجع.

درویش وایي: چې ټوله مفسران پر دې عقیده دي چې ارواح جواهر دي او قائم بنفسها دي مغایر دی د هغو روحانو څخه چې په هغو حس د بدن کېږي او ارواح انسانیه باقي بعد الموت دي او ادراک او علم هم لري قال البیضاوي وعلیه جمهور الصحابة رضي الله عنهم والتابیعن وبه نطقت الآیات القرآنیة والسنن النبویة ﷺ.

پوښتنه: دا حیواة روحاني خو شامل ټولو انسانانو ته دی نو تخصیص د شهداء یې ولې وکړی؟

ځواب: بیضاوي وایي چې تخصیص د شهداء و په سبب د زیادت قرب د دوئ دی د خدای ﷻ سره او په سبب د ډېرې خوشحالی ددوئ دی. او بعض مفسران وایي چې حیوة د شهداء بالروح والجسد دی چې موږ یې په حقیقت نه پوهېږو لکونها من احوال البرزخ. وورد في الحدیث النبوي الصحیح ان ارواح الشهداء في حواصل طیر خضر تسرح في الجنة حیث شائت ثم تاوي الی قنادیل تحت العرش وانهم یعرض علیهم رزقهم غدوة وعشیة. او بعض ارباب التفسیر وایي چې ارواح ته د شهداء که څه هم د اجساد دنیاوي څخه جلا سوي دي او اجساد یې په مځکه کې مدفون دي لکن دغو روحانو ته د شهداؤ خدای ﷻ قوت د اجسادو ورکړی دی. چې دوئ ګرځي په اسمانو او مځکو او جنتو کې هر ځای چې ددوئ رضا سي او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوئ د مؤمنانو سره په غزاو کي بعض اوقات هم کومک کوي، ان شاء الله ولاجل هذه الحيوة لاتاكل الارض اجسادهم ولا اكفانهم

درویش وايي: چي دا حکم د هغو شهداؤ دی چي فقط وفقط لپاره د اعلاء د کلمة الله خپل شرين ژوند يې له لاسه ورکړی وي، نه يې غرض غنيمت وي او نه د خپل خان مړانه او غيرت او شجاعت وخلګو ته ښوول وي نو دا سوال نه وارد يږي چي بعض ځايونه خلګ وايي چي دا د يو شهيد قبر دی وروسته هغه قبر په سبب د عارض د يو سړک يا نهر په سبب وشنل سي خالي هډوکي پکښې پراته وي وجه الدفع ان الشهيد في سبيل الله لا يعلمه الا الله ورسوله او موږ صرف په ظاهره سره اکتفاء کوو.

درویش وايي: چي چي بعض صحابه وو ﷺ د عليه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه چي د شهداؤ په ډله کي بل څوک هم حشر کېږي. قال نعم! هغه څوک چي په شبانه روز کي شل واره مرګ ورپياد يږي، او مالک رحمه الله روايت کړی دی د ابن صعصعه څخه چي عمرو بن الجموع او عبدالله بن جبير الانصاري چي په احد کي شهيدان سوي وه او په يوه قبر کي دفن سوي وه. او هغه قبر د يوه مانده پر کناره و. يو کال په مانده کي سخت سېل راغلی چي دې سېل قبر ددغو دوو صحابه وو رضي الله عنهما وکيندی او دوئ دواړه ښکاره سوه، نو دوئ داوړه په قبر کي داسي پراته وه لکه پرون چي شهيدان سوي وي او سره ددې چي د احد د غزا او ددغه شلې تر منځ څلوېښت (۴۰) کاله تېر سوي وه.

درویش وايي: چي د شهداء في سبيل الله په باره کي ډېر مفصل حديثونه په کتابو کي د احاديثو مبارکه وو موجود دی، او مفسرين هم ددې په باره کي ډېر اوږده بيانونه کړي دي، او اهل تصوف هم ددوئ درجې په کشف سره معلومي کړي دي او بيان کړي دي، چي د هغو بيان به وسامعانو ته د لوئ دقت سبب سي او د خدای ﷻ جل شانه بيان د شهداء په باره کي کافي

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

دی لکن تر هر شي قابل د توجه دا خبره ده چي جهاد في سبيل الله وي او شهيد هم فقط وفقط في سبيل الله وي او لپاره د اعلاء كلمة الله وي.

وَلَنَبْلُوَنَّكُم بِشَيْءٍ

پوه سه: اصل معنا د ابتلاء امتحان دی لکن چونکه امتحان خو هغه څوک د چا څخه اخلي چي هغه په حال د مبتلي نه وي خبر او د مبتلي حال په امتحان سره معلوموي كما في المدارس والمكاتب وامتحان الخليل خليله في انه صادق في الخلة او كاذب فيها والله تعالى اعلم بحال العباد فلاحاجة له تعالى الى الابتلاء بالمعنى الاصلي. نو ځکه مفسرين په يوه خوله تفسير د ابتلاء داسي كوي لمعاملنكم معاملة المختبر لاحوالكم يعني چي تاسي صبر كوئ پر بلاياوو او قضايا الهي ته تسليم ياست او كه نه. او د علم بيان د اصطلاح سره موافق په "لنبلونكم" استعاره تمثيليه ده يعني تشبيه الهيئة بالهيئة فارجع الى علم البيان. او دا جمله عطف ده پر هغه جمله "يا ايها الذين امنوا استعينوا بالصبر والصلوة آه" مناسبت د معطوف او معطوف عليه تر منځ دادی چي مضمون د معطوف عليه امر دی په صبر سره او مضمون د معطوف بيان دی د ځايو د صبر.

فائده: كلمه د لام لپاره د قسم ده او حكمت الهي په دمخه خبرلو د مؤمنانو بما سيقع من المصائب عليهم دادی چي د مؤمنانو زړونه ډاډه سي وهغو مصائبو ته او په وخت كي د وقوع به دهشت زده نه سي. لان المصيبة الواقعة بغتة ادهش واذهب للب الرجل الحازم كما يدل عليه التجربة.

پوه سه: چي ابتلاء الهي ګاهي په نعمت سره وي لابتلاء شكر النعمة. او ګاهي په نقمة او عذاب او مصيبت سره وي لابتلاء الصبر وما نحن فيه من القبيل الثاني كما لايخفى.

فائده: په تفسير رحماني كي وايي چي خدای ﷻ په دې آيت كي بيان د مصائبو من الاشد الى الاضعف كړي دي ولي چي مراد له خوف څخه دلته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خوف د اعداء څخه ددين دی په جنګو کي چي هغه فوتونګی د ژوند دی في الحال، او وروسته يې لوږه راوړه چي هغه مفوط د ژوند بعد حين او وروسته يې نقص من الاموال ذکر کړی چي هغه مفضي دی ولوږي ته. او بيا يې ذکر د جهاد وکړی چي هغه محتمل دی لکن بيا هم که پښن سي مفوط د ژوند حتماً نه دی لاحتمال الفتح والظفر بدون الشهادة. او وروسته يې د ثمرات نقص بيان کړی چي مراد څندي په بعض رواياتو کي موت الاولاد دی چي هغه مفضي وقطع ته د نسل ګرځي.

فائده: خدای ﷻ په اول کي بشيئ ووايه چي تنکير په معنا د تقليل دی ای شيئ قليل من المصائب المذکورة بالنسبة الی مافي قدرته تعالی من تلک المصائب حثًا للمؤمنين علی الصبر علی تلک المصائب القليلة. وليخفّ عليهم تلک المصائب المتوقعة وتنبيهاً علی ان رحمة تعالی لاتفارقهم مع تلک المصائب حيث لم يسلط عليهم ماهو اشد في انواع تلک المصائب.

مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوْعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْاَمْوَالِ وَالْاَنْفُسِ وَالثَّمَرٰتِ

پوه سه: چي محمد بن ادريس الشافعي رحمه الله وايي چي مراد له خوف څخه خوف د خدای ﷻ دی، او د جوع څخه مراد صوم رمضان ده، او د نقص من الاموال څخه مراد زکوة او صدقات دي او د نقص من الانفس څخه مراد امراض الواقعه دي علی اجسامهم. او مراد د نقص څخه د ثمراتو موت الاولاد دي. ويوافقه الاخر ماورد في الحديث الصحيح اذا مات ولد العبد قال الله تعالی للملئکة اقبضتم ولد عبدي فيقولون نعم، فيقول اقبضتم ثمرة قلبه فيقولون نعم فيقول الله تعالی فماذا قال عبدي فيقولون حمدک او استرجع يعني انا لله وانا اليه راجعون. فيقول ابنو العبدي بيتاً في الجنة وسموه بيت الحمد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي مفسران ﷺ له خوفه څخه خوف الاعداء اخلي. او له جوع څخه مراد قحط د باران بولي، او د نقص اموال څخه مراد سرقات او غارات او مصادرة الحكام الظلمة او خسران التجارت بولي، او د نقص الانفس څخه مراد قتل او مرگ او مرض او شيب او هرم بولي، او د نقص الثمرات څخه مراد ذهاب الثمرات بالعاهات والآفات الواردة على الاشجار والكروم بولي.

درویش وايي: ولا منافات بين تلك التفاسير المذكورة لان كلمات القرآن ههنا محتملة لتلك كلها، وهذا ايضا من محسنات ايجاز القرآن الكريم.

وَبَشِّرِ الصّٰبِرِيْنَ ﴿١٥٥﴾ الَّذِيْنَ اِذَآ اَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ قَالُوْٓا اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ﴿١٥٦﴾

او زیری وکړه ای محمد ﷺ وصابرو کسانو ته چي څه وخت چي دوئ ته ورسیږي يو مصيبت او تكليف يعني من المصائب المذكورة، نو دوئ وايي چي موږ د خدای ﷻ يو يعني خلقاً و ملكاً وعبيداً، يعني هر څه چي موږ ته راکړه سوي دي هغه نعمتونه د خدای ﷻ له خوا څخه زموږ سره په طور د عاريت او امانت وه، نو بايد موږ په قضاء الهي راضي اوسو. او چي خدای ﷻ بېرته هغه نعمتونه له موږ څخه واخلي نو بايد موږ جزع او فزع او بې صبري ونه کړو، ولي چي خدای ﷻ مالک دی يتصرف في ملكه كيف يشاء لامر الحكمه ولا اعتراض على مايتصرف في ملكه وعبيده، او په تحقيق سره موږ وخدای ﷻ ته راجع کیږي يعني په آخرت کي نو خدای ﷻ به موږ ته ثوابونه پر صبر راکړي او تر هغه نعمتو چي زموږ څخه يې په دنيا کي واخستل نعم العوض به راکړي.

پوه سه: چي خطاب د بشر و عليه الصلوة والسلام ته دی، او هر هغه چاته چي دی اهل د بشارت وي من العلماء.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: مصیبت هر هغه مکروه ته وايي چي انسان ته ورسېږي ولو که ډېر کم مکروه وي، په حدیث مبارک کي راغلي دي چي د علیه الصلوة والسلام د چوټي بند وشکېدی، نو ده ﷺ استرجاع وویله نو صحابه کرامو ﷺ ورته وویل أمصیبة یارسول الله؟ فقال رسول الله ﷺ چي هر شی چي مؤمن ته ورسېږي او دده طبعیت یې نه غواړي هغه مصیبت دی، رواه الطبراني رحمه الله في الکبیر من حدیث ابي امامة ﷺ وفي الحدیث الذي رواه ابن ابي حاتم والطبراني والبیهقي، آنحضرت ﷺ فرمایي که چا انا لله وانا الیه راجعون ووایه، په وخت کي د یو مصیبت خدای ﷻ به جبیره دده د مصیبت وکړي او په آخرت کي به احسان ورسره وکړي، او ده ته به په دنیا کي داسي عوض ورکړي چي دی به په راضي وي.

فائده: سعید بن جبیر ﷺ وایي چي خدای ﷻ په مصیبت کي دونده لوئ نعمت نه دی ورکړی هیڅ امت ته لکه دې امت محمدیه ﷺ ته یعني کلمة الاسترجاع، نو که یې یو چاته ورکولای نو یعقوب ﷺ ته به یې ورکړی وای الاتری الی قول یعقوب في فراق یوسف ﷺ "یااسفی علی یوسف الآیة.

فائده نحویه: پوه سه چي دا قول د خدای ﷻ وبشر الآیة معطوف دی پر ټوله ماقبل آیتو باندي عطف القصة علی القصة، او یا یې معطوف علیه محذوف دی یعني انذر الجازعین یعني بې صبره کسان په مصیبت کي. وبشر الصابرین آه.

پوه سه: چي چونکه اذا لپاره د وقت حاضر دی، نو په دې قول کي د خدای ﷻ اذا اصابتهم آه اشاره ودې ته ده چي معتبر هغه صبر دی چي په وخت کي د رسېدو د مصیبت وي ولي چي په مرور د زماني زړه پخپله ډاډه کېږي او مصیبت خندي هېرېږي.

فائده: یوازي استرجاع د خولې کفایت نه کوي بلکه د زړه همراهي هم شرط ده په دې معنا چي مصیبت زده به دا تصور کوي چي زه د څه شي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لپاره خدای ﷻ پیدا کړی یم، او دا به یې هم یقین وي چي زه په آخرت کي د خدای ﷻ حضورته ورځم او زما د مصیبت ثواب به راکوي، او داغه رنګه مصیبت رسیده د خدای ﷻ په نورو نعمتو کي چي خدای ﷻ وده ته ورکړي او هنوز هم باقي دي فکر وهي تا چي ده ته دا یقین سي چي مابقي نعمتونه د خدای ﷻ پر ده باندي اضعاف مضاعفه دي د هغه نعمت چي خدای ﷻ دده څخه بېرته واخستی، نو پر مصیبت به صبر وده ته آسان سي، مثلاً که یو سړي وچاته سل روپۍ ورکړي وي او یوه روپۍ بېرته خندي واخلي او نه نوي (۹۹) ورپرېږدي باید دا سړی ډېره بې صبري ونه کړي.

درویش وایي: چي په کلمه کي د استرجاع ډېري فائدې سته

(۱) په دې کلماتو ژبه مشغوله ساتل د نالائقو خبرو څخه سړی راګرځوي، یعني الجزع په خوله.

(۲) زړه ته د مصیبت زده تسلي رسېږي او غم پر سپکېږي کمایدل علیه التجربة.

(۳) د شیطان طمع په ناوړه خبرو کي دده څخه قطع کېږي.

(۴) بل سړی چي دا کلمات د استرجاع د مصیبت زده څخه واوري هغه هم د خپل مصیبت په وخت کي په ده پسي اقتداء کوي.

(۵) دی چي په ژبه دا کلمات د استرجاع ووایي زړه به هم ان شاء الله ددې کلمې ومعنا ته متوجه او قضاء الهي ته به تسلیم سي.

درویش وایي: چي د سیدتنا ام سلمه ﷺ څخه روایت دی چي یو وخت په یو موعظت کي دې له رسول الله ﷺ څخه دا خبره اورېدلې وه چي که یو څوک په وخت کي د مصیبت وایي انا لله وانا الیه راجعون، او وروسته ووایي چي خدایه ماته ښه عوض راکړې تر هغه نعمت چي تا زما څخه واخستی، خدای ﷻ به مصیبت زده ته په دې دنیا کي ښه عوض ورکړي تر ماخذمنه، نو امه سلمه ﷺ وایي چي څه وخت زما مېړه وفات سو یعني ابو

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

سلمه نو ما استرجاع وویل لکن زه په دې فکر کې نوم چې که زه د نعم العوض خواست وکړم نو تر ابو سلمه به څوک ښه زوج وماته راکړي، خو بیاهم د علیه الصلوة والسلام د فرمودې سره موافق د ښه عوض خواست مې وکړی، نو چې زما عده تېره سوه علیه الصلوة والسلام وماته مرکه وکړه او ما هم قبوله کړه او د علیه الصلوة والسلام په زوجیت سره مشرفه سوم. نو هغه د مخه اورېدلي حدیث ته مې عقیده ټینګه سوه.

درویش وایي: چې داوو نقل بالمعنی د هغه حدیث متفق علیه.

پوښتنه: په یو مصیبت کې ژړا بې صبري ده او که څرنګه؟

ځواب: خدای ﷻ وایي لا یکلف الله نفساً الا وسعها نو ددې آیت په مقتضی صرف د سترګو اوښکي تویول بې صبري نه ده ولې چې دا د سړي په اختیار کې نه وي، البته په زوره چغې وهل یا کالي پر ځان څیرل یا له خدای ﷻ څخه ګله کول ګناه او بې صبري ده، په حدیث مبارک کې چې بخاري یې هم روایت کړی دی راغلي دي چې ابراهیم چې د علیه الصلوة والسلام اخري زوئ و، هغه وخت چې د مرضعه په کور کې مریض سو او عمر یې تخمیناً شپاړس (۱۶) میاشتې و، نو علیه الصلوة والسلام د خپل زوئ پوښتني ته ورتلی یوه ورځ چې ورغلی د ابراهیم د زکندن وخت و او نفس یې په زوره زوره سره کښی، نو علیه الصلوة والسلام خپل دغه زوئ راواخستی او یو وار یې بوئ کړی او یو وار یې پخپله غېږ کې پرې ایستی او ورته کتل یې، نو د علیه الصلوة والسلام د سترګو مبارکو څخه اوښکي را وبهېدلې، عبدالرحمن بن عوف ﷺ چې په دغه واقعه کې حاضر و، و علیه الصلوة والسلام ته یې وویل وانت یا رسول الله؟ یعني ته هم ژاړې، د هغه خیال دا و چې اوښکي تویول به بې صبري وي، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل هذه رحمة وانما یرحم الله من عباده الرحماء، ثم قال ﷺ: القلب یحزن والعین تدمع ولا نقول الا مایرضی به الله تعالی انا لله وانا الیه راجعون، ثم قال ﷺ وانا بفرقک یا ابراهیم لمحزنون، او کما قال رسول الله ﷺ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أُولَٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ صَلَوَٰتٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَرَحۡمَةٞۖ وَأُولَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُهۡتَدُونَ ﴿١٥٧﴾

او دغه کسان چې د مصیبت په وخت کې انا لله وانا الیه راجعون ووایي پر دوئ باندې صلوة له جانبه څخه د رب ددوئ او رحمت دی او هم داغه کسان دي چې و حق لارې ته رسېدلي دي، ولې چې دوئ په وخت کې د مصیبت رسیده استرجاع وویله او په قضاء الهي یې رضی ښکاره کړه.

پوه سه: چې مذهب د جمهورو علماؤ دادی چې صلوة په اصل وضع کې دعاء ته وایي، او دلته مراد ځنې هغه شی دی چې پر دعاء مترتبېږي یعني برکت او رحمت او مغفرت دی، نو رحمت یې تاکیداً ذکر کړی دی.

فائده: وجه د جمعیت د صلوات تنبیه ده پر کثرت د انواعو.

پوښتنه: صلوات خو له دې سببه چې جمع سالم ده نو جمع قلت ده کما هو القانون الصرفي، او سره ددې چې اقسام د صلوات د خدای ﷻ بېځي ډېر دي چې د جمع کثرت وحدودو ته داخل دي؟

ځواب: دلته جمع قلت مستعاره ده د جمع کثرت لپاره، لکه تثنیه چې مجازاً لپاره د جمع کثرت راځي کما في لبیک وسعدیک.

پوښتنه: څه حکمت دی چې د جمع کثرت خپل لفظ یې نه راوړی بلکه لفظ د جمع قلت یې ورته مستعار کړی؟

ځواب: په دې استعاره کې تنبیه ده پر دې چې صلوة مع غایة کثرتها قلیلة في جنب عظمته تعالی کذا في الحوامش للبیضاوي.

فائده: مراد له رحمت څخه معنا حقیقي د هغه نه ده ای رقة القلب یقتفی التفضل والاحسان من رق له لتنزیه تعالی من الاعضاء ولان الرقة انفعال وهو تعالی منزه عن الانفعال بلکه مراد ځنې مایترتب علی الرقة المذکورة دی من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

التفضل والاحسان، او په صحیح حدیث کې راغلي دي من استرجع عند المصیبة جبر الله تعالی مصیبته واحسن عقباه وجعل له خلفاً صالحاً یرضاه.

درویش وایي: چې د دې خلف صالح یقین د حدیث څخه د ام سلمه ؓ زدکړه کمامر تفصیله عنقریب، حاکم په مستدرک کې دا حدیث راوړی دی چې څه وخت چې د معاذ بن جبل ؓ زوی مړ سو نو علیه الصلوة والسلام د تعزیت او تسلي لپاره ومعاذ ؓ ته داسې نوشته کړه قبضه منک باجر کثیر الصلوات والرحمة والهدی ان احتسبت. خدای ﷻ ستا زوی له تاڅخه واخستی په د بر لوی اجر وثواب چې عبارت د صلوات او د رحمت او د هدایت څخه دی که نه صبر وکړې. د عبدالله بن مسعود ؓ څخه روایت دی چې که زه له اسمانه را ایله سم ماته خوښتر دی چې زه په یو شي کې د قضاء الهي ووایم چې کاشکې دانه وای پېښه سوې. او د حضرت علي ؓ څخه روایت دی که چا په وخت کې د خبرو د مصیبت لاس پر ورانه ووهه فقد حبط اجره یعني ثواب د مصیبت یې له لاسه ورکړی، یعني د ورون وهل له لاس د بې صبرۍ علامه ده. وروي عن عمر ؓ انه قال فی هذه الآیة نعم العدلان ونعمت العلاة یعني ښه دوه انډې دي او ښه سر باري دی له عدالانو څخه مراد د عمر ؓ "اولئک علیهم صلوات من ربهم" د یوه انډې د بار د اوښي دی "ورحمة" دا بل انډی دی د بار "واولئک هم المهتدون" دا یې سر باري دی.

یوه سه: چې کلام د عمر ؓ مبني پر کنایه دی.

مسئله: انسان او مؤمن ته چې یو مصیبت ورسېږي له جانبه څخه د خدای ﷻ لکه ناجوړي یا موت الاولاد والاقارب وامثال ذالک من المکاره والمصائب یجب الصبر علیها لان ماجاء من جانب العدل المطلق والحکیم بالحق لیس الا مقتفی عدله وحکمته فیجب علی المؤمن ان یرضی بقضائه تعالی ویتقبل ان ذالک خیر له في الدارین وان مافعله الحکم لیس الا لمصلحته یه فیصبر علیه صبراً جمیلاً بلا جزع. او که چېرې یو مصیبت د ظالمانو له خوا پر مسلط سي پر ده یعني پر مؤمن باندې واجبه نه ده چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صبر به کوي بلکه ده ته رواه ده چي هغه ظالم دي له ظلمه څخه منع کړي او که هغه ظالم د ظلمه څخه نه منع کېدی بیله جنګه نو جنګ دي ورسره وکړي که یې دی مړ کړی شهید دی.

پوه سه: چي دا مسئله په ظلم بالکفر والمعاصي کي ده او که ماسوی د کفر او معاصي وو څخه بل ظلم ظالم کاوه کالضرب والشتم وغیرها، نو په مقتضی ددې آیت جزاء سیئة سیئة بمثلها ده ته رواه ده چي له ظالمه خپل مکافات واخلي، لکن صبر اولی دی کمایدل علیه مظالم مشرکي مکة علی رسول الله ﷺ وعلی اصحابه ﷺ وقد مر نبذ من تلک المظالم في هذا التفسیر وسیئاتي بعضها فیما سیئاتي ان شاء الله تعالی.

پوه سه: چي بلایا له جانبه څخه د خدای ﷻ دي لپاره د تصفیه د باطن د مبتلی دي، نو څکه ددې حدیث مبارک چي علیه الصلوة والسلام وایي "ما اوذي نبي ما اوذیت" علماء د تصوفو یې داسي ترجمه کوي ماصفي نبي مثل ماصفیت.

بیت

صائب شکایت از ستم یار چون کند
هرجا که عشوه هست وفا وجفا یکي است

د امام حسن بن علي وفاطمة ﷺ څخه روایت دی چي "سمعت جدي رسول الله ﷺ یابني علیک بالقنوع یعني اصبر علی الفقر والمسکنت تکن من اغنی الناس، نو ته به لویٔ غني له خلګو څخه یې، واداء الفرائض" او فرضي کارونه کوه هر قسم فرض چي وي "تکن من اعبد الناس" نو ته به لویٔ عابد د خلګو یې "یابني ان في الجنة شجرة یقال لها شجرة البلوی یوتي باهل البلایا یوم القیامة، هغه کسان په را وسته سي چي په دنیا کي پر دویٔ بلایا مسلط کړه سوي وي، فلا ینشر لهم دیوان ولا ینصب لهم میزان، نه ودویٔ ته کوم دفتر یعني عمل نامه خلاصول کېږي، او نه ددویٔ د عملو د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تللو لپاره کوم ترازو سته "یصب علیهم الاجر صبا" ثم قرء رسول الله ﷺ انما یوٴتي الصابرون اجرهم بغیر حساب.

درویش وایي: چي له دې قبلې څخه دي هغه مصائب او مظالم چي لکه باران د پسرلي چي پر امامینو السعیدین الشهیدین ابی محمد بن الحسن وابي عبدالله الحسین رضي الله عنهما باندي د ظالمانو معلوم الحال له خوا ووربده کما هو المبسوط في التواریخ الاسلامیة ولهذا قال رسول الله ﷺ حین سئل ای الناس اشتد بلائه، قال ﷺ الانبیاء ثم الامثل فالامثل وفي روایت ثم الاولیاء ثم الامثل فالامثل. قال ﷺ یبتلی الرجل علی حسب دینه فان کان في دینه صلب اشتد بلائه وان کان في دینه رقة هون علیه حتی یمشي في الارض ماله ذنب رواه الترمذي وقال حسن صحیح ورواه ابن ماجه والدارمي ﷺ ایضاً.

درویش وایي: چي پر بلاوٴ باندي د صبر په باره کي دا یو خوږ حکایت واوره، تاریخ وایي چي په زمانه کي د سلیمان بن داوٗد ﷺ چي سلیمان ﷺ ته خدای ﷻ په منطق الطیر سره پوهنه ورکړې وه، یوه سړي په زرو روپۍ پر یو مرغه احسن الصوت ورکړي وې او داسې خوش اوازه و چي خلګ به د هغه مرغه وصوت ته حیران وه، او پر خپل مالک لا ډیر ګران و یوه ورځ یوه بل مرغه دده په رنګ پر قفص کښېنستی او رېز یې وکړی او هغه مرغه ولاړی، د قفص مرغه ګونګ سو او رېز او هغه خوش اوازي یې پرېښول او مالک یې ډېر پرېشانه سو، نو ورغلی و سلیمان ﷺ ته ماجرا د مرغه یې ورته بیان کړه، سلیمان ﷺ ورته وویل چي ورسه هغه مرغه سره له قفسه راوړه، مرغه چي یې ورووړی نو سلیمان ﷺ ومرغه ته نصیحت وکړی چي ستا مالک پر تا حق د تربیه لري نو ته ولي اوس ګونګی یې او خپل پخوانی رېز دي پرېښوی، مرغه ورته وویل یانبي الله زما ومالک ته ووایي چي زما د رېز د اواز څخه زړه صبر کړه تر څو چي زه په قفص کښي یم، سلیمان ﷺ ورته وویل ولي، مرغه ورته وویل چي زما رېز او اواز حسن د بې صبري له سببه و وخپل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وطن او هم جنسوته، نو هغه بل مرغه چي زما پر قفص راغلی ماته یې وویل چي قفص والا چي ته بندي کړی یې په سبب ستا د ژړا او ربړ ته صبر وکړه او ساکت سه په صبر به دي خدای ﷻ له بنده خلاص کړي، سلیمان ﷺ ومالک ته د مرغه حال د مرغه ووایه. نو هغه سړي ورته وویل چي حال دا سي دی نو مرغه له قفصه ایله کړه یا نبي الله ولي ماچي دی په قفص کي بندي کړی و د ربړ او د ښه اواز له سببه. نو سلیمان ﷺ زر روبی، وهغه سړي ته ورکړې او مرغه یې ایله کړی او مرغه والوتی او بغاري یې کړې سبحان من صورني وفي الهواء طيرني ثم في القفص جبسني بالجزع وعدم الصبر ثم بالصبر خلصني من سجن القفص ثم ذهب الطير الى ماشاء الله.

مثنوي

دا نه باشي مرغکا نت بر چنند	غنچه باشي کو د کانت برکنند
هرکه کرد او حسن خود را در مزاد	صد قضاي بد سوي او رو نهاد
تن قفص شکلست وتن شد خارجان	در فريب دا خلان و خارجان

درویش وايي: چي مظهري رحمه الله په روايت د ترمذي له جابر رضي الله عنه څخه روايت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ يود اهل العافية يوم القيامة حين يعطى اهل البلاد الثواب" خوښه به وي د هغو کسانو چي ژوند د دنیا په عافیت کي پر تېر سوي وي یعني بلایا او مصیبتونه یې نه وي لیدلي په ورځ کي د قیامت هغه وخت چي دوئ ويني چي اهل البلاء ته یعني هغه کسان چي د دنیا ژوند په مصیبتو کي پرتېر سوی وي او دوئ هم صبر پر کړی وي خدای ﷻ څومره ثوابونه ورکوي لو ان جلودهم كانت قرضت في الدنيا بالمقاريض چي کاشکي زموږ پوستونه په دنیا کي په غچي پرېکېدای، وروي في الحديث المتفق عليه للبخاري ومسلم عن ابي سعيد الخدري رضي الله عنه عن النبي ﷺ مايصيب المسلم من نصب ولا وصب ولا هم ولا حزن ولا اذى ولا غم حتى الشوكة يشاكها، مثلاً چي یو خوز په پښه چګ سي الا كفر الله من خطاياه. یعني بعض ګنهونه د هغه ولعل المراد به والله اعلم المعاصي الصغيرة لان الكبائر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تحتاج کفرانها الی التوبة علی المشهور من المذهب ولا یبعد عن کرمه تعالی وعموم رحمته علی هذه الآمة ان یکفر ببعض من تلک الامور الکبائر ایضاً والله اعلم. وروي عن محمد ابن خالد السلمي عن ابیه عن جده ﷺ قال قال رسول الله ﷺ ان العبد اذا سبقت له من الله منزلة لم یبلغها بعمله ابتلاه الله تعالی في جسده او في ماله او ولده ثم صبره علی ذالک حتی یبلغه المنزلة التی سبقت له من الله. رواه احمد وابو داؤد ر.

ترجمه: علیه الصلوة والسلام فرمایي چي یو بنده ته د خدای ﷻ له خوا څخه یوه درجه یعني درجه علیا په جنت کي ورانديمنظوره سوې وي او دی یعني بنده وهغي درجې ته نه سي رسېدلای په عمل خپل سره نو خدای ﷻ دی په بلا او مصیبت سره اخته کړي یا په بدن کي او یا په مال کي او یا په اولاد کي او بیا خدای ﷻ وهغه بنده ته توفیق د صبر ورکړي حتی چي د هغو مصیبتو په سبب یې خدای ﷻ ورسوي هغه درجې د ثواب ته چي خدای ﷻ وده ته سابقاً منظوره کړې وي. وسید النساء فاطمة الزهراء ﷺ ته بعض رواتو دا بیت منسوبه کړی دی چي څه وخت چي آنحضرت ﷺ له دې زماني څخه ودار جاوداني ته رحلت وکړی نو فاطمي ﷺ داسې وویل

صبت علي مصائب لو انها | صبت علی الایام صرن لیالیا

درویش وایي: چي ولعل هذا هوالسر فیما اصاب الا مامین الهمامین السعیدین ابی محمد الحسن وابی عبدالله الحسني ﷺ.

إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ

پوه سه: چي صفا او مروا د دوو غرو نومان دي په مکه معظمه کي او شاعر جمع د شعیرة ده. شعیرة علامې ته وایي لکن وروسته یې اطلاق پر ځایو د عبادت د خدای ﷻ لکه کعبه مبارکه عرفات. منی صفا ومروة او پر زمانو د عبادت الهي لکه اشهر حرم او رمضان. او پر علامو د عبادت الهي لکه اذان وغیره کبری نو معنا د آیت داده چي په تحقیق صفا او مروه له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علاماتو څخه د عبادت الهي دي وهو السعي بينهما يعني لا من شعائر الجاهلية كما كانا في الجاهلية.

فائده: وجه د ربط ددې آيت دمخه آيتو سره بعض مفسرين دا بيانوي چې په ماقبل آيتو کې ذکر د جهاد في سبيل الله وسو او په دې آيتو کې بيان د حج دی، وبينهما مناسبة جليلة ولې چې په دواړو کې انفاق د اموالو غواړي او پر نفس باندې ډېر ګران پرېوځي، او بعض مفسرينو داسې مناسبت بيان کړی دی چې په دمخو آيتو کې خدای ﷻ مؤمنانو ته تلقين د صبر کړی و په مصائبو کې ددنيا، او په دې آيت اشاره ودې ته کوي چې يود مصائبو څخه ددنيا چې تاسې بايد صبر پر وکړي دا هم دی چې خلګ به ستاسې ددين پر طعن او عيب وايي لکه يهودانو چې به دا ويل چې مسلمانانو که څه هم هغه دوه بته چې په نامه د اساف او نائله يې شهرت درلودی او اهل جاهليت به دا بتان مسحه کول او تر منځ ددې دوو بتانو به يې سعي کوله، دواړه يې مات کړه او وه يې غورځول لکن ځايونه ورمعلوم دي اوس هم دوئ يعني مسلمانان په هغه پخواني نيت تر منځ د صفا او مروه سعي کوي فرد الله عليهم واشار الى المسلمين على الصبر على مثل هذه المطاعن.

پوه سه: چې اساف د يو نر نوم و په جاهليت کې او نائله د يوې ښځې نوم و، او دوئ دوو د کعبه په خونه کې زنا سره کړې وه، نو دوئ دواړه خدای ﷻ مسخه کړه او ډبرې يې ځندي جوړې کړې، او نر يې د صفا پر غره نصب کړی او ښځه يې د مروه پر غره ودروله، اولين نيت د اهل جاهليت دا و چې خلګ به دا وويني او عبرت به ځندې واخلي، او بل څوک به خانه کعبه ته داسې د بې عزتي په ستر ګه نه ګوري رفته رفته په مرور د زمانو شيطان ودوئ ته دا وسوسه ورواچول چې دا بتان پر وجه د تعظيم مسح کوئ آخر الامر اهل جاهليت يې عبادت شروع کړی، وروسته چې مکه معظمه فتح سوه او بتان ټوله مات سوه او په ضمن کې د اساف او نائله بتان هم مات او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لېرې کړه سوه، نو د مسلمانانو په زړو کې څه خیره پیدا سوه چې سعي د صفا او مروه خو د جاهلیت میراث دی موږ یې باید نه وکړو او سره ددې چې یهودیان موږ ته پېغور هم راکوي کمامر آنفاً نو آیت د ان الصفا والمروة الی آخر الآیات نازل سو. او د بخاري د روایت سره سم په حدیث شریف کې راغلي دي چې انصار د مدینې په وخت کې د جاهلیت به یې احرام د منات چې د یو بت نوم و په مشلل کې تاړه نو وچې دوئ به مکې ته راغله نو په منځ کې د صفا او مروه به یې سعي نه کول ددوئ خیال دا و چې د منات به خوابده سي چې احرام مو زما په نامه وتاړه او سعي تر منځ د نورو خدایانو چې اساف او نائله ده کوی، نو انصار مسلمانان سوه نو یې دا موضوع و علیه الصلوة والسلام ته پېش کړه نو آیت مذکوره نازل سو.

درویش وایي: چې د دغو دوو شانو نزول تر منځ منافات نسته ولې دا آیت ددارو په باره کې راغلی دی، اما الاول فقد رواه الحاکم عن ابن عباس ﷺ، واما الثاني فرواه الشیخان عن عائشة ﷺ.

درویش وایي: چې په حدیث د حاکم بیضاوي او حواشیو د بیضاوي اکتفاء کړې ده، او صاحب د روح البیان هم په هغه اکتفاء کړې ده، واما المظهري ﷺ هغه دواړه روایته راوړي دی او دا یې هم ویلي دي چې ددغو دوو رایو تر منځ منافات نسته لان الآیت المتلوة یحتمل ان وردت في کلتا الواقعتین وهٰذا هو الاول.

پوښتنه: اول سبب د سعي بین الصفاء والمروة څه و؟

ځواب: قصه خو ډېره اوږده ده او د سورت بقره د الٓمٓ د جزء په تفسیر کې هم مفصله تېره سوې ده لکن معه حاصل د خواب دادی چې ابراهیم ﷺ خپل شیرخوره زوئ اسماعیل ﷺ او د هغه مور بي بي هاجره ﷺ د بکې په شېله کې چې د مکې پخواني نوم و، کښېنته کړه او یو ژی اوبه او یو څه خورما یې ور پرېښول او دی خندي ولاړی، نو هاجره یوازي او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یوازي په دغه شپله کې چې هیڅ انسان پکښې نه و شپې او ورځې به یې تېرولې، او خورما به یې خوړل او اوبه به یې څښلې، آخر الامر اوبه او خورما ختمه سوه او اسماعیل ﷺ په حالت کې د لوږې او تندې بېقراره سو، او هاجرې ددې بېقرارۍ طاقت نه درلودی نو زوئ اسماعیل یې چې د اوس د زمزم ځای دی دلته غرنی، درخته ولاړه وه تر هغې لاندې یې پرېښو او دا وحرم مبارک ته نژدې غر چې نوم یې صفا دی وختل چې ګوندې یو څوک ووینې او په عین حال کې یې خپل زوئ اسماعیل ته هم کتل چې ژوندی دی او که نه. چې تر اوسه دا سنت ددې باقي دی یعني حاجیان چې د صفا پر غره ودرېږي د کعبې شریفې وخواته ګوري. خیر پر صفا یې څوک ونه لیدی، نو د صفا څخه راکښته سوه چونکه لاندې تر صفا ژوره شپله وه چې اوس هغه شپله ډکه کړه سوې ده، نو دې په ځغاسته تر هغه شپلې خان وایستی او د مروه پر خوا روانه سوه چې د هغې مبارکې دغه ځغاستې تر اوسه سنت باقي دی، یعني د میلینو اخضرینو تر منځ حاجیان ځغلي، خیر پر مروه ودرېدل او په عین حال کې یې خپل نازولي شیر خوار زوئ ته کتل، حاصل دا واوره دې د صفا او مروه تر منځ اوه واره ځغاستې وکړې اخیرې وار چې مروه ته راغله یو رغ یې تر غوږ سو او یو سړی یې ولیدی چې د زمزم پر برابر یې پنده کښېکښېل اوبه راوغورځېدې. هاجرې پر را میدان کړه او چابک یې خپل ژی ډک کړی او پر اوبو باندې یې خاورې او شیګې راټولولې او د اوبو منځ یې غاراوه. او هغه سړی جبرائیل و صرف یې دې ته اطمنان ورکړی چې ته خوا مه بدوه دلته بیت الله شریفه پخوا وه چې هغه ابراهیم ﷺ او ستا زوي از سر نو جوړه کړي، او سړی نور غائب سو.

درویش وایي: چې مفصله قصه پخپله ځای کې مطالعه کړه دلته په خواب کې د سوال مذکور ماسمعت هم کافي دی. ولله الحمد والمنة والصلوة والسلام علی خیر البریة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ اَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ اَنْ يَّطَّوَّفَ بِهِمَا

نو څوک چې حج د بيت الله کوي او يا عمره کوي نو ګناه نشته پر ده چې طواف وکړي پر صفا او مروه يعني السعي كما يتخيل الى البعض المؤمنين يعني بانه من افعال الجاهلية او بسبب الاحرام المناة الطاغية بالمثلل كمامر في شان نزول الآية عنقريب.

فائده: د امت محمديه ﷺ د مذاهبو اربعه و پر دې اجماع ده چې سعي بين الصفاء والمروة مشروع في الحج والعمرة ده. لكن قال ابو حنيفه رحمه الله چې سعي واجبه ده جيره په دم سره كېږي، او امام مالک او شافعي رح وايي چې سعي ركن ده يعني جبره يې په دم سره نه كېږي، لقوله عليه الصلوة والسلام اسعوا فان الله كتب عليكم السعي.

والجواب عن جانب الحنفية چې آيت مبارک خو صرف دلالت پر دې کوي چې په سعي بين الصفاء والمروة ګناه نشته ومعناه الجواز والحديث المذكور مونږ منو چې صحيح دی ولې احمد او طبراني يې روايت کړی دی، لکن دا نه منو چې حديث مذكور يقيناً پر ركنيت دلالت نه کوي، ولې چې امر د اسعوا سره د تعليل فان الله آه، پر وجوب هم صادق دی كما لايخفى على من زوال اصول الفقه، والوجوب ادنى رتبةً من الركنية فيحمل الحديث المذكور عليه لانه متيقن، او كه چېرې ومنو چې حديث قطعي الدلالة دی پر ركنيت لكن سند خو يې ظني دی ولې دا حديث مبارک نه حديث متواتر دی او نه حديث مشهور، وقد تقرر في الاصول ان الركنية لايثبت الا بالدليل القطعي الدلالة والثبوت، نو بايد سعي واجب وګڼو تاچې آيت او حديث دواړه سره جمعه سي كذا في شروح البيضاوي والتفسير القرطبي، او د امام احمد رحمه الله څخه روايت دی چې سعي يې سنت ده وبه قال انس وابن عباس رض دوئ په دغه آيت سره استدلال کوي، فلا جناح آه، ولې چې نفي د ګناه خو دلالت کوي پر اختيار د حاجي نو چونکه سعي مباح مطلق خو نه ده لکه اكل او شرب لقوله تعالى من شعائر الله، نو ادنى درجه داده چې سنت سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي تو له تفاسیر پر دې متفق دي چي دا استدلال ضعیف دی، ولې چي نفي د جناح خو پر جواز د لالت کوي یعني چي سعي حرامه نه ده، والجواز داخل في معنا الواجب لان الواجب هو الجائز اللازم ده فکیف یدفع بالجواز الوجوب.

پوښتنه: آیت که څه هم نفي د وجوب نه کوي لکن اثبات د وجوب خو هم نه په کبرې لانه یجوز انیکون سنتاً؟

ځواب: موږ په آیت سره وجوب نه ثابت و بلکه صرف جواز او وجوب يې په دې حدیث مذکور سره ثابته و، او بل په فعل د علیه الصلوة والسلام چي علیه الصلوة والسلام سعي کړې ده، او دا يې هم ویلي دي خذوا عني مناسککم، والسعي من مناسک الحج وخذوا امر، وهو یقتضي الوجوب والرکنیة لا یثبت بالحدیث کما ذهب الیه الشافعي ومالک رح لان الحدیث خبر واحد فافهم.

فائده: حج په لغت کي قصد ته وايي. او اعتمار زیارت ته وايي. او په شرع شریفه کي هغه دوو عبادتو ته وايي چي غالباً هر سړی په پوهېږي، او اصل د یطوف یتطوف دی ادغمت التاء في الطاء کما هو القانون الصرفي.

د طواف او سعي په باره باب د تفعل ووایه چي غالباً لپاره د تکلف وي کما في الشافية، لپاره د تنبیه پر دې چي سعي کونکی دي باید ډېر زیار او کوشش وکړي په سعي کي د صفا او مروه مع بعد مسافة السعي.

درویش وايي: چي خصوصاً په اوسنی زمانه کي چي اذدحام د خلگو په نهایت ډېر والي کي دی یعني (۱۴۲۵ هـ) وقبل ذالک بسنین کثیرة کما لایخفی.

پوه سه: چي په اتفاق د علماوؤ د امت سعي بین الصفاء والمروة اوه (۷) شوطه ده، او پردې هم تقریباً اجماع ده چي له صفا څخه تر مروه پوري یو شوط دی، او د مروه څخه تر صفاء پوري بل شوط دی. او د جریر طبري او د ابو بکر صوفي څخه د شافعیانو او د امام طحاوي څخه د حنفیانو نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

داسي روايت راغلی دی چي له صفا څخه تر مروه، او بیرته صفا ته راتله دا یو شوط دی وهكذا في آخير السعي دوئ سعي قیاسوي پر طواف البيت باندي يعني په طواف البيت کي خو له حجر اسود څخه شروع او بیرته حجر ته راتله دا یو شوط دی بالاجماع، نو باید سعي هم داغسي وي، د جمهورو علماؤ رح دلیل داسي دی چي نقل مشهور له زماني څخه د آنحضرت ﷺ الى يومنا هذا پوري دادی چي طواف بالبيت او سعي بين الصفاء والمروة فرق سره لري وكفى بهذه الاستفاضة، او بناء پر قول د نامورو علماؤ خو ختم د سعي پر صفا لازمېږي كما لايخفى.

وَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ ﴿١٥٨﴾

پوه سه: چي تطوع باب تفعل دی د طوع څخه ماخوذ دی. طوع خپل په خوښه کار کول دي يعني بېله اکراه او اجباره، لكن اكثره استعمال د تطوع په نفلي عباداتو کي کېږي ولهذا قال روح البيان فيه حث على نوافل الطاعات مطلقاً حجاً كان او عمرة او صلوة او صدقة وغيرها، او بيضاوي اول تفسير داسي کړی دی اى فعل كان فرضاً كان او نفلاً، او مظهري تبعاً للبيضاوي هم تفسير عام کړی دی او دده او د ورح البيان تفسير مروي دی له حسن بصري څخه حيث قال اراد سائر الاعمال يعني فعل غير المفترض عليه من صلوة وزكوة وطواف وغيره من انواع سائر الطاعات، او مقاتل او کلبي رح په نفلي طاعت خو تفسير کړی دی لكن مناسب له مقامه سره د حج او عمرې حيث قال فمن تطوع اى زاد في الطواف بعد الواجب او يا يې تطوع وکړه په حج یا په عمرې سره بعد اداء الحج المفروض.

درویش وایي: چي عام تفسير او خاص تفسير دواړه يو مرجح لري عام په اعتبار د عموم او خاص په اعتبار د مناسبت د مقام.

الاعراب: تطوع فعل لازمي دی نو نصب د خيراً چي منصوب دی بناء على انه مفعول مطلق دی په اعتبار د موصوف مقدر اى تطوعاً خيراً، او یا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په عبارت کي حذف او ايصال دی يعن په اصل کي تطوع متعدي په حرف جر وو يعني تطوع بخير بيا يې حرف جر حذف کړی او تطوع پخپله مفعول ته ورساوه، او يا تطوع چي لازمي دی متضمن معنا لره د فعل متعدي وگرخاوه ای فعل تطوعاً نو خيراً يې مفعول به دی.

ترجمه: او هغه څوک چي تطوع د خير په عمل سره وکړي، نو يې په تحقيق خدای ﷻ شاکر دی د هغه سړي او ښه خبر دی په نيت او اخلاص د هغه.

فائده: د شکر نسبت چي وخدای ﷻ ته وسي معنا يې ثواب ورکول دي پر طاعت ولي چي معنا يې حقيقي ده شکر چي اظهار د نعمت دی پر شاکر باندي پر خدای ﷻ محاله ده کما لايخفی.

درويش وايي: چي حقي بروسوي د سفيان ثوري رحمه الله څخه يو حيرت انگېزه حکايت داسي کړی دی، سفيان ثوري وايي چي زه يو کال حج ته تللی وم نو پر عرفات ولاړوم او په خيال کي دا فکر راگرځېدی چي هيهات بيا به زه حج له راسم او پر دې عرفات به ودرېږم او که به مرگ زما د عرفات تر منځ حائل سي، زه په دې فکر کي يم چي په خلگو کي يو سپين ږيری سړی و، او ماته په ډېره عصه گوري، نو زه ورغلم او السلام عليکم يا شيخ مي ورته وويل، ده راته وويل وعليکم السلام ياسفيان د زړه وباسه هغه سودا چي ستا په دماغ کي درگرځي، سفيان وايي ماته ورته وويل سبحان الله من اين تعلم اسمي وتعلم نيتي، شيخ راته وويل الهمني ربي. او شيخ زياته کړه چي قسم په خدای ﷻ دی چي ما پنځه دېرش (۳۵) واره حج کړی دی او پنځه دېرشم وار پر دغه عرفات ولاړوم او ما په حاجيانو او پخپل ځان کي فکر وواهه چي خدای ﷻ به خپل رحمت عامه ددغو حاجيانو او زما حج قبول کړی وي او که نه، او په دغه فکر کي غرق وم چي لمر ولوېدی او حاجيان ټوله له عرفات څخه د مزدلفې پر خوا تللي وه زه د استغراق څخه د خپل فکر په هوش کي راغلم پر عرفات هيڅ څوک بېله ما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نه و، اخر الامر وروسته تر لمانځه د ماښام او ماخستن خوب راغلی او ببده سوم، نو خوب مي ليدی چي د قيامت ورځ وي او خلګ ټوله پر ميدان د حشر حاضر وي، او عمل نامې نشر سوې او ترازو د اعمالو نصب سو. او پل صراط پر دوږخ وغوړېدی او د جنتو او دوږخو دروازې خلاصي سوې، او د دوږخ له خوا مي دا اواز واورېدی "اللهم وق الحجاج حري وبردي. نو دوږخ ته په خواب کي دده نداء داسي وويل سوه دوږخه د نورو خلګو سوال کوه د حاجيانو غم او سوال مه کوه، ولي چي حاجيانو په سفر کي د حج ډېري تندي لوږې او کړاونه وړي دي، او ګرمي د عرفات يې هم پر ځان او د قيامت تندي يې هم پر ځان تېرې کړي دي، او د دوی په باره کي شفاعت هم قبول سو، ولي چي دوی زما د رضی لپاره خپل ځانونه او مالونه قربان کړي وه، او شيخ دا هم وويل چي کله راويښ سوم اودس مي تازه کړی دوه رکعته نفل مي وکړه او بېرته بيده سوم بيا مي هغه د مخه خوب عيناً وليدی، په خوب کي ما يو سړي ته وويل چي دا زما دوه خوبونه د الله ﷻ له خوا وي او که به د شيطان له خوا وي، هغه سړي راته وويل چي دا خوب د رحمن ﷻ له خوا دی، بيا يې راته وويل چي ته لاس وغځوه، ما چي لاس وغځاوه پر لاس يې رانوشته کړه من وقف بعرفة وزار البيت شفعته في سبعين من اهل بيته، ترجمه: که څوک ودرېدی پر عرفات او طواف زيارت د بيت الله شريف يې هم وکړی زه يعني خدای ﷻ وايي زه به د هغه حاجي شفاعت په اويا (۷۰) کسه کي دده د اهل بيت يعني د اقرباؤ په باره کي قبلوم يعني په ورځ د قيامت، سفيان ثوري رحمه الله وايي چي شيخ مذکور ماته د لاس نوشته رانبکاره کړه او ما هم وويل، بيا شيخ وويل ددغي واقعې وروسته هر کال خدای ﷻ ماته توفيق د حج راکړی دی چي تر اوسه مي درو اويا (۷۳) حجه کړي دي کذا في زهرة الرياض.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي دا واقعه د عجائبو څخه د قدرت د خداى ﷻ يوه نمونه ده لان عجائب قدرته تعالى لا تنتهي الى حد . اللهم اجعل اسفارى الى الحج مثل ذالک الشيخ ﷺ فان في قلبي كان مثل وسوسة الشيخ ﷺ اولا فبهذه القصة تسلى قلبى فى الجمله آمين

مسئله: في الاشباه والنظائر، چي يو رباط جوړول چي مسلمانان نفع پر واخلي افضل دى تر دوهم حج يعني نفلي .

درويش وايي: چي دغه رنگه يو مسجد جوړول تر نفلي حج په طريق اولى بېدى او بيا اشباه وايي چي حج نفلي افضل دى تر نفلي صدقې او حج فرضي اولى دى تر اطاعت د مور او پلار بخلاف الحج النفلي، او حج د غني افضل دى تر حج د فقير ولي چي پر فقير خو حج هلته فرضيږي چي مكې ته ورسيږي او په سفر كي خو دى متطوع دى، او دغني خو سفر هم فرضي دى او ثواب د فرضو ډېر دى تر ثواب د نفلو په هر عبادت كي لكن بيا هم توجه او اخلاص قلبي ضروري دى. مثنوى

ميل تو سوى مغيلانست وريگ تاچه گل چينى زخار مرده ريگ

اللهم وجه قلوبنا الى جانب الغيب لامجرد توجه القالب برحمتک يا ارحم الراحمين.

شان نزول الآية. ابن جرير ﷺ او ابن ابي حاتم ﷺ د ابن عباس ﷺ څخه روايت كړى دى چي معاذ بن جبل ﷺ او سعد بن معاذ ﷺ او خارجة بن زيد ﷺ د څو نفرو څخه علماؤ د يهودانو پوښتنه وكړه د بعض مافى التوراة او هغو منع وكړه د بيان څخه د هغو خبرو فنزل هذه الاية

إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَٰتِ وَالْهُدَىٰ مِن بَعْدِ مَا بَيَّنَّٰهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَٰبِ

په تحقيق هغه كسان يعني احبار اليهود چي پټوي هغه چي مانازل كړي آه له آيات واضحاتو څخه يعني هغه آيات چي شاهد دي پر صدق د محمد ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او پټوي هغه هدايت چي يهودو ته لاربښيي او وروسته تر دې چي ماهغه آيات او هدى بيان كړې ده چي كتاب يعني په تورات كي وخلگو ته يعني د يهودانو احبارو ته ولي چي احبار خو په مافي التوراة خبر دي عوامو ته چي هرڅه دوئ وايي هغه مني.

پوه سه: چي ددې آيت ربط د ماقبل سره دادى چي طواف بين الصفا والمروة خو حق وو بياهم يهوديانو طعن پر وايه. ولي چي عادت ددوئ داوو چي حق بې پټوى وهم يعلمون كما كتموا نعوت رسول الله ﷺ في التوارت.

فائده: په للناس كي لام د جنس لپاره دى يا استغراق يعني دغه آيات او هدى مابښكاره كړي دي ټولو خلگو ته نه يوازي وپټوونكو ته او سره د هغه كاتمون د امر واضح عام پټوي، وفيه اشارة الى شناعة ضيعهم في الغاية.

أُولَٰٓئِكَ يَلۡعَنُهُمُ ٱللَّهُ وَيَلۡعَنُهُمُ ٱللَّٰعِنُونَ ﴿١٥٩﴾

نو دغه كسان پر دوئ لنت وايي خداى ﷻ او نور لعنت ويونكي.

پوه سه: چي لعنت د خداى ﷻ شړل ددوئ دي له رحمت عامه څخه. او لعنت د نورو دعاء د لعنت پر دوئ.

پوښتنه: پر دغو كسانو خو هم جنس ددوئ كافران لعنت نه وايي، نو د لاعنون څخه څوك مراد دي؟

ځواب: بيضاوي وايي اى الذين يتاتى منهم اللعن. يعني ملائكه ټوله او د انسانانو او له جناتو څخه مسلمانان پر دوئ لعنت وايي، زاد المظهري ودواب الارض كلها.

پوښته: الف ولام په څلورو معنا و كي دلام يعني جنس، استغراق، عهد خارجي او ذهني د كومي معنا لپاره دى؟

ځواب: شراح د بيضاوي وايي چي لام لپاره د استغراق عرفي دى نحو جمع الاسر الصاغة اى صاغة بلده لاصاغة الدنيا. او عرفا لاعنون د كافرانو هم دغه مذكور انواع دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي احتمال د عهد خارجي هم سته لان المعلوم حالا كالمذكور لفظاً كما لايخفى على من راجع كتب النحو والمعاني، او د ابن مسعود ﷺ څخه روايت دى چي دوه كسه مؤمنان چي يو پر بل لعنت ووايي كه يو مستحق و خو پر هغه لعنت قرار نسي. او كه مستحق د لعنت نه و. نو لعنت يې هغو يهوديانو ته رسېږي چي لعنت رسول الله ﷺ پر كړى وي.

فائده: په روح البيان كي وايي چي وحوش د غرو او بهائم هم لعنت وايي پر عصاتو د بني آدم فنقول اللهم العن عصات بني آدم چي د دوئ د عملو په سبب زمونږ څخه باران منع سوى دى.

إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا وَبَيَّنُوا فَأُولَٰئِكَ أَتُوبُ عَلَيْهِمْ ۚ وَأَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿١٦٠﴾

مگر پر هغو كسانو لعنت نسته چي توبه وكاږي د كتمانه څخه او د نورو گنهو څخه. او عملونه خپل د شريعت د عليه الصلوة والسلام سره برابر كړي، او دوئ هغه پټ كړى بيان د تورات خلگو ته ښكاره كي، نو د هغو كسانو زه توبه قبلوم او زه تواب او مهربانه پر بندگانو يم.

پوه سه: چي تواب صيغه د مبالغې ده يعني د ډېرو كسانو توبه. او يا له ډېرو گنهو څخه توبه قبلوم حتى كه د دنيا ټوله كافران په يوه ورځ توبه وكاږي خداى ﷻ يې قبلوي. او يا يو سړى د كفر او د نورو گنهو څخه توبه وكاږي خداى ﷻ يې توبه قبلوي.

فائده: د توبې نسبت چي بندگانو ته وسي معنا يې رجوع د گناه څخه ده، او چي نسبت يې خداى ﷻ ته وسي معنا يې رجوع د خداى ﷻ د عقوبت څخه په دې آيت كي دواړه نسبته موجود دي، وفي الحديث المتفق عليه الذي روته عائشة ﷺ قالت قال رسول الله ﷺ ان العبد اذا اعترف (اي په گناه سره اقرار وكړي) ثم تاب (اى رجع عنه) تاب الله عليه (اي رجع الله عن عقوبة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي مفعول د بينوا" محذوف دی ای ما بينه الله في كتابه التوارة چي دا كار متمم د دوی د توبې دی ولې مسئله فقهيه داده چي كه يو چا پر بل چا دين حق فاسد كړی و د شبهې په سبب چي د هغه بل سړي په زړه كي يې ورواچول، نو پس له توبې څخه د اول سړي پر ده لازمه ده چي د خپلو شبهاتو ازاله به دی په خپله كوي او خلگو ته به وايي چي هغه شكوك او شبهات چي ما تاسي ته په گمراهان كړي واست زه په هغو كي پر خطا وم، وهو المراد بقوله تعالى واصلحوا وبينوا، او بعض مفسران رح وايي چي مفعول د بينوا چي محذوف دی هغه دادی ما احدثوه من التوبة يعني دغه كسان به وخلگو ته اعلان د خپلي توبې كوي تا چي د كفر عيب له خانو څخه دفع كړي او نور خلگ په دوی پسي اقتداء ونه كړي.

درويش وايي: چي خفاجي رحمه الله دا توجيه ضيفه گڼلې ده او دليل د ضعف يې دا ويلی دی چي نفس توبه او رجوع د كفر څخه كافي ده چي ورغندی د كفر او طوق د لعنت د دوی د غاړو څخه وكاږي ولا يشترط اظهار التوبة لاضرابهم وكذا حال العاصي التائب من معصية.

پوه سه: چي پټ كړي آيات د تورات خلگو ته ښكاره كول او يا د خپلو شكوكو او شبهاتو ازاله كول جلا كار دی، او اعلان د توبې جلا شی دی، فلا يرد مايتوهم فافهم، مثلاً يو سړی يهودي خو و لكن امي و نه يې آيات د تورات پټ كړی و او نه يې چاته شكوك او شبهات په زړه كي ور اچولي وه، نو دې سړي چي له يهوديت څخه توبه وكښل پر ده هيڅ شی اعلان لازم نه دی، وفي حديث رواه مسلم عن انس رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لله اشد فرحاً بتوبة عبده حين يتوب اليه (هر آئينه خدای جل جلاله ډېر خوشحاله دی په توبه سره د بنده دده هغه وخت چي توبه وكاږي بنده دده وخدای جل جلاله ته) من احدكم كان راحلته بارض فلاة (تر يوه ستاسي چي هغه وي په يوه مځكه كي چي نيابان وي او اوښه هم ورسره وي) فانفلتت منه وعليها طعامه وشرابه (نو دا اوښه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولاړه سي له ده څخه او پر اوښه دده خواړه وي او اوبه) یعني ګرمي وي دی تر یوې درختي لاندي بیده سي د یو ګړی لپاره او اوښه چوکه کړي بار پر باندي وي او زنګنونه یې نه وي تړلي ولې خو دده خیال دا وي چې یو ګړی به ارام وکړي بېرته به روانېږي، او دی چې سر ولګوي په غرق خوب بیده سي او اوښه یې په طلب د مرعي سره د طعامه او شرابه ولاړه سي ډېره لېرې. نو دی چې راوېښ سي اوښه نه وي دی یوې او بلې خواته پسې منډه کړي خو د اوښي هیڅ درک نه وي او په عین حال کي دی ډېر تږی هم وي.

فایس منها (نو د اوښه څخه یې امید قطع سي) فاتی شجرة فاضطجع في ظلها (نو دی راسي هغې درختي ته او سر ولګوي) وقد ایس من راحلته (او دده امید د اوښه څخه هم ختلی وي او د مرګ په انتظار وي د تندي په سبب، خو آخر غرق بیده سي) فبین ماهو کذالک (په دې منځ کي چې دی په حال کي د ناامیدۍ بیده سوی وي او تږی هم و) اذا هو بها قائمة عنده (او په دغه دوران کي یعني د خوب دی راویښ سي او اوښه دده وسر ته ولاړه وي سره د ما علیها من الطعام والشراب. یعني ژر ځان اوبه کړي او اوښه تر مهار ونسي) ثم قال من شدة الفرح اللهم انت عبدي وانا ربک (او بیا یې د ډېري خوشحالۍ له کبله خوله خطاوزي داسي خندي وویل سي خدای ﷻ ته زما بنده یې او زما ستا رب یم، یعني دده خو نیت دا و چې داسي ووایي چې خدایه ته زما خدای یې او زه دي بنده یم، لکن د خوشحالۍ د غلبې څخه یې عکس تر خوله ووزي.

درویش وایي: چې دغه حدیث مسلم په ډېر اختصار راوړی دی، ما تر نورو مفصلو حدیثو او روایاتو زیات والی بالمعنی پر وکړی تاچي د تفسیر د مطالعه کوونکو په زړو کي ددې حدیث مبارک مکمله معنا نقش سي من الله التوفیق.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ أُولَٰئِكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿۱۶۱﴾

او هغه چي کافران وي او دوئ مره سي او دوئ پر خپل کفر وي يعني د کتمان څخه د آيتو د تورات بې توبه نه وي کښلې دا تفسير په قرينه د مقام دی، او يا مطلق کافران هر څوک چي وي او دی مر سي او د کفر څخه خپل بې توبه نه وي کښلې دا تفسير په اعتبار د عموم د لفظ دی، نو کافران پر دواړو تفسيرو پر دوئ باندي لعنت د خدای ﷻ دی او د ملکو او د خلګو ټولو.

درويش وايي: چي تفسير د عليهم لعنت الله آه عنقريب ذکر کړه سو فتذکر، ابو العاليه رحمه الله وايي چي دا لعنت په ورځ کي د قيامت دی چي کافران حاضر کړه سي، اول خدای ﷻ لعنت پر ووايي او بيا ملکي او بيا انسانان لعنت پر ووايي.

سوال: کافران خو هم انسان دي نو دوئ پر خپلو خانو څرنګه لعنت وايي؟

ځواب: قال الله تعالى يلعن بعضهم بعضاً. فالکافر و ان کان لايقول على لعنتي لکن مشارکه في الکفر يلعنه فيشمل اللعنة جميع الناس وان کانوا کفاراً وهذا سانح عزيز، او علامه برسوي رحمه الله وايي چي مراد له ناس څخه يوازي مؤمنان دي ولي اصل انسانان هم دغه مؤمنان دي لانهم على مقتضى الانسانية، او کافران خو کالانعام دي هم اضل سبيلاً نو د هغو لعنت لره اعتبار نه سته په نيز د خدای ﷻ انتهى.

او بعض مفسرين رح وايي چي په مخني آيت کي مراد لعنت دی پر دوئ حياً، او په دې آيت کي مراد لعنت دی پر دوئ يوم القيامة کما قال ابو العالية رحمه الله.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

پوه سه: چي په يوه قرائت کي داسي هم راغلي دي والملائكة بالرفع والناس بالرفع اجمعون بالرفع بالواو في التاكيد، نو توجيه د رفع يې داده چي ملائكه والناس عطف دی پر محل د الله ﷻ لانه وان كان مجروراً لفظاً بالاضافة لكنه مرفوع محلاً لانه فاعل اللعنة في المعنى واللعنة مصدر يعمل عند الجمهور خلافاً لسيبويه، وهو يقول ان المصدر انما يعمل اذا امكن انحلاله الى ان المصدرية مع الفعل ولا يمكن ذالک کما لايخفى، والجمهور لا يشترطون ذالک راجع في ذالک الكتب المفصلة من النحو ومثاله اعجبنى ضرب زيد وعمرو بالرفع عطفاً على زيد، او بعض مفسرين رح وايي چي توجيه د رفع داسي هم کېدلای سي چي الملائكة والناس دي فاعل د فعل مقدر وي. دل عليه لعنة الله اى يلعنهم الملائكة والناس اجمعون.

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿۱۶۲﴾

همېشه به دوئ په لعنت کي وي چي د لعنة الله څخه معلوم سو، او نه سپکول کېږي ددوئ څخه عذاب يعني په ورځ کي د قيامت، او نه دوئ ته تاخير او مهلت ورکول کېږي، او يا معنا داده چي دوئ ته انتظار نه کېږي چي دوئ عذر ووايي ولي چي د عذر ويولو وخت دنيا وه هغه تېره سوه. او يا خدای ﷻ ودوئ ته په نظر د رحمت نه گوري هذا ماقاله البيضاوي رحمه الله مع زيادة من القندهاري، او بعض مفسران رح وايي چي ضمير د فيها راجع دی و «نار» ته.

سوال: نار په ما قبل کي نه دی ذکر سوی نو اضمار قبل الذكر به نه وي؟

ځواب: لعنة الله آه پر اور او نار دلالت كوي، ولي پر ځا چي لعنت د خدای ﷻ او د ملكو او د خلگو وي هغه به حتماً داخل النار وي، او بعض مفسران رح وايي چي ضمير و نار ته راجع كول بېله ذكره د هغه تعظيم د شان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د نار دی، یعني چي دوزخ داسي يو هولناکه دی چي بايد د اذهانو څخه د خلګو غائب او هېر نه وي، او تفسير مظهري صرف دونده قدر ويلي دي واضمار قبل الذکر تفخيماً لشانها . نو ځکه يې هغه بيان د تفخيم نه دی کړی او دا يې هم په متابعت کي د بيضاوي ويلي دي.

فائده: خالدين حال دی د ضمير څخه د عليهم او جمله ده د لا يخفف آه استيناف دی لپاره د بيان د کثرت د عذاب ددوئ د کيفيت له لاري، لکه چي خالدين فيها د عذاب ددوئ د مقدار د لاري.

فائده: باعث پر يهوديانو کتمان او پټولو د حال د آنحضرت ﷺ حب الرياسة والدنيا و، نو دوئ بېرېدل چي که موږ اظهار د نعت نبوي ﷺ وکړو نو دغه دوه منفعته زموږ د لاسه وځي نو يې عذاب د النار ته ځان وسپاری، وساء لهم سبيلا ، او په حديث کي چي روح البيان نقل کړی دی داسي راغلي دي چي په پېښو زمانو کي يو مسلمان او يو مشرک د ماهيانو د ښکار لپاره د درياب غاړي ته تللي وه نو مشرک چي به دام درياب ته اچاوه د خپلو بتانو او خدايانو نوم به يې اخستی. نو ماهيان به يې په دام کي لوېدل حتی چي ډېر ماهيان يې ښکار کړه او مسلمان به نوم د الله ﷻ اخستی او د هغه په دام کي ماهی نه لوېدی. او د لمر لوېدو په وخت کي يې يو ماهی په دام کي ولوېدی لکن چي ده ماهي خلاصوی د دام څخه هغه سره وښورېدی او درياب ته ولاړی، نو مسلمان خالي لاس کور ته ولاړی نو هغه ملکه چي د مسلمان پر حالاتو نګرانه وه هغې ددغه مسلمان پر حال اظهار د تاسف وکړی. نو څه وخت چي د هغې ملکي پېره پوره سوه او اسمان ته ولاړه خدای ﷻ ځای د هغه مؤمن په جنت کي ځای په وليدی نو ملکي وويل والله لا يضرها مااصاب اليه، يعني چي ماهی يې په دام نه سو بند ان يصير الی هذا يعني هذا المسکن في الجنة، او خدای ﷻ د هغه کافر ځای په دوزخ کي هم په وليدی، نو ملکي وويل والله مايغني عنه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ماصابه يعني چي د ېر ماهيان يې وڼيول بعد ان يصير الى هذا يعني مسكنه في النار كذا في شرح الخطب.

بيت

نرگس اندر خواب غفلت يافت بلبل صد وصال
خفته نا بينا بود دولت ببيداران رسيد

پوه سه: چي كه د سړي پر دې يقين وي چي په دغه غار كي لړم يا مار سته په هغه غار گوته نه چخي، نو د يهوديانو او يا نورو گناه گارانو گويا پر دې يقين نسته چي كافر يا عاصي ته عذاب اليم دوزخ سته العياذ بالله من ذالك.

وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ ﴿١٦٣﴾

ستاسي ټولو خداى ﷻ او معبود يو دى، نسته معبود يعني بالحق پرته الله ﷻ چي رحمان دى.

پوه سه: چي دا آيت خطاب عام دى لكن كاتمون د يهوديانو پكښې داخل دى، نو د ماقبل سره يې ربط حاصل كېږي فافهم، موږ وويل په تفسير كي "اله" يعني معبود بالحق ددې لپاره چي حكم د "واحد" پر صحيح سي ولي چي معبودات بالباطل خو ډېر دي. نو حاصل دادى چي مستحق د عبادت د ټولو خلكو يو دى او شريك نه لري او نه دا صحيح ده چي غير د خداى ﷻ دي څوك اله او معبود وبلي.

فائده: جمله د لا اله الا هو تقرير د واحدانيت د خداى ﷻ ده او دفع د توهم ددې ده چي په عالم وجود كي بل خداى ﷻ واجب الوجود به وي لكن مستحق د عبادت به نه وي، نو معنا ددې كلمې دلته داده لا واجب في عالم الوجود الا ذاته تعالى.

پوه سه: چي الرحمن الرحيم لكه دليل پر واحدانيت د خداى ﷻ دى. ولي چي معنا د الرحمن او الرحيم داده چي وركوونكي د ټولو نعمتو كه اصول وي او كه فروع. او ماسوا د خداى ﷻ يا به نعمت وي او يا به منعم عليه وي او دا دواړه خو يو د عبادت وړ نه دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الاعراب: الرحمن الرحیم یا دواړه خبر د الهکم دي او یا خبر د مبتداء محذوف دي ای هو الرحمن الرحیم.

فائده: د اسماء بنت یزید څخه روایت دی چي ما اورېدلي دي د نبي ﷺ څخه چي ویل یې چي په دې دوو آیتو کي اسم اعظم د خدای ﷻ موجود دی والهکم اله واحد لا اله الا هو الرحمن الرحیم ولا اله الا هو الحي القیوم. رواه ابو داوٗد وترمذي وابن ماجه والدارمي.

درویش وایي: چي باید علماء مونږ پوه کړي چي په دې دوو آیتو کي کلمه مشترکه سته چي هغه اسم اعظم وګرځي، که څه هم مظهري او روح البیان دغه حدیث مبارک راوړی دی لکن نور یې د هغه تفصیل نه دی کړی، نو هغه بعض علماء وه چي ویلي دي الحي القیوم اسم اعظم دی هغه ددې حدیث مخالف دي، اول په دې چي حي او قیوم خو دوه اسمه دي. او اسم اعظم خو یو اسم دی د باري عز وجل. او بل دا چي په اول آیت کي خو چي قیم نسته او دغه رنګه رحمن او رحیم خو په دوهم آیت کي هم نسته. او اله که په دواړو آیتو کي سته لکن اله منکر خو اسم د خدای ﷻ نه دی.

سوال: خو تا د "اله" ترجمه په مستحق للعبادة سره وکړه، او مستحق للعبادة بیله خدای ﷻ بل نسته؟

ځواب: هو درویش د "اله" ترجمه خو دا یوازي نه ده کړې بله تولله مفسرین په اجماع دا ترجمه کوي لکن په ترجمه سره خو اله د خدای ﷻ نوم نه ګرځي بلکه دا وصف عام دی، لکن منحصر په خدای ﷻ کي دی لکه خالق السموات یا رازق المخلوقات چي منحصر په خدای ﷻ کي خو دی لکن دا مضافین و امثالها خو د خدای ﷻ نومان نه دي کما لایخفی علی اولی النهی.

پوښتنه: دا حدیث مبارک خو صحیح دی کما مر نو ستا په نېز مشترکه کلمه په دوو حدیثو کي کومه کلمه ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: د درويش مختاره هغه ده چي امام اعظم سراج الامة وايي چي كلمه د الله اسم اعظم دى كما رد المختار وكما نقلته في ترجمتي لبعض الكتب الفقهية، او قول د امام اعظم ﷬ بعينه مفاد ددغه حديث مذكور كېداى سي، او كه څوک د درويش ښځه پوښتنه کوي چي څرنګ مفاد د حديث نبوي ﷺ او قول د ابو حنيفه يو كېداى سي.

درويش وايي: چي ما معذور وبله ته پخپله فكر وكړه لكن په ډېر غور سره يو امام وايي شكوت الى وكيع سوء حفظي فاوصاني على ترق المعاصي، فان العلم فضل من اله عطى الله لا يعطى للعاصى.

فائده: دال او مدلول په دې آيتينو مذكورتينو كي دواړه اسم اعظم دي اما چونكه دال او مدلول په هيئت اجتماعي سره يعني چي هر يو جلا وشمېري او بيا يې ضم كړي، په قرآن كريم كي دوه زره درېسوه نهه څلوېښت (۲۳۴۹) واره ذكر سوي دي، او كه حرف د نداء د طلب د حاجت جائز ورسره ضم كړي نو يې عدد دوه زره درې سوه شپېته (۲۳۶۰) كېږي نو ورد د مثاله روزي د طالب يو د عددينو مذكورينو ښځه وي وهذان العددان هما الماخوذان من الذكر في القرآن الكريم والا فعدد الدال سهل ۱۱ وعدد المدلول ۶۶ مع كل صلوة. وفائدة الذكر الكبير تصفية الباطن ده. او بل لطائف سته پر خپل كار باندي ګرځي لكن حضور د زړه شرط دى، او طهارت عن الحدثين هم شرط دى او عدم الفصل في العدد المذكور هم لازم دى.

فائده: كه يو وذكر ته دال يا مدلول په عدد مذكور او شرائط مذكوره و سره دوام وركړي آخر الامر به وصل د مطلوب نصيب سي.

قال المولوي المعنوي في مثنويه

از هوا ها كي رهي بي جام هو ... اى ز هو قانع شده بنام هو

هيچ نامي بي حقيقت ديده ... يا زكاف ولام گل گل چيده

اسم خواندي رو مسمى را بجو ... مه ببالادان نه اندر آب جو

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

گرزنام وحرف خواهي بگزري | پاک کن خودرا زخودهان یکسري
همچو آهن زآهني بی رنگ شو | در رياضت آينه بی زنگ شو
خویش راصافی کن از اوصاف خویش | تا بيني ذات پاک وصاف خویش
بیني اندر دل علوم انبياء | بی کتاب وبی معید واوستا
علم کان نبود زهوبی واسطه | آن نباید همچو رنگ ماشطه

اللهم اوصلنا الى حقيقة الحال لامحصورين في بلاغة المقال.

درويش وايي: چي دا وه توجيه د جمع بين الحديث المذكور في وجود الاسم الاعظم الآيتين المذكورتين فيه وقول امام الآئمة سراج الامة ابو حنيفة عليه من الرحمن الرحمة الخاصة في اليوم والليلة مدى جريان مذهبه في الامة المحمدية ﷺ آمين.

پوه سه: چي مشركانو چي دا آيت واورېدی "والهكم اله واحد آه" دوئ تعجب وكړی چي څرنگه اله يو دی د ټولو مخلوقاتو، او سره ددې چي مكه چي يو كوچنی ښار دی درې سوه شپېته (۳۶۰) معبودان پكښي موجود دي، نو عليه الصلوة والسلام ته يې وويل چي كه ته په توحيد د معبود كي صادق يې نو موږ ته يو دليل وړاندي كړه، نو دا آيت نازل سو اخرجه البيهقي رحمه الله في شعب الايمان، خفاجي رحمه الله وايي چي دا تعجب ددوئ او طلب د دليل پر توحيد ددوئ د غايت جهل څخه ناشي دی ولي چي خدای جل جلاله دليل ته د توحيد د معبود بالحق اشاره اجمالي په هو الرحمن سره وكړه.

إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ

تحقيق په پيدائښت كي د آسمانو او مځكي.

پوه سه: چي خبر د ان وروسته راتلونكي دی.

فائده: مراد له اسمانو څخه اسمانونه دي سره د مافيها من الشمس والقمر والكواكب او د مځكي څخه مراد مځكه سره د مافيها ده چي رودونه، ولي درختي قسم قسم، غرونه لوئ او كوچني، انواع د نباتاتو رقم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رقم، اقسام د حيواناتو او اختلاف د اقاليمو چي اوه دي الى غير ذالک.
هذا ماقاله المظهري رحمه الله.

پوه سه: چي مراد د مظهري دا نه دی چي په قرآني لفظ کي د سموات والارض دا ټوله مراد دي، لان هذه الارادة من الآية الکريمة ياباه العقل السليم. بلکه مراد دده دادی چي سموات چونکه اصل وه د مافيها لپاره وکذا الارض لمافيها، نو استدلال په اصل سره اشاره و استدلال بالفرع سره ده والله اعلم بمراد عباده.

پوه سه: چي امام مظهري په وجه د جمعيت د سموات او د افراد د مځکي داسي ويلي دي چي ډېر والى د اسمانو خو مخاطبينو مشرکينو ته ثابت و بناءً على مشاهدتهم تعدد حرکات الکواکب بخلاف الارض فان تعددها لم يثبت الا بالشرع والاستدلال انما هو معلوم عندهم انتهى.

وفيه نظر لان العرب الاول اى المشرکين لم يفهموا من حرکات الشمس والقمر وغيرهما من الکواکب تعدد افلاکها لان هذا الفهم انما يکون من الامرين في علم الهيئة والمشرکين لم يکونوا کذالک بل الماهرين من اهل الهيئة ايضاً لم يتيقنوا تعدد الافلاک من الحرکات المرصودة فانهم يحوزول اينکون ان يکون الفلک واحدا والشمس والقمر وغيرهما تتحرکوا في الخوارج والحوامل في ذالک الفلک الواحد بالماهية کما تقرر في التصريح وشرح الچغمني فانى للمشرکين الاميين علم تعدد الافلاک من الحرکات للکواکب، بلکه غالبه گمان به ددوئ دا و چي لمر او سپوږمۍ او ستوري په اسمان کي داسي روان وي لکه ماهيان په اوبو کي کمافسر البيضاوي قول تعالى "کل في فلک يسبحون" على طريق اهل الشريعة اى يسيرون فيها بانبساط کالحيتان في الماء. نو انسب امام مظهري لره داوه چي توجيه د جمعيت د سموات او افراد د ارض يې داسي کړي وايي چي لفظ د سموات په جمع سره او د ارض په مفرد سره په جاهليت کي مشهور و، نو يې ځکه استدلال په معلوم او مشهور عندهم سره ووايه بدون استناد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علمهم بذالک الی علمهم بجمعیة السموات الی رؤيتهم الحرکات المتعددة للکواکب فافهم هداک الله.

فائده: علامه مظهري رحمه الله په احادیثو مبارکه وو کي تر ډېرو مفسرینو لوړ مهارت لري او د احادیثو مبارکه وو په صحیح اسنادو او په جیدو او په ضعیفه ښه خبر دی او پخپل تفسیر کي یې په احادیثو مبارکه وو سره اسناد راوړی دی، او په علم تصوفو کي خصوصاً په طریقه علیه نقشبندیه کي د ژورو معلوماتو عالم دی لکن په باره کي د بیان د اعراباتو قرآنیه وو او د جملو فرقانیه وو شبراً بشبر تابع د قاضي بیضاوي دی او په ورته مسئله قبلي کي هم تابع د بیضاوي رحمه الله دی، نو قاضي بیضاوي وجه د جمعیت د اسمانو او د افراد الارض په دې عبارت سره ویلې ده، انما جمع السموات وافرد الارض لانها (اي السموات) طبقات متفاصلة (ای بعضها منفصل عن بعض حاشیه بیضاوي) متخالفة بالحقیقة بخلاف الارضین (لانها جنس واحد وهو التراب حاشیه) او مظهري هم بعینه دغه تفسیر نقل کړی لکن په لفظ د قیل، وروسته تر خپلي توجیه د جمعیت او افراد فتامل.

والعجب من بعض محققي شراح البیضاوي منهم نقلوا قول البیضاوي لان طبقات السموات متفاصلة آه وفسرها بقوله ای ممتازة کل واحدة من الاخری بذاتها الشخصیة سواء کانت مماسة کما هو رای الحکیم اولا کما جاء في الاثار ان بین کل سماء وسماء مسیرة خمسمائة عام آه، وقد مر ان مراد البیضاوي من لفظ متفاصلة انها منفصلة بعضها عن بعض کمامر لا امتیاز الماهیة الشخصیة ولهذا زاد البیضاوي قوله متخالفة الحقیقة لبیان ذالک التخالف الذي اورده ذالک الشارح، فتدبر غایة التدبر

فائده: اهل الحدیث وایي چي مځکه هم اوه طبقي ده، په منځ کي د هري طبقي او د بلي طبقي لوئ مسافت دی او په هغو طبقو کي نور مخلوقات سته کما وردت في الاحادیث الشریفة

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فائده: ابو حيان رحمه الله وجه د افراد د مځکي دا وايي چي جمع د ارض ثقيله وه او له قياسه مخالفه هم ده يعني ارضون. ولي چي جمع بالواو والنون د ذوي العقول لپاره ده نو له دې کبله يې جمع نه راوړه. او هم دا سبب دی چي خدای ﷻ داسي وايي ومن الارض مثلهن. يعني جمع يې نه راوړه چي ارضون دی بلکه تر هغه يې ډېر دوه لفظه راوړه.

درويش وايي: چي دا ډېره ښه وجه ده.

وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ

او په اختلاف کي د ورځي او شپې يعني په وروسته والي کيد شپې تر ورځي او د ورځي تر شپې، او دغه رنګه اختلاف د ورځي او شپې په نور او ظلمت کي او په طول او قصر کي او په حر او برد کي.

وَالْفُلْكِ الَّتِیْ تَجْرِیْ فِی الْبَحْرِ بِمَا یَنْفَعُ النَّاسَ

او په کيښتيو کي چي په درياب کي چلېږي.

پوه سه: چي لفظ د فلک جمع او مفرد پکښي برابر دی، فرق يې تقديري دی. يعني ضمه د فا چي مفرد وي لکه ضمه د قفل ده، او که جمع وي لکه ضمير د اُسُدٌ جمع اسد ده. او دلته لفظ د فلک جمع دی بقرينة اجزاء الصفة وهي تجری مونثاً عليها.

فائده: لفظ د "ما" په ماينفع کي يا مصدري دی ای بنفع الناس، او يا موصوله دی ای بالذي ينفع الناس. لکه وړل د اموالو د تجارت په دوئ کي يا سپرتيا په دوئ کي الى غير ذالک من المقاصد کسفر الحج والعمرة في الازمنة القديمة فيها.

پوه سه: چي حکمت په ذکر کي د فلک استدلال دی په احوالو او عجائبو سره د درياب، او ذکر د فلک له دې سببه يې وکړی چي سبب د دخول د بحر غالباً کښتي دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الاعراب: الفلک مجرور دی عطف دی پر خلق السموات باندي. او د تولو معطوفاتو خبر وروسته دی یعني قوله تعالی لآیات آه. او کلمه د با لپاره د مصاحبت ده نو معنا داده مصحوبة بما ینفع آه. او دا مصحوبت حال دی له فاعل څخه د تجري چي فلک دی.

وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن مَّآءٍ فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ

او په هغه شي چي نازل کړی دی خدای ﷻ له اسمانو څخه "من" لپاره د ابتداء دی، د ابو څخه دا من لپاره د بیان د مانزل دی، نو خدای ﷻ ژوندي کړي یعني په نباتو سره مځکه وروسته تر مرگ د مځکي، یعني چي هیڅ نبات نه و باندي لکه په وخت کي د ژمي، او خدای ﷻ منتشر کړی په مځکه کي یعني په سبب د باران د هر قسم دواب لان الدواب الارضية ودواب الجبال والصحاری ینموا بالخصب والمطر کما یدل علیه التجربة.

پوه سه: چي "بث" عطف دی پر انزل باندي او مراد له سماء څخه یا متعارف اسمان دی او یا وریځ ده، او یا نفس جو عالي دی

پوه سه: چي مقصود په دې آیت کي استدلال په نزول د باران. او په ذریعه د هغه د نباتاتو د نشو او نماء، او په هغه باران سره په مځکه کي د ډول ډول لوئ او کوچني حیواناتو د رزق زمینه برابري ده ففي هذه الآیة استدلال علی توحیده تعالی وقدرته من وجوه متعددة کما لا یخفی.

فائده: درویش وایي چي چونکه نطفه انساني مثلاً په رحم کي د ښځي په مثال د تخمو د نباتاتو په اعمالو کي د مځکي ده نو کله دا تخمونه چي تر یو وخته پوري جماد وي دغه رنگه نطفه په رحم کي د ښځي جماد وي. بیا څه وخت چي فصل د ربیع پر رارسیدو سي هغه تخمونه په مځکه کي پر حرکت راسي دغه رنگه چي خدای ﷻ وغواړي چي د نطفي څخه یو انسان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پيدا کړي نو هغه نطفه هم په رحم کي پر حرکت راسي. نو علقه سي بيا مضغه سي وهكذا الى ان تكون النطفة في الرحم انسان، او هغه تخمونه هم په مځکه کي دننه حرکت کوي تر څو چي نباتات څنډي جوړ سي، او تر مځکي را ووځي او مځکه سر سبز او شاداب سي او نضارت يې سبب د حسن وګرځي، دغه رنګه انسان چي د مور د رحم څخه را ووځي نو لوى لا، سي او د حسن او زيبايي څښتن سي. نو هم دا سبب دی چي د نضارت څخه د مځکي په نباتاتو سره تعبير په حيوة سره کېږي تشبيهاً بالانسان المولود، او چونکه رفته رفته حسن د نباتاتو مخ پر زياتېدو وي تر څو چي فصل د خريف پر راتلو سي نو نباتات مخ پر خزان او مړاوي روان سي څو چي فصل د ژمي پر راسي مځکه خپل نضارت او سر سبزي يکلخته له لاسه ورکړي، لکه د انسان چي عمر پر تېرېږي حال يې ابتر کېږي چي اجل موعود يې ورسېږي او مړ سي هغه حسن انساني ظاهري يکلخته له لاسه ورکړي. نو هم دا سبب دی چي د نباتاتو د نيستي والي څخه تعبير په موت الارض سره کېږي، هذا ماسنح بالبال و اشار الى بعض ماقلنا ابن الشيخ في حواشيه.

وَتَصْرِيفِ الرِّيحِ

او په ګرځېدو کي د بادو يعني شرقاً او غرباً وشمالاً وجنوباً ګاهي نرم او ګاهي تېز او ګاهي فائده مند او ګاهي ضررمند، او ګاهي تاوده او ګاهي ساړه، الى غير ذالک.

پوه سه: چي تصريف الرياح عطف دی پر ما انزل آه او بل دليل پر قدرت د باري ﷻ، د عبدالله بن عباس ﷺ څخه روايت دی چي لوی له لښکره څخه د خدای ﷻ باد او اوبه دي، الا ترى انه تعالى اهلک کفار قوم نوح ﷺ بجند ماء الطوفان واهلک فرعون المدعي لالوهية في ارض مصر ايضاً بجند ماء البحر واهلک عتاة قوم عاد بجند الريح وهكذا.

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ

او داغه رنګه وريځ چي مسخره ده په منځ کي د اسمانو او مځکي يعني نه کښته را شوه کېږي او سره ددې چي متحمل د ډېرو اوبو ده او نه سره پاشل کېږي، او سره ددې چي بادونه ورسره وي، ابن وهب رحمه الله وايي چي په درې شيانو سرې نه پوهېږي چي د کوم ځايه راځي، رعد يعني تالنده، برق يعني پېلبو او وريځ، او دا تسخير جاري به وي الى ماشاء الله تعالى.

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۱۶۴﴾

لام د تاکيد دی يعني ډېر د قدرت دلائل سته هغه قوم لره چي په عقل صحيح سره ددې شيانو فکر ووهي. سعدي

برګ درختان سبز در نظر هوشيار هر ورقی دفتريست معرفت کردګار

نو چي بلګونه د درختو د معرفت د قدرت الهي کتاب دی مع صغرها فکيف بهذه الامور العظام المذکورة في المعطوفات.

بوه سه: چي قوله تعالى "لآيات آه" خبر د ان في خلق السموات سره د معطوفاتو دی.

بوه سه: چي خدای ﷻ ډېر معطوفات په اسم کي ان کي ذکر کړه او په پای کي يې خبر راوړی تاچ په معطوفاتو کي د اسم ان انتظار د سامعانو وخبرو ته پيداسي چي علم پسله انتظاره ځخه اوقع په ذهن کي ګرځي او الذ هم وي.

جامي رحمه الله

چه خوش باش که بعد از انتظاري بامید رسد امیدواري

درويش وايي: چي تفاصيل ددغو دلائلو پر وجود د باري ﷻ او پر توحيد دده او پر قدرت تامه بلا معارضه دده چي په معطوفاتو کي ددې يې اشاره ورته وسول ډېر طويل الازيال دی که درويش دا ټولو اوهمه تفصيلات بيان کړي شايد سبب د ملال د سامعين محترم به وګرځي بلکه بعض مطالعه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کونکي بادرمشت به تر تېر سي، نو بيان تفصيلي به وخپل ځای علم کلام ته وسپارو لکن دا هم مقاله دائره ده پر السنه د عقلاؤ و ان مالايدرک کله لايترک کله" نو له دې سببه به دروېش بيان مجمل ددغو دلائلو مذکوره و سامعانو ته پېش کړي بتوفيقه تعالى وتوقيفه، نو واورئ چي دغه امور مذکوره په آيت کي د ان في خلق السموات بيا تر لآيات لقوم يعقلون پوري ټوله امور ممکنه دي يعني وجود او عدم يې برابر دی لانها ان کانت واجبة الوجود بالذات لما اتسمت بسمة العدم قبل الوجود وبورود العدم عليها بعد الوجود لان الوجوب الذاتي يابي عن العدم مطلقاً. نو چونکه دواړي پلې د ترازو د امکان سره برابري وي نو د يوې پلې تر بلې يعني وجود تر عدم وبالعکس يې سبب غواړي کمايفهم البله والصبيان، نو اوس مرجح د وجود د ممکن به يا به يې په دائره کي امکان وي يعني يو ممکن د بل ممکن مرجح الوجود سي، نو يا بيرته سلسله د ترجيح دمخ پر خوا راځي بالذات او بالواسطة، نو به دور مصرح يا مضمر لازم سي، او دور په اجماع د عقلاؤ باطل دی، او يا به سلسله د ترجيح پر مخ روانه وي الى غير النهاية فيلزم التسلسل او د تسلسل بطلان په عقولو سليمه و کي مرکوز دی، نو لازم داده چي مرجح د وجود الممکن ای ممکن کان به خارج وي له دائري څخه د امکان او دا خبره مسلم عند الکل ده چي موجود خارج عن دائرة الامکان هو الواجب لذاته فبطل مذهب الدهرية الذين لايقولون بالواجب بالذات، ثم يجب انيکون الواجب المؤثر في الممکنات واحداً في ذاته لانه لوتعدد الواجب کما يقوله المجوس الذين يقال لهم الثنوية، نو به تاثير ددغو دوو واجبين پر ممکن باندي يا په اجماع وي او يا پر تعقب وي او يا پر تبادل وي واجتماع المؤثرين على الاثر الواحد بانحائها الثلثة باطل کمابين في کتب الکلام وفي بعض کتب المنطق ايضاً کشرح القاضي هذا اذا لم يکن بين الواجبين تمانع واختلاف يعني يقتضى احد الواجبين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ايجاده والآخر يمنعه وان كان تمانع بينهما فاما ان يحصل مراد كلا الواجبين فيلزم اجتماع النقيضين واما ان يحصل مراد احدهما فيلزم عجز الآخر والعجز ينا في الوجوب بالذات باتفاق اهل العقل، واما امكان تصالحهما على ايجاد احدهما فلا ينفي امكانه التمانع بينهما على ماهو مقتضى الوجوب الذاتي واليه اشار الباري ﷻ بقوله لوكان فيهما الهة الا الله لفسدتا، واذا ثبت توحيد الواجب وتاثيره في عالم الخلق بالايجاد فيستحق هو للمعبودية دون الاصنام وغيره فبطل مذهب المشركين الذين يقال لهم الوثنية، واذا ثبت الايجاد والاعدام له تعالى فجميع الكمالات العلمية والعملية ونعم الدنيا والآخرة والآمها ايضا مستندة اليه تعالى بلا مشارك ولا معارض فيجب علينا معشر العباد ان نطلب كل مطلوب منه تعالى لا من الاصنام السفيلة والاصنام العلوية كالكواكب عند المنجمين.

سوال: بعض اهل اسلام طلب د خيراتو د ذات انور څخه د عليه الصلوة والسلام كوي بعد وفاته او يا د ارواح څخه د اهل القبور صالحينو څخه كوي نو دا شرک نه دی، لکه سلفيه او وهابيه چي وايي؟

ځواب: د هيڅ مسلمان دا عقيده نه ده چي عليه الصلوة والسلام يا اولياء الله الكرام معطي د نعمتو دي يا دافع د بلايا وو او د مصيبتو دي بلكه قصارى امرهم الطلب من الله ﷻ باستشفاع هولاء السادات الكرام والتوسل الى الله تعالى في مطالبه ببركات هولاء المقربين، والمنكر عن التوسل كالمنكر عن النبوة.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْدَادًا يُّحِبُّوْنَهُمْ كَحُبِّ اللّٰهِ

او بعض د خلگو څخه يعني مشركان هغه كسان دي چي دوئ معبود گرځوي ماسوا له خدايه ﷻ يعني بتان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي بعض مفسران وايي چي د انداد څخه مراد بتان د مشركانو دي، نو انداد جمع د ند ده چي معنا يې مثل دی يعني مشركان دغه بتان په زعم باطل خپل مماسل د خدای ﷻ بولي، په استحقاق كي د عبادت او تعظيم او محبت.

سوال: څه رنګه دوئ مساوات تر منځ د خدای ﷻ او بتانو وايي مع انه ورد في القرآن "ولان سالتهم من خلق السموات والارض ليقولن الله" يعني لايقولون خلقهن اللات والعزى مثلاً فاين التسوية؟

ځواب: روح البيان وايي چي دا تسويه ددوئ په تعظيم او استحقاق د عبادت تر منځ د الله او بتانو منافي نه ده اقرار سره ددوئ په ربوبيت د خدای ﷻ او يا هغه رئيسان ددوئ دي چي دوئ به يې اطاعت كاوه په ديني چارو كي، والدليل عليه قوله تعالى "اذا تبرء الذين اتبعوا من الذين اتبعوا" ولي تبرء له بتانو څخه نه ده متصوره بلكه د روساو له خوا كېږي قال البيضاوي ولعل المراد اعم منها وهو ما يشغل العبد عن المولى الحق اى عن امتثال او امره، روح البيان د صوفيه څخه دا قول را نقل كړی كل شيئ تشغلت به قلبك فقد جعلته في قلبك نداً له تعالى.

پوه سه: چي مراد د صوفيه وو دا نه دی چي پر دغه سړي احكام د مشرك جاري دي او محكوم بالشرك دی، حاشاهم الله من مثل هذه المقالة بل مقصودهم التشبيه لحال هولاء بحال المشركين الذي شغلهم عبادة الاصنام عن عبادة المعبود بالحق او اطاعة الرءساء الطغات عن قبول قول رسول الله ﷺ، او د مؤمن زړه كه په يو شي مشغول سي او غفلت قلبي باندي تاري سي او حقيقةً مشرك بالله او مؤمن بالطاغوت نه دی كمالايخفى. د عمرو ابن حصين څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ زما پلار حصين ته وويل چي ته د څو خدايانو اوس عبادت كوې؟ زما پلار ورته وويل چي د اوو چي شپږ يې په مځكه كي دي او يو يې په اسمان كي دی، نو عليه السلام ورته وويل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي ستا چي یو شی خوښ وي او یا د یوه شي څخه بېرېږي نو کوم خدای ﷻ ته خواست کوې ده ورته وویل الذي في السماء نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل فیکفیک الٰه السماء یعني هغه یو الٰه السماء دي بس دی. د نورو شپږو عبادت پرېږده، او علیه الصلوة والسلام ورته وویل ای حصینه که ته اسلام راوړې زه به داسي دوې کلمې دروښیم چي تاته په فائده وکړي. نو چي حصین رضی الله عنه مشرف بالاسلام سو او علیه الصلوة والسلام ته یې وویل چي هغه دوې کلمې راوښیه، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل قل اللهم الهمني رشدي واعذني من شر نفسي.

درویش وايي: چي دا دوې کلمې په حصین پوري تخصیص نه لري مورږ ته هم فائده کوي لانها من امور الدین ودینیه علیه الصلوة والسلام لا یخص بالشخص دون الشخص.

مسئله: بعض جاهلان معلوم الحاله خلګ وايي که یو شاګرد د استاد في علوم الدین تعظیم وکړي او یا محبت ورسره وکړي او یا یو سړی د اولیاء الله سره محبت ولري او تعظیم یې وکړي هغه هم تر دې آیت لاندي دی بلکه دغه جاهلان ټوله هغه آیت قرآنیه چي په شان کي د کفارو د مکې یا نورو مشرکانو نازل سوي دي پر ټوله عالم الاسلام یې تطبیق وي دوئ وايي چي دا هم اتخاذ من دون الله انداداً دی او دوئ وايي چي ټوله فراخه امت محمدیه ﷺ پسله سنه شپږ سوه ټوله مشرکان سوي دي او په عبادت د غیر الله اخته سوي دي او یوازي او یوازي ددوئ منحوس ګروپ موحدین دي استغفر الله من هذه الجرءة العظیمة والتفسیل في بعض رسائل هذا العبد في هذا الباب یعني البیانات الصادقة.

فائده: لفظ د "دون" په اصل وضع کي ظرف مکان دی، او دلته په معنا د غیر دی مجازاً، او روح البیان والا وايي چي د "اتخاذ" معنا صنع ده یعني یصنع انداداً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي اتخاذ په معنا د صنع حصر دی په بتانو کي ددوئ چي دوئ به دغه بتان د ډبرو وغيره وو څخه جوړول.

سوال: دغه بتان خو جمادات وه نو ضمير د هم چي مخصوص په عقلاو پوري دی په يحبون هم کي څرنگه ودې بتانو ته راجع کېدای سي؟

ځواب: دا ضمير پر زعم باطل د مشرکانو دی چي دوئ بـه دغـه بتان په داسي اوصافو ستايل چي هغه بـه د ذوي العقول اوصاف وه. مثلاً د خير غوښتنه ددوئ څخه وغير ذالک.

فائده: پوه سه چي محبت ميل ته د زړه وايي مشتق دی د حب څخه بفتح الحاء، او حب تخم او دانې تـه وايـي مثـل حب الحنطـة او حب الشعير وغيرهما، بيا يې لفظ د حب مستعار کړی وحبة القلب ته چي هغه يو تکی غوندي شی دی به منځ کي د زړه بيا يې له هغه څخه مشتق کړی حب بضم الحاء بمعنی ميل القلب الی الشيئ بحيث رسخ في القلب کذا في البيضاوي وروح البيان وغيرهما.

وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِلَّهِ ط

او هغه کسـان چي ايمـان يې راوړی وي هغـه سخت دی په محبت کي د خدای ﷻ تر مشرکانو پـه محبت کي د بتانو ولي چي د مسلمانانو څخه محبت د خدای ﷻ پـه هيڅ توگـه نـه قطع کېږي خصوصاً پـه وخت کي د شدائدو او مصيبتو بخلاف محبت المشرکين للاصنام ولي د هغو محبت پـه لږ شي د بتـانو څخه قطع کېږي خصوصاً پـه وخت کي د شدائدو او مصيبتو کمار چي مشرکان چي به په کښتۍ کي سپر بدل نو يو بت به يې ورسره وړی، او څه وخت چي به کښتۍ پـه درياب کي طوفاني سوه نو دوئ به هغه په درياب کي وغورځوی او د يارب يارب نارې به يې وهلې، او بل دا چي مشرکانو به يوه ورځ د يوه بت عبادت کاوه او چي تر هغه بت به يې ښه بت پيدا کړی هغه پخوانی بت به يې وغورځاوه.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

تجديد النظري: هغه کسان چي وايي چي محبان د اولياء الله او يا د شيخ مرشد هغه هم تر هغه آيت لاندي دی ومن الناس من يتخذ من دون الله الآية هغو ته موږ وايو چي دا کلماتْ والذين امنوا اشد حبالله په څرنګه پر تطبيق کړي آيا تاسي ګمان کوئ چي مذکوره محبت کونکي د اولياء الله اويا د مرشدانو دوئ اشد حبالله نه دي تر اولياء الله او مرشدانو فان قالوا نعم فهو کذب بواح ولي چي دغه محبت کوونکي په حالت د سراء د خدای ﷻ شکر وايي او په حال کي د ضراء د خدای ﷻ څخه دفع د ضراء غواړي نه ده اولياء الله څخه او نه د مرشدانو څخه؟

سوال: مريدان خو هم ومشائخو ته ورځي لپاره ددفع د ضراء؟

ځواب: دوئ چي مشائخو اوّ مرشدانو ته ورسي نو دوئ داسي ورته چي مرشد زما څخه دا ضرر دفعه کړه نو دوئ خو هيڅ څوک مرشد ته دا خبره نه کوي بلکه دوئ ومرشد ته وايي چي ته زما د ضرر لپاره وخدای ﷻ ته خواست او شفاعت وکړه چي زما څخه دا مصيبت او ضرر دفع کړي وهذا جائز الاترى ان الصحابة ﷺ حين قحطوا المطر قالوا لرسول الله ﷺ ادعوا الله ان يمطرونا آه او کما قالوا ، او په حديث متفق عليه کي راغلي دي چي امير المؤمنين عمر ﷺ په يوه قحط سالي کي استشفاع په عم رسول الله ﷺ يعني عباس ﷺ سره وکړه نو د مريد او د شيخ تر منځ خو هم بيله استشفاع بله موضوع نشته.

سوال: مشرکانو خو هم په بتانو سره استشفاع کوله کما قالوا هؤلاء شفعاؤ عندالله؟

خواب: استشفاع د بتانو وخدای ﷻ ته او استشفاع د مشائخو کرامو ډير فرق سره لري لان الاصنام لايسمعون تضرع الکفار اليهم وطلب الشفاعة منهم بخلاف المشائخ الکرام وايضاً الاصنام ليس لهم امکان التضرع الى الله عزوجل في حق المستشفع بهم بخلاف الاولياء والمشائخ فانهم يدعون ويتفرعون في حق السائل عنهم الهمة والدعاء فالفرق بين المشائخ والاصنام کالفرق بين العرش والفرش افلا يبصرون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَوْ يَرَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ ۙ اَنَّ الْقُوَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعَذَابِ ﴿۱۶۵﴾

پوه سه: چي بعض قاريان ولو ترى، بالتاء وايي نو خطاب دى ونبي ﷺ ته او يا وهر مخاطب ته نو پر دې تقدير الذين ظلموا يې مفعول دى، او دېر قاريان يې په ياء، سره وايي نو پر دې تقدير الذين ظلموا يې فاعل دى او مفعول يې محذوف دى يعني انفسهم، نو پر اول تقدير ترجمه داده كه ته وويني اى عليه الصلوة والسلام او يا اى هر مخاطب هغه كسان چي ظلم يې كړى وي يعني پر خپلو ځانو او پر دوهم قرائت يې معنا داده نه ويني الذين ظلموا خپل ځانونه، خو پر هر تقدير مراد الذين ظلموا څخه هغه كسان دي چي خداى ﷻ لره شريكان وايي يحبونهم كحب الله، او پر هر صورت خواب د "لو" محذوف دى اى لريت امراً فظيعاً عظيماً پر تقدير د خطاب اولندموا ندامتًا شديدةً پر تقدير د غيبت، اذيرون" هغه وخت چي ويني كفار عذاب يعني په ورځ د قيامت.

سوال: په نحو كي وايي چي "لو" او "اذ" پر ماضي داخلېږي او دلته پر مضارع داخل سوي دي؟

ځواب: په اخباراتو كي د خداى ﷻ مستقبل لكه ماضي ده په سبب د وجوب التحقق البته.

سوال: ځواب د "لو" د څه حكمت لپاره حذف سو؟

ځواب: مدخول د لو كه خوف شي و نو چي ځواب حذف سي كامله بېره به پيدا سي، او كه محبوب شي و كمال شوق به وځواب ته پيدا سي، او بله فائده د حذف عموماً داده چي مخاطب ومحذوف ته په انتظار وي نو څه وخت چي په قرائنو محذوف ورمعلوم سي الم د انتظار به يې دفعه سي او محذوف به يې په ذهن كي ښه قرار ونسي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جامي

چه خوش باشد که بعد از انتظاري / بامید رسد امید واري

فائده: اول روئت علمي دی او دویم روئت بصري دی.

پوښتنه: د الذین ظلموا څخه کمامر هغه کسان مراد دي چي خدای ﷻ لره شریکان وایي نو که داسي ویل سوي وایي "ولو یرون" بارجاع الضمیر الی الذین اتخذوا من دون الله انداداً نو اخصر عبادت به نه وای؟

ځواب: مفسران رح وایي چي "الذین ظلموا" وضع د اسم ظاهر ده په ځای کي د ضمیر لپاره د دلالت پر دې چي اتخاذ الانداد ظلم عظیم دی.

پوه سه: چي قاضي بیضاوي وایي ان القوة لله جمیعاً. سادمسدد مفعولي ده یری اول دی ای علی تقدیر الغیبة. او ځواب د "لو" کمامر محذوف دی وعبارته هکذا سادمسد مفعولي یری وجواب "لو" محذوف ای لو یعلمون ان القدرة والغلبة لله جمیعا اذعاینوا العذاب الله لندموا اشد الندم.

پوه سه: چي وان الله شدید العذاب عطف دی پر ان القوة آه باندي، وفائدة هذا العطف داده چي مطلق ان القوة لله جمیعاً پر سخت عذاب دلالت نه کوي لجواز ترک العذاب لهم بالعفو مع القدرة علیه فافهم.

درویش وایي: چي بیضاوي رحمه الله یو احتمال د عطف ان القوة لله جمیعا په داسي عبارت راوړی دی وقیل هو ای ان القوة آه متلعق د ځواب د "ولو" دی والمفعولان ای مفعولا د یری پر تقدیر د غیبت محذوفان دي والتقدیر ولو یری الذین ظلموا انداد هم لا تنفع. وهذان هما مفعولان لیری لعلموا. وهذا هو الجواب ان القوة لله جمیعا ولا ینفع ولا یضر غیره وهذا یعني ان القوة آه متعلق الجواب صح.

درویش وایي: په دې ځای که څه هم دا احتمال ضعیف دی لاحتیاجه الی حذف الجواب والمفعولین لکن سامع د عبارت د بیضاوي ددې احتمال حاصل او وجه د ضعف په ښه ډول په پوهېدلای سی، مظهري رحمه الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ودې احتمال ته من طرف خفي اشاره کړې ده په دې قول سره. ويحتمل انيكون ان القوة لله جميعا جواب لو والمعنى ولويرى الذين انداذهم لاينفع لعلموا ان القوة لله جميعا انتهى، ددې عبارت څخه د مظهري رحمه الله په طالب څه وفهموي چي څه شي محذوف دی او وجه د ضعف يې څه ده، والى الله المشتكى من هذا النقل والاخفاء که درويش داسي نقل او اخفاء کړې وای نو حاسدانو به ناري سورې جوړې کړې وای، والله الموفق.

إِذْ تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُوا مِنَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا وَرَأَوُا الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْأَسْبَابُ ﴿١٦٦﴾

پوه سه: چي اذ منصوب محلاً دی په اذکر مقدر سره، ته ذکر کړه هغه وخت چي بېزاره سي هغه کسان چي ددوئ متابعت کړه سوی وو يعني په دنيا کي چي رئيسان د مشرکانو وه، د هغو کسانو څخه چي ددوئ متابعت يې کاوه يعني تابعان وهذا في يوم القيامة، او بعض مفسران رح وايي چي مراد د متبوعينو څخه شيطانان دي يعني دوئ د خپلو تابعانو انسانانو څخه بېزاره سي، او دوئ يعني متبوعين او تابعين ووينې عذاب يعني جهنم دار البوار.

پوه سه: چي جمله د رءوا العذاب حال ده د متبوعينو او تابعينو څخه لکن په قرار د قانون نحوي چي ماضي چي حال واقع سي قد، غواړي نو که ظاهر نه و نو مقدر دی ويحتمل چي ورءوا العذاب دي عطف وي پر تبرء الذين آه باندي، او د اسباب څخه مراد اسباب د محبت دی چي ددوئ تر منځ به وه په دنيا کي لاغراض فاسدة.

فائده: حبل په اصل وضع کي هغه رسۍ ته وايي چي سړی درختي يا بام ته پر پروته کېږي ثم استعير لموجبات المحبة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَالَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُوا مِنَّا

پوه سه: چي كه څه هم قال صيغه ماضي ده، او دا وينا خو د قيامت په ورځ كېږي نو هغه خو مستقبل ده لكن مفسران رح وايي چي امر مستقبل چي يقين الوقوع وي په ماضي سره يې تعبير روا دی، نو معنا د آيت داده چي وايي به هغه كسان چي تابعان وه په دنيا كي او كفر يې د رئيسانو په وينا مختاره كړی و، كه موږ ته راكړه رجوع ودنيا ته نو به موږ هم بېزاره سو ددوئ څخه يعني د رئيسانو څخه د كفر، لكه چي دوئ بېزاره سوه زموږ څخه په ورځ د قيامت، يعني هيڅ فائده يې نه راوه رسېدل.

فائده: نو بياد هيڅ انسان د بل انسان په متابعت سره كفر او عصيان د خدای ﷻ ونه كړي تاچي په ورځ د قيامت ددغسي بې فائدې تمنا سره مخامخ نه سي.

كَذَٰلِكَ يُرِيهِمُ اللَّهُ أَعْمَالَهُمْ حَسَرَاتٍ عَلَيْهِمْ ۖ وَمَا هُم بِخَارِجِينَ مِنَ النَّارِ ﴿١٦٧﴾

او دغسي لكه چي خدای ﷻ ويلي دي په دوئ يعني تابعان به ووينې عملونه ددوئ چي متابعت د رئيسانو د كفر دی پښېماني پر دوئ، او نسي وتلای تابعان په دغه پښېمانی. له اوره څخه يعني له دوزخه ودنيا ته كما تمنوا ذلك.

فائده: بعض مفسران رح وايي چي كذالک مفعول مطلق دی د يريهم. ای مثل ذالک الارائة يريهم آه، او بعض مفسران رح وايي چي كذالک خبر د محذوفي مبتداء دی ای الامر كذالک نو ځكه بعض قراء وقف پر كذالک كوي ولي چي كذالک د ماقبل او مابعد څخه قطع سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: رونیت که علمي وي خو دوه مفعوله غواړي نو چي باب ته د افعال نقل سي نو درې مفعوله غواړي، مفعول اول يې ضمير د "يريهم" دی او مفعول ثاني يې "اعمالهم" دی او دريم مفعول يې "حسرات" دی او که رونیت بصري وي نو په باب کي د افعال دوه مفعوله غواړي نو حسرات حال دی د اعمالهم څخه.

فائده: مقتضی د مقام يعني د تابعانو د تمنی خو داوه وما يخرجونَ من النار ولي چي تمنی ددوئ خو د مستقبل خروج لپاره وه لکن خدای ﷻ جمله اسميه راوړه په ځای د مضارع لپاره د مبالغې في خلودهم في النار او د قطع د امید ددوئ د رجوع څخه و دنيا ته.

پوه سه: چي امام مظهري رحمه الله په متابعت د بيضاوي صرف دا ويلي دي اصله وما يخرجون آه نور يې نو اصليت د جمله فعليه وجه نه ده ويلې.

فائده: د سدي رحمه الله څخه روايت دی چي کفار چي دوږخ ته خدای ﷻ داخل کړي نو دوئ ه ددوئ ځايونه په جنت کي ورښکاره کړه. يعني که تاسي ايمانونه په دنيا کي راوړي وای نو دغه به مو ځايونه وای. نو دوئ به ډېر حسرت او ندامت وکړي د دنيا پر کفر باندي نو څکه خدای ﷻ وايي وكذالک يريهم الله الآية. **بيت**

په دنیا غم د آخرت کوه انسانه — چي هو ر ې به نه يې ته پښيمانه
په دنيا کي توبه وکه له ګناه سه مسلمانه — د آخرت توبه په کار نه ده ای خوانه

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ كُلُوا۟ مِمَّا فِى ٱلْأَرْضِ حَلَٰلًا طَيِّبًا

ای خلګو خورئ بعض د مافي الارض څخه چي حلال از روي شرع او لذيذ من جهة الطبيعة وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شان نزول: روح المعاني وايي چي دا آيت نازل سوی دی په مشركانو كي د مكې چي دوئ پر ځانو حرامي كړي وې بحيره، سائبه، وصيله، او حام كما ذكره ابن جرير وابن عباس ﷺ.

پوه سه: چي د مذكوره حيواناتو بيان به په دې تفسير كي راسي په خپل ځاى كي ان شاء الله. او بعض مفسران رح وايي چي دا آيت په عبدالله بن سلام و امثاله كي نازل سوی دی چي دوئ د اوښ غوښي پر ځان حرامي گرځولي وې وروسته تر اسلام ولي په دين كي د يهودو سابقًا پر دوي حرامي وې والى هذا اشار الباري عزوجل ﴿ياايها الذين آمنوا الدخلوا في السلم كآفة﴾ او بعض مفسرين وايي چي دا آيت په شان كي د قوم ثقيف او د بني عامر او د خزاعه او بني مدلج نازل سوی دی چي دوئ خرما او پنير پر ځانو حرام كړي وه، او تفسير مظهري ورته مختصر شان نزول بيان كړی دی، او روح البيان او بيضاوي وايي چي دا آيت نازل دی په شان كي د يو قوم چي هغو پر ځانو حرام كړي وه رفيع الاطعمة والملابس القاخرة. لكن دوئ دا تفصيل نه دی كړی چي دا خلگ مسلمان وه چي دا شيان يې پر ځانو حرام كړي وه لپاره د غلبه پر نفس اماره چي د جهاد اكبر په نامه يادېږي لكه په دې حديث كي چي اشاره ورته سوې ده چي آنحضرت ﷺ چي د يوې سختي غزا څخه مديني منورې ته راغلى داسي يې وويل ﴿لقد رجعنا من الجهاد الاصغر وبقي الجهاد الاكبر او كما قال﴾

پوښتنه: جهاد د كفارو يې جهاد اصغر وباله او جهاد د نفس يې جهاد اكبر وباله سبب يې څه دی؟

ځواب: يوه وجه خو داده چي دښمن د جهاد اصغر چي كافران دي په سترگو معلومېږي او دښمن د جهاد اكبر چي نفس دی محسوس بالبصر نه دی. او بله وجه داده چي جهاد اصغر د كفارو سره گاهي وي او گاهي نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وي، او جهاد اکبر لیلا او نهارا الی تمام مدة العمر جاري دی، او که دا کسان کافران وه نو د بیضاوي او روح البیان مراد هم کافران دي نو امکان لري چي ددوئ به هم مراد هغه کسان وي چي تفسیر مظهري ورته اشاره کړې ده کمامر، او که مراد مسلمانان وي نو دا مسئله تفصیل غواړي. تفصیل یې دادی چي که یو مسلمان لپاره د جهاد اکبر مطعومات شهیه او خوراک لذیذه نه خوري او فاخره کالي نه اغوندي دا خو ډېر ښه کار دی او پخپله د آنحضرت ﷺ او د صحابه کرامو ﷺ او د صوفیه کرامو رح داغه د جهاد اکبر لاره غوره کړې وه، په حدیث مبارک کي راغلي دي علیه الصلوة والسلام وایي که زه د خدای ﷻ څخه وغواړم چي د احد غر دي د سرو زرو وي او هر ځای چي زه یم زما سره دي وي خدای ﷻ یې کوي لکن اخترت جوع الدنیا علی شبعها او کما قال. د غزوه الاحزاب او په بل نامه غزوة الخندق په بیان کي راغلي دي چي آنحضرت ﷺ د خندق په کار کي په خپله ونډه اخستې وه او پر خپله مبارکه شا به یې د خندق څخه خاوري چلولې او پر نس مبارک یې د لوږي له کبله ډبرې تړلې وې او دا شعر یې وایه

اللهم لا یعش الا عیش الاخرة فاغفر الانصار والمهاجرة

او صحابه کرامو ﷺ به یې په ځواب کي دا ویل

نحن الذین بایعوا محمدا علی الجهاد ما بقینا ابدا

چي ددې قصې تفصیلي بیان به په دې تفسیر کې په خپل ځای باندي یعین په سیپاره ۲۱ سورة الاحزاب کي راسي ان شاء الله تعالی.

لکن خبره په دې کي ده چي حرام ګرځول د حلال شي پر ځان باندي څرنګه ده نو ددې خبري جواب دادی چي چونکه تحلیل د شي او تحریم د شي د خدای ﷻ کار دی باید مسلمانان په دې دوو کارو کي مداخلت ونه کړي. لکن بیاهم تحریم د حلال پر ځان باندي ګناه کبیره نه ده بلکه خلاف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الاولی کار دی لقوله تعالی ﴿یا ایها النبي لم تحرم ما احل الله لک الآیة﴾ چي تفصیل ددې آیت او شان نزول د هغه په دې تفسیر کي به په خپل ځای کي راسي ان شاء الله تعالی، او بعض فقهاء رح وایي که چا نقض د تحریم الحلال وکړی یعني سړي یو حلال شی حرام وګرځولی وو او هغه ماته کړه کفاره په کفارة الیمین نو پر هغه کفارة الیمین لازمه ده.

پوښتنه: د عقائدو په کتابو کي وایي چي تحریم د حلال یا تحلیل د حرام کفر دی؟

ځواب: په عقائدو کي مراد دادی چي یو سړی یو حلال قطعي حرام وبولي. او یا یو حرام قطعي حلال وبولي مطلقا هغه کافر دی مثلاً یو سړی ووایي چي د پسه غوښي حرامي دي او سره ددې چي د پسه غوښي خو حلال قطعي دي، او یا ووایي چي د خنزیر غوښي حلالي دي او سره ددې چي هغه خو حرامي قطعي دي په دواړه صورتو کي سړی کافر کېږي په مانحن فیه کي خو تحریم الحلال داغسي نه دی ولي چي د سړي او مسلمان خو دا مراد نه دی چي دغه حلال شی مطلقا حرام دی یعني ټوله خلګو ته بلکه دی خو داسي وایي چي دغه حلال شی پر ما حرام دی یعني ددې مثال داسي دی لکه یو مسلمان د حلال شي څخه قسم واخلي چي زه به دا کارنه کوم

فائده: من" په "مما" کي لپاره د تبعیض دی ولي چي ټوله مافي الارض خو نه خوړل کېږي.

فائده: حلالا مفعول د کلوا دی او یا حال د ماموصله څخه دی ای حال کون مافي الارض حلالا، او یا صفت د مصدر محذوف دی اي اکلا حلالا"

فائده: د حلال معنی داده چي شرعا حرام نه وي، او د طیب معنی بعض مفسران داسي کوي ای مایستطیبه الشرع نو پر دې تقدیر توضیح د حلال ده لکن چونکه افاده خیر ده تر اعاده نو باید تفسیر د طیب داسي وکړه سي چي د شهوة مستقیمه خوښ وي یعني د سړي او مسلمان د طبیعت سره برابر وي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

یعنې دانه ده لازمه چې شی حلال وي نو خواه ماخواه بې سرې خوري، ولې داسې حلال شیان ډېر دي چې د سړي طبعاً نه وي خوښ، مثلاً د شلغمو خوراک خو حلال دی بې شکه او شبهې لکن بعض کسانو ته تبعاً خوند نه ورکوي، نو دی مکلف نه دی چې خواه ماخواه به یې خوري وامثال هذا کثیرة في المطعومات والمشروبات، او بعض علماء وایي چې مراد له حلال څخه هغه دی چې د حرمت یقیني څخه خالي وي، او مراد له طیبه هغه دی چې شبه د حرمت هم نه وي پکښې کما في الحدیث النبوي ﷺ الحلال بین والحرام بین وبینهما امور مشتبهة لا یعلمها کثیر من الناس الحدیث.

درویش وایي: لکه بیعه وفا یعني ګروي چې تر اشتباء لاندې ده یا بیوع فاسده د عوامو چې دوی نه په پوهېږي، یا حوالې د تجارانو النقد بالنسیة چې علماء پـه پوهېږي او تجاران نه پـه پوهېږي، نو مسلمان لره لازمه ده چې په معاملاتو کې تحقیق د علماؤ متبحرینو څخه وکړي او تر اشتباه لاندې معاملو څخه احتراز کوي او په پوښتنه د امام مسجد چې ناقص العلم وي یا صرف قاري صاحب وي دا معاملاتې ددوی د اشتباه څخه نه وځي، او کاشکې ناقص العلم ملا چې خپل په نقص ښه پوهېږي د هغه امي څخه چې له ده څخه یې د مشتبه مسئلې پوښتنه کړې وای مهلت یې خندي اخستی وای او بیا دغه ناقص العلم د کامل العلم څخه پوښتنه کړې وای او بیا یې هغه امي سائل ته ځواب ورکړی وای.

فائده: مناسبت ددې آیت له ماقبله سره دادی چې مقتضی د محبت الهي دانه ده چې سړی به ترک د طیباتو خواه ماخواه کوي فضلا عن تحریمها کذا في التفسیر الرحماني.

وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۱۶۸﴾

او تاسې متابعت او پیروي مه کوي د ګامو د شیطان ولې چې شیطان ستاسې مبین العداوة دښمن دی یعني په کفر او معاصي و عموما او خصوصا په تحریم کې د حلال او یا په تحلیل کې د حرام متابعت د شیطان مه کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې متابعت د ګامو د یو چا دادی چې یو سړی پر لاره روان او بل سړی ګام پر ګام پسې روان وي، چې دې ته کمال متابعت في المشي وایي. لکن په آیت مبارک کې متابعت د خطوات الشیطان استعاره تمثیلیه ده لپاره د اقتداء په شیطان پسې په شرک او معاصیو کې. او دا هم احتمال سته چې په "لاتتبعوا" کې دې استعاره تبعیه وي، وبیان هاتین الاستعارتین في علم البیان.

فائده: علت د منع د متابعت د شیطان دادی چې دی بین العداوة د ښمن دی په نیز د ذوي البصیرة مسلمانانو حتی ګاهې شیطان مسلمان په طاعت سره امر کړي تاچې د طاعت له لارې یې په لوی مصیبت مبتلاء کړي، مثلاً ګاهې شیطان مسلمان ته دا وسوسه پیدا کړي چې نن شپه په نفلو سره روڼه کړه نو هغه مسلمان نفلي لمونځو ته چمتو سي او تر صبح پورې په ښه اخلاص نفل وکړي، نو چې صبح صادق سي سړی بې خوبه او ستړی سوی هم وي نو شیطان ورته ووایي چې اوس نو خپل د سهار لمونځ فرضي په خپل کور کې وکړه یعني جماعت ته مه خه بس دی ګرده شپه دې ډېر عبادت وکړی کرار ورته بیده سي، نو دی هم دغسې وکړي او کرار لمونځ بې جماعته اداء کړي او دی په زړه ډېر خوشحاله هم وي لکن شیطان دد ي لارې له عبادت سره سړی په لوی مصیبت سره اخته کړي، ولې چې جماعت خو یا واجب او یا سنت موکده و او هغه د ټولې شپې نفل د جماعت د ترک ځای نه سي نیولای په ثواب کې، او یا یو سړي ته وسوسه ورواچوي چې د روژې په میاشت کې د هري جمعې په ورځ یو یا دوه غوایي خیرات کړه او د روژیاتیانو نر او ښځو وکورو ته یې ورواستوه چې مسکینان مسلمانان روژه مات او پېشلمی په وکړي. تاته به یې خدای ﷻ خومره ثواب در کړي، او هغه سړي هم دغسې وکړي او په خپل نفس کې ډېر خوشحاله وي چې څونده عبادت او خیرات دي ددې روژې په میاشت کې وکړی لکن پر هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سرږي په لکهو روپۍ فرضي زکوة لازم وي، د زکوة په ورکړه کي شیطان په زړه کي د هغه سستي پیدا کړي حتی چي یو څو روپۍ بعض مسکینانو ته ورکړي بیا کرار ورته کښېني زکوة تولـه نوش جان کړي، او دا ناپوه مسلمانان په دې نه پوهېږي چي زر غوایي خیرات کړي د زکوة د زرو رپو خای نه سي نیولای وعلی هذا فقس مکاید الشیطان لاتباعه والتفصیل لهذا المکائد الشیطانیة في مکتوبات الامام الرباني رحمه الله.

فائده: خطوات بعض قاریان په دوو پېښو وایي او بعض قراء یې په پېښ د خا او سکون د طاء وایي او پر دواړو تقدیرو جمع د خطوة ده وهو مابین قدمي الماشي چي موږ یې گام بولو، او بعض قاریان خطوات په دوو فتحو وایي چي جمع د خطوة بالفتح علی وزن فعلة للمرة وهي المرة من الخطو.

پوه سه: چي د شیطان عداوت د بني نوع سره انسان قدیم دی او د آدم علیه السلام راایسته جاري الی یوم القیامة اعاذنا الله من اضلاله ایانا آمین.

إِنَّمَا يَأْمُرُكُم بِالسُّوٓءِ وَالْفَحْشَآءِ وَأَن تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿١٦٩﴾

پوه سه: چي دا جمله بیان دی او علت دی د عداوت د شیطان او د وجوب د ځان ساتني دده له متابعت څخه نو ځکه یې عطف ونه کړی.

سوال: شیطان خو علو او تسلط پر خلگو او انسانانو نه لري او په امر کي خو علو شرط ده قال الله تعالی لیس لک علیهم سلطان.

درویش وایي: چي ددې سوال دوه جوابونه دي، اول جواب دادی چي په اصول الفقه او علم النحو کي وایي چي په امر کي علو واقعي شرط نه ده بلکه شرط استعلاء ده یعني عد الآمر نفسه یعني چي آمر ځان عالي بولي که څه هم په واقع کي عالي نه وي او شیطان خو ځان عالي بولي. قال الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعالی حکایة من الشیطان لاحتنکن ذریته ای ذریت آدم علیه السلام او بیضاوي رحمه الله یو ډېر ګران جواب ورکړی دی چي خدای جل جلاله مشابه کړي ښائسته کول د شیطان و خلګو ته اعمال د شر او کفر په امر سره د آمر لپاره د تنبیه پر ببعقلي د تابعانو د شیطان او د تحقیر د شان ددوی نو اولا استعاره د مصدر چي تزیین الشیطان دی د مصدر سره چي امر الآمر دی وکړه نو بیې اولا اطلاق د مشبه به چي امر دی پر مشبه وکړي چي تزیین الشیطان دی وروسته یې له امر ځخه یامرکم فعل مضارع جوړه کړه، چي ودې استعارې ته تبعیه وایي وتحقیق تلک الاستعارة في علم البیان.

یوه سه: چي سوء او فحشاء هغه شي ته وایي چي عقل سلیم یې بد بولي او شرعه شریفه یې هم منکر بولي.

سوال: عطف خوځه ناځه تغایر د معطوفینو چي عطف تفسیري نه وي غواړي؟

ځواب: په دې ځای کي هم تغایر موجود دی، ولي ګناه کبیره ته سوء وایي چي عاقل سړی په غمجن کېږي لانه من سائه یسوء سواء وسائة ای اخرنه او فحشاء چي مصدر پر وزن د باساء او ضراء یې په دې بولي چي عقل یې مستقبح بولي قاله البیضاوي وتبعه المظهري، او بعض مفسرین وایي چي سوء ټولو قبائحو ته شامل دی یعني که صغائر وي او که کبائر وي، او فحشاء هغه معاصي ته وایي چي ډېر قبیح یعني کبائر ګنهونه، او بعض مفسرین وایي چي سوء هغه معصیت دی چي حد شرعي نه لري او فحشاء هغه ګناه ده چي حد شرعي لري لکه زنا شرب الخمر وغیرهما شارحانو دا دواړه تفسیره ضعیف ګڼلي دي لکه چي بیضاوي هم په قیل اشاره ورته کړې ده، وجه د ضعف یې داده چي خدای جل جلاله ټولو ګنهونو ته سوء ویلي دي في قوله ﴿من کسب سیئة الآیة﴾ او ګرده ګنهونو ته یې فواحش هم ویلي دي في قوله ﴿انما حرم ربي الفواحش﴾

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فائده: مراد د مالاتعلمون څخه خدای ﷻ ته شریک ویل او تحریم د حلالو شیانو او تحلیل دحرامو شیانو دی.

تحقیق اصولي: پوه سه چي علم په اصطلاح د شریعت مقابل د ظن دی یعني علم یقین ته وایي نو مجتهدین رحمهم الله خو په مسائلو قیاسیه وو کي خو یقین نه لري پر حکم قیاسي باندي، نو دا ددوئ تر مالا یعلمون لاندي نه راځي؟

والجواب على ماقاله المحقق التفتازاني رحمه الله في التلويح والعلامة البيضاوي في كتابه في علم الاصول وصاحب الحسامي وغيرهم من محققي المذاهب الاربعة، وحاصله ان الشارع جعل ظن المجتهد مناطا للاحكام الاجتهادية وعلة لها كما جعل الفاظ العقود من البيع والشراء والنكاح وغيرها علامة على العقود فمتى تحقق ظنه بوجه القياس علم قطعا ويقينا ماكان منوطا به من الاحكام فقد افضى ظنه الى العلم بالاحكام انفسها ووجب عليه العمل بمقتضى ظنه فالطريق ظني والمقصد علم متحقق بخلاف ظن المشركين فيما يعبدونه فان الشارع لم يعتبر ظنه بل نفاه فحصل الفرق البين بين ظن المجتهدين وظن المشركين وقال بعض المحققين رح ان العمل بالقياس واجب من جهة الشارع دفعا للحرج في الدين فكان العمل بالقياس قولا على الله بما نعلم لا بما لا نعلم

درویش وایي: چي مزید تحقیق ددې دوو جوابو دي په کتابو کي د اصول الفقه مطالعه کړه سي وقد اشار الى الجواب الاول المحقق البهاري رحمه الله في مسلم الثبوت وفصله بحر العلوم.

درویش وایي: چي دا و جواب له جانبه څخه د مقلدینو هغو کسانو ته چي د قیاس څخه منکر دي لکه وهابیه، سلفیه. اصحاب ظواهر الحديث وغيرهم والعجب منهم انهم يعملون بالخبر الواحد مع كونه ظنيا على ما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تقرر في کتب اصول الحدیث وینکرون مظنون المجتهد مع انه ماخوذ من الآیات القرآنیة او الاحادیث النبویة فعلیهم بیان الفرق بین الظنین والله اعلم

فائده: صاحب د روح البیان وایي چي سوء هر هغه گناه ته وایي چي سړی په غم کي اچوي په عاقبت کي او ټولو معاصي ووته ویل کېږي که اعمال الجوارح وي او که اعمال القلوب وي لاشتراک کلها في انها تسوء صاحبها وتحزنه، او فحشاء عطف د عام دی پر خاص ای اقبح انواع المعاصي او اعظمها فالزنی فاحشة والبخل بالزکوة فاحشة واصل الفحش مجاوزة الحد في کل شیئ.

پوه سه: چي مرتبې د وسوسو د شیطان شپږ دي (۱) اول مرتبة الکفر والشرک او عداوت د رسوله سره د خدای ﷻ که شیطان په دې مرتبه کي کامیابه سي نو ډېر مستریح سي لانه منتهی امنیة (۲) دوهمه مرتبه بدعت دی په معتقداتو کي او شیطان په بدعت تر زناء او نور د فسق تر کارو ډېر خوشحاله وي ولي چي صاحب المعصیة خو گاهي د خپل فسق له کارو توبه کاږي، او صاحب البدعة خو توبه نه کاږي ولي چي دی په دې بدعت کي ځان پر حق بولي (۳) دریم چي د شیطان د بدعت څخه هم امید قطع سي، بیا نو مسلمانان پر کبیره گنهونو باعثه کوي علی اختلاف نواعها (۴) څلورم چي کله ددې څخه هم نا امیده سي نو مسلمانان پر صغیره گنهونو باعثه کوي چي سره جمع یې کړي کبیره څندي جوړېږي، قال علیه الصلوة السلام ایاکم ومحقرات الذنوب، ولي چي ددې مثال داسي دی لکه چي یو سړی لږ لږ بوټي سره جمع کوي اخر چي اور ورواچوي لویه لمبه وکړي او گاهي ټوله کور اور څندي واخلي.

(۵) پنځم کله چي ددې څخه هم عاجزه سي بیا مسلمانان په داسي مباحاتو کارو اخته کړي چي نه ثواب پکښي وي او نه عقاب، د شیطان په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دې کي دا فائده وي چي بنده خومي د ثواب له کارو معطله کړي. مثلاً په بې ځايه مجلسو او بانډارو يې اخته کړي په عوض د ذکر يا تسبيح وغيره

(۶) شپږم، چي ددې کاره څخه هم ابليس نا اميده سي نو مسلمانان له يو افضل کاره څخه په مفضول کار اخته کړي، مثلاً مسلمان ته په زړه کي ورواچوي چي ننه شپه ټوله په نفلي عباداتو يا لمونځ يا تلاوت القرآن سره مشغوله اوسه، نو چي سپېدې را وچوي نو ابليس دا وسوسه ورواچوي چي ننه شپه دي ببخي ډېر عبادت وکړی نو خپل د سهار لمونځ کور ته وکړه او کرار بيده سه د ورځي به دي دماغ سم وي، او سړی هم هغسي وکړي يعني د جماعت لمونځ پرېږدي، او دمخه په حديث کي د عمر ﷺ ددې مثال تېر سو

فائده: د خدای ﷻ په پيدا کولو کي د ابليس او سره ددې چي د ابليس خباثت په علم ازلي کي خدای ﷻ ته معلوم و، حکمت دادی چي خبيث د انسانانو له طيب څخه جلا کړي، نو انبياء عليهم السلام ددې لپاره خدای ﷻ را استولي دي چي سعداء او نېک بختان خلگ اقتداء پسي وکړي، او د ابليس د خلق دا حکمت دی چي اشقياء اقتداء پسي وکړي فيظهر الفرق بين الفريقين في الدنيا وكذا في الآخرة فيدخل الله الانبياء مع من اقتدى بهم دار الابرار يعني الجنة دار النعيم والقرار ويدخل الله ابليس مع مقلديه دار البوار جهنم والنار فابليس دلال على النار او راس المال د ابليس دنيا ده کافرانو د ابليس گويا په زبان حال پوښتنه وکړه چي ددنيا قيمت څه شی دی ابليس ورته ووېل ترک الدين فقالوا نعم، او پر زاهدانو چي دنيا عرض کړه هغو اعراض څنډي وکړی او په انبياء عليهم السلام پسي يې اقتداء وکړه فعلى العاقل ان يزهد ويرغب عن الدنيا ولا يقبل منها الا الحلال.

پوه سه: چي طلب د حلالي دنيا په داسي کسب سره چي هغه په شرعه شريفه کي روا وي سنت او طريقه د انبياء عليهم السلام ده او په کسب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حلال کي ډېري فائدې سته (۱) اول، که يې تجارت کاوه يا دکان فائده يې زياته وي پر راس المال ده (۲) که يې زراعت او کښت کاوه او يا يې مېوه داري درختي لکه انګور اينځر وغيره کښېښولې نو فائده يې صدقه ده پر مرغانو او نورو حيواناتو (۳) بله فائده د کسب داده چي کاسب سړی د خپل کسب په سبب د لهو او لعب او بيځايه ناستي څخه خلاص وي (۴) په کسب کي کسر النفس راځي او سرکښي د کاسب لږ وي، لکن په شرط ددې چي نقود د تجارت د قارون درجې ته نه وي رسېدلي. والا فقد قال الله تعالى ﴿ان الانسان ليطغى ان راٰه استغنى﴾ (۵) په کسب کي سړی د سوال او فقر الذي هو سواد الوجه في الدارين د سائل کېږي، او څوک چي د اولاد د ساتني لپاره کسب کوي هغه ته دا ويل کېږي بارک الله في حرکاتک وجعل نفقاتک ذخرا في الجنة، او ملکي د اسمانانو او ځمکي وايي آمين.

فائده: افضل د کسبو جهاد في سبيل الله دی، ثم التجارة، ثم الحراثة، ثم الصناعة کذا في روح البيان مع زيادة من الفقير.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَآ أَنزَلَ اللَّهُ

روح البيان وايي چي دا آيت په مشرکينو کي د عربو او په کفارو کي د قريشو نازل دی، نو مرجع د ضمير په هغه آيت کي ذکر دی ﴿ومن الناس من يتخذ من دون الله انداداً آه﴾ والمعنى چي وويل سي يعني پر طريقه د نصيحت چي تاسي متابعت د ما انزل الله چي قران کريم دی چي آمر بالتوحيد دی وکړی، يعني دغو مشرکينو ته نو دوی وتقليد ته د اباء او اجدادو ميل کوي کماسيئاتي، او د ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي آنحضرت ﷺ ويهودو ته دعوت د اسلام ورکړی او دوئ يې وېېرول له عذابه څخه د خدای ﷻ، نو نافع بن حريمله او مالک بن عوف وعليه الصلوة والسلام ته وويل چي زموږ پلرونه او نيکه ګان تر موږ خير او خبرداره وه، نو موږ د هغو متابعت کوو، فانزل الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعالى هذه الآية نو پر دې تقدير مراد د ما انزل الله څخه يا قرآن كريم دى كما هو الظاهر او يا تورات دى ولې چې تورات خو هم امر په اتباع د محمد ﷺ دى، يعني كه ددوئ ملايان د تورات د امر پټ والى ونه كړي حسدا وحبا للرياسة، نو پر دې روايت مظهري رحمه الله وايي چې دا آيت تر پايه قصه مستقله ده، لكن درويش وايي چې د ضمير مرجع پيدا كولو ته مظهري هم حيران دى ولهذا قال والضمير الى غير مذكور آه او بيضاوي وايي چې ضمير د لهم راجع دى وناس ته په يا ايها الناس كلوا آه.

پوښتنه: په آيت مذكوره كې خو دوئ مخاطب وه دلته ولې غائب كړه سوه؟

ځواب: ددوئ غيبت دلته لپاره د اعلان د حماقت ددوئ دى ګويا خداى ﷻ نورو عاقلانو ته وايي چې تاسي وګورئ ددغو بې وقوفو خلګو ته چې دوئ په باره كې ددغه نصيحت د عليه السلام څرنګه جواب وركوي يعني بل نتبع آه فافهم.

قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا

دوئ په جواب كې د ناصح مذكور وايي چې يا موږ متابعت د ما انزل الله نه كوو بلكه موږ متابعت كوو د هغه دين چې شرك دى يا يهوديت دى چې موږ پر هغه دين پيدا كړي دي پلرونه او نيكه ګان خپل.

پوه سه: چې دا د شيطان بله حيله ده چې د خلګو په زړو كې متابعت د باطل يا د منسوخ دين پيدا كړي په وسوسه ددې چې زموږ نيكه ګان تر موږ خير وه نو موږ د هغو متابعت كوو نه د ما انزل الله يعني چې دين حق دى.

أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴿١٧٠﴾

فائده: په ټوله قرآن مبارك كې چې همزه د استفهام پر واو عطف باندې داخل سي او يا پر فاء عاطفه داخل سي نو چونكه همزه استفهام صدر د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جمله غوارې نو وروسته جمله چې مصدر په واو عطف سره وي یا فا عاطفه سره وي تر همزة الاستفهام د مخه جمله باندې نه سې عطف کېدای لغوات صدارت الهمزه. نو په هر ځای کې ماینا سب المقام معطوف علیه به مقدر وي لکه په مانحن فیه تقدیر داسې دی ایتبعونهم ولو کان آه نو واو که څه هم اصلا لپاره د عطف دی لکن دلته تعجب هم ورسره ملګرې دی نو ځکه بعض مفسرین رح یې واو التعجب بولي.

پوه سه: چې بیضاوي وايي چې دا واو لپاره د عطف دی والمعطوف علیه ماقلنا، او همزه لپاره د رد دی یعني رد د اتباع ددوئ دین لره د آباء سره د منافي د اتباع وهو انهم لا یعقلون آه، او جواب د لو شرطیه محذوف دی ای لو کان آبائهم کذا وکذا لا تتبعوهم. او همزه که څه هم لپاره د رد دی لکن معنی د توبیخ هم ځنې فهمېږي کما لا یخفی.

درویش وايي: چې د کلام څخه د روح البیان داسې فهمېږي چې کلمه د او لپاره د حال ده او بیضاوي خو تصریح په حالیت سره کړې ده لکن په منهیه کې یې ویلي دي چې د حالیت پر تقدیر جواب نه ضرورت نسته ولې چې کلمه د لو پر تقدیر د حالیت وصلیه د معنی څخه د شرطیه وتلې ده لپاره د مطلق تسویه ده یعني دوئ یې متابعت کوي که د دوئ پلرونه پوهېږي او که نه پوهېږي.

پوه سه: چې په اتفاق د مفسرینو رح لا یعلمون شیئا پر عموم نه دی پاته ولې چې دا مشرکان یا یهودیان په امورو د دنیا نه پوهېدل بلکه مراد دادی چې په امور ددین دوئ نه پوهېدل، او نه په دیني چارو کې دوئ پر هدایت وه بلکه پر ضلالت بخت وه. ولا یتفکرون في القرآن وهدایاته ولا في رسول الله ﷺ ومعجزاته. بیضاوي وايي چې په دې آیت کې دلیل دی پر منع د تقلید د هغه چا لره چې پر نظر او اجتهاد قادر وي. قال و اما اتباع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الغير في الدين اذا علم بدليل ما انه محق كالانبياء عليهم السلام ومجتهدي الامة رح في الاحكام فهو في الحقيقة ليس بتقليد بل اتباع لما انزل الله او قال به رسوله ﷺ فلا دليل فيه للوهابية وغيرهم كمامر او منع د تقليد د مشركانو يا يهوديانو چې دوئ اهل نظر وه د خپلو پلرو او نیکه گانو په دین کې به یې فکر وهلی چې ددوئ کتاب یې د صدق د هغه ډېرې زمانې د مخه اعلان کړی دی، قال الله تعالى وكانوا يستفتحون به فلما جائهم ما عرفوا كفروا به يعني حسدا وحبا للرياسة.

وَمَثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا كَمَثَلِ الَّذِي يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ إِلَّا دُعَاءً وَنِدَاءً ۚ

او امثال د هغه کسانو چې کافران دي يعني المشركين لکه مثال او حال د هغه چا دی چې نعرې وهي پر هغو حیواناتو لکه پسونه چې هغه نه اوري مگر بلنه او آواز د ناعق يعني اواز خو اوري نور یې په معنا نه پوهېږي.

پوه سه: چې که دا آیت په عبدة الاصنام کې نازل وي يعني مشرکان نو یې معنی داده چې حال د مشرکانو چې دوئ عبادت د بتانو کوي او د دوئ څخه کومک غواړي او د رزق وغیره نعرې پر وهي لکه حال د هغه شپانه چې پسونو ته دا نعره وکي چې چېرې خپ را وگرځه مثلاً پسه خو اواز واورېدی نور یې په معنا نه پوهېږي چې څه یې راته وویل بلکه ددوئ بتان هغه نعره هم نه اوري، كما قال الله في شان اصنامهم ﴿ان تدعوهم لا يسمعوا دعائكم﴾

سوال: په تشبیه د یو شي د بل شي سره خو مناسبت په منځ کې د مشبه او مشبه به لازم دی او سره ددې چې په مشبه کې چې بتان دي سماع النداء نسته او په مشبه به کې چې پسونه دي سماع النداء موجوده ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: په آیت شریف کي څو تشبیه مرکب ده یعني استعاره تمثیلیه ده او په علم بیان کي وايي چي په تشبیه مرکب کي مشابهت د اجزاو د مشبه د اجزاء سره د مشبه به نه غواړي بلکه مقصود تشبیه د هیئت منتزعه د مشبه څخه په هیئت منتزعه د مشبه به غواړي وهو ههنا موجود والتحقیق في علم البیان.

پوه سه: چي صاحب د روح البیان وايي چي تشبیه مذکوره په دې آیت کي تشبیه مفرق ده یعني جلا جلا مشبه او جلا جلا مشبه به پکښي وايي او څو ده مضاف محذوف بللی دی یعني ومثل داعی الذین آه، او وروسته وايي چي خدای ﷻ داعي او ناصح د کافر مشابه کړی د ناعق سره د پسو مثلا. او کافران یې مشابه کړه د حیوانانو سره یعني د پسو سره مثلا، او دعوت د داعي الکفرة یې مشابه کړه د اواز سره د ناعق د پسو مثلا وقال حاصل التشبیه مثلک یا محمد ومثل الذین کفروا في وعظک لهم ودعائک لهم الی الاسلام وعدم استماعهم لتلک الدعوة کمثل الراعي الذي یصح بالغنم ویقول لهما کلي واشربي مثلا والغنم وان یسمع الصوت لکن لا یفهم مغزاه ومراد الراعي کذالک هولاء الکفار الذین هم کالبهائم لا یعقلون عنک ای لایتدبرون حق التدبر فکانوا کانهم لم یسمعوا الاصواتک وندائک. او علامه مظهري ﷫ چونکه دا آیت په شان کي د یهویانو نازل بولي کمامر نو پر ده باندي ددې تشبیه بیان دېر شکل سوی دی کمایظهري من مراجعة تفسیره فتدبر وخذما صنعا ودع ماکدر واعرف الرجال بالحق ولا تعرف الحق بالرجال.

صُمٌّۢ بُكۡمٌ عُمۡیٌ فَهُمۡ لَا یَعۡقِلُوۡنَ ﴿۱۷۱﴾

پوه سه: چي دا درې سره لفظه خبر د محذوف مبتداء دي اي هم.

فائده: صم. جمع اصم ده چي په پښتو یې کڼ بولي، او بکم جمع د ابکم ده ابکم یعني گونگی، او عمي جمع د اعمی یعنې ړوند.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: کافرانو خو هم قوي سامعه درلوده او هم یې قوي ناطقه درلوده او هم یې قوي باصره درلوده، نو څرنګه اطلاق ددغو الفاظو ثلثه وو پر دوی صحیح دی؟

ځواب: هر عضو او اندام خدای ﷻ د یوې فائدې لپاره وانسان ته ورکړی دی نو چي هغه فائده پر هغه قوت مرتب نه سي نو دغه سړی ګویا عادم ددغه قوت دی مثلا د قوت سامعه فائده سماع الحق ده او د قوت ناطقه فائده اقرار بالحق دی، او د سترګو فائده لیدل د خدای ﷻ د اثارو د قدرت في الانفس والآفاق نو چونکه کافرانو دا درې قوي جزئیه د خپلو فائدو څخه محرومه کړي دي، یعني نه یې په ژبه سره اقرار وکړی په حق سره یعني کلمه لا اله الا الله محمد رسول الله. او نه یې دغه کلمه طیبه په غوږو د قبولیت واورېدل، او نه یې په سترګو معجزات د علیه السلام په رنګه د معجزې ولیدل بلکه په رنګ د سحر یې ورته کتل نو ګویا دوی عادم ددغو درو حواسو دي، فالکلام مبني علی التشبیه ای هم کصم آه، او چونکه علم عموما ددغو درو لارو په سړي کي پیدا کېږي او کفارو دا درې سره لاري پر ځانو باندي بندي کړي وې نو ځکه خدای ﷻ دا جمله پر تفریع کړه فهم لا یعقلون

لویه فائده په تولو عربیت کي په ښه، پوه سه چي یو صفت د مدح یا د ذم یا د ترحم چي عرب مخاطب ورته متوجه کوي یه دې معنا چي دغه صفت لوي صفت مدح د موصوف دی مذکور او یا د ذم لوي صفت دی او یا د ترحم لوړ صفت دی، نو یې اعراب د موصوف څخه بدل کړی مثلا موصوف مجرور دی صفت یې مرفوع کړی نحو الحمد لله اهل الحمد برفع اهل، دې ته مرفوع علی المدح وایي بحذف المتبداء ای هو اهل الحمد اویا صفت په نصب سره راوړي لکه په مثل مذکور کي داسي ووایي الحمد لله اهل الحمد بالنصب چي دې ته منصوب علی المدح وایي بحذف الفعل والفاعل یعني اعنی اهل الحمد. دا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خو د مدح دوه مثاله وه او د ذم دوه مثاله نحو اعوذ بالله من الشيطان الرجيم بالرفع والنصب على القياس المذكور في المدح او د ترحم دوه مثاله نحو مررت بعبدک المسكين بالرفع او النصب على القياس المذكور.

فائده: له رفع څخه وجر ته او یا د نصب څخه وجر ته په عربي ژبه کې مثال نه لري، لان التقدير الجار سواء كان حرفا او اسما تكلف. او یا یو اسم وي چې په هغه کې معنی وصفي موجوده وي لکن پر موصوف یې اجراء د مانع لفظي په سبب نه وي روا نو بیا دوئ هغه مرفوع على المدح په حذف د مبتداء گرځوي لکه صم، بکم، عمي چې درې سره نکره دي او موصوف يې الذين كفروا دی چې معرفه دی، نو دوئ دغه درې لفظه مرفوع على الذم بولي وهذا تفصيل قول البيضاوي والمظهري رح رفع على الذم وهذا التفصيل مذكور في شرح الكافية للعارف الجامي رحمه الله وسائر كتب النحو وهذا التفصيل ينفعک في مواضع شتى من القرآن الكريم ان شاء الله تعالى، فليكن على ذكر منک.

پوه سه: چې مراد له سلب څخه د عقل د کافرانو څخه سلب کلي د عقل نه دی مراد لانه لا يصلح الذم، لان السلب الكلي انما يكون في المجنون والمجنون مرفوع القلم لايصلح للذم.

تنبیه: چونکه په اخر الزمان کې به د عامه خلکو حواس به په دنیایي چارو سره مسدد سي نو څکه به نصیحت د علماؤ پر دوئ تاثیر نه کوي،

قال السعدي الشيرازي رحمه الله

فهم سخن چون نکند مستمع — قوت طبع از متکلم مجوی
فسحت میدان ارادت بیار — تا بزند مرد سخن گوی گوی

درویش وایي: چې کېدای سي علت د عدم تاثیر د نصیحت دي په واعظ کي وي مثل واعظ ریاء او جهلاً او عدم عمل الواعظ بوعظه.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

قیل: واعظان چون جلوه در محراب ومنبر میکنند   چون بخلوت میروند آن کار دیگر میکنند

چرا از غیر شکایت کنم که همچو حباب   همیشه خانه خراب هوایی خویشتنم

بیت في القسم الاول

گرچه ناصح را بود صد داعیه   پند را اذنی بباید داعیه

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ

ای هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی تاسي خورک کوي د پاکو یعني شرعا او مستلذو یعني طبعا د هغو ماکولاتو څخه چي موږ تاسي ته په رزق در کړي دي.

پوه سه: چي مفعول د کلوا محذوف دی ای رزقکم او من بیانیه دی

فائده: مارزقنا کم عام دی که حلال وي او که حرام په نیز د اهل السنة والجماعة خلافا للمعتزلة، دوئ وایي چي حرام رزق نه دی، موږ وایو چي حرام که رزق نه وایي نو د طیبت د قید ضرورت به نه وایي ولي چي حرام خو په مارزقناکم سره ووتی، او دوئ وایي چي مراد د طیبت څخه مستلذات دي.

پوه سه: چي په دې آیت کي اشاره ودې ته ده چي مقتضی د ایمان او محبت الهي دانه ده چي سړی به ترک د اکل الطیبات کوي بل مقتضاه اکلها مع شکر الله اذ مقتضی الایمان ابلاغ حکمة الله غائبا فما خلق الله للاکل غایته الاکل.

وَاشْكُرُوا لِلَّهِ یعني مارزقکم واحل لکم إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿١٧٢﴾

او تاسي شکر وایاست د خدای ﷻ که چیري یاست تاسي چي خاص د خدای ﷻ عبادت کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: ربط ددې آیت د ماقبل ایت سره دادی چي چونکه په مخني آیت کي پر عمومي خلګو فراخ والی وکړی او مباح يې کړه وددی ته مافي الارض ماسوی د حرام څخه نو په دې آیت خپل خاص بندګان چي مؤمنان دي خطاب ورته کوي، چي طیبات د مارزقوا خوري لکن حقوق د هغه هم پر ځای کوي چي شکر دی، نو يې وویل ﴿یاایهاالذین آمنوا کلوا تر دی آیت پوري واشکروا الله ان کنتم ایاه تعبدون﴾

پوه سه: چي مظهري رحمه الله په روایت د مسلم د ابو هریره رضي الله عنه څخه داسي حدیث رانقل کړی دی ﴿ان الله طیب﴾ یعني خدای ﷻ پاک دی د ټولو عیبو څخه ﴿ولا یقبل الا الطیب﴾ او نه قبلوي مګر پاک شی یعني حلال ﴿وان الله امر المؤمنین بما امربه المرسلین﴾ فقال ﷻ یا ایهاالرسل کلوا من الطیبات واعملوا صالحا، وقال یاایهاالذین آمنوا کلوا من طیبات مارزقکم واشکروا الله ان کنتم ایاه تعبدون، وفي هذا الخطاب للمؤمنین غایة اعزاز المؤمنین حیث سوی بین خطابهم وخطاب الرسل علیهم السلام، قال الراوي رضي الله عنه ﴿ثم الرجل﴾ او بیا علیه الصلوة والسلام ذکر کړی یو سړی ﴿یطیل السفر﴾ چي اوږد سفر وکړي مثلا په طلب کي د علم او یا سفر ته د حج ولاړسي مثلا او غیر ذالک ﴿یمد یدیه یاب یارب﴾ او لاسونه پورته کړي او وایي یارب یارب یعني د خدای ﷻ څخه یو شی غواړي ﴿اشعث اغبر﴾ ببر سر يې وي او په خاورو سپېرې پښې او کالي يې وي لکن د خورک شی دده حرام وي اوږد څښلو شی يې حرام وي او اغوستي کالي يې حرام وي، او غذا دده په حرام شي سره سوې وي ﴿فاني یستجاب لذالک﴾ نو به څرنګه ددغه سړي خواست خدای ﷻ قبول کړي، ولي چي علماء په متفق القول سره وایي چي شرط د اجابت ددعاء لقمه حلال ده.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فائده: خدای ﷻ چي امر په اکل د طیبات سره وکړی د دوو فائدو لپاره اول دا چي مؤمنان چي اکل د طیبات کوي باید په مقتضی د طبع نه وي بلکه باید نیت د امتثال د امر الهي وکړي لیتمیز اکلهم عن اکل الحیوانات لان اکلهم بمقتضی الطبع لا للامتثال، او دوهمه فائده داده چي دوئ په سبب د امتثال د امر الهي خورک د طیبات وکړی خدای ﷻ په سبب ددغه نیت دوئ ته ثواب ورکړي لان الاعمال بالنیات حدیث صحیح د بخاري دی ومعنی الحدیث ان ثواب الاعمال بالنیات نو که مؤمن په مقتضی د طبع طیبات خوري مباح خو دی لکن ثواب د اکل یې نسته بخلاف الاکل بنیت الامتثال.

پوه سه: چي د حمد او شکر او مدح معانی مشهوره دي او د هر علم په کتابو کي مسطوره دي لکن د شکر معنا چي محققان د صوفیه کرامو رح کړې ده هغه معنی داده چي بنده ټوله اعضاء ظاهره او باطنه په وهغه کار او عمل ته صرفوي چي خدای ﷻ وبنده ته د هغه کار لپاره ورکړې وي مثلا رئیس اعظم د بدن چي زړه دی خدای ﷻ ددې لپاره وبنده ته ورکړی دی چي په مصنوعاتو کي د رب ﷻ فکر وکړي تاچي هره ذره د مخلوق و معرفت ته د صانع اکبر ﷻ اندازه وګرځي او د رب ﷻ په حدانیت او قدرت کامل وغیر ذالک من صفاته الجلالیة والجمالیة سره وپېژني کما قال العارف الشیرازي رحمه الله.

برگ درختان سبز در نظر هوشیار هرورقي دفتریست معرفت کردگار

او پر دي قیاس کړه لاسونه او پښې او ژبه غوږونه الی غیر ذالک من الاعضاء، نو په دې معنا به لږ د بندګانو شاکره ګرځي کما قال الله عزوجل ﴿وقلیل من عبادي الشکور﴾

قال الشیرازي رحمه الله

مکن گردن از شکر منعم بهیچ که روز پسین سر بر آري هیچ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روح البیان والا وایي چي امر د "واشکروا لله" نه لپاره د ندب دی او نه د اباحت بلکه امر ایجاب دی، وهذه عبارته اذ لاشک في انه یجب علی العاقل ان یعتقد بقلبه ان من اوجده وانعم علیه بما لایحصی من النعم الظاهرة والباطنة الجلیلة مستحق لغایة التعظیم وان یظهر ذالک بلسانه بان یقول هو القادر الخالق المصور الی غیر ذالک وبسائر جوارحه انتهی بزیادة یسرة.

فائده: تقدیم د ایاه پر تعبدون باندي لپاره د تخصیص د عبادت په خدای ﷻ پوري، وورد في الحدیث الصحیح قال رسول الله ﷺ یقول الله تعالی اني والانس والجن لفي نباء عظیم اخلق ویعبد غیري وارزق ویشکروا غیري.

إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ

پوه سه: چي علماء د اصول الفقه او د فقه بلکه ټوله علماء د امت وایي چي حرمت یاحل وغیره چي مضاف و اعیانو ته سي یعني وذواتو ته د شیانو لکه په دې آیت کي چي د حرمت حکم پر ذوات د میتة وسو، مراد له هغه افعال دي ولي احکام شرعیه احکام د فعل د مکلف دي، نو معنا د آیت داده چي پر تاسي حرام دی خوراک د مرداری او نفع اخستل په هغه سره.

فائده: میتة هغه حیوان دی چي بېله شرعي ذبح مړ سي او په حدیث شریف کي راغلي دي چي د ژوندي حیوان څخه یو اندام پرې سي او هغه حیوان ژوندی وي لکه د پسه چي لم پرې کړي هغه جلا کړي اندام هم مردار دی قال علیه السلام ما ابین من الحي فهو میتة

ماهی او ملخ ذبح نه غواړي لان العرف لم یجري بذبحهما، وقال علیه السلام احل لنا میتتان السمک والجراد، او بل داده چي حکمت د ذبح دادی چي د حیوان څخه دم هغه دم مسفوح چي مرداري دي ووزي او ماهی او ملخ دم مسفوح نه لري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي هره نفع اخستل پر مردار حیوان جائزه نه ده مګر پوست یې چي دباغت یې وکړه سي په شرعه شریفه کي نفعه اخستل پر روا دي مثلاً ژی (ګوډی) یا غړکه ځندي جوړه کړي، موږ پر دم مسفوح وینو حکم د مردارو وکړی ولي چي دم جامد حلال دی. وفي الحدیث الصحیح احل لنا دمان الکبد والطحان یعني هینه او سږی.

درویش وایي: چي ددې آیتو د احکامو زدکړه په غور سره ضروري ده تاچي حلال او حرام سږی وپېژني یعني په حیواناتو کي.

سوال: نحات د بصرې وایي چي کلمه د انما لپاره د حصر ده او ډېر حرام شیان سته چي په دې آیاتو کي نه دي ذکر سوي.

مظهري رحمه الله ددې سوال په جواب کي وایي چي مختاره په نېز د حنفیانو ع داده چي کلمه د انما د قصر نه ده بلکه انما مرکب دی د ان چي لپاره د تحقق دی او د ما الکافه څخه.

درویش وایي: چي په دې سوال سره مظهري رحمه الله تفرد کړی دی مع ان المختار مذهب البصریة عند اکثر المفسرین ولعل المظهري رحمه الله وجد التصریح في الفقه الحنفي، نو بنه جواب هغه دی چي مظهري پر تقدیر د تسلیم راوړی دی یعني چي کلمه د انما لپاره د قصر سي چي قصر حقیقي نه دی یعني نسبت وټولو ماعداته حتی یرد السوال بلکه قصر اضافي دی یعني نسبت د بحیره او سائبه او وصیله او حام ته چي مشرکانو به دغه مذکوره حیوانات حرام بلل نو معنی د قصر داده چي داغه حیوانات حرام نه دي بلکه په دې آیت کي مذکور شیان حرام دي. الفتوی، اجمع علماء المذهب علی انه لایجوز بیع المیتة ولا اکل ثمنه، ولا الانتفاع بشحمه ولا بجلده قبل الدباغ کمامر.

مسئله: پوه سه چي پوست د مرداری وروسته تر دباغ امام اعظم رحمه الله او امام شافعي رحمه الله یې په دباغ سره پاک بولي، نو هم یې خرڅېدل روا دی او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هم نفع پر اخستل روا دی، او امام احمد او امام مالک رح وايي نه يې بيعه روا ده او نه نفعه پر اخستل، ودلائل الفريقين في الكتب المبسوطة من التفاسير وكتب الفقه فعليك بمطالعة شرح لمعاني الاثار للمحدث والفقيه الاعظم ابو جعفر الطحاوي رحمه الله وشرح الهداية فتح القدير على مذهب الامام الاعظم ابي حنيفه رحمه الله او د جابر رضي الله عنه عنه څخه روايت دی چې ما واورېده د رسول الله ﷺ څخه په کال کې د فتح د مکې چې عليه السلام په مکه کې و، داسې يې ويل چې خدای ﷻ او روسول ﷺ د خدای ﷻ حرام ګرځولې ده بيع د شرابو، او د ميتة او د سرکوزي او د بتانو، نو يو صحابي رضي الله عنه پوښتنه څندې وکړه چې وازګي د ميتة چې د کيښتې تختې خلګ په غوړوي او يا خرمني په غوړوي او يا يې په څراغانو کې لګوي څرنګه حکم يې دی، فقال ﷺ لا هو حرام، عليه الصلوة والسلام زياته کړه چې لعنت د خدای ﷻ دې وي پر يهوديانو باندې چې دوئ ته خدای ﷻ وازګي د ميتة حرامې ګرځولې وې، دوئ به دا وازګي ويلې کړې او بيا به يې خرڅولې او ثمن به يې خوړی، اخرجه البخاري ومسلم رح

مسئله: پوه سه چې په وېښتيانو، هډوکو، پلو، ښکرو او په نوکانو کې د مرداری مذاهب مختلف دي، امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله تولہ پاک بولي او بيعه يې روا بولي او نفع پر اخستل يې هم روا بولي، او امام شافعي رحمه الله تولہ نجس بولي.

مسئله: د أسامه رضي الله عنه څخه روايت دی چې عليه الصلوة والسلام نهي وکړه د پوستو څخه د درندګانو، رواه ابو داؤد والنسائي والحاكم رح

درويش وايي: چې د سباعو څخه مراد هغه حيوانان دي لکه، زمری، پړانګ، لېوه وغيرها يعني ګيدړه په لېوانو او سباعو کې نه ده داخله نو د هغې پوست په دباغ سره پاکېږي، نو پوستين يا مسئله څندې جوړول روا دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ

یعني جاري ويني لقوله تعالى ﴿او دما مسفوحا﴾ وهذا بالاجماع. يعني حرام دی د جاري وينو خورک، او د غوښو د سرکوزي.

پوه سه: چې سرکوزی نجس العين دی بالاجماع فانه رجس.

مسئله: نه ده روا بيعه د اجزاوُ د سرکوزي والانتفاع بشيئ من اجزائه حتى الشعر، په نبز د امام شافعي رحمه الله.

سوال: نو په آيت شريف کې تخصيص د لحم ولې کړه سوی دی؟

خواب: چونکه اصل په حيواناتو کې خورک د غوښو دی، نو نور اجزاء د سرکوزي لکه تابع د غوښو دی نو ځکه يې تخصيص د غوښو وکړه سو

مسئله: انتفاع په وېښتانو د سرکوزي لپاره د ګنډولو د بعض تېو د اپرېښن وغيره امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله او امام مالک رحمه الله يې روا بولي لضرورة، او امام شافعي رحمه الله يې روا نه بولي، او امام احمد رحمه الله يې مکروه بولي، وفي الهداية لو وقع يعني شعره في الماء القليل فسده وعند محمد رحمه الله لايفسده. قال امام محمد رحمه الله ان اطلاق الانتفاع بشعره دليل طهارته. ولابي يوسف رحمه الله ان اطلاق الانتفاع للضرورة ولا يظهر الضرورة الا في حالة الاستعمال يعني للخرز مثلا وحالة الوقوع يغايرها، او فقيه ابو الليث رحمه الله وايي چې که وېښته د سرکوزي په وخت کې د ضرورت بېله رانيولو نه پيدا کېدی رانيول يې روا دی. او امام همام کمال الدين رحمه الله په فتح القدير کې وايي چې بعض فقهاء وايي چې په ګنډلو کې هم ضرورت د سرکوزي وېښته ته نسته بلکه ضرورت په نورو وېښتيانو سره د فع کېږي، او دی وايي چې ابن سيرين رحمه الله هغه موزه يا بوټ يا چوټه نه په پښو کوله چې د سرکوزي په وېښتيانو په ګنډل سوې وه، نو پر دې تقدير بيع او شراء يې ناروا ده.

وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ

او هغه شی وتاسي ته حرام دی چې په وخت کې د ذبح نوم د غير الله پر ويل سوی وی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قال صاحب روح المعاني اى ما وقع متلسا په اى بذبحه الصوت لغير الله، يعني لكه بوت پرستانو د مكې به په وخت كي د ذبح د ذبيحې په بلند اواز ويله باسم اللات والعزى مثلا ، او روح المعاني وروسته ويلي دي والمراد بغير الله الصنم وغيره كما هو الظاهر . وقال صاحب روح البيان اي وحرم مارفع به الصوت عند ذبحه اسم غير الله، وقال البيضاوي رحمه الله اى رفع به الصوت عند ذبحه للصنم يعني كما يرفعون المشركون عند ذبح الحيوان اسماء آلهتهم كمامر.

درويش وايي: چي ددې تولو تفاسيرو حاصل دادى چي سبب د حرمت فقط ذكر د غير الله دى سواء كان صنما او غيره لكن صرف په وخت كي د ذبح او امرار السكين على المذبوحة لا قبله ولا بعده.

تفريع: درويش وايي چي پر قول ددغو حضراتو مفسرينو رح كه يو سړى ذبح د پسه يا غوايي وغيرهما لپاره د ايصال د ثواب و روح انور ته د عليه السلام او يا وروح ته د مور او پلار او يا د استاذ او يا د شيخ الطريقة ذبح كړي لكن په وخت كي د ذبح صرف او صرف ووايي بسم الله اكبر دا ذبيحه پاكه او حلاله ده او ثواب يې هغو ته رسېږي بلا اختلاف بين ائمة المذاهب الاربعة. فلا ، والا، والا، دا مستثنى ملايان معلوم الحال دي تصريح ته يې ضرورت نسته، وكيف لا يجوز الذبح بنية ايصال الثواب الى المذبوح عنه مع انه ورد في البخاري وغيره انه عليه السلام ضحي عن ازاوجه بقرة وايضا صح انه عليه السلام كان يضحى بكشين واحد عن نفسه المباركة وواحد عمن لم يضح عن امته فهل هذا الا ايصال الثواب.

پوه سه: چي اهلال په لغت كي رفع د صوت ده په نيز د روئيت د هلال او مياشتي كماهو المعتاد في العرب والعجم يقولون عند روئيت الهلال باعلى صوته هذا الهلال او يا هغه ده مياشت. ثم اطلق على رفع الصوت عند ذبح الحيوان كما كان المشركون ينادون باعلى صوتهم باسم اللات والعزى،

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

والمؤمن يقول عند الذبح بسم الله اكبر، فالمنكرون من الذبح بنية ايصال الثواب الى الحي والميت لم يفرقوا بين نية المؤمن وبين الاهلال.

درويش وايي: چي په روح البيان كي داسي عبارت راغلى دى قال العلماء لو ذبح مسلم ذبيحة وقصدبها التقرب الى غير الله صار مرتدا وذبيحته ميتة انتهى.

درويش وايي: چي دا عبارت على الاطلاق نه دى صحيح كيف كه بو مسلمان يوه ذبيحه ذبح كړي او نيت او قصد يې تقرب وي ورسول الله ﷺ ته په دې معنا چي تقرب ومقرب بنده ته د خداى ﷻ بعينه تقرب دى ومولى ﷻ ته لان النبي ﷺ من خواصه وحب كل واحد منها حب الآخر والتقرب الى كل واحد منها تقرب الى الآخر، نو په دې نيت سړى او مؤمن ولي مرتد ګرځي او سره ددې چي خداى ﷻ وحبيب ﷺ ته په قرآن مبارك كي داسي ويلي دي ﴿قل ان كنتم تحبون الله فاتبعوني﴾ نو په دې آيت كي خداى ﷻ خپل محبت درج كړى په اتباع د خپل حبيب ﷺ كي نو به ولي قرب الى حبيبه قرب اليه تعالى نه وي او بل ټوله مؤمنان په امر د عليه السلام هر وخت په نيت د تقرب الى حبيب الله درودونه وايي په نيت ددې انهم اذا قربنا الى حبيب الله قربنا الى من جعله حبيبا يعني المولى ﷻ وعلى هذا فما الفرق بين التقرب الى حبيب الله ﷺ وسيلة سنية الى تقرب المولى ﷻ، وعلى هذا فقس التقرب الى عباده تعالى المقربين بجعلهم وسائل الى تقربه جل سلطانه وقد ورد في الحديث الصحيح الذي رواه البخاري وغيره انما الاعمال بالنيات آه فمهاجر ام قيس لما لم ينو بالهجرة الى المدينة التقرب الى النبي ﷺ بل التقرب الى نكاح ام قيس جعل ذالك النكاح ثواب هجرته بخلاف غيره من المهاجرين ﵃ الذين هاجروا الى الله ورسوله، بل كلام روح البيان له محمل آخر من حيث ان بعض العوام لما جائهم الملك او الوزير ذبحوا بحضورهم ذبائح عديدة جلبا بمحبتهم ورضائهم ولم يلتفتوا في

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

تلک الذبائح الی رضی الباري ﷻ ومحبته بل لم یخطروا ببالهم تلک المحبة فالذابح المذکور مرتد وذبیحته میتة بلا شک فللعاقل ان یفرق بین التقرب الی المقربین في جنابه تعالی من حیث ان تقربهم تقربه الی تعالی وبین التقرب الی الامراء والرؤساء فافهم.

پوښتنه: مشرکانو خو هم په عبادت د بتانو دا ویل مانعبدهم الا لیقربونا الی الله زلفی، فما الفرق بین الفریقین؟

جواب: الفرق اظهر من الشمس من حیث ان عباده المقربین وسائل واقعیة الی قرب الله ﷻ من حیث بعثهم الله ﷻ لتعلیم الخلق قربه تعالی ومحبته بخلاف اصنام المشرکین لانها انداد الله واسباب البعد عن الله تعالی والبغض منه تعالی وانما قولهم المذکور محض التوهم باغواء الشیطان فکیف یصح قیاس قول اخوان الشیاطین علی قول اولیاء الله المقربین.

درویش وایي: چي زما غرض په دې دونده طویل کلام کي دادی چي معلوم الحاله ډلي په دغه قول د روح البیان د پرو مؤمنانو ته مشرکان وایي او ذبیحه یې مرداره بولي.

بیت

نظام ببنظام ار کافر م خواند چراغ کذب را بنود فروغی
مسلمان خوانمش زیرا که بنود مکافات دروغي جز دروغی

پوه سه: چي مشرکانو به همېشه غوښي د میتة بنه په مزه خوړلي او د هدیه په توګه به یې دا غوښي خپلوانو او دوستانو ته ور استولې، او دوئ به مسلمانانو ته ویله چي هغه حیوان چي تاسي مړ کړئ یعنین ذبح یې کړئ د هغه غوښي تاسي خورئ او چي خدای ﷻ یې در مړ کړي یعنون میتة هغه نه خورئ.

فائده: په میتة کي المتردیه، یعني چي په خاه کي حیوان ولوېږي او یا د لوړه ځایه راښوه سي اومړسي هم داخله ده، او المنخنقه یعني چي رسۍ یې په غاړه جاروخي او مړسي، او یا یې خوک په خفه مړ کړي هم داخله ده،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اوالموقوذة " چي څوک حیوان په لرګي ووهي او مړ سي هم داخل دی، او النطیحة یعني یو حیوان بل حیوان په ښکر ووهي او مړ يې کړي هم داخل دی، او ما اکل السبع یعني چي یو حیوان درنده وداړي او مړ سي هم داخل دی، او متروک التسمیة په قصد سره هم داخل دی کما في کتب الفقه.

فائده: په حیوان کي چي په ذبح شرعي حلال سوی وي د نهو (۹) شیانو خورک يې مکروه دی (۱) ویني (۲) خوشايي او پچي يې (۳) د غوا، مېږې او بزې کوس (۴) کونه د هر حیوان (۵) غړ د حیوان (۶) خوټې د حیوان (۷) سپوخسه د حیوان (۸) حرام مغز د حیوان (۹) تریخی.

فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ

او که څوک مجبوره سي وخوړلو ته د یو شي ددغو حرامو شیانو یعني غیر ددغو محرماتو څخه د خورک حلال شی نه وي، او اضطرار او مجبور والی دادی چي سړی پر خپل ځان بېرېږي چي د لوږي به مړ سي، په داسي حال کي چي د ی ظالم پر بل مضطر نه وي. یعني یو بل مضطر که یو شی ددغو حرامو شیانو څخه پیدا کړی وي دغونده اندازه چي هغه بل مضطر فقط د مرګه په راګرځي نو دا بل مضطر هغه شی له هغه مضطره په زوره واخلي او خپل ځان له مرګه په راوګرځوي، او هغه بل چي حرام شی يې پیدا کړی هغه ومرګ ته وسپاري.

یوه سه: چي داسي کول حرام دي ولي چي خپل ځان له مرګه راګرځوي او بل ومرګ ته سپاري، او واجد د حرام هم هغه دی عقل او شرع ددې کولو څخه منع کوي ولي چي واجد الحرام اولی په ژوندی پاته کېدو دی تر ظالم، او نه به تجاوز په خورک کي د میتة کوي تر حد شرعي، یعني دنده قدر به خوري چي مضطر له مرګه په راوګرځي او دونده به نه خوري چي ځان تر ستوني په موړ کړي، لأن الضرورات تبیح المحظورات بقدر الضرورة، نو په ضرورت کي په خوړونکي د میتة ګناه نسته او په تحقیق خدای ﷻ غفور او رحیم دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي غفور او رحيم ددې لپاره خداى ﷻ ذكر كړى چي سړى چي له مرګه سره مخامخ وي د لوږي له كبله څخه طبعا هر څو چي احتياط وكړي تر سدرمق بالا څندي خوړل كېږي، نو د هغه بالا خوړلو خداى ﷻ عفو ورته كوي.

مسئله: كه چا په حال د اضطرار د ميتة د خوړك څخه منع وكړه او مړ سو، او يا د چا روژه وه له تندي يا له لوږي مړ سو ګناه كار دى.

مسئله: كه څوک مريض و او دوا يې نه وكړه او مړ سو ګناه كار نه دى ولي ده ته دا يقين نسته چي دى به په فلانى دواء جوړېږي بلكه شايد بېله دواء يې خداى ﷻ جوړ كړي.

مسئله: په اشباه والنظائر كي وايي چي ومريض ته تداوي په نجاساتو سره رواه ده پر يوه قول د امام اعظم رحمه الله، او قاضي خان وايي چي نه ده روا.

مسئله: قاضي خان رحمه الله وايي چي كه د سړي په ستوني كي ډوډۍ بنده سوه او پر مرګ وبېرېدى، او بېله شرابو بل مانع شي چي ګوله په تېره كړي نه و په شرابو تېرول د ګولې اتفاقا روا دي.

مسئله: په فتوى تاتارخانيه كي وايي چي كه سړى د تندي له سببه وحال ته د اضطرار ورسېدى، او بېله شرابو بل د تندي ماتونكى شى نه وو شراب څښل ورته روا دي.

سوال: صدر شهيد رحمه الله وايي چي طلب د شفاء په حرامو سره حرامه ده نو څرنګه دمخه ذكر سوي مسئلې صحيح كېږي؟

ځواب: د صدر شهيد رحمه الله مراد دادى چي كه د مريض يقين نه وي چي زه په حرامو سره جوړېږم نو د حرامو خوړک ورته روا نه دى، او كه چېري د مريض يقين و چي بېله دغو حرامو زما بله دوا نسته كمافي المسائل المذكورة فيجوز الاستشفاء به.

مسئله: په تهذيب كي وايي چي مريض ته څښل د بولو او د وينو روا دى چي مسلمان طبيب ورته ووايي چي تالره په مباح دواء كي هيڅ دوا نسته، كذا في شرح الاربعين.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي ددغو مسائلو مذکوره څخه یو بل حکم هم معلوم سو چي بعض مریضان چي سخت اپرېشن ته په قول د مسلمانانو ډاکټرانو مجبور سي او هغه ډاکټران ورته ووایي چي بېله اپرېشنه ستا بل هیڅ علاج نسته، او هغه ډاکټران دا هم ورته ووایي چي ستا د ویني د نمبر سره برابره وینه به پیدا کوې او هغه د پیچکاریو په ذریعه یو بوتل یا دوه مثلا تاته لګول کېږي وروسته تر هغه موږ ستا اپرېشن درکوو. آیا دغه مسلمان مریض ته د بل انسان د ویني پیچکاري کول روا دی؟

ځواب: هو! که څه هم وینه خو نجسه ده لکن مسلمانانو ډاکټرانو چي دده صحت مربوط ددغو وینو په ترزیق پوري وباله. نو ده ته دا ترزیق روا دی قیاسا علی المسائل المذکورة الماخوذة من کتب الفقهاء کمامرت.

مسئله: که دغه مریض ته دغه وینه مفته نه پیدا کېدله بلکه یو بل سړي دغه وینه په رپو ورکوله. نو حکم یې دادی چي دغه مریض ته خو په سبب د ضرورت دویني رانیول روا دی. لکن بائع ته خرڅول د ویني حرام دی لانه نجس ولا ضرورة له في اخذ الثمن علیه فافهم.

فائده: په روح البیان کي وایي والغفور والغفار هو الذي اظهر الجمیل وستر القبیح، والذنوب من جملة القبائح التی ستر الله تعالی باسباب الستر في الدنیا والتجاوز عن عقوبتها في الآخرة وحظ العبد من هذا الاسم ان ستر من غیره مایحب ان یستر منه. وفي الحدیث الصحیح قال علیه السلام من ستر علی مؤمن عورته ای عیبه ستر الله علیه عورته یوم القیامة ای خطیئة یوم القیامة بان یغفرها له.

پوه سه: چي غیبت کونکی سړی او یا بهتان ویونکی څوک او یا متجسس د احوالو د خلګو او یا د بدي د چا عوض په بدو سره ورکونکی سړی په دې وصف الهي کي برخه نه لري بلکه موصوف په دې وصف سره هغه سړی کېدای سي چي د بل چا بنه صفت بیانوي او بد یې پټوي، د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عیسی ﷺ څخه روایت کړه سوی دی چي دی په داسي حال کي چي مخلصان دده ورسره ملګري وه په یوه لار کي روان وه چي یو سپی بدبویه مردار پروت و، نو مخلصانو وویل چي څرنګه مردار بوی ددې سپي ولاړېږي عیسی ﷺ وویل چي ددې سپي څرنګه سپین غاښونه دي.

إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنزَلَ اللَّهُ مِنَ الْكِتَابِ

په تحقیق هغه کسان چي پټوي هغه شی چي نازل کړی دی خدای ﷻ د کتاب څخه.

پوه سه: چي دا آیت په شان کي د عیسایانو او دملایانو د یهودیانو نازل سوی دی چي هغو به د خوار او غریب خلګو څخه هدایا، صدقات تر لاسه کول، او بیان د علیه الصلوة والسلام چي به په توارت کي و هغه به یې پټاوه.

پوه سه: چي په تفسیر روح المعاني، روح البیان او په تفسیر مظهري کي وایي په روایت د ابن عباس ﷺ چي دا آیت په شان کي د علماوُ د یهودیانو نازل سوی دی، او مراد له کتابه تورات دی چي په هغه کي پوره حلیه او نعوت د علیه السلام مذکور وه. او د یهودیانو د ملایانو دا خیال و چي نبي آخر الزمان به زموږ د یهودو له قومه څخه وي. نو څه وخت چي خدای ﷻ محمد ﷺ د عربو له قومه څخه مبعوث کړی، نو د یهودو د ملایانو دده سره حسد پیدا سو، او چونکه دې ملایانو ملعونانو د یهودو له قومه هدایا زکواتونه او صدقات در لودل نو دوی وېرېدل چي که موږ حقیقي نعوت د نبي آخر الزمان چي په تورات کي موجود وه او یوازي صداقت د محمد ﷺ وخپل قوم یهودو ته بیان کړو هغه به ټوله پر محمد ﷺ ایمان راوړي او زموږ هدایا صدقات وغیره به قطع سي، نو اتفاق یې پر دې وکړی چي نعوتو ته د نبي اخر الزمان به تغیر ورکړو او دا کاذبانه نعوت به عوامو ته ښکاره کړو چي هغه پر دې قانع کړو چي نبي آخر الزمان محمد ﷺ نه دی، ولې چي په ده کي دغه نعوت نسته، نو نبي آخر الزمان به په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وروسته کې پیدا کېږي، نو په دغه حیله ملایانو د یهودو خپل قوم د ایمان راوړلو څخه پر علیه الصلوٰة والسلام بېزاره کړه او ټولو یې دا ویل چې ته منعوت في التورات نبي نه یې.

درویش وایي: چې په بعض روایاتو کې د کعب الاحبار څخه داسي روایت منقول سوی دی چې په تورات کې د نبي آخر الزمان په باره کې د نورو نعوت سره داسي هم راغلي دي مولده بمکه مهجره المدینه نو دغه روایت که صحیح وي نو د یهودو د ملایانو عداوت د نبي علیه الصلوٰة والسلام سره صرف او صرف پر بېره د خپل ریاست او حب المال والجاه باندې مبني و یعني دا سبب نه و چې نبي آخر الزمان به د یهودو څخه وي کمامر نقلا من التفاسیر المذکورة ولې په تورات کې چې مولد د آخر الزمان یې مکه ښودلی وه او مهجر یې مدینه نو خو دوئ په دې خبر وه چې نبي آخر الزمان به عرب وي ولې چې په مکه کې هیڅ یهودي گذاره او قیام گاه نه درلوده والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب.

وَيَشْتَرُونَ بِهِۦ ثَمَنًا قَلِيلًا

او دوئ یعني ملایان د یهودو رانسي یعني حاصلوي خان ته لږ ثمن او قیمت د آیاتو د تورات چې دوئ پټ کړي وه.

سوال: دې ملایانو و ډېر شی نقود وغیره د عوامو څخه تر لاسه کما لایخفی، نو ولې ثمن قلیل وویل سوه؟

ځواب: ډېر شیان خو وه په دنیایي لحاظ، مگر نظر ونعموته د جنت چې دوئ هغه د لاسه ورکړي وه دا دنیایي شیان بېخي اقل قلیل دي لانها رذیلة بالنسبة الی نعیم الجنة ودنیة مع انها فانیة ونعم الجنة باقیة ابدیة فهذا التبدیل من غایة حماقتهم وقد ضلوا واضلوا سائر الیهود الی یوم القیامة فعلیهم اثم ضلالهم واضلالهم. ویحملون اثقالهم مع اثقال غیرهم، او دغه به هم حال وي د ملایانو د امت امحمدیه ﷺ چې ورته کار وکړي کالفرق الضالة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من اثنين وسبعين فرقة من الامة المرحومة كما ورد في الحديث الصحيح النبوي ﷺ كلهم في النار الا الناجية وهم اهل السنة والجماعة كثرهم الله.

أُولَٰئِكَ مَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ إِلَّا النَّارَ

او دغه كسان نه خوري په ډك نس مگر نه اور.

پوښتنه: ملا يانو د يهوديانو خو رشوتونه او بډې د عوامو څخه اخستې، نو اور يې څرنگه خوړی؟

ځواب: په دې دنيا کې چونکه د رشوتونو او بډو اخستل سبب د دوږخ د اور گرځي نو يې دغه رشوتونه عين اور بلل کېږي من اطلاق المسبب على السبب او په اخرت کې خو ظاهره ده چې عين اور د دوږخ به خوري عقوبة لهم على ما اكلوا من الرشي على كتمان كتاب الله التوراة. يعني نعوت النبي آخر الزمان محمد ﷺ ومعنى في بطونهم ملا بطونهم. يقال اكل فلان في بطنه اذا ملاء بطنه واكل في بعض بطنه اذا كل قليلا من ملاء البطن، يعني چونکه في بطونهم يې متعلق په ياء كلون پوري كړی نو دا بيان د محل د اكل دي او د مقر د ماكول دی، نو چې ياء كلون في بعض بطونهم نه ووېل سو نو معلومه سوه چې محل د اكل ټوله نس دی فيلزم منه امتلاء البطون عاية الامتلاء.

وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

او نه خدای ﷻ ددوئ سره خبرې کوي په ورځ د قيامت.

پوه سه: چې چونکه په بل ايت کې داسې راغلي دي فوربك لنسئالنهم اجمعين، نو سوال خو په خبرو سره دی نو ظاهرا ددې آيت او هغه آيت تر منځ د منافاتو توهم کېږي، نو بعض مفسران رح دفع د منافات متوهم په دې ډول کوي چې منفي په دې آيت کې خبرې دي په مايسرهم يعني چې دوئ دې په خوشحاله سي داسې خبرې نه ورسره کوي، او مثبت په هغه بل آيت کې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خبري د غضب دي يعني بما يسوءهم. او بيضاوي دا آيت محمول پر غضب بولي كناية، ولي چې په عرف كې داسي وبل كېږي چې فلانى د فلانى سره خبري نه كوي يعني معنا يې داده چې ورته په غضب دی، ولي د غضب سره نه خبري كول لازمي دي، او بعض مفسران رح وايي چې منفي په دې آيت كې خبري دي د خداى ﷻ بالذات او مثبت په هغه بل آيت كې خبري دي په واسطه د ملائكه وو على كل تقدير فلا منافات بين الاثبات والنفي

وَلَا يُزَكِّيهِمْ

او نه دوئ پاكوي د خيرو څخه د كفر او گنهو په اور د دوږخ ولي اور د دوږخ ددوئ لپاره ابداً ابداً دی بخلاف د بعض مؤمنانو چې خداى ﷻ داخل النار ورگرځوي هغه اور د دوئ د پاكوالي لپاره دی له خيرو څخه د گنهو تاچې مستعد وگرځوي لپاره د جنت لان اهل الجنة لا يكونون الا الطاهرون او المطهرون حاصل داچې كافران په دوږخ كه په مثل د لرگو لرې چې خلگ اور په بل كړي په دې كې اهانت د لرگو دی، او د مؤمن اور په مثال د اور د زرگر دی چې زر چې خيره لري هغه څندي لېري كړي نو په هغه اوركې دزرگر تعظيم دی دزرو تاچې دزېوروډجوړولو قابل سي.

وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٤﴾

او دوئ لره عذاب درد وركونكي سته.

پوه سه: چې اليم كه څه هم فعيل د مجرد له بابه دی بعض مفسران رح يې په معنا د اسم فاعل له باب د افعال بولي، اى مؤلم او معنا يې درد وركونكى فعلى هذا اسناده الى العذاب على الحقيقة دی، او بعض مفسران رح يې په لازمي معنا بولي او اسناد يې وعذاب ته مجازا بولي مثل ظل ظليل، وداهية دهياء، وليل لئيل، ولايخفى مافيه من المبالغة، ومثال الاول قول الشاعر، امن ريحانة الداعي السميع اى ممع يورقني واصحابي يجوع اى نيام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الضَّلَالَةَ بِالْهُدَىٰ وَالْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ ۚ فَمَا أَصْبَرَهُمْ عَلَى النَّارِ ﴿١٧٥﴾

او هم دغه کسان يعني علماء اليهود چي دوئ کتاب الله تـوارت پـه ثمن قليل سره خرڅ کړی دوئ رانيول په دنيا کي گمراهي او کفر په هـدايت او ايمان سره، يعني هدايت لکه ثمن وگرځاوه او گمراهي لکه مبيعه وگرځولـه او په اخرت کي عذاب لهي د دوږخ بې رانيوی په مغفرت الهي سره، يعنـي که دوئ له کفره او کتمان الحق څخه توبه کښلي وايي خدای ﷻ بـه دوئ ته بخښنه کړې وايي نو څـه عجـب صبر دی دوئ پر اور بانـدي يعنـي پر اسبابو د اور چي کفر او کتمان الحق دی.

پوه سه: چي استفهام د ما اصبرهم لپاره د تعجب د مؤمنـانو دی وصبر تـه د يهوديانو د ملايانو پر اور د دوږخ يعني موجبات النار والا فلا صبر على نفس النار لاحد من الناس. او عاقل سړی چي ادنی عقل لري بايد هدايت په هيڅ قيمت له لاسه ورنه کړي، او عذاب النار په هيڅ مبلغ را نه نسي.

تنبيه: مراد له اور څخه اسباب د اور دي کما اشرنا اليـه. او کلمـه د ما کـه څه هم لپاره د تعجب ده لکن چونکه تعجب پر خدای ﷻ محاله دی نو دلتـه بلکه په تولـه قرآن کريم کي لپاره د تعجيب ده يعني القاء السامعين في التعجب فافهم، اما عدم جواز التعجب على الله فـلان منشـاء التعجب الجهل بسبب المتعجب منه کمالا يخفي، وهو محال على الله ﷻ.

فائده: کلمه د ما په اعتبار د اصل په معنا د شي منکر ده او مبتداء ده او مصحح د ابتدائيه يې دادی چي تنکير يې لپاره د تعظيم دی کما في شر اهر ذاناب. او يا کلمه د ما موصوله ده او ما بعد يې صلـه ده او خبر يې محذوف دی اي شيئ عظيم وانما قلنا باعتبار الاصـل لانهـا منقولـة من المعنى الخبري لانشاء العجب کذا في البنضاوي وحواشيه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ نَزَّلَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ ؕ

يعني د عذاب النار په سبب ددې دی چې خدای ﷻ نازل کړی دی کتاب يعني جنس کتاب که تورات دی که قرآن په حق سره البا، للملابسة نو خود به هغه څوک چې تکذيب د حق لکه يهودانو چې تکذيب د قرآن کريم وکړی او يا حق پټوي لپاره د اغراض فاسده و دنيويه و لکه د يهوديانو ملايانو چې د تورات نازل سوي آيتونو په باره کې د نعوتو د محمد ﷺ يې پټ کړه هغه کسان به په دوږخ او ور کې وي.

پوه سه: چې چونکه نزول د کتاب بالحق خو سبب د عذاب النار نسي کېدای ددې سببه مفسرين رح تولـه داسـې تقدير ورسره کوي فرفضوه بالتکذيب او الکتمان واشرنا اليه في الترجمة بقولنا نو خود به هغه څوک آه.

وَاِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِي الْكِتٰبِ لَفِيْ شِقَاقٍۭ بَعِيْدٍ ۟ ع

او په تحقيق هغه کسان چې اختلاف کوي په کتاب کې.

پوه سه: چې لام تعريف په الکتاب کې يا لپاره د جنس دی، نو اختلاف يې دادی چې په بعض کتب الهيه و سره ايمان سړی لري او په بعض کتب الهيه و سره کفر کوي لکه يهود او نصاری، او يا لام لپاره د عهد دی نو معهود يا قرآن کريم دی او اختلاف په قرآن کې دادی چې بعض کفار وايي ي قرآن سحر دی او بعض وايي کلام علمه بشر، او بعض وايي چې قرآن مبارک د پخوانيو خلګو قصې دي يعني له جانبه د خدای ﷻ نه دی او يا لام عهد اشاره وتورات ته ده او اختلاف په تورات کې تاويل د تورات دی پر خلاف د ما انزل الله او يا تحريف دی د ما انزل الله کمامر في احوال علماء اليهود، نو مذکور کسان په شقاق او اختلاف کې دي چې لري دي دوئ د حق او صواب څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: پوه سه چي په دغو آیتو کي زجر عظیم دی هغو ملایانو لره د امة محمدیه ﷺ چي حق ددین اسلام پټهوي د غرض فاسد دنیوي لپاره یعني چي د رئیسانو څخه د حکومت او یا د وزیرانو څخه یې پټهوي او یا د دنیا دارانو څخه یا ددې غرض لپاره چي زه حق بیان کړم زما قدر او رتبه په حکومت کي د زوال یا د نقصان سره مخامخ سي او ددوئ مالي مرستو ته سترګي په لاره وي، او یا دغه ملایان د هغو مذکوره اشخاصو سره په بعض احوالو کي د هغو شریکان وي کحب الدنیا وجمع المال من الحلال والحرام، ولهذا لم یذکروا بعض المحرمات من المعاملات لاهل الدنیا لوجود تلک المحرمات فیهم ایضا، او یا یې ریاست دنیوي خوښ وي، او یا یې ورجي او غوښي او چرګان او نور ماکولات شهیه خوښ وي نو دوئ بېرېږي که موږ حق بیان کړو دا ماکولات او مشروبات لذیذه به مو له لاسه ووځي، او یا د پیجارو موټر او یا لندکروزر موټر مثلا سپرتیا یې محبوبه وي او په بیان الحق سره یې هغه له لاسه وځي، او یا ښه ښکلا قصر او کوټی چي حکومت دده د استوګني لپاره ورکړي وي په بیان الحق سره یې بیرته ځني اخلي، او یا زیب او زینت او زیورات د ماینو او د لوڼو یې خوښ وي، نو ځکه دوئ په رشوت او بډې اخستلو کي سرماتی کوشش کوي، او له بېري د رشوت پر حرمت باندي ږغا نه سي اچولای او بیان یې په مجالسو کي د وعظ او تبلیغ نسي کولای وغیر ذالک، نو دوئ ځکه غواړه مالي د امراؤ او وزراؤ او دنیا دارانو سره کوي. فعند ذالک یاکلون ویاخذون بدین الله ثمنا قلیلا فانیا، ولا یاکلون الا نار الحرص والشهوة والحسد التی تطلع علی افئدتهم وتاکل حسناتهم کما تاکل النار الحطب فلیحذر هولاء العلماء من مثل فعل علماء الیهود والنصاری ومع ذالک هم یقولون في مجلس العوام العلماء ورثة الانبیاء کذا في روح البیان مع زیادة ونقصان وورد في الحدیث الصحیح النبوي ﷺ ان افضل الجهاد کلمة الحق عند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سلطان جائر، قال الحسن البصري رحمه الله چي ملکي د دوزخ چي د زبانیه په نامه یادیږي وفاسقانو ته د علماء د امت مرحومه یعني هغه ملایان چي په علم یېعمل نه وي کړی او یا د اغراض فاسده دنیویه لپاره یې حق پټ کړی وي چابک د دوزخ داخلېدو ورځي تر عبدة الاصنام، نو علماء سوء شکایت و خدای ﷻ ته وکړي چي زبانیه زموږ وخواته تر عبدة الاصنام دمخه را راواني دي، خدای ﷻ به ورته ووایي لیس من یعلم کمن لایعلم انتهى. الحاصل ان من اشترى الدنيا بالدين فقد وقع في خسران مبين، اللهم نجنا من هذه البلية العظمى.

القصه: د ذو القرنین رحمه الله څخه روایت کوي چي دی په دوران کي د مملکت الدنیا دده پر یو قوم ورغلی چي تارکین ددنیا د عیش او عشرت وه، او غذاء یې له نباتاتو څخه د مځکي وه، او قبر د هر چا د مړي پر دروازه دده ژوند و، او په عبادت کي د خدای ﷻ تولـه مصروفه وه، نو ذو القرنین ورئیس ته د هغه قوم سړی ورواستاوه چي ذو القرنین وایي ته راسه، نو رئیس د هغه قوم وقاصد ته د ذو القرنین داسي وویل مالي حاجة الى ملاقات ذي القرنين، نو ذو القرنین پخپله د هغه قوم د رئیس ملاقات ته ورغلی، نو اوله پوښتنه یې دا خندی وکړه چي ستا سي سره ذهب او فضه ډېر سته او که لږ؟ رئیس ورته وویل ډېر لږ. ذو القرنین ورته وویل چي ولي؟ رئیس ورته وویل چي زموږ په قوم کي طالب د دنیا نسته. ذو القرنین ورته وویل چي ولي؟ رئیس ورته وویل لانها لاتشبع احدا. ذو القرنین دوهمه پوښتنه دا خندي وکړه چي ولي مو قبرونه د قریبانو د کورو د مخه سره ګرځولي دي؟ رئیس ورته وویل ددې لپاره چي مرګ مو هېر نه سي، بیا هغه رئیس یوه کوپړی د سر ورته راوه ایستل، او ذو القرنین ته یې وویل چي دا د یو باچا د سر کوپړی ده چي پر رعایتو یې ظلم کاوه او اسباب د دنیا یې جمع کوله آخر مړ سو او د ظلم ګنهونه پرده پاته سوه، او بیا یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کوپري. د بل سړي ورته راويستله او وه يې ويل چې دا د ملک عادل مشفق على الرعية د سر کاسه ده، او بيا هغه هم مړ سو چې رعيت دعاء د مغفرت ورته کوي، او خداى ﷻ به هم جنت ته ور استولى وي ان شاء الله. او بيا هغه رئيس د ذو القرنين پر سر لاس کښېښوى او ورته وه يې ويل من اي الراسين يکون راسک، نو ذو القرنين وژړل، او رئيس ته يې وويل چې ستا خوښه نه ده چې زما سره ملګرى سې زه به خپل ټوله مملکت ستا سره نيمى کړم او يا به خپل وزارت وتاته درکړم، رئيس ورته وويل هيهات يعني دا خبره ډېره لېرې ده ذو القرنين ورته وويل چې ولې، رئيس ورته وويل چې خلګ ټوله ستا دښمنان دي په سبب د مال او جاه وجلال او مملکت، او زما ټوله دوستان دي په سبب د قناعت

لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ

نه دی بر، پوه سه چې "بر" هر هغه ښه کار دی چې د خداى ﷻ رضى پکښې وي او صاحب البر وجنت ته رسوي نه، دا کار چې تاسي به ګرځوئ مخان خپل يعني په لمانځه کي وطرفته د مشرق اويا مغرب.

پوه سه: چې حفص ؒ او حمزه ؒ د "بر" لفظ په نصب سره وايي يعني خبر مقدم د ليس يې بولي، او اسم د ليس ان تولوا په تاويل د مصدر بولي، او نور قاريان د بر لفظ په رفع سره وايي بعکس الاعراب السابق، او لفظ د "قِبل" ظرف مکان د "تولوا" دی، او صاحب د روح البيان ونصب ته د "بر" ترجيح وکړې ده او يوه نحوي وجه يې ذکر کړې ده لکن درويش وايي چې دغه دواړه قرائته مشهور بلکه متواتر قرائته دي بايد يو پر بل ترجيح ور نه کړل سي.

پوه سه: چې مخاطب په "تولوا" سره يهود او نصارى دي ولې چې قبله د بيت المقدس څخه کعبې ته وګرځېده نو د اهل الکتابو دوو ډلو ډېرې نارې سورې جوړې کړې او هرې ډلې ددوئ به دا دعوې کولې چې بر حصر دی په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

توجه ددوئ د قبلې، فرد الله عليهم يعني ستا د قبلې ولور ته لمونځ کول هيڅ بر نه دی لکون التوجه اليها منسوخ، نو بناءً على هذا لام تعريف په البر کي لپاره د جنس دی يعني لپاره د نفي د جنس البر ددوئ له قبلې څخه، بسبب نسخها.

پوه سه: چي معمر د قتاده ﷺ څخه روايت کړی دی چي يهوديانو بيت المقدس ته لمونځ کاوه چي په مدينه منوره کي وطرفته د غرب واقع ده. او نصاراوو هر ځای چي وايي ولور ته د مشرق لمونځ کاوه کذا قال المظهري رحمه الله.

وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ

پوه سه: چي چونکه بر مصدر دی او "من" ذات دی نو لپاره د صحت د حمل د ذات چي من آمن دی پر مصدر باندي توجيه او تاويل ته ضرورت سته. نو تاويل څو قسمه ممکن دی، يا به بر په معنا د بار يعني په معنا د فاعل وي، نو به تقدير داسي سي ولكن البار من آمن آه نو داوړه ذات سوه او حمل بې صحيح سو، او يا به د بر سره مضاف مضاف مقدر يعني ولكن ذا البر من آمن آه. بيا هم دواړه ذات سوه او حمل يې صحيح دی. او يا به د من آمن سره مضاف مقدر وي يعني لكن البر بر من آمن آه بيا هم حمل صحيح دی ولې چي اسم او خبر دواړه مصدر سوه وهذه كلها مذكورة في كلام المفسرين رح بالاتفاق نو معنا د آيت داده چي صاحب البر هغه څوک دی چي ايمان يې راوړی وي پر خدای ﷻ باندي په توحيد سره او پر ټولو صفاتو د جلال الذات او د صفات الكمال باندي المنزه عن سمات الحدوث والنقص والزوال.

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ

او ايمان يې وي پر ورځ د آخرت چي مراد ځني يوم القيامة ده چي شروع په نشور او احياء الموتى څخه تر ابده پوري ده، چي د هغې ورځي په ايمان کي بعث بعد الموت او حساب الحسنات والسيئات او ميزان الاعمال او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پل د صراط په نامه او جنت ومافیها من النعم والسرور، او د دوزخ او مافیها من الآلام والعقارب والحیات، والشفاعة الکبری لسیدنا محمد ﷺ او شفاعت د نورو انبیاؤ علیهم الصلوات والتسلیم او صالحین د امت رحمهم الله تعالی او مغفرت الهي ﷻ او همیشه د اهل جنت په جنت دار الثواب کي او خلود د اهل النار په دار العذاب کي، دا ټول په ایمان د یوم الآخر داخل دي لان هذه الامور کلها ثابتة بالکتاب والسنة في الیوم المذکور، کما لایخفی.

وَالْمَلٰٓئِكَةِ

او ایمان یې وي پر ملائکه وو چي هغه اجسام لطیفه دي خلقت من نور لهم اجنحة مثنی وثلاث ورباع آه او قادري دي پر مشکل په اشکال مختلفو باندي او ذکورة نه لري او نه انوثة لا یعصون الله ما امرهم ویفعلون مایؤمرون نه خوراک لري نه څښاک لري، او مري بیا په یوم البعث ژوندي کېږي او پر مختلفو وظیفو او کارو د خدای ﷻ له خوا مقرري دي، او عدد ددوي بېله خدای ﷻ هیڅ چاته معلوم نه دی ولا یعلم جنود ربک الا هو، او د خدای ﷻ سره نسبي قرابت نه لري یعني د خدای ﷻ لوڼي نه دي لکه مشرکانو د مکې چي به ویل الملائکة بنات الله تعالی عن ذالک.

وَالْكِتٰبِ

او ایمان به لري پر کتاب باندي، مراد له کتابه یا جنس کتاب دی چي ټولو کتب الهیه وو ته شامل دی او القرآن المجید، او پر هر تقدیر یهودیانو او نصاراوو په دې ایمان کي نه دي شامل ولي سره د قیام الدلیل پر دې باندي چي قرآن کتاب الله دی دواړي ډلي ایمان نه پر لري.

وَالنَّبِيّٖنَ

او پر ټولو نبیانو علیهم السلام یې ایمان وي چي ټوله انبیاء ع مبعوث له جانبه څخه د خدای ﷻ دي د خلګو د هدایت لپاره، او صادق دي په امر او

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

نهي كي د خداى ﷻ او په وعد او وعيد كي د خداى ﷻ او په ټولو اخبارو كي خداى ﷻ او دوئ به ايمان پر ټولو دغو نبيانو عليهم السلام لري من غير تفرقة بينهم. قال الله ﷻ في بيان هؤلاء المؤمنين لا نفرق بين احد منهم، او يهود په دغه ايمان د ټولو انبياوٌ شموليت او برخه نه لري، ولي چي ډېر انبياء ع دوئ په قتل سره رسولي دي او په نبوت د محمد ﷺ كي هم طعن ويلى دى او د هغه د نبوت څخه يي انكار كړى دى، اوپه دې آخر انكار كي نصارا هم ورسره شريكان دي.

پوه سه: چي ايمان پر دې پنځو امورو د اصولو څخه ددين دى اوله قواعدو څخه د عقائدو دى، حاصل هذه الآيات ان البر الذي يهتم به غاية الاهتمام ليس هو امر القبلة بل الامر المهتم به هو الايمان بالامور الخمسة المذكورة التي يجد الايمان بها كلها في دين محمد ﷺ لا في اليهود ولا في النصارى، اللهم ثبتنا على جميع عقائد الاسلام ووفقنا لمراعات فروعات الدين المبين آمين آمين آمين يا مجيب الداعين.

درويش وايي: چي اصول ددين چي بيان سوه اوس خداى ﷻ د بعضو فروعو ددين بيان كوي نو وايي.

وَاٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ

پوه سه: چي على حبه جار ومجرور په ځاى كي د حال دى، او ضمير د حبه راجع دى و مال ته والمعنى وركوي مال په حال د محبت د مال يعني په حال د صحت ولي چي په حال كي د صحت سړى محبت د ډېروالي د مال لري، وهذا قول ابن مسعود ؓ او په روايت كي د ابو هريره ؓ داسي راغلي دي چي يو سړى راغلى او د عليه الصلوة والسلام څخه يي پوښتنه وكړه، يا رسول الله اي الصدقة اعظم اجرا قال هغه صدقه اعظم اجرا ده چي ته دا صدقه وكړې په داسي حال كي چي ته په صورت جوړ يي او بخل او حرص د دنيا هم لري، او له فقره بربېږي او د غنى فكر هم درسره وي، او صدقې ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مهلت او ځنډ مه ورکوه تر هغه وخته پوري چي روح دي حلقوم ته را ورسېږي يعني حال د زکندن دي سي، نو ته وايي چي فلاني سړي ته دومره صدقه ورکړئ او فلاني ته دونه صدقه ورکړئ وقد كان لفلان رواه البخاري ومسلم، او تائيد ددې توجيه هغه آيت مبارک کوي ﴿لن تنالوا البر حتى تنفقوا مما تحبون﴾ بيضاوي دا توجه اول راوړې ده او مظهري په قيل سره راوړې ده، او يا ضمير راجع دی وخداى ﷻ ته يعني دا ورکړه د مال يې خالصا لوجه الله وي ومحبة لرضاه تعالى فان مثل هذه الصدقة مقبولة عند الله وعليه تعالى اجره وما كان لغير الله تعالى فانه تعالى منه بريئ لانه تعالى اغني الشركاء من الشرک کما ورد في الحديث الذي رواه مسلم وعن ابي هريره ﷺ قال قال رسول الله ﷺ چي اولين د خلګو چي پر دوئ قضاء الهي د دوږخ کېږي درې نفر دي، درويش وايي چي حديث مختصر کېږي له مقام سره د مناسبت سړی حال بيانوي، نو وايي وثالثهم او دريم هغه سړی دی چي خدای ﷻ فراخي ددنيا وکړې وي او قسم قسم مالونه يې ورکړي وي، نو داسړی و ځای ته د حساب حاضر کړه سي او خدای ﷻ خپل نعمتونه ورته بيان کړي او د هغه سړي هم هغه نعمتونه وريياد سي. نو بيا خدای ﷻ ورته ووايي چي تانو څه وکړه په هغو نعمتو کي هغه سړی ورته ووايي چي مانه ده پرېښې يوه لار د خير چي ستا خوښه وه انفاق په هغه لار کي مګر په هغه لار کي ما انفاق کړی دی ستا د رضی لپاره. خدای ﷻ به ورته ووايي چي درواغ دي وويل يعني په دې قول کي چي ستا د رضی لپاره لکن تا ددې لپاره انفاق کاوه چي خلګ ووايي چي فلانی څونده جواد او سخي سړی دی، وقد قيل يعني هغه غرض خو تاته په دنيا کي ورسېدی، يعني خلګو وويل چي فلانی ډېر سخي سړی دی، نو بيا خدای ووايي يعني ملکو ته چي کش يې کړئ پر مخ باندي د دوږخ، نو ملکي يې هم دوږخ ته ورواچوي (رواه مسلم في صحيحه) وايضا ورد في الحديث الذي رواه مسلم

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ایضـا ان الله لا ینظـر الـی صـورکم واموالکم ولکـن ینظـر الـی قلوبکم واعمالکم، او یا ضمیر راجع دی ومصدر ته فـالمعنی واتی المـال علی حب الاعطاء، یعني په شوق او محبت سره اعطاء کوئ، بیضاوي، مظهري، روح المعاني، درویش،

قال السعدي الشیرازي رحمه الله

پریشان کن امروز گنجینه چست — که فردا کلید نه در دست تست
کنون بر کف دست نه هر چه هست — که فردا بزندان گزی پشت دست

ذَوِی الْقُرْبٰی

یعني خاوندان د قرابت، نو "قربی" مصدر دی په معنا د قرابت.

پوه سه: چي قرابت عـام دی کـه نسبي وي لکـه پـلار مـور زوئ ورو اکا وغیرهم، او که سببي وي لکه مېړه ماینه خسر خواښې، او که ذوي القربی ذوي الفروض وي، او که عصبات وي او که ذوي الارحـام، بیضـاوي رحمه الله وایي چي مراد څندي محتاجان دي او قید د محتـاجین یې نـه راوړی ولي هغه ظاهر قید دی.

پوه سه: چي ذوي القربی یې تر ټولو دمخه کړه لحدیث رواه الترمذي وابن ماجه والنسائي وابن حبان والحاکم رحمهم الله عن سلیمان بن عامر رضي الله عنه قال قـال رسـول الله ﷺ صدقتک علی المسلمین صـدقة وعلـی ذي رحمـک (اي نفس اهل القرابة لا المعنی الاصطلاحي) ثنتان صـدقة وصلة نو ذوي القربی افضل د فرق مذکوره وو دي وایضـا روی مسلم رحمه الله عـن ابي هریرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ (۱) دینار انفقته في سبیل الله

(۲) ودینار انفقته في رقبة (اي في تخلیص رقبة المملوک عن الرق)

(۳) ودینار تصدقته علی مسکین (۴) ودینـار انفقتـه علـی اهلـک اعظمها اجرا الـذي انفقتـه علـی اهلـک، وری البخـاري ومسـلم عن زینب زوجة ابن مسعود رضي الله عنه قالت قال رسول الله ﷺ تصدقن یا معشـر النسـاء ولـو من حلیکن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فقالت هي وامرئة اخرى اتجزى الصدقة عنهما على ازواجها وعلى ايتام في حجور مما فقال رسول الله ﷺ لكما اجران اجر القرابة واجر الصدقة.

درویش وایي: چې دا حدیث ډېر طویل دی لکن مظهري دغه قدر راوړی دی یعني په قدر د حاجت د مقام، نو درویش هم اکتفاء په دغه قدر سره وکړه.

وَالْيَتٰمٰى

پوه سه: چې یتیم په انسانانو کې هغه څوک دی چې دی بالغ نه وي او پلار یې مړ وي، او په حیواناتو کې هغه حیوان چې دی کوچنی وي او مور یې مړه سي لکه د خرې کوچنی بچی چې پاته سي، او په جواهراتو کې هغه جوهر دی چې مثل یې نه وي کما یقولون درة یتیمة یعني في الصدف.

پوه سه: چې تر ذوي القربى وروسته یې یتیمان راوړه لانهم لیس لهم من یقوم بحوائجهم، ولهذا قال رسول الله ﷺ انا وكافل اليتيم كهاتين في الجنة، یعني لکه دوې ګوتې سبابه او وسطى.

درویش وایي: چې بیضاوي لکه موږ چې یې د مخه ذکر وکړی د ذوي القربى سره یې قید د محتاجین ویلی دی، او مظهري داسې اعتراض پر کړی دی قلت هذا التقيد غير ظاهر لان الكلام في ايتاء المال تطوعا او ما هو اعم من الفريضة والتطوع، واما الزكوة المفروضة يعني المقيدة بالاحتياج والفقر في الموتى له فسيره ذكره، والايتاء تطوعا لايتقيد بالمحاويج فان صلة الرحم قد تكون مع كون المعطى له غنياً بل لايتوقف صله على كون المعطى مسلما . ثم اطال الكلام في رد قول البيضاوي رحمه الله كما هو دیدنه، والجواب عنه چې د بیضاوي دا مراد نه دی چې ایتا المال تطوعا حصر په مجاویجو کې دی په دې معنا چې که غني ته صدقه تطوع ورکړه نو صله رحمي نه ده او ثواب یې نسته فان هذا لا يقوله العامي فضلا عن البيضاوي بل مقصوده بيان افضل انواع ایتاء المال تطوعا مثلا د یو سړي دوه وروڼه وي یو غني او بل محتاج او فقیر وي نو دې سړي ته افضله

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

داده چې صدقه تطوع دي وفقير وروړ ته ورکړي لپاره د سد فقر دده، او د فقير وروړ په ورکړه کي صلة الرحم بالا ده تر صلة الرحم د غني وروړ په ورکړه کي وهذا مما لايخفى على العاقل.

وَالْمَسٰكِيْنَ

يوه سه: چي مساكين جمع د مسكين ده مشتق ده "سكون" څخه دي يعني چي فقر دی پر ځای کښېنولي وي يعني لکه اغنياء چي له يوه ځای څخه بل ځای ته د تجارت لپاره چي دی قدرت د سفر دتجارت نه لري.

يوه سه: چي مسكين دوه قسمه دي، يو هغه دي چي له چا غوښتنه نه کوي وهو المراده، او بل هغه دي چي لاس د سوال يې وبل چاته نېولی وي هغه په سائلينو کي داخل دي.

وَابْنَ السَّبِيْلِ

او د لاري زوئ، بعض مفسرين وايي چي مراد هغه مسافر دی چي له کوره لېري واقع وي او بې خرڅه وي که څه هم په کور کي دنيا لري. او بعض وايي چي مراد خندی مېلمه دی د ابي شريح څه روايت دی چي رسول کريم ﷺ وويل چي څوک ايمان لري پر خدای ﷻ او پر ورځ د آخرت نو عزت د مېلمه دي کوي رواه البخاري ومسلم، وکذا ورد في الحديث النبوي ﷺ اكرموا الضيف ولو كان كافرا.

وَالسَّآئِلِيْنَ

يعني چي حاجت و سوال ته مجبوره کړي وي وفي الحديث الذي رواه احمد للسائل حق ولو جاء على فرسه. قال السعدي قدس سره

نه خواهندهٔ بر در ديگران بشكرانه خواهنده از در مران

وعن ام عبيد ﷺ رد والتسائل ولو بظلف محرق رواه الترمذي وغيره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: سوال که څه هم غیر محتاج ته حرام دی لکن پر مسئول عنه باندي حق ددې لري چي یو شی ورکړي ولو کان عالما بغنائه.

وَفِي الرِّقَابِ

یعني په خلاصولو کي د مکاتب د پوره څخه د کتابت قال الله تعالی ﴿واتوهم ای المکاتبین من مال الله الذي آتاکم﴾ او بعض مفسران وایي چي مراد دادی چي بندیان د مسلمانانو دي د کفارو څخه په مال خلاص کړي، او بعض وایي چي اغنیاء دي مریان رانسي لپاره د عتق.

یوه سه: چي علماء د یهودیانو په یوه فرقه کي نه دي داخل لانهم اخذوا الاموال من سفلتهم بالباطل حیث کتموا حقیقة دین الاسلام علیهم واشتروا به ثمنا قلیلا.

یوه سه: چي رقبه مجاز دی د شخص څخه من قبیل ذکر الجزء وارادة الکل.

وَأَقَامَ الصَّلٰوةَ

او اداء کوئ لمونځونه که فرضي وي او که نفلي سره د فرائضو د لمونځو او د واجباتو او سنتو او مستحباتو.

یوه سه: چي داجمله عطف ده پر صلة د من ای من آمن واتی المال واقام آه.

وَآتَى الزَّكٰوةَ

او ورکوئ زکواة د مالو، بیضاوي وایي چي مقصود د آتی الزکوة، او د اتی المال آه له دواړو څخه فرضي زکواة دي لکن مقصود په اتی المال کي دي بیان د مصارفو د زکواة وي، او په اتی الزکوة باعثه کول پر اداء د زکواة وي فلا یکون تکرارا.

فائده: ذکر د مصارفو یې تر اداء الزکوة د مخه راوړی اهتماما بشان المصارف ولي چي صدقه او زکوة هلته اعتبار عندالله لري چي پر مصرف برابره وي مثلا که سړی ډېري روپۍ وغني ته په زکواة کي ورکړي اعتبار نه

لري يعني د زكواة فرضي غاړه نه په خلاصيږي، او دا هم احتمال لري چي له اول څخه دي مراد نوافل د صدقاتو وي، او په ثاني كي دي فرضي زكواة وي، او داهم احتمال سته چي په اول كي دي عام مراد وي يعني كه فرضي وي او كه نفلي او په ثاني كي دي يوازي فرضي مراد وي فذكر الفرضي ثانيا اهتماما بشان الفرضي.

وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا

او هغه كسان چي وفا په وعده سره كوي چي دوئ وعده وكړي كه د خداى ﷻ سره وي لكه په يوم الميثاق كي تولو انسانانو وعده كړې ده قال الله تعالى ﴿الست بربكم قالوا بلى﴾ او يا په دنيا كي قسم واخلي خان دي نه حانثوي، او كه نذر وكړي وفا په كوي، او كه د بندګانو سره وي مثلا د قضاء الدين وعده دي د پور وړي سره وكړه بايد حتى الممكن وفاء په وكړي يا چا امانت دركړې بايد خيانت نه ورسره وكړي بلكه په وخت د غوښتني يې كاملا بېرته وركړي. او چا پر يو حق شاهد وګرځولي بايد هغه په وخت كي د غوښتني اداء كړي، او چي د چا سره خبري كوي بايد رشتيا وايي. وورد في الحديث الذي رواه البخاري ومسلم وغيرهما ﴿آية المنافق ثلث اذا احدث كذب. واذا وعد اخلف. واذا اوتمن خان﴾ او مسلم دا توري هم زيات كړي دي ﴿وان صلى وصام و زعم انه مسلم﴾ او د عبدالله بن عمر ﷺ څخه بخاري او مسلم وايي چي رسول الله ﷺ وويل چي څلور خويه چي په چا كي وي هغه منافق خالص دى، او كه په چاكي يو خوى ددغو خويو څخه وي په هغه كي يو خوى د نفاق سته څو چي پريږدي يې، چي څوک يې امين وګرځوي دى خيانت ورسره وكړي، او چي خبري كوي دروا غ وايي، او چا له چا سره عهد وكړي وفا نه په كوي بلكه غدر كوي، او چي له چا سره يې دعوه او خصومت سي فحش بنكنځل كوي.

سوال: په مخني حديث كي درې شيه علامه د منافق ګڼل سوي وه، او په دې حديث كي څلور شيان علامه د منافق حساب سوه نو منافات په نه وي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: اهل الفقه والاوصول پر دې متفق دي چې تصریح په اسم عدد سره نفي د زائد نه کوي.

فائده: په دې دوو حدیثو کې نهایت تغلیظ دی پر هغه کسانو چې مذکوره خویونه تول یا یو پکښې وي، خکه علماء دین ودې کسانو ته منافق عملي وايي یقین کافر نه دی.

پوه سه: چې لفظ د "والموفون" عطف دی پر "من آمن" عطفا بالمعنی لانه في المعنی ومن افوا.

بیت

اول خدای ته وفاء دار سه مسلمانه

او د خلګو سره هم وفاء داري که مسلمانه

وَالصّٰبِرِيْنَ فِي الْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ وَحِيْنَ الْبَاْسِ

او هغه کسان دي چې صبر یې کړی وي په سختي او په فقر کې، او په مرض د بدن کې یعني هر نوع مرض چې وي، او صبر کونکي وي په وخت د جهاد في سبیل الله

پوه سه: چې مظهري ﷫ وايي چې دا لفظ هم معطوف دی پر من آمن آه او وجه د نصب یې دا بیان کړې ده چې د عربو دا قانون دی چې کلام اوږد سي دوئ اعراب ته تغیر ورکوي، او حواله یې پر ابو عبیده کړې ده، او روح المعاني او روح البیان او بیضاوي وايي چې دا لفظ منصوب علی المدح دی بتقدیر اعنی، او اخص، او امدح او دا وجه امام النحاة خلیل بن احمد مختاره کړی دی.

پوښتنه: ولې صراحةً نه سو عطف یعني والذین صبروا؟

ځواب: په تغیر کې اعراب تنبیه ده پر فضیلت د صبر پر نورو اعمالو سره د بر، یعني ماسوی د ایمان بالاشیاء التی مر ذکرها الخمسة فلا یرد ان الایمان افضل من الصبر المذکور ههنا، او مظهري ﷫ بعض ضعیف احتمالات نورهم راوړي دي، حاصل د ټول آیاتو دادی چې معتبربه ماهیت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د بر شپږ شیه دي الایمان بالامور الخمسة المذكورة واقام الصلوة وایتاء الزكوة والایفاء بالعهد، والصبر في الامور الثلثة المذكورة ههنا فمن جمعها فهو الكامل في البر الذي يستحق المدح.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ﴿١٧٧﴾

دغه کسان چي موصوف په دغو صفاتو مذکوره و سره وي هغه کسان دي چي صادقان دي په ایمان او بر کي، او هم دغه کسان د ي چي خانونه يې ساتلي له کفره او نورو بدو کارو.

پوه سه: چي اسم اشاره یعني اولئک چي دوه واره مکرر کړه لپاره د تعظیم د شان ددغو مؤمنانو چي موصوف په صفات مذکوره و سره وي او ضمیر فصل يې لپاره د حصر د حقیقت تقوی دی په دغه کسانو کي، وفي الحدیث الصحیح النبوي ﷺ ﴿من عمل بهذه الآية فقد استكمل الايمان﴾ که چا عمل وکړی په دغه آیت سره نو يې ایمان کامل کړی.

والوجه في ذالک ماقال المظهري بالاجمال والبیضاوي والبرسوي بالتفصیل وعبارة البیضاوي في ذالک هذا والآية كما ترى، جامعة الكمالات الانسانية باسرها دالة عليها صريحا او ضمنا فانها بكثرتها وتشعبها منحصرة في ثلثة اشياء صحة الاعتقاد وحسن المعاشرة وتهذيب النفس يعني من الرزائل، وقد اشير الى الاول بقوله تعالى من آمن بالله الى قوله والنبيين آه والى الثاني بقوله عزوجل ﴿واتى المال الى قوله وفي الرقاب﴾ والى الثالث بقوله واقام الصلوة الى اخره، والحديث المذكور اخرجه ابن المنذر في تفسيره عن ابي ميسرة ؓ وهكذا عبارة روح البيان.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى ۖ

پوه سه: چي بعض مفسرین رح وایي چي مخاطب په دې آیت سره باچاهان د مؤمنانو دي په دې معنا چي خدای ﷻ واجب کړی دی پر امیر المؤمنین د مسلمانانو اویا هغه څوک چي قائم د امر المؤمنین وي لکه والیان او قضات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د نواحیو د مملکت چي برپایه کوي دوئ قصاص. فالمعنی یا ایها الائمة والامراء فرض علیکم اخستل د قصاص له قاتل څخه په نبز د طلب د اولیاؤ د مقتول، او دا احتمال هم مفسرینو رح ذکر کړی دی چي مخاطب دي قاتلان وي نو معنا داده چي اي دلي د قاتلانو پر تاسي واجبه ده چي تاسي خانونه وقصاص ته د قتل عمد تسلیم کړئ که اولیاؤ د مقتول ستاسي څخه مطالبه د قصاص کوله، لکونه حق العبد لایجوز للقاتل ان یمنع عنه، او په تعبیر کي په یا ایها الذین اشاره ودې ته ده چي په قتل عمد سره سړی نه کافر کېږي وهکذا سائر الکبائر خلافاً لاهل البدع والا هواء، چي بعض مرتکب د کبارو کافر بولي او بعض یې نه کافر بولي نه مسلمان بلکه په منځ کي د کفر او د اسلام واسطه وایي والتفصیل في کتب العقائد.

مسئله: پر زاني او شارب الخمر واجب نه ده چي خان به حد ته سپاري. ولي چي هغه حد حق الله خالص دی، نو دوئ کولای سي چي د اقامت څخه د حد وتښتي کذا في کتب الفقه مفصلا.

پوښتنه: چي پر حکام او یا قاتل باندي قصاص واجب دی، نو ولي المقتول لره باید حق نه وي؟

ځواب: پر حکامو او یا قاتل باندي چي هغه ته ولي د مقتول عفوه وکړي نو پر حکامو او یا قاتل هم وجوب نسته.

فائده: کتابت په اصل کي خط ته وایي او وروسته په اصطلاح د قرآن کریم او د آحادیثو مبارکه وو کنایه ده د الزام څخه، والقرینة علیه کلمة علی لانها صلة الالزام دون الکتابة.

فائده: کلمه د في په معنا د باء سببیه ده کما قوله علیه الصلوة والسلام ان امرئة دخلت النار في هرة حین ربطتها فماتت من الجوع.

فائده: قصاص په اصل وضع کي مساوات او مماثلت ته وایي، او له هم دې سببه غچي ته مقص وایي چي دواړي پلې یې سره برابري دي، او

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

حکایت ته قصه وایي لمساواتها المحکي عنه، او هغه څوک چي حکایت بیانوي قصاص ورته وایي لانه یذکر مثل اخبار الناس.

پوه سه: چي مقاتل بن حبان رحمه الله وایي چي په منځ کي د قریضه او بن نضیر د یهودیانو قتل او قتال وو نو دا آیت نازل سو، لکن دا شان نزول بې ځایه دی ولي چي په دې آیت کي خدای جل جلاله تعبیر په یا ایها الذین آمنوا سره کړی دی او یهودیان خو اعداء الله وه، بلکه صحیح شان نزول دادی چي لکه سعید بن جبیر رحمه الله چي وایي چي په منځ کي د اوس او خزرج د عربو قتل او قتال چي به پېښ سو، او یوې قبیلې لره پر هغه بلې قبیلې د ډېروالي د نفسو په سبب او د مال په سبب به یې ځانو ته مشرف وویل، او دې مشرفي ډلي به دا قسم کاوه که زموږ د قوم مریي څوک مړ کړي موږ به حر د هغې بلې ډلي پر وژنو، او که زموږ ښځه څوک مړه کړي موږ به یې نر پر وژنو او که زموږ یو نر څوک مړ کړي موږ به یې دوه کسه پر وژنو وهکذا دوئ یعني مشرفه ډلي به پخپلو تېږو کي بې هم دوچندي کوله، نو څرنګه چي دا دوه قومه په اسلام مشرفه سول او دا موضوع وعلیه السلام ته پېش سوه نو دا آیت نازل سو نو دوئ په قضاء الهي راضي سوه.

مسئله: د امام اعظم رحمه الله مذهب دادی چي واجب په قتل عمد کي قصاص دی فقط یعني دیت نه دی واجب په دې معنا چي اولیاء د مقتول نه دی مخیره په منځ کي د قصاص او د دیت البته که قاتل او اولیاء د مقتول دواړه په دیت راضي وه بیانو اخذ المال روا دی، او دلیل د قول د امام اعظم رحمه الله دا حدیث دی في القتل العمد القصاص رواه الشافعي وابو داؤد والنسائي وابن ماجه، او امام شافعي رحمه الله وایي چي واجب که څه هم قصاص دی لکن اولیاء د مقتول کولای سي چي تر قصاص تېر سي او دیت طلب کړي بیله رضا د قاتل، وتفصیل الدلائل والاجوبة في الفقة وعادة المظهري رحمه الله الجرح والتعدیل في الدلائل من الطرفین.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي د تفاسیرو د کتابو سره مناسب نفس نقل د مذاهب دی.

اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْأُنْثٰى بِالْأُنْثٰى

یعني حُر وژل کېږي پر حُر، او مریي پر مریي وژل کېږي او ښځه پر ښځه وژل کېږي.

سوال: ددې آیت څخه خو دا معلومېږي حر به پر عبد نه وژل کېږي او عبد به پر حر نه وژل کېږي، او ښځه به پر نر نه وژل کېږي او نر پر ښځه نه وژل کېږي؟

ځواب: دا احکام مذکوره په سوال کي خو مسکوت عنها دي په آیت شریف کي، البته دا احکام مفهوم مخالف د آیت دي، او امام ابو حنیفه رحمه الله خو مفهوم مخالف ته مطلقا اعتبار نه ورکوي، او امام محمد بن ادریس رحمه الله اگرچه مفهوم مخالف ته اعتبار ورکوي لکن هلته یې ورکوي چي مفهوم موافق بله فائده نه لري بېله مفهوم مخالفه، او په مانحن فیه کي د مفهوم موافق بله فائده سته وهو دفع ترفع د یوه قوم پر بل قوم باندي کما قد مر عنقریب في بیان شان نزول الآیة الشریفة. نو حاصل د آیت دادی که حر بل حر قتل کړي هغه یو حر قاتل به پر قتل کېږي، بل حر به نه ورسره قتل کېږي کما کان في الجاهلیة وقد مربیانه او دغه رنگه که یو مریي بل مریي قتل کړي هغه قاتل مریي پر قصاصېږي نه حر په سبب د شرف د مقتول. او داغه رنگه که یوې ښځي بله ښځه قتل کړه ولو کانت من قوم ذي شرف نو هغه قاتله ښځه پر قتل کېږي لا رجل مکان المرائة لاجل شرف المقتولة.

مسئله: امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله وایي ﴿قتل نفس حرا کانت او رقیقا ذکرا کان او انثی مسلما کان او ذمیا بالنفس کیف ما کانت﴾ وژل کېږي یو قاتل. که دا نفس حر وي که مریي، که نر وي که ښځه، که مسلمان وي که اهل ذمه. په مقابل کي د بل نفس یعني مقتول، څرنگه چي وي مقتول په دغو مذکوره انواعو کي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي دده مسئلې دليل دادی چي په ټولو کتابو يعني مفصلو کتابو کي د اصول الفقه او په ټولو شروح کي د کتابو د فقه او په ټولو فتوی وو کي د فقه دا خبره په متفقه ډول منل سوې خبره ده چي خدای ﷻ او يا عليه الصلوٰة والسلام يو حکم الهي چي په مخني کتابو کي د خدای ﷻ لکه تورات يا انجيل پر امم ماضيه باندي نازل کړی وي او موږ نه يو منع کړي د هغه حکم څخه، نو هغه حکم پر موږ امت محمديه ﷺ هم واجب او لازم او جاري دی او زموږ لپاره هم هغه حکم دی، نعم چي يهود او نصاری موږ ته يو حکم د تورات يا د انجيل بيان کړي، هغه زموږ لپاره حکم نه دی لعدم الاعتبار بنقلهم واذا تمهد القول المسلم عند علمائنا الحنفية فاستمع، چي خدای ﷻ په قرآن مبارک کي وايي وكتبنا عليهم ای علی اليهود فيها ای في التوراة ان النفس بالنفس الی آخر الآية او شک نسته چي دواړه نفسه يعني نفس قاتله او مقتوله ټولو ماذكرنا من النفوس القاتلة او مقتوله ووته شامل دی نو زموږ په امت کي هم داغه حکم دی دقصاص، لان الحاكم واحد وهو الله ﷻ او شريعت د انبياء ع چي نسخه يې نه وي ثابته يو دی ولهذا قال الله تعالی بعد ذكر الانبياء فبهدهم اقتده. يعني ته ای محمد ﷺ په هدايت پسي د نورو انبياء ع اقتداء وکړه، وقال الله ﷻ في موضوع آخر من كتابه العزيز ﴿شرع لكم من الدين ماوصی به نوحا والذين اوحينا اليک وما وصينا به ابراهيم وموسی وعيسی﴾ آه فالاحكام الآلهية لاتبدل الابصريح النسخ كامر القبلة علی مامر او باشارة القرآن كما في قوله تعالی ذالک جزيناهم بماكفروا الخ، سواء كان الحكم المذكور في كتاب واحد او كتب متعددة فالحاصل انه مالم يظهر النسخ فالحكم باق، او د ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي متفق عليه د بخاري او مسلم هم دی پر مضمون سابق دلالت کوي، ﴿قال قال رسول الله ﷺ لايحل دم امرء مسلم يشهد ان لا اله الا الله واني رسول الله﴾ يعني نه دي روا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تویول د وینو د یو مسلمان چي شهادت ورکوي په کلمه طیبه سره او په رسالت وما ته «الا باحد ثلث النفس بالنفس، والثیب الزاني، والمارق لدینه التارک للجماعة» یعني په یوه ددرې خویو یې وینې تویول د مسلمان روا دي چي یو نفس بالنفس دی یعني د قاتل مسلمان وینه تویول روا دي په عوض کي د نفس مقتوله او بل زاني چي نکاح لري وینه تویول یې روا دي یعني په رجم سره، او بل د هغه مسلمان وینه تویول روا دي چي پسله اسلام څخه ددین وو ځي یعني مرتد سي، او جماعت یعني ډله د مسلمانانو پرېږدي او په بله ډله کي د کافرانو داخل سي العیاذ بالله من ذالک.

مسئله: د امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله مذهب دادی که چېري یو مومن یو کافر چي اهل ذمه وي قتل کړي، هغه مسلمان پر قصاصېږي کذا في کتب المذهب الحنفي کلها.

پوښتنه: په حدیث کي د علي رضی الله عنه چي روایت یې بخاري کړی دی راغلي دي لایقتل مسلم بکافر، او په بل حدیث کي چي د عمر بن شعیب عن ابیه عن جده رضی الله عنه چي روایت یې احمد، ابو داوٗد، ابن ماجه، او ترمذي رحمهم الله کړی دی راغلي دي چي ان النبي ﷺ قضی لایقتل مسلم بکافر والجواب چي مراد په دې ټولو حدیثو کي له کافر څخه حربي کافر دی لامطلقه، لیشمل اهل الذمة ایضا، صاحب الهدایة پر قتل د مسلمان په سبب د قتل د کافر ذمي دا دلیل وایي چي رسول الله ﷺ یو مسلمان قصاص کړی په سبب د قتل د اهل ذمه وقال انا اکرم من او في بذمته وهذا الحدیث رواه الدار قطني عن ابن عمر رضی الله عنه واصرح من ذالک ماورد في الحدیث لایقتل مسلم بکافر ولا ذو عهد في عهده، والمعنی چي نه وژل کېږي ذو عهد یعني کافر چي اهل ذمه وي په قتل د کافر سره، او پر دې خو د ټولو ائمة اجماع ده چي ذمي پر ذمي قصاصېږي نو معلومه سوه چي له کافر څخه په احادیث مذکوره سابقا کي مرېی مراد دی، نو د حدیث ترجمه به داسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کېږي چي نه وژل کېږي اهل ذمه کافر په قتل د حربي کافر. نو مسلمان باید په طریق اولی سره په قتل د حربي کافر نه ووژل سي، او بل دلیل پر قتلِ مؤمن په سبب د قتل د اهل الذمة کافر هغه آیت مبارک هم دی چي تفصیل یې عنقریب تېر سو یعني ﴿وکتبنا علیهم ان النفس بالنفس. الآية﴾ فتذکر هداک الله.

مسئله: پلار چي زوئ قتل کړي عمدا پلار نه پر قصاص کېږي عند ابي حنیفة، والشافعي واحمد رحمهم الله. د حضرت عمر ﷺ څخه روایت دی چيٌ علیه السلام وویل ﴿لایقاد الوالد بالوالد﴾ یعني نه وژل کېږي پلار په سبب د قتل د زوئ. رواه الترمذي.

پوه سه: چي ترمذي ددې حدیث روایت کړی دی چي ترمذي د صحاح سته وو په جمله کي دی. لکن بیا هم مظهري چون وچرا پکښي وایي کما هو عادته په نقل د اقوالو د مخالفینو لکه داوُد ظاهري.

فَمَنْ عُفِيَ لَهٗ مِنْ اَخِيْهِ شَيْءٌ

پوه سه: چي مراد د "من" څخه که موصوله وي او که شرطیه وي قاتل مراد دی او دواړه ضمره راجع دي ومن ته. او د "شيئ" تنکیر او تنوین لپاره د تقلیل دي. یعني یو لږ د عفو څخه بان یعفوا ولي دم المقتول عن نصف القیاس او ثلثه او ربعه وهکذا. او یا بعض ورثه د مقتول خپل حق په قصاص کي ورعفو کي نو عفو تام سوه او قصاص ساقط سو ولم یجب الا الدیة.

پوه سه: چي لفظ د شیئ قائم مقام د فاعل د عفی دی.

سوال: عفی خو لازمي او مفعول به ته نه متعدي کېږي. نو شیئ یې څرنګه په ځای د فاعل درېږي؟

ځواب: مفعول مطلق ته خو متعدي دی نو مصدر د عفی په ځای کي د فاعل درېدای سي ومعنی شیئ ههنا شیئ من العفو فهو بمعنی المصدر هذا ماقله البضاوي وتبعه صاحب روح البیان. بیضاوي وایي چي بعض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مفسرین عفی په معنا د ترک بولي چې هغه متعدي دی، نو شیئ یې مفعول به او په ځای د فاعل ودریدی، دی وایي چې دا تفسیر ضعیف دی ولي چې عفا الشیئ په لغت عربي کې په معنی د ترک نه دی ثابت بلکه اعفاه په معنا د ترک ثابت دی آه. لکن صاحب د روح المعاني دا خبره د بیضاوي رد کړې ده. دی وایي چې ترجمه د عفا په ترک سره نقله ائمة اللغة المعول علیهم في هذا الشان وهو وان لم یشتهر الا ان اسناد الفعل المجهول الی المفعول به الذي هو الاصل یرجح اعتباره ویجعله اولی من المشهور لما فیه من اسناد المجهول الی المصدر الذي هو خلاف للاصل

درویش وایي: چې اسناد د فعل مجهول ومصدر ته په قرآن کریم کې واقع دی "فاذا نفخ في الصور نفخة" ولي چې باب د نفخ خو هم لازمي دی نو د نفخ مجهول په ځای کې خو په دې ایت نفخة مصدر درېدلی دی، او حمل د آیت قرآني پر خلاف الاصل ښه کار نه دی بلکه اولی داده چې من عفی آه او نفخ آه پر یوه ډول حمل کړه سي یعني اسناد الفعل المجهول الی المصدر واقامته مقام الفاعل والله اعلم.

د "من اخیه" د لفظ څخه دا ښکاره سوه چې قاتل په عمد سره له اسلامه نه وځي کمامر تفصیلا، او په لفظ مذکور کې استعطاف ده ولي دمقتول دی وعفو ته یعني قاتل قریبک اوس هم ستا وروړ دی باید عفو ورت وکړې

فائده: امام مظهري دقاموس یو عبارت رانقل کړی دی، او دا یې پر تفریح کړې ده چې ددې عبارت څخه داسې فهمېږي چې عفو وذنب ته بنفسه متعدي کېږي او جاني ته په عن او لام متعدي کېږي آه. او بیضاوي او روح البیان وایي وهذه عبارة البیضاوي وعفی یعدي بعن الی الجاني والی الذنب، قال الله تعالی عفا الله عنک، وقال عفی الله عنها. فالاول الی الجاني والثاني الذنب فاذا عدی الی الذنب یعني بعن عدی الی الجاني باللام وعلیه مافي الآیة فکانه قال فمن عفی له عن جانبیه لکن ترک في الآیة ذکر الجنایة لان الاهتمام بشان الجاني انتهی مافي البیضاوي وحواشیه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي صواب ما في البیضاوي او صاحب قاموس مراد بیان د حاصل د معنا د عفو دی لاتقدیر العبارة فوهم المظهري رحمه الله انه تقدیر التعدیة فافهم والله اعلم بالصواب.

فَاتِّبَاعٌۢ بِالْمَعْرُوْفِ وَاَدَآءٌ اِلَيْهِ بِاِحْسَانٍ ؕ

یعني ولي د متقول دي غوښتنه د دیت کوي له قاتله څخه په معروفه طریقه یعني ډېره سختي دي نه پر کوي مثلا چي په درې ورځي کي به مثلا حتما دیت راکوې، او قاتل دي هم اداء د دیت وولي ته د مقتول په ښه طریقه یعني مثلا داسي به نه ورته وایي چي مثلا دیت به پر کال گورو، یا یو څه دیت به راپرېږدي.

پوه سه: چي رفع د اتباع وکذا اداء یا په دې سبب ده چي فاعل د فعل محذوف دی اي فلیکن من ولي المقتول اتباع ولکن من القاتل اداء. او یا دواړه خبر د مبتداء محذوف دي اي الامر اتباع واداء.

ذٰلِكَ تَخْفِيْفٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ ؕ

او دغه حکم چي بعض ورثه عفوه وکړي او قصاص په دیت بدل سي سپکوالی د خدای ﷻ او رحمت دی یعني پر امت د علیه السلام چي عفوه، قصاص او دیت درې سره یې ورته روا کړي دي.

پوه سه: چي صاحب د روح المعاني د مقاتل رحمه الله څخه داسي روایت کوي، چي د یهودیانو په باره کي قتل عمد صرف قصاص وو د قاتل او پر نصاری وو باندي عفوه وه مطلقا، او دا امت محمدیه ﷺ ته خدای ﷻ خیار ورکړی په منځ کي د عفوه او د قصاص او د دیت لپاره د آساني پر دې امت ولي په عفوه سره آساني ده پر قاتل او په قصاص کي تشفي د زړو د اولیاء د مقتول ده، ولي گاهي د سرې زوئ یا ورور چا ورووژلي وي چي بې له قصاصه یې په بل شي زړه نه سرېږي، او په دیت کي نفع دنیا وي ده د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اولیاء د مقتول، مثلا ولي د مقتول دده د اکا زوئ وي چي په ژوند کي د مقتول دغه موجود ولي د مقتول څخه ډېر په تکلیف وي، نو دغه د اکا زوئ ولي د مقتول قصاص خو لاځه کوي بلکه کېدای سي چي په قتل به يې خوشحاله سوی وي، نو دده لپاره دیت غنیمت دی. او په روح البیان کي وایي چي په شرع کي د موسی ﷺ یوازي قصاص وهو العدل فقط، او په دین د عیسی ﷺ کي یوازي عفوه وه وهو الفضل والاحسان مع القاتل وفي ملتنا التشفی القصاص کمامر او د تکرم او احسان لپاره عفوه ده، او ددنیا د لاس رواړلو لپاره دیت دی دا درې سره خدی پاک موږ ته روا کړه، او مظهري وایي چي اهل التوراة انما هو القصاص او العفوه لیس لهم الارش یعني الدیة، او پر اهل انجیل باندي عفوه فقط آه.

درویش وایي: چي زه نه پوهېږم چي مظهري د عفوه حکم پر اهل تورات له څه درکه زیات کړی دی والله اعلم بالصواب.

فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۷۸﴾

او که چا تجاوز وکړی یعني د اولیاوْ څخه د مقتول پر قاتل باندي یعني قتل يې کړی وروسته تر عفوه او یا تر اخستلو د دیت نو هغه لره عذاب دی الیم یعني دوږخ، قال ابن جریج رحمه الله چي قتل د هغه جاني واجب دی په دنیا کي حتی لایقبل العفوه عنه لماروی سمرة رضي الله عنه (قال قال رسول الله ﷺ لا اعافي احدا قتل بعد اخذ الدیة) رواه ابو داوُد رحمه الله.

پوه سه: چي په جاهلیت کي داقانون و چي اولیاء ته د مقتول به قاتل په لاس نه ورتلی نو به يې دیت خندي قبول کړی، نو به قاتل په امن کي سو بیا به هر وخت چي اولیاء د مقتول پر ده یعني پر قاتل برې پیدا کړی نو به يې قتل کړی، نو هغه اخستی دیت به يې واولیاوْ ته د قاتل وروه غورځاوه. فرد الله هذه الدسیسة اشد الرد وایضا ردها رسول الله ﷺ ابغض رد کمامر في حدیث سمرة رضي الله عنه، وما روی المظهري ان المراد بالعذاب الالیم، الخلود في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

النار ابدا فمحمول على التشديد والمبالغة في قبح هذا الفعل والله اعلم.

پوه سه: چي په اتفاق د علماء د امت سبب او علت د قصاص قتل عمد دی او په اتفاق په قتل خطاء کي قصاص نسته لکن په تفسير کي د قتل عمد اختلاف دی، په نېز د امام ابو حنيفه رحمه الله قتل عمد دا دی چي قصدا یې ووهي او قتل یې کړي په سلاح سره لکه تور، خنجر، چاړه، ساتول، ټوپک، کلاشنکوف وغيرها من الاسلحة القديمة او الجديدة. او يا يې په داسي شي ووهي چي جاري مجرى السلاح كالمحدد من الخشب او المحدد من الحجر والنار، او شعبي او نخعي او حسن بصري رح وايي چي قتل عمد نسته بيله د اوسپني د آلاتو. ولاقود في غيره عندهم. او كه يې په قصده وواهه په داسي شي سره چي نه سلاح وه او نه مايجرى مجرى السلاح وه لکه په لرګي چي يې ووهي او يا يې په ډبره ووليي وامثال ذالک هغه ته شبه عمدا وايي او قصاص نه لري بلکه موجب يې ديت دی، يعني عند الحنفية، او که قصد نه و ورسره لکه څوک چي ښکار کوي او پر سړي ومښلي او مړ سي دې ته قتل خطاء وايي او موجب يې ديت دی فقط اجماعا. وفي العمد مذاهب آخر موضع بيانها كتب الفقهاء رحمهم الله تعالى.

وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَٰأُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٧٩﴾

او تاسي لره په مشروع والي د حکم د قصاص ژوند سته اې خاوندانو د عقل شايد د قصاص د حکم په سبب به ځان وساتئ له قتل عمد څخه: قصاص له بېرې، او يا تتقون بسبب اجراء القصاص عن عذاب الآخرة.

پوه سه: چي قصاص يې معرفه په لام جنس وګرځاوه او "حيوة" چي خبر د قصاص دی نکره چي تنوين يې د تعظيم هم دی، ددې معنا لپاره چي په دې جنس کي چي قصاص دی يو لوي ژوند دی تاسي لره (۱) چي يو څوک چي اراده د قتل د چا وکړي لکن د قصاص له بېرې هغه مړ نه کړي نو دوه نفسه ژوندي پاته سوه (۲) بل دا چي اهل جاهليت به غير د قاتل مثلا د قاتل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورور به یې واژه، او بعض اهل جاهلیت چې خانونه به یې مشرف بلله د مقتول خپل پۀ عوض کې به یې پوره جماعت له قومه د قاتل وژله نو آخر به لویه فتنه ددغو دوو قومو تر منځ پیدا سوه چې په سوو کلونه به یې جریان درلودی کما بین الاوس والخزرج من العرب قبل الاسلام، نو چې قاتل قصاص سي، نور تولـه قوم د قاتل ژوندي پاته سو چې اولیاء د مقتول کار نه په لري، او له قومو څخه د قاتل او مقتول د سوو کلونو وژنه او خون دفع سو(۳) بل دا چې قاتل چې قصاص سي حیٰوة طیبه د آخرت یې وربه برخه سو.

فائده: مخاطب یې اولوالالباب کړه ولي چې دوئ په حکم او مصالحو د احکامو الهیه پوهېږي.

فائده: دا آیت قرآني په غایت فصاحت او په نهایت کې د بلاغت دی ولي چې قصاص چې وژل دي ظرف د ضد دده چې حیوة دی وې ګرځاوه او قانون د ضدیت خو دا و چې یو ضد به رافع د بل ضد وای مګر سره د ضدیت ظرفیت یې هم صحیح دی کما عرفت.

فائده: د عربو په ژبه کې هغه کوتا عبارت ددغې معنا لپاره و دا عبارت وو القتل انفی للقتل والکلام الالهي افضل علی ذالک الکلام الوجیز عندهم بوجوه (۱) اول دای چې حروف ملفوظه د آیت کریمه چې تنوین علحده حرف حساب نه سي کما هو مذهب بعض اهل العربیه لس دي، او د کلام وجیزه د عربو حروف ملفوظه څورلس دي (۲) داهم ده چې کلام الهي کلیه صحیح دی ولي چې په هر قصاص کې حیوة سته، بخلاف الکلام الوجیز لهم ولي هغه کلیةً نه دی صحیح ولي قتل ظلماً خو ادعی د بل قتل دی (۳) چې په کلام الهي تنوین د تعظیم موجود دی او ددوئ په کلام کې تنوین نسته(۴) په کلام الهي د محسناتو څخه د بدیع صنعة الطباق دی یعني اجتماع الضدین في کلام واحد مع صحة المعنی وهما القصاص والحیوة (۵) په کلام الهي کې تصریح په مقصود بالذات سره سوې ده وهو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الحيوة او په کلام وجيز کي تصريح په مقصود بالذات سره نه دی سوی ولي چي نفي د قتل خو مقصود بالذات نه دی بلکه مقصود په سبب د حيوة دی (۶) په کلام الهي کي يو قسم غرابت ستنه چي يو ضد چي قصاص دی ظرف د بل ضد وګرځاوه چي حيوة دی په دې معنا چي ظرف چي پر مظروف احاطه وکړی مظروف د تفرق څخه ساتي دغه رنګه قصاص په مانحن فيه حيوة د آفاتو څخه ساتي (۷) په کلام الهي کي تکرار د يو لفظ نسته ولي په تکرار کي څه ناڅه عيب وي او په کلام ددوئ قتل دوه واره مکرر سوی دی.

كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا

ليکل سوی دی يعني فرض سوی دی پر تاسي هغه وخت چي حاضر سي يوه ته ستاسي څخه مرګ يعني اسباب د موت يعني غالب سي پر ظن دده چي مرګ نژدې که پرېښو خير يعني مال.

پوه سه: چي ترک که څه هم ماضي ده خو دلته په معنا د مستقبل ده بقرينة المقام، او بعض فقهاء وايي چي مراد له خير څخه مال کثير دی، ولي چي د امير المؤمنين علي ﷛ څخه روايت دی چي دده يو ازاد شده مريی په وخت کي قرب الموت اراده د وصيت درلوده، او دې مريي نه سوه روپۍ درلودې نو حضرت علي ﷛ دی له وصيته منع کړی او رته وه يې ويل چي خدای ﷻ وايي ان ترک خيرا والخير هو المال الکثير، رواه ابن ابي شيبه. او د عائشة ﷺ څخه روايت دی چي يو سړي اراده د وصيت درلوده يعني ددې سره يې مشوره وکړه، دې پوښتنه څندې وکړه چي ته څو مال لري هغه ورته وويل چي درې زره درهمه، دې ﷺ ورته وويل چي عيال دې څو نفره دي هغه ورته وويل چي څلور نفره دي، دې بي بي ﷺ ورته وويل چي ان ترک خيرا، دا ستا درې زره روپۍ خو لږ شی دي وصيت مه کوه پرې يې ږده وعيال ته.

فائده: وانما فسرنا الموت باسبابه لان الوصية لا يمكن عند حضور نفس الموت والمراد باسباب الموت العلل والامراض.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اِلْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِيْنَ

پوه سه: چي الوصية مرفوع على انه مفعول مالم يسم فاعله لكتب.

پوښتنه: چي وصيت خو مونث غير حقيقي دى او په داسي ځاى كي تذكير او تانيث دواړه روا دي نو د كتب پر كتبت څه ترجيح وه؟

ځواب: نحات وايي چي په داسي ځاى كي تذكير او تانيث دواړه روادي او په منځ كي د فعل او فاعل يا مفعول مالم يسم فاعله فصل راسي لكه دلته چي فصل موجود دى تذكير د فعل اولى دى. ولاحاجة الى ماقال المظهري رحمه الله ان الوصية بمعنى الايصاء او ان يوصى دى لانه لاحاجة الى التاويل فافهم، قوله للوالدين آه متعلق بالوصية.

فائده: په ابتداء كي د اسلام وصيت مالي كول واقاربو ته فرض و په دغه ايت سره او مال به تولـه د زوئ و ثم نسخت هذه الآية بآية المواريث ولهذا قال عليه السلام ان الله قد اعطى كل ذى حق حقه الا لاوصية للوارث.

پوه سه: چي اهل جاهليت چي وصيت د مال به يې كاوه بېگانه يا لېري اقرباؤ ته به يې كاوه لپاره د رياء او سمعه او لپاره د فخر او شرف، او مور او پلار او نور نژدې قريبان به يې مسكنت او فقر كي پرېښول نو په ابتداء كي د اسلام خداى ﷻ دغه آيت نازل كړى نو وصيت د ابعدينو يې راوگرځاوه والدينو او اقربينو ته. قال في روح البيان ثم نسخت هذه الآية اية المواريث في سورة النساء، نو اوس پر سړي واجب نه ده چي وصيت مالي به كوي كه قريب وي او كه بعيد وي او كه سړي وصيت مالي كاوه نو هر چا ته د اقاربو او اباعدو وصيت ورته روا دى مگر هغه چاته چي په ميراث كي برخه لري لږ يا ډېره، هغه چاته وصيت مالي نه دى روا كمامر في الحديث النبوي ﷺ عنقريب. او په روح المعاني كي وايي ان هذا الحكم كان في بدء الاسلام ثم نسخ بآية المواريث كما قال ابن عباس رضي الله عنه وابن عمر رضي الله عنه وقتاده وشريح ومجاهد وغيرهم رحمهم الله. وقد اخرج احمد وعبد بن حميد والترمذي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وصححه والنسائي وابن ماجه رح عن عمر بن حارثه ﷺ ان النبي ﷺ خطبهم على راحلته فقال ﷺ ان الله قد قسم لكل انسان نصيبه من الميراث فلا يجوز لوارث وصية، واخرج احمد والبيهقي عن ابي امامة الباهلي ﷺ قال سمعت رسول الله ﷺ في حجة الوداع في خطبته يقول ﷺ ان الله قد اعطى كل ذى حق حقه فلا وصية لوارث واخرج عبد حميد عن الحسن البصري رحمه الله نحو ذالك وهذه الاحاديث لتلقى الامة لها بالقبول وانتظمت في سلك المتواتر في صحة النسخ بها عند ائمتنا قدس الله اسرارهم، بل قال بعضهم انها من المتواتر والتواتر قد يكون بنقل من لايتصور تواطوئهم على الكذب كما هو المشهور في تعريفه وقد يكون بعضهم بان يكونوا عملوا به من غير نكير منهم علا ان النسخ الحقيقة بآيت المواريث، والآحاديث مبينة لنسخها وبين ذالك فخر الاسلام رحمه الله بوجهين، الاول ان آية المواريث نزلت بعد آية الوصية بالاتفاق وقال الله من بعد وصية او دين فرتب الميراث على وصية منكرة والوصية الاولى كانت معهودة فلو كانت تلك الوصية باقية بعد آية المواريث توجب ترتيبه على المعهود فلما لم يترتب عليه ورتب على المطلق دل على نسخ الوصية المقيدة يعني بالوالدين والاقربين لان الاطلاق بعد التقيد نسخ لذالك المقيد كما ان التقيد بعد الاطلاق نسخ، لتغاير معنيي الاطلاق والتقيد، والثاني ان النسخ نوعان احدهما ابتداءً بعد انتهاء محض، والثاني بطريق الحولة من المحل على اخر كما في نسخ القبلة، وما نحن فيه من القبيل الثاني لان الله تعالى فرض اولا الايصاء الى الوالدين والاقربين الى العباد بشرط ان يراعوا الحدود، ثم بدل ذالك الايصاء ببيان حقوق الورثة في آية المواريث فعلم بحيث لايبقى ريبة لعلماء الدين المبين ان اية المواريث ناسخة لآية الايصاء للوالدين آه.

درویش وایي: چي دا وه فیصله د خاتمة المحققين عمدة المدققين مفتي بغداد العلامة ابي الفضل شهاب الدين السيد محمود الآلوسي البغدادى المتوفي في سنه ۱۲۷۰ ھ رحمه الباري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي قاضي بیضاوي ﷫ ددې نسخ څخه منکر دی وقال فيه نظر لان آية المواريث لاتعارضه بل تؤكده، ثم قال والحديث من الاحاد وتلقى الامة لها بالقبول لايلحقه بالتواتر آه.

درویش وایي: چي ما للبيضاوي وللكلام في الحديث النبوي ﷺ مع ان البيضاوي ﷫ لم يفرق بين الحديث الصحيح والحديث الموضوع حيث اورد في آخر تفسير الفاتحة ان القوم الى آخير الحديث. قال السيوطي هذا حديث موضوع، وقال الخفاجي في شرحه على البيضاوي الحديث موضوع، والمظهري ﷫ مع انه يعتمد على البيضاوي في كثير من مواضع تفسيره الا انه ههنا اورد عبارة البيضاوي بلفظه حيث قال وفيه نظر لان آية المواريث لايعارضه بل يؤكده فانها تدل على تقديم الوصية مطلقا على الارث فكيف تكون ناسخة والحديث من اخبار الآحاد لايجوز به نسخ الكتاب انتهى ثم قال المظهري ﷫ والتحقيق ان الآية منسوخة للاجماع على عدم جواز الوصية لوارث الا عند رضاء الورثة الآخر، والاتفاق الائمة الاربعة رح وجمهور العلماء رح على عدم وجوب الوصية لغير الآقارب.

درویش وایي: چي ما نو دونده اطالة الكلام له دې سببه وکړی چي دا آیت منسوخ په آية المواريث دی او که نه، نو یوازي بیضاوي پر میدان پاته دی چي منکر د نسخي څخه دی او ماڅکه عبارت د روح المعاني سره د طوله په عربي ژبه رانقل کړی تاچي د حاسد ملا پر خوله مي مهر د قیل وقال ورولګاوه، او د روح البیان عبارت مختصره مي هم رانقل کړی او د مظهري له خایه څخه د حاجت عبارت مي هم رانقل کړی.

درویش وایي

حاسدان د ي خپل حسد کړي زما و دوئ ته اجازه ده
مګر خپل نیک عمل به ماته سپاري زما ودوئ ته اجازه ده
زه پخپل نیک عمل کي ډېر قاصر یم
د حاسدو نیک عمل ته منتظر یم زما دوئ ته اجازه ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د حسد سره ملګري هم بهتان او هم غیبت وي
ذا دوې نورې کبیرې دي زما ودوئ ته اجازه ده
په حسد او په غیبت او په بهتان کي ما درویش ته
خوندده لویه سرمایه زما و دوئ ته اجازه ده

بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ ﴿۱۸۰﴾

او وصیت په معروفه طریقه کوئ نه لکه وصیت د اهل جاهلیت کمامر.

پوه سه: چي حقا مفعول مطلق دی د فعل محذوف أي احقه حقا وخص المتقين بالذكر لانهم هم المنتفعون باوامره ونواصيه يعني بالعمل بالاوامر والاجتناب عن المنهيات ولا يتوهم ان هذا الحق مخصوص ومحصور في المتقين مع الاحكام الآلهية عامة لاتختص باحد دون احد

فَمَنْ بَدَّلَهُ بَعْدَ مَا سَمِعَهُ

او که چا بدل وصت د مړي وروسته تر اوربدو

پوه سه: چي ضمير مذكر د بدله راجع و وصيت ته دی په تاويل د ايصاء.

فائده: مراد له من څخه عام دی که شاهد وي او که وصي وي او تغيير د هر یوه عام دی که په انکار د اصل وصیت وي، او یا په نقصان د مال موصی به او بغیر ذالک او سمع آه کنایه له علم څخه دي ای بعد علمه لان السماع سبب للعلم.

فَإِنَّمَا إِثْمُهُ عَلَى الَّذِينَ يُبَدِّلُونَهُ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿۱۸۱﴾

یعني ګناه د ایصای مبدلي خاص په هغو کسانو پوري ده چي ایصاء د مړي یې بدل کړه، یعني پر میت کومه ګناه نسته ولي چي پر وجه شرعي یې وصیت کړی و، او خدای ﷻ اوریدونکی د وصیت د مړي دی او د تبدیل د بدلونکو او هر یوه ته به مناسبه جزاء ورکړي من الثواب والعقاب، او خدای ﷻ خبر دی په حال د هر یوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یوه سه: چي ضمیر د مفرد راجع وایصاء مبدل ته دی، او مراد له "الذین یبدلونه" څخه معنا د من بدله جمع الموصول باعتبار معنی من.

یوه سه: چي په دې آیت کي وعید دی مبدلینو لپاره او وعید دی د وصیت کونکو لپاره.

مسئله: روح المعاني په تفسیر ددې آیت کي داسي وایي چي فرض له ذمي څخه د وصیت کونکي ساقط دې په نفس وصیت سره او وده ته ضرر نسته که دده په وصیت عمل دده اقرباء ونه کړي.

مسئله: که پر یو چا پور باندي وي او ده په قرب الموت کي وزامنو ته مثلاً په ورکړه د پور وصیت وکړي یسقط الدین عن الموصی بنفس الوصیة او ده ته ضرر نسته که څه هم زامن مثلا عمل په ونه کړي، یعني پور نه کړي اداء، او په اخرت کي دی نه نیول کیږي والی ذالک ذهب الکیاء، وقال صاحب روح المعاني والذي یمیل القلب الیه ان المدیون لاتبعة علیه بعد الموت مطلقا ولا یحبس في قبره کما یقوله الناس اما اذا لم یترک شیئا ومات معسرا فظاهر لانه لو کان حیا لا شیئ علیه بعد تحقق اعساره سوی نظرة الی میسرة فمواخذته وحبسه في قبره بعد ذهابه الی اللطیف الخبیر مما لایکاد یعقل واما ان ترک شیئا وعلم الوارث بالدین او برهن علیه کان هو المطالب بادائه والملزم بوفائه فاذا لم یود ولم یف اخذ هو في الآخرة لا من مات وترک مایوفی منه دینه کلا او بعضا فان للمیت المدیون ان یقول في الآخرة یارب ترکت ما یفی دیني ولم یف عني ای الوارث، واوجبت علیه الوفاء بعدي ولو امهلتنی لوفیت فمواخذته مما ینافي الحکمة ولا تقتفیه الرحمة.

درویش وایي: چي چونکه پر صاحب د روح المعاني دا سوال وارد و چي په باره کي د پور په مواخذه کي د میت په ورځ د قیامت چي ورثه یې پور نه کړي اداء ډېر صحیح حدیث راغلی دی، نو روح المعاني والا داسي جواب ورکړی دی نعم مواخذه المیت مقبولة فیمن استدان لحرام وصرف المال في

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

غیر رضا الملک العلام وما ورد في الآحادیث فمحمول علی هذا او نحوه واحده ذالک مطلقا مما لایقبلة العقل السلیم والذین المستقیم انتهی.

درویش وایي: چي په دې مسئله کي باید ډېر غور وکړه سي او کتابونه د تفاسیرو او شروح د کتابو د احادیثو مبارکه وو دي هم مطالعه کړه سي تاچي معلومه سي چي بل مفسر یا محدث د غسي مجمل بیان کړی دی او که څرنګه والله اعلم بالصواب.

فَمَنْ خَافَ مِنْ مُّوصٍ جَنَفًا أَوْ إِثْمًا فَأَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿۱۸۲﴾

او که بېرېدی یعني توقع او علم یې و، د وصیت کونکي د میل و یو خواته او یا میل له حقي لاري څخه په خطاء سره اویا له ګناه څخه یعني ظلم عمدا، نو هغه سړي صلح وکړه په منځ کي د موصی او ورثه وو نو ګناه نسته پر هغه سړي، او په تحقیق خدای ﷻ غفور او رحیم دی.

پوه سه: چي مجاهد رحمه الله وايي که یو سړی حاضر سو و مریض ته چي هغه وصیت کاوه، نو ددې سړي دا خیال او یقین و چي مریض یا په خطاء سره او یا په قصد سره میل کوي له حق لاري څخه، نو دی و مریض ته امر بالمعروف وکړي او نهي عن المنکر وکړي ودې ناصح ته ګناه نسته، وهذا کما نهی رسول الله ﷺ سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه عن زیادة الوصیة علی الثلث کما رواه البخاري وغیره، او د مخه تېره سوه چي عائشه رضی الله عنها یو سړی له اصل وصیت څخه منع کړی، او علي رضی الله عنه خپل مولی هم د اصل وصیت څخه منع کړی کمامر ایضاً. او په حدیث متفق علیه کي راغلي دي چي د نعمان پلار بشیر رضی الله عنه نعمان رضی الله عنه وروستی وعلیه الصلوة والسلام ته او وه یې ویل چي ما وخپل دغه زوئ نعمان ته یو مریي وربخښلی دی ته پر شاهد اوسه، نو علیه السلام ورته وویل چي تا و هر ولد ته یو یو مریی ورکړی دی، بشیر ورته وویل یا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نورو ته مي غلام نه دی ور کړی، نو علیه السلام ورته وویل فارجعه بېرته یې خندي واخله، وقال لااشهد علی جور زه شاهدي نه سم کولای پر ظلم.

پوښتنه: خدای ﷻ غفور ورحیم ذکر کړی او سره له دې چې په موضوع کي د صلح د مبدل خو کومه ګناه نه وه، بلکه مبدل ته د وصیت خو خدای ﷻ ثواب ورکوي ولي مبدل الوصیة خو وصیت کوونکي له باطل څخه یا خطاءً یا عمداً وحق ته را وګرځاوه په وصیت کولو کي، نو مغفرت فرع د ګناه نه دی؟

ځواب: هو مبدل خو هیڅ ګناه نه ده کړې نو دا د فعل تبدیل که څه هم حق ته ومګر په جنس کي تبدیل ګناه هم سته لان بعض التبدیل اثم کالتبدیل من الحق الی الباطل في الوصیة، نو دا تبدیل د باطل وحق ته مشاکلة صوري لري د هغه تبدیل سره چي له حق څخه وباطل ته تبدیل وکړي لکن په حقیقت کي دا تبدیل خو وخیر ته دی و ګناه ته خو نه دی بلکه ښه کار دی. لکن په اعتبار د مجانست صوري یې غفور ذکر کړی، تنیها پر دې چي بعض د تبدیل څخه ګناه هم ده، او یا غفور یې د ذکر الاثم فیما قبل په سبب ذکر کړی.

مسئله: وصیت کول مستحب کار دی ولي چي مسلمانان ورته محتاجه دي له دې سببه چي انسان تبعا مغرور دی او طول الحیاة یې په دماغ کي مرکوز دی، او په اعمال کي د خیر تقصیر څندي کېږي بناء علی طول الامل. نو چي مرض ورپېښ سي او پر هلاکت او مرګ وبېرېدی نو دی باید تدارک د خپل تقصیراتو وکړي په مال سره یعني مالي وصیت وکړي، نو که چېري مړ سي د مال مقصد به یې پر ځای وي یعني تقصیرات به یې په سبب د ښندني د مال دفع کړي وي، او که جوړ سو هغه مال به خپل حالي حاجتونو ته صرف کړي. وفي الحدیث الصحیح النبوي ﷺ قال رسول الله ﷺ ان الله تصدق علیکم بثلث اموالکم في آخر اعمالکم زیادة في اعمالکم تضعونها حیث شئتم.

مسئله: مریض به وصیت کوي په فدیه د لمونځو که یې قضاء کړي وه لکل فریضة وکذا للوتر نصف صاع من حنطة او که یې روژې خوړلي وي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هري روژي لپاره به د فديه وصيت نصف الصاع من بر، او كه نذري روژه پر باندي وه د هغې لپاره هم نصف صاع من الحنطة به وصيت كوي.

پوه سه: چي نصف صاع د حنطة خواه ماخواه نه ده لازمه بلكه صاع الشعير والتمر هم كفايت كوي.

مسئله: كه پر چا حج فرضي پاته و او يا بعض كفارات يې په ذمه كي ژي فالوصية واجبة والا فهو بالخيار وعليه الفتوى كذا في التفسير الشيخ.

مسئله: بايد ورثه و ته وصيت وكړئ د قضاء د پورو چي پر ده باندي وي.

مسئله: ورثه و ته دي وصت وكړي چي زما مدعيان او خصوم له ماخه راضي كړي يعني حق راپل كړي كه په زاريو وي او كه په مال وي.

حكايت: حضرت الامام محمد بن ادريس الشافعي رحمه الله قدس سره چي مريض په مرض موت سره سو نو يې وصيت وكړى چي فلانى سړى چي هغه ده د مذهب لوى سرمايه داره سړى و او په عين حال كي امي و ده ويل ماته به غسل راكوي، حاضرين حيران سوه چي د غسل لپاره يو عالم فقيه په كار و ده څرنگه دا دنيا داره سړى وټاكى د غسل لپاره خو بهر حال ورثه و د حضرت الامام رحمه الله هغه سړى راوغوښتى او د حضرت الامام د غسل د وصيت يې ورته بيان كړى، هغه سړى چونكه ډېر دانشمند سړى و او په دې وصيت كي د حضرت الامام يې فكر وواهه چي سره د ډېرو علماؤ او فقهاؤ او تقوى داره خلگو د مذهب د حضرت الامام ته څرنگه د غسل د وظيفې لپاره زه انتخاب كړم، نو دې سړي و ورثه وو ته د حضرت الامام رحمه الله وويل چي تاسي هغه وصيت نامه د حضرت الامام رحمه الله راوړئ چي د پور په باره كي يې نوشته كړې ده، ورثه وو چي هغه وصيت نامه راوړه پر حضرت الامام اويا زره (۷۰۰۰۰) درهمه پور باندي و، نو هغه سرمايه داره وويل چي دغه پور د حضرت الامام رحمه الله زما پر ذمه دى. او هغه سرمايه داره وويل و ورثه وو ته د حضرت الامام رحمه الله چي زما غسل هم دغه و، اوس تاسي خپل غسل ته شروع وركړئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي عجیبه کنایه وه د حضرت الامام ﷬ او د تعجب ور داده چي هغه مالداره سړی څرنګه په مراد د حضرت الامام پوه سو.
وفي الحدیث الصحیح چي رسول الله ﷺ وویل چي څوک چي وصیت ونه کړي یعني وصیت ته ضرورت هم وي او مړ سي، ده ته اجازه نه ورکول کېږي چي دی دي د نورو مړګانو سره خبري وکړي، یو صحابي ﷺ پوښتنه خندي وکړه چي آیا مړي هم خبري سره کولای سي، علیه السلام ورته وویل نعم او یو د بل ملاقات ته هم ورځي، قال الامام الرازي نقلا عن بعض الائمة الاعلام ﷭ چي روحان دوه قسمه دي یو قسم د خپلو بدو عملو، کفر وغیره سر معذب وي، او یو د ایمان او ښوو عملو له سببه په نعمتو کي د برزخ وي، اما المعذبة هغه بندیان او پخپل عذاب سره مشغول وي تزاور او ملاقات ته د چا نه ورځي او نه ورتلای سي، واما المنعمة هغه ازاد وي محبوس نه وي نو هغه یو له بله یعني قریبانو شناخته ګانو ملاقت او زریات ته ورځي او زیارت ته چي ورسي د دنیا وي اواقعاتو چي پر دوئ ورغلي وي بیان سره کوي نو هره ورځ د هغه ملګري سره چي دوئ په دنیا کي پر عمل سر هم مثل وه وهذه المعیة ثابتة في دار البرزخ ودار الجزاء لان المرء مع من احب حدیث صحیح، نو عاقل سړی باید د خدای ﷻ د نیکو بندګانو سره ناسته او ولاړه کوي او ځان ومرګ ته چمتو ولري، او په مال او منال مغروره نه سي فان الدنیا ذاهبة فانیة ونعیم الآخرة باقیة دائمة فینبغي ان یختار الباقي علی الفاني، قال الصائب ﷫

در سر این غافلان طول امل داني که چیست آشیان کرد است ما ری در کبوترخانه

اللهم ارزقني حبک وحب حبیبک وحب من یحبک وحب عمل یقربني الیک، قال المولوي المعنوي في مثنویه

چیست دنیا از خدا غافل شدن نی قماش ونقره وفرزند و زن
کوزه سر بسته اند آب رفت از دل پر باد فوق آب رفت

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

باد د روښنی چو د ر باطن بود | بر سر آب جها ن ساکن بود
هرکه دارد از هوسها جان پاک | زود یبند حضرت وایوان پاک

قال الحافظ الشیرازي رحمه الله

تو بندگی چو گدایان بشرط مزد مکن | که خواجه خود روش بنده پروري داند
طریقت همینست که اهل یقین | نکو کا ر بو د ند و تقصیر بین
بروی وریا خرقه سهلت دوخت | گر ش با خدا د ر تو انی فروخت
همان به گر آبستن گوهری | که همچون صدف سر بخود دربری
اگر آوازه خوا هی در اقلیم باش | بدون حله کن گو درون خشوه باش
اگر مشک خالص نداری مگوی | و گر هست خو د فا ش گردد ببوی

خواجه عبدالله انصاری چه خوب میگوید

دلا درکار خود میکن نظرها | که در راه تو میبینم خطرها
نگر در خلق گورستان فگنده | ز یک تیر فنا جمله سپرها
بسا شاهان همه روبند درخاک | کز ایشان درجهان مانده اثرها
معاصی زهر قهر ا ست ونموده | بکام نفس تو همچون شکر ها
گذرگاهست این دنیا ی فانی | نما ند مرد عاقل در گذرگاه
چو در پیش است مرگ ای پیر انصار | تماشیي جهان کن در سفرها

ایوبي میگوید

الهی یا ا لهی یا ا لهی | نظر کن بر من گم کرده راهی
ندارم توشه ر ا ه قیا مت | بجز شر مند گی ورو سیاهی
ندارم طا عت مقبول د ر گا ه | بجز ا شک ند ا مت آه آهی
بحق حرمت فر قا ن اعظم مرا | از ذنب خود کن عذر خواهی
شفیع اورده ام ر و ی محمد ﷺ | عبید را عفو کن ا ز هر گنا هی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٨٣﴾

ای هغه کسانو چي ایمان مو راوړی دی لیکل سوي دي فرض سوي دي روژې لکه چي فرض سوي دي پر هغو کسانو چي تر تاسي د مخه وه یعني مؤمنان د پښو امتو شاید تاسي به په سبب د دغو روژو خانونه و ساتئ له ګنهونو څخه، لانّ الصوم يكسر الشهواة. وفي الحديث المتفق عليه چي ابن مسعود ﷺ يې روايت کړی دی چي عليه الصلوة والسلام وويل ای ډلې د خوانانو هر څوک چي طاقت لري د نکاح يعني د مهر او د نفقه طاقت لري هغه دي کوزده وکړي ولي چي کوزده يعني مابنه د سړي سترګي کښته کوي له ناروا څخه، او روژې ساتونکي د فرج دي له زناء څخه. او څوک چي طاقت د کوزدې نه لري نو پر هغه روژې لازمي دي يعني نفلي.

فائده: اهل العلم وايي چي يا حرف نداء ده او دا نداء د دوست ده دوست ته. او ايها حرف تنبيه ده او دا تنبيه ده د دوست ودوست ته. او آمنوا شهادت دی د دوست پر ايمان د دوست. او حسن بصري ؒ وايي چي ته په قرآن مبارک کي واورې "يا ايها الذين آمنوا" نو غوږ ونسه چي خدای ﷻ تاته امر کوي او يا نهي.

فائده: مراد له صيامو څخه روژې د مياشتي د روژې دي لقوله تعالى ﴿فمن شهد منكم الشهر فليصمه﴾ وقال ﴿شهر رمضان الذي انزل فيه القرآن﴾

فائده: صوم په لغت کي نفس امساک ته وايي او په شريعت مطهره کي کي امساک د درو شيانو څخه يعني خوراک، څښاک او جماع څخه د وخت څخه د صبح صادق لر لمر لوېدو پوري مع النية.

بوه سه: چي نيت لفظي شرط نه دی بلکه قصد مصمم دی نو خکه چي سړی پېشلمی وکړي په قصد د روژې او په خوله هيڅ ونه وايي روژه يې صحيح ده، الا ان اللفظ باللنيات حسن. دا خو صوم د عوام ده او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواصو روژه امساک دی د ټولو منهیاتو څخه.

فائده: کما کتب" صفت د مصدر محذوف دی، نو منصوب محلا دی او مفعول مطلق دی والتقدیر کتب کتابا کائنا مثل ماکتب آه.

فائد: په دې قول کې د خدای ﷻ کما کتب آه ترغیب دی او تاکید د امر د روژې دی له دې سببه چې روژه امر شاق دی او هر امر شاق چې عام سي خلګو ته اسان سي ځکه پښتنانه وايي بلا چې عامه سي اسانه سي. او دعالمه سره غم نه غم دی.

فائده: تشبیه په کما کتب کې په مطلق صوم کې ده په معنا ددې چې هیڅ امت د روژې څخه خلاص نه دی، اما تعداد د روژو او وخت د روژو سره مختلف دی. لکه چې اسلامي تاریخ وایي چې پر آدم علیه السلام د عاشورې روژه او د ایام بیض روژې، یعني ۱۳، ۱۴، ۱۵ د میاشتې روژې فرض وې، قال بعض العلماء رح چې پر نصارى وو اول د شهر رمضان روژې فرض سوې، نو د روژې میاشت به ګاهې په دوبي کې راغله نو په سبب د تندې به دوئ په تکلیف وه او ګاهې به په سخت ژمي کې راغله چې په سبب د لوږې به پردوئ تکلیف وه. نو علماؤ او رؤساؤ ددوئ اتفاق پر دې وکړی چې موږ به روژې په پسرلي کې نسو لکن لس روژې یې جریمه پر زیات کړه حتى چې روژې ددوئ څلوېښت سوې والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب.

أَيَّامًا مَّعْدُودَٰتٍ

یو څو ورځې په حساب دي یعني لږ دي وجه د دلالت پر قلت داده چې دراهم مثلا چې لږ وي خلګ یې شمېري، او چې ډېر سي نو بې په بسته بسته حسابوي.

پوه سه: چې لفظ د "ایاما" منصوب دی په "صوموا" مقدر سره لا بالصیام سره لان المصدر ضعیف العمل لایعمل مع الفصل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوه سه: چي علامه سيوطي ؒ وايي چي احمد، ابو داوُد او حاكم رح د معاذ بن جبل ؓ څخه روايت كوي چي د مخه تر فرضيت د روژو د مياشتي روژې روژه د يوم عاشوره او درې ورځي روژې يعني ايام بيض ۱۳، ۱۴، ۱۵ په هره مياشته كي واجب وې يعني په وحي غير متلو سره د مخه تر نزول ددې آيت، او هغه نسخ سوې په دې آيت سره، نو پر دې تقدير د ايام معدودات څخه مراد روژې د مياشتي د روژې دي، او دا آيت منسوخ نه دی، بلكه ناسخ دی د ماجب قبل هذه الآية، او هغه خبره چي ابن عباس ؓ ته يې څوک نسبت كوي يعني چي ده ويلي دي اول مانسخ بعد الهجرة امر القبلة والصوم مراد خندي دغه نسخه مذكوره ده وبه ظهر ضعف ماقيل ان المراد بالايام المعدوات سره مذكوره روژې دي يعني ۱۳، ۱۴، ۱۵ د هري مياشتي او عاشوره، نو دا آيت دوی منسوخ بولي په فرضيت د مياشتي د روژې.

درويش وايي: چي د آيت له سره يعني يا ايها الذين آمنوا كتب آه تو له پر دې دلالت كوي، چي په دې آيتو كي مراد له روژې د رمضان روژې دي ويلزم على ماقيل الاختلاط بين الناسخ والمنسوخ لان المراد بالاتفاق من قوله تعالى يا ايها الذين آمنوا آه هو صيام رمضان واذا كان المراد من ايام معدودات آه هو الصيام المذكورة في قول القائل المذكور يلزم الاختلاط المذكور لامحالة ولايوجد في القرآن مثل ذالک نسخ، والقاضي البيضاوي ؒ اورد هذين القولين بالترديد حيث قال المراد بها (اي الايام) رمضان او ماوجب صومه قبل وجوبه ونسخ به (اى بصوم رمضان) كما ذهب اليه معاذ وقتاده وعطار ؓ.

و اورد المظهري ؒ هذا القول بقيل اشارة الى ضعفه وفي تفسير روح المعاني المراد بهذه الايام المعدودات صيام رمضان واختار ذالک ابن عباس ؓ والحسن البصري وابو مسلم واكثر المحققين، وبه خذ الشافعي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رحمه الله فيكون الله سبحانه وتعالى قد اخبر اولا انه كتب علينا الصيام ثم بينه بقوله عزوجل اياما معدودات فزال الابهام (يعني انه ليس المراد صيام الدهر او اكثره) ثم بينه بقوله عزوجل شهر رمضان (يعني فزال الابهام بالكلية)

درویش وايي: چي وروسته بيا صاحب د روح المعاني هغه قول مضعف ذکر کړی دی او په ډېر تکليف سره يې توجيه د هغه کړی ده چي عقل سليم يې برداشت نه سي کولای فراجع روح المعاني جلد ثاني ص ۵۷ وتامل فيه وفي ماقلنا.

فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيضًا

نو که وو له تاسو څخه ناجوړی، يعني داسي نـاجوړی چي روژې تـاوان ورته کاوه، نو دی بېربدی چي مرضي به مي زياته سي او يـا بـه اوږده سي وانما قلنا چي روژې آه لان بعض الامراض ينفعه الصوم كاستطلاق البطن.

فائده: هغـه سړی هم ددې آيت تر حکم لانـدي دی چي ضعيف وي او غالب گمان دده داوي چي که زه روژې ونسم زه به مريض سم.

مسئله: حامله ښځه يا هغه ښځه چي ولد ته شـدې ورکوي، که بېربدلي يعني په ظن غالب سره پر ځانو له ناجوړی، څخه او يا پر کوچني بېربدلي له ناجوړيه، هغو ښځو ته روژه خوړل رواه دي

پوه سه: چي کـه د مريض جمـاع تـه شـوق وسـو او روژه يې پخولـه وه او جماع يې وکړې، امام احمد پر هغه کفاره لازمه بولي، او که مريض بيا روژه پـه ډوډۍ مـثلا ماتـه کړه، او بيـا يې جمـاع وکړې نـو کفـاره نسته باندي وهذا هو المعقول من المذهب لان المريض انما يحتاج في المرض الى الاكل والشرب دون الجماع، او د ابن سيرين رحمه الله څخه روايت دی چي په ادنی مرض سره روژه خوړل روا دی للاطلاق في الآية. دا روايت د تولو فقهاوؤ څخه مخالف دی بلکه مجوز د فطر او روژې خوړولو خوف د زيادت د مرض دی او يا امتداد د مرض دی ولي د ادنـی مـايطلق المرض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كوجع الراس وقبض المعدة وامثالها لايخلو عنه انسان كما لايخفى. او حسن بصري رحمه الله وايي چي مجوز د افطار دونده مرض دى چي مريض ته په ناستي لمونځ روا كوي والله اعلم.

أَوْ عَلٰى سَفَرٍ

او يا پر سفر شرعي و.

پوه سه: چي چونكه كلمه د على لپاره د استعلاء ده نو له دې ځخه دا معلومېږي كه سړي روژه نيولې وه او په منځ كي د ورځي مسافر سو، افطار نه دى ورته روا كذا في روح البيان، والمظهري وقال المظهري وعليه انعقد الاجماع، لكن داوٗد ظاهري وايي چي په سفر كثير او قليل دواړو كي روژه خوړل روا دي.

مسئله: د فقهاوٗ په مقدار كي د هغه مسافت چي سړي ته روژه خوړل او قصر د لمانځه روا كوي اختلاف دى حضرت الامام الاعظم ابو حنيفه رحمه الله وايي چي مقدار د مسافت مذكوره د درو ورځو او شپو مزل دى د اوښ باردار په تگ او يا د پښو په تگ، په استثناء د استراحت عادى يا ډوډۍ خوړلو او د لمونځو، او امام ابو يوسف رحمه الله وايي چي مقدار د مسافت مذكوره دوه شبانه روزه او د دريمي اكثره حصه ده. امام اعظم رحمه الله دليل هغه حديث مروي د حضرت علي كرم الله وجهه دى، چي له ده ځخه چا پوښتنه وكړه چي مدت د مسح د خوفينو څو دى هغه ورته ووېل چي عليه الصلوة والسلام درې ورځي او درې شپې مقرري كړي دي د مسافر لپاره او يوه ورځ او شپه د مقيم لپاره. قال المظهري رحمه الله الحديث الصحيح رواه مسلم رحمه الله لكن الاستدلال به ضعيف.

درويش وايي: چي شايد وجه د ضعف الاستدلال دي د مظهري رحمه الله په خيال داوي چي مسح الخفين او قصر الصلوة او روژه خوړل څو فرق سره لري، نو يو پر بل نه قياسېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي د فقهاوُ د مذهب حنفي دادرېږ سره من واد واحد دي لکن مظهري رحمه الله د نورو مذهبو په تضعيف سره پر خپل مذهب سوالونه کوي والله اعلم بالصواب.

مسئله: چونکه آيت مذکوره د سفر په باره کي مطلق دی. نو مذهب د ابو حنيفه رحمه الله دادی چي سفر د معصيت لکه سرې چي په غلا پسي ځي وامثال ذالک هم مجوز د خوړلو د روژې، او د قصر د لمانځه دي، او امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله وايي چي سفر د معصيت مجوز نه دی

مسئله: امام شافعي، احمد، او امام مالک رحمه الله په مقدار کيد مسافت د فطر او قصر شپاړس فرسخه چي څلور برد کېږي شرط گرځولی دی

درويش وايي: چي تفصيل د دلائلو د فريقينو او جوابات په کتابو کي د فقه او په مفصلو شروحو کي د کتب الاحاديث خصوصا فتح القدير او عيني شرح الکنز، او عيني شرح البخاري، او شرح معاني الاثار للطحاوي رحمه الله وغيرها من کتب المذهب الحنيفي لان کتب التفاسير ليست موضوعة لدلائل المسائل بالتفصيل نعم تبين تلک الکتب اصل المسائل واحيانا تذکر بعض الدلائل ايضا خصوصا هذا التفسير الذي اصل وضعه لعوام الناس والمبتديين من الطلبة وبعض ائمة المساجد والجوامع والله الموفق.

فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ۚ

يعني پر دغه سړي چي په عذر د مرض او يا د سفر بې روژې خوړلي فرض او لازم دی روژې په حساب د خوړلو روژو.

پوه سه: چي په دې آيت يا فعل محذوف دی يعني فکتب عليه او يا مبتداء ای فالواجب عليه. او پر هر تقدير د عدت سره مضاف محذوف ای صيام عدة او دا حذف په دلالت د مقام دی.

مسئله: په دغو قضايي روژو کي تتابع شرط نه ده يعني چي پيوسته به يې نسي، وعليه الاجماع، او داوُد ظاهري وايي چي تتابع شرط ده لکن دا مذهب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مخالف دی د اطلاق څخه د قرآن او د اجماع څخه د صحابه کرامو ﷺ او تابعینو رح فلا یعبابه وان کان التتابع مشروطا فما کان ربک نسیا. او په حدیث شریف کې چې روایت یې دار قطني رحمه الله د ابن عمر ﷺ عن النبي ﷺ کړی دی في قضاء رمضان ان شاء الله فرق وان شاء تتابع راغلي دي، او په حدیث کې د محمد بن المنکدر ﷺ چې دی وایي چې د رسول الله ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه په باره کې د عدم تتابع د قضایي روژو، علیه الصلوة والسلام ورته وویل ذالک الیک یعني تتابع او عدم تتابع ستا خوښه ده.

مسئله: په دې کې خو اتفاق دی چې مریض یا مسافر چې روژه وخوري یوازي قضاء پر لازمه ده یعني قضاء او فدیه دواړه پر لازم نه دي. او په مرضع او حامل کې چې روژه وخوري اختلاف دی. ابو حنیفه رحمه الله چې پر هغو هم یوازي قضاء ده وبس، وهو روایة عن مالک رحمه الله. او امام شافعي او امام احمد رح وایي چې پر مرضع باندې قضاء او فدیه دواړه سته او پر حامله باندې صرف قضاء ده.

درویش وایي: والفرق عسیر جدا ولا سندله في الاحادیث الشریفة. او د ابن عمر ﷺ او ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې پر مرضع او حامل باندې یوازي کناره د قضاء نسته.

مسئله: که دغه چا چې روژې یې خوړلي وي او بیله عذره تر بلې روژې پورې وځنډوي، امام شافعي او امام احمد او مام مالک رح وایي چې پر دغه چا قضاء او کفاره دواړه واجب دي، او امام اعظم رحمه الله وایي چې صرف قضاء پر ده واجبه ده، دلیل یې دادی چې په اول الامر کې تتابع د ده څخه ساقطه سوه والساقط لایعود، نو تتابع چې نه راګرځي نو فدیه له څه سببه پر ده لازمه ده سره د قضاء، او بله دا خبره ده چې په اشتراط کې د فدیې زیادت پر کتاب الله لازمیږي وهو لایجوز، نو د امام اعظم رحمه الله مذهب دادی چې روژې قضایي که سږې پسله د ډېرو کلو نسي هم یوازي عدت من ایام اخر سته فدیه یې نسته. راجع الی کتب الفقه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فائده: مریض او مسافر که څه هم مخیر دي که روژه نسي او که افطار کوي کما علیه اکثر الفقهاء رح لکن ابو حنیفه او مالک رح وایي چي روژه یې ښه ده، او امام شافعي، احمد، او اوزاعي رح وایي چي افطار یې احب دی، او اصحاب ظواهر الحدیث وایي چي افطار پر واجب دی که دوی روژې ونسي روژې یې نه دي صحیح کذا في روح المعاني.

وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ

دوربش وایي: ددې آیت تفسیر معرکة الاراء دی، په روح المعاني او روح البیان کي وایي چي اکثر مفسرین رح پر دې رایه دي چي چونکه روژې د میاشتي د روژې فرض سوې او مسلمانانو د دونده پرله پسې روژو سره عادت نه درلودی، نو دوئ ته تکلیف و، نو خدای ﷻ په ابتداء کي د اسلام دوئ ته اختیار ورکړی چي که څه هم تاسي جوړ تاست او پر کور وي، نو که دوئ روژې نسي او که روژې خوري او فدیه ورکوي وکان هذا الحکم في بدء الاسلام ثم نسخ بقوله تعالی ﴿فمن شهد منکم الشهر فلیصمه﴾ ددي تائید هغه حدیث نبوي ﷺ کوي چي بخاري او مسلم او ابو داؤد او ترمذي او نسائي او طبراني رح د سلمه بن الاکوع ؓ څخه روایت کړی دی چي هغه وایي چي هغه وخت چي دا آیت نازل سو یعني وعلی الذین یطیقونه آه کان من شاء منا صام ومن شاء افطر ویفتدی فنسختها الآیة التي بعدها فمن شهد منکم الشهر فلیصمه، نو ترجمه د آیت داسي ده چي پر هغو کسانو چي طاقت د روژې لري یعني جوړ تیار مقیم هم وي پر هغو باندي ورکړه د طعام مسکین سته یعني که یې روژه وخوړله.

پوه سه: چي طعام مسکین د یوې ورځي خوراک د مسکین دی چي یو کاسه اوربشي دي یا نیمه کاسه غنم دي، د هري روژې دغه فدیه ده.

دروېش وایي: چي پر قول ددغو مفسرینو پر قول حکم د فدیه د شیخ فاني په نص صریح سره نسو ثابت، او سره ددې چي شیخ فاني ته قطر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روا دی جواب هو نه سو ثابت نو ځکه امام شافعي رحمه الله او امام مالک رحمه الله چي د دوی دوو رایه هم داده چي دا آیت منسوخ دی او په ابتداء کي د اسلام وو کما مر، وایي چي شیخ فاني ته خو روژه خوړل رواه ده لقوله تعالی ﴿لایکلف نفسا الا وسعها﴾ لکن فدیه نسته باندي لان ایجاب الفدیة لابد له من دلیل.

سوال: چي سړی لمونځونه قضاء کړي ولي قضاء باندي سته یا سړی په عذر د مرض یا سفر روژه وخوري ولي قضاء باندي سته؟

ځواب: اول خو د هغو په قضاء کي نص قاطع موجود دی ومع قطع النظر عن ذالک قضاء په مثل معقول په قیاس هم ثابتېږي. او د شیخ فاني اطعام او فدیه خو مثل غیر معقول دی د هغه لپاره حتما نص صریح غواړي کما تقرر في اصول الفقه.

پوه سه: چي بعض مفسران رح وایي چي دا آیت په باره کي د شیخ فاني دی او منسوخ نه دی نو شیخ جلال الدین رحمه الله په آیت کي لا نافیه مقدر بولي یعني لا یطیقونه کما في قوله تعالی ﴿یبین الله لکم ان تضلوا﴾ ای لان لاتضلوا، پر دې جواب مظهري سوال کړی دی بقوله تقدیر لا بعید فانه ضد ما هو الظاهر من الآیة حیث یجعل الایجاب سلبا انتهی

درویش وایي: چي دا سوال خو په آیت کي د یبین الله آه هم وارد دی حیث یجعل الایجاب سلبا ماهو جواب المظهري في الآیة الثانیة فهو الجواب في الآیة الاولی، وان قال المظهري رحمه الله ان في الآیة الثانیة ضرورة لان نصب البدل الغیر المعقول وهو الفدیة لایجوز بالرای بل لابدله من نص، واذا کان الآیة الاولی منسوخة فلیس لفدیة الشیخ الفاني نص في جمیع القرآن ولذا اجاز الشافعي رحمه الله للشیخ الفاني الافطار وادخله تحت عموم قوله تعالی ﴿لایکلف الله نفسا﴾ الآیة ولم یقل بالفدیة علیه کما مر عنقریب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي وروسته مظهري رحمه الله دا توجیه کړي ده چي آیت مذکوره خو په ابتداء کي د اسلام و او منسوخ دی لکن حکم د فدیه د شیخ فاني په دلالة النص سره د هغه آیت ثابت دی ولي خدای جل جلاله په مذکوره آیت مطقینو خلگو ته اختیار ورکړی دی په منځ کي د روژي نیولو او د فدیه ورکولو، نو غیر مطیق چي شیخ فاني دی په طریق اولی فدیه ورته روا ده انتهی.

درویش وايي: چي دلالة النص د مذکور آیت خو به هلته معتبر وايي چي آیت مذکوره منسوخ نه وايي، او مظهري رحمه الله خو يې منسوخ بولي تامل. بعض مفسران وايي چي همزه د باب د افعال یعني اطاق یطیق لپاره د سلب دی نو يې معنا داده چي سلب د طاقت يې وي وهو الشیخ الفاني نحو قولهم اشکیته ای ازلت شکایته کما في الشافية.

فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ ۚ وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَّكُمْ

نو څوک چي تطوع وکړي یعني زیادت وکړي په فدیه کي نو دده لپاره خیر دی، او چي تاسي روژه ونسي یعني ای هغه کسانو چي تاسي طاقت د روژي لري خیرتر دی. قال المظهري رحمه الله علی منواله السابق هذا صریح بان المراد بالذین یطیقونه هم المطیقون وغرضه ان هذه الآیة منسوخة کان في ابتداء الاسلام من ان المطیق للصوم کان مخیرا بین الصوم والفدية. ولیس الشیخ الفاني والمریض لان کون صومهم خیرا من الفطر منوع

درویش وايي: چي منع د مظهري رحمه الله ببخایه ده ولي چي مراد له تطوع څخه نفس تبرع ده په افعالو کي د خیر. ومنه الفدية للشیخ الفاني یعني چي ډېره ورکړي وانما قلنا ذالک لیناسب الآیة لمقام بیان الصوم. نو دا سوال نه واردېږي چي مطلق تطوع په افعالو کي د خیر د مقام سره د بیان الصوم څه تعلق لري وجه الدفع انه یدخل في عمومها فدية الشیخ ایضا یعني علی التقدیر الزیادة علی القدر المفروض، او مراد د ان تصوموا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه داده چي شیخ فاني یا مریض که څه هم فطر ورته روا دی لیړ پر ځان تکلیف وکړي او روژه ونسي نو هغه روژه ده ته خیر ده له فطر او فدیې، او یا معنا داده چي شیخ فاني که په فدیه کي تر قدر واجب بالابود ورکړي یعین دوو مسکینانو ته جلاجلا پوره فدیه ورکړي، نو دا دده لپاره خیر دی د یوه مسکین تر فدیې ولاشک فیه. غرض زما دادی چي ماقبل آیت په باره کي د شیخ فاني دی او منسوخ نه دی کمامر تفصیله.

درویش وایي: چي قاضي بیضاوي که څه هم اول تفسیر د الذین یطیقونه آه مطابق د تفسیر سره د روح المعاني او روح البیان او مظهري ح کړی دی یعني چي دا آیت منسوخ دی او دا حکم په ابتداء کي د اسلام ولکن وروسته قاضي نور قراءت په یطیقونه کي رانقل کړی دی، تر هغه وروسته یې دا خبره کړې ده وعلی هذا القراءت یحتمل الآیة معنا ثانیا وهو الرخصة لمن یتبعه الصوم ویجهده وهما الشیوخ والعجائز في الافطار والفدیة فیکون ثابتا یعني منسوخ نه دی، او بیضاوي ﷫ وایي وقد اول به القرائة المشهورة یعني یطیقونه ای یصومونه جهدهم وطاقتهم، یعني په ډېر تکلیف او کوشش روژه نیولای سي. وهذا هم الشیوخ والعجائز لانهم یصومونه بصرف غایة قدرتهم مع ضعفهم عن الصوم للهرم وفي حوامش البیضاوي فالآیة نزلت في حق الشیخ الهرم الذي یطیق الصوم لکن مع الشدة والمشقة لان الوسع فوق الطاقة فالموسع اسم لمن کان قادرا علی الشیئ مع سهولة بخلاف المطیق فانه اسم لمن کان قادرا علی الشیئ مع الشدة والمشقة، ثم ان الشیخ الهرم اذا افطر فعلیه الفدیة، والحامل والمرضع اذا افطرتا فهل علیهما فدیة، قال ابو حنیفة ﷫ لاتجب علیهما الفدیة بل لاتجوز بل یجب علیهما القضاء لانهما کالمریض یمکن علیها ایجاب القضاء بخلاف الحامل والمرضع فاذا وجب علیهما القضاء لایجب علیهما الفدیة لئلا یلزم اجتماع البدلین ثم قال في الهامش فالآیة ثابت غیر منسوخ انتهی.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي دا رایه د بیضاوي ﷫ نهایته دقیقه او په زړه پوري ده او د جلال الدین السیوطي ﷫ د تقدیر سره د برابره او څوک چي همزه د افعال لپاره د سلب بولي د هغه سره هم برابره ده کمامر او د نورو قرائتو سره هم برابر بدای سي.

درویش وایي: چي بیضاوي د فمن تطوع معنا د دواړو تفسیرو ره کړې ده ای زاد في الفدیة یعني سواء کان المطیق کما في ابتداء الاسلام او الشیخ الفاني اذا کانت الایة في حقه، او بیا یې ویلي دي وان تصوموا ایها المطیقون علی التفسیر المشهور او المطوقون ای اذا جهدتم طاقتکم مع المشقة وصمتم خیر من الفدیة علی القدیر الشیخ الفاني.

درویش وایي: چي دا و تحقیق د آیت معرکة الآراء والعلم عندالله.

إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٨٤﴾

پوه سه: چي مفعول د تعلمون محذوف دی، ای مافي الصوم من الفضیلة وبرائة الذمة، او جواب د "ان" هم محذوف دی ای لاخترتم الصوم علی الفدیة. او بعض مفسران ح وایي چي تعلمون منزل منزلة لازم دی ای ان کنتم من اهل العلم والتدبر علمتم ان الصوم خیرلکم من الافتداء فتدبر.

مسئله: په اشباه او نظائر کي وایي چي روژه نیول په سفر کي افضل ده تر خوړلو ولي چي روژه نیول عزیمت دی او خوړل یې رخصت دی، او عمل په عزیمت سره اولی تر عمل په رخصت سره یعني باتفاق الفقهاء ح

مسئله: که مسافر پر خان ببربدی، او یا یې نور ملګري درلوده چي په نقه ورسره شریکان وه او د ملګرو یې فطر خوښ و، نو بیا فطر افضل دی انتهی مع الزیادة.

سوال: په حدیث شریف کي راغلي دي ﴿لیس من البر الصیام في السفر﴾ وهو نیافي مافي الاشباه؟

ځواب: دا حدیث محمول دی پر هغه مسافر چي روژه یې ضعیف کوي او ببره د هلاکت پر وي شرح المجمع لابن الملک ﷫.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: د شهر رمضان روژې چې فرض سوي دي تر نبوت د علیه الصلوٰة والسلام ۱۵ پنځه لس کاله او تر هجرت درې ۳ کاله وروسته.
علیه الصلوٰة والسلام تر فرضیت له روژې څخه تر وفات پورې اته ۸ میاشتي د روژې نیولي دي، پنځه میاشتي یې ۲۹ نهه ویشت ورځي وې او باقي درې ۳۰ ورځي وې.

پوه سه: چې دېرش او نه ویشت یې په ثواب کي فرق نه سره لري، ولي چې پر مورِ ددغي میاشتي روژې فرض کړه سوي دي او عدد د روژو نه دی فرض.

فائده: که سړی یوه میاشت د روژې روژه ونسي، او شپږ روژې د شوال هم ورسره ونسي، ګویا په ثواب کي د ګرده کاله روژې یې ونیولې، ولي حسنةٌ زموږ په لس مثل د نو یوه میاشت د روژې که ۲۹ نهه ویشت وي او که دېرش وي، دېرش کېږي په ثواب کي. او شپږ ورځي د شوال شپېته ورځي کېږي، نو مجموع درې سوه شپېته ۳۶۰ ورځي سوې وهذا مقدار السنة القمرية كما في كتب الرياضي، فضیلة.
وورد في الحديث القدسي الصوم لي وانا اجزى به، دا حدیث په معلومه صیغه هم راغلی دی یعني زه یې جزاء او ثواب ورکوم چې مقدار د ثواب د روژې ماته معلوم دی نه ملکو ته. او په مجهوله صیغه هم راغلی دی چې معنا یې داده چې خدای ﷻ وایي چې زه جزاء الصوم یم یعني زما دیدار په جنت کي نه حوري او نه غلمان او قصور د جنت. والسر في اضافة الله الصوم الى نفسه تعالى ان لارياء في الصوم بل الصوم سر بين الله ﷻ وعبده.

مسئله: وروسته تر فرضیت د روژې که یو سړی بېله عذره د سفر او مرض او شیخ فاني والي روژه وخوړله که یې خوراک روا بولي خو کافر دی، او که یې روا نه بالله مګر خوړل یې نو فاسق دی لکن قضاء به یې راوړي لوجوب التدارك بقدر الامكان، او بل دا چې د معذور په باره کي خدای ﷻ وایي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فعدة من ایام اخر، نو پر عامد خوبه طریق اولی قضاء لازمه ده. او پر عامد مفطر باندي توبه او استغفار واجب دی بالاتفاق، او امام نخعي رحمه الله وايي چي سړی روژه عمدا بېله عذره وخوري په زر کاله روژه نیولو قضاء راوړه کېږي.

درويش وايي: چي د نخعي رحمه الله دغه قول احتمال لري چي تشدیداً دي ویلي وي، او یا به يې معنا دا وي چي په زر کاله روژه د هغې یوې روژې ثواب ته رسېږي والا فلا يقدر المقادير الشرعية بالرای والعقل فتدبر والله اعلم.

حافظ شیرازي رحمه الله

طفیل هستی عشق اند آدمی وپری	ارادتی بنا تا سعادتی ببری
چو مستعد نظر نیستی وصال مجوی	که جام جم ندهد سود گاه بی بصری
می صبوح وشکر خواب صبحدم تا چند	بعذر نیمشبی کوش وناله سحری
بکوش خواجه واز عشق بي نصیب مباش	که بنده لا نخرد کس بجرم بي هنری
دعا بی گوشه نشینان بلا بگرداند	چرا بگوشه چشمی بما نمی نگری
مرا ازین ظلمات انکه رهنمائی داد	دعائی نیمشبی کوش وناله سحری
به این همت حافظ امید هست	که باز کردی اسامر لیلی ولیلة القمری

شَهْرُ رَمَضَانَ

میاشت د روژې.

پوه سه: چي "شهر رمضان" مبتداء ده خبر يې "الذي" انزل آه دی او یا خبر د مبتداء محذوفي دی ای ذالک شهر رمضان، او یا بدل دی د "من صیام" څخه په حذف د مضاف ای کتب علیکم الصیام صیام رمضان.

فائده: دا بدلیت هلته صحیح کېږي چي دا آیت متصل په ماقبل سره سي، یعني کتب علیکم الصیام یعني متصل په نزول کي موږ چي د مخه وویله چي صحیح هم دغه دی چي دا آیت ناسخ د ماقبل نه دی لکه چي مذهب د ډېرو مفسرانو دی، وقد مر التفصیل والترجیح بمالامزید علیه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: "شهر" مشتق د "شهرة" څخه دی لان الشهور القمرية لها شهرة في الناس، او "رمضان" مشتق د "رمض" څخه دی په معنا د احتراق دی. ولي چي اول چي د قمري میاشتو نومان ایښوول کېدل دغه میاشت په ډېره ګرمي کي وه. او د حضرت انس ﷺ څخه روایت چي رسول الله ﷺ ووېل انما سمي رمضان لانه یرمض الذنوب ای یحترقها.

فائده: رمضان په سبب د علمیت او الف ونون زائدتان غیر منصرف دی، او د شهر اضافت ورمضان ته اضافت بیانیه ده، او بعض مفسران رح وايي چي مجموع شره رمضان علم دی. ویرد علیه ان الالف والنون انما هما في رمضان ولیس فیه العلمیة بل العلمیة في المجموع، واجیب ان فیه اجزاء حکم الکل علی الجزء، علی ماقیل في اسم ابی هریرة ﷺ فتامل غایة التامل، او هغه حدیث چي روح البیان ذکر کړی ی چي څوک دي نه وايي "جاء رمضان وذهب رمضان" بلک شهر رمضان دي وايي لان رمضان اسم من اسمائه تعالی، انتهی.

درویش وايي: چي دا حدیث نه په مشهورو کتابو کي د حدیثو سته او نه مشهور مفسرانو رح ذکر کړی دی، والله اعلم

الَّذِیٓ اُنۡزِلَ فِیۡهِ الۡقُرۡاٰنُ

هغه میاشت د روژې چي په هغې کي قرآن نازل سوی دی.

پوښتنه: قرآن مبارک خو په درویشت (۲۳) کاله په زمانه د نبوت کي پر علیه الصلوة والسلام سورةً سورةً منجما نازل سوی دی نه یوازي په میاشت کي د روژې؟

ځواب: مفسران رح د قرآن په یوه خوله تخمینا ددې سوال ځواب داسي درکوي (۱) چي ابتداء نزول د قرآن وعلیه السلام ته په لیلة القدر کي د روژې وه (۲) قرآن مجید په یوه شپه کي جملة واحدة د لو محفوظ څخه و اول آسمان ته راوړه سوی، او له هغه ځای څخه په درویشت (۲۳) کاله زمانه د نبوت وعلیه الصلوة والسلام ته نجما راغلی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۳) په حذف د مضاف دی وضمير ته د فيه فالمعنى انزل في فضل هذا الشهر وفرضية صيامه القرآن، كما يقال انزل في الزكوة قرآن اى في فرضيتها، وانزل في الخمر القرآن اى في تحريمها القرآن وعلى هذا فقس.

فائده: قرآن ته چي قرآن وايي له دې سببه چي قرآن په لغت کي جمعي ته وايي او په قرآن مبارک کي هم حروف او آيتونه او سورتونو سره جمع سوي دي او دغه رنګه قصص او امر او نهي او وعد او وعيد پکښي جمع دی، او يا قرآن مشتق د قرائت څخه دی په معنا د مقروء او قرآن هم مقروء دی. لکن حضرت الامام الشافعي رحمه الله قرآن په همزه نه وايي، او ده ويل چي قرآن نوم دی د کتاب د نبي ﷺ لکه تورات، انجيل او زبور چي نومان دي د کتب مقدسه وو.

فائده: روي احمد والطبراني رح من حديث واثلة بن الاسقع رضي الله عنه چي آنحضرت ﷺ وويل چي صحيفي د ابراهيم عليه السلام په اوله شپه د روژې نازلي سوي دي، او تورات هغه وخت نازل سوی دی چي شپږ (۶) ورځي د روژې تيري سوي وې، او انجيل پر ديارلسمه (۱۳) د روژې نازل سوی دی، او قرآن مبارک پر څلور ويشتمه (۲۴) د روژې نازل سوی دی، اى ابتداء او من اللوح المحفوظ. قاضي ناصر الدين بيضاوي رحمه الله وايي چي موصول سره د صله يعين "الذي انزل آه" يا خبر دی د مبتداء يعني "شهر رمضان" آه او يا يې صفت دی او خبر يې "فمن شهد منكم آه" دی وعلى الثاني فالفاء في الجزء لوصف المبتداء بما تضمن معنى الشرط اى الذي انزل فيه القرآن آه.

نو له دې څخه دا معلومه سوه چي انزال د قرآن په دې مياشت کي سبب دی د فرضيت د روژې ددې مياشتي، لما قالوا ان ترتب انكم على الوصف الذي له صلوح العلية يشعر بعلية الوصف لذالک الحکم.

مسئله: په مياشت کي د روژې د ہر د قرآن مبارک وظيفه کول تر نورو مياشتو افضل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٍ مِّنَ الْهُدَىٰ وَالْفُرْقَانِ

ای حال کون القرآن هدایت دی د خلګو لپاره، چونکه هدی مصدر دی نو حمل یې پر قران مبالغة دی او حال کون القرآن دلائل واضحات دی له هدایت څخه، او فرقان دی په منځ کې د حق او د باطل او فرقان هم مصدر دی حمل یې پر قرآن مبالغة دی، نو حاصل دا چې هدی او بینات دواړه حال دي د قرآن څخه

سوال: په دې آیت کې هدی دوه واره تکرار نه دی؟

ځواب: قاضي رح په ځواب کې ددې سوال داسي وايي او دده تابع مظهري هم اشاره ورته کړې ده، دا عبارت د بیضاوي دی "ای هو ای القرآن هدایة للناس باعجازه" یعني چې د قرآن بلکه د یوه سورت په مثل سره څوک راتګ نسي کولای، قال الله تعالی ﴿لئن اجتمعت الانس والجن علی ان یاتوا مثل هذا القرآن لا یاتون بمثله. الآیة﴾ او په بل ځای کې د قرآن وايي ﴿وان کنتم في ریب مما نزلنا فاتوا بسورة من مثله. الآیة﴾ وقد مر تفصیله في الجلد الاول. او آیات واضحات دی قرآن مما یهدي الی الحق ویفرق بینه والباطل من الحکم والاحکام، حاصل د ځواب دا دی چې بیضاوي رحمه الله هدی اول یې په سبب د تنکیر چې لپاره د تعظیم دی پر داسي هدایت حمل کړی چې د هغه اندازه څوک نسي لګولای یعني الهدی بالاعجاز. او دوهم هدی یې پر عام هدایت چې شامل تولو کتب سماویه ته دی حمل کړی یعني اشتمال پر حکم او معارف الیه وو او احکام عملیه وو من الحلال والحرام والحدود والاحکام.

فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ

نو که څوک ستاسي څخه حاضر سو ومیاشتي ته د روژې، نو روژې دې ونسي

پوه سه: چې امر د فلیصمه لپاره د وجوب دی بالاجماع

فائده: دا امر مقید دی په دغو قیدو چې جوړ به وي. چې ناجوړی به روژي، مقیم به وي، چې مسافر به وروژي. او پاک به وي له حیض او نفاس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه، چي حائض او نفساء به ووزي، د مسافر او مريض ذکر به په وروسته آيت کي راسي، او حائض او نفساء په احاديثو مبارکه وو سره چي تواتر طريقې يې وحد ته د شهرت رسېږي ثابت دی وعليه انعقد الاجماع منذ زمان الصحابة ﷺ الى يومنا هذا ولا اختلاف للمذاهب الاربعة فيها.

مسئله: وحائض او نفساء ته روژه حرامه ده او که يې دوئ وه هم نيسي سره د ګناه د روژې قضاء پر لازم ده بخلاف الصلوة، وفيه خلاف الخوارج، ولې چي هغه قضاء د لمونځو هم پر واجب بولي.

پوښتنه: که يو سړی مقيم و روژه يې نيوله څو وروسته په روژه کي مسافر سو هغه ته روژه خوړل روا دی يعني چي هغه نوري پاته روژې وخوري؟

ځواب: هو! ورته روا دي، لحديث جابر وعبدالله بن عباس ﷺ چي عليه السلام په کال کي د فتح مکې د روژې په مياشت کي ووتی فصام حتی بلغ كديد افطر (يعني وروسته روژه نيول يې پريښول دا معنا نه ده چي نيولې روژه يې ماته کړه) وافطر الناس والمتاخر يعني الفطر ناسخ للاول وهو الصوم، وعليه انعقد الاجماع، وهو مذهب اكثر الصحابة والفقهاء، نعم روی عن علي ﷺ انه لايجوز له الفطر استدلالا بقوله تعالى ﴿فمن شهد منكم الشهر فليصمه﴾ اى كله لكن ليس ذالک معناه كما يشهد به المذكور من الحديث.

مسئله: که سړي روژه نيولې وه او په هغه ورځ کي مسافر سو ده ته د هغې ورځي روژه ورته ماتول روا نه دی په نيز د ابو حنيفه، ومالک، والشافعي رحمهم الله لانه شهد اول اليوم بدون العذر فليصمه وقال احمد وداؤد رح يجوز له الفطر لذالک اليوم وتفصيل الدلائل في الفقه.

مسئله: که فوق الذکر سړي هغه نيولې روژه ماته کړه په نيز د ابو حنيفه رحمه الله که څه هم فطر نه دی ورته روا کفاره نسته بائدي لمكان الشبهة بقول احمد رحمه الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ

او که وي هغه څوک چي د روژې میاشت پر راغله ناجوړي یعني داسي ناجوړي چي روژې ضرر ورته کاوه کمامر سابقا او یا پر سفر و، نو پر هغه سړي واجب ده په حساب د خوړلو روژو د نورو ورځو څخه یعني چي دی جوړ سي او یا مقیم سي روژې ونسي.

پوه سه: چي ومن کان مبتداء ده او په کان کي ضمیر راجع دی ومن ته هغه اسم د کان دی او مریضا وعلی سفر یې خبر دی، او عدة په حذف د علیه جمله ده او من ایام موصوف دی او اخر یې صفت دی، او اخر جمع د آخر ده او جار ومجرور متعلق دی په علیه محذوف سره. او ټوله جمله خبر د من ده، وایراد الفاء في الخبر لتضمن الموصول معنی الشرط.

پوه سه: چي مظهري ﷫ د پخوانۍ رایي سره موافق وایي چي حکم د مریض او مسافر په دمخه آیتونو کي تېر سو نو هغه دمخه آیت یعني وعلی الذین یطیقونه آه " موافق وایي منسوخ نه وایي بلکه د ایام معدودات څخه د روژې میاشت مراد وایي نو د مریض او مسافر د حکم د تکرار به څه فائده وایي.

درویش وایي: چي فائدة التکرار تاکید الحکم بقضاء الصیام في عدة من ایام آخر لئلا یغفل المضطرون للمرض او السفر عن قضاء ایام الفطر في ایام اخر.

مسئله: که مریض په هغه مرض کي مړ سي او یا مسافر په سفر کي مړ سي، نو پر دوی هیڅ شی نسته لان الواجب علیهما صوم بعدة من ایام اخر لم یدرکا تلک العدة.

مسئله: که مریض او یا مسافر لس روژې خوړلي وې او وروسته تر میاشتي د روژې دی دوې ورځي جوړ و او یا مقیم سو، او بیا مړ سو پر هغه پر هغه د دوو قضاء لازمه ده. نو حکم یې وفدیه ته د هغو دوو ورځو نقل کېږي وبس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: که مسافر او یا مریض عدة من ایام اخر پیدا کړی یعني په اقامت کي او په صحت کي لکن سره د هغه د قضا رانه وړه او مړ سو حکم يې څه دی، امام ابو حنیفه رحمه الله وايي چي پر ورثه یې هیڅ شی نسته مګر هغه وخت سته چي مړي وصیت د فديې کړی وي او مال هم لري. نو وارث دی دده د روژو فدیه ورکړي د ثلث څخه دده د مال لا فیمازاد علی الثلث الا برضا جمیع الورثة وکذا الحکم في الصوم المنذور او صوم الکفارات.

مسئله: که مړي وصیت نه و کړی او وارث تبرعا فدیه ورکړه، قال الامام محمد رحمه الله تجزئه ان شاء الله، او امام شافعي رحمه الله په قدیم قول کي وايي چي ولي او وارث د مړي پر ځای دي روژه ونسي که فرضي روژه وي او که نذر وي، او په قول جدید کي وايي چي اقرب ولي دي دده لخوا فدیه ورکوي وتفصیل المذاهب والدلالة في کتب الفقه المفصلة، او شروح الاحادیث المطولة. او مظهري رحمه الله تفصیل د دلائلو هم راوړی دی

يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ

پوه سه: چي دا جمله مستانفه ده لپاره د بیان د حکمت الهي په اداء کولو کي د فطر مریض او مسافر ته یعني اراده لري خدای پاک وتاسي مؤمنانو ته د اسانی او اراده نه لري د سختی.

فائده: ددې آیت څخه صراحتا دا معلومېږي چي فطر د مریض او مسافر رخصت دی لپاره د اسانی، او داسي نه ده چي فطر هرو مرو پر دوئ لازم دی، حتی که چېري مسافر او مریض بیا هم روژه ونسي روا ده اجماعا، او په یو بل روایت کي د ابن عباس او د ابو هریره او د عروة او د ابن الزبیر او د علي بن الحسین رضي الله عنه راغلي دي چي دوئ ومسافر ته روژه نیول روا نه بولي او که يې ونیول قضاء پر لازمه ده لقوله تعالی ﴿فعدة من ایام اخر﴾ ولي چي په دې آیت کي خدای جل جلاله واجب پر ده عدة ایام اخر ګرځولي ده لاغیره فمن صام في الحال فقد صام قبل وجوبه فلا یصح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي دا و روایت د مظهري رحمه الله، د تعجب خبره داده چي آیت ﴿ومن کان مریضا او علی سفر﴾ د مریض او مسافر دواړو په باره کي و نو په حدیث سره مظهري رحمه الله یوازي مسافر ولي ذکر کړی، ولي مریض که روژه ونسي خو قبل الوقت ده نو باید هغه نسي صحیح. او بل دا چي مظهري رحمه الله د صحت د روژي او مسافر او مریض ته د اجماع دعوه کړي ده نو سره د مخالفته د هولاء السادات الکرام رحمهم الله څرنګه اجماع صورت لري والله اعلم بمراد الامام المظهري رحمه الله.

سوال: شاید د مظهري رحمه الله دي اجماع د ماسوی د هؤلاء السادات رحمهم الله وي؟

ځواب: دي ته خو اجماع نه وایي لما تقرر في کتب الاصول ان الاجماع اتفاق مجتهدی الامة المرحومة في عصر واحد علی حکم ای شرعي سلمنا ذالک لکن لادلیل لهولاء السادات رحمهم الله في الآیة المذکورة یعني فعدة من ایام اخر. ولي چي په اصول الفقه کي وایي چي یو نفس وجوب العمل دی او بل وجوب الاداء د عمل ده نو تقدیم د عمل پر وجوب الاداء روا دی او پر نفس وجوب العمل نه دی روا، مثلا سبب د نفس وجوب الزکوة نصاب دی نو که څوک نصاب نه لري مګر چاته چي یو شی د ذهب او فضه څخه چي ورکوي په نیت د زکوة یې ورکوي یعني که وروسته زه مالک د نصاب سوم نو هغه خیراتي مال د زکوة په ځای کي ودرېږي داسي نه ده روا، او سبب د وجوب الاداء یې حولان الحول دی، نو که سړي نصاب لری او تر حولان الحول د مخه چاته روپۍ ورکوي په نیت د زکوة دا تقدیم روا دی، او په زکوة کي یې درېږي، نو په صیامو کي د روژي د میاشتي سبب د نفس او اصل وجوب خو شهود الشهر دی لکن سفر مانع د وجوب الاداء دی، نو مسافر چي روژه ونسي په میاشت کي د روژي نو تر اصل وجوب خو یې وروسته ونیول چي شهود الشهر و داسي خو روا ده، نعم تر وجوب الاداء یې د مخه ونیول نو دا تقدیم خو روا دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كما في الزكوة وقد مر ذكره آنفاً. او د جمهوره مذهب هغه حديث دليل دى چې مسلم رحمه الله يې روايت کړى دى د ابى سعيد الخدري رضي الله عنه څخه قال ﴿غزونا مع رسول الله ﷺ لست عشر مضت من رمضان فمنا من صام ومنا من افطر فلم يعب الصائم المفطر ولا المفطر الصائم. نو كه دغه د سفر روژې قبل الوقت وايې او نه وايې صحيح كما قال البعض بيا نو بايد مفطر پر صائم عيب ويلاى چې ستا روژه قبل الوقت ده او نه ده صحيح

﴿وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾

پوه سه: چې "ولتكملوا العدة" معطوف دى پر "يريد بكم اليسر آه".

فائده: دا درې معطوفات علتونه دي د افعالو محذوفه وو چې ماقبل دلالت پر كوي، نو معنا د آيت داسي ده انما امرناكم بمراعات العدة بعد ايجاب صوم رمضان حيث قال الله تعالى "فعدة" اى فعليكم عدة ما افطرتم لتكملوا العدة اى عدة ايام الشهر بقضاء ما افطرتم. بسبب مرضكم او سفركم ولتكبير الله اى لتعظموا الله اى انما علمنا كم كيفية القضاء وهو المدلول بقوله تعالى "من ايام اخر" يعني مطلقا يعني پيوسته يې قضاء راوړئ او كه په تفريق سره قضاء راوړئ، ولې چې دا تخيير آساني له جانبه څخه د خداى جل جلاله موجب د حمد د خداى جل جلاله او د تعظيم د خداى جل جلاله ده على ماهداكم، ما مصدريه دى اى على هدايتكم طريق الخروج عن عهدة التكليف ولعلكم تشكرون، اى انما رخصاكم الافطار بعلة المرض والسفر لكي تشكروا الله على هذه النعمة باللسان والقلب والاعضاء كما هو معنى الشكر لان مورده عام كما هو المشهور لكن متعلقه النعمة كما هو ههنا اى الرخصة بالافطار بسبب الاعذار.

درويش وايي: وقد اشار البيضاوي الى ماقلنا بقوله علل لفعل محذوف دل عليه ماسبق اى وشرع جملة ماذكر من امر الشاهد بصوم الشهر والمرخص بالقضاء ومراعات عدة ما افطر فيه والترخيص

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لتکملوا العدة الی اخیرها علی سبیل اللف والنشر المرتب.

درویش وایي: چي په نیت سره عبادت د عادت څخه جلا کیږي ولي چي مطلق امساک د اکل او شرب وغیرهما. داسي هم کېدای سي چي سړی د ورځي اشتهاء ومذکوره شیانوته نه وي. او یا مریض وي.

مسئله: چونکه هره روژه عبادت علی حدة دی نو د هري روژې لپاره نیت غواړي بخلاف التراویح لان الکل کالصیام الواحدة فلا یلزم النیة في کل شفع.

مسئله: د شپې د روژې نیت خو ډېر ښه کار دی لکن نیت د روژې تر نصف النهار شرعي پوري روا دی دفعا للحرج.

سوال: په حدیث شریف کي راغلي دي چي روژه نسته مګر هغه چا لره چي د شپې نیت وکړي؟

ځواب: فقهاء رح دا حدیث محمول پر نفي د فضیلت بولي.

پوښتنه: د قضایي روژو او د کفاراتو او د نذر مطلق روژې هم دغه حکم دی یعني تر نصف نهاري پوري نیت یې صحیح دی؟

ځواب: لا دغسي حکم لکه د فرضي روژې یې نه دی، لان الایام لا تتعین لها من جهة الشارع فیجب التعین في النیة دفعا للمزاحمة بخلاف صوم شهر رمضان.

فائده: ورځ په شریعت کي د صبح صادق څخه شروع کیږي تر غروب الشمس پوري، نو نصف نهار شرعي پوخ ځانښت ته وایي.

درویش وایي: چي اشتراط د ضحوه کبری ددې لپاره دی اکثره حصه د روژې د ورځي سره د نیت سره سي.

مسئله: احتیاط په نیت کي د تراویح دادی چي نیت د سنة الوقت او یا نیت د قیام اللیل او یا نیت د تراویح وکړي، په تفسیر قرطبي او په روح البیان کي وایي چي تراویح سنت مؤکده دي واظب علیها الخلفاء الراشدون ﷺ ای وان کان الجماعة العامة فیها في خلافة عمر ﷺ وفي الحدیث قال رسول الله ﷺ ان الله فرض علیکم الصیام وسننت قیامه.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

پوښتنه: امیر المؤمنین عمر ﷺ چي په میاشت کي د روژې مسلمانان پر یوه امام سره جمع کړه، نو یې داسي وویل نعمت البدعة هذه ای قیام اللیل نو د بدعت معنا څه ده، او سنت وبدعت منافات نه سره لري؟

ځواب: نبي ﷺ که څه هم درې شپې قیام اللیل کړې ده، په جماعت سره لکن دوام یې نه دی پر کړی، بلکه د قیام اللیل جماعت یې بېرته پرېښی، او نه یې خلګ پر یوه امام سره جمع کړي دي، نو د عمر ﷺ مراد دادی چي همېشه توب پر جماعت د قیام اللیل او خلګ پر یوه امام سره جمع کول بدعت دی لک دا بدعت حسنه دی او بدعت محموده دی.

سوال: په حدیث مبارک کي راغلي دي «کل بدعة ضلالة وکل ضلالة في النار» یعني کل اهل الضلالة في النار، نو بدعت محموده څرنګه امکان لري؟

ځواب: مراد له بدعت څخه په دغه حدیث کي هر هغه نوی عمل دی چي په شریعت مبارک کي هیڅ اصل نه لري، داسي نوی کار خو اتفاقا ضلالت دی مګر د تراویح خو اصل ثابت دی د علیه السلام څخه چي درې شپې د روژې قیا اللیل په جماعت کړي دي کما في البخاري ومسلم وغیره من الصحاح الستة.

پوښتنه: آنحضرت ﷺ دوام ولي نه پر کاوه؟

ځواب: د عدم دوام عذر هم په مذکوره حدیث کي علیه الصلوة والسلام پخپله بیان کړی دی چي زه بېرېږم چي صلوة اللیل په جماعت سره پر تاسي فرض نسي، نو چونکه په خلافت کي د عمر ﷺ دغه بېره له منځه ولاړه، نو ځکه عمر ﷺ صلوة اللیل په جماعت سره او د خلګو په دعوت ورکولو سره شروع کړې.

فائده: معلوم الحاله مخالفین چي د مذاهب اربعه وو د تقلید منکر دي، دوی وخپلو اتباعو ته داسي وایي چي فلانی عمل او کار بدعت دی، او په حدیث کي بدعة حسنه هیڅ نه مني، او اتباعو ته په خیال داسي ورکوي چي بدعت مرادف د کفر دی، ځکه ددوی اتباع بدعت کونکي که څه هم بدعت حسنه او محموده وي په نظر د ګمراه او کافر ګوري، کما هو المجرب في اتباع هولاء الفرق.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي زه ددوئ له مشرانو څخه پوښتنه کوم، که هر بدعت که اصل لري او که یې نه لري ضلالت وي، نو دغه مشران د فرقه مذکوره تراویح ولي کوي، او څوک چي د یو صالح سره بیعت د مریدی وکړي دوئ یې ولي جائز نه بولي، او سره ددې چي دغه بیعت خو هم اصل ثابت لري کما في بیعت الرضوان في الحدیبیة مع رسول الله ﷺ کما في البخاري وغیر من الأصول الستة، او ددې ډلو مشرانو او تابعان ولي پر تسبیح متعارفو باندي د خدای ﷻ ذکر کوي مع ان رسول الله ﷺ ماراء التسابیح المتعارفة طول حیاته او که دوئ وایي چي دا خو اصل لري ولي چي علیه الصلو والسلام یوه ښځه ولیدل چي د خرما پر مندکو ذکر یې ذکر کاوه، علیه الصلوة والسلام منع نه کړه نو دوئ وایي چي د تسابیح متعارفه وو او د خرما د مندکو څه فرق دی، نو دغه معلوم الحاله ډلې مجبوره دي چي په بدعت حسنه او سیئه یې اقرار کوی، نو بیا که یې چیري داسي یو نوی عمل ولي دی چي هغه اصل په شریعت کي نه درلودی هغه کار ته دوئ ضلال وایي او په هغه فتوی کي اصحاب او اتباع د مذاهبو اربعه وو د دوئ سره اتفاق کوي، او داسي وي چي ددوئ د لامذهبي سره موافق وي هغه دین او شریعت بولي او چي مخالف وي که څه د یو مذهبه سره د مذاهبو اربعه وو سره موافق وي، هغه دوئ بدعت او ضلالت بولي بلکه بعض سرسختنه ډلې ددوئ یې شرک بولي، نو په دغه حکم کي مور اتباع د مذاهبو نه ددوئ موافقت کوو او ددوئ دغه مفکوره په سخته لهجه رد وو.

پوه سه: چي آنحضرت ﷺ به اصحابو کرامو ﷺ ته د روژې د میاشتي زیری ورکاوه په دې ښائسته الفاظو سره "قد جائکم شهر مبارک قد جائکم شهر مبارک کتب الله علیکم صیامه تفتح فیه ابواب الجنة وتغلق فیه ابواب الجحیم وتغل فیه الشیاطین، وفیه لیلة هي خیر من الف شهر من حزم خیرها فقد حرم:

مسئله: پوه سه چي دغه حدیث اصل دی په مبارکي ورکولو د خلګو یو وبل ته په راتلو د بعضو میاشتو یا د اخترو سره لکه چي عادت دی د خلګو، قال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

السخاوي رحمه الله في المقاصد الحسنة التهنية بالشهود والاعياد كما اعتادة الناس مشروع وهذا الحديث اصل له، په حديث مرفوع کي راغلي دي من حقوق الجار ان اصابه خير ههنا، او مصيبة غراه، او مرض عاده.

درویش وايي: چي مبارکي يو وبل ته سره ورکول فرق معلوم الحاله بدعت سيئة بولي.

پوه سه: چي مور مسلمانانو لره درې اختره دي عيد الافطار له روژې ځخه وهو عيد الطبعية، والثاني عيد الموت على الايمان الكامل وهو عيد کبير، والثالث عيد تجلى انوار الله ﷻ وهو اکبر الاعياد، حديث صحيح رواه الترمذي، عن زيد بن خالد رضي الله عنه که چا روژه مات ورکړی روژاتي ته کان له مثل اجره من غير ان ينقص من اجره شيئا.

مسئله: مستحب داده چي روژه دي د لمر ليوېدو سره متصل ماتوي او پېشلمی دي ناوخته کوي، سبب دادی د تعجيل الفطر چي د شپې روژه نيول بدعت سيئه دی نو روژاتي چي روژه تر غروب الشمس وځنډوي نو ګويا بعض اجزاء د شپې يې روژه ونيول. نقل دی چي حماد بن سلمه الامام الحافظ رحمه الله به په مياشت کي د روژې هر روژه مات پنځوس (۵۰) کسو ته روژه مات ورکاوه، او چي د اختر شپه به سوه يو يو جوت کالي به يې هر يوه ته ورکول او خلګو به دی د ابدالو ځخه باله. وفي الحديث که چا وږی موړ کړی يعني که يې روژه وي او که يې روژې وي، او يا يې لغ سړي ته کالي ورکړه، او يا يې مسافر ته ځای ورکړی خدای ﷻ به هغه ته پناه ورکړي د سختيو ځخه د ورځي د قيامت، د ابو سليمان داراني ځخه منقوله ده دی وايي چي زه د ورځي روژه ونسم او په حلاله ګوله يې ماته کړم ماته احب ده تر قيام الليل وصوم النهار چي په حرامه ګوله يې ماته کړم، او دی وايي چي حرامه ده پر هغه زړه چي په نس کي يې حرامه ګوله وي چي لمر د توحيد الهي دي پر هغه زړه طلوع وکړي ولا يسما في وقت الصوم، نو پر صائم لازمه ده چي د حرام خوړلو ځخه دي جداً پرهېز کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي په تاریخ کي د عبدالله ابن المبارک چي د امام اعظم شاګرد و، او امام بخاري په صحیح بخاري کي دده روایتونه هم راوړي دي، راغلي دي چي ده لوی تجارت کاوه او پر طالبانو د علم او فقراوُ د کاله یو لک درهم مصرفول، او طالبانو ته به یې ویل چي تاسو طلب الدنیا مه کوئ بلکه په طلب د علم کي سرګرمه کوشش کوئ د دنیا او نفقي غم پر ما دی، او که تاسي نه وایي ما به هیڅ تجارت نه وایي کولای، او په ادنی مایکفی به مي ګزاره کولایي رحمه الله تعالی.

یوه سه: چي امام مظهري رحمه الله په نقل د احادیثو صحیحه وو د روژې د میاشتي او د روژې نیولو په باره کي یو مستقل فصل راوړی دی، وقال ﴿عن ابي هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال اذا دخل رمضان صفدت الشياطين ومردة الجن وغلقت ابواب النار فلم يفتح منها باب وفتحت ابواب الجنة فلم يغلق منها باب وينادي مناد يا باغي الخير اقبل ويا باغي الشر اقصر ولله عتقاء من النار وذالک کل ليلة، متفق عليه﴾

ترجمه: یعني چي د روژې میاشت داخله سي، نو شیطانان د وسپونو په قید کي و تړل سي، او سر کښه د پېراښانو، او وتړل سي دروازې د دوږخ نو یوه دروازه یې نه وي خلاصه، او خلاصي سي دروازې د جنت نو نه وي تړلې د دروازو د جنت څخه یوه هم، او نعره کونکې یعني ملکه نعرې وهي چي ای طالبه د خیر پر عبادت مخ راواړوه، او اې طالبه د شر د ګنهو څخه خان وساته، او خدای جل جلاله لره ازادونکې بندګان ستته له اور څخه او دا هره شپه، رواه البخاري ومسلم رح باختصار، والمذکور رواية الترمذي وابن ماجه او احمد، او د ابو هريره رضي الله عنه څخه روایت دی چي آنحضرت ﷺ وفرمایله ﴿من صام رمضان ايماناً واحتساباً غفرله ماتقدم من ذنبه، ومن قام رمضان ايمانا و احتسابا غفرله ماتقدم من ذنبه، ومن قام ليلة القدر ايمانا و احتسابا غفرله ماتقدم من ذنبه، متفق عليه﴾

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ترجمه: که چا روژه ونیول د میاشتي د روژې چي باعثه یې ایمان و، او سترګي د ثواب یې وخدای ﷻ ته درلودې ده ته به وروبخښل سي هغه د مخه ګنهونه، او که چا قیام د شپو د روژې وکړی (چي اوس یې تراویح بولي) د ایمان او احتساب له کبله و هغه ته به وروبخښل سي دمخه ګنهونه، او که چا قیام د شب قدر د شپې وکړی د ایمان او احتساب له کبله وده ته به وبخښل سي مخکني ګنهونه.

درویش وایي: چي دا روایت په فضائلو کي د روژې یوه په زړه پوري حدیث دی چي پکښي درې سببه د مغفرت د ګنهو جمع دی، د سلیمان فارسي ﷺ څخه روایت دی چي رسول کریم ﷺ په اخره ورځ کي د برات د میاشتي داسي وویل چي اې خلګو یعني مؤمنانو پر تاسي راغله یوه لویه میاشت چي مبارکه میاشت ده، او داسي میاشت ده چي په هغه کي شب قدر سته چي هغه خیر ده تر زرو میاشتو، یعني د هغې شپې عبادت تر زرو میاشتو عبادت بهتر او ښه دی یعني په دې زرو میاشتو کي د روژې میاشت نه وي، والا یلزم تفصیل الشیئ علی نفسه بکرات کما لایخفی، او خدای ﷻ ګرځولي دي روژې ددې میاشتي فرض یعني پر مسلمانانو باندي، او د شپې قیامه چي اوس د تراویح په نامه یادېږي نفل پر تاسي، او که څوک نژدېکت وکړي یعني وخدای ﷻ ته په یو عمل سره د اعمالو د خیر یعني نفلي وي که مالي او بدني او که لساني، دومره ثواب یې دی لکه په بله میاشت کي چي فرضي عبادت او د خیر کار وکړي، او که څوک عبادت وکړي فرضي په دغه میاشت کي ثواب یې دونده دی لکه چي سړی یې په ماسوا کي ددې میاشتي اویا (۷۰) فرضي هغه عبادات وکړي او دا میاشت د صبر ده، یعني د اکل او شرب او جماع څخه په ورځ کي، او د صبر ثواب جنت دی، او دا میاشت د مرستي او د کومک ده یو له بله سره، او داسي میاشت ده چي رزق پکښي بالا کېږي یعني د صائمانو مؤمنانو او که چا په دې میاشت کي روژه مات ورکړی وروژیاتي ته، هغه روژه مات سبب د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بخښني د ګنهو دده ګرځي، او د ازادولو د رقبې دده لـه اوره ځخه. او دې سړي ته خدای ﷻ دونده ثوابونه ورکوي لکه د هغه روژیاتي بېله دې چې د ثواب د روژیاتي شی کم کړي، صحابه کرامو ؓ وویل چې هر ځوک لـه موږ ځخه خو دونده قدرت نه لري چې بل روژیاتي ته روژه مات ورکړي. علیه السلام وویل دا ثواب خدای ﷻ هغه چاته هم ورکوي چې روژیاتي ته یو غړپ شیدې ورکړي او یا خورما ورکړي، او یا یو غړپ اوبه ورکړي، او که چا روژیاتي په ډوډۍ موړ کړی خدای ﷻ به هغه ته اوبه ورکړي زما لـه حوضه ځخه یعني د حوض کوثر ځخه. داسې اوبه چې بیا به نسي تږی تر ځو چې جنت ته ورځي، او داسي میاشت ده چې په اولو لسو شپو کي او ورځو کي رحمتونه د خدای ﷻ پر مسلمانانو نازلېږي، او د منځ په لسیزه کي د خدای ﷻ له خوا ځخه مغفرت د ګنهو کېږي ومسلمانانو ته او په اخرو شپو او ورځو کي ازادي له اوره ځخه ورکول کېږي. نو په دې میاشتي کي ځلور خویه تاسي ډېر کوئ.

(۱) شهادة ان لا اله الا الله

(۲) استغفار او طلب د بخښني.

(۳) د جنت خواست کوئ له خدای ﷻ ځخه.

(۴) پناه غواړئ له خدای ﷻ له اوره ځخه، رواه البغوي ؒ.

درویش وایي: چي ما بعض اختصار په دې حدیث او بعض ترجمې د الفاظو د حدیث کي کړی دی، نو په اخر کي دا وایم او کما قال رسول الله ﷺ وفي الحديث المتفق عليه عن ابي هريره ؓ قال قال رسول الله ﷺ كل عمل ابن آدم تضاعف الحسنات بعشر امثالها الى سبعمائة ضعف، قا الله تعالى الا الصوم فانه لي وانا اجزي به (ټوله عمل د ابن آدم مضاعف کېږي حسنات په لس مثله د هغو تر اوه سوه (۷۰۰) ضعفه پوري خدای ﷻ وایي مګر نه روژه ولي چي روژه زما لپاره ده او زه جزاء د روژې ورکوم یعني ملکو ته یې نه سپارم ولي چي د روژې د ثواب قدر نه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دی ورمعلوم، دا هلته که صیغه د اجزی معلومه وویل سي، وقد مر هذا الحدیث بترجمته من قبل ایضا یدع طعامه وشرابه وشهوته من اجلي، روژاتي پرې ایښی دی خوراک او څښاک او جماع زما له ببري.

پوه سه: چي دا جمله مستانفه بیان د علت ده انا اجزی به ده

للصائم فرحتان فرحة عند افطاره وفرحة عند لقاء ربه (او روژیاتي لره دوې خوشهالیاني دي یوه خوشهالي په وخت کي د افطار ده او بله خوشهالي په وخت کي د ملاقات ده خدای ﷻ ده یعني چي ثوابونه د روژې د خدای ﷻ له خوا ویني) ولخلوف فم الصائم اطیب عند الله من ریح المسک (او متغیر بوی د خولې د روژیاتي ډېر خوش بویه دی تر بوی د مشکو) الصوم جنة (روژه سپر دی له ګنهو څخه) فاذا کان یوم صوم احدکم فلا یرفث ولا یصخب فان سابه احد او قاتله فلیقل اني امرء صائم (نو چي وي روژه د یوه ستاسي څخه نو دي فحش نه وایي او نه دی لوی لوی اوازونه کاږي. او که یو چا وده ته بنګنځل وکړه او یا یې جنګ ورسره کاوه نو دي دا ووایي و هغه سړي ته چي زما روژه ده نو زه ستا د بنکنځولو ځواب نه درکوم او نه ستا سره جنګ کوم، او یا دي پخپل زړه دا خبره ورتېره کړي چي ستا خو روژه ده باید ته نه چاته بنکنځل وکړې او نه جنګ وکړې، ورروی عن ابی هریرة رضی الله عنه عن النبي ﷺ انه قال یغفر لامته في آخر لیلة من رمضان قیل یا رسول الله هي لیلة القدر قال لا ولکن العامل انما یوفی اجره اذا قضی عمله.

ترجمه: علیه الصلوة والسلام وویله چي زما امت ته بخښنه کېږي په اخیره شپه کي د روژې، چا پوښتنه څندي وکړه یا رسول الله ﷺ دغه شپه نو د شب قدر ده؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل یا لکن سبب د بخښني دادی چي یو څوک چي د چا کار کوي یعني د چا مزدور وي هغه مزدور ته کامله مزدوري هغه وخت ورکول کېږي چي هغه کار پای ته ورسوي، رواه احمد بن حنبل رحمه الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي اې خدای ﷻ ته وما عاصي ته ثواب او مزدوري قبل الوقت یعني په دنیا کي راکړې ده چي ستا د نعمتونو حساب نه په ژبه او نه په قلم د عاصي کېدای سي ﴿وان تعدوا نعمة الله لا تحصوها﴾ پر ما عاصي ستا عبادت په دې لازم دی چي ته رب یې زما او زه بنده یم ستا، پاکه خدایه که تا جنتونه فرضا نه وایي پیدا کړي، نو خو طمع د جنت به هم نه وایي او که دي دوږخونه فرضا نه وایي پیدا کړي نو خو بېره د دوږخ به هم نه وایي، لیکن بیا هم که تا پر عاصي بعض فرائض مقرر کړي وایي او د بعضو کارو څخه دي منع کړې وایي، نو د بندگی په سبب مراعات د اوامرو ستا او د منهیاتو پر معاصي لازم به وایي په مراعات د ربوبیت او استحقاق ذاتي ستا ﷻ لکن که ته په ورځ د اخرت ماته ثواب راکړې او گنهونه مي راوبخښې ستا عین احسان دی. اللهم اغفرلي ذنوبي کلها واغفر لوالدي وارحمهما کما ربیاني صغیرا. په حدیث شریف کي راغلي دي روایت یې بیهقي کړی دی په شعب الایمان کي د عبدالله بن عمر ؓ څخه داسي راغلي دي چي رسول کریم ﷺ وویل چي روژې او قرآن شفاعت کوي د بنده، روژې وایي اې خدایه دغه بنده موږ منع کړی و له طعام او شهواتو څخه د ورځي، موږ ته اجازه د شفاعت دده وکړې، او قرآن وایي چي اې ربه ما منع کړی و دغه سړی له خوبه په شپه کي یعني چي زما تلاوت به یې کاوه د تهجد په لمانځه کي ماته اجازه د شفاعت وکړه دده په باره کي، علیه الصلوة والسلام وایي فیشفعان.

پوه سه: چي په حدیث شریف کي راغلي دي چي یو اعرابي یعني صحرایي سړی وعلیه الصلوة والسلام ته راغلی او پوښتنه یې وکړه، اقریب ربنا فنناجیه ام بعید فننادیه فسکت عنه فانزل الله تعالی.

آیا نژدې دی خدای ﷻ زموږ چي موږ کرار خبري ورسره کوو، او که لېري دی نو موږ به ناري پسي وهو، نو رسول الله ﷺ یو گړی ساکت سو فنزل هذه الآیة.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ

يعني چې ستا څخه پوښتنه وکړي بندګان زما زما په باره کې نو بې
تحقيق زه نږدې یم یعني ورته ووایې چې خدای ﷻ نږدې دی، یعني په
قرب علمي نه په قرب مکاني لانه تعالى منزه عن المكان.

أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ

او زه قبلوم دعاء د هغه چا چې ماته خواست وکړي.

پوه سه: چې په قرائت ددې آیت کې قراء سره مخالف دي، قاریان د
مدینې منورې یې اکثره یعني اکثر ددوئ په اثبات د یا وایي په دواړو ځایو
کې په حال کې د وصل یعني الداعي وعاني، او باقي قاریان یې په حذف د
یاء وایي وصلا ووقفا واکثر نسخ القرآن الكريم على هذه القرائة.

پوښتنه: ډېر مسلمانان وخدای ﷻ ته خواستونه په امور دنیویه کوي لکن
اجابت یې نه کېږي، او خدای ﷻ په دې آیت کې وعده د اجابت کړې ده؟

ځواب: بعض مفسران رح وایي چې اجابت لره د دعاء شرائط سته. نو په
داعي کې به هغه شرطونه نه وي موجود، مثلا یو شرط د اجابت لقمه
حلال ده وهذا الشرط في هذا الزمان اعز من مخ البعوض، او بل شرط
یې حضور القلب والاخلاص دی وهذا الشرط ایضا مفقود في كثير من
الناس، بلکه په اوسنۍ زمانه کې دعاګانې په قلب لاهي غافل سره کېږي
او بل شرط یې تیقن پر اجابت دی ولې خدای ﷻ پر هر څه قادر دی، مګر
ډېر خلګ په قلب شاک سره دعاګانې کوي، او بعض مفسران رح وایي
چې دا آیت خو مطلق دی او مطلق محمول پر مقید وي چې په یوه واقعه
کې وي كما هو المقرر في اصول الفقه، او په بل آیت کې خدای ﷻ داسې
ویلي دي ﴿بل اياه تدعون فيكشف ماتدعون اليه ان شاء﴾ نو دا آیت
مطلق چې محمول پر دې آیت مقید سي، نو ددې آیت معنا داده ﴿اجيب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دعوة الداعي ان شئت﴾ يعني اجابت مقيد په مشيت سره د خداى ﷻ دی او بعض مفسرين ﷺ وايي چي اجابت د دعاء يوازي دا نه دي چي خداى ﷻ به عين مسئول ورکوي، بعض وخت د داعي ته مسئول بل شی سائل ته خير وي په علم کي د خداى ﷻ نو خداى ﷻ وداعي ته هغه خير تر مسئول ورکړي، او د سائل دا گمان وي چي زما مسئول چي خداى ﷻ ماته نه کړی را نو زما خواست يې نه دی قبول کړی، او کېدای سي چي داعي ته يو شر او ضرر متوجه وي، چي دفعه د هغه تر مسئول دده خير وي داعي ته، نو خداى ﷻ په عوض د مسئول کي دفعه د هغه شر د داعي څخه وکړي او داعي وايي چي زما خواست نه سو قبول، او يا د داعي په دعاء کي قطع د وسيله رحمي وي لکه د يو سړي چي مثلا له ورور څخه خوا بده وي، دی داسي خواست وکړي چي خدايه زما ورور په سترگو ړوند کړې، او يا د سائل مسئول يا محال ذاتي وي لکه چي وايي خدايه ما ملکه وگرځوې، او يا محال عادي وي لکه يو غريب سړی چي ووايي اې خدايه ماته د امريکا بادشاهي راکړې مثلا . او دا هم اجابت د دعاء دی او داعي ددې اجابت څخه غافل دی چي په بعضو رواياتو کي راغلي دي چي بعض بندگان چي په ورځ د قيامت وخپلو جنتونو ته ورسي، په جنتونو کي زائد تر اعمالو صالحه وو خپل چي دوئ په دنيا کي کړي وه ځايونه او قصرونه ووينې، نو خداى ﷻ ته التجاء وکړي چي دغه زائد قصرونه او ماڼۍ زموږ په جنتونو کي له څه درکه دي رب ﷻ ورته ووايي چي دا ځايونه له دې درکه دي چي تاسي به ماته په دنيا کي خواستونه کول او ما به تاسي ته ستاسي مسئول نه درکاوه، دا قصرونه د هغو خواستو عوض دي، نو دوئ به ووايي چي دونده لوی عوض په دار جاوداني زموږ خواستونو لره وو نو کاشکي زموږ غوښتي خلگو په دنيا کي خلگو په غنچيو پرې کولای، او موږ تاته خواستونه ددفع کولای او تا نه قبولولای او دا عوضونه دي راکولای، الی غير ذالک من بيانات المفسرين رح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فوائد شتی: پوه سه! چي څوک چي په یوه بلا مبتلاء سي او کشف د هغې بلا او دفعه له خدایه نه غواړي حرام دی په شریعت او طریقت کي لانه کالمقاومة مع الله والتحمل لمشاقه.

قال المولوي المعنوي جلال الدین الرومي رحمه الله

چون فرود آید بلا بی دافعی   جز تضرع هیچ نبود دافعی

فائده: لپاره د دفعي د بلا او یا د مرض وغیرهما د عوام الناس لپاره او د مبتدیانو لپاره چاره نسته چي یو سبب که دوا وي او که دعاء وي برابر وي او هر چه نیت د اهل سلوک دی د هغو احوال تر ضبط لاندې نه راځي په حدیث مبارک کي راغلي دي چي نمرود چي د حضرت ابراهیم علیه السلام لاسونه تړلي وه او د منجنیق په ذریعه یې اورته ور وغورځاوه. جبرئیل علیه السلام په هواء کي اور ته نارسیده راغلی او ابراهیم علیه السلام ته یې وویل هل لک من حاجة فقال الخلیل علیه السلام اما الیک فلا، فقال جبرئیل علیه السلام أسئال الله الخلاص، فقال الخلیل علیه السلام حسبي من سؤالي علمه بحالي، ولهذا التوکل للخلیل علیه السلام وقال الله تعالی ﴿وقلنا یا نار کوني بردا وسلاما علی ابراهیم الآیة﴾

فائده: بعض مفسرین رح وایي چي قضاء الحاجه غیر دی د اجابت الدعوت څخه. ولي چي اجابت الدعوت دادی چي بنده ووایي یا الله خدای ج ورته ووایي لبیک عبدي او دا معنا د اجیب دعوة الداعي ده. او وروسته چي بنده ووایي چي افعل کذا د هغه کار کول د خدای ج د خوا څخه قضاء الحاجة بولي، اول چونکه موعود دی نو لا محاله موجود دی، او دوهم ومشیت ته د خدای ج موکول دی.

فائده: قضاء الحاجة په قول د رسول کریم ﷺ حصر په ورکړي کي د سول نه دی. قال رسول الله ﷺ دعوة المسلم لا یرد الا لاحدی ثلث اما ان یدعوا باثم لکه یو سړی چي ووایي چي ماته د فلانی ښځي پر زناء باندي قدرت راکړې، او قطیعة رحم مثال یې د مخه تېر سو، واما ان یدخرله في الآخرة. واما ان یصرف عنه السوء بقدر مادعا، او ددې تحقیق دمخه تېر سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: قال العلماء الدعاء مفتاح باب السماء، واسنانه لقمة الحلال. قال رسول الله ﷺ الرجل يطيل السفر يمد يديه الى السماء اشعث اغبر يقول يا رب يا رب ومطعمه حرام وشربه حرام وملبسه حرام، وغذى بالحرام فاني يستجاب لذالک.

فائده: بعض مفسرين ﷺ وايي چي اجابت د دعاء د بنده مقيد دی په اجابت پوري د بنده دعوت لره د خدای ﷻ ولهذا قال الله تعالى ﴿فليستجيبوا لي وليؤمنوا بي آه﴾

فائده: د تاريخ له پانو ښخه صاحب د روح البيان نقل کړی دی چي په کوفه کي د ښار يو څو کسان مستجاب الدعوات د خدای ﷻ دوستان وه د ابن مروان ظالم په حکومت کي چي ابن مروان به هر والي و کوفې ته واستاوه او هغه به په ظلم لاس پوري کړی نو هغو د خدای ﷻ دوستانو به ښرا ورته وکړه په لږ زمانه کي خدای ﷻ هلاک کړی. نو اخير الامر ابن مروان ظالم اعظم حجاج بن يوسف والي د کوفې مقرر کړی او د هغو کسانو مستجتاب الدعوات په حال يې هم خبر کړی، نو حجاج بن يوسف کوفې ته ورغلی اولين کار يې دا وکړی چي بعض مخور کسان چي په هغو کي دغه مستجاب الدعوات کسان هم وه. نو حجاج ظالم يو د حرام خواړه ورته پاخه کړي وه. نو مېلمنو چي هغه حرام خواړه وخوړل. نو حجاج بن يوسف وويل او ابن مراون يې خبر هم کړی چي زه په امن کي سوم ددغو مستجاب الدعوات کسانو او ددوئ ښرا خدای پاک نه قبلوي ولي چي ددوئ په نسو کي حرام خواړه ولوېدل او حجاج خپل حکومت بېغمه پر کاوه او ددوئ ښېرا هم نه قبولېدل آه.

فائده: په لفظ کي د اني قريب چي معنا يې قرب مکاني ده استعاره لپاره د قرب علمي دی او دې استعارې ته چونکه د قريب لفظ مشتق دی په اصطلاح د علم بيان استعاره تبعيه تمثيليه وايي، راجع علم البيان في معرفة معنا هذه الاستعارة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: ولي قرب ښځه خپل حقیقي معنا نه ده مراد؟
ځواب: قرب مکاني پر خدای ﷻ ممتنع دی کماتقرر في علم العقائد وقد اشرنا الیه من قبل.
پوښتنه: کتابونه د علم کلام د چالاس رسیږي یو داسي عام الفهم دلیل پر امتناع د قرب مکاني پر خدای پاک هم شته؟
ځواب: هو شته.

تاریخ اسلامي وایي چي یوه ورځ په مکه مکرمه کي یوه متمول سړي د ډیرو علماؤ ضیافت کړی وو چي د هغو په جمله کي امام الحرمین ابو المعالي عبدالملک هم موجود و. خیر د علماؤ د مجلس جریان ودې مسئلې ته ورسېدی چي خدای ﷻ لره ولي مکان په معنا حقیقي سره نشته. امام الحرمین ورته وویل چي ددې مسئلې دلیل دادی چي یونس ﷺ چي په نس کي د ماهي خدای ﷻ بندي کړی و چي قصه یې وهر چا ته معلومه ده هغه په نس کي د ماهي دا ذکر کاوه ﴿لا اله الا انت سبحانک اني کنت من الظالمین﴾ او رسول الله ﷺ په لیلة المعراج کي د خدای ﷻ حمد په دې الفاظو وواېه ﴿لا احصی ثنا علیک انت کما اثنیت علی نفسک﴾ علماء حاضرین د مجلس ودې ځواب ته د امام الحرمین حیران پاته سوه چي ددغو دوو خبرو ښځه ځرنګه نفي د مکان په معنا حقیقي د خدای ﷻ معلومېږي، نو د امام الحرمین ښځه یې توجیه ددې ځواب وغوښتله. امام الحرمین ورته وویل چي په دروازه کي یو سړی مسکین دی چي زر درهمه پور پر باندي دی، نو موږ او تاسو په اجتماعي توګه د دغه سړي د پور اجراء زر وکړو نو زه به توضیح د دلیل مذکوره درته وکړم. صاحب الضیافة ورته وویل چي د پور اجراء یې زه وایم خو ته توضیح د دلیل مذکوره موږ ته وکړه، هغه وو چي صاحب الضیافة زر درهمه وه امام الحرمین ته ورکړه او هغه دا زر درهمه ورو وړه وه صاحب الحاجة پوروړي ته او بېرته راغلی او توضیح د دلیل مذکوره یې په دې الفاظو وکړه چي ټوله علماء او اهل لسان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عربي په دې پوهېږي چي انت خطاب دی وحاضر ته. نو که خدای ﷻ لره مکان په معنا حقیقي وایي نو خو دا مکان به یا په عالم علوي کي وایي نو یونس ﷺ څرنګه خطاب په انت خدای ﷻ لره کاوه خدای ﷻ خو از روی مکان علوي له یونس ﷺ څخه غائب و. او که خدای ﷻ په مکان سفل کي وایي نو آنحضرت ﷺ څرنګه فوق السموات السبع خطاب د "انت" خدای ﷻ ته کاوه ولي خدای پاک په مکان سفلی کي د علیه السلام څخه غائب و، نو دا یقیني ده چي خدای ﷻ مکان په معنا حقیقي خدای ﷻ لره نشته بلکه لفظ د قریب په معنا مجازي دی چي حضور علمي دی، ټوله علماء او اهل مجلس ودې خواب ته د امام الحرمین رحمه الله هم قانع سوه او هم د تعجب په دریاب کي غرق سوه.

درویش وایي: لله دره ما ادق نظره

تصوفي ځواب د "اجیب دعوة الداعي اذا دعاني" وقد مر ذکر السوال وتفصیل الجواب لازمه ده پر دعاء کونکي باندي چي خپل نفس او زړه پاک ولري له بدو اخلاقو څخه لانها قاطعات لطریق الدعاء. او زړه دې صاف ساتي او په اخلاق حسنه وو دې منور ولري فان القربات ترفع الدعوات، قال الله ﷻ الیه یصعد الکلم الطیب والعمل الصالح یرفعه. او داغه رنګه دې روح د التفات څخه وغیر الله ته پاک لري ویکون دعائه لطلب الحق من الحق لیستجیب دعائه ولا یخیب رجائه. کما ورد في الحدیث القدسي الا من طلبني وجدني ومن طلب غیري لم یجدني وان الله وعد الاجابة علی طلبه الدعاء، ولذا قال ﴿اجیب دعوة الداعي اذا دعاني﴾ ای اذا طلبني. سعدي شیرازي رحمه الله

خلاف طریقت بود که اولیاء تمنا کند از خدا جز خدا

فمن اخل ببعض هذه الشروط لم یلزمه الاجابة کمن یخل برکن من ارکان الصلوة لم یلزمه القبول، کذا في روح البیان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي مؤمن باید رضاء طلب د خدای ﷻ وي په عباداتو او اذکارو سره، څرنګه چي خدای ﷻ راضي وي د مؤمن څخه او په ضروریاتو د مؤمن په دنیا او په اخرت کي خدای ﷻ ښه خبر دی تر مؤمن، نو مؤمن باید مطمئن ووسي په وخت کي د دعاء هر رنګه چي خدای ﷻ وکړه د مؤمن داعي باید دا ایمان او اذعان وي چي دغه زما لپاره خیر ده عند الله ﷻ.

پوه سه: چي د خدای ﷻ داسي بندګان سته چي په اشاره له خدایه شي ببله تصریح په مطلوب سره غواړي، خدای ﷻ هغه مطلوب ورکوي.

حکایت: راوي وایي چي یو کال په بغداد کي سخته قحط سالي وه د باران، نو امیر الوقت اعلان د استسقاء وکړی په ښار کي، نو یوه ورځ امیر الوقت سره د رعیتو صحراء ته ووتل حتی الممکن یې شرائط او د استسقاء اداب هم پر ځای کړه، هیڅ باران یا وریخ نه سوه معلومه او بیا دوېم ورځ او بیا دریم ورځ یې هم استسقاء وکړه، خو خلګ ناامیده سوه ولي چي هیڅ اثار د باران یې نه ولیدل، لکن په بغداد کي یو د خدای ﷻ دوست و چي ټولو د بغداد خلګو په ښه سترګي توب منلی و، او هره ورځ به په استسقاء کي په هغه ولي الله پسي خلګو کتله او هغه به یې په استسقاء کي نه لیدی، پسله دري ورځي استسقاء څخه خلګو و امیر الوقت ته وویل چي فلانی د خدای ﷻ دوست په استسقاء کي نه معلومېدی ته راسه ولاړ سه یو څو معتبر کسان به و هغه ته ورسو او هغه ته به خواست وکړو چي یوه ورځ به ته استقاء ته راسره ځې، نو څلورمه ورځ به هم استسقاء وکړو، ګوندي د دغه د خدای ﷻ د دوست دعاء قبوله سي او باران وسي، امیر الوقت دا خبره ومنل او د څو کسانو سره د هغه ولي الله کورته ورغلل، نو ده ته امیر الوقت وویل چي دري ورځي موږ ټولو بغداد والا وو استسقاء وکړه او ته نه وې راغلی سبب څه و، هغه سړي ورته وویل چي زه ګناه کاره بنده وم نو زما خیال دا و چي په سبب ستا د بد عمل او شوموالي به خدای ﷻ د بغداد د خلګو استسقاء رد کړي نو له دې سببه زه نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درتلم، امیر الوقت ورته وویل چي موږ غواړو چي څلورمه ورځ بیا استسقاء وکړو لکن ته به حتما راسره ځې هغه د خدای ﷻ دوست ورته وویل چي ما ته تجربه حاصله ده چي خدای ﷻ زما خواست نه مني، خو امیر الوقت ورته ټینګ سو، نو هغه ولي الله ورته وویل چي زه به اوس تاسي ته لنډه تجربه د عدم قبول در وښیم، خلګو ته یې وویل چي ورسئ په یوه کاسه کي اوبه راوړئ، خلګو چي اوبه راوړې د خپل د لمانځه دسمال په اوبو کي ډوب کړی او بیا یې راوکښی او خلګو ته یې وویل چي زه خو دا غواړم چي خدای ﷻ زما دغه دسمال را وچ کړي او لمر هم په ښه تودوخي مځکي نیولې ده، وګورئ چي زما دغه دسمال خدای ﷻ را وچوي او که نه خلګو چي دسمال ولمر ته اوار کړی، یو وار په قدرت د خدای ﷻ وریخ او باد پیدا سو او باران شروع سو، نو هغه ولي الله امیر الوقت او خلګو ته وویل چي ما نه درته وویل چي خدای زما خواست نه قبلوي ورځي ولاړ سئ، د خدای ﷻ په قدرت مسلسل بارانونه شروع سوه او خدای ﷻ قحط له بغداده پورته کړی.

درویش وایي: چي دغه ولي الله په اشاره د خدای ﷻ څخه باران وغوښتی خدای ﷻ دده په زبان حال خواست قبول کړی.

سعدي بر فلک برتر بود اسرار او شیئا لله شیئا لله کار او

آداب الاجابت: باید سائل وخدای ﷻ ته اسماء الحسنی د خدای ﷻ شفیع وګرځوي، او هغسي دعاګاني وکړي چي له سلف صالحینو څخه منقولې وي، او وسیله د اجابت انبیاء علیهم السلام او اولیاء الله الصالحین وګرځوي، وفي الحدیث النبوي ﷺ قوام الدنیا ای ثباتها، بثلثة اشیاء په درو شیانو سره، ای بعلم العلماء، لعل المراد بالعلماء الذین یعملون بعلمهم لا طلاب الدنیا والاجراء والمرائین وسخاوة الاغنیاء.

درویش وایي: والله اعلم چي مراد له اغنیاء څخه به هغه اغنیاء وي چي دنیا یې د رشوت او حرامو څخه خلاصه وي، ودعوة الفقراء، انتهی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي

پوه سه: چي عمومي مفسرين وايي چي استجابت په معنا د اجابت دی. نو معنا داده چي تاسي قبلونه وکړئ زما يعني چي زه تاسي راوبولم و ايمان او عبادت ته لکه چي زه ستاسي اجابت کوم چي تاسي مابولئ: د قضاء د حوائجو خپل، لکن دا تفسير مظهري په قيل راوړی دی او مراعات د سين او تاء يې کړی دی چي معنا يې طلب د اجابت دی، نو يې ترجمه داسي کړې ده چي تاسي زما څخه طلب د اجابت د خپلو دعاګانو وکړئ.

وَلْيُؤْمِنُوا بِي

او تاسي پر ايمان ثبات او همېشه توب وکړئ ددې تفسير دليل دادی چي اصل ايمان خو په مؤمنانو کي موجود دی او مظهري رحمه الله يو تصوفي تفسير کړی دی، تفسير مظهري ته رجوع وکړئ.

لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ﴿١٨٦﴾

پوه سه: چي ترجي راجع ودوئ ته ده، والجملة حال يعني راجين اصابة الرشد، او يا لعل په معنا د لام کی دی، والمعنى لكى يرشدوا وذالک لان حقيقة الترجي محال على الله كمامر مراراً.

پوه سه: چي رشد ضد د غي دی نو معنا د رشد هو نيل المقصود والوصل بغير حجاب ان شاء الله.

أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَائِكُمْ

او حلال کړی سوی دی يعني له جانبه څخه د خدای جل جلاله وتاسي ته په شپه کي د روژو رفث.

پوه سه: چي رفث په لغت کي هر هغه خبري دي چي د مېره او ماينې تر منځ کېږي په وخت کي د ارادې د جماعو، نو دلته کنايه مراد څخه جماع ده، من قبيل ذكر اللازم وارادة الملزوم.

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

درویش وایي: چې ددې آیت په شان نزول کې اختلاف دی. ابو داؤد رحمه الله له حدیث څخه د معاذ بن جبل رضی الله عنه او احمد رحمه الله له حدیث څخه د کعب بن مالک رضی الله عنه داسې روایت کړی دی چې په ابتداء کې د اسلام قانون او حکم الهي په روژه کې دا و چې خلګو ته به په ماښام کې چې ډوډۍ، او شرب او جماع به ورته مباح سوه تر هغه وخته پورې چې یا به یې د ماخستن لمونځ کوی او یا به بدېدی، نو بیا یوه شپه په روژه کې عمر رضی الله عنه د ماینې سره وطي وکړې ورروسته د ماخستن تر لمانځه. بیا ورروسته پښېمانه سو او سهار ورغلی علیه الصلوة والسلام ته یې عذر وکړی، او ورروسته د عمر رضی الله عنه نور اصحاب کرام رضی الله عنهم چې ورته کار یې کړی وو هغو هم اقرار وکړی په هغه کار چې عمر رضی الله عنه کړی و فنزلت هذه الآية.

پوه سه: چې رفث یې متعدي په الی سره کړی لتضمنه معنی الافضاء وعبر بالرفث لتقبیح ما ارتکبوه ولذالک سماه خیانة کذا قال البیضاوي او بخاري د براء بن عاذب رضی الله عنه څخه داسې روایت کړی دی چې اصحابو ته د علیه السلام داسې حکم و، چې څوک به د روژه مات پر وخت بیده سو دمخه تر روژه مات هغه سرې بیا ډوډۍ یا شرب وغیره نه سوای کولای دغه شپه او صبا ورځ تر بلې شپې پورې، یعنې صبا به یې هم روژه نیولای، نو قیس بن صرمة الانصاري رضی الله عنه صائم و، کور ته چې راغلی ماینې ته یې وویل چې ستا سره د خوراک شی سته. هغې ورته وویل چې کورته خو شی نسته زه به ولاړه سم په بل کور کې به څه طعام درته پیدا کړم، ښځه ولاړه په کورو، نو چونکه قیس ګرده ورځ کار کړی و، نو یې د ستړیا له کبله څنګ واچوه او بې اختیاره بیده سو، ماینه چې یې راغله څه شی یې پیدا کړی و مېړه چې یې ولیدی چې بیده دی قالت خیبة لک خیر مېړه خو ددې په خبره راویښ سو لکن خوراک بعد النوم حرام و نو له خورکه یې صبر وکړی، او صبا ورځ یې هم روژه کړه، دا بله ورځ چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نیمی ته ورسېده نو قیس د لوږې او د تندې څخه بېهوښه سو، دا موضوع چې علیه السلام ته ذکر سوه نو دا آیت نازل سو.

درویش وایي: چې پر دې روایت د علم الله انکم کنتم تختانون آدلـه رامعلومېږي، ولې قیس ﷺ کوم خیانت نه و کړی، کما لایخفی والله اعلم مگر که دا ښگ اچول خیانت وي والعلم عندالله، او بخاري ﷺ د براء بن عاذب ﷺ څخه داسي روایت هم کړی دی چې د روژې میاشت به داخله سوه مسلمانان به ټولـه د جماع څخه منع وه تر اخیره پوري د میاشتي د روژې، او بعض مسلمانانو د خپل خان سره خیانت کاوه یعني جماعي به یې کولې فنزل هذه الآیة علم الله انکم کنتم تختانون انفسکم الآیة. او په یوه روایت کي د احمد او د ابن جریر وغیرهما د کعب بن مالک ﷺ داسي هم راغلي دي چې د نر یا د ښځي به روژه وه نو به بیده سوه حرم علیه الطعام والشراب او جماع د صبا ورځي تر روژه ماته پوري، یوه شپه عمر ﷺ د علیه الصلوة والسلام سره مجلس وکړی، او کورته چې راغلی د مایني څخه یې د جماعو کولو درخواست وکړی هغې ورته وویل چې زه بیده سوې یم، د حضرت دا خیال وچې بهانه ورته کوي، او ماینې ته یې وویل چې نه یې بیده سوې، خیر خو جماع یې ورسره وکړه، وروسته حضرت عمر ﷺ ته حال معلوم سو چې ښځه بیده سوې وه، نو سهار راغلی علیه السلام ته یې ماجری ذکر کړه، او د کعب بن مالک ﷺ څخه هم داغسي موضوع پېښه سوې وه هغه هم اقرار وکړی، فنزلت هذه الآیة.

درویش وایي: چې دا وه هغه احادیث چې بیضاوي او مظهري راوړي وه ما ستاسي وحضور ته پېش کړه تاسي فکر پکښي وکړئ والله اعلم بالصواب.

هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ۗ

یوه سه: چې دا جمله استینافیه ده بیان دی د سبب د تحلیل د جماعو د ماینو لیلة الصیام، وهو قلة الصبر عنهن، وکثرة المخالطة معهن وکل تلک الامور داعیة الی الجماع معهن، لکه سړی چې د کالو څخه چاره نه لري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي په دې آیت کي غاړه په غاړه کېده د مېړه او د مايني په وخت کي د جماع او يو پر بل پېښي را اړول خدای ﷻ مشابه کړي د ملبوساتو سره چي د سړي پر بدن تول‌ه راوګرځي نو په سبب يې وويل هن لباس الآية، او يا لباس يو له بله سره مېړه او ماينه په دې سبب وه، نو لکه په لباس سره چي ستر د عورت کېږي داغه رنګه مېړه او ماينه يو د بل ساتونکي دي د زناء څخه. ولهذا قال عليه الصلوة والسلام «فمن تزوج فقد احرز ثلثي دينه»

عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْ

خدای ﷻ خبر و چي تاسي يعني هغه کسان چي وروسته تر صلوة العشاء او يا وروسته تر خوب يې د ماينو سره جماعي کولې خيانت کاوه د خپلو ځانو سره په دې معنا چي ځانونه مو وعذاب ته د خدای ﷻ پېشوله او برخه د ثوابو خپله مو کموله، نو خدای ﷻ ستاسي د عذاب څخه رجوع وکړه يعني چي تاسي د خيانت مذکوره څخه وکړه او خدای ﷻ عفوه وکړه وتاسي ته د تېر سوي خيانت. لان التائب من الذنب كمن لا ذنب له. حديث نبوي صحيح.

فَالْـَٰٔنَ بَٰشِرُوهُنَّ

يعني اوس چي تحريم مذکوره منسوخ سو، نو تاسي مباشرت کوئ د ماينو سره.

پوه سه: چي مباشرت باب د مفاعلة دی معنا يې الصاق د بشرت يو له بله سره دلته کنايه ده د جماعو څخه.

فائده: په دې آيت کي دليل دی پر دې چي نسخه د سنت نبوي ﷺ په قرآن سره روا ده ولي چي حکم منسوخ چي حرمت د جماعو او اکل او شرب وروسته تر خوب يا د ماخستن تر لمانځه کما مر ثابت په حديث نبوي ﷺ و.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولي چي په قرآن مبارک کي داسي آيت نسته چي پر حرمت مذکوره دلالت يي، او اوس قرآن مبارک هغه حکم نبوي په دې آيت سره منسوخه کړی.

فائده: الآن اصل يې "لان" په معنا د حان يعني وخت ورسېدی د حين څخه ماخوذ دی، وروسته بيا اسم وګرځېدی د زمان حاضر لپاره، نو يې الف لام چي علامه د اسميت ده پر داخله کړه او پر فعلی فتحه يې پرېښول، نو الآن ظرف دی د باشروهن.

وَابْتَغُوا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ

او تاسي طلب کوئ په جماع کي د هغه شي چي خدای ﷻ تاسي ته ليکلی وی، مراد له "ما" موصوله څخه ولد دی.

فائده: په دې آيت کي اشاره ودې ته ده چي سړی د ماينې سره جماع کوی فقط قضاء الشهوة دې غرض نه وي بلکه طلب د ولد دي لپاره د تکثير الامة هم پکښې وي، ولهذا روی ابو داوٗد رحمه الله والنسائي رحمه الله عن معقل بن يسار رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ تزوجوا الودود، تاسي په نکاح کوئ محبت کونکې ښځه، الولود" چي لنګېږي يعني وچه نه وي فاني مکاثر بکم الامم" ولي چي زه ډېر والی غواړم تر نورو امتو په تاسي دا علت دی د "ودو"

فائده: ددې آيت څخه دا هم معلومه سوه چي عزل مکروه دی، يعني چي مېږه د ښځي له فرجه دباندي ځان انزالوي، ددې لپاره چي عيال مي ونه سي، او پر دې هم دلالت کوي چي محل د جماع بايد هغه ځای وي چي ولادت ځندي کېږي يعني قبل د ښځي نه دبره.

فائده: په اوسنی زمانه کي حکومتونه د کافرانو او د بعضو مسلمانانو دولتو هم لپاره ددې چي رعيت ډېر نه سي يوه منصوبه منظوره کړې ده چي د عيال د بندېدو لپاره يو موقتاً يعني د دوو درو کلو لپاره مثلاً يا د همېشه لپاره يې ګولی او پيچکاری را ايستلي دي چي هغه ولادت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

موقتاً یا موبداً بندوي، دا امور مسلمانانو ته مکروه دي، ولي چي رازق رب جل وعلی دی، مګر په بعضو شرائطو مخصوصه وو کي چي تفصیل د هغو شرائطو به ډېر وطول ته منجر سي روا دی.

وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ

عطف علی "باشروهن" والمعنی، او تاسي خوراک کوئ او څښاک کوئ تر هغو چي ظاهرېږي وتاسي ته هغه سپین تار له تار توره څخه، چي له سپین تار څخه مراد صبح صادق دی.

بوه سه: چي د سپین تار له بیان څخه د تور تار معنا هم معلومه سوله چي مراد ځندي تور والی د یو شي دی.

بوه سه: چي صبح صادق چي اول معلوم سي د لیدونکي په نظر لکه یو سپین نری تار او لوړ تر هغه د شپې تاریکه باقي وي، نو هغه داسي معلومېږي لکه تور تار د سپین تار ممتد په عرض کي د افق السماء، نو سپین تار او تور تار دلته په آیت شریف کي استعارةً او مجازاً مستعمل سوی دی.

مسئله: فقهاؤ رح د دې آیت څخه دا فهمولې ده چي جماع تر صبح صادق پوري روا سوې، نو غسل تر صبح صادق وروسته روا دی. لانه لا یمکنه الغسل الا بعد الصبح، نو پر دې دا تفریع کېږي چي روژه نیول سره له جنابته روا ده کما هو الظاهر.

پوښتنه: بیان د سپین تار بیان یې په فجر سره وکړی او اسود یې پر قیاس کړی، نو که یې بیان د تور تار کړی وایي د شپې په تور والي سره او سپین تار یې پر قیاس کړی وایي کافي به نه وایي؟

ځواب: کافي خو به وایي لکن اصل مقصود په دې آیت کي انتهاء د وخت ده چي هغه "کلوا واشربوا" دی او هغه انتهاء په سپین تار سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مربوط دي نو ځکه يې د سپين تار بيان وکړی او تور يې پر قياس کړی.

پوه سه: چي په روايت د بخاري او مسلم د عدي بن حاتم ﷺ داسي راغلي دي چي څه وخت چي دا آيت نازل سو حتى يتبين الخيط الابيض من الخيط الاسود، يعني من الفجر لا نه و نازل، ما يو تار سپين او يو تور تر بالښته لاندي کښېښول او صبا ته مي د روژې اراده وه، نو هره څه چي به مي د شپې ورته کتله هغه نه معلومېدل، نو سهار عليه السلام ته ورغلم دا بيان مي ورته وکړی، فقال انما ذالک سواد الليل وبياض النهار، او دغه رنګه په بخاري او مسلم کي په روايت د سهل بن سعد ﷺ راغلي دي، دی وايي انزلت کلوا واشربوا حتى يتبين لکن الخيط الابيض من الخيط الاسود ولم ينزل قوله من الفجر، نو بعض کسانو چي په اراده د روژې درلوده يعني نفلي نو به دوئ په يوه پښه پوري تور تار او په بله پښه پوري سپين تار وتړی، نو تر هغو پوري به يې خوراک کاوه چي دا دوه به ورته معلومېده. نو خدای ﷻ من الفجر نازل کړی باره خلګ وپوهېدل چي مراد له خيط ابيض او اسود سره بياض الصبح الصادق وبقية سواد الليل دی.

سوال: ددې حديث ځخه خو دا معلومه سوه چي من الفجر وروسته تر نور آيت نازل سوی دی نو په دې کي خو تاخير د بيان تر وخت د حاجت لازمېږي، وهو غير جائز عند الاصولين؟

ځواب: ددې سوال ځواب اولاً بيضاوي دا ورکړی چي آيت مذکوره خو د مخه تر ماه رمضان نازل سوی و نو د خلګو ضرورت خو بيان ته په مباشت کي د روژې و هغه وخت ته من الفجر هم نازل سو. نو دا تاخير د بيان دی تر وخته د حاجت او دا روا دی، نعم تاخير البيان عن وقت الحاجت لا يجوز آه.

درويش وايي: چي دا ځواب صحيح نه دی ولي چي حاجت د خلګو وبيان ته خو په نفلي روژو کي يې هم وو کما في الحديثين المذکورين. او بل ځواب يې دا ورکړی دی چي خيط ابيض او اسود خو مشهور وه چي مراد څخه ...

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معنا مجازي ده لكن چونكه بعض خلگو ته اشتباه وريبښه سوه كما في الحديثين المذكورين انزل الله تعالى من الفجر لدفع الاشتباه المذكور وهذا جواب صحيح اورده كثير من المفسرين رح. او داسي ځواب هم ممكن دی چي بيان د خيط ابيض او اسود په وحي غير متلو سره ثابت وو يعين په حديث نبوي سره نو من الفجر لپاره د تائيد د حديث نبوي نازل سو احتياطا.

درويش وايي: چي حديث د عدي بن حاتم ﷺ پر دغه ځواب دلالت كوي نو گويا عدي من حاتم ﷺ ته دغه وحي غير متلو نه وي رسيدلي. نو ځكه په بعضو رواياتو كي د بخاري داسي هم راغلي دي چي عليه السلام وعدي بن حاتم ﷺ ته وويل "انك لعريض القفا انما ذالك بياض النهار وسواد الليل" غرض دا چي عليه السلام وعدي بن حاتم ﷺ ته په دې سبب عريض القفا روايه چي تر اوسه چي دغه مراد د خيط ابيض او اسود نه وو خبر والله اعلم.

فائده: فقيه ابو جعفر الطحاوي رحمه الله په شرح كي د معاني الآثار وايي چي اول حكم د روژو پر ظاهر د خيط ابيض او خيط اسود كيښي و. وروسته هغه حكم په من الفجر سره منسوخ سو. د طحاوي رحمه الله دليل هغه حديث د حذيفه ﷺ دی چي دی وايي ما پښلمی وكړی د عليه الصلوة والسلام سره په داسي وخت كي چي ورځ خو داخله وه لكن لمر نه و راختلی. نو طحاوي دا حديث محمول بولي پر هغه وخت چي من الفجر نه وو نازل سوی.

سوال: اهل اصول الفقه وايي چي ناسخ به حتما كلام مستقل وي. او من الفجر خو كلام مستقل نه دی بلكه فقط جار او مجرور دی فكيف يصح النسخ به؟

ځواب: د طحاوي رحمه الله مراد دادی چي اولاً دا آيت نازل سوی "وكلوا واشربوا الخ" بېله قيده د من الفجر وروسته دا آيت تولله تلاوةً وحكماً منسوخ سو. او په ځای كي يې دا آيت پوره نازل سو "وكلوا واشربوا حتى يتبين لكم الخيط الابيض من الخيط الاسود من الفجر" ولاشك ان هذا نسخ الكلام المستقل يعني الغير المقيد بالكلام المستقل الآخر المقيد. وهو جائز بالاتفاق وهذا حاصل ماذكره المظهري رحمه الله والله اعلم بالصواب.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فائده: حدیث د عدي بن حاتم ﷺ خواه ماخواه تر نزول د من الفجر وروسته وو، ولي چي تاریخ د بیان احوال الصحابة ﷺ وایي چي عدي بن حاتم ﷺ په سنه نهه (۹) کي د هجرت مسلمان سوی دی، او نزول د آیه الصیام په سنه دوه (۲) د هجرت وو.

درویش وایي: چي بیان د حدیث د عدي بن حاتم ﷺ پر مذهب د طحاوي ﷺ او د بیان د مظهري ﷺ د بر مشکل دی، فتامل.

ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ

او بیا نو پوره کړئ روژې تر شپې پورې، یعني د خوراک او څښاک او جماعو څخه د شپې تر دخوله به صبر کوي والا لزمکم الکفارة کما سیئاتي که خدای ﷻ کول.

پوه سه: چي الی اللیل پای دی د روژې نو د شپې روژه نسته، نو په دې آیت سره صوم وصال نفي سوله او صوم وصال دا بولي چي دوې درې شپانه روزه روژه نه ماتوي له دې روژې څخه علیه الصلوة والسلام نهي کړې دی کما في البخاري وغیره، نو له دې سببه مجاهدین د اولیاء الله الکرام په چهل خانو کي خپل هره شپه په وخت کي د افطار روژه په یوه غړپ اوبو سره ماتوي تاچه صوم الوصال ونه ګرځي او نور خوراک نه کوي مجاهدة للنفس وتذلیلا للشیطان حتی چي بعض اعلی مجاهدةً للنفس په خلوېښتو شپو کي دغه عادت یې وي وبذالک یتنور قلوبهم بنور الله او نفس اماره یې نفس مطمئنه وګرځي وذالک فضل الله یؤتیه من یشاء.

پوه سه: چي د روژې ماهیت هم ددغه آیت څخه معلوم سو یعني امساک دی د مفطرات ثلثه وو د وخت څخه د طلوع د صبح صادق بیا تر وخته د غروب الشمس بتمامها، او سره د نیت چي هغه د "اتموا" څخه وفهمبدی ولي چي اتمام د فعل اختیاري دی، او په فعل اختیاري کي نیت ضروري دی، ولقوله علیه الصلوة والسلام کما في البخاري و رواه سائر المحدثین

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

انما الاعمال بالنيات وانما لامرئ مانوی الی اخیر الحدیث. ولان الصوم عبادة وامتیاز العبادة عن العادة انما یکون بالنیة والحدیث المذکور متواترا بالمعنی کما لایخفی، فلابد من النیة وقد اجمع الامة علیه، او د عمر بن الخطاب څخه روایت دی کما رواه البخاري چي علیه السلام وویل "اذا اقبل اللیل من ههنا" یعني من جانب المشرق "وادبر النهار من ههنا" ای من جانب المغرب "وغربت الشمس" ای بتمامها "فقد افطر الصائم" ای حان وقت افطاره، وانما زاد وغربت الشمس لئلا یظن ان وقت الافطار بنفس غروب جاجب الشمس وان لم یغرب بتمامها.

مسئله: ځنډول د افطار تر وخته د ښکارکېدو د ستورو مکروه دی.

پوښتنه: روژه خو ټوله ورځ عبادت ده، او د مخه تېره سوه چي په عبادت کي نیت شرط دی نو باید ټوله ورځ د روژیاتي سره نیت د روژې ملګری وي، او داغه رنګه لمونځ هم عبادت مقصوده دی نو باید په ټوله لمانځه کي نیت ملګری وي.

ځواب: هو! قیاس خو داغه دی لکن په سبب د لزوم د جرح په دواړو مقصوده عبادتو یعني لمونځ او روژه دا شرط ساقط دی اذ لا حرج في الدین، بلکه په لمانځه کي اقتران د نیت په جزء اول پوري غواړي یعني التحریمة، بیانو شرعه شریفه دا نیت باقي بولي حکما په ټوله لمانځه کي.

سوال: په روژه کي هم اقتران د نیت د جزء اول سره چي طلوع الفجر دی شرط دی که څرنګه؟

ځواب: چونکه اول جزء د روژې وخت د غفلت دی غالبا نو شرعي شریفي د جرح له کبله دا شرط ګڼلی دی یعني تر طلوع الفجر چي دمخه روژیاتي نیت د روژې د صبا لپاره وکړي کافي دی او باقي دی حکما اجماعا من جمیع الائمة رح.

پوه سه: چي امامان د دین په دې کي اختلاف لري چي نیت د روژې وروسته

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

تر سپېدو روا دی او که نه. امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله وايي چي نيت د روژي فرض دی د مياشتي د روژې او نذر معين مثلا سهې ووايي چي پر ما صبا روژه نذر ده، او د نفلي روژې دمخه تر نصف النهار شرعي نيت روا دی، بخلاف صوم القضاء والنذر المطلق فانه لايجوز الا بنية وقت الصبح او قبل ذالک. او امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله وايي چي د نفلي روژې نيت تر نصف نهار شرعي له مخه رواه دی، او د نورو روژو دا نه دی روا. او امام مالک رحمه الله وايي چي د هيڅ روژې نيت د ورځي نه دی روا وتفصيل الدلائل والاجوبة في كتب الفقه والشروح المبسوط لكتب الاحاديث الشريفة.

فائده: موږ د مخه وويل چي عبادت مقصوده ددې قيد فائده داده که عبادت مقصود بالذات نه و لکه اودس چي د لمانځه وغيره لپاره شرط دی په هغه نيت شرط نه دی بلکه مستحب دی خلافا لاهل الظواهر. او سبب هم دادی چي اودس خو عبادت دی اما مفتاح الصلوة هم دی نو که په اوداسه کي نيت وکړي نو هم يې ثواب د عبادت سته او هم مفتاح الصلوة دی، او بېله نيته د طهارت بلکه د بترېد الاعضاء لپاره په دوبي کي اودس وکړي نو ثواب د عبادت يې نسته لکن حکم د مفتاح الصلوة يې باقي دی كذا في كتب الفقه والاصول.

وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ

او تاسي جماع مه کوئ د ماينو سره په داسي حال کي چي تاسي معتکفان ياست په مسجدو کي يعني د شپې هم که يې په مسجد کي ورسره کوئ او که معتکف کور ته ورسي او د مايني سره جماع وکړي.

شان نزول: بغوي رحمه الله وايي چي دا آيت مبارک په شان کي د هغو اصحابو کرامو رضي الله عنهم نازل دی چي دوئ په اعتکاف کي وه نو چي جماعو ته به يې ميل وسو نو د شپې به کورته ولاړه او هورې به يې د مايني سره جماعي وکړې، او غسل به يې هم وکړی وروسته به بېرته معتکف يعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسجد ته راغله فحرم الله علیهم هذه الفعلة بهذه الآیة.

مسئله: جماع په اجماع سره اعتکاف خو فاسدوي، او علاوه تر فساد دا فعل حرام دی اجماعا لکن شافعي رحمه الله وایي چي که یې وطي په هېره وکړې نو اعتکاف یې نه دی فاسد . دی یې قیاسوي پر روژه چي په هېره سره سړی خوراک وغیره وکړي، موږ وایو چي دا قیاس دی مع الفارق بین الصوم والاعتکاف، ولې چي روژه خو داسي فعل نه دی چي روژیاتي ته دي روژه وریاد کړي بخلاف الاعتکاف لان لزوم المسجد والاقامة یذکره الاعتکاف، او د حسن بصري رحمه الله او له زهري رحمه الله څخه یو روایت شاذه مروي دی چي دوئ وایي که معتکف جماع وکړې پر ده کفاره د یمین سته، وهذه الروایة مخالفة للاجماع علی انه لاکفارة علیه.

مسئله: که معتکف ماینه مچ کړه او یا یې مسحه کړه په شهوت سره او انزال سو، اعتکاف خو یې فاسد دی بالاجماع او دا کار حرام هم دی، نو که انزال نه سو فعل خو یې حرام دی لکن اعتکاف یې نه دی فاسد.

پوه سه: چي اعتکاف مشتق له عکوف څخه دی چي معنا یې لزوم او اقامت پر شي دی، او اعتکاف په شرعه شریفه کي لزوم د مسجد دی او هوري اوسېدل دي په نیت د طاعت د خدای جل جلاله او په نیت د نژدې والي و خدای جل جلاله ته.

فائده: اعتکاف د شرائعو قدیمه څخه دی لقوله تعالی خطابا لابراهیم واسمعیل علیهما السلام ﴿وطهرا بیتي للطائفین والعاکفین آه﴾ فالمراد من العاکفین المعتکفین عند المفسرین رح.

پوښتنه: که یو چا نفلي او یا اعتکاف سنت د عشر آواخر د رمضان نیت وکړی، او بېله لفظ د نذر ومایرادفه یې تعین د ورځو وکړی مثلا لس ورځي یا پنځه ورځي یې یادي کړې وروسته تر هغه ورځو دمخه اعتکاف ختنړي فاسد سو نو بیا پر دغه سړي د هغه عدد چي ده ذکر کړی و، د ټولو ورځو قضاء پر لازمه ده او که څرنګه؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: په قطب الارشاد کي وايي چي قضاء يې نسته ولي چي اعتکاف په فساد سره منتهی کېږي، او هغه ورځي چي ده په اعتکاف کي تېري کړي وې د هغو ورځو خدای ﷻ ثواب ورکوي او پاته ورځي پر لازمي نه دي، البته که چا لس ورځي مثلا اعتکاف پر ځان نذر کړې او درې څلور ورځي وروسته يې فاسد کړی، بيا د لسو ورځو قضاء پر لازمه ده. والحاصل چي په نفس نيت سره اعتکاف نه نذر کېږي بلکه نذر خپلي صيغې لري په هغه نذر کېږي، وهذا مما غفل عنه بعض الطلبة.

فائده: د لفظ څخه مساجد په صيغه د جمع دا ثابت سوه چي اعتکاف په هر مسجد کي چي پنځه وخته لمونځ د جماعت پکښي کېږي روا دی که څه هم مسجد جامع افضل دی، ولي چي د جمعې د لمانځه لپاره بل ځای ته تگ نه ځندي غواړي.

پوه سه: چي اعتکاف د بهترينو عباداتو څخه دی چي په اخلاص د نيت وي، ولي چي په اعتکاف کي د سړي زړه وخدای ﷻ ته ځان فارغه کړي، عطاء رحمه الله وايي چي د اعتکاف مثال داسي دی لکه يو فقير چي د يو لوی غني و دروازې ته کښېني او هغه غني سړي ته ووايي چي زه ستا له دره نه ځم خو زما حاجت له سره نه کړې، نو معتکف هم د غني ارحم الراحمين د عبادت په ځای کي مقيم سو او وايي چي زه ستا له بيتي څخه نه ځم څو زما حاجت د مغفرت د گنهو تر سره نه سي، نو د کريم او رحيم او غفور بادار له کرمه لېري نه ده چي دده مطلب ورکوي.

فوائد الاعتکاف: (۱) اول د خلگو څخه ځان لېري کړي نو خلگ دده څخه په امن کي سي او دی له خلگو څخه په امن کي سي.

(۲) خواري د نفس ده.

(۳) اعراض دی له دنيا او له دنيا والو څخه چي اول لار د صدق او اخلاص ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۴) الفت دی د خدای ﷻ او تکیه ده پر خدای ﷻ، ولي چي په مسجد کي خو گرده ورځ او شپه بېله خدایه ﷻ بل الفت او د خبرو څوک نسته.

(۵) معتکف غالبا په لږ حلال رزق سره گذاره کوي ولي چي بېله اعتکافه لازما او غالبا سړی په تجارت او نورو کسبو اخته وي او په هغو کي د حلال او حرام دواړو گنجائش سته.

(۶) د غیبت، بهتان او نورو معاصیو څخه په اعتکاف کي خلاص وي

(۷) د خلگو د غوړمالۍ او طمعه څخه هم خلاص وي.

درویش وایي: چي ددې اوو (۷) محاسنو انحصار پر دې دی چي معتکف په نیت کي د ریاء او سمعه څخه خلاص وي.

د فقیهة الامة بي بي عائشة رضي الله عنها څخه روایت دی چي معتکف ته دا سنت دی چي مریض ته به د پوښتني لپاره نه ورځي، او د جنازې ته به هم نه ورځي، او ماینه به نه مس کوي، او نه به مباشرت ورسره کوي. او له مسجده به نه وځي مگر د حاجت ضروري لپاره، او اعتکاف بېله روژې نه دی صحیح. او اعتکاف نه دی روا مگر په مسجد کي چي جماعت پکښي کېږي، ددې مبارکي رضي الله عنها غرض دادی چي که یو سړی یوه خونه د عبادت لپاره په سرای کي ټاکلې وه په هغه خونه کي اعتکاف نه دی روا نه د نر او نه د ښځي.

مسئله: اعتکاف سنت مؤکده دی په لسو شپو اخیرو کي د میاشتي د روژې لحدیث عائشه رضي الله عنها ان النبي ﷺ کان یعتکف العشر الآواخر من رمضان حتی یتوفاه الله عزوجل ثم اعتکف ازواجه من بعده. رواه البخاري ومسلم

د عوامو غلطیا: د عوامو ټولو بلکه د بعض امامانو دا خیال دی چي اعتکاف یوازي د مسجد پر طالبانو دی چي یو طالب به په اعتکاف کي کښېني، او دوی نه پوهېږي چي اعتکاف اسلامي سنت دی، نو باید دا چي هر مسلمان دي دا سنت نبوي ﷺ کم از کم یو کال په میاشتي کي د روژې پر ځای کړي

مسئله: ماینه کولای سي چي مېړه یې په اعتکاف کي وي چي ماخستن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مثلا ملاقات او زيارت ته دده ورسي، لکن چي تهمت نه وي بکس
ولهذا ورد في الحديث النبوي ﷺ الذي رواه البخاري وغيره ان النبي ﷺ
كان معتكفا فآتت لملاقاته وزيارته صفيه ﷺ ليلاً من الليالي فتحدثت
معه ﷺ ساعة فارادت ان تنقلب الى بيتها وكان بيتها في دار اسامة ﷺ
فقام معها رسول الله ﷺ لكي تنقب الى بيتها الى باب المسجد النبوي ﷺ
فمر رجلان من الانصار ﷺ فلما راء النبي ﷺ ومعه امراة اسرعا فقال
النبي ﷺ على رسلكما هذه صفية فقالا سبحان الله. يعني عليه الصلوة
والسلام لپاره د دفع د تهمت دوئ ته وويل على رسلكما هذه صفية او
هغو سبحان الله د تعجب لپاره وويل يعني يعني چي موږ به ولي
بدگماني كوله، او عليه الصلوة والسلام په اخير كي ورته وويل چي ما
چي تاسي راوگرځولاست او دا ښخه مي در وښووله چي صفيه ده ددې
لپاره چي تاسي ته شيطان په زړو كي وسوسه در پيدا نه كړيز

تِلْكَ حُدُودُ اللّٰهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا

يعني دغه احكام چي ذكر سوله چي اكل او شرب او جماع په روژه
كي حرام دی، او جماع د معتكف هم حرامي دي.

پوه سه: چي دا اشاره په لفظ تلک ودغو احكامو كه څه نژدې تېر سوه
له جهته څخه دعظيمي رتبې ددې احكامو كما في ذالک الكتاب په اول
كي د سورت بقره.

پوه سه: چي حدود جمع د حد ده چي معنا يې منع ده. نو معنا داده چي دا
مذكوره احكام ممنوعات د خدای ﷻ دي، نو تاسي و هغو ته مه نژدې كېږئ

پوه سه: چي اصل غرض نه كول دي ددغو افعالو لكن نهي يې ظاهرا
نژدې والي څخه د هغو وكړه مبالغةً في النهي كما في قوله تعالى خطاب
لآدم ﷺ وحواء ﷺ ﴿ولاتقربا هذه الشجرة الآية﴾

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: ټولـه مفسـران تلـک وهغـه احکـامو تـه اشـاره بـولي چي عنقریب یې ذکر تېر سو، نو د آیت معنا خو داسي کېږي چي دا حرمت د اکـل او شرب آه احکام د خدای ﷻ دي نو تاسي مه ورنږدې کېږئ، نو حرمت د اکـل تـه مـثلا چي سړی نه نږدې کېږي نو خو اکل به کوي وهذه المعنی لیس بمراد الله ﷻ.

والجواب: ان في الآیة مجاز وتقدیر والمعنا تلک الاحکام محدودات الله فلاتقربوا حدودها، ولهذا قال علیه الصلوة والسلام الا ان لکل ملـک حمی وان حمی الله في الارض محارمـه فمـن وقـع حـول الحمـی یوشـک ان یقع فیه، والحدیث بطوله مذکور في البخاري ومسلم فراجعها.

كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿۱۸۷﴾

او دغسي لکه تېر سوي احکام د روژې او اعتکـاف چـي خـدای ﷻ بیـان کړه، بیانوي خدای ﷻ خپل آیات یعني د احکامو، اوامرو او منهیاتو وخلګـو ته ددې لپاره چي دوئ پرهېز وکړي یعني مخالفت د آیاتو د خدای ﷻ ونه کړي او اوامر یې پر ځای کړي او د منهیاتو څخه پرهېز وکړي.

پوه سه: چي کـاف دلتـه په معنـا د مثـل دی او منصـوب المحـل دی چي صفت د مصدر محذوف دی یعني یبین الله بیانا مثل ذالک البیان

قال السعدی الشیرازی رحمه الله

تر آنکه چشم و دهان داد وګوش	اګر عاقلی د ر خلافش مکوش
چو پاک آفریدت بهش باش وپاک	که ننګشت ناپاک ر فتن بخاک
سر و زیر بار ګنه ای پسر	که حمال عاجز بود در سفر
مکن عمر ضائع بافسوس وحیف	که فرصت عزیز است والوقت سیف

یرحمک الله یا شیرازي رحمه الله

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا تَأْكُلُوٓا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ

او تاسي مه خورئ مالونه ستاسي په خپل منځ کي په باطله طریقه، یعني هیڅ څوک دي د بل مال نه خوري په ناحقه سره یعني چي جواز شرعي نه لري لکه د درواغو د عوی، یا د درغواو په شاهدانو سره، او یا د درغواو په قسم سره، او یا په غصب سره، او یا په حمله سره، او یا په کسه بري سره، او یا په خیانت سره په شراکت کي یا په امانت کي، او یا په قمار سره هره نوعه د قمار چي وي، نو خلګ چي په اخترو کي هګی سره جنګوي داهم دا هم نوعه د قمار ده او حرام دی، او یا شوقیان یا مسلیاني چي پر غزلو او سرود بانديي د خلګو څخه پیسې غواړي.

پوه سه: چي دا اجرت دو طرفه حرام کار دی، او یا رنډۍ پر زناء د خلګو څخه پیسې اخلي او دا کار هم دوه طرفه حرام دی، او یا غیب ګوئي یعني کاهن او پټي معلومونکی د خلګو څخه روپۍ غواړي، دا هم دو طرفه حرام دی، او یا د خلګو څخه رشوت اخلي او یا د عقود فاسده وو روپۍ خوري، او ددې عقود فاسده تفصیل په فقه کي مذکور دی

پوه سه: چي لفظ د بین منصوب دی یا ظرف د "تاکلوا" دی او یا حال دی د "اموالکم" څخه ای کائنةً بینکم، بعض مفسرین رح وایي چي دا آیت په امرء القیس کندي کي نازل سو چي په ده دعوه کړې وه ربیعه بن عبدان حضرمي چي زما مځکه یې په غصب لاندي کړې ده، نو علیه السلام وحضرمي ته چي مدعي و داسي وویل چي شاهدان لرې هغه ورته وویل یا، نو علیه الصلوة والسلام وویل چي ستا حق دی چي کندي یعني مدعي علیه چي هغه منکر و قسم ورکړي، نو کندي وقسم ته اماده سو نو علیه الصلوة والسلام وویل که کندي قسم واخستی لیاکل ظلماً، نو په ورځ د قیامت به خدای ﷻ څندي معرض وي، روی هذ الحدیث عن سعید بن جبیر رضی الله عنه

پوه سه: چي مورد د حدیث که څه هم غصب دی لکن عبرت عموم لره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د لفظ دی کما تقرر في علم الاصول، ولهذا اندرج المفسرون رحمهم الله في هذه الآية جميع ماذكرنا آنفاً.

فائده: چونکه معظم فائده د اموالو خوراک دی نو ځکه خدای ﷻ خوراک ذکر کړی ورنه تولو اقسام د اخذ د حرام مال پکښې داخل دي.

پوه سه: چي حلال خالص اموال په اوسني زمانه کي ډېر نادر دي عقود فاسده رائج دي خيانتونه په ډکه پيمانه سره روان دي، او شوقيانو او مسلمانو ته رونبي ورکول مروج دي په پېښ الانو کي والی الله المشتکی

درويش وايي: چي بعض مفسرانو رح ددې آيت شان نزول داسي کړی دی، چي دوه کسان وه چي پر مځکه ې دعوه وه او مدعي لره شاهدان نه وه نو مدعي عليه قسم ته خان آمدا کړی کما هو حكم الشرع الانور، نو نبي ﷺ داسي وويل "انما انا بشر مثلكم" يعني په غيب نه يم خبر "يوحي الي، وانتم تختصمون الي، ولعل بعضكم الحن بحجته من بعض" يعني بعض ستاسي به په دليل ويلو کي چالاکه وي تر بل فاقضى له على نحو ما اسمع منه" نو زه فيصله وکړم يعني د الحن په گټه لکه دده دلائل چي ما واورېدل نو دغه زما په خيال پر حق و "فمن قضيت له شيئا من حق اخيه فانما اقضى له قطعة من نار" نو که ما حکم وکړی د يوه لپاره په سبب د لحن بالحجة" او هغه په واقع کي کاذب و، نو داسي بايد وبولي چي ما دده لپاره يوه ټوټه دار ورحلا کړی "فبكيا وقال كل واحد منهما انا حل لصاحبي" نو دواړو وژل او هر يوه وويل چي و خپل خصم ته تر حق ورتېر يم يعني هر يوه وويل چي زما خصم پر حق دی زه تر دعوې ورتېر يم نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل "اذهبا فتوخيا" يعني تاسي ولاړ سئ او هر يو دي طلب د حق وکړي يعني پخپل گريبان کي دي وگوري "ثم استهما" او بيا پچه سره وکړي "ثم ليحلل كل واحد منكما صاحبه" او بيا دي هر يوه له بله ځخه بخښنه وغواړي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وَتُدْلُوا بِهَآ إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِّنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿۱۸۸﴾

يوه سه: چي "ادلاء" په معنا د "القاء" ده يعني رسول والمعنى لاتلقوا حكومة الاموال الى الحكام.

فائده: تدلوا عطف دى پر منهي عنه يعني تاكلوا فالتقدير لاتدلوا. او يا منصوب دى په اضمار د ان فالمعنى لايكن منكم اكل اموال الناس والادلاء، قاله البيضاوي وتبعه المظهري.

سوال: د داسي تركيب معنا خو په عربيت كي داده چي تاسي جمع د اكل د اموال الناس او د ادلاء الى الحكام مه كوئ يعني هر يو جلا جلا روا دى وليس كذالك آه؟

ځواب: هوا معنا خو يې منع الجمع بين الامرين ده، لكن دا ددې منافي نه ده چي هر يو دې منهي عنه نه وي.

يوه سه: چي مجاهد رحمه الله وايي چي معنا د آيت داده لاتخاصم وانت ظالم. او ابن عباس رضي الله عنه وايي چي معنا د آيت داده چي د يو سړي پر چا پور باندي وي او شاهدان نه پر لري، نو پوروړى منكر سي او قضيه و حاكم ته ورسوي چي حاكم قسم ورته كښېږدي او دى كاذبا قسم واخلي او دعوى وګټي، او كلبي رحمه الله وايي چي په محكمه كي د درواغو شاهدان پر تېر كړي، ولا منافات بين هذه التفاسير لان اللفظ يحتمل الكل وكل واحد منها حرام، نو سليسه ترجمه د آيت داده چي تاسي مه رسوئ قضيه د اموال الناس و حاكمانو ته چي تاسي وخورئ په دغه ذريعه د يوه حصه د مالو د خلګو په ګناه سره چي يا ناحق كاذب قسم واخلي او يا د درواغو شاهدان تېر كړي، نو پر دې تقدير كلمه د "باء" لپاره د سببيت اى بما يكون سببا للاثم. او يا كلمه د "باء" لپاره د ملابست ده اى متلابسين بالاثم، او حال دا وي چي تاسي علم لرئ يعني پر دې چي مونږ بر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

باطل او پر درواغو روان يو، ددې حال فائده داده چي گناه سره د علم ډېره بده ده، او حكام خو ستا په ناحقه نه دي خبر نو هغه ملامت نه دي بلكه چي قاضي او حاكم د قانون سره د شرعي شريفي برابر حكم وكړي او د آثم په گټه فيصله وكړي خداى ﷻ ثواب وركوي كما تقرر في الفقه، علماء وايي چي دنيا درې قسمه ده، حلاله، حرامه، شبهه ناكه، فالحرام يوجب العقاب، حرامه دنيا سبب د عذاب الهي ده، او شبهه يې موجبه د عتاب او سرزنش ده، او حلاله يې حساب ده، پس عاقل سړى هغه دى چي د حقوق څخه د عباد پرهېز وكړي او مظالم پر چا نه كوي لان الظلم ظلمات يوم القيامة ولابد من حسابها يوم القيامة وارضاء الخصوم بحسنات الظالم.

قال الحيكم السنائي الغزنوي نور الله مرقده

اين جهان بر مثال مرداراست	گر كسان اندرو هزار وهزار
اين مر آنرا زند مخلب	وآن مراين را زند منقار
آخر الا ر بگذ رند همه	وزهمه باز ماند اين مردار

حكايت: تاريخ وايي چي نوشېروان عادل چي مړ سو، په قرار د وصيت دده په ټوله مملكت چي دى پر حاكم و دده جنازه يې وگرځوله او داسي اعلانونه پسي كېدله كه د چا پر ما حق باندي وي را دي سي چي زه يې وركړم، هيڅ څوك په ټوله مملكت كي نه سو پيدا چي نوشېروان پر ما دا ظلم كړى دى.

د اسلام تاريخ د امام المسلمين ابي حنيفه قدس سره يو موښت نمونه خوار تقوى داسي بيان كړې ده.

د امام اعظم رحمه الله پر يوه مجوسي پور باندي و، نو امام رحمه الله د پور په طلب كي د هغه مجوسي كور ته ورغلى او دده چوټه پر يوه نجاست لگېدلې وه، ده مبارك چي چوټه وڅنډله چي نجاست څنډي جلاسي ناگاه نجاست د چوټي څخه جلا سو او د مجوسي پر دېوال ومښتى، امام اعظم حيران سو چي دا نجاست څه په وكړم كه يې پرېږدم د مجوسي دېوال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بدنماء کېږي او که یې ګورویم د دېوال خاوره ورسره جلا کېږي، نو ده له خانه سره دا فیصله وکړه چې مجوسي چې راووزي د هغه سره به فیصله وکړم په باره کې ددغه نجاست، هر څه چې دده خوښه وه هغسې به وکړم. نو دروازه چې یې وټکوله د مجوسي مینځه را ووتل چې امام اعظم یې ولیدی کورته ولاړه مجوسي ته یې وویل چې ابو حنیفه دي غواړي. مجوسي پوه سو چې په پور پسې راغلی دی، نو مجوسي چونکه پور د امام اعظم رحمه الله ځنډولی و، نو په ډېر عجز او عذر له کوره دباندې راووتی، امام المسلمین مجوسي ته وویل چې ته د پور عذر مه کوه ته راسره زما څخه یوه خطاء پېښه سوې ده د هغې په باره کې ماته مشوره راکړه، نو امام اعظم رحمه الله د نجاست او د چوتې او د دېوالـه قصه وکړه او مجوسي ته یې وویل چې مشوره راکړه چې زه دد دېوال څرنګه چاره وکړم او څرنګه یې درپاک کړم، پر مجوسي دې خبرې ډېر تاثیر وکړی، نو مجوسي ورته وویل چې اول به زه خپل ځان درته پاک کړم، نو یې وویل ﴿لا اله الا الله محمد رسول الله﴾ او مجوسي بالفور مسلمان سو.

نکته: چونکه امام اعظم رحمه الله دا ښېخي لږ ظلم پر مجوسي روا ونه باله نو دده د تقوی له برکته مجوسي مسلمان سو، او د ابدي بدبختي څخه د مجوسیت خدای جل جلاله خلاص کړی.

جزاء الظالم: حکایت روای وایي چې یو نصراني و ماینه یې پر خره سپره کړې وه او هغه هم حامله وه، په یوه قریه کې د مسلمانانو تېرېدی، یوه ډله د مسلمانانو ببباکانو ناسته وه، نو یو جاهل ددوی څخه چې وه یې لېدل چې نصراني دی ور ولاړ سو او د خره لکۍ یې پرې کړه خره لغتې کړې او ښځه یې د مځکې ووهله او ښځې حمل واچاوه، نو نصراني ولاړی د هغه ځای د محکمې د مسلمانانو ته یې شکایت د دغو رندانو بېباکانو وکړی، قاضي هغه رندان راوغوښتل، هغه رند بېباکه چې دغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کار يې کړی و په خپل جرم اقرار وکړی، نو قاضي و هغه رند ته وویل چې دا خر بوزه هر وخت چې يې بهرته لکې راشنه سوه بیا به يې دغه نصاری ته وسپارې، او ماینه يې هم بوزه چې بیا حامله سوه دې نصراني ته يې وروسپاره، نصراني وقاضي ته وویل اهكذا حكم شريعتكم المشهورة في الدنياء بالعدالة والانصاف، بیا نصراني د آسمان وخوا ته پورته وکتل او داسې يې وويل خدايه ته خو حکیم يې زما خو د قاضي پر دغه حکم صبر نه کېږي، خدايه ﷻ ته ناصر د مظلومانو يې او زه مظلوم یم. خدايه زما حق ددې قاضي ظالم څخه پر دې دنیا راواخلې فمسخ الله ذالک القاضي فصار حجرا وشکله شکل القاضي المذكور من ساعته.

درویش وایي: چې دې قاضي خو اول په شريعت اسلامي مطهره پسخنده وواه، او بل يې پر نصراني ظلم وکړی، او په شريعت مطهره کې ظلم پر کافر هم نه دی روا، او ښېرا د مظلوم خدای ﷻ قبلوي که څه هم کافر وي

پوه سه: چې په مسلمانانو کې مسخ جزي روا ده البته مسخ کلي په برکت د علیه الصلوة والسلام ددې امت څخه مرفوع ده.

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَهِلَّةِ قُلْ هِيَ مَوَاقِيْتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ ط

او صحابه ﷺ له تا څخه سوال کوي په بره کې د اهله وو.

پوه سه: چې اهله جمع د هلال ده، هلال د نوي میاشتې د اولې شپې څخه بیا تر درو شپو وایي.

پوه سه: چې مفسرين رح په اتفاق وايي چې معاذ بن جبل او ثعلبه بن غنم ﷺ چې دواړه انصار وه د علیه الصلوة والسلام څخه يې پوښتنه وکړه يا رسول الله ما بال الهلال يبدوا دقيقا مثل الخيط ثم يزيد حتى يمتلي نوراً ثم لايزال بنقص حتى يعود كما بدء اولاً ولايكون على حالة واحدة يعني لکه لمر یا نور ستوري نو دا آيت نازل سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ترجمه: څه حال د هلال دی چي اول داسي ښکاره سي نری. لکه تار او بیا کرار کرار یې نور زیاتیږي حتی چي له نوره ډکه سي، یعني لکه پر څورلسم تاریخ او بېرته کرار کرار یې نور کمیږي حتی چي بېرته لکه اول وار چي ښکاره سوې وه نری. سي، او ولې پر یوه حال نه پاتیږي.

پوه سه: چي د دې آیت په تفسیر کي اختلاف دی یعني چي ددغو دوو صحابه کرامو د سوال غرض څه و. بیضاوي وایي چي غرض ددوئ د سوال و د حکمت الهي څخه له حالات مذکوره و کي د سپوږمۍ، نو علیه الصلوٰة والسلام ته خدای پاک وویل چي ته دوئ خبر کړه په حکمت الهي چي دا اهلة وختونه دي د خلګو لپاره او د حج لپاره. یعني چي په دغو اهله و سره دوئ اوقات د پورو او د کښتو او تجاراتو معلوموي، او داغه رنګه دوئ په معلوموي اوقات د هغو عباداتو په وخت معین پوري لکه روژه او بالخصوص وخت د حج چي هغه معیني میاشتي غواړي، اداءً او قضاءً بخلاف الصوم والصلوٰة ولي چي هغه معین وخت اداءً غواړي او قضاءً یې نه غواړي، ولهذا خص الحج بالذکر.

پوه سه: چي مواقیت جمع د میقات ده چي مراد دلته خندي وختونه دي

فائده: فرق په منځ کي د وخت او د مدت او زمانې دادی چي مده چي مطلق ذکر سي مراد څندي حرکت د فلک دی د ابتداء څخه تر انتهی پوري، او زمان هغه مدې ته وایي چي وېشل کېږي وکلو، میاشتو، ورځو او ساعاتو ته، او وخت هغه زمانې ته وایي چي سرې وټاکي د یو کار لپاره که دنیاوي وي او که اخروي.

درویش وایي: چي پر بیان د بیضاوي سوال او ځواب سره موافق سوه، ولي چي سوال هم د حکمت ؤ او ځواب هم په بیان د حکمت ورکړه سو، او بعض مفسرین رح وایي چي سوال د سبب او علت څخه د حالاتو متبدله وو څخه د سپوږمۍ وکما بین في کتب الریاضي من القرب والبعد من الشمس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

واجتماعها، نو پر دې تقدير جواب پر اسلوب حکيم بناء دی يعني چي لائق د حاله سره د صحابه وو رض دا و چي د بيان د حکمت پوښتنه يې کړې وايي نه د بيان د علت او سبب، ولې چي رسول الله ﷺ لپاره د احکامو الهيه و مبعوث و، نه لپاره د بيان عللة عقليه او رياضيه وو چي اصل مبناء د هغو پر اصول فاسده وو ده کما سيئاتي في موضع من هذ التفسير ان شاء الله العزيز، ولله در القاضي البيضاوي رحمه الله حيث اختار التفسير الاول لان فيه اخراج الکلام مقتضى الظاهر هو الصل کما تقرر في علم المعاني، والعجب من المظهري رحمه الله حيث قال بعد ايراد التفسير الثاني وهو الاظهر آه مع کونه شديد الانکار في مواضع من تفسيره على الاصول الرياضية جدا.

پوه سه: چي حج تخصيص بعد التعميم دی لان الحج داخل في قوله قل هي مواقيت آه وهذا التخصيص للتنبيه على فضيلة الحج على سائر العبادات الموقتة کالصوم والصلوة، لما قلنا آنفاً ان الحج مخصوص بالوقت المعين اعنى اشهر الحج اداء وقضاء بخلاف سائر العبادات حيث لا توقيت لها قضاء.

وَلَيْسَ الْبِرُّ بِاَنْ تَاْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ ظُهُوْرِهَا

شان نزول د آيت دادی چي انصارو به جاهليت کي چي به د حج يا د عمرې احرام وتاړه، نو نه باغ ته او نه سرای ته او نه خونې ته د دروازې له خوا ورتی بلکه که په د ختو سرای نو د شا له خوا به يې سوری کړی، او تر هغه سوري به وتی او ننوتی، تر هغو پوري چي احرام يې نه وايي خلاص کړی دغه ددوئ کار و او دغه دوئ ښه کار باله دې سببه چي دوئ به ويل چي په احرامو کي د احرام تولله عادات بدليږي، لکه په لباس او خوشبوي لګولو کي نو بايد د دخول او خروج د کورو عادت هم بدل سي، نو خدای ﷻ دا تشديد ددوئ په احرام کي رد کړی چي دا هيڅ بر او د ثواب کار نه دی، البته قريش چي حمس يې بلله هغو ته اجازه د دخول او خروج پر دروازه وه، په روايت کي د حاکم د جابر رضی الله عنه څخه داسي راغلي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دي چي عليه الصلوة والسلام په وخت کي د احرام په يو باغ کي واو پر دروزه له باغ څخه ووتی، نو قطبه بن عامر الانصاري چي هغه هم په احرام کي و پر هغه دروازه په عليه السلام پسي ووتی، نو انصارو وعليه الصلوة والسلام ته وويل چي قطبه ډېر بد سړی دی چي په احرام کي په تاسي پسي در ووتی نو عليه الصلوة والسلام وقطبه ته وويل ماحملک على ما فعلت، قطبه ورته وويل چي ماته وليدلې چي پر دروازه ووتلې نو زه هم پر دروازه در پسي ووتلم. عليه الصلوة والسلام ورته وويل "اني رجل احمسي" يعني زه خو قريش يم مور ته خو اجازه د خروج الباب سته. قطبه ورته وويل چي زه خو بيا ستا پر دين يم، فانزل الله هذه الآية.

سوال: دا آيت د دمخه آيت سره څه تعلق لري ولي يې په عطف سره راوړی؟

ځواب: ظاهره خو داده چي وليس البر آه " دي معطوف وي پر مقول د قل، يعني هي مواقيت آه فلابد من المناسبة بين المعطوفين كماتقرر في النحو، چي دغه دوه سواله يعني ويسئلونک آه، او بل دا چي دخول د ظهور البيوت څخه ورتګ په حال کي د احرام برابر دی او که نه فلهذا عطف بين الجوابين والسوٴال الثاني وان لم يصرح به القرآن لكنه مقدر يدل عليه الجواب. يعني وليس البر، او بل جواب دادی چي په معطوف عليه کي مواقيت الحج ذكر سول او دخول من ظهور البيوت هم له امورو څخه د حج و نو دا به هم استطراداً وتبعا ذكر کړي که څه هم چا يې سوال نه وٌ کړی. وذكر البيضاوي جوابين اخرين تركناهما بسبب الاطناب وفيما ذكرنا كفاية.

تنبيه: که چېري وليس البر آه عطف سي پر يسئلونک باندي نو بيا جامع ده عطف يې دادی چي اول قول لاينبغي دی يعين پر تفسير ثاني كمامر عنقريب، او معطوف فعل لاينبغي دی بل هو مخترع الانصار. فتدبر غاية التدبر ليظهر لک حاصل ماقلنا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقٰى

پوه سه: چي چونکه حمل د "بر" پر "من اتقى" نه صحيح کېدی لکون البر مصدراً ومن اتقى ذاتاً. نو اهل تفسير مضاف محذوف بولي يا د اسم سره يعني ذو البر من اتقى او يا له خبره سره والتقدير ولكن البر بر من اتقى، او يا حمل مبالغةً دی والكل ظاهر في امثاله.

وَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ

اى في حالة الاحرام كما في غيرها

أَبْوَابِهَا وَاتَّقُوا اللّٰهَ

اى في اتيان العبادات واتقاء المحرمات

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٨٩﴾

اى لكى تفلحوا من العذاب

او ورځي کورو ته د درواز له خوا څخه لکه دمخه تر احرام چي ورتلاست، او د خدای ﷻ څخه ېرېږي يعني عبادت د خدای ﷻ پر ځای کوي، او د منهياتو څخه پرهېز کوئ ولي چي "بر" هم دغه کار دی نه دخول د ظهور البيوت له خوا ورتګ په حالت کي د احرام، ددې لپاره چي تاسي به خلاصون پيدا کړئ له عذاب څخه د ورځي د قيامت.

درويش وايي: چي شان نزول ددې راتلونکي آيت مفسرين رح په اتفاق داسي بيانوي په روايت د ابن عباس ؓ چي په کال د حديبيې چي عليه الصلوة والسلام په نيت د عمرې سره د پنځلسو (۱۵) اصحابو ؓ قريشو د مکې وبيت الله شريفي ته د عمرې اجازه نه ورکوله آخر الامر يې صلح پر دې وکړه چي بنځ کال به تاسي بېرته ځئ او پر کال به راځي. درې ورځي موږ تاسي ته بيت الله در خالي کوو. خير عليه السلام دا بل کال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره د اصحابو کرامو ﷺ تصمیم د تګ د بیت الله شریفي لپاره د عمرې ونیوی، او اصحاب ﷺ ببربدله چي کفاره د مکې به وفا په وعده سره ونه کړي او بیا به دوئ د مسجد الحرام څخه منع راته وکړي او جنګ به راسره وکړي، او چونکه دغه میاشت د اشهر حرمو څخه وه چي قتال پکښي روا نه و، نو علیه الصلوة والسلام ته یې عرض وکړی چي موږ به څه کوو که قریشو زموږ سره جنګ کاوه فانزل الله هذه الآیة.

وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ﴿١٩٠﴾

او تاسي جنګ کوئ په لاره کي د خدای ﷻ یعني لپاره د اعلاء کلمة الله او لپاره د اعزاز د دین الله یعني نه لپاره د غنیمت او یا عصبیت او ریاء وغیره، نو سبیل چي معنا یې لار ده مستعار ده لپاره د دین الله لکه لار چي سړی وصل کوي ومطلوب ظاهري ته، دین الله هم سړی وصل کوي د مرضات الرب جل وعلاته، او د هغو کسانو سره چي ستاسي سره جنګ کوي لکه په قرار د شان نزول کفار مکه چي تاسي توهم د جنګ خندي کوئ.

پوه سه: چي دا اول آیت دی چي مسلمانانو ته د جنګ اجازه ورکړه سوه په مدینه منوره کي لکن د هغه کفارو سره چي هغه ستاسي سره جنګ کوي، او که یې جنګ نه کاوه تاسي به هم جنګ نه ورسره کوئ، نو پر دې تقدیر دا آیت منسوخ دی په وروستني آیت سره، واقتلوهم حیث ثقفتموهم. یعني وژنیاست کفار هر ځای چي یې پیدا کړئ که دوئ جنګ کوي او که یې نه کوي، او پر تقدیر مذکوره د لاتعتدوا معنا داده چي تاسي ابتداء په جنګ لاس مه پوري کوئ، او یا نابېره حمله پر کفارو مه کوئ، بلکه اول اول د دین دعوت ورکړئ.

فائده: په دې آیت کي دا سوال پیدا کېږي چي یقاتلون خو باب د مفاعله دی چي دو طرفه فعل غواړي نو د "الذین یقاتلونکم" قید مستدرک دی، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ددې سوال په ځواب کې قاضي بیضاوي رحمه الله درې وجهې راوړي دي
(۱) مراد له "الذين يقاتلونكم" څخه هغه کسان دي چې تاسې ته د دښمنۍ له لارې منصوبه د قتال جوړوي يعني بالفعل مقاتلين نه دي مراد بلکه هغه کسان دي چې صدد کې قتل خو وي که څه هم بالفعل په قتال يې لاس نه وي پورې کړی، وعلى هذا كما قلنا هذه الآية منسوخة بقوله تعالى "فاقتلوا المشركين كافة" ولې چې په آيت فوق کې خدای ﷻ مسلمانان د هغو کسانو څخه منع کړي دي چې هغه جنګ نه غواړي.
(۲) مراد د "الذين يقاتلونكم" هغه کافران دي چې له هغو څخه د جنګ توقع کېږي دون غيرهم كالمشائخ والنساء والصبيان، نو دا کسان خو په مفاعله کې نه دي داخل حتى چې ذکر يې مستدرک سي، نو آيت فوق منسوخ نه دی ولې سپين ږيرو او د ښځو او نابالغه کوچنيانو مرګ اوس هم نه دی روا.
(۳) د "الذين يقاتلونكم" څخه ټوله كفار مراد دي ولې دوئ خو که څه هم بالفعل په جنګ نه وي درسره اخته لکن په سبب د اختلاف في الدين په قصد کې د قتال دي وعلى هذا ايضا فلايلزم الاستدراك، وايضا الآية غير منسوخة بلکه مضمون ددې آيت او "فاقتلوا المشركين كافة" سره يو دی.
سوال: پر دې تقدير په دې آيت خو نساء او صبيان او مشائخ او اهل ذمه ټوله داخل دي، او داغه رنګه په "فاقتلوا المشركين كافة" کې هم دا ټوله فرق داخل دی؟
ځواب: هو داخل خو دی لکن په احاديثو صحيحه مذکوره ډلې څخه ايستل سوي دي، او هغه حديثونه مخصص د عموم د مذکوره آيتو دي
* الاحاديث المخصصة: روى البغوي رحمه الله عن بريدة رضي الله عنه قال كان النبي ﷺ اذا بعث جيشا قال اغزوا باسم الله وفي سبيل الله، قاتلوا من كفر بالله ولاتغلوا، او د غنيمت څخه شی مه غلا کوئ "ولاتغدروا" او د کافرانو سره غدر هم مه کوئ "ولا تقتلوا امرئة" ولا ولداً ولاشيخا كبيرا، وعن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عبدالله بن عمر ﷺ قال نهی رسول الله ﷺ عن قتل النساء والصبيان متفق عليه. وروى ابو داوٗد عن انس ﷺ انطلقوا باسم الله على ملة رسول الله ﷺ لاتقتلوا شيخا فانيا ولا طفلا صغيرا ولا امرئة ولا تغلوا ضموا غنائمكم واصلحوا و احسنوا ان الله يحب المحسنين

پوه سه: چي د لا يحب المعتدين معنا داده چي خدای ﷻ اراده د خير ومعتدينو ته نه لري

وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِّنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ

او تاسي وژنئ کافران هرچیري چي مو پیدا کړه، او تاسي وباسئ کافران له هغه ځایه څخه چي دوئ تاسي له هغه ځایه څخه ایستلي یاست، یعني مکه مکرمه چناچه داغسي هم وسوه چي مکه فتحه سوه هغه کافران چي ایمان یې نه راوړی د مکې څخه ووتل. او فتنه د کفارو یعني شرک ددوئ په خدای ﷻ سره او په کال د حدیبیې چي تاسي یې عمرې ته نه پرېښوولاست سخت دی په نیز د خدای ﷻ تر قتل ددوئ نو ځکه ددوئ وژل یې وتاسي ته روا کړه.

فائده: مقاتل بن حبان ﷫ وایي چي دا آیت منسوخ دی په هغه وروسته آیت یعني "ولا تقتلواهم عند المسجد الحرام آه" واعترض عليه المظهري ﷫ چي ناسخ خو تر منسوخ باید متراخي وي په زمانه د لته خو دا دوه آیته سره متصل دي نو دي ته په اصطلاح د علم اصول تخصيص العام وایي چي فتنه په اصل لغت کي وراندي کول دي د سرو زرو پر اور تا چي غش او خيره يې ځندي جلاسي، وروسته لفظ مذکور را نقل سو هر هغه کار ته چي سبب د امتحان وي تشبيها بمعناه في الاصل. فالمعنى المحنة التي يمتحن بها الانسان كالاخراج من الوطن المالوف مثل مكة المكرمة فيما نحن فيه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: دا جمله ای "الفتنة اشد آه" متعلق ده په هغه جمله سابقه سره واخرجوهم آه

فائده: اخراج عن الوطن په دې سبب اشد دی تر قتل چې د قتل الم یو کړی وي او د اخراج الوطن الم او درد دوام داره دی کما یدل علیه التجربة، والخبر الذي ورد فيه حب الوطن من الايمان، وقيل لبعض الحكماء ما اشد من الموت، قال الذي يتمنى فيه الشخص الموت يعني الهجرة.

وَلَا تُقٰتِلُوْهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

يعني مطلق الحرم لاخصوص المسجد

حَتّٰى يُقٰتِلُوْكُمْ فِيْهِ ۚ فَاِنْ قٰتَلُوْكُمْ

اى في الحرم المكي

فَاقْتُلُوْهُمْ ؕ كَذٰلِكَ جَزَآءُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۹۱﴾

اى في ذالک الحرم

او تاسي جنگ مه ورسره کوئ د کفارو سره د مکې په حرم مکې کې تر هغو پورې چې دوئ ستاسي سره جنگ یعني په حرم مکي کې او که دوئ جنگ درسره شروع کړی په حرم مکي کې، نو تاسي وژنئ دوئ په هغه حرم کې او داغه ده جزاء د کافرانو یعني چې په مثل ددوئ د فعل به جزاء ورکړه کیږي

پوښتنه: په دمخه آیت کې تیره سوه "واقتلوهم حيث ثقفتموهم" نو حيث خو لپاره د عموم د مکان القتل دی یعني که حل او که حرم وي او په دې کې "ولاتقاتلوهم عند المسجد الحرام آه" نو دا به تعارض نه وي؟

ځواب: صاحب د رواح البيان وايي چې دا آیت تخصیص دی ددمخه آیت لپاره او تخصیص ته تعارض نه وايي.

فَاِنِ انْتَهَوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۹۲﴾

او که دوئ منع سي له جنګه او داغه رنګه له کفره، نو په تحقیق سره چې خدای ﷻ بخښونکی ددوئ او مهربانه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې ترجمه د آيت يو وازي په منع سره د قتال كولو تقصير دي او صحيح نه ده، ولې چې نفس منع د قتال يعني چې كفر باقي وي دوى مستحق د بخښنې نه دي فضلا عن استحقاق الرحمة، بيضاوي، روح المعاني، روح البيان، تفسير كبير، مظهري.

وَقٰتِلُوهُمْ حَتّٰى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَّيَكُونَ الدِّينُ لِلّٰهِ

او تاسي جنګ كوئ له مشركانو سره حق چې نه سي پاته فتنه يعني الشرک. او سي دين او عبادت خاص لپاره د خداى ﷻ يعني د شيطان هيڅ برخه پكښي نه وي چې بت پرستي ده.

مسئله: د عربو د وثنى يعني بت پرسته حكم دادى چې يه به اسلام راوړي او يا به قتل كېږي، روح البيان.

فائده: ضمير د "هم راجع دى الى الذين يقاتلونكم ته چې مشركان د عربو دي لقوله تعالى في موضع آخر "تقاتلوهم او يسلمون" نو په حق د مشركي العرب جزيه نسته بلكه جزيه په حق كي د اهل كتابو او مجوسيانو او د بت پرستانو د عجمو ده، واخطاء المظهري رحمه الله في عدم الفرق بين مشركي العرب ومشركي العجم في قبول الجزية منهم جميعا ان شئت، فطالع حاشية البيضاوي، روح البيان.

فَإِنِ انْتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ إِلَّا عَلَى الظّٰلِمِينَ ﴿١٩٣﴾

او كه دوئ نهي سوه له شركه څخه كه مشركان د عربو وه. او يا نهي سوه د جنګ څخه د جزيه پر وركړه سره كه اهل كتاب وه او يا مجوسيان او يا مشركان د عجمو وه، نو ظلم او تجاوز نسته مګر پر ظالمانو باندي او دغه منتهين خو اوس ظالمان نه دي.

پوښتنه: چو نكه په ترتب كي د جزاء په دې آيت كي يعني "فلا عدوان آه" پر مذكور شرط يعني "فا انتهوا" باندي خفاء ده، ولې چې فلا عدوان آه جمله خبريه ده بېله ترتبه پر ان انتهوا" صحيح ده نو توجيه د ترتب به څه وي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: اصل جزاء محذوفه ده يعني "فلاتعتدوا عليهم" او "فلاعدوان" آه علت د جزاء محذوف دی نو په ځای کي د جزاء يې راوړی، ولي چي علت خو مسلتزم حکم لره دی نو ملزوم په ځای کي د لازم کنايةً ودراوه، وهذا شائع في العربية.

پوه سه: چي مشرکانو د مکې مکرمې چي عليه الصلوة والسلام سره د اصحابو کرامو ﷺ چي لپاره د عمرې په سنه شپږ کي د هجرت محرمين او هدايا هم ورسره وې او خبر د منع د قرېشو د دوئ له دخول څخه د مکې و عليه الصلوة والسلام ته د مخه رسېدلی و، نو ځکه عليه الصلوة والسلام په حديبيه کي ځای ونيوی او مياشت د ذو القعدة وه چي د اشهر حرم څخه ده، خير قصه اوږده ده حاصل يې دادی چي آخير الامر عليه السلام د قريشو سره صلح پر دې وکړه چي مکې والو ورته وويل چي بنځ کال به تاسي ناکامه ځئ پر کال د ذو القعدې په مياشت کي به د عمرې لپاره راځئ. موږ درې ورځي تاسي په مکه يعني مسجد الحرام تخليه کوو او تاسي به عمره وکړئ. نو صلح نامه چي لاسليک سوه عليه الصلوة والسلام او اصحابو کرامو ﷺ خانونه حلال کړه يعني سرونه يې وخرېل يا يې قصر وکړی. او کالي يې واغوستل او بېرته مديني منورې ته ستانه سوه، او په سنه اوه کي بيا د ذو القعدې په مياشت کي د عمرة القضاء لپاره يې تياری ونيوی، او مسلمانان پر دې بېرېدل چي کفار مکه به پر وفاء وعده ونه کړي او زموږ سره به جنگ وکړي، او جنگ په حرم مکي کي او په حال کي د احرام زموږ او په شهر حرام کي به واقع سي، نو په دې مياشت کي هتک يعني سپکاوی د حرم مکي او هتک د شهر حرام به راسي، نو دا آيت نازل سو.

درويش وايي: چي صحيح شان نزول د آيت خو دغه و، لکن مظهري ﷫ دا په قيل سره راوړی دی، او يو بل شان نزول يې اولاً راوړی دی والله اعلم بما في ضمير عباده، فانزل الله تعالى هذه الآية

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَلشَّهۡرُ الۡحَرَامُ بِالشَّهۡرِ الۡحَرَامِ

يعني د حرمت د شهر الحرام هتک که تاسي مسلمانان وکړئ په جنګ سره د قريشو تاسي ته ګناه نسته، ولي چي دا هتک خو په مقابل کي د هتک د قريشو دی يعني چي اول هتک د حرمت دوئ وکړی په جنګ سره ستاسي او تاسي مدافعت د جنګ کوي ولا حرج على المدافع. بلکه دا قصاص د فعل ددوئ دی.

وَالۡحُرُمٰتُ قِصَاصٌ

او هتک د حرماتو يو له بله کسات دی يعني حرمت د شهر الحرام او حرمت د حرم محترم او حرمت د احرام د مسلمانانو دا په حق کي د هغه چا دی چي هغه مراعات ددغه حرمات کوي، او څوک چي ددغو حرماتو هتک وکړي هغه ته به قصاصا جزاء ورکول کيږي.

فَمَنِ اعۡتَدٰى عَلَيۡكُمۡ فَاعۡتَدُوۡا عَلَيۡهِ بِمِثۡلِ مَا اعۡتَدٰى عَلَيۡكُمۡ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعۡلَمُوۡٓا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۱۹۴﴾

او که چا تجاوز وکړی پر تاسي باندي يعني په جنګ سره په حرم کي او په شهر حرام کي او تاسي په حال د احرام کي واست، نو تاسي هم تجاوز وکړئ په مثل سره د اعتداء ددوئ.

پوه سه: چي جزاء ته اعتداء يې اعتداء وويل مشاکلةً مثل جزاء سيئة سيئة، او تاسي د خدای ﷻ څخه ببريږئ بيله اجازي د خدای هيڅ عمل مه کوئ، او به دي پوه سئ چي خدای ﷻ ملګری دی د متقينو سره په عون او کومک او نصر سره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: په حديث مبارك كي راغلي دي چي عليه السلام چي په سنه اوه كي سره د اصحابو ﷺ د عمرة القضاء لپاره راغله مشركانو د مكې وفا بالعهد وكړه او دوئ يې بېله مزاحمته د عمرې افعالو ته پرېښول، لكن قريشو په صلح كي د حديبيې دا شرط ايښى و چي وروسته تر افعالو د عمرې دري ورځي د استوګني حق په مكه كي لري او بيا به وځي، چونكه عليه الصلوة والسلام په دې لنډ سفر كي ميمونة بنت الحارث ﷺ په نكاح كړې وه، نو د عليه الصلوة والسلام دا خيال و چي څو ورځي نوري په مكه كي تيري كړي، چي مراسم د واده د ميمونې ﷺ په مكه كي پر ځاى كړي، لكن قريشو دا تمنا دده مياك ونه منل او حضرت علي ﷺ ته يې وويل چي ده ﷺ ته ووايه چي له مكې څخه په قرار د وعدې د صلح د حديبيې له مكې څخه ووزه، نو عليه الصلوة والسلام په قرار د وعدې سره له مكې مكرمې څخه سره د اصحابو ﷺ ووتل او مراسم د واده د ميمونې ﷺ په سرف نامي ځاى كي اجراء كړه.

فائده: خداى ﷻ موږ مسلمانان په غزاء سره امر كړو ددې حكمت لپاره چي ظاهر كړئ خلګو ته چي څوک دى هغه سړى چي خپل ګران وجود في سبيل الله قربان كړي، او بيا په زكوة سره يې امر كړي يو تاچي ظاهره سي چي څوک دى هغه چي لپاره د محبت الهي د زړه پنډكي چي مال دى د زړه څخه لېري كوي او په لاره كي د خداى ﷻ يې ښندي.

نو غزا او زكوة معيار او مدار د محبت الهي دى ولي طبعا هر انسان حب الحياة والمال په زړه كي لري، نو خداى ﷻ زموږ مسلمانانو امتحان په غزا او زكوة سره كوي، تاچي د خولې دعوه د محبت الهي د مدعيانو د محبت دفع سي ولي چي هر انسان او مسلمان په خوله د عوه د محبت الهي كوي، نو د رښتياګو دعوه او د درواغو دعوې به د محبت الهي به په غزا او زكوة سره معلومه سي، وهذا من الاسرار المكنونة في الغزو والزكوة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قال المولوي المعنوي رحمه الله في المثنوي

ای شهان کشتیم ما خصم برون ❁ ما ند خصمی ز و بتر درا ند رون
کشتن این کار عقل وهوش نیست ❁ شیر باطن سخره خرگوش نیست
سهل شیری دان که صفها بشکند ❁ شیر آ نست که خو د را بشکند
كذا في روح البيان

وَأَنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ

او تاسي صرفوئ يعني اموال خپل په لاره کي د خداى جل جلاله

پوه سه: چي مراد د في سبيل الله څخه هغه دين د اسلام دى چي سرى رسوي و رضا ته د خداى جل جلاله او رحمت او جنت ته. نو هر مال چي سړى يعني مسلمان صرف کړي په مرسته کي د دين او په اعزاز کي د دين هغه په دې آيت کي داخل دى، اولين مصرف يې جهاد في سبيل الله دى. او داغه رنګه په حج يا په عمره کي او په صلة الارحام د اقرباؤ، او يا يې ضعفاؤ او فقراؤ ته ورکړي، او دغه رنګه په اهل بيت او عيال يې مصرف کړي.

وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ

او تاسي مه اچوئ پخپل لاس خانونه وهلاکت ته

پوه سه: چي کلمه د "با" زائده ده ولي چي "تلقوا" متعدي بنفسه دى كما في قوله تعالى فالقى موسى عصاه.

فائده: القاء چي په باسره متعدي سي مراد څندي شر دى او مراد له "ايدي" څخه خپل خانونه دي، او تعبير په "ايدي" وو سره يې له دې جهته وكړى چي اكثر افعال د سړي صادر د لاسونو څخه کېږي.

فائده: بعض مفسران رح وايي چي مراد له "تهلكة" څخه چي په معنا د هلاکت دى داده چي سړى په صرفولو کي د مال اصراف کوي او تر امدني يې روانګي ډېره وي لکه په هغه آيت کي چي اشاره ورته سوې ده ﴿والذين اذا انفقوا لم يسرفوا ولم يقتروا وكان بين ذالک قواما﴾ او بعض مفسرين رح وايي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي القاء د ځان وهلاکت ته داده چي سړی غزا نه کوي او په مهماتو کي د غزاء مال نه مصرفوي، نو دښمن کرار کرار قوي کيږي او آخر پر مسلمانانو مسلط سي او دوئ به هلاک کړي، او وطنونه د مسلمانانو به کافران قبضه کړي، او د دویم تفسير تائيد هغه حديث د ابو ايوب انصاري ﷺ کوي چي :دای ﷻ څه وخت دين ته د اسلام په عربو او شاوخوا کي عزت او غلبه ورکړه او عرب ټوله په دين کي د اسلام داخل سوه او دښمنانِ د اسلام لکه يهوديان د خپلو ځايو څخه وشړل سوه او يا قتل سوه، نو موږ انصارو پخپل منځ کي سره ووېل چي اوس اسلام قوي سو، نو کاشکي موږ خپلو مالونو مځکو او باغونو ته رجوع وکړو چي خرابه ځايونه ېېرته از سر نو آباد کړو، فانزل هذه الآية ﴿وانفقوا في سبيل الله﴾ الى اخير الآية. يعني جهاد في سبيل الله لپاره د تعمير د مځکو او د باغونو مه پرېږدئ ولي دښمنان به بېرته ځانونه قوي کړي او تاسي مسلمانان په هلاکت کي واچوي او مقبوضه ځايونه به بېرته در څخه قبضه کړي. نو ځکه ابو ايوب انصاري ﷺ تر مرګه په غزاګانو کي مصروفه و، حتى چي اخيره غزاء يې په خلافت کي د معاويه ﷺ د قسطنطني غزاء وه چي هغه يې فتح کړه، نو ابو ايوب انصاري ﷺ په خدايي مرګ هلته وفات سو، او د قسطنطنيې د کلا په بيخ کي دفن سو، او دده په قبر سره مسلمانانو طلب د شفاء او بارانو کاوه. فرضى الله تعالى عنه وارضاه.

وَأَحْسِنُوٓا۟ ۛ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٩٥﴾

او تاسي احسان کوئ په تحقيق سره خدای ﷻ خوښ لري احسان کونکي.

پوه سه: چي احسان په عبادت کي د خدای ﷻ هغه دی چي په يو طويل حديث کي چي روايت يې بخاري او مسلم کړی دی راغلي دي چي جبرائيل ﷺ د عليه السلام څخه پوښتنه د ايمان وکړه او عليه السلام يې بيان مفصل ورته وکړی، او بيا يې پوښتنه د اسلام ځني وکړه، او عليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

السلام د هغه بیان هم مفصل ورته وکړی، او بیا یې ورته وویل چې "ما الاحسان ای الاخلاص في العمل" نو علیه السلام ورته وویل "الاحسان ان تعبد الله کانک تراه، فان لم تکن تراه فانه یراک الی اخیر الحدیث" او احسان په معاملاتو کې د خلګو هغه دی چې په دې حدیث کې اشاره ورته سوې ده چې ته خوښ لره بل چا ته هغه شی چې ته یې خوښ لري وخپل ځان ته یعني من النعمة والعافیة والرزق الکثیر الحلال الی غیر ذالک، او ته مکروه بوله وبل چا ته هغه شی چې ته یې مکروه بولې وخپل ځان ته من المرض والفقر الی غیر ذالک، رواه احمد عن معاذ ﷺ، او په بل حدیث کې هم اشاره ورته سوې ده ﴿المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده﴾ رواه اصحاب السنن الاربعة

حکایت: راوي وایي چې حجاج بن یوسف چې د عراق والي مقرر سو نو ده پر زر (۱۰۰۰) سترخوانه سهار او ماښام ډوډی ورکوله او پر هر سترخوان به لس کسه کښېنستله چې مجموعه یې لس زره کسه کېږي. لکن په اول کې به یې سپاهیان پسې استول لکن اخر یې د عراق خلګو ته وویل چې زما له طرفه څخه تاسي ته قاصد لمر دی چې لمر راوختی راځی به او چې لمر ولوېدی راځی به، راوي وایي چې یوه ورځ خلګ څه کم راغلي وه حجاج د خپل دربار باشي څخه پوښتنه وکړه چې نن ولې خلګ کم راغلي دي، هغه ورته وویل چې تا خلګ په کورو له راتګه څخه مستغني کړه، حجاج بن یوسف ته ددې سړي وینا خوند ورکړی، نو حجاج ورته وویل اجلس ای بارک الله علیک، تاریخ وایي چې دا کرم او احسان د حجاج بن یوسف و، مع کونه اظلم اهل زمانه کماثبت في التواریخ الاسلامیة.

درویش وایي: چې قصه د جود او احسان د حاتم طائي چې په ټوله نړۍ کې په جود او احسان سره مشهور شخصیت دی او تر زماني د علیه الصلوٰة والسلام لږ دمخه و، او دین یې شرک هم و، راوي وایي چې په یو مملکت کې یو بادشاه و، چې ډېر په سخاوت او جود او احسان سره مشهوره و، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ددې باداشاه په مجلس کې به همېشه د حاتم طائي د سخا او جود بحث کېدی خو د باداشاه به قصد او حسد په کېدی چې سره زما د ډېرې سخا او کرم د حاتم طائي د سخا بحث نه قطع کېږي، نو د څانه سره يې دا وسنجول چې تر څو چې حاتم طائي قتل نسي تر هغو زما د سخاوت موضوع په نړۍ کې شهرت نه سي پيدا کولای، نو يو سړي ته د خپل مملکت يې ډېرې پيسې او يوه غټه چوکۍ ومنل چې که ته حاتم طائي مړ کړې او سر يې ماته راوړې، نو هغه سړی د مکې پر خوا روان سو چې په اطرافو کې د مکې د حاتم مسکن و، خير هلته چې ورغلي او د حاتم کور او ځای يې پيدا کړی نو په مهمان خانه کې د حاتم يې اطاق ونيوی ددې لپاره چې کله پر حاتم برۍ پيدا کړي چې مړ يې کړي او سر يې يوسي خپل شاه ته او انعام موعود وګټي خير د حاتم وجود ته هغه قاصد هم حيران و او خپل د شاه جود يې مشت نمونه خروار وباله. راوي وايي چې يوه مياشت دې سړي د حاتم په مهمان خانه کې تېره کړه خو حاتم هيڅ پوښتنه نه خندي کوي، اخر الامر هغه سړي حاتم ته وويل چې ته ولې زما څخه پوښتنه نه کوې چې ته په څه کار پسې راغلی يې، نو حاتم ورته وويل چې د مېلمه څخه پوښتنه زما عادت نه دی. نو هغه سړي د باچا ټوله قصه ورته وکړه او خپل د راتګ قصد يې هم ورته بيان کړی، نو حاتم طائي ورته وويل چې زما په وينه تاته دومره انعام پيدا کېږي نو زه خو مرګ ته حاضر يم لکن زه پر دې ډېرېږم چې که ته زما سره دروړې شايد شاه به درته ووايي چې دا سر خدای خبر دی چې د حاتم سر دی او که د بل چا سر دی هغه موعود انعام به وتاته درنه کړي، ولې چې ستا شاه زه نه يم ليدلی نو ښه به دا وي چې زه به پخپله در سره ولاړ سم او ستا شاه به ما پخپله مړ کړي نو به يې هم سوړ سي او تاته به هغه موعود انعام هم پوره در کړي، قاصد د حاتم وکارنامې او سخاوت ته حيران سو، خير خو حاتم د قاصد سره روان سو او د شاه ودربار ته چې ورسېدل شاه وقاصد ته وويل چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څه دي وکړه، قاصد ورته وویل چې دا دی حاتم طائي مي پخپله راوستی چې
ته يې سر وربرې کړې، شاه حيران سو او قاصد ته يې وويل چې څرنګه دې
راوستی قاصد ټوله ماجرا او د مهمان نوازۍ دده پوره قصه ورته وکړه، نو
شاه قاصد ته خپل موعود انعام ورکړی او دا يې ومنل چې بېشکه چې
حاتم طائي تر ما سخي دی ولې چې زه يوازې او فقط په مال سخي يم او
حاتم طائي په سر او مال دواړو سخي دی، او حاتم طائي ته يې لوی انعام
ورکړی او د حاتم يې ښه فوق العادة مهماني نوازي وکړه او د خپل شوم قصد
يې ډېر عذرونه ورته وويل او حاتم يې څو ورځې وروسته رخصت کړی.

درويش وايي: چې په نړۍ کي د سخا نوم په مسخره نه ورل کېږي، او س د
حاتم طائي بلې قصې ته غوږ ونسئ چې روح البيان د شيخ هدايي څخه او
هغه د شرح د رسالې د ابن زيدون نوريه نقل کړی دی، چې يو وخت د بني
اسد او د قيس د قبيلې يوه قافله روانه وه د نعمان اکبر ملك العرب د
ملاقات لپاره نو يې په لاره کي د حاتم سره ولېدل، او دوی ورته وويل چې
موږ ستا څخه شرمېږو لکن يو حاجت مو راوړی دی حاتم ورته وويل ما هي؟
خلګو ورته وويل چې زموږ د يوه ملګري اوښه پر لاري ورکه سوه او دی پياده
سو نو که دغه ملګري ته يو مرکب ورکړې حاتم طائي ورته وويل چې زما
ماديانه اسپه دغه ده ملګري دي پر سپور سي، نو مينځي ته يې وويل چې
اسپه راوباسه، هغې چې اسپه راوېستل د اسپي بچي په مور پسي راميدان
کړه مينځه هغه د اسپي بچی پخپل پوړني وتاړه چې د مور څخه يې جلا کړي
د اسپي کورونګي زورونه کړه په مور پسي يې ميدان کړه ښځي په کورونګي
پسي ميدان کړه حاتم طائي خلګو ته وويل چې دا يو په بله پسي ټوله ستاسي
دي، نو خلګو يوه اسپه او يو کرونګي او يوه مينځه بوتله انتهی.

سعدي شيرازي رحمه الله

کرم کن که فردا که ديوان نهند منازل بمقدار احسان نهند

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

—او په بعض احادیثو کي د معراج راغلي دي چي علیه الصلوة والسلام ته چي د دوږخ د احوالو د لیدلو اجازه خدای ﷻ ورکړه، یو خای یې یوه خطیره ولیدل چي شا وخوا یې اور و، او په منځ کي د خطیرې یو سړی ولاړ و چي اور نه مسه کاوه علیه الصلوة والسلام چي ددې سړي پوښتنه د خزنه وو څخه د دوږخ وکړه چي دا سړی څوک دی خزنه ورته وویل چي دا حاتم طائي دی چي په سبب د سخا دی د اور د جهنم څخه ساتل سوی دی، کذا في انیس الوحدة وجلیس الخلوة، روح البیان.

قال المولوي المعنوي رحمه الله في المثنوي

مرگ بې مرگی بود مارا حلال — برگ بې برگی بود مارا نوال

ظاهرش مرگ وبباطن زنده گی — ظاهرش ابتر نهان پاینده گی

چون مرا سوی اجل عشق وهوا رست — نهی لا تلقوا بایدیکم مرا است

زانکه نهی ازدانه شیرین بود — تلخ را خود نهی حاجت کی شود

دانه کش باشد مغز وپوست — تلخی ومکروهی اش خود نهی اوست

دانه مردان مرا شیرین شده — بل هم احیاء پی من آمده است

وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ

تاسي پوره کوئ حج او عمره لپاره د خدای ﷻ یعني چي شروع مو په وکړه بیا یې مه فاسدوئ.

یوه سه: چي فائده د "لله" داده چي عربو د جاهلیت به حج لپاره د صرف اجتماعاتو او تجاراتو في الاسواق او لپاره د غزلو او د فخر په نیکه گانو کاوه، او هغه خو خدایي غرض نه و نو مسلمان خدای ﷻ امر کړه په دې سره چي ستاسي قصد دي په حج او عمري سره صرف رضاء د خدای ﷻ وي وبس، ولي چي دا دوه عمله عبادت دی او عبادت لپاره د خدای ﷻ دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اختلاف المذاهب في العمرة: پوه سه چي عمره واجب ده په مذهب کي د احمد رحمه الله وبه قال الشافعي رحمه الله في اصح قوليه، او مالک رحمه الله وايي چي عمره سنت ده وهو المشهور من مذهب ابی حنيفة رحمه الله.

فائده: حج خو په اتفاق او اجماع د امت فرض دی محکم على من استطاع اليه سبيلا او فرض عين دی، او له ارکانو څخه د اسلام دی قال الله تعالى ﴿ولله على الناس حج البيت من استطاع اليه سبيلا﴾ والسبيل هو الزاد والراحته کما فسر النبي ﷺ، او په حديث متفق عليه کي راغلي دي ﴿بني الاسلام على خمس، (۱) شهادة ان لا اله الا الله وان محمدا رسول الله (۲) واقام الصلوة (۳) وايتاء الزکوة (۴) والحج (۵) وصوم رمضان﴾ او په فرضيت کي د حج احاديث کثيرة شهيرة في الکتب الستة الصحيحة وغيرها راغلي دي وتعداد الکل اطناب.

پوه سه: چي صاحب د روح المعاني الحنفي بالحق وصاحب روح البيان په تفسير کي ددې آيت خصوصا په سنت والي کي د عمرې د بر په زړه پوري بيان کړی دی "واوري روح المعاني" اول په دې پوه سه چي روح المعاني والا څوک دی، هو خاتمة المحققين وعمدة المدققين ومفتي بغداد العلامة ابی الفضل شهاب الدين السيد محمود الآلوسي البغدای رحمه الله المتوفی سنه (۱۲۷۰) هـ ق دده د عربي عبارت پښتو ژباړه.

تاسي ګرخوئ حج او عمره چي تاسي قصد د اداء ددې دوو عباداتو وکړئ پوره او تامه، نو په دې آيت کي بيله اتمامه بعد الشروع پر بل شي دلالت نسته وهو المتفق عليه بين الحنفية والشافعية رحمهم الله ولي چي افساد د حج يا د عمرې روا نه دی او که يې وکړی بيا قضاء پر لازمه ده ولا تدل على وجوب الاصل ای اصل الحج والعمرة قال الآلوسي رحمه الله

والقول بالدلالة ای على وجوب الاصل بناء على ان الامر بالاتمام مطلقا يستلزم الامر بالآداء لما تقرر ان ما لايتم الواجب المطلق يعني الاتمام الا به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعني الشروع فهو واجب یعني فالشروع واجب، لیس بشیئ؛ لان الامر بالاتمام یقتضی سابقیة الشروع فیکون الامر بالاتمام مقیدا بالشروع، وادعا ان معنی الآیة ائتویها حال کونها تامتین مستجمعی الشرائط والارکان وهذا یدل علی وجوبها لان الامر یعني ایتویها ظاهر في الوجوب "یؤیده" قرائة علقمة وابراهیم النخعی وابن مسعود ﷺ واقیموا الحج لیس بسدید، اما اولا فلانه ای التاویل المذکور في الآیة بقوله ایتوابها خلاف الظاهر وعلی تقدیر التسلیم فلانه یمکن ان یکون الوجوب المستفاد من الامر في الآیة متوجها الی القید اعنی تامین لا الی اصل الاتیان بهما کما في قوله النبي ﷺ یعني في بیع الاموال الربویة بیعوا سواء بسواء، اصل البیع لیس بواجب بل الواجب التسویة واما ثانیا فلان الامر في القرائة المذکورة یعني اقیموا آه محمول علی المعنی المجازي المشترک بین الوجوب والندب واعني مطلق طلب الفعل والقرینة علی ذالک ای ان الآیة المذکورة محمول علی المعنی المجازي الاعم، الاحادیث الدالة علی استحباب العمرة اذ قد اخرج الشافعي ﷺ في الام (هو کتاب للشافعي ﷺ) وعبدالرزاق و ابن ابي شیبة وعبد بن حمید وابن ماجه انه صلی الله علیه والسلم قال الحج جهاد (ای مفروض کالجهاد في سبیل الله) والعمرة تطوع واخرج الترمذي وصححه عن جابر ﷺ ان رجلا سال رسول الله ﷺ عن العمرة ا واجبة هي قال لا وان تعتمروا خیرلکم.

درویش وایي: چي زه تعجب کوم ودې ته چي مظهري د غه حدیثونه ضعیف ګڼلي دي "ویوئیده " ان ابن مسعود ﷺ صاحب (قرائة واقیموا الحج والعمرة کمامر من علقمة وابراهیم النخعي ایضا) فیما اخرجه عنه ابن شیبة وعبد بن حمید قال الحج فریضة والعمرة تطوع.

درویش وایي: که د قرائة مذکوره معنا هغه وایي لکه چي مخالف وایي نو څرنګه صاحب د هغه قرائة یعن عبدالله ابن مسعود ﷺ دا وایي والعمرة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تطوع. واخرج ابن ابی داوُد عنه یعنی ابن مسعود انه کان یقرء ذالک في المصاحف (یعني واقیموا الحج والعمرة لله) ثم یقول لو لا التحریج اني لم اسمع فیها من رسول الله ﷺ شیئا لقلت ان العمرة واجبة مثل الحج وهذا یدل علی انه ﷺ لم یجعل الامر في العمرة للوجوب لانه لم یسمع فیها شیئا ولعله سمع ما یخالفه (ای یخالف الوجوب وهو الاستحباب ولهذا جزم في الروایة الاولی کما مر عنقریب بفرضیة الحج واستحباب العمرة وکانه لذالک حمل الامر في قرائة علی القدر المشترک الذي قلناه بناء علی امتناع استعمال المشترک في معنییه وعدم جواز الجمع بین الحقیقة والمجاز (یعني کما تقرر في کتب الاصول)

درویش وایي: چي آلوسي رحمه الله وروسته د خصم د دلائلو جوابونه ورکړي او د هغو حدیثو چي مظهري رحمه الله په تائید د مذهب د خصم یعني وجوب العمرة راوړي دي هم یې په زړه پوري جوابونه ورکړي دي نو په دې پاره کي یعني لپاره د تحقیق د مذهب د حنیفیانو او شافعیانو روح المعاني جلد ثاني د صفحه ۲۸ څخه بیا تر صفحه ۸۲ پوري مطالعه کړئ او د مظهري تفسیر د سیقول په پاره کي د ص ۲۱۶ ص ۲۱۷ ص ۲۱۸ ښه په غور مطالعه کړئ او انصاف په تاسي پوري اړه لري، درویش خو د آلوسي رحمه الله کلک ملاتړ کوي والله اعلم.

فائده. ارکان د حج پنځه دي (۱) احرام (۲) وقوف العرفة (۳) الطواف بالبیت الشریف (۴) سعي بین الصفاء والمروة (۵) حلق الراس او تقصیره. نو رکن د حج هغه فعل دی چي خلاصوالی د احرام بیله هغه فعله نسي کېدلایي، او واجبات د حج هغه دي چي په ترک سره یې دم لازمېږي، وسننه ما لایجب بترکه شيئ وبفعله یحصل الثواب، او په عمره کي هم ارکان سته او هم واجبات او هم سنن سته. نو ارکان د عمرې څلور دي (۱) الاحرام (۲) والطواف (۳) والسعي بین الصفاء والمروة (۴) وحلق الراس او تقصیره

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فائده: حج لره دوه تحلل دي او اسباب د تحلل درې دي (۱) رمی الجمرة العقبة یوم النحر (۲) وطواف الزیارة (۳) والحلق او التقصیر، نو چي د دغو درو څخه دوه پیدا سي یحصل التحلل الاول، او په دریم سره تحلل ثاني پیدا کېږي او تر تحلل و وروسته ده ته ټوله مخظورات د احرام روا کېږي الا النساء یعني وطي د ماینې سره او په تحلل ثاني سره ټوله روا کېږي. فاحفظ هذه الفائدة.

فائده مهمه: امت مرحومه محمدیه ﷺ پر دې خبر متفق دی چي کول د عمرې او د حج پر درې قسمه جائز دی. والاختلاف في الافضل منها.

الوجه الاول الافراد: او صورت د افراد دادی چي سړی له میقات څخه په یوازي حج احرام وتړي ویقول لبیک بحج، بیا پر هغه احرام باقي وي تر وخته د اداء د افعالو د حج او وروسته بیا له حل څخه چي د هغه ځای نوم دی چي تر منځ د میقات او د حرم واقع دی احرام د عمرې وتړي او عمره هم پای ته ورسوي؛ په دې صورت کي دم د شکریه نسته.

والوجه الثاني التمتع: او د تمتع صورت دادی چي اول وار د میقات څخه په اشهر کي د حج احرام د عمرې وتړي او ټوله افعال د عمرې اداء کړي کمامرت او د عمرې څخه خان حلال کړي او بیا وروسته په دغه کال د مکې مکرمې څخه احرام د حج وتړي او افعال مذکوره د حج هم پر ځای کړي پر دې سړي تم پسه د شکریه لازم دی یا روژې که دم نه وي کما سیاتي ان شاء الله تعالی.

والوجه الثالث القران: او صورت د قرآن دادی چي له میقات څخه نیت د حج او د عمرې وکړي معاً او ووایي لبیک بحج وعمرة، او راتګ په افعالو د عمرې وکړي من غیر تحلیل منها ثم یاتي بافعال الحج کلها ثم یحلل منهما معاً. پر دې سړي هم دم د شکریه یا لس روژې لازمي دي، والافضل عند الحنفیة رح القرآن وجاء في الحدیث النبوي ﷺ «تابعوا بین الحج والعمرة فانهما ینفیان الفقر والذنوب کما ینفی الکیر خبث الحدید والذهب والفضة ولیس الحج المبرور جزاء الا الجنة» کذا في الکتب الفقهة والتفصیل لهذه الوجوه الثلثة في الفقة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: تفسیر مظهري رحمه الله هغه حدیث مشهور چي هم یې بخاري او هم یې مسلم روایت کړی دی او په دویمه صفحه کي د مشکوة هم موجود دی. او د هغه حدیث راوي عمر بن خطاب رضي الله عنه دی چي یو وخت یو سړی چي شدید بیاض الثوب و، او شدید سواد الشعر و، او هیڅ اثر د سفر هم نه پر معلومېدی، او په موږ کي هیڅ چا هم نه پېژندی، وعلیه الصلوة والسلام ته د التحیات پر هیئت کښېنستی او په پوښتنو یې شروع وکړه، نو هغه سړي د علیه السلام څخه اوله پوښتنه دا وکړه. ما الاسلام، د حدیث متفق علیه عبارت خو بل ډول دی کما في المشکوة لکن مظهري رحمه الله د علیه الصلوة والسلام د جواب عبارت داسي راوړی دی ان تشهد ان لا اله الا الله وان محمدا رسول الله وان تقیم الصلوة وتوتی الزکوة و تحج البیت.

درویش وايي: چي دا عبارت خو په متفق علیه حدیث کي هم موجود دی لکن مظهري دا عبارت پر بالا کړی وتعتمر وتغتسل من الجنابة وتتم الوضوء، وروسته یې د متفق علیه دا عبارت راوړی دی وتصوم رمضان وروسته مظهري پر خپل ځان سوال کړی دی چي زیاتي عبارت په صحاح حدیثو کي نسته بیا په ډېر ځګر خوني سره جواب ورکړی دی.

درویش وايي: چي ددې حدیث په مذکوره عبارت سره نقل او بیا د زائد عبارت جواب ورکول ددې علامه ده چي مظهري رحمه الله په هر قیمت چي وي ووجوب العمرة ته تیار دی لهذا درویش د مظهري رحمه الله په دې ځای کي تقلید به ونه کړی بلکه د علامه آلوسي رحمه الله صاحب روح المعاني تقلید یې مختاره کړی.

عذر: دا توهم دي څوک نه کوي چي درویش تر علامه مظهري رحمه الله ځان بالا بولي حاشا الله لکن شعر

ومن مذهبی حب مذهب الاحناف لاهله و للناس فیما یعشقو ن مذاهب

فائده: او بعض مفسران وايي چي د اتمام څخه د حج او د عمرې مراد دادی چي له کوره احرام په دواړو وتړي، او بعض وايي چي د اتمام الحج والعمرة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معنا داده چې د هر یوه لپاره به جلا جلا سفر کوي. او بعض وايي چې د اتمام معنا داده چې نفقه به يې حلاله وي، او بعض وايي چې حج او عمره يې مشوب په غرض دنیوي سره نه وي، فعلی هذه التفاسير لاموقع لاختلافات السابقة في وجوب العمرة او استحبابها.

فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ

او كه تاسې بند كړه شوه سوا ست د اداء څخه د افعالو د حج او يا د عمرې، نو پر تاسې لازمه ده هغه هديه چې تاسې ته اسانه وي يعني پسه، غويې، اوښ.

مسئله: مراد له احصار څخه په نيز د مالک رحمه الله او د شافعي رحمه الله احصار په سبب د دښمن يعني كه دښمنانو تاسې نه پرېښولاست چې افعال د حج يا عمرې پر ځای كړئ والقرينة عليه قوله تعالى فاذا امنتم ای من العدو، وكذا نزول هذه الآية في الحديبية قرينته على ان الحصر انما هو لاجل العدو لان احصار الحديبية كان لاجل العدو يعني كفار قريش مكة ولقول ابن عباس رضي الله عنه لاحصر الا حصر العدو، او په نيز د امام ابو حنيفة رحمه الله احصار په دښمن سره او په مرض وغيرهما سره دی، ولې چې په حديث صحيح كي راغلي دي (من كسر او عرج فعليه الحج من قابل) دا حديث كه څه هم بيضاوي ضعيف ګڼلی دی لكن لا اعتبار لتضعيفه ولې چې دا حديث په طرقو مختلفه و سره په سنن اربعه و كي راغلی دی او ترمذي دا حديث حسن بللی دی.

پوه سه: چې د لفظ احصار اكثره استعمال په منع مطلق كي دی كه د دښمن له خوا وي او كه د مرض له جهته او د كسر او عرج له كبله وي او حصر په منع كي د دښمن د پر مستعملېږي، نو ابو حنيفه رحمه الله په باره كي د حكم يعني لزوم الهدی كي مطلق منع معتبره كړې ده، او شافعي رحمه الله منع خاص د دښمن معتبره كړې ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والجواب عن جانب الحنفية عن القرينة الاولى ان لفظ الا من عام سواء كان الامن من العدو اومن المرض والكسر كما لايخفى، والجواب عن نزول الآية في الحديبية ان العلماء اتفقوا ان الاعتبار لعموم اللفظ لا لخصوص المورد، والجواب عن حديث ابن عباس ﷺ ان المراد والله اعلم ان الحصر الكامل او المعتاد في الحالة الراهينة لايكون الا من العدو، وارادة الفرد الكامل المعتاد كثر في الاحاديث المباركة مثل لاصلوة لجار المسجد الا في المسجد ولا وضوء لمن لايسمى، قال البرسوي ﷺ في تفسير هذه الآية، كه تاسي منع سولاست د افعالو څخه د حج يا د عمرې په مرض سره يا په دښمن سره يا مو نفقه خلاصه سوه يا مو راحله مړه سوه، ثم قال لان الخطاب وان كان للنبي ﷺ واصحابه ﷺ، وكانوا ممنوعين بالعدو اى في الحديبية لكن الاعتبار لعموم اللفظ وهو الاحصار لا لخصوص السبب وهو العدو.

درويش وايي: الوسي ﷺ په تفسير كي د آيت داسي وايي "فان احصرتم" دا مقابل د محذوف دى يعني لزوم د اتمام پر تاسي هلته دى چي تاسي قادر پر اتمام د حج او عمرې ياست، او كه چېرې تاسي حصر سواست الخ. او الوسي ﷺ هغه درې قرينې چي قبلا ذكر سوې يعني پر حصر د احصار پر منع د دښمن لكه چي مذهب د مالك او د شافعي رح دى هم راوړي دي، او وروسته يې لپاره د تائيد د مذهب د ابو حنيفه هغه مخنى حديث من كسر او عرج آه هم راوړي دي، او بيا يې په روايت د طحاوي د عبد الرحمن بن زيد څخه داسي حديث راوړى دى چي يو سړي چي نوم يې عمر بن سعيد و، احرام يې په عمره تړلى و، نو پر لاري مار وخوړى او دى بېهوشه و، او په لاره كي ملګري هم ورسره وه، چي يو جماعت قافله پر راغله چي په هغو كي ابن مسعود ﷺ هم و، نو ملګرو ته د هغه ابن مسعود ﷺ وويل ابعثوا بالهدى واجعلوا بينكم وبينه يوم امارة فاذا كان ذالك فليحل. ثم قال الوسي ﷺ واخرج ابن ابى شيبة عن عطاء لا احصار الا من مرض او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عدو او امر حابس، ثم قال واما الثالث فلانه بعد تسليم حجية قول ابن عباس ﷺ هو معارض بما اخرج ابن جرير و ابن منذر عن ابن عباس ﷺ انه قال في تفسير الآية ومن احرم بحج او عمرة ثم حبس عن البيت بمرض يجهده، او عدو يحبسه فعليه ذبح ما استيسر من الهدى. فابن عباس ﷺ كما خصص الاحصار بعدو عمم في هذه الرواية.

درويش وايي: چي مورږ تاويل د تخصيص د ابن عباس ﷺ دمخه انفاً ذکر کړی.

درويش وايي: چي علامه مظهري ﷫ تفسير ددې آيت د مذهب حنفي سره موافق کړی دی حيث قال ای ان منعتم من الوصول الى البيت الحرام بعدو مسلم او کافر او مرض فيمنعه من المضى على افعال الحج والعمرة او هلاک نفقة او موت محرم للمرئة او نحو ذالک کذالک فسره ابو حنفية ﷫ لان الاحصار والحصر في اللغة المنع بای سبب کان بل غالب استعمال الاحصار في المرض ونحوه.

درويش وايي: چي عبارت د علامه مظهري ﷫ توله پر ماقلنا دلالت کوي والله اعلم بالصواب.

فائده: هدی بعض مفسران ﷫ وايي جمع د هدية لکه جدی وجدية يا لکه تمر وتمرة، او بعض وايي چي هدی مصدر دی په معنا د مفعول ای المهدی ولذالک اطلق على المفرد والجمع او مراد دلته هغه حيوان دی چي مسلمان يې واستوي بيت الله شريفي ته گويا دا يوه هديه ده چي بنده يې خدای ﷻ ته استوي، او هديه د درو حيواناتو څخه روا ده، ادنی يې پسه دی او اوسط يې غويی دی او اعلى يې اوښ دی، او هر څه چي حيوان لوی وي هغه افضل دی او ابن عمر ﷺ وايي هدی خاص په بقره او بدنه سره ده، نو يو سړي ده ته وويل چي شاة نه دی کافي؟ ده ورته وويل يا.

مسئله: اکثره امامان رح وايي چي هر ځای چي محصر حصر سو هورې به هديه ذبح کوي، دوئ وايي چي عليه الصلوة والسلام او اصحاب کرام چي په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حدیبیه کې حصر سوه هدایا یې په حدیبیه ذبح کړې، او حدیبیه خو خارج د حرم ده او د احنافو مذهب دادی چې هدیه به محصر حرم ته استوي، او د هغه چا په لاس چې یې ورکوي یوه ورځ به د ذبح ورسره ټاکي چې هغه ورځ راسي او د محصر غالب ګمان داسي چې اوس به یې هدیه ذبح کړې وي نو دی به حلق یا تقصیر سره خان حلال کړي، کما سیناتي في الآیة الآتیة.

دلیل د مذهب زمونږ دا آیت دی ﴿ثم محلها الی البیت العتیق﴾ وقوله تعالی ﴿هدیا بالغ الکعبة﴾ او مونږ دا منو چې په کال د حدیبیه ذبح د هدیو په حدیبیه کې آنحضرت ﷺ او اصحابو ؓ وکړه، او دا نه منو چې ذبح د هدایاوو په حل کې تر سره سوه. مونږ وایو چې محصر د علیه الصلوة والسلام في طریق الحدیبیة اسفل مکة، والحدیبیة متصلة بالحرم نو د حدیبیه یوه حصه په حل کې او بله په حرم کې ده، ویدل علیه ماجاء في الحدیث چې اوطاقونه او خیمې د علیه السلام او د اصحابو ؓ په حل کې وې، او لمونځونه یې په مځکه کې د حرم کوله نو ذبح او نحر یې په مځکه کې د حرم تر سره کړي، قال الوسي ؒ وبه یجمع بین ماقال مالک ؒ وبین ماقال الزهري ؒ وهو ان رسول الله ﷺ نحر في الحرم وکون الروایة عن الزهري ؒ لیس بثابت في حیز المنع انتهی.

مسئله: اکثر ائمة رح وایي چې خدای ﷻ چې یوازې دلته هدیه ذکر کړه دا دلیل دی پر عدم قضاء ددغې عمرې، ولي که قضاء وایي نو خو ځای د بیان و خدای ﷻ به قضاء هم ذکر کړې وایي، او په نیز د حنفیانو ددغې عمرې قضاء پر سته ولي چې هغه بل وروسته کال علیه الصلوة والسلام او اصحابو ؓ د تېر کال د عمرې قضاء راوړه ولهذا تسمی تلک العمرة عمرة القضاء، او هغه چې دوئ وویل چې قضاء خدای ﷻ نه کړه ذکر مونږ وایو چې مقصود خو دلته بیان د خروج د محصر دی د احرام څخه لابیان کل ماوجب علیه هکذا قال صاحب روح المعاني.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي هغه حدیث چي مور وویل چي اوطاقونه الخ، هغه حدیث فقیه ابو جعفر طحاوي رحمه الله په شرح معاني الاثار کي دده په سند سره د مسور رضي الله عنه روایت داسي کړی دی، ان رسول الله ﷺ کان في الحدیبیة خبائه في الحل ومصلاه في الحرم آه.

فائده: په دې مباحثو کي یوازي بیت الله شریفه نه ده بلکه مراد ټوله د حرم مکي مځکه ده فلا یرد ما یتوهم المتوهم.

وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتّٰى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهٗ

او تاسي مه خریاست سرونه خپل کنایة عن الخروج من الاحرام والضمیر راجع الی المحصرین، تر هغو پوري چي هدیه رسېږي وخپل ځای ته.

درویش وایي: چي ځای د هدیه د رسېدو قبلاً آنفاً په تفصیل سره د اختلافه د مذاهبو ذکر سو.

درویش وایي: چي امام شافعي، امام مالک او امام احمد رح وایي چي پر محصر باندي قضاء نسته، او امام اعظم رحمه الله وایي قضاء پر سته کما نبذ من ذالک دوئ وایي کمامر که قضاء پر وایي نو خدای ﷻ به دوئ په قضاء سره امر کړي وایي وقد مر جواب عنه نقلا عن روح المعاني، او امام مظهري رحمه الله داسي یو معقول جواب ورکړی دی چي اداء د حج یا د عمرې پسله شروع واجب ده بالاجماع لقوله تعالی ﴿واتموا الحج والعمرة لله﴾ ولاحاجة لوجوب القضاء الی نص جدید، او دا آیت "فان احصرتم آه" خو صرف پر رخصت د تحلل بعذر الاحصار کوي نه پر سقوط د قضاء فلا یسقط القضاء، نو دا قول د بیضاوي شافعي المذهب اقتصاره تعالی في الآیة علی الهدی دلیل علی عدم القضاء صحیح نه دی لان وجوب القضاء مفروغ عنه کمامر آنفاً عن کلام المظهري رح فلهذا لم یظهر القضاء في الآیة، او سبط ابن الجوزي وایي چي دلیل د عدم وجوب القضاء دادی چي علیه الصلوة والسلام په سنه شپږ (۶) کي چي احرام د عمرې وتاړه دده مبارک سره څورلس صحابه کرام رض ملګري وه کمافي البخاري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ومسلم، او په عمرة القضاء کي په سنه اوه (۷) کي لږ کسان د علیه الصلوٰة والسلام سره ملګري وه، نو که قضاء واجبه وایي باید علیه السلام تولو د سنه شپږ ملګري خبر کړي وايي، او امام شافعي رحمه الله هم دغه دليل ته د ابن الجوزي رحمه الله اشاره کړې ده په دې قول سره قد علمنا من الاحاديث متواطئة انه ﷺ اذا اعتمر عمرة القضاء في العام القابل تخلف عنه بعض الصحابة من معتمري العام الماضي من غير ضرورة، ولو لزمهم القضاء لامرهم ﷺ بذالک

جواب: دا خبره چي په سنه اوه جمع يسير ملګري وه موږ يې نه سو منلای، او دا هم موږ نه منو چي عليه الصلوٰة والسلام صحابه کرام په قضاء نه دي امر کړي، کيف وقد روى الواقدي رحمه الله في المغازي عن جماعة من مشائخه چي څه وخت چي مياشت د ذو العقدة د سنه اوه راورسېدل امر النبي ﷺ اصحابه ﷺ ان يعتمروا قضاء لعمرتهم التي صدوا عنها فلم يتخلف عنه ﷺ الا من قتل بخيبر او مات وخرج معه ناس ممن لم يشهد الحديبية سنه (٦) وکان عداد من معه ﷺ الفين.

پوښتنه: واقدي رحمه الله خو محدثانو ضعيف ګڼلی دی؟

ځواب: ان خبر الواقدي رحمه الله في المغازي مقبول اذا لم يخالف الاخبار الصحيحة کذا قالوا، او جواب ددې قول د امام شافعي رحمه الله بان جماعة من الصحابة ﷺ ممن حضروا عام الحديبية سنه (٦) تخلفوا بغير عذر، يعني في سنه (۷) غير مقبول فمن تخلف عن الخروج لعله کان له عذر وليس القضاء واجب على الفور يعني في العام القابل ولعل من تخلفوا في العام القابل سنه (۷) قضوا عمرتهم بعد ذالک لانهم علموا ان القضاء بعد الشروع في الحج او العمرة واجب کمامر، مظهري، درويش

او موږ دا دليل هم لرو د حديث صحيح د حجاج بن عمر الانصاري ﷺ څخه چي روسول الله ﷺ وويل ﴿من عرج او کسر فقد حل وعليه الحج من قابل﴾

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي قائل بالفرق بین الحج والعمرة په دې مسئله کې د لزوم د قضاء هیڅ امام نسته، والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب

درویش وایي: چي په باب د احصار في الحج والعمرة او په باره کې د وضع د هدې د ذبح او په باب د اسبابو د احصار علی اختلاف المذاهب او ایراد د دلائلو د مذهب حنیفي په قدر د طاقت بیان مې اختصاراً وکړې ومعهذا ځای د بیان د تفاصیلو د حج او عمرې او د دلائلو ځای د بیان خو کتابونه د فقهي شریفې دي لکن د ضرورت د حل د مقام او د تفسیر د آیات، وارده في هذا المقام که څه بیان اوږد سو لکن عذر دی اعتراض د اطناب مه کوئ لانهم قالوا مالایدرک کله لایترک کله ومن الله التوفیق وبه الاعتصام.

فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيضًا أَوْ بِهٖٓ أَذًى مِّنْ رَّأْسِهٖ فَفِدْيَةٌ مِّنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ

او که څوک وي له تاسو څخه یعني اې محرمانو د حج یا د عمرې ناجوړې یعني داسې ناجوړې چي د سر د خریلو ته یې اړ کړي او یا یې په سر کې کوم تکلیف و، یعني داسې مریضې چي د سر حلق ته یې مجبور کړي لکه چي سر یې ډېرې شپږې کړې وي کما سیاتي، او بیا یې سر وخرییي، نو پر ده واجب ده فدیه، چي یا به روژې نسي درې، ولې چي اقل د جمع اصطلاحي درې دي او یا به صدقه ورکوي او یا یو حیوان چي اعلی یې اوښ دی او اوسط یې بقر دی او ادنی یې شات دی ذبح کوي.

مسئله: که یو محرم د مخیط جامې و اغوستلو ته او یا خوشبوئي ته مجبور سو، نو حکم یې مذکور في الآیة حکم دی.

مسئله: پیوسته درې روژې شرط نه دي لاطلاق النص.

پوه سه: چي صدقه چونکه مقدار یې نه دی معلوم په آیت کې او داسې لفظ ته په اصطلاح کې مجمل وایي، نو ددې اجمال بیان په حدیث کې د بخاري د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کعب بن عجره څخه راغلی دی هغه دادی چي علیه الصلوة والسلام (یعني په کال د حدیبیه کي) زه ولیدم چي شپږي مي پر مخ راتویدلې ، نو ده مبارک وویل چي دا شپږي تاته ازار درکوي یعني خندي په تکلیف یې، ماورته وویل هو! نو علیه الصلوة والسلام دی امر کړی چي سر دي وخریه. او دا علیه الصلوة والسلام او اصحابو کرامو ته نه وه معلومه چي موږ به تولله په حدیبیه کي خانونه حلال وو یعني په سبب د منع د قریشو د مکې بلکه هنوز ددوئ طمع وه چي موږ ته به گوندي قریش اجازه راکړي چي موږ عمره وکړو. نو خدای ﷻ د فدیې امر نازل کړی یعني په آیت مذکوره کي. نو علیه الصلوة والسلام کعب بن عجره امر کړی چي شپږو مسکینانو ته نیمه نیمه کاسه غنم یا یوه یوه کاسه خرما صدقه ورکړه یا پسه ذبح کړه او یا درې روژې ونسه.

پوه سه: چي په حدیث شریف کي دا خبره راغله چي د دوئ طمع وه آ. له دې سببه چي قریشو د مکې په هیڅ ډول نه سوه قانع چي علیه الصلوة والسلام په دغه سنه (۶) ودخول مکې ته پرېږدي چي دوئ عمره وکړي، بلکه صلحه پر دې وسوه چي آینده کال د ذو القعدة الحرام سنه (۷) به تاسي مکې ته د عمرې لپاره راځئ وقد مر بیان ذالک تفصیلا في آیة الاحصار عنقریب

فائده: هره فدیه چي پر محرم لازمه سي حتماً به یې په مکه کي ذبح کوي، سوی د دم الاحصار چي په هغه اختلاف عنقریب تېره سوه.

اعراب الآیة: الفاء للعطف علی ماقبله، وکلمة من موصولة او شرطیة وکان شرطه او صلته. ومریضاً خبر کان "ومنکم" حال منه ای کائنا منکم لانه کان صفة له فاذا قدم صار حالاً کماهو القانون النحوي، واذی عطف علی مریضا، وبه صفته ای الم کائن به ومن راسه بیان لاذی والمراد به القمل کمامر في حدیث کعب بن عجرة ﷺ او یا تپ وي په سر کي. او یا پر سر درد وي او یا نیم سری وي یعني هر هغه مرض چي محرم د سر خریلو ته مجبور کړي، او فدیه مرفوع علی الابتدائیه وخبره محذوف مقدم ای علیه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فدية او دا جمله جزاء ده من شرطيه او يا خبر ده د من موصوله. ومن صيام بيان للفدية مع ماعطف عليه.

فَإِذَا أَمِنتُمْ فَمَن تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ

او كه تاسي په امن كي واست يعني يا د اصل څخه په امن كي واست، او يا خوف د دښمن له منځه څخه ولاړى، او يا ناجوړي واست جوړ سواست، او په اخيرني دوو صورتونو كي دا شرط دى چي محرم به له احرامه ځان نه وي حلال كړى، نو هغه محرم چي نفعه واخلي په تقرب كي وخداى ﷻ ته په عمره سره يعني چي په اشهر د حج كي وي، الى الحج اى منضما الى الحج او په دغه كال كي نو دا آيت شامل تمتع او قران دواړو ته دي، نو پر ده واجبه ده هغه هديه چي ده ته اسانه وي لكه پسه.

پوه سه: چي دا هديه د شكر ده د تمتع يا د قران په يوه كال كي.

پوه سه: چي بعض مفسرين رح وايي چي څوک چي فائده واخلي پسله ځان خلاصولود عمري څخه په ممنوعاتو د احرام لكه سر پټول قميص او پرتوگ اغوستل حتى د ماينې په جماع سره وغيرها من المحظورات تر وخته د احرام په حج سره و حينئذ فلا يشمل الآية القران بلكه په تمتع شرعي پوري خاص دى، او مظهري رحمه الله پر دې تفسير دا سوال كړى دى چي پر دې تفسير لا معنى للباء في قوله بالعمرة ولي تمتع خو دغه سړي په محظوراتو د احرام واخستل په عمره سره خو يې تمتع نه ده اخستې، فقال في آخير السوال المذكور فالتاويل الاول اولى لفظا من اجل الباء ومعنى حيث يجب الآية المذكورة على القارن ان الهدى ايضا بالاجماع.

درويش وايي: چي علامه جلال الدين سيوطي رحمه الله د آيت ترجمه په دوهم تاويل سره كړې ده، حيث قال اى استمتع بمحظورات الاحرام بسبب فراغه من العمرة، او سليمان جمل رحمه الله داسي نوشته كړي دي اى انتفع وتلذذ وقوله بمحظورات الاحرام متعلق بتمتع آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي پر دې تقدیر متعلق د تمتع محذوف دی ای بمحظورات الاحرام او لفظ د باء لپاره د سببیت ده والمضاف محذوف ای بسبب اداء العمرة والتحلل منها ومعنی الی الحج داده چي دا تمتع په محظوراتو د احرام جاري وه تر احرام تړلو په حج سره، ولایخفی انه تکلف في العبادة ویلزم علی هذا ان وجوب الهدی علی القارن اما بالاجماع او بدلالة النص، ولهذا اورد البضاوي والآلوسي والبرسوي وغیرهم رح هذا التفسیر الثاني بلفظ قیل اشارة الی ضعفه ووجه ماقلت آنفاً فتامل وخذما صفا ودع ماکدر.

مسئله: پوه سه چي حضرت الامام الشافعي رحمه الله دا هدیې دم جبر بولي ولي چي پر حج کونکي دا واجب وه چي ده احرام د حج له میقات څخه تړلی وایي. نو ده چي له مکې څخه احرام وتاړه نو دده په حج کي خلل واقع سو، نو دا دم د هغه نقصان جبیره ده ومن هذا لایجب علی المکي لعدم وجوب الاحرام من المیقات علی المکي ومن فی حکمه ولایتعین له یوم النحر بل یستحب ولا یاکل منه. او د امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله او د امام احمد رحمه الله مذهب دادی چي دا هدیه دم شکر دی چي حاجي ته خدای ﷻ توفیق ورکړي چي جمع د حج او عمرې په یوه کال کي وکړي نو ده ته اکل روا دی. او دا دم لکه اضحیه دی چي د اختر په ورځ به یې حلالوي په حرم کي او ده ته یې اکل روا دی. د امام اعظم او امام احمد رح دلیل پر جواز د اکل د غوښو د هدیې د تمتع او د قران دادی چي سبط بن الجوزي د عبدالرحمن بن ابي حاتم په سنن کي دده د حدیث څخه د علي رضي الله عنه داسي نقل کړی دی چي زه علیه الصلوة والسلام امر کړم چي خیرات کړه غوښي د هدایا وو سوی ماناکل.

درویش وایي: چي دا تر ټولو صریح حدیث دی په جواز کي د اکل د غوښو د هدیې متمتع او قارن لره، او بل دلیل د ابو حنیفه رحمه الله دادی چي فقیه ابو جعفر الطحاوي رحمه الله چي اعلم الناس په مذهب د ابو حنیفه رحمه الله منل سوی دی په شرح کي د معاني الآثار په صحیح طریقه دا ثابته کړې ده چي آنحضرت ﷺ په حجة الوداع کي قارن و، اذا عرفت هذا فنرجع الی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حديث جابر ﷺ چي اوږد حديث دی، د هغه حديث په يوه برخه کي داسي راغلي دي ثم امر ﷺ يعني علي ؓ چي عليه السلام دی په خپلو هداياوو کي شريک گرځولی و، چي د هري بدني څخه دي يوه يوه ټوټه د غوښو جمع کړي، نو په يوه کټوي کي دي واچوي او نوري غوښي دي خيرات کړي، نو علي ؓ هم دغسي وکړه نو غوښي چي پخي سوې نو عليه الصلوٰة والسلام او علي ؓ د هغو غوښو څخه خوراک وکړی او ښوروا يې پسي وڅښل، نو ددې حديث څخه هم د اکل د غوښو د هدی القران جواز ثابت بلکه خوراک يې مستحب هم دی. لصدور الامر منه عليه الصلوٰة والسلام لعلي ؓ بجمع بضعة من كل الهدايا وطبخها في القدر.

درويش وايي: چي امام شافعي ؒ هم په دې باب کي دلائل لري او زموږ له طرفه جوابونه ورکړه سوي دي چي د تفصيل ځای يې کتابونه د فقه شريفي دي، وفي ماذكرنا كفاية والاطناب يوادي الى الملال.

مسئله: ذبح د هديې د تمتع د مخه تر ورځي د اختر نه ده روا، بلکه وروسته تر رمی د جمرة العقبة به يې ذبح کوي، وهذا مذهب ابي حنيفة والشافعي و احمد رح وقال بعض اهل العلم يجوز الذبح قبل يوم النحر ايضاً، زموږ دليل هغه حديث د حفصة بنت عمر ؓ دی ﴿قالت مايمنعك يارسول الله ﷺ ان تحل معنا قال اني اهديث ولبدت راسي ولا احل حتى انحر هديي﴾ نو كه ذبح قبل يوم النحر وقارن ته روا وايي نو ددې حديث به څه معنا وايي فتامل لانه دقيق، والله الموفق والمعين.

فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ فِى الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ اِذَا رَجَعْتُمْ ؕ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ؕ

او كه چا يعني متمتع يا قارن هدي يې نه درلوده يعني طاقت مالي د هدي يې نه و، نو پر ده واجب دي درې روژې په حج کي يعني په وخت کي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د احرام الحج چي اخيري ورځ به يې د عرفات وي، او كه دغه سړي له مخه تر دغو ورځو روژې په احرام كي ونيولې اجماعاً روا دي، او كه يې وروسته تر عرفات دا درې روژې شروع كړې نه دي روا، يو له دې سببه چي احرام خو بالا نسته، او بل دا چي روژه د ورځي د اختر او د ايام د تشريق خو حرامې دي فكيف يتادى به الواجب كذا في المظهري، او اوه روژې به بيا هلته ونسي چي تاسي رجوع وكړئ يعني له افعالو څخه د حج فارغه سئ.

پوه سه: چي امام ابو حنيفه رحمه الله او احمد رحمه الله د "اذا رجعتم" ترجمه داسي كړې ده "اذا فرغتم من افعال الحج" يعني تاسي د افعالو څخه د حج فارغه سواست يعني كه څه هم هنوز تاسي په مكه مكرمه كي ياست، او د امام مالک رحمه الله مذهب دادي، او ترجمه د آيت داسي كړې ده اى خرجتم من مكة قاصدين او طانكم، يعني په مكه مكرمه كي دغه اوه روژې نيول امام مالک روا نه بولي، او مشهور مذهب د امام شافعي رحمه الله چي يو روايت د امام احمد رحمه الله هم دی چي معنا د اذا رجعتم داده چي تاسي خپلو وطنو ته ورسېږي نو به هورې دا اوه روژې به نسي، نو ددوئ په نېز دا اوه روژې نه په مكه كي روا دي او نه قبل الوصول الى الوطن روا دي.

پوه سه: چي امام اعظم رحمه الله وايي چي رجوع په معنا د فراغ عن افعال الحج ددې سببه ده چي متمتع يا قارن كه نيت د اقامت په مكه مكرمه كي وكړي او يا دا سړی خپل وطن نه لري هغه ته دا اوه روژې په مكه مكرمه كي اجماعا روا دي فكذا من كان له وطن غير مكة لئلا يلزم الجمع بين الحقيقة والمجاز كذا قال المظهري.

فائده: په درو روژو كي او داغه رنگه په اوه روژو كي تتابع نه ده شرط تفرق هم روا دی.

فائده: چونكه فراغ د افعالو د حج څخه غالباً سبب د رجوع الى الوطن دی نو ځكه امام اعظم رحمه الله وايي چي په ايت شريف كي ذكر مسبب دی او مراد څني سبب دی.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فائده: تلک اشاره په آیت شریف کې و درو او اوو روژو ته ده.

پوښتنه: هر سړی په دې پوهېږي چې درې او اوه لس دي نو د عشرة څه فائده ده؟

ځواب: فائده يې دفع د توهم ددې ده چې کلمه د واو عاطفه په معنا د او عاطفه به وي، كما في قوله تعالى "وثلث وربع" او بله فائده يې داده چې دوه علمه تر يوه علم بې دي، نو دلته خدای ﷻ دا دوه عدده يو وار تفصيلاً ذکر کړه او بيا يې اجمالاً.

فائده: كاملة صفت مؤكد دی د عشرة، ولي نحات وايي چې صفت گاهي لپاره د تاكيد وي كه موصوف معنا د وصف وركوله. نحو الهين اثنين، او دا تاكيد دوئ هلته كوي چې حكم مؤكد مهتم بالشان وي تاچې څوک تساهل پکښې ونه کړي وههنا كذالک يعني رعايت د لسو روژو د مهماتو څخه دی بايد څوک تكاسل او تساهل پکښې ونه کړي، فاحفظ هذه الفائدة السنية تنفعک في مواضع شتى.

مسئله: كه متمتع يا قارن چې د مخه يې قدرت د هديې نه درلودی او په هغو درو روژو يې شروع كړې وه، په منځ كې د روژو قادر سو پر هديې باندې، يعني يو شناخته د هديې روپۍ وركړې مثلاً، او وروسته تر درو روژو د مخه تر حلق الراس، نو پر ده هديه لازمه ده چې ذبح كوي به يې خلافاً للشافعي واحمد ومالک رح، موږ وايو چې دا حاجي قادر سو پر اصل باندې د مخه تر دې چې په خلف يعني په روژو ده ځان حلال كړی وايي، نو خلافت د روژو لغو سو، لكه يو سړی چې فاقد الماء وي او تيمم وكړي او د لمانځه په منځ كې اوبه پيدا كړي. نو د هغه حكم خو اتفاقاً دادی چې تيمم يې لغوه سو اودس په تازه كوي او لمونځ به د سره شروع كوي. او كه حاجي مذكور درې روژې پوره كړې او حلق يې هم وكړی او بيا قادر سو پر هديې نو ذبح د هديې نه ده پر واجب باتفاق الائمة الاربعة رحمهم الله. مثال يې دادی لكه فاقد الماء، چې تيمم وكړي او لمونځ په هغه تيمم هم اداء كړي وروسته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او به پیدا کړي نو او دس او راګرځول د لمانځه نه دی پر واجب اتفاقا.

مسئله: که فاقد القدرة د هديې درې روژې نه ونيولې، نو دم يعني هدي پر واجب ده د هري خوا چي يې کوي عند الحنفية ﷫، او امام شافعي او امام مالک رح وايي چي ددغو درو روژو دي قضاء راوړي وروسته تر حج، دوئ وايي چي دا خو قضاء ده په مثل معقول سره، او فقهاء رح وايي چي قضاء په مثل معقول سره نص جديد نه غواړي. موږ وايو چي دغه درې روژې خو بدلي د هديې وې، او فقهاء دا هم وايي چي نصب د ابدالو په رايه سره نه دی روا فتامل في الفرق بين قولی الفقهاء لئلا تقع في الخطاء المبين

ذٰلِكَ لِمَنْ لَّمْ يَكُنْ اَهْلُهٗ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ

دغه يعني تمتع د هغه چا لپاره روا ده چي کور يې په مسجد حرام يعني په مکه مکرمه کي نه وي، نو پر دې تقدير مکي سړي ته تمتع نه ده روا. وهذا مذهب ابي حنيفة ﷫، او امام شافعي او امام مالک او امام احمد رح وايي چي مکي ته خو تمتع روا ده لکن هديه نه ده پر واجب، دوئ وايي چي اشاره په ذالک سره وجوب الهدی ته ده پر متمتع باندي، موږ وايو چي "لام" له "لمن" کي استعمال يې په هغه کي کېږي چي موږ ته جائز وي نو تقدير د آيت دادی ذالک يجوز لمن آه، نو هرو مرو به اشاره وتمتع ته وي، او که اشاره و وجوب ته د هديې وايي نو مناسبه کلمه د "علی" وه يعني ذالک علی من آه ای وجوب الهدی علی من آه.

دا دليل زموږ د عربيت د لاري و، او د حديثو د لاري زموږ دليل دادی، چي د حنيفيانو رح تاويل د عمر بن الخطاب او دده د زوئ عبدالله بن عمر او د عبدالله بن عباس ﷺ څخه روايت دی، چنانچه امام بخاري ﷫ په خپل کتاب کي د ابن عمر ﷺ داسي روايت کړی دی "انه" ای عبدالله بن عمر "سئل" دده څخه چا پوښتنه وکړه "عن متعة الحج" د تمتع څخه د حج "فقال ان الله انزله في کتابه" ابن عمر ﷺ وويل چي تمتع خدای ﷻ پخپل کتاب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قرآن کي نازله کړې ده قال الله ﷻ ﴿ذالک لمن لم یکن اهله حاضري المسجد الحرام﴾ نو ددې دلیل ځخه د ابن عمر ﷺ دا معلومه سوه چي ابن عمر ﷺ ذالک اشاره بولي تمتع ته کماهو مذهب الحنفیة ﷺ او وروسته یې په حدیث کي داسي ویلي دي "وسنه نبیه" او مشروع ګرځولې ده یعني تمتع نبي د خدای ﷺ "واباحه للناس غیر اهل مکة" او مباح ګرځولې ده نبي د خدای ﷺ تمتع وخلګو ته غیر د اهل مکې.

فائده: اهل د سړي هغه خاص قریبان د سړي دي او ذکر د اهل یې له دي سببه وکړی چي سړی غالباً هلته وسېږي چي اهل دده هلته وي. نو له سکونت ځخه د اهل مراد سکونت دده دی.

تفریع: هغه چا ته هم شامل سو چي مجرد وي یعني بې قریبانو وي او په مکه مکرمه کي اوسېږي.

فائده: حاضري المسجد الحرام په نېز د ابو حنیفه ﷺ هغه کسان دي چي کور یې داخل المواقیت وي نو دغسي سړي ته نه تمتع روا ده او نه قران.

مسئله: که داخل المواقیت سړی تمتع یا قران وکړي پر هغه باندي دم د جنایت واجب دی، او دوئ به خوراک نه ځندي کوي کماهو القانون في دم الجنایة.

تفریع: داخل المواقیت خلګ باید عمره په غیر کي د اشهر الحج وکړي او اشهر الحج خالص د حج افراد لپاره وګرځوي لعدم الضرورة لهم في العمرة في تلک الاشهر بخلاف الآفاقي لانه عسی ان لاتیسر لهم العمرة في غیر اشهر الحج فاجاز الشرع له التمتع والقران.

فائده: دم د افاقي دم د شکریې دی پر دوه نعمته د عمري او د حج. نو دی پخپله خوراک ځندي کولای سي کمامر تفصیله ودلیله فتذکر، او په نېز د امام شافعي ﷺ حاضری المسجد الحرام هغه کسان دي چي کم د مسافت د قصر د لمانځه یې کور وي، او بعض علماء وایي چي چونکه د مسجد حرام ځخه خو فقط مسجد نه دی مراد اجماعا، نو قریب ومسجد

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

الحرام ته حرم مکي دی وبه قال طاوس رحمه الله وغیره، او امام مالک او نافع او د احنافو څخه الطحاوي رح وایي چي مراد د حاضری المسجد الحرام څخه فقط اهل مکه دي والعلم عند الله.

وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿١٩٦﴾

او د خدای ﷻ څخه ببریږئ، یعني اوامر یې پر ځای کوئ او د منهیاتو څخه یې پرهېز کوئ خصوصا في افعال الحج والعمرة، او دغه خصوصیت کافي دی په ربط کي ددې آیت له ماقبله سره، او په دې هم پوه سئ چي خدای ﷻ سخت دی عذاب ده، یعني هغه چاله چي عصیان وکړي په ترک د اوامرو د خدای ﷻ او یا په ارتکاب د معاصي وو، قال السعدي الشیرازي قدس سره

مرو زیر بار گنه ای پسر | که حمال عاجز بود در سفر
تو پیش از عقوبت در عفو کوب | که سودی نه دارد فغان زیر چوب

پوه سه: چي تمام الحج کما یکون بالفراغ عن مناسکه وافعاله بحسب الظاهر کذالک یجب علی الحاج اتمام الحج بسبب توجه قلبه الی الله ﷻ بشرا شره حتی ینور قلبه بانواره ولایکون هذا الا باخذ البیعة من العالم المتشرع لا ممن جعل الطریقة وسیلة الی اخذ اموال الناس وجمع حطام الدنیا، او لاجل طلب الجاه والجلال کماهو المعتاد في هذا الزمان في بعض المتصوفة. قال بایزید البسطامي قدس سره لایجوز اخذ الطریقة الا ممن قدامه التفسیر وعن یمینه الحدیث وعن شماله الفقه یعني یکون عالما بهذه العلوم الثلثة.

درویش وایي: چي صاحب د روح البیان رحمه الله د مالک بن دینار رحمه الله څخه یوه دلسوزه واقعه نقل کړې ده چي الفاظ عربیه ډېر زیبا دي، او درویش دومره زیبا کلمات دلسوزه په پښتو ژبه کي نه سي پیدا کولای، نو ښکه دي سامعان و هغه عربي عبارت ته غور ونسي.

قال مالک بن دینار رحمه الله خرجت الی مکة حاجا فرئیت في الطریق شابا اذا جن علیه اللیل رفع وجهه الی السماء وقال یا من تسره الطاعات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولاتضره المعاصي هب لي مایسرک، واغفرلي مالایضرک فلما احرم الناس ولبوا، قلت له لم لاتلبی فقال یاشیخ وما تغني التلبیة عن الذنوب المتقدمة والجرائم المکتوبة والمعاصي السالفة اخشی ان اقول لبیک، فیقال لي لالبیک ولاسعدیک، لا اسمع کلامک ولا انظر الیک ثم مضی فما رئیت الا بمنی یعني حیث ذبح للناس الحجاج الهدایا. وهو یقول اللهم اغفرلي ذنوبي کلها، ویقول اللهم ان الناس قد ذبحوا وتقربوا الیک بالهدایا ولیس لي شیئ اتقرب به الیک سوی نفسي فتقبلهامني ثم شهق شهقة وخر میتاً غفرله الله بلفظه وکرمه واخلاصه العظیم في خبابک. محصول الآیات

درویش وایي: چي خدای ﷻ لره دي حمد او ثناء وي چي موږ مسلمانانو لره یې درې قسمه اعمال لپاره د طهارت الذنوب په دغو آیاتو کي ذکر کړه یعني حج عمره مجتمعا وهو المراد بالتمتع في الآیات المتلوة، وروسته په سنت نبوي ﷺ سره دا خبره ثابته ده چي جمع د حج او عمرې پر دوه قسمه ده یو دادی چي د میقات څخه د دواړو احرام وتړي او بیا یو ځای د دواړو څخه ځان حلال کړي وهو القران في العرف الشرعي، او بل قسم جمع داده چي اول احرام په عمره سره وتړي او افعال د عمرې چي یې وکړه ځان حلال کړي او داغسي حلال وه اوسېږي په مکه مکرمه کي او د اتم په ورځ د مکې څخه احرام د یوازي حج وتړي، او په ورځ د اختر ځان حلال کړي په نیز د فقهاؤ رح ودې ته تمتع وایي لکن ددې قسم اجتماع لپاره شرط دادی چي هدیه بې نه وي د ځان سره راوستلې، او بل قسم دادی چي اولاً د میقات څخه یوازي د حج نیت وکړي هغه لکه قارن د اختر په ورځ به ځان حلالوي او دا درې سره په اجماع روا دي هیڅ خلاف نسته پکښې، اختلاف په دې کي دی چي کوم قسم یې افضل دی، او په دې کي اختلاف دی چي علیه الصلوة والسلام په حجة الوداع کي قارن و، او که متمع و او یا مفرد حج یې و.

سوال: که علیه الصلوة والسلام متمتع وایي نو ځان یې ولي نه کړی حلال پسله اداء څخه د افعالو د عمرې؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: مانع د تحلل يې هدايا وې چې دده سره ورسره وې كمامر آنفاً.

درويش وايي: چې تحقيق ددې خبرو خو په احاديثو مباركه وو كې دی، او يا په كتابو كې د فقهي شريفي، او بل اختلاف په دې كې دی چې كوم يو ددغو درو حجو ښخه افضل دی. والتحقيق هذا چې عليه الصلوٰة والسلام په حجة الوداع كې قارن و، او قران چې سره د د سوق الهدی وي افضل دی تر تمتع او كه هدي نه وه ورسره نو تمتع افضله ده، او قران او تمتع افضل دي تر حج مفرد.

درويش وايي: چې په دې مذكور افضليت بعض فقهاؤ د احنافو رح قول كړی دی، او بعض فقهاء رح وايي چې قران مطلقا كه هدي ورسره وي او كه نه افضل دی تر تمتع. ولې چې په قران كې مشقت ډېر دی تر تمتع. كما لايخفى او بل سبب دادی چې د قارن حج مكي نه دی بخلاف المتمتع.

اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ

بعض مفسران رح وايي چې معنا د آيت داده وقت الحج اشهر آه او بعض وايي چې وخت د احرام د حج اشهر آه وهو الاظهر عند الشافعي رحمه الله ولې چې وخت د اداء د اركانو د حج فقط يوم العرفة او يوم النحر ده.

پوه سه: چې د اشهر ښخه مراد د شوال مياشت او دمياني مياشت او نه ورځې د لوی اختر د مياشتي الى طلوع الفجر من يوم النحر، او د ابن عمر رضي الله عنه ښخه روايت دی چې لس ورځې د ذو الحجة دي په هر صورت مضاف محذوف دی، يا يو مضاف او يا دوه مضافه كما اشرنا اليه.

پوښتنه: كه مراد له جمع ښخه جمع لغوي وي خو اطلاق د لفظ د اشهر پر دوو مياشتو او لس شپو صحيح دی او كه جمع اصطلاحي وي نو اقل د جمع قلة خو دوی دي.

ځواب: په دې ځای كې بعضو لس ورځې په ځای كې د كل مياشتي شمېرلي دي، او معنا د معلومات داده چې دغه مياشتي قبل الشرع الشريف عربوته معلومې وې او شريعت پاك يې تقرير وكړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي فايده د تعين د حج په دغو اشهرو سره داده چي هيڅ شى د افعالو څخه د حج بېله دغو مياشتو نه دى روا، او احرام د حج كه څه هم تر دغو درو مياشتو د مخه روا دى په نيز د امام اعظم رحمه الله لكن مكروه دى حاصل دادى چي د امام اعظم رحمه الله په نيز احرام ركن حج نه دى بلكه شرط يې دى نو تقديم يې روا دى كتقديم الطهارة على اداء الصلوة. وما قلنا سابقا ان المراد وقت احرامه وهو الاظهر فهو مذهب الشافعي رحمه الله واما عند ابي حنيفة رحمه الله فلا يجوز حذف المضافين اى وقت احرامه لان وقت احرامه هو جميع اشهر السنة لقوله تعالى ﴿يسئلونك عن الاهلة كلها قل هي مواقيت للناس والحج فجعل الله سبحانه الاهلة كلها مواقيت للحج وهذا معلوم اجماعا ان الاهلة كلها ليست مواقيت لصحة اداء الحج فتعين ان الاهلة كلها مواقيت لصحة احرام الحج كذا في حواشي ابن الشيخ رحمه الله

فائده: د مضاف اول يعني وقت الحج بله فائده داده چي حمل د حج پر اشهر صحيح سي ولي چي حج خو افعال مخصوصه دى او اشهر مياشتي يعني زمانه ده نو څرنگه به حج عين زمانه سي.

فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ

نو كه چا واجب او لازم كړى پر ځان باندي په دغو مياشتو كي حج يعني يعني احرام په حج يې وتاړه.

سوال: احرام څه شى دى؟

ځواب: امام مالك، امام احمد، او امام شافعي رحمهم الله وايي چي احرام مطلق نيت د زړه دى لكه په روژه كي، او په احرام كي تلبيه شرط نه ده لكن مالك رحمه الله وايي چي تلبيه واجبه ده په وخت كي د احرام نو كه چا پرېښوله دم پر لازم دى، او مشهوره مذهب د امام احمد او شافعي رح دادى چي تلبيه سنت ده، او امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله وايي چي احرام تلبيه ده سره له نيته. لكه تكبير افتتاح د لمانځه سره له نيته، زمونږ دليل دادى چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حج خو عقد د زړه دی پر منع د محظوراتو څخه د حج لکه لمونځ چي عقد د زړه دی پر منع د محظوراتو څخه د لمانځه فلابد من ذکر کتکبیر الافتتاح في الصلوة لکن چونکه حج تر لمانځه فراخه دی نو په حج کي خصوص ده لبیک اللهم آه. لازم او واجب او شرط نه دی بلکه مطلق یو ذکر چي دال پر تعظیم د خدای ﷻ وي، که عربي او که فارسي وي، او یا یو فعل دال پر تعظیم لکه سوق الهدی شرط او کافي دی، او بل دلیل زمونږ د مذهب دادی چي ابن عباس رضي الله عنه په تاویل کي ددي آیت وایي فرض الحج ای رفع الصوت بالتلبیة. وقال ابن عمر رضي الله عنه فرض الحج التلبیة، او د نیت فرضیت خو په هر عبادت کي معلوم دی لیمتاز العبادة عن العادة.

فائده: امام شافعي رحمه الله وغیره دا آیت ددې دلیل بولي چي احرام بالحج نه دی مگر په دغو میاشتو کي کماهو قول ابن عباس رضي الله عنه وعطاء رحمه الله وغیرهما. وجه الاستدلال داده دوی وایي چي که احرام د حج په غیر کي ددې میاشتو روا وي لکه حنفیه رحمهم الله چي وایي نو د لفظ فیهن به څه فائده وایي؟

ځواب: موږ وایو چي فائده د فیهن داده چي دغه میاشتي دي د اعمالو د حج کمامر لکن که څوک احرام د حج تر دغو میاشتو د مخه وتړي نو احرام خو صحیح دی مع الکراهة وقد مر نبذ من هذا التفصیل عنقریب.

فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ

نو نسته رفث.

پوه سه: چي دا درې کلمې ظاهرا نفي دي په معنا د نهي دي ای لاترفثوا، ولا تفسقوا ولاتجادلوا، زجاج رحمه الله وایي چي رفث کلمه جامعه ده لکل مایرید الرجال من النساء. او ډېر مفسران رح وایي چي رفث په معنا د جماع دی او دواعي د جماعو لکه مچه اخستل د ماینې څخه او یا یې په غېږ کي کنېکښل، او بعض مفسران رح چي ترجمه د رفث یې په قول فحش سره کړې ده. مظهري رحمه الله پر هغه دا سوال کړی دی چي دا خو مطلقا حرام دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په احرام او په حج پورې څه تعلق لري؟ برسوي او آلوسي رح د هغه په ځواب کې وايي چې دا که څه هم واجب الاجتناب دی في كل حال لكن په حج کې چې مقصود خندي تقرب الى الله دی افحش او اقبح دی كلبس الحرير في الصلوة للرجال، والتطريب في القرآن بحيث تخرج الحروف القرآنية عن مخارجها وهيئاتها.

درويش وايي: چې دغه رنګه مظهري رحمه الله تفسير د فسوق او جدال په هغه اقوالو او افعالو سره کړی دی چې حرمت يې د حج سره خصوصيت لري او الوسي او برسوي يې عام تفسير کړی دی، والسوال والسوال يعني مامر من جانب المظهري رحمه الله والجواب الجواب يعني من جانب المفسرين المذكورين رح.

يوه سه: چې رفث که څه هم په فسوق کې داخل دی لكن خدای جل جلاله ذکر کړی لشدة الاهتمام بشأن الرفث، ولې چې رفث په معنا د جماع هر يو د حج او د عمرې فاسدوي بالاجماع بخلاف غيره من محظورات الاحرام ولې چې هغه حج نه فاسدوي بلکه دم لازموي كما في كتب الفقه.

مسئله: که حاجي جماع وکړه قبل الوقوف بعرفة حج يې فاسد سو بالاجماع، او که يې بعد الوقوف بالعرفة وکړې په افساد کې د حج يې خلاف دی ولاخلاف في حرمته.

پوښتنه: مونږ ولې الفاظ ثلثة چې ظاهر معنا يې نفي ده په نهي سره وکړه؟

ځواب: که نفي پر خپل ظاهر باندې پاته سي خلف او كذب په كلام الهي لازميږي ولې دا مذكوره افعال خو د حاجيانو څخه ډېر ځله واقع کېږي.

پوښتنه: حكمت د تعبير په نفي سره څه دی؟

ځواب: د معاني وو په کتابو کې وايي چې فائده او حكمت يې مبالغه في النهي ده يعني ګويا چې منهي مبادرت وکړي و امتثال ته د نهي اوس ناهي اخبار خندي کوي كذا في المطول وغيره.

يوه سه: چې محظوارت د احرام قرار ذيل دي (۱) رفث (۲) دواعي الجماع (۳) قتل د صيد البر (۴) واشاره وصيد ته کول (۵) رهنمايي د صيد کول چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دلالت یې بولي، کما قال الله تعالی ﴿ولاتلقوا الصید وانتم حرم﴾ (۶) خریل یا غچي کول د وېښتیانو (۷) پرې کول د نوکانو، قال الله تعالی ﴿ولاتحلقوا رؤسکم حتی یبلغ الهدی محله﴾ (۸) قتل د سپږې چې د بدن خیري څخه پیدا کېږي، او دا متعلق په قطع الشعر پوري دي (۹) خوشبویي لګول دي پر جامه یا بدن باندې، قال رسول الله ﷺ ﴿لاتلبسوا شیئا مسه زعفران او ورس﴾ بخاري ومسلم، چونکه دا دوه خوشبویه وه نو نوري خوشبوی ګانې پر قیاس دي.

پوه سه: چې دا مذکوره افعال عام دي ښځي او نر دواړو ته شامل دي، او بعض په نرو پوري خاص دي (۱۰) ګنډلې جامه اغوستل هره جامه چې وي (۱۱) ګوتپونه او موزې په پښو کول، لکن که حاجي چپلکي نه درلودې او یا لنګ یې نه درلودی نو موزې دي په پښو کي لکن د بجلکو لاندي دې پرې کړي، او یا دي پرتوګ سره څيري کړي او لنګ دي څنډي جوړې کړي کذا جاء في الحدیث متفق علیه، لکن اخطاء بعض المفسرین في عدم ذکر قطع الخفین (۱۲) پټول د سر (۱۳) پټول د مخ د محظوراتو څخه د نر او ښځي دواړو دي په نېز د امام ابو حنیفه ومالک رح، او امام شافعي او احمد رح وايي چې پټول د مخ یوازې د محظوراتو څخه د ښځو دی، والتفصیل والدلائل في کتب الفقه وشروح کتب الاحادیث المفصلة مظ، در.

پوه سه: چې د جدال تفسیر آلوسي او برسوي په جنګ وجدل د انډیوالانو سره یا د خادمانو سره یا کرایه کشانو سره کړی دی وهو الصحیح والمذکور في کتب الفقه، او بعض مفسرانو رح تفسیر په خصوماتو سره د اهل جاهلیت یو له بله سره په افعالو کي د حج او یا په مواقفو کي د حج کړی دی.

درویش وايي: چې بحث او آیاتونه د قرآن خو په حج کي د مسلمانانو نازل دي نو خصوصیات د اهل جاهلیت دلته څه کار لري.

وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللَّهُ

او هر څه چې تاسي وکړئ له عمل څخه د خیر که مالي وي او که اخلاقي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وي او که بدني خدای ﷻ په هغه خبر دی یعني پر هغه خیر به خدای ﷻ ثوابونه درکړي.

پوه سه: چي خدای ﷻ په تېرو آیاتو مسلمانان نهي کړي د درو معاصیو څخه او په دې آیت کي يې ترغیب ورکړی دی وټولو کارو ته د خیر یعني الطاعات، نو ددې آیت حاصل بحث او مباحثه کول دي د خیر پر کارو وروسته تر نهي د شر له کارو څخه فیدخل فیه استعمال الکلام الحسن مقام القبیح والتقوی مقام الفسوق والاخلاق الجمیلة والوفاق مکان الجدال کما في الآیات السابقة.

وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَىٰ

او تاسي چي حج ته ځی نفقه د سفر درسره اخلئ، ولي چي د نفقې خیر او فائده خان ساتنه ده له سوال څخه.

پوه سه: چي بخاري ﷫ د ابن عباس ﷺ څخه روایت کړی دی چي د اهل یمن عادت داوو چي حج ته به تله نو به يې د سفر نفقه او خرځ نه ورسره اخستی او دوئ به ویل چي موږ متوکلون علی الله یو نو چي مکې ته به ورغله پر خلګو به يې سوال کاوه، او خلګ به يې په سوال کولو سره ډېر تنګول نو دا آیت نازل سو.

پوه سه: چي انسان دوه سفره لري یو سفر دی په دنیا کي له یوه ځایه وبل ځای ته لکه په مانحن فیه سفر د وطن څخه وبیت الله شریف ته نو ددې سفر لپاره خدای ﷻ موږ امر کړي یو په زاد سره یعني طعام او مشروب او مرکب او بل سفر دی له دنیا څخه و اخرت ته نو د هغه لپاره څرنګه زاد به ضروري نه وي ددې سفر زاد معرفت الهی دی او طاعات او پرهېز د معاصیو څخه او دا زاد بهتر دی تر زاد د سفر في الدنیا ولي سفر په دنیا کي موقت دی او تکالیف يې هم چند روزه دی، او سفر له دنیا څخه و اخرت ته ماٴبد دی او تکالیف يې هم ډېر شاقه دی، اعاذ الله جمیع المؤمنین وایانا عن التکالیف بجمیع اقسامه في یوم القیامة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَ اتَّقُوْنِ یٰۤاُولِی الْاَلْبَابِ ﴿۱۹۷﴾

او له ما څخه وبېرېږئ ای خاوندانو د عقلو.

پوه سه: چي کسره د نون دال پر یای محذوفه ده. وانما خص اولی الالباب بالذکر لان مقتضی العقل ان یخشی صاحبه من ربه الغالب القادر علی مایشاء کیف یشاء.

مسئله: پیاده تګ بیت الله شریفي ته اولی دی، او که پیاده تګ سړی ضعیفه کاوه او سوء خلق ته مفضي کېدی او یا په افعالو کي د حج یې قصور پیدا کاوه بیا رکوب افضل دی لکه روژه د مسافر او مریض افضل ده که ضعف او سوء خلق ته نه مفضي کېدی.

درویش وایي: چي واوری نصیحت د سعدي شیرازي رحمه الله

از من بگوی حاجي مردم گزاري را	کو پوستین خلق بازار میدرد
حاجي تونیستی شتر است برای انکه	بیچاره خار میخورد وبار میبرد

حاصل دا چي حاجي دوه قسمه دی حاجي مغفور دی چي حج یې مبرور وي، یعني د ټولو محظوراتو مفسده او مکروه وو څخه خلاص وي او بل حاجي عقور دی چي په حج کي کي یې مردم ازاري کړې وي.

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ

او نسته پر تاسي ګناه چي تاسي طلب کوئ د رزق د خدای ﷻ څخه ستاسي یعني بالتجارة في مواسم الحج. بخاري رحمه الله د ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چي په جاهلیت کي به حاجیانو تجارت په کښي کاوه درې خایه وه، عکاظ وذو المجاز ومجنة، نو اسلام چي منځ ته راغلی د مسلمانانو په خیال ددغو بازارو تجارت په مواسم کي د حج حرج او ګناه بلله، في مواسم الحج وعند القراء السبعة هذه العبارة منسوخة التلاوة یعني في مواسم الحج.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: د فرضي حج غاړي د حاجي خلاصېږي هر څونده تجارت چي وکړي، او که حج نفلي و نو که مقصود بالذات د حاجي حج و او ضمنا وبالتبع يې بعض تجارت هم کاوه ثواب د حج يې پر خاى دى، او که يې اصل مقصود تجارت و، يعني که دا تجارت نه وايي حج ته به تلى نو ثواب د حج يې نسته بلکه ثواب د سفر الحج يې ربح في التجارة فقط.

فَإِذَآ أَفَضۡتُم مِّنۡ عَرَفَٰتٖ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ عِندَ ٱلۡمَشۡعَرِ ٱلۡحَرَامِۖ وَٱذۡكُرُوهُ كَمَا هَدَىٰكُمۡ وَإِن كُنتُم مِّن قَبۡلِهِۦ لَمِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿١٩٨﴾

او چي تاسي په اجتماعي صورت راکښته سى له عرفات څخه نو ذکر د خداى ﷻ کوى په نبز د مشعر الحرام، او تاسي ذکر د خداى ﷻ کوى لکه چي خداى ﷻ د هغه هدايت وتاسي ته کړى دى که څه هم تاسي واست له مخه تر ښووني د خداى ﷻ د گمراهانو جاهلانو مشرکانو څخه، او بعض مفسران وايي چي کلمه د ان مخفف د مثقله څخه ده يعني وانكم كنتم آه، په قرينه ددې چي په خبر کي لام راغلى دى ولي چي لام فارق دى په منځ کي د ان متصله او ان مخففه وهذا الراى اختاره البرسوي والآلوسي والمظهري رحمهم الله.

فائده: همزه د افضتم لپاره د تعديه دى والمفعول محذوف اى دفعتم انفسكم له عرفات څخه بعد غروب الشمس ورجعتم بعد الوقوف بها.

درویش وايي: چي مظهري رحمه الله په متابعت د بيضاوي رحمه الله وايي چي عرفات جمع د عرفة ده او برسوي رحمه الله وايي چي عرفات علم او نوم دى د موقف معروف او حقيقة جمع نه ده بلکه د قبيله څخه د مازيدت حروفه لزيادة معناه ليدل على المبالغة في المعرفة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي قول د بيضاوي او مظهري رح فراء رحمه الله رد كړى دى چي لفظ د عرفة عربي محض نه دى.

سوال: څرنګه به صحيح وي قول د فراء وقد ورد في الحديث الحج عرفة

ځواب: مراد په حديث مذكور كي نهمه ورځ د ذو الحجة ده لا الموقف المعروف، وانكر الفراء استعماله في المكان جدا وقد نبه عليه شروح البخاري، وقال صاحب روح المعاني چي عرفات اسم دى يعني مفرد في اللفظ لا الجمع، وقال وقول الناس نزلنا بعرفة شبيه بالمولد وليس بعربي محض.

درويش وايي: ددې قول د روح المعاني چي په حديث مذكور كي مراد يوم تاسع د ذو الحجة ده تائيد كوي ماصرح به الراغب اللغوي والكرماني والبغوي. والعجب من المظهري كيف تركب متابقة البغوي مع ان جميع تفسيره مبني على روايات البغوي رحمه الله كما هو الظاهر لمن طالع تفسير المظهري.

پوه سه: چي الوسي رحمه الله وايي چي چونكه په حديث مذكور كي يعني الحج عرفة بعض اهل اللغة لكه صاحب د شمس العلوم اشتباه كړې ده چي مراد په حديث كي به مكان وي، نو ځكه دى وايي چي عرفات جمع د عرفة دى، او شمس العلوم والا وايي چي جمعيت د عرفات په اعتبار ددې دى چي هر جزء ته د مكان مذكور يې د عرفه نوم وركړى دى. قال العلامه البغدادى رحمه الله وانما نون وكسر مع ان فيه العلمية والتانيث يعني د عرفات ولفظ ته يې تنوين وركړى او مكسور يې هم كړى، او سره له دې چي د عرفات په لفظ كي خو علميت او تانيث دواړه موجود دي نو بايد غير منصرف وايي ولي چي دوې علامې د غير انصراف پكښې سته كما عرف في النحو وقد تقرر في النحو ان غير المنصرف لايقبل التنوين والكسر لان التنوين جمع الموئث في مقابلة نون جمع المذكر، فان النون في الجمع المذكر قائم مقام التنوين الذي في الواحد في المعنى الجامع لاقسام التنوين وهو كونه علامة تمام الاسم فقط وليس في النون اى الذي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

في الواحد وجمع المذكر شيئ من معاني اقسام التنوين كما بينت في النحو فكذا التنوين في الجمع المونث علامة تمام الاسم فقط وليس فيها اى في النون الجمع المونث لشئي من تلك المعاني سوى المقابلة وليس الممنوع من غير المنصرف هذا التنوين اى تنوين المقابلة بل تنوين التمكن وان ذهاب الكسرة اى من غير المنصرف على المذهب المرضى تبع لذهاب التنوين من غير عوض بسبب عدم الصرف فقط وفي لفظ عرفات لم يذهب التنوين بسبب عدم الصرف لعدم كونه تنوين التمكن بل تنوين المقابلة واذا لم يذهب التنوين من لفظ عرفات لعدم الصرف لم يذهب الكسرة ايضا منه لكونها تبعا له اى التنوين، وهذا مذهب الجمهور انتهى ماقال العلامة البغدادي رحمه الله مع زيادة العبد العاصي

درويش وايي: چي علامه زمخشري يوه ډېره ښايسته وجه راوړې ده حيث قال وانما نون وكسر لانه اى لفظ عرفات منصرف لعدم الفرعيتين المعتبرتين لان التانيث المعتبر مع العلمية في منع الصرف اما انيكون بالتاء المذكورة وهي ليست تاء التانيث بل علامة الجمع واما انيكون بتاء مقدرة كما في زينب واختصاص هذا التاء بجمع المونث يابي تقدير تاء اخرى لانه بمنزلة الجمع بين علامتي تانيث فهذه التاء كتاء بنت ليست للتانيث بل عوض عن الواو المحذوفة واختصت بالمونث فمنعت تقدير تاء فعلى هذا لو جعلت بنت علما للمونث كان منصرفا انتهى قول العلامة الزمخشري. او شيخ رضي پر ماقال د زمخشري دا سوال كړى دى چي كه په عرفات كي تانيث نه وايي نو ولي عربو پر خان دا لازمه كړېده چي عرفات ته مونث ضمير راجع كوي، ويجاب عنه چي دا وزن چونكه خاص په مونث سره و ويكفى لارجاع ضمير المونث ولايلزم في ارجاع الضمير وجود التاء لفظا او تقديرا

درويش وايي: چي علامه بغدادي د ابن الحاجب او د عصام الدين رحمه الله د سوالونو جوابونه هم وركړي دي فارجع الى تفسيره. قال المفسرون رح چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دغه مکان مخصوص یې له څه وجهې په لفظ د عرفات مسمی کړی د حضرت علي او د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې ابراهیم ﷺ ته دغه مکان ورښوول سوی و. نو چې وه یې لیدی وه یې پېژندی. او بغوي رحمه الله د ضحاک څخه روایت کړی دی چې آدم ﷺ چې مځکې ته راکښته سو په هند کې واقع سو، او حواء ﷺ په جده کې نو بیا هر یو په بله پسې گرځېدل، نو د عرفات پر غونډۍ سره یو ځای سو او سره وه یې پېژندل، وقیل غیر ذالک مما یطول به الکلام.

تنبیه: درویش وایي چې د درویش په سبب د حسد علمي یا د حسد قومي او یا له سببه د مقبولیت عامه د کتابو او د حواشیو، دده دوه قسمه حاسدان دي په طالبانو کې هم سته او په کتب فروشانو کې هم بعض کسان سته او په ملا یانو کې بعض نفر سته. یو قسم درویش د سارق په نامه بولي چې له ده څخه څوک پوښتنه وکړي چې ولې سارق دی؟

هغه ورته ووایي چې دی پخپلو کتابونو او حواشیو کې د نورو علماؤ د کتابونو څخه نقل کوي. او بعض د ناقل په نامه.

درویش وایي: چې دواړو ډلو ته دې معلومه وي چې بناء د دین د اسلام پر نقل د صحابه کرامو ﷺ د آنحضرت ﷺ څخه او د صحابه ﷺ څخه تابعینو رحمهم الله نقل کړی دی، او ائمة اربعة رحمهم الله د مذاهبو اربعه وو هم نقل کړی دی ثم وثم الی یومنا هذا. نو که نقل سرقه وي نو دا حاسدان ددغو مجتهدینو او ائمة اربعه او د مصنفینو رحمهم الله د کتب فقیه وو چې یو له بله څخه نقل کوي، او محدثان هم د یوه امام او د بل امام څخه د جرح او تعدیل نقل کوي څرنگه الفاظ استعمالوي. بیت

چشم بد اندیش که برکنده باد عیب نماید هنرش در نظر

سوال: ددغه کسانو چې ته یې په نامه د حاسدانو یادوې د هغو به دا غرض وي چې ته د یو کتاب څخه نقل کوې د هغه کتاب نوم ولې نه اخلې؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: له دې سببه زه د هغه کتاب نوم نه اخلم چې په هغه کتاب کې خبره مجمله وي زه يې په پښتو کې تفصيل غواړم، نو که د ګرده تفصيل حواله ورکړم خو درواغ به وي، او که يې هغسې چې په منقول منه کې وي پښتو ته واوړوم شايد ډېره مطالعه کونکي به فائده پر وانه خلي.

او بل ځواب دادی چې تفسير مظهري چې په ټوله نړۍ کې منل سوی تفسير دی او درويش هم و هغه تفسير ته عقيده لري، تاسي يې مطالعه کړئ په نحوي قوانينو کې دا تفسير ګام په ګام په تفسير بيضاوي پسې اجمالاً روان دی او د بيضاوي نوم نه اخلي نو امام قاضي ثناء الله مرحوم ته تاسي څه واياست العياذ بالله سارق يې بولې که څرنګه؟

فيصله تاسي وکړئ، او نور ورته کتابونه په فقه او اصول الفقه او په د علوم عقليه وو کې بېخي ډېري دي چې نقل کوي او د منقول منه نوم نه د کتاب او نه د مصنف اخلي نو هغه ته تاسي څه واياست.

نتيجه داده: چې ټولې نيوکې پر درويش باندې د حسد پر بناء دي وبس

قوله تعالی ﴿فالذكروا الله﴾ يعني ذکر د خدای ﷻ کوئ په تلبيه سره او په ﴿لا اله الا الله﴾ ويلو سره او په ﴿سبحان الله﴾ او په ﴿الحمد لله﴾ ويلو سره او په دعاګانو کولو سره يعني د ټولو اذکارو اجازه ده بايد غافله او فارغه نه اوسئ ولې چې مزدلفه ځای د طاعت دی او د اجابت د دعاګانو دی.

يوه سه: چې مشعر حرام نوم د يوه غره دی چې قزح يې بولي چې امام الحجاج پر هغه ځای درېږي.

مسئله: درېده د حاجيانو قريب و جبل قزح ته خو افضل دی تر ټولو ځايو د مزدلفې ولذا خص ذالک الموضع بالذکر لکن د مزدلفې ټوله مځکه ځای د درېدلو ده، لکه عرفات چې ټوله ځای د درېدلو دی، که څه هم وقوف نژدې وجبل الرحمة ته افضل دی.

يوه سه: چې مشعر په قول د روح البيان العلم ته وايي والصحيح ماقال صاحب روح المعاني چې مشعر په معنا د معلم دی يعني ځای د علامې د عبادت والتوصيف بالحرام لحرمته، والبيضاوي ايضا فسر المشعر بالمعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او زما ګمان دادی چي لفظ د المعلم په روح البيان کي سهوه د کتاب ده والاصل المعلم فيتوافق الکل في معنى المشعر والشعائر العلامات.

پوه سه: چي معنى د کاف په "کماهداکم" کي لپاره د مطلق تقيد ده او بيان الحال دی ای اذکره کما علمکم ولاتجاوزوا عن هدايته تعالى. او يا لپاره د تشبيه ده ای اذکرواه ذکرا حسنا کماهداکم هداية حسنة والذکر الحسن مايکون کثيرا على وجه التفرع والخفية ناشيا عن الرغبة والرهبة مقرونا بالطمع في القبول والاثابة وحضور القلب کما في الحديث المتفق عليه الاحسان ان تعبد الله کانک تراه فان لم تکن تراه فانه يراک ويکون الذکر في هذا الموضع الشريف الذي لايلقاه الحاج في کل وقت وحين خاليا عن الرياء والسمعة کما ان بعض العلماء المرائين يغطون الناس في هذا المقام الشريف ويشغلون الناس بسماع وعظه عن الذکر والادعية والرغبة والرهبة وحضور القلب فبئس مايفعلون.

پوه سه: چي د ابن عباس ﷺ څخه روايت دی او هم د نورو صحابه کرامو څخه روايت دی چي قريش او حلفاء ددوئ به عرفات ته نه تله دوئ به ويله چي موږ اهل حرم يو او عرفات په حل کي داخل دی او مزدلفه په حرم کي داخله ده نو دوئ به مزدلفه کي وقوف کاوه او نور عرب به عرفات ته تله اتباعاً لملة ابراهيم ﷺ او قريشو به ترفع او تکبر کاوه ددي څخه چي موږ به د نورو حاجيانو په مثل پر عرفات دربږو ددوئ سره يو ځای. نو چي نور حاجيان به له عرفاته را روان سوه دوئ يعني قريش به له مزدلفي څخه را روان سوه، او قريشو به خپل قوم حمس باله چي جمع د احمس ده وهو الرجل الشجاع، وقيل الاحمس هو الرجل الصلب في الدين والقتال، نو څه وخت چي دين اسلام په منځ کي راغلی چي حقيقت دين ابراهيمي و. قال الله تعالى ﴿بل نتبع ملة ابراهيم حنيفاً﴾ نو مسلمانان د قريشو امر سوه په وقوف د عرفات لکه نور عرب او دا آيت نازل سو.

درويش وايي: چي دا وو شان نزول متفق عليه د ټولو احاديثو مبارکه وو او د تفاسيرو معتبره وو ددې آيت.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثُمَّ اَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ اَفَاضَ النَّاسُ

وروسته تر دریدو پر عرفات راکښته کیږي ای قریشو له هغه ځایه څخه چې نور خلګ راکښته کیږي، یعني نور عرب وهو عرفات یعني د جاهلیت ترفع او تکبر پریږدئ.

وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ

او طلب د بخښنې وکړئ د جاهلیت له کارو څخه

اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۹۹﴾

په تحقیق خدای ﷻ بخښې ګناه د طلبونکي د مغفرت او نور احسان هم ورسره کوي.

په حدیث شریف کې راغلي دي چې خدای ﷻ فخر کوي پر ملکو باندې او ورته وایي وګورئ زما بندګانو ته چې له لرې ځایو څخه راغلي دي ببر سرونه یې دي او سپیرې پښې یې دي تاسې ملکې شاهداني یاست چې ما دوئ بخښلي دي، او په یو بل حدیث کې راغلي دي چې اعظم د خلګو په ګناه کې هغه سړی دی چې وقوف عرفات وکړي او بیا یې هم دا ګمان وي چې زه به خدای ﷻ نه یم بخښلی، او په بل حدیث شریف کې راغلي دي چې ﴿ان الشيطان ما روءى في يوم اصغر و احقر وازل منه يوم العرفة وما ذالک الا لما يرى من تنزل الرحمة وتجاوز الله عن الذنوب العظام﴾

یوه سه: چې روح البیان د نهراني رحمه الله څخه داسې نقل کړی دی چې یو وخت یو حمامي د اوبن هډوکي سره جمع کړي وه او د حمام د تودولو په غرض یې د بټو په غار کې اچولي وه اور چې بل سو هغه د اوبن هډوکي تر غار دباندې را وغورځول سوه حمامي بېرته وغارته وروغورځول هډوکې د غار څخه بېرته را وغورځول سوه دریم وار بیا حمامي غارته وروا چول او حمامي ودې ته په تعجب کې دئ چې هډوکي اور ولې نه اخلي او سره ددې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي په غار کي اور بل دی، حمامي وايي چي دا وار په داسي شدت سره هڅوکي راوغورځول سوه او د حمامي پر سينه ومښتل، او هاتفي اواز حمامي واورېدی چي افسوس دی تاله ولي دا هڅوکي بار بار و اور ته اچوې او دا د هغه اوبښ هڅوکي دي چي لس واره حج پر سوی دی. نو چي د حاجي د حيوان دا حال وي چي اور يې نه سوځي فماظنک بالحاج نفسه.

فَإِذَا قَضَيْتُم مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَذِكْرِكُمْ آبَاءَكُمْ أَوْ أَشَدَّ ذِكْرًا

او چي تاسي پوره کړئ او فارغه سئ له ارکانو څخه د حج. يعني په ورځ د لوی اختر وروسته تر رمی د جمرة العقبة او د ذبح او حلق او طواف زيارت

پوه سه: چي ارکان يعني فرائض د حج درې دي بالاجماع (۱) الاحرام (۲) والوقوف بالعرفات (۳) والطواف الزيارة، او امام شافعي ؒ سعي د صفا ام مروه او حلق هم د ارکانو څخه بولي، وسيناتي التفصيل في سورة الحج ان شاء الله تعالى، نو تاسي ذکر د خدای ﷻ کوئ په تکبير، حمد او تسبيح سره لکه چي تاسي به ذکر کول يعني په جاهليت کي د خپل پلرونه او نيکه گان.

پوه سه: چي امام مظهري ؒ ددې آيت په تفسير کي داسي ويلي دي كان العرب اى في زمان الجاهلية اذا فرغوا من الحج وقفوا عند البيت اى بيت الله الشريف فذكروا مفاخر آبائهم آه. روح البيان وايي وكانت العرب اذا قضوا مناسكهم وقفوا بين المسجد اى مسجد الخيف الآن والجبل يعني في ايام المنى ويذكرون مفاخر آبائهم ومحاسن ايامهم يريد كل واحد منهم حصول الشهرة والترفع على غيره. نو خدای ﷻ ددې جاهليت د تکبر او فخر په اباو سره نهي کړه، او دوئ امر کړه په خپل ذکر سره او تمجيد او ثنا سره ولي ټوله خير د خدای ﷻ له خوا دی او ددوئ نيکه گان بندگان د خدای ﷻ وه لکه دوئ، او خدای ﷻ معطي د ټولو نعمتونو دی او خالق او رازق دی نو هر ذکر او ثناء خدای ﷻ لره بنايي.

درويش وايي: چي تفسير د روح البيان اشهر دی په نېز د مفسرينو او اهل

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

حدیثو ح، او الوسي رحمه الله داسي عبارت ذکر کړی دی چي د دواړو شان نزول محتمل دی حیث قال ای کماکنتم تذکرون آبائکم عند فراغ حجکم بالمفاخر یعني خای د ذکر د مفاخر الآباء یې نه په گوته کړی، او د بیضاوي رحمه الله تفسیر موافق دی د روح البیان سره لفظا بلفظ دی والله اعلم بالصواب.

پوه سه: چي نور ترکیب د "اشد ذکرا" په بیضاوي، روح المعاني، روح البیان، تفسیر کبیر او تفسیر مظهري ډېر گران دی چي ددې تفسیر ایوبي د مستفیدانو تر فهم ډېر لوړ دی او پر مجازاتو او استعار ومبني دی. نو زه صرف د مظهري رحمه الله په دغو الفاظو اکتفاء کوم یعني "بل اشد ذکرا" او ذکرا تمیز دی د نسبت څخه د اشد.

فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِى الدُّنْيَا وَمَا لَهٗ فِى الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ﴿۲۰۰﴾

پوه سه: چي کلمه د فاء لپاره د تفصیل د حال د حاجیانو ده او من یقول مبتداء ده من الناس یې خبر دی. والمعنی نو بعض د حاجیانو څخه یعني مشرکان چي د اخرت او بعث بعد الموت څخه منکر دی او د ددوئ زړونه یوازي پر نعمتو ددنیا بند دي نو هغه یعني د مشرکانو حاجیانو بعد الفراغ من مناسک بي داسي کوله، چی اې رب زموږ، موږ ته راکړې په دنیا کي

پوه سه: چي مفعول د آتنا محذوف دی لپاره د تعمیم یعني مطعومات د هر قسم او ملبوسات هر ډول او مشروبات او مېوې رقم رقم وغیرها من النعم الدنیویة، خدای ﷻ ددوئ حال داسي بیانوي چي نسته دوئ لره په آخرت کي هیڅ برخه ولي خو دوئ اخرت نه مني او نه د آخرت برخه یې طلب کړېده.

پوه سه: چي کلمه د من لپاره د استغراق د نفي ده.

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِى الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِى الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿٢٠١﴾

او بعض حاجیان چي د مراسمو څخه د حج فارغه سي یعني مسلمانان چي آخرت او نعیم د آخرت مني داسي دعا کوي چي اې رب زموږ، موږ ته راکړې په دنیا کي نعمت حسنه من الصحة والعافية واخلاص العمل لله وتوفيق الطاعات والاجتناب من المعاصي والماكل والمشارب والاولاد وغيرها من النعيم الدنيوية.

پوښتنه: په دې آیت کي خو "حسنة" نکره ده او په سیاق د اثبات واقع ده وقد تقرر في النحو ان النكرة في سياق الاثبات لاتعم.

ځواب: نکره په اثبات کي هم ګاهي عامېږي په قرینه د مقام کما في قوله عليه الصلوة والسلام ﴿تمرة خير من جرادة﴾ یعني محرم که مچخ مړ کړي په احرام کي نو هره خرما بهتره ده په فدیه کي د هغه مچخ، وفيما نحن كذالك لان السائلين لنعم الدنيا لايخص سوالهم لطلب شيئ دون شيئ لان قدرة الله تامة ورحمته عامة واحتياجات المسلمين في الدنيا كثيرة متنوعة فكيف يطلبون البعض دون البض. او مسلمانان حاجیان په آخیر کي دا هم وایي او موږ وساتې له عذاب څخه د اور یعني په عفو او بخښني د ګنهو تولو.

درویش وایي: چي چونکه دا دعاء جامع د ټولو خیراتو د دنیا او آخرت ده ځکه د لمونځو په آخیر کي دا دعاء ډېره زیبا او موزونه ده. وما روى عن علي كرم الله وجهه ﴿ان الحسنة في الدنيا المرئة الصالحة وفي الآخرة الحوراء، وعذاب النار المرئة السوئ﴾ فليس المقصود منه الحصر بل لتعظيم الحسن في الاوليين، وتعظيم العذاب في الآخرة. د انس ؓ څخه روایت دی ﴿كان رسول الله ﷺ يكثر ان يقول ربنا آتنا الى آخيره﴾ بخاري مسلم

د عبدالله بن سائب ؓ څخه روایت دی چي علیه الصلوة والسلام په منځ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي د رکن يماني او حجر اسود ربنا آتنا تر پایه ویله رواه ابو داؤد والنسائي والحاکم، د انس ﷺ روایت دی چي رسول الله ﷺ یو سړی ولیدی چي داسي ضعیف سوی و، لکه د مرغه چیچی یعني چي وزر یې نه وي کړي، نو علیه السلام و هغه ته وویل چي تا ګاهي خدای ﷻ ته یو خواست کړی و، او یا دي یو شی له خدای ﷻ څخه غوښتی و؟ هغه سړي ورته وویل چي ما داسي خواست خدای ﷻ ته کړی و چي خدایه ماته چي هغه عذاب په آخرت کي راکوې په سبب د ګنهو زما ما ته یې پر دې دنیا راکړې، یعني د آخرت له عذابه مي وساتې، علیه الصلوة والسلام ورته وویل سبحان الله چي د خدای ﷻ د عذابو خو ته طاقت نه لرې، ولي دي داسي نه ویل ربنا آتنا في الدنيا حسنة وفي الآخرة حسنة وقنا عذاب النار، او په بل حدیث کي چي هم یې روایت انس ﷺ کړی دی راغلي دي چي علیه الصلوة والسلام که به سل واره دعا کولای خو پیل او ختم به یې ربنا آتنا في الدنيا حسنة آه کوله.

أُولَٰئِكَ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّمَّا كَسَبُوا

او دوئ لره برخه سته له سببه د کسب ددوئ.

پوه سه: چي مظهري رحمه الله فقط د بیضاوي عبارت راوړی دی اشارة الی فریق الثاني وقیل الیهما، او روح البیان فقط احتمال اول راوړی دی یعني چي اشارة وفریق الثاني ته دی یعني هغه کسان چي حسنه د دینا او اخرت یې غوښتل چي مؤمنان وه، او دلیل یې دا ویلی دی چي خدای ﷻ حکم د فریق اول چي کافران وه په هغه آیت کي ذکر کړی ﴿وما لهم في الآخرة من خلاق﴾ او روح المعاني په تفصیل خبري ډېري په زړه پوري کړي دي او دا یې ویلي دي چي اشارة په اولئک سره وفریق ثاني ته د او دا جمله مقابل د هغه جملي ده فریق اول ده ﴿ومالهم في الآخرة من خلاق﴾

فائده: تنوین د "نصیب" پر دې احتمال لپاره د تعظیم دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: حکم یې پر اسم اشارة وکړی ددې لپاره چې علة د حکم په نصیب عظیم دوئ لره اتصاف د دوئ دی په ماسبق سره یعني دعا ددوئ د حسنة د دنیا او آخرت. او هم دا سبب دی چې جمله د اولئک آه عطف نه کړه ولې چې دا جمله لکه نتیجه د ماسبق ده نو په منځ کې کمال اتصال دی فلا یصح العطف کما بین في علم المعاني.

فائده: اولئک چې اشاره د بعید د تنبیه ده پر لوړ مقام د فریق ثاني عند الله ثم قال الآلوسي رحمه الله وجوز ان تکون الاشارة الی الفریقین المتقدمین یعني الکافرین والمؤمنین.

فائده: نو پر دې تقدیر تنوین د نصیب لپاره د تنویع دی یعني د کافرانو برخه یوازې په دنیا کې ده، او د مؤمنانو دا په دنیا او آخرت دواړو کې ده.

پوه سه: چې بیضاوي رحمه الله د لفظ "من" په مماکسبوا کې اول داسي کړیده، ای من جنس ماکسبوا وهو جزائه، او توجیه د جنسیت یې داده چې جزاء د عمل مماثله د عمل ده في القدر والوصف قال الله تعالی ﴿من جاء بالحسنة فله عشر امثالها ومن جاء بالسيئة فلا يجزى الا مثلها﴾ او دویمه ترجمه بیضاوي داسي کړې ده او من اجله کما في قوله تعالی ﴿مما خطیئاتهم اغرقوا﴾ یعني له سببه د ګنهو ددوئ غرق کړه سوه، او بیضاوي دا احتمال هم راوړی دی مما دعوا به من الحسنتین نعطیتهم ماقدرنا.

سوال: دوئ خو دعا کړې وه او په آیت کې خو د کسب لفظ راغلی دی، نو څرنګه به دا احتمال صحیح وي؟

ځواب: دا ځواب بیضاوي ورکړې دی چې دعاء خو هم کسب دی لانه من الاعمال انتهی، مظهري رحمه الله صرف په تفسیر کې د آیت دغه قدر عبارت راوړی دی اقتداء بهذا الاحتمال للبیضاوي، سمی الدعاء کسبا لانه من الاعمال.

تنبیه: ددغو تورو ښخه به طالب څه وفهموي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاللَّهُ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿۲۰۲﴾

او خدای ﷻ به په ورځ د قیامت کي حساب د ټولو بندګانو ژر پای ته رسوي، روی انه تعالی سحاسب العباد مع کثرتهم في قدر نصف نهار من ایام الدنیا، وروی في مقدار فواق الناقة، وروی في مقدار لمحة البصر کل ذالک لانه تعالی لایشغله شان عن شان.

پوښتنه: په اخبارو کي راغلي دي چي ورځ د قیامت پنځوس زره کاله ده فکیف التوفیق بین اخبار الحساب وهذا الخبر الذي یخبر بطول یوم القیامة؟

ځواب: طول مذکور خو صحیح دی لکن په دې ټوله طویله زمانه کي خدای ﷻ مشغول بالحساب نه دی بلکه په طویله زمانه کي خلګ منتظره وحساب ته وي فاذا اشرع الله ﷻ بالحساب مع العباد یکون ختم الحساب في المدة القصیرة المذکورة في الاخبار السابقة.

فائده: د حسن بصري رحمه الله څخه روایت دی چي خدای ﷻ وایي چي تاسي ما ذکر کوئ په هغو الفاظو چي طفل پلار ته وایي ولي چي طفل اول ما یتکلم مع الاب یقول یا اب یا اب فعلی کل مسلم ان یقول یا رب یا رب.

درویش وایي: چي مور باید د هغو اطفالو چي په زانګو کي وي او هنوز وزماني ته د خبرو کولو نه وي رسیدلي پند واخلو په دې معنا چي طفل مذکور چي یا وږی سي او یا یې پر نس درد وي او یا یې پر غوږو مثلاً، نو دی څرنګه خپل د عوارضو عریضه مهرباني مورته رسوي د هغه طفل عریضه وهغه مهرباني مور ته ژړا ده، نو دا طفل چي په زانګو کي وژاړي مهربانه مور یې راواخلي اول یې وخپل تي ته واچوي چي شاید چي ده ژړل وږی به و، نو که په شیدو ارام نه سو او بیا یې هم ژړل، نو مهربانه مور یې پر نس او غوږو ورګرځي آخر الامر مور ته د ژړا علت معلوم سي او د هغه تداوي وکړي او طفل ارام سي، نو موږ لره هم پکار دی چي خپل حوائج او مشکلات وعالم الغیب والشهادة ته د اوښکو په توئیدو او ژړا ودربار ته د رب اعلی په عرض ورسوو، ولنعم ماقیل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هر کجا آب روان سبزه شود هر کجا اشک دوان رحمت شود

وکذا ماقیل

تانگرید ابرکی خندد چمن تانگیرد طفل کی جوشد لبن

وکذا قوله

د رحمت باران که غواړې ته له خدایه

ته د اوښکو باران وه اوروه خدای ته

خواجه عبدالله انصاري قدس سره چه خوش میفرماید در بیان اهل عرفان

طرفة العینی نبوده غافل از حضرت ولی

سیلها با این همه از دیدها بکشاده اند

یک زمان از نوحه همچون نوح فارغ نیستند

همچو یحیی گوئیا از هر زاري زاده اند

ربنا گویند ازان لبیک عبدی بشنوند

جمله سرمست الست از جرعه این باده اند

راحتی دیدند وذوقی یافتند از انس وجان

روز وشب در کنج خلوت برسر سجاده اند

تا بدنیا آمدند از کلبه کتم عدم

سوی حضرت جز نیاز وناله نفرستاده اند

پیر انصاری تومیدانی که ایشان کیستند؟

فرقه بی کر وفر وزمره دل ساده اند.

درویش وایي: چي د بایزید بسطامي قدس سره ښځه چا پوښتنه وکړه ددې آیت د معنا ﴿والله سریع الحساب﴾ یعني چي څرنګه به د ډېرو بندګانو ښځه د طرفة العین په مقدار خدای ﷻ حساب کوي؟ بایزید رحمه الله ورته وویل چي د خدای ﷻ له خوا ښځه خو د ټولو بندګانو ښځه دا پوښتنه ده من ترا بودم تو کرا بودي، یعني من خالق رازق تو بودم تو عبادت که را میکردی یعني عبادت بتان میکردی یا عبادت نفس وشیطان میکردی، جواب آن ببندگان تعلق دارد.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وَاذْكُرُوا اللَّهَ فِي أَيَّامٍ مَّعْدُودَاتٍ

او تاسي اى حاجيانو ذکر کوي د خداى ﷻ يعني هر ذکر چي وي په هغو ورځي کي چي د حساب ورځي دي يعني ايام التشريق في منى، معدودات يې په دې ويللې چي لږ دي كذا روى عن ابن عباس ﷺ.

پوه سه: چي مراد له ذکره څخه په دې ځای کي تکبيرونه د تشريق دي يعني الله اكبر الله اكبر لا اله الا الله والله اكبر الله اكبر ولله الحمد. تر هر لمانځه وروسته په جهر سره يو وار.

فائده: ورځي د تشريق وروسته تر ورځي د اختر چي يوم النحر يې بولي درې دي او يوولس (۱۱) ورځي چي يوم القر يې بولي ولي چي حاجيان ټول په منى کي قرار لري، او دولسمه ورځ چي يوم النفر الاول يې بولي ولي چي بعض حاجيان وروسته ددې ورځي تر رمى الجمار د منى څخه وزي كما سيئاتي في القرآن المجيد، او ديارلسمه ورځ چي يوم النفر الثاني يې بولي چي حاجيان ټول په دغه ورځ له منى څخه وزي كما سيئاتي ايضاً.

فائده: دغه درې سره د يوم النحر ورځي د ويشتلو د جمار دي چي د جمار په ويشتلو کي هم الله اكبر ويل کېږي، او تکبيرونه د تشريق د عرفات د ورځي د سهار د لمانځه څخه شروع کېږي تر اخيره د ورځو د تشريق چي تر درويشتو لمونځو وروسته ويل کېږي، وفي الحديث ﴿كبروا من يوم عرفة الى اخير ايام التشريق﴾ ويوافق هذا الحديث مذهب الصاحبين للامام الاعظم رحمه الله.

فَمَن تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ وَمَن تَأَخَّرَ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ

نو کوم چا چي تلوار وکړی يعني په وتلو کي له منى څخه په دوو ورځو کي د ايام تشريث يعني د منى څخه ووزي دوهمه ورځ پس له رمى د جمارو په هغه ورځ کي، نو ګناه نسته پر ده لانه عمل بالرخصة او که څوک وځنډېږي په وتلو کي د منى دريمي ورځي ته نو پر هغه ګناه نسته بلک د دريمي ورځي ځنډېدل اولى او افضل او عزيمت دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوهـ سه: چي مجتهدین رح ټوله پر دې متفق دي، که یو حاجي له منی څخه نه ووتی حتی دریمه ورځ پر داخله سوه نو پر هغه رمی د دریمي ورځي هم واجب دی لکن اختلاف په دې کي دی چي معتبره دریمه شپه ده، نو شافعیان وغیرهم وایي چي معتبر دخول د دریمي شپې دی یعني پر حاجي دریمه شپه په منی کي داخله سوه نو پر هغه حاجي د دریمي ورځي رمی الجمار واجب دی، او امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله وایي چي د دریمي ورځي رمی پر ده نه دي واجب تر څو چي د دریمي ورځي سپېدې نه وي راچاودلي یعني که په دریمه شپه د منی څخه ووزي روا ده، او که د دریمي ورځي سپېدې په منی کي پر راوچاودې نو بیا د هغې ورځي رمي هم پر واجب دي، امام اعظم رحمه الله وایي چي وخت د رمی خو ورځ د شپه نه ده، نو قبل دخول الیوم لیس وقت الرمی فلا یجب علیه الرمی بدخول اللیلة الثالثة، نو مثال یې دادی چي یو سړی په سفر کي په ورځ د جمعې له ښاره څخه ووزي چي زوال نه وي سوی یعني وخت د لمانځه د جمعې نه وي داخل سوی نو هغه ګناه کار نه دی بخلاف من خرج عن البلد وسافر بعد الدخول وقت صلوة الجمعة فانه عاص.

لِمَنِ اتَّقٰى ۗ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿٢٠٣﴾

پوهـ سه: چي "لمن اتقی" خبر د مبتداء محذوف دی یعني هذه الاحکام المذکورة للحج نو معنا د آیت داده چي احکام مذکوره د هغه لپاره دي چي هغه د خدای ﷻ څخه بېرېږي ولي چي پر احکام الهیه وو عموما وخصوصا هغه سړی نفع اخلي چي د خدای ﷻ څخه بېرېږي او د خدای ﷻ څخه وبېرېږي او په دې پوه سي چي تاسي وخدای پاک ته راجع کېږي یعني په ورځ د حشر نو خدای ﷻ به د تقوی ثوابونه به په ورځ د حشر درکړي.

تتمه: په روایت د ابو هریره رضی الله عنه داسي مرفوع حدیث په بخاري او مسلم کي راغلی دی (من حج لله ولم یرفث ولم یفسق رجع کیوم ولدته امه) که چا حج وکړی لپاره د خدای ﷻ یعني ریا او سمعه او تجارت یې باعث نه وو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پکښې، او رفث چې معنا يې له مخه تېره سوه، او بل فسق يې پکښې ونه کړی، نو دی به له حج څخه داسې ستون سي لکه هغه ورځ چې له موره زېږېدلی وي، يعني له ټولو ګنهو څخه پاک، او دغه رنګه د ابو هريره ﷺ په روايت په بخاري او مسلم کې داسې راغلي چې آنحضرت ﷺ وويله ﴿الحج المبرور لس له الجزاء الا الجنة﴾ او د ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چې امام شافعي ﷫ او ترمذي ﷫ کړی دی قال قال رسول الله ﷺ ﴿الحج والعمرة ينفيان الفقر والذنوب کما ينفي الکير خبث الحديد﴾

ترجمه: حج او عمره نيستي کوي مسکنت او ګنهونه لکه چې نيستي کوي کوره د آهنګر خيري او نور خبث د وسپنې.

درويش وايي: چې لکه په حديث شريف کې چې آنفاً تېره سوه دار ومدار د عفو د ټولو ګنهو پر دې دی چې په حج کې به رفث او فسق نه کېږي، او په قرآن مجيد کې هم قبلا ذکر سوه ﴿فلا رفث ولافسوق ولاجدال في الحج﴾ لکن په اوسني زمانه کې چې ازدحام د خلګو ډېر دی او په يوه وطاق کې ډېر حاجيان په نفقه يعني په اندازه سره شريکان وي نو ددغو درو مذکوره عملو څخه به ډېر لږ حاجيان خلاص وي.

اول حاجيان چې په مجلس کې سره کېښېني او باندار سره کوي نو د يو چا غيبت پسې راواخلي چې ګناه کبيره ده، او چې مسخرې سره کوي په خندا قهقه سره خاندي چې ګناه ده، دوهم فسق خو يو عام لفظ دی ډېر منهيات تر لاندې کېږي، دريم جدال خود انډيوالانو تر منځ ډېر پېښېږي، يو وايي ته ولې مستې يوازې پر سر پورته کوې، بل وايي وېشګر ته د غوښو وايي چې تا فلانې ته څونده لويه برخه ورکړه اخير پر جنګ سره راسي، او بعض اوقات له وطاقه سره ووزي، که د يو چا سره څوانه ماينه ورسره وه د احرام په وخت کې ګاهې ناوخته رفث څندي کېږي، نو ښه ژوند په حج کې دا دی چې ګوښه د خلګو څخه ژوند کوي، او که يې قدرت مالي درلودی يوازي او يا د يو ډېر نژدې قريب سره لکه زوی پلار مور وطاق کرايه کړي. او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اکثره اوقات په مسجدينو مبارکينو کي تېروي او په طواف يا په تلاوت د قرآن کريم او يا نورو اذکارو ورځ او شپه تېره وي او په حرمينو شريفينو کي د چا سره دنياوي خبري نه کوي ومن الله التوفيق

درويش وايي: چي دغسي حاجي به نو حاجي مغفور وي لکن مثل هذا الحاج نادر غاية الندرة في الزمان الحاضر.

درويش وايي: چي ما په اخري حج کي خلګ خپله وليدل چي د عرفات پر ډګر به حاجيان په خېمو کي د مسلمانانو ناست وه، او پسله له زواله چي وخت د وقوف دی بيا هم په بانډارو او مسخرو سره اخته وه، چي د مازدېګر وخت به نژدې سو نو يو ګړی به يې دعاګانې وکړې، او د معلمانو په موټرانو کي به چي ډېر ازدحام به و په جنګو او حملو سپاره سوه. د مزدلفې پر خوا به راون سوه، درويش به بعضو انډيوالانو حاجيانو ته وويل چي ته چي حج ته راتلې تاته به دوستانو او قريبانو ويلي وي چي حاجي صاحب ماته به د عرفات پر ډګر دعا کوې تابه وعده ورسره وکړه چي ښه دی، نو تا اوس پر عرفات کوم قريب او دوست ته په نامه دعاء وکړه. نو چي زما سره په خيمه کي انډيوالان وه مابه هغه وروسته تر زوال په لمانځه د ماپښين اخته او وروسته تر لمانځه په دعاګانو او نفلونو او قرآئة القرآن او تسبيح وتهليل سره اخته الی وقت صلوة العصر.

سوال: د ماپښين او د مازدېګر لمونځ پر عرفات يو ځای سره کېږي، نو تا ولي دا دوه لمونځونه جلا جلا سره کول؟

ځواب: جمع ددغو لمونځو په مسجد نمره کي په امامت د امير الموسم سره کېږي او هغه مسجد ته رسيدګي په سلو کي لس کسه نه سي کولای، او په خيمو کي چونکه جمع ددغو دوو لمونځو نه ده روا کما تقرر في کتب المذهب، او اکثره حاجيان دغه دوه لمونځونه په خېمو کي کوي، لهذا ما دغه دوه لمونځونه جلا جلا ذکر کړه. او که کوم حاجي موفق سي او مسجد نمره ته ځان ورسوي، نو هغه چي جمع ددغو دوو لمو نځو په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جماعت سره وکړه هغه سمدستي په دعاګانو شروع کوي الی قریب من غروب الشمس، او بعض ملایان وحاجیانو ته وايي چي په امام مسجد النمره پسي لمونځ مه کوئ، ولي چي دی خو له مکې څخه راغلی دی، او د مکې څخه تر عرفاته پوري مسافت د قصر د لمانځه نه دی، او سره ددي امام المسجد المذکور دغه دواړه لمونځونه دوه دوه رکعته کوي، چي زموږ حنفیانو د مذهب خلاف دی، او دوئ خبر نه دي چي دغه امام المسجد په دغه ورځ وختي طائف ته ځي یعني ځان مسافر کوي او د طائف له خوا څخه عرفات ته راځي، نو خو امام هم مسافر دی تر هغه وخته چي بیرته مکې ته چي دده وطن دی رسیږي،

وللناس فيما يعشون مذاهب ومن مذهب حب الديار لاهلها

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّعْجِبُكَ قَوْلُهٗ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللّٰهَ عَلٰى مَا فِيْ قَلْبِهٖ وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ ﴿۲۰۴﴾

شان نزول هذه الآية: مظهري رحمه الله له بغوي رحمه الله او هغه د کلبي، مقاتل او عطار رحمهم الله څخه نقل کړی دی چي اخنس بن شریف الثقفي چي معاهد یعني حلیف د بني زهره و، او په حقیقت کي منافق و، او علیه الصلوة والسلام ته یې اظهار د ایمان کړی و، او علیه السلام ته به یې ویل چي والله اني احبک، او دا منافق ډېر خوږ ژبی سړی و، او هم ډېر ښائسته سړی و، یعني په ملبوساتو کي، نو دی چي به مجلس نبوي ﷺ ته راغلی آنحضرت ﷺ به ځان ته نژدې کېښناوه او دده خبرو ته به یې غوږ نیوی، نو دا آیت په شان کي د هغه منافق نازل سو.

پوښتنه: علیه السلام دده په قلبي نفاق نه پوهېدی؟

ځواب: عالم الغیب والشهادة خو رب جل وعلا دی، قرآن مبارک ددي شاهد دی، قال الله ﷻ حاکیا عن قول رسول الله ﷺ ﴿قل لو کنت اعلم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الغيب﴾ الآية، او احاديث مباركه هم ددې شاهد دي چې آنحضرت ﷺ لا بېله وحي الهي يا متلو يا غير متلو او يا بېله الهام الهي حكم د چا په نفاق سره نه كاوه، او هم په دې جلد كي د تفسير تېره سوه دوو كسو چې به عليه السلام ته دعوه پېش كړه ده به ورته وويل انما انا بشر ولعل بعضكم الحن بحجته الى آخير الحديث.

ترجمه: او بعض د خلگو څخه داسي سته چي تا په تعجب كي اچوي، او تاته خوند دركوي خبري دده په سبب د فصاحت او بلاغت او دا خوند د خبرو دده محصور دی پر دې دنيا او په آخرت كي خو به خود دی رسوا سي په منافقت سره، نو بيا خو خبري دده چي دعوې د اسلام او ستا د محبت به يې كوله خوند نه كوي، لكو نه كذب بحت و ادعاء صرف. او دی شاهد گرځوي خدای ﷻ پر هغه شي چي دده په زړه كي دی، يعني دی وايي چي خدای ﷻ شاهد دی چي زما په زړه كي هم ستا سره محبت سته. لكه په خوله چي وايم، او حال دادی چي سخت عداوت لري له تاسره، بلكه د ټولو مسلمانانو سره لان من عادي رسول الله ﷺ فهو عدو لدينه ولجميع من يتبع دينه بل هو عدو للقرآن ودين الاسلام كما لايخفى.

پوه سه: چي دلته يو سوال دا پيدا كېږي چي "الد" خو اسم تفضيل دی او اسم تفضيل خو هغه شي ته مضاف كېږي چي دی بعض د مضاف اليه څخه وي نحو فلان افضل القوم، او خصام خو مصدر دی د خاصم يخاصم مخاصمة وخصاما، نو پر دې تقدير خو الد بعض له افرادو څخه د خصام چي مصدر و، وگرځېدی نو حمل د "الد" پر "هو" باندي حمل د مصدر دی پر ذات باندي؟ ددې سوال ځواب بعضو مفسران دا ډول وركوي چي مضاف محذوف ای هو ذو الد الخصام، او بعض يې حمل مبالغة بولي، كما يقولون في زيد عدل، مظهري رحمه الله د "الد" ترجمه په اسم تفضيل سره كړې ده او "خصام" يې مصدر گڼلی دی، فقال ای اشد الخصومة، وقال والخصام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مصدر خاصمه آه نور يې سوال او خواب ته هيڅ تفصيل نه دی ور کړی. او روح البيان هم تفسير د "الد" په اسم تفضيل سره کړی دی حيث قال ای اشد في العداوة والخصومة للمسلمين على ان الخصام مصدرا آه، او روح المعاني او بيضاوي يې تفسير په شديد الخصومة سره کړی دی او اشاره يې ودې ته کړې ده چې "الد" اسم تفضيل نه دی بلکه صفت مشبه دی لکه احمر باتفاق النحاة، ولي چې الد په تشديد د دال وزن يې د احمر ويدل عليه ان جمع د الد، لد په تشديد د دال ده لکه چې د احمر جمع حمر ده، او مؤنث د "الد" لداء دی لکه د احمر مؤنث چې حمراء دی.

درويش وايي: پر دې تقدير يې حمل پر هو صحيح دی لانه صفة مشبة او اضافت يې اضافت د صفت و فاعل ته ای هو شديد خصومة.

درويش وايي: چې هغه مفسرين ﷭ چې "الد" اسم تفضيل بولي او حمل يې پر هو روا بولي هغه وايي چې خصام مصدر نه دی بلکه جمع د خصم ده لکه بحار جمع د بحر وهو المنقول عن الزجاج ياصعاب جمع د صعب وهو المنقول عن البيضاوي ﷫، نو پر دې تقدير اسم تفضيل چې الد دی مضاف سو الى ماهو بعض منه بلا تکلف.

درويش وايي: چې روح البيان چې "الد" اسم تفضيل بولي او خصام مصدر بولي په خواب کې د سوال مذکور داسې وايي يعني اشارة چې د الد مفضل عليه محذوف ای اشد الناس او اضافة يې وخصام ته په تقدير د في بولي حيث يقول اشد في الخصومة.

درويش وايي: چې فهم د خواب له عبارت څخه د روح البيان مما الهم لهذا العبد الفقير فهو سانح عزيز.

درويش وايي: چې مظهري ﷫ يو روايت ضعيف و ابن عباس ﷛ ته منسوب کړی دی چې په غزا کې د رجيع چې په هغه کې عاصم او مرثد هم وه بعض مسلمانان شهيدان سوه، نو دوو کسو د منافقانو وويل يا ويح

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

هؤلاء المقتولين الذين هلكوا الاهم قعدوا في اهلهم فانزل الله تعالى هذه الآية، دا قول د اکثرو مفسرانو څخه خلاف دی. ولې هغه يې په اخنس بن شريف کې نازل بولي کمامر.

درویش وايي: چې د حال سره د اخنس مذکور دا بیتونه ډېر زيبا دي.

تعصى الاله وانت تظهر حبه — هذا لعمرى في الفعال بديع
لو كان حبک صادقا لاطعته — ان المحب لمن احب مطيع

حافظ شیرازي

بصدق کوش که خورشید زاید از نفست
که از د روغ سیه روی گشت صبح نخست

يعنى صبح كاذب لانه يعقبه الظلام في الافق فيظهر كذبه للناس في قرب الشمس من الافق.

مسئله: فقهاء رح وايي كه چا دروغ ويل او داسې يې وويله چې خدای ﷻ شاهدي دی چې زه صادق يم هغه په دغه وينا كافر كېږي. ولې چې خدای پاک يې شاهد د دروا غو وباله.

درویش وايي: چې تر دې ډېرې د پښتنو خبرې لاندې كېږي، مثلا يو سړی وبل ته د تملق او غوره مالی له لارې وويل چې خدای شاهد دی كه ماته په يوه دعاء كې هېر كړی يې، او داغسې نه وه دا كفر دی وغير ذالک من اقوال الافاغنة.

درویش وايي: چې بیضاوي يو روايت په قيل سره راوړی دی حيث قال وقيل في المنفقين كلهم، دا احتمال نهايت ضعيف دی، او هيڅ چا د مفسرانو دا احتمال صحيح نه دی بللی، او تو له سياق الآية ددې له دې احتماله څخه مخالف دی كما لايخفى.

الاعراب: يوه سره چې من يقول سره د صله مبتداء ده، او من الناس يې خبر دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: څه فائده ده چي من یقول د انسانانو څخه دی، لانه اظهر من الشمس او سره ددې نحات وايي چي محط د فائده خو خبر وي وههنا ليس كذالک؟

ځواب: ددې اخبار فائده داده چي من یقول آه صرف او صرف انسان دی یعني د انساني کمالاتو څخه هیڅ شی پکښې نسته وهذا الخبر مفید، کمالایخفی، او علامه تفتازاني رحمه الله په حاشیه کي د کشاف ویلي دي چي من تبعیضي یعني په من الناس کي په تاویل د بعض الناس مبتداء ده، او من یقول آه یې خبر دی وهذا الخبر مما لاشک في کونه مفیدا، لکن علماء وايي چي د من تبعیضي مبتداء والی صرف علامه تفتازاني رحمه الله له قوته وفعل ته رایستلی دی، یعني لم یذهب الیه قبله من العلماء والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب.

درویش وايي: که ورته احتمال ما راوړی وايي حاسدانو به د خلو د غیبت په ږبرو سنګسار کړی وايي، ولي چي ماته د بعضو جاهلانو غیبت په دې ډول رسېدلی دی چي ما په قدوري وغیره کي د ذکر، دبر، خښتینو، حشفه ترجمه په پښتو کړې ده، دوئ جاهلان وايي چي عبیدالله نه شرمېږي چي دغسي الفاظ وايي، نو زه دوئ ته وایم دغه الفاظ په عربي ژبه د علیه الصلوة والسلام پر پاکه ژبه جاري سوي دي او کتب د احادیثو مبارکه وو او د فقهاوٴ رح هم په دغو عربي الفاظو سره ډک دي، نو درویش خو ترجمه په پښتو ژبه ددغو کتابو اخستې ده، نو درویش په پښتو کي ددغو الفاظو څرنګه پښتو ترجمه وکړي.

بیت

چشم بد اندیش که بر کنده باد　　　غیب نماید هنرش درنظر

لکن درویش وايي چي کاروان د تصنیف د درویش پر مخ روان دی ستاسي په چون وچرا سره شاته نه راځي، ببغمه خپل غیبتونه کوئ، او د حسد په اور خپل زړونه سوځئ، د درمختار مقدمه خو لطفا مطالعه کړئ او کاشکي د درمختار په مقدمه دوئ پوهېدلای.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ ﴿٢٠٥﴾

پوه سه: چي مفسرین رح په متفقه ډول ددې آیت داسې ترجمه کوي، او هغه وخت دغه منافق اخنس بن شریف چي ستا له مجلس څخه رجوع وکړي او یا ولي او مالک وګرځي د یو ځای نو دي سعي کوي په مځکه کي ددې لپاره چي دی فساد وکړي، او دی هلاک کړي کښت د خلګو یعني اور وروا چوي او مواشي د خلګو او د خدای نه دی خوښ په مځکه کي فساد.

فائده: اخنس مذکور چي دغسي هم وکړه او دده او د ثقیف د قبیلې تر منځ عداوت و، نو اخنس د شپې له خوا ورغلی او د ثقیف د قبیلې کښتونو ته يې اور واچوی او مواشي ددوئ يې ورمړه کړه.

فائده: سعي په لغت کي چابک تګ ته د پښو وایي، او دلته مجازا په کوشش کي په یو کار کي مستعمل دی.

پوښتنه: سعي په معنا حقیقي او مجازي دواړو کي مخصوص په مځکه پوري دي، نو د في الارض څه فائده ده؟

ځواب: په راوړو کي د ارض اشاره ده وکثرت ته د فساد دده، ولي لفظ د ارض ټولو اجزاؤ ته د مځکي شامل دی، وعموم الظرف یعني الارض یستلزم عموم المظروف یعني الفساد.

فائده: حرث کښت ته وایي د هر شي کښت چي وي، که غنم وي او که جوار وي وغیرهما.

پوه سه: چي حرث او نسل که څه هم دواړه مصدر دي لیکن دلته په معنا د مفعول دي، قاله صاحب روح البیان.

فائده: که څه هم بغض او محبت د شي په منځ کي واسطه لري مثلا زید له عمره سره نه بغض لري او نه محبت ورسره لري، لکن په ټوله قرآن مبارک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي عدم محبت د خدای ﷻ د شي سره په اتفاق د مفسرینو رح په معنا د عدم رضاء. د خدای ﷻ ده بلکه د بغض او غضب د خدای ﷻ ده. فلا ینبغی للمؤمن ان یعمل العمل الذي ورد فیه انه تعالی لایحبه. لانه تعالی یغضب علی عامل العمل المذکور.

فائده: عطف د "یهلک الحرث والنسل" پر "یفسد فیها" باندي عطف د خاص پر عام دی لان الاهلاک المذکور من جملة الافساد. وفائدة العطف التنبیه علی شدة وخامة هذا النوع من الافساد ای اهلاک الحرث والنسل لتضمنه مفاسد اخری کما لایخفی.

درویش وایي: چي په روح البیان او روح المعاني کي داسي سوال او خواب موجود دي، چي خدای ﷻ انسانان او حیوانان وژني او پر میوو د درختو بې وخته ژلۍ اورږوي چي تولي میوې فاسدي سي وهکذا نور ورته کارونه کوي، نو دا کارونه افساد نه دی، او خدای جل سلطانه وایي ﴿والله لایحب الفساد﴾ قال العلامه الآلوسي رحمه الله في جوابه ان الافساد في الحقیقة اخراج الشيء عن حالة محمودة لا لغرض صحیح وذالک غیر موجود في فعله تعالی ولا هو امر به وما نراه من فعله جل سلطانه افسادا فهو بالاضافة الینا، واما بالنظر الیه تعالی فکله صلاح وله تعالی فیه حکم محمودة لاتحصی واما امره باهلاک الحیوان مثلا لاکله فلا صلاح الانسان الذي هو زبدة هذا العالم السفلی.

درویش وایي: چي حاصل د کلام د علامة البرسوي رحمه الله او د علامه آلوسي رحمه الله دادی چي په دلائل نقلیه او عقلیه سره دا ثابته ده چي رب جل سلطانه حکیم مطلق دی او هیڅ شی او هیڅ کار دده له حکمت او فائدي څخه خالي نه دی که یې څوک په حکمت وپوهېږي، او که نه نو د خدای ﷻ کارونو ته افساد نه سي ویل کېدای بلکه خالي عن الفائدة هم نه دی بخلاف افعالنا فافهم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللَّهَ

او چي وبه ويل سوه اخنس ته پر طريقه د نصيحت چي وبېرېږه له خدایه يعني اهلاكه د حرث او نسل د خلگو مه كوه.

أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْإِثْمِ

نو دی باعثه كړی عزت او تكبر د جاهليت يعني چي په څه به ماته ناصح نصيحت كوي بالاثم ای علی الاثم يعني نور پر خپل افساد ټينگ سي

فَحَسْبُهُ جَهَنَّمُ ۚ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿٢٠٦﴾

نو ده لره كافي دی جهنم جزاءً وعذاباً في الآخرة.

پوه سه: چي جهنم نوم دی د دار العقاب في الآخرة كه اور وي او كه زمهرير وي، كه څه هم په اصل لغت كي مرادف د اور دی، او هر آينه بدفراش دی جهنم وهو المخصوص بالذم المحذوف.

درويش وايي: چي د ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي د لويو گنهو څخه دا خبره د سرې ده چي يو ناصح وده ته ووايي اتق الله دی ورته ووايي چي ته خپل ځان بنه كړه، ومثل هذا الجواب رائج في جهلة الناس في زماننا ايضا، روی انه قيل لعمر بن الخطاب ﷺ اتق الله فوضع خده على الارض تواضعا لله ﷻ، وهكذا روی عن عمر بن عبد العزيز ﷬ ذالك الملك العادل انه قيل له اتق الله وكان راكبا على فرس فوثب عن الفرس ووضع محاسنه على الارض ثم قال للقائل ماحاجتك.

فائده: لفظ د "حسب" مصدر دی په معنا د فاعل دی او مبتداء د جهنم يې خبر دی، او جنهم غير منصرف دی، للعلمية والتانيث السماعي، او بعض علماء وايي چي جهنم لفظ فارسي دی، او اصل يې گهنام و فعرب بابدال الكاف الفارسي بالجيم كما هو القانون مثل لجام ولگام او الف يې خندي حذف كړی نو پر دې تقدير عدم انصراف يې په سبب د عجميت او علميت دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تمهید: پوه سه چې شراء په عرف کې د فقه شریفې بذل الثمن لتحصیل المبیع، یعني ورکول دي د روپو، مثلا لپاره د لاسته راوړلو د مبیع هر شي چې و، نو مقصود د مشتري مبیعه وي، ودې ته په پښتو کې رانیول وايي، او بیع ورکول د مبیع دی او لاس ته راوستل د ثمن دي نو مقصود بالذات د بائع ثمن دی چې دې ته په پښتو کې خرڅول وايي، لکن فقهاء رح وايي چې لفظ د شراء او بیع د اضدادو څخه دي، یعني دا دواړه لفظه په دواړو معناوو کې مستعملېږي لکه چې په راتلونکې آیت کې چې لفظ د شراء راغلی دی په معنا د بیع، نو د آیت معنا داده.

بعض خلګ یعني مجاهدین د مسلمانانو داسي دي چې خپل ځانونه خرڅوي یعني خپل ځانونه قربانوي او خپل وینه تویوي په غزاء کې د کافرانو سره لپاره د تحصیل د رضاء الهي په سبب د اعلاء کلمة الله، نو دغو مجاهدینو خپل ځانونه لکه ثمن ګرځولي دي او مرضات الهي لکه مبیعه یعني مقصود بالذات ددوئ طلب ده رضاء الهي ده، او خپل ځانونه او ویني یې ثمن ورته ګرځولي دي. قال الله عزوجل في بیان حال هولاء

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِيْ نَفْسَهُ ابْتِغَاۗءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ ۭ وَاللّٰهُ رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۲۰۷﴾

او بعض د خلګو څخه یعني مسلمانان چې بندي او خرڅوي خپل ځان

درویش وايي: چې اګرچې شان نزول ددې آیت خاص خلګ وه کماسیڅاتي لکن عبرت عموم لره د لفظ دی خصوص لره د مورد نه دی، نو ځکه یې مظهري رحمه الله داسي تفسیر کړی دی، ای یبیع ویبذل في الجهاد او الامر بالمعروف والنهي عن المنکر، او درویش داهم پر زیاتوي، او کلمة الحق عند سلطان جائر، او روح البیان دېر تعمیم پکښې کړی دی ای یبذل نفسه في طاعة الله من الصوم والصلوة والحج والزکوة والجهاد وتوصل بذالک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الی وجدان ثواب الله الخ، لپاره د طلب د رضا د خدای ﷻ نو مرضات مصدر میمي دی، او خدای ﷻ ډېر مهربانه دی پر بندګانو.

درویش وایي: چي دا د رب العزت ډېره غټه مهربانی ده چي زموږ نفسونه زموږ مالونه یې تېوله خاص ملک او حق د خدای ﷻ دي او بیا هم خدای ﷻ دا خپل خاص ملک له موږ څخه رانسي او په عوض کي په ورځ د قیامت هغه نعمتونه د جنت من الحور والقصور والماکولات الشهیة والمشروبات لذیذة، راکوي چي مالاعین رئت ولا اذن سمعت ولاخطر علی قلب بشر یعني بالتفصیل، او هم دا تېوله رحمةً او احساناً واکراماً وفضلاً راکوي فما نبغی غیرها.

پوه سه: چي بعض مفسرین شان نزول ددې آیت داسي بیانوي چي صهیب بن سنان الرومي ﷺ چي عمر یې سل کاله و، له مکې څخه ووتی په نیت د هجرت الی دار رسول الله ﷺ یعني المدینة المنورة او دده سره څو نفره نور هم ملګري وه، نو یو څو نفره د کفارو د قریشو په دوئ پسي ووتل، او دده ملګري کسان یې په شهادت ورسول او د صهیب سره خپل بغل خولی د غشو ډکه ورسره وه، او صهیب ﷺ د غشو په وشتلو کي ډېر مهارت درلودی او غشي یې نه خطاکاوه، نو قریشوته یې وویل یامعشر القریش چي تاسو پوهېږئ او خبر یاست چي په تېوله مکه کي زه ډېر مصیب غشي وشتونکی یم او قسم په خدای دی چي زه به هر غشي ستاسي د یوه پر زړه لګوم، او قسم په خدای دی چي تاسي مانه سئ نیولای چي زما په بغل خولی کي هرڅو غشي دي یو یو ستاسي به مړه نه کړم، وروسته چي زما غشي خلاص سي بیا نو افعلوا بي ماشئتم، او دا خبره یې هم ورته وکړه چي زه شیخ کبیر سالخورده یم زما وجود په مکه کي تاسي ته څه فائده ده، او صهیب ورته زیاته کړه چي زما په کور کي یعني په مکه مکرمه کي ډېر مال او نقود سته ورسئ هغه تېوله یوسئ او ما واسلام او هجرت سره پرېږدئ کفارو دا خبره ومنل او دی یې خوشي کړی، نو څه وخت چي صهیب ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مدينې ته ورسېدی اولين ملاقات يې د حضرت ابو بکر ﷺ سره وکړی، حضرت ابو بکر ﷺ وده ته وويل ربح البيع ياصهيب يعني ګټوره بيع دي وکړه؟ صهيب ورته وويل وما ذاک يا ابابکر فاخبره ابوبکر ﷺ بما نزل في شانه اي هذه الآية ففرح صهيب بذالک جداً.

درويش وايي: چي پر دې شان نزول شراء پر خپله معنا ده ولي چي صهيب خپل ځان له کفارو څخه د قريشو رانيوی يعني خلاص يې کړی په بدل د خپلو اموالو.

پوه سه: چي دغه واقعه حارث بن ابي اسامه په خپل مسند کي او ابن ابي حاتم د سعيد بن المسيب ﷺ څخه په ډېره مختصره توګه روايت کړی دی او په ځای کي يې د ابو بکر ﷺ نبي ﷺ ذکر کړی دی يعني عليه الصلوة والسلام ربح البيع ورته وويل، او دا حديث صحيح دی پر شرط د مسلم وان لم يخرجه.

فائده: صهيب ﷺ صحابي معروف دی او په اصل رومي نه و بلکه عرب و لکن په کوچنيوالي روميانو غلا کړی و، نو ځکه نو د رومي په نامه مشهوره و، او روح المعاني وايي، توله شيعه ګان او بعض د اهل سنتو هم وايي چي دا آيت په شان کي د علي ﷺ نازل سوی دی، يعني لکه په بخاري او نورو کتابو د احاديثو کي چي راغلي دي چي رسول کريم ﷺ چي د مکې مکرمې څخه هجرت کاوه، نو علي ﷺ يې راوغوښتی چي ته راسه زما پر بستر نن شپه پرېوزه ولي چي نن کفار مکه زما کور تر محاصره لاندي نسي زما د قتل لپاره، نو علي هم دغسي وکړه نو ګويا علي ﷺ خپل ځان خرڅ کړی لپاره د رضا الهي.

درويش وايي: چي پر دې شان نزول هم شراء مذکور في الآية بمعنی البيع کما لايخفی.

پوه سه: چي آلوسي ﷺ په روح المعاني کي وايي چي کواشي په خپل تفسير کي ددې آيت په شان نزول کي داسي ويلي دي چي دا آيت په شان کي د زبير بن العوام ﷺ او د مقداد بن الاسود ﷺ نازل سوی دی چي څه وخت چي خبيب ﷺ حارث نامی کافر په بدر کي وژلی و، نو زامنو د حارث دا کوشش

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کوی چي خبیب لاس ته ورسوي چي د پلار په عوض کي یې مړی کړي خو آخر الامر خبیب ﷺ ژوندی په لاس ورغلی چي قصه به یې زه عنقریب درته وکړم ان شاء الله تعالی، نو زامنو د حارث خبیب ژوندی په دار کړی په تنعیم کي او بیا یې په نېزه په خېټه کي وواهه چي خبیب ﷺ اخر شهید سو او څلوېښت ورځي او شپي په هغه دار خړېدی او څلوېښتو کسانو به پېره پر کوله چي نبایده د مسلمانانو له خوا څوک رانه سي او دی یو نسي، نو علیه الصلوة والسلام یوه ورځ وویل "من ینزل خبیبا عن خشبته ای خشبة التي هو علیها فله الجنة" نو زبیر بن العوام او مقداد بن الاسود وویل چي موږ یې راکښته کوو، او مدینې ته یې راوړو، نو دا آیت نازل سو ددغو دوو صحابه وو په باره کي.

درویش وایي: چي په دې تقدیر هم شراء چي په آیت کي ذکر ده په معنا د بیع ده یعني دغو دوو صحابه کرامو خپل ځانونه خرڅ کړه په عوض کي یې ثمن د جنت تر لاسه کړی.

درویش وایي: چي تفصیل د قصې په روایت د بخاري د ابي هریره ﷺ څخه دادی چي آنحضرت ﷺ لس نفره عینا یعني د معلومات د راټولولو لپاره واستول او امیر یې عاصم بن ثابت وټاکی، نو بني لحیانو ته د هذیل د قبیلې څا ددغو صحابه کرامو ﷺ راپور ورکړی، نو هغه سل کسان تقریبا غشي ویشتونکي پسي راووتل، نو چي عاصم ﷺ او ملګرو دده دوئ ولیدل نو یوې غونډۍ یا کوچنې غره ته پورته سوه او د هذیل د قبیلې سل کسه شاوخوا پر هغه غره یا غونډۍ راوګرځېدل، او کافرانو صحابه کرامو ﷺ ته اعلان وکړی چي که تاسي په رضا ځانونه موږ ته په لاس راکړئ موږ ستاسو څخه یو هم نه وژنو.

درویش وایي: چي دا خو لفظ د بخاري دی، او مظهري ﷺ تر دغو تورو وروسته دا توري زیات کړي دي (وانا والله لانرید قتلکم بل نرید ان نصیب شیئا من اهل مکة) والله اعلم بحال زیادة المظهري ﷺ. نو عاصم وویل چي زه خو په امان کي د کافر ځان په لاس نه ورکوم یعني له غره څخه نه ورکښته کېږم، او په روایت د مظهري ﷺ داسي یې وویل "اللهم اني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اليوم احمى لک دينک فاحمى لحمي" خدايه زه ساتم ستن ورخ ستا دين ته وساتې زما غوښې، او د بخاري په کتاب کې صرف دغه الفاظ د عاصم موجود دي "اللهم اخبر عنا رسولک" نو جنګ تر منځ د لسو صحابه کرامو او د سلو کسانو کافرانو شروع سو، نو کافرانو عاصم د اوو کسانو صحابه وو سره په شهادت ورسول، او آنحضرت ﷺ او مسلمانانو ته خبر مدینې ته ورورسېدی، وبقی خبيب وزيد وعبدالله ابن طارق ﷺ، نو هذيل چې عاصم یې قتل کړی اراده یې وکړه چې سر یې خندي پرېکړي، نو خدای ﷻ غالبوزي پيدا کړې چې څوک به عاصم ته ورنږدې کېدی غالبوزو به یې په سترګو غوړونو او نورو ځایونو باندي نېښونه ورچګ کړه، نو آخر کفار د عاصم د سر له پرېکېدو بېزاره سوه نو دې ساتني ته حمی الدبر وايي. بیا خدای ﷻ يوه وریځ پیاد کړه او باران شروع سو او شیله د اوبو ډکه راغله او عاصم يې یوړی ولي چې عاصم ﷺ پخپل ژوند کې داسې قسم کړی و، چې نه به مشرک ته لاس ورورم او نه به مشرک ماته لاس راوړي نو خدای ﷻ په دې قسم کې دی حانث کړی، يعني د کافر د لاس ورورلو څخه یې وژغوری او هغه پاته درې کسان په عهد او امان د کافرانو ورته راکښته سوه نو کافرانو ددوئ د کمانو تناوته خلاص کړه او ددوئ لاسونه یې په وترل نو عبدالله وکافرانو ته وويل چې دا اول عذر چې تاسو له موږ سره کوی لاسونه مو ولي راتړلي دي زه نه درسره ځم او زه په دا نورو اوو پسې اقتداء کوم فجرروه وعالجوه نو کافرانو دی کش کړی او ډېر کوشش یې پر وکړی خو عبدالله ځان پر مخکه اچولی و، اخير کافرو هغه قتل کړی

درويش وايي: چې دا خو الفاظ د بخاري وه، او مظهري ﷫ بل ډول حکايت د عبدالله له حاله کړی دی والله اعلم، او کفارو د هذيل، خبيب او زيد بن دثنه ﷺ له ځانه سره بوتله مکې مکرمې ته لپاره د خرڅولو، ابن اسحاق مورخ د مغازي او ابن سعد وايي چې زيد صفوان بن اميه (چې وروسته بيا مسلمان سوی دی) رانيوی چې د اميه بن خلف يعني د پلار په

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

خاى كي يې مړ كړى، نو صفوان خپل مريي چي نسطاس يې نوم و (او دا هم وروسته مسلمان سوى دى) چي تنعيم ته يې بوزه او هوري يې قتل كړه. نو قريشو چي دا واورېده چي زيد ﷺ په تنعيم كي قتل كېږي، نو ډېر نفر هوري جمع سوه چي په دې جمله كي ابو سفيان هم و (چي دى هم بيا وروسته مسلمان سوى دى) نو ابو سفيان وزيد ته وويل چي ستا دي قسم په خداى وي چي ستا په زړه كي دا خوښه ده چي ستا په خاى كي محمد ﷺ وايي او غاړي يې پرې سوي وايي او ته پخپل كور كي وايي. نو زيد ﷺ ورته وويل چي زما دا نه ده خوښه چي محمد ﷺ پخپل ځاى كي اوس دى يو څوز په جگ سي چي دى په خوږ سي او زه كور ناست يم.

درويش وايي: چي دا دى محبت د اصحابو ﷺ د آنحضرت ﷺ سره اللهم ارزقنا حبک وحب حبيبک وحب من يحبک آمين. ابو سفيان وويل چي ما نه دى ليدلى هيڅ څوک چي دونده محبت دي له چا سره لري لكه محبت د اصحابو د محمد ﷺ له ده سره بيا نسطاس وروړاندې سو او زيد يې قتل كړى.

پوښتنه: زيد يې ولي وتنعيم ته د وژولو لپاره واستاوه؟

ځواب: قريشو د مكې قتل په حرم كي روا نه باله او تنعيم له حرمه څخه خارج دى، نو ځكه څوک چي عمره كوي و تنعيم ته ځي او له هغه ځايه احرام د عمرې تړي او يا د جمراني څخه چي هغه هم له حرمه خارج دى. او خبيب ﷺ زامنو د حارث رانيوى چي په عوض كي يې د خپل پلار حارث چي خبيب ﷺ په بدر كي وژلى و په قصاص كړى، او خبيب ﷺ د حارث زامنو په كور كي زولنې په پښو كي بندي و، نو دوئ خپل قريبان سره راټول كړه چي د خبيب د قتل تماشه وكړي، نو د صبا ورځي د قتل پروگرام يې بسته كړى، خبيب چي په دې خبر سو نو د بعضو لوڼو څخه د حارث يې د سر د خريلو چاړه وغوښتل چي زېر ناف په وخريي، هغې ښځي چاړه وركړه دا ښځه وايي چي زما فكر نه و چي زما يو كوچنى زوئ خبيب ته ورغلى دى او خبيب هغه كوچنى پر ورانه كښېنولى و او چاړه يې په لاس كي وه. نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ښځه وايي چې ما لوبه بغاره وکړه په گمان ددې لکه چې خبيب زما زوئ قتل کوي، نو خبيب ﷺ وهغې ښځې ته وويل ته مه بېربېږه ستا زوئ نه وژنم ولې چې د اسلام په دين کې غدر نشته.

فائده: دا ښځه وايي چې قسم په خدای دی چې ما تر خبيب ښه بندي نه دی ليدلی، دا وايي چې قسم په خدای دی چې ما يوه ورځ دی وليدی چې د انگورو وانبکی يې تازه په لاس کې و، او انگور يې خوړله او دی په اوسپنو کې هم تړلی و، او په ښار کې د مکې هيڅ ميوه هم نه وه. نو دا وايي دا يو رزق د خدای له خوا ده ته مقرر و.

درويش وايي: چې کفار مکه دومره سنگدله وه چې سره ددغو واقعو يې ايمان نه راوړی او د خبيب ﷺ وقتل ته تيار سوه. راوي وايي چې زامنو د حارث خبيب ﷺ د حرم له مځکې څخه د حل وځکې ته وه ايستی لپاره د قتل نو دوئ چې دی ودار ته پورته کاوه نو خبيب ورته وويل چې ما پرېږدئ چې زه دوه رکعته نفل وکړم، نو دوئ هم اجازه ورکړه (نو د خبيب ﷺ څخه دا دوه رکعته لمونځ تر دې اوسه پوري په ميراث پاته دی چې څوک چې صبراً يعني ياحق ياناحق وژل کېږي دغه دوه رکعته نفل کوي) نو خبيب ﷺ بنو الحارث ته وويل چې که تاسې دا گمان نه کولی چې خبيب له مرگه بېربېږي ما به دا دوه رکعته لمونځ ډېر اوږد کړی وايي او بيا خبيب دا ښرا د حارث وزامنو ته وکړه اللهم احصهم عدداً واقتلهم بدداً ولاتبق منه احداً. او بيا خبيب دا شعرونه وويل

ولست ابالي حين اقتل مسلما علی شق کان لله مصرعی
وذالک في ذات الاله وان يشاء يبارک في اوصال شلوممزع

نو خبيب يې تخت ته د دار پورته کړی او ابو سروعة د حارث زوئ ورغلی په نېزه يې ووهي، نو خبيب ﷺ وويل اللهم بلغ سلامي رسولک. او محمد بن عمر بن سلمه د اسامة بن زيد څخه روايت کړی دی چې موږ د عليه السلام څخه واورېده چې وه يې ويل عليه السلام ورحمة الله وبرکاته، او

علیه السلام وویل چي هذا جبرئیل یقروني من خبیب ﷺ السلام. نو چي آنحضرت ﷺ خبر د قتل او دار د خبیب ﷺ ورسېدی نو یې وویل چي څوک دی چي خبیب ﷺ له تختې څخه د دار راکښته کړي وله الجنة. فقال الزبیر ﷺ انا وصاحبي المقداد ﷺ بن الاسود. نو دوئ دواړه نوموړي صحابه د مدینې څخه رهي سوه، نو د شپې به یې مزل کاوه د ورځ به یو ځای پټ وو حتی چي تنعیم ته یې ځان ورساوه د شپې، او د خبیب ﷺ پر دار څلوېښتو کسانو پیره کوله چي د خبیب ﷺ مړی څوک مسلمان یونه سي، نو دا دوه کسان صحابه چي وروه رسېدل پیره داران بیده وه، نو خبیب یې راکښته کړی، او څلوېښت ورځي دده د قتل تېري سوي وې او بدن مبارک یې لوند و، هیڅ تغیر یې نه و کړی، او خبیب ﷺ پر خپل تپ د نېزې لاس ایښی و، او لږ لږ وینه څڅېدي بهېدل اللون لون الدم والریح ریح المسک. نو زبیر ﷺ خبیب ﷺ پر آس د شا له خوا وتړی او دوئ را رهي سوله د مدینې پر خوا. یو ګړی وروسته کفار راوېښ سوه چي وه یې کتل خبیب نسته. نو قریش یې خبر کړه، اویا کسان پر آسانو پسي سپاره سوه، چي دا سپاره ورنږدې سوه، زبیر ﷺ خبیب له آسه وغورځاوه او مځکي دستي خبیب ونس ته تېر کړی خبیب ورک سو، نو ځکه په مسلمانانو کي خبیب ﷺ په بلیع الارض سره ملقب سو، او هغه دوه کسان سلامت ومدینې منورې ته ورسېدل او ماجرا قصه یې وعلیه الصلوة والسلام ته وکړه، او جبرائیل ﷺ د علیه الصلوة والسلام سره موجود و، جبرائیل ﷺ وویل یامحمد ان الملائکة لتباهي بهذین من اصحابک یعني الزبیر والمقداد بن الاسود فنزل فیها ومن الناس من یشتری الآیة وقد مر من قیل ناقلا من تفسیر الآلوسي.

درویش وایي: چي ددې قصې و بعضو معجزاتو ته د آنحضرت ﷺ او بعضو کراماتو ته د خبیب ﷺ دي مسلمانان غوږ ونسي او د کمزورد مسلمانانو د زړونو وسوسې به هم دفع سي ان شاء الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۱) خبر د شهادت د عاصم او ملګرو په دغه ورځ صحابه کرامو ﷺ رسول الله ﷺ ته په مدینه منوره کي ورساوه، وهذا معجزة الرسول ﷺ.

(۲) د هذیل قبیلې چي غوښته چي د عاصم ﷺ سر خندي پرې کړي خدای ﷻ دوئ د غالبزو په لښکر خندي وساتی، دا د عاصم کرامت و او د علیه الصلوة والسلام معجزه وه لانه قد ثبت في کتب العقائد ان کرامة الولي معجزة للنبي الذي هذا الولي علی دینه.

(۳) خدای ﷻ باران وه اورا وه چي شېله د اوبو ډکه راغله د عاصم ﷺ جسد مبارک بې یوړی الی حیث شاء الله تعالی او داهم د عاصم کرامت او د علیه السلام معجزه وه کمامر آنفاً.

درویش وایي: چي سبب د جسد مبارک د عاصم د اوبو وړلو هم موږ ذکر کړی فتذکر.

(۴) د حارث لور چي وایي ما یوه ورځ د خبیب په لاس کي د انګورو واښکی ولیدی چي ده انګور خوړله الی اخیر ماذکر من قبل، او دا هم کرامت د خبیب ﷺ و ومعجزة للنبي ﷺ کمامر آنفاً.

(۵) خبیب ﷺ چي دا وویل چي خدای ﷻ دي زما سلام وعلیه السلام ته ورسوي او هغه په واسطه د جبرائیل و علیه الصلوة والسلام ته ورسېدی وهذا ایضا کرامة الخبیب ﷺ ومعجزة للنبي ﷺ.

(۶) علیه الصلوة والسلام چي د خبیب ﷺ وسلام ته جواب ورکړی کمامر بیانه دا معجزه د علیه السلام ده.

(۷) زبیر بن العوام او مقداد بن الاسود رض چي خبیب ﷺ له داره راکښته کړی الی آخیر مامر سابقاً ففیه کرامة الخبیب ومعجزات لرسوله کما لایخفی.

(۸) زبیر چي د خبیب مړی له آسه وغورځاوه او مځکي خپل نس له یوړی کمامر آنفا فهذا ایضا کرامة الخبیب ﷺ ومعجزة للنبي ﷺ.

درویش وایي: چي بعضي ضعیفه مسلمانانو ته شاید په زړه کي شیطان دا وسوسه ور واچوي چي خبیب ﷺ ته چي دی موثق بالحدید هم وو انګور

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خو به یوې ملکي راوړه، نو دې ملکي دا نه سوه کولای چي دی له بندیز
خلاص کړي او له مکې څخه یې وباسي د مدینې پر خوا؟
ځواب: کولای یې سوای لکن د خدای له خوا امر نه و ورته سوی.
پوښتنه: د رب جلا وعلا په دې کي څه حکمت و؟
ځواب: حکمت آلهي دا و چي د خبیب ﷺ ایمان او تصدیق نور هم ټینګ
سي او دا بند او آئینده مرګ او شهادت ورته سپک سي ولي د مرګ سختي
خو یو ګړی وي او د شهادت رتبه علیا خو ابدي ده.
پوښتنه: علیه الصلوة والسلام زبیر او مقداد ﷺ ته اجازه ورکړه چي د
خبیب مړی دې له داره کښته کړي او را یې وړي، دا کار خو د جبرائیل له
طاقته هم پوره و؟
ځواب: هو! لکن امر الهي نه و په دې کي څه حکمت د خدای ﷻ و، او دا
چي په دې کار سره زبیر او مقداد ﷺ ته درجه علیا په جنت کي ورکړي او
کرامة د خبیب ﷺ چي بلیع الارض سو په خپلو سترګو ووینې تاچي نور به
یې ایمان قوي سي، قال الشاعر

بقدر الکبد تکتسب المعاني ومن طلب العلی سهر اللیالي

یعني لکه زبیر او مقداد چي توله شپه بیداره وه مزل یې کاوه کمامر، او
یا د شپې د تهجد د لمانځه لپاره سرې خوب پرېږدي او د خدای په عبادت
کوي وي وامثال ذالک.

تروم العز ثم تنام لیلا یغوص البحر من طلب الآلي

پوښتنه: څه حکمت و چي د عاصم ﷺ د سر د پرېکېدو لپاره چي کافران ورغله
خدای ﷻ هغه کافران د غالبزو په لښکر دده د سر له پرېکېدو څخه وتښتول، او
بیا جسد مبارک د عاصم شبلي د باران په اوبو سره الی ماشاء الله یو وړی؟
ځواب: یو حکمت خو دا و چي خدای پاک خپل قدرت او د عاصم کرامت
وکافرانو ته وښود، او بل حکمت دا و کمامر چي عاصم په خپل ژوند کي
دا قسم کړی و چي زه به مشرک نه مسه کوم او نه به مشرک زما جسد مسه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړي، نو خدای ﷻ دده قسم پر ځای کړی.

درویش وایي: چي په قتل کي د عاصم او د زید او د خبیب ﷺ چي بیان د هغو تېز سو ډېري معجزې او کرامتونه او بیان د محبت د اصحابو ﷺ د آنحضرت ﷺ مندرج دي.

د تعجب خبره: امام مظهري ﷫ ددې آیت په شان نزول کي دوه متناقض بیان کړي دي، اول ده ویلي دي چي دا آیت په شان کي د سریة الرجیع نازل سوی دی، او د ابن اسحاق او ابن سعد یوه قصه یې رانقل کړې ده چي علیه السلام ته یو څو نفره د بنو لحیان له قبیلې څخه راغله او منافقانه ایمان یې راوړی، څو ورځي وروسته یې د علیه الصلوة والسلام څخه وغوښتل چي ته یو څوک راسره کړه چي زموږ قوم ته تبلیغ د اسلام وکړي، نو علیه الصلوة والسلام حضرت خبیب بن عدي الانصاري او مرثد الغنوي او خالد بن بکیر او عبدالله بن طارق او زید بن الدثنة او عاصم بن ثابت ﷺ ورسره کړه او عاصم بن ثابت ﷺ یې امیر وګرځاوه، او متصل ددغه سره مظهري حدیث د بخاري راوړی دی کمامر تفصیله، د تعجب ځای دادی چي په روایت کي د ابن اسحاق کمامر آنفاً شپږ کسه ورسره کړه هغو منافقانو چي دا کسان صحابه کرام ﷺ د خانه سره بوتله نو غدر یې ورسره وکړی او ټوله یې شهیدان کړه یا یې پر کفارو د مکې خرڅ کړه، او د بخاري په حدیث کي خو لس کسه ذکر سوي دي چي په هغو کي عاصم او خبیب او زید بن الدثنة ﷺ هم ذکر سوي دي، او د بخاري د حدیث متصل بیان او د قتل د عاصم او د زید او د خبیب ﷺ متصل بیان هم تاسو واورېدی، یو تناقض خو دادی چي په روایت کي د ابن اسحاق شپږ نفره ذکر سوي دي او د بخاري په روایت کي لس نفره ذکر سوي دي، او بل تناقض دادی چي په روایت کي د ابن اسحاق دا شپږ کسه په غدر سره بېول سوي وه، یعني منافقانو د علیه السلام سره غدر او چم وکړی، او د بخاري په رویت کي خو لسه کسه علیه الصلوة والسلام پخپل اختیار د جاسوسی لپاره استولي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وه، او بل تناقض دادی چي د سرية الرجيع موضوع بېله واقعه ده او د لسو كسانو استول د جاسوسی لپاره بېله او جلا واقعه ده، نو څرنګه مظهري رحمه الله دواړي واقعې سره متصل کړي دي، او دا يې هم نه دي ويلي دي چي ابن اسحاق داسي وايي او بخاري داسي وايي يعني ترديد يې نه دی کړی، او بل تناقض دادی چي عاصم او زيد او خبيب رضي الله عنهم خو داسي نه سي کېدای چي په دواړو واقعو کي دي شهيدان سوي وي، نو درويش چي والله اعلم بمراد المظهري رحمه الله في ضم الروايتين المذكورتين بدون الترديد بينهما.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱدْخُلُوا۟ فِى ٱلسِّلْمِ كَآفَّةً

ددې آيت شان نزول مفسرينو رح داسي بيان کړی دی، چي يو څو نفره مسلمانان چي له يهودو څخه وه او په اسلام مشرفه سوي وه لکه عبدالله بن سلام واضرابه وعليه الصلوة والسلام ته راغله او داسي يې وويل چي موږ په يهوديت کي تعظيم د يوم السبت کاوه، نو موږ ته اجازه راکړئ چي په اسلام کي هم موږ ددې ورځي تعظيم کوو، او دا يې هم ورته وويل چي تورات خو هم کتاب الله دی، نو موږ ته اجازه راکړئ چي د تهجد په لمانځه کي موږ تورات وايو، او بل يې دا ورته وويل چي موږ د يهوديت په وخت کي د اوښ غوښې او شيدې نه خوړلې، نو پسله اسلام که موږ هغه نه خورو نو څه حرج دی، اخرجه ابن جرير عن عكرمة رضي الله عنه فنزلت هذه الآية.

پوه سه: چي "السلم" په کسره سره د سين او په فتحه سره انقياد او اطاعت ته وايي، نو ځکه دا لفظ په صلح او اسلام کي مستعملېږي.

فائده: كافة " يا حال دی له ضميره د "ادخلوا" يعني په اسلام کي د بل دين احکام مه ګډوئ لان تلك الاحكام منسوخة نسخها القران والاسلام، نو معنی داده چي حال کون ستاسي چي ټوله به په اسلام کي ياست او ستاسي سره به بل شی نه وي، او يا "كافة" حال ده د "سلم" څخه يعني حال کون د اسلام چي ټوله به وي يعني د اسلام له دين سره به د بل دين احکام نه وي والمآل واحد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: سلم" خو مذکر دی او "کافة " خو مؤنث دی لوجود تاء التانيث فيه بيضاوي ددې سوال په ځواب کې داسې ويلي دي لانها تؤنث کالحرب يعني لفظ د "سلم" مؤنث سماعي دی لکه مقابل د هغه چې حرب دی او بيضاوي بيا يو شعر د سلم او د حرب پر تانيث شايد هم راوړی دی، وتبع البيضاوي المظهري کما هو دينه، آلوسي او برسوي دا ځواب د بيضاوي رد کړی دی او دوئ وايي چې تاء د "کافة " وکذا قاطبة وعامة د تانيث لپاره نه ده بلکه لپاره د نقل د کلمه ده د صفيت څخه ومعنی ته د کل او جميعا.

درویش وايي: چې دا شان نزول راتيه د اکثرو مفسرانو ده، او بعض مفسرين رح وايي چې دا آيت په باره کې د منافقينو نازل سوی دی. نو معنا د آيت داده چې ای هغه کسانو چې په دين کې د اسلام ظاهرا او قولا داخل سوي ياست داخل سئ په دين کې د اسلام په ټوله معنا يعني ظاهرا او باطنا يعني نفاق پرېږدی، او بعض مفسرانو نور احتمالونه هم راوړي دي چې له مقام سره مناسبت نه لري.

وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ۚ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۲۰۸﴾

او تاسي متابعت مه کوئ د ګامونو د شيطان ولې چې شيطان ستاسي دښمن او بين العداوت دی.

پوه سه: چې مطابعت د ګامونو د شيطان استعارةً مستعمل سوې ده او مراد له خطوات الشيطان څخه وسوسې دده دي مثلا اهل کتابو ته يې دا وسوسه په زړونو کې وراچوله چې تاسي خپل مال او عيال په ظاهري او قولي اسلام سره وساتئ ستاسي دين خو حق دی، وامثال ذالک من وساسه وخطراته حفظنا الله منها.

پوه سه: چې د جابر بن عبدالله څخه روايت دی چې يوه ورځ عمر بن الخطاب رضی الله عنه و رسول الله ﷺ ته راغلی او ورته يې وويل چې موږ له يهوديانو څخه بعضې قصې اورو چې موږ ته خوند راکوي آيا ستاسو خوښه ده چې موږ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بعضي هغه خبري د يهوديانو نوشته كوو، نو رسول الله ﷺ ورته وويل "امتهو كون انتم كما تهو كتب اليهود والنصارى" آيا تاسي حيران په امورو كي ددين خپل ياست لكه چي يهود او نصارى په كارنو كي ددين خپل حيران وه يعني چي د يهودانو د دين وخبرو ته محتاجه يې ځان بلى لقد جئتكم بها بيضاء نقية، ماتاسي ته راتگ كړى دى په سپين پاك ملة سره لو كان موسى حيا لماء وسعه الا اتباعي، او كه موسى ژوندى وايي ده ته به طاقت او اجازت نه وايي بېله متابعته زما ولي چي دده دين به منسوخ وايي. رواه احمد

درويش وايي: چي دا حديث د هغه شان نزول تائيد كوي چي آيت مذكوره په شان كي د عبدالله بن سلام ﷺ او دده د امثالو نازل سوى دى كمامر تفصيله

فَإِنْ زَلَلْتُمْ مِّنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْكُمُ الْبَيِّنٰتُ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۰۹﴾

او كه ستاسي پښې وښوېدلې يعني پر دين اسلام سم دم نه واست وروسته تر دې چي تاسي ته دلائل ښكاره راغله پر حقيقت د دين اسلام، نو په دې پوه سئ چي خداى ﷻ غالبه دى او له مخالفه د دين اسلام انتقام اخستلاى سي، او خداى ﷻ حكيم دى يعني عادل دى ناحقه انتقام له چا څخه نه اخلي، او بې فائدې كار هم نه كوي.

پوه سه: چي په دې آيت كي تهديد راجع دى و اهل ذلل ته له دخوله څخه په اسلام كي كافة، لكه يو پلار چي زوئ ته ووايي چي كه ته مخالفت وكړې زما له امره نو ته خو ماپېژنې چي زه څومره صاحب استغنى يم او عذاب يم پر مخالف باندې دا كلام او خبره د پلار وزوئ ته ابلغه ده تر دې چي ورته وايي چي كه تا زما مخالفت وكړى نو وهم دې مثلاً. ولي هغه د مخه خبره د پلار د هر سخت انتقام احتمال لري كما لايخفى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هَلْ يَنظُرُونَ

کلمه د هل استفهام انکاري دی يعني انتظار نه لري اهل مکه چي ايمان نه راوړي مگر ودوی ته.

إِلَّآ أَن يَأْتِيَهُمُ ٱللَّهُ

چي خدای ﷻ دوی ته راسي يعني عذابه لان حقيقة الاتيان محال على الله.

فِى ظُلَلٍ مِّنَ ٱلْغَمَامِ

بوه سه: چي ظلال جمع د ظلة ده وهي کل ما اظنک او غمام سپيني تري وريځي ته وايي يعني چي په ظاهره نعمت معلوميږي او په معنا کي عذاب وي کما قال بعض الكفار حين رء العذاب في صورة الغمام، هذا عارض ممطرنا وما قال مجاهد رحمه الله وهو غير السحاب ولم يكن الا لبني اسرائيل في التيه انتهى.

درویش وايي: چي دا تفسير دلته مناسب نه دی ولي چي د تيه غمام خو د بني اسرائيلو لپاره په تيه کي نعمت او راحت و، او په دي آيت کي خو مراد ظلة العذاب ده.

وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَقُضِىَ ٱلْأَمْرُ

او راسي ودوی ته ملائکي د عذاب، او فيصله وسي د عذاب د کافرانو

وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ﴿٢١٠﴾

او خدای ﷻ ته راجع کيږي فيصله د کارو من الخير والشر والثواب والعقاب وغير ذالک.

بوه سه: چي بعض قراء دا لفظ د "ترجع" په زور د تاء وايي او مشتق يي له رجوع څخه بولي چي لازمي دی لکه دمخه چي مو يي ترجمه وکړه، او بعض قاريان يي په ضمه د تاء وايي او مشتق له رجع څخه يي بولي، نو يي معنا داده چي خدای ﷻ ته راجع کړه کيږي کارونه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده مهمه: پوه سه چي علماء د اهل السنة والجماعة که یې مقدمین دي او که یې متاخرین دي پر دې عقیده دي چي خدای ﷻ له صفاتو څخه: اجسامو او له اعضاوٌ څخه د جسم لکه ید، رجل، مخ وغیرها منزه دی، او هغه شیان چي پر امکان او حدوث دلالت کوي هم پاک دی، نو دوی په امثالو کي ددې آیت چي "یاتیهم الله" پکښي راغلی دی یعني راتگ چي د لوازمو څخه د جسمیت او د حدوث دی دوې لاري لري، یوه داده چي موږ به پر امثالو ددغه آیت ایمان لرو او تفویض د علم به یې وخدای ﷻ ته کوو، یعني نقول نؤمن بما اراد الله تعالی بها ونفوض علمها الی الله ﷻ. او د مزید بحث څخه به ځان ساتو، وهذا مذهب السلف ومنهم ابو حنیفه ﷫ حیث قال في المتشابهات لایعلم تاویله الا الله بالوقف اللازم. وقال الکلبي ﷫ هذا من المکتوم الذي لایفسر، وکان مکحول والزهري والاوزاعي ومالک وابن المبارک وسفیان ثوري وسفیان بن عیینه واحمد واسحاق رحمهم الله تعالی یقولون فیه وفي امثاله امروها کما جائت بلاکیف والسکوت عنه. ولیس لاحد ان یفسروها الا الله ورسوله. او بعض ائمة رح تاویل د متشابهاتو بما یناسب المقام روا بولي او دوی وقف پر الی الله نه کوي، بلکه والراسخون في العلم پر عطف کوي والی هذا ذهب الشافعي ﷫ وغیره، والمسئلة مبسوطة في الکتب المفصلة.

سَلْ بَنِیٓ اِسْرَآءِیْلَ کَمْ اٰتَیْنٰهُمْ مِّنْ اٰیَةٍۭ بَیِّنَةٍ ؕ

او ته اې محمده پوښتنه وکړه له بني اسرائیلو څخه د مدینې.

پوه سه: چي مقصود ددې سوال څخه سر زنش د بني اسرائیلو دی یعني چي څومره آیات موږ درکړي وه تاسي ته، یعني ستاسي پلرو او نیکه گانو ته.

پوه سه: چي "کم" خبریه دی یعني ډېر مو ورکړي وه، نو پر دې تقدیر لفظ د "کم" منصوب محلا مفعول ثاني دی د "اتینا" له معجزات ظاهره وو څخه

پوه سه: چي "من آیة بینة" ممیز د "کم" دی یعني دا آیات ستاسي د انبیاء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علیهم السلام کالید البیضاء والعصاء وغیرهما من المعجزات التسع المذکورة فیما سبق، او یا مراد له آیاتو څخه هغه آیاتونه دي چي د دوئ د کتابو وه لکه تورات چي دلالت واضحه یې کاوه پر صدق د محمد ﷺ في دعوی النبوة.

پوه سه: چي بعض مفسرانو داسي احتمالات په بیان کي د اعراب ددې آیت راوړي دي چي تر قرآن یې محذوفات ډېر دي ولهذا اعرضنا عنها بالمرة.

فائده: که کلمه د "کم" استفهامیه وي او استفهام لپاره د تقریع وي، نو دا کلمه یعني "کم" مانع دی له طلب څخه د "سل" د مفعول ثاني ولي چي ماقبل د استفهام عمل نه سي کولای ولي چي صدارت د استفهام فوتېږي کما تقرر في النحو

وَمَنْ يُّبَدِّلْ نِعْمَةَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۲۱۱﴾

او څوک چي بدل کړي نعمت د خدای چي آیات او معجزات دي، ولي د آیات سبب د هدایت دي، او هدایت نعمت د خدای پاک دی او یا بدل کي کتاب الله یعني عمل نه په کوي، ویحتمل چي مراد له "نعمة الله" څخه دي هغه آیات وي د توارت چي پر صدق د علیه السلام یې دلالت کوی في دعوی النبوة یعني بالکفریه کما بدلوها یهود المدینة، وروسته تر دې چي دا آیات په هره معنا چي وي دوئ ته راغله او ورسېده او دوئ قدرت پر فهم د هغو درلودی یعني تبدلیل یې داسي وخت وکړی دوئ په پوه هم سوله او عذر د جهل یې هم مانع نه و، نو په تحقیق خدای ﷻ سخت عذاب ورکونکي دی یعني سخت عذاب به دوئ ته ورکړي في الدنیا والآخرة، ولي سخت ترینه گناه یې وکړه.

پوه سه: چي اضافت د شدید وعقاب ته اضافت دی د صفت و فاعل ته ای شدید عقابه.

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا

او ښائسته کړه سوی دی و هغه کسانو ته چي کفر کوي ژوند د دنیا یعني منازل عالیه والمطعومات الشهية والملبوسات الفاخرة وغيرها من لذائذ الدنيا التي كانوا مصروفين فيها، او دوئ په سبب د هغو شیانو د ایمان او د طاعت وخوا ته نه کتل بلکه هغه يې پرې ایښي وه. او قوت شهوانيه ددوئ په زړونو کي محبت د هغو نعمو دنیا وو پیدا کړی وو.

پوه سه: چي مزين په وينا د زجاج ﷫ شيطان دی چي دوئ ته په زړونو کي دا وسوسه ور اچولې وه چي بعث بعد الموت نسته او لذائذ هم دغه ددنيا لذائذ دي، نو دوئ يې حريص گرخولي وه پر دغو لذائذ دنياويه وو معرضين عن الايمان والطاعة. او بعض مفسرين رح وايي چي مزين يې خدای ﷻ دی ولي چي خالق د لذائذو دنياويه خدای ﷻ دی وبس. او خالق د قوی شهويه وو، په انسانانو کي که مسلمانان دي او که کافران کي هم خدای دی، ددې تفسير وجه هم داده که لذائذ خدای ﷻ نه وايي پيدا کړي او یا يې قوی شهويه په دوئ کي نه وايي پيدا کړې، نو ددوئ د تکليف او ابتلاء به څه معنا وايي ولي چي غير لذيذ شی خو منفور بالطبع د انسان دی، نو د غير لذيذتيا څخه د نهي به څه ابتلاء وايي مثل الزناء واللواطة وغيرهما كه فرضا دا شيان منفور بالطبع وايي، او چي قوی شهويه يې خدای ﷻ په انسانانو کي نه وايي خلق کړي مثلا که په سړي کي شهوت د جماعو نه وي لکه عنين او د هغه له زنا څخه منع هيڅ معنا نه لري.

اما چونکه و زناء ته په سبب د قوة شهواني سړی راغب وي او زناء محبوبه هم ده لکه جماع د مابيني سره. او روژه مثلا چونکه ثقيله طبعا ده ولي چي د لذائذ څخه د قوة شهوية پرهيز پکښي سته كالاكل والشرب والجماع، نو اوس معنا د تکليف الهي او د ابتلاء پيدا کيږي. يعني څوک دي چي د لذت د زنا تېر سي او نه يې وکړي په سبب د نهي د خدای ﷻ له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خوا خخه، او څوک دی چي پر سختی. د روژې صبر وکړي سره ددې چي روژه مانع د لذائذو ده په سبب د امر الهي په روژه سره وعلى هذا فقس المعاصي الآخر المحبوبة طبعا والطاعات المنفورة طبعا.

نتیجه: مسلمان کامل هغه سړی دی چي خپل خواهشات طبعیه يې تابع د شریعت مطهره ګرځولي وي وفقنا الله وایاکم لهذا.

وَيَسْخَرُونَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا

او سره د کفر دوئ پسخند وهي په هغو کسانو چي دوئ ایمان راوړی وي یعني فقراء المؤمنین عبدالله بن عباس ﷺ وایي مراد فقراء د مسلمانانو دي په مکه کي لکه عبدالله بن مسعود او عمار بن یاسر او صیهب او بلال او خبیب واضرابهم ﷺ، او دوئ به ویله چي دغه کسان محمد ﷺ ختایستلي دي په جنت موهوم سره او د نعمتو څخه د دنیا چي په کسب او تجارت سره پیدا کیږي په فقر او مسکنت سره يې راضي کړي دي، او دغه مسلمانان چي به یو ځای تیریدل کفارو د مکي به د پسخند په توګ ویله دادي جنتیان راغله.

او مقاتل ﷺ وایي چي دا آیت په باره کي د منافقینو د مدیني یعني عبدالله بن ابي او دده نور ملګري نازل سوی دی چي دوئ په ښوو نعمتو کي وه او په ضعیفانو د مسلمانانو به يې پسخند واهه، او دوئ به خود په خود سره ویله چي وګورئ محمد وایي چي په دغو ضعیفانو سره به زه غالبه کیږم پر تولو یهودیانو وغیرهم باندي، وقیل غیر ذالک في شان النزول.

وَالَّذِينَ اتَّقَوْا فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ وَاللَّهُ يَرْزُقُ مَن يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢١٢﴾

او هغه کسان چي ببره د خدای ﷻ په زړونو کي لري او عبادت او فقر يې پر عصیان او غنی مختاره کړی وي، لوړ به وي تر مشرکانو او تر منافقانو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په ورځ د قيامت، ولي چي دغه مؤمنان په په اعلی عليين کي وي او دغه مستهزئين کافران به په اسفل سافلين کي وي نو فوقيت په معنا حقيقي دی يعني فوقيت مکاني، او يا به دغه مؤمنانو په لوړه منزله کي د کرامت وي عندالله او کافران به په کښته مرتبه کي د ذلت او حقارت وي، نو پر دې تقدير فوقيت په معنا مجازي دی يعني رتبي، او خدای ﷻ رزق ورکوي وچاته چي اراده يې وسي يعني په دنيا او اخرت کي بېحسابه ډېر. ولي خدای ﷻ له فقره څخه نه ببربړي په انفاق سره لانه تعالی لانهاية لمقدوراته فهو تعالی يوسع علی من يشاء في الدنيا استدراجا لکه مذکور مستهزئين او قارون وامثالهم او پر بعض انسانانو توسع د رزق جوړوي کرامةً لکه اغنياء متقين د مؤمنانو او يا لکه سليمان ﷺ.

پوښتنه: مراد له "الذين" څخه خو "الذين امنوا" مراد دي يعني فقراء المؤمنين نو څه حکمت الهي دی چي دوئ يې په جلا موصول او صله سره راوړه او که يې په ضمير راوړي يعني وهم آه کافي به نه وايي؟

ځواب: کافي خو به وايي لکن په دې تعبير کي خدای ﷻ اعلان په تقوی د دوئ وکړی چي يوه مرتبه عليا ده وروسته تر ايمان، او بل ځواب دادی په تعبير مذکور کي تنبيه پر دې ده چي دغو فقراوُ له دنيا څخه قصدا او اختيارا ځانونه گوښه کړي دي ددې لپاره چي نه بايد چي د دوئ وقرب الی الله ضرر نه سي حافظ شيرازي رحمه الله وايي

ازين رباط دو در چون ضرورت است رحيل
رواق وطاق معيشت چه سر بلند وچه پست

به بال وپر مرو از ره که تير پر تابي
هوا گرفت زماني ولي بخاف نشست

بهست ونيست مرنجان ضمير وخوش دل باش
که نيستي است سر انجام هر کمالي که هست

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حکایت: روی عن عیسی ﷺ سافر ومعه یهودي او د عیسی ﷺ سره دري ټیکی ډوډی وې نو یهود ته یې ورکړې چې دا خوندي کړه چې بیا ورېي سو وه به یې خورو، یو ګړی وروسته یهودي په پټه د عیسی یوه ټیکی وخوړله، نو وخت چې د ډوډی خوړلو سو نو عیسی ﷺ یهودي ته وویل چې هغه دري ټیکی راوړه چې وه یې خورو یهودي دوې ټیکی راوړې عیسی ﷺ ورته وویل چې هغه دریمه ټیکی دې څه کړې، یهودي قسم ورته واخستی چې تر دغو دوو دې باله نه دي راکړې. نو یهودي په دوران کې د تګ د عیسی ﷺ ډېرې عجائبې معجزې ولیدلې او عیسی ﷺ ده ته وویل چې د دریمې ټیکی صرف اقرار وکړه هغه اقرار نه کاوه، نو معجزةً ناګاه په لاره کې دري د سرو زرو خښتې پیدا سوې. یهودي ورته وویل چې دا خښتې وویشه، عیسی ﷺ ورته وویل چې دا یوه خو یې زما او دا بله یې ستا، او دریمه د هغه چا د چې ټیکی یې خوړلې وي یهودي ورته وویل چې دریمه ټیکی خو ما خوړلې ده، نو عیسی ﷺ ورته وویل چې لېرې سه له ما څخه فقد شاهدت قدرة الله ای في معجزاتي او اقرار دې ونه کړی اوس چې ذهب دې ولیدل اقرار دې وکړی، نو عیسی ﷺ یهود له خانه وشړی او دري سره خښتې زر یې ورپرېښول. نو عیسی ﷺ څندې جلا سو او یهودي د خپل ښار پر خوا په خوشحالی او په خندا را راوان دی چې ناګاه په لاره کې درې کسه غله ورته ناست وه، او تلاشي چې یې څندې وکړه خښتې بر آمد سوې غلو فورا یهودي مړ کړی چې صبا خلګ راخبر نه کړي، وروسته دې درو غلو یو نفر دډوډۍ واستوی چې له ښاره ډوډی راوړي هغه نفر چې ولاړی په ډوډی پسې، دا نورو دوو په خپل منځ کې مشوره سره وکړه چې ډوډی والا چې راغلی فوراً به یې مړ کړو او دري خښتې به موږ دوو ته راپاته سي، او ډوډی راوړونکی چې ښار ته و غلی د خانه سره یې فکر ووهی چې ډوډی یعني غورمې یا بل شی چې رانسي مضبوته زهر ورواچوه تاچې هغه ملګري یې وخوري مره به سي خښتې به دري سره ماته راپاته سي، خیر هغه

ډوډۍ، ملګرو ته راوړه په مجردا اوړو سره هغه دوو کسانو هغه ډوډۍ والا قتل کړی او خښتې يې راوکښې او سره وه يې ويل چې راسه چې ډوډۍ په بیغمه زړه سره به خپل ډوډۍ، وخورو او بیا به خښتې سره تقسیم کړو، ډوډۍ چې يې وخوړله زهر يې په کلمو کې سره ولاړه او خاى پر خاى مړه سوه عیسی ﷺ چې صبا پر دغه لار تېرېدی که ګوري چې هغه دده ملګري يهودي او نور دري کسان مړه پراته دي او د سرو زرو خښتې خاى پر خاى پرتې دي، حيران پاته سو چې دا څرنګه موضوع پېښه سوې ده خو د خداى ﷻ له خوا څخه د جبرائیل ﷺ په واسطه په حال آګاه سو.

قال السعدي رحمه الله

چو منعم کند سفله را روزه گار | نهد بردل تنگ درویش بار
چو بام بلندش بود خود فرست | کند بول وخاشاک بربام پست كذا في روح البيان

وروی عن سهل بن سعد ﷺ ده ويل چې يو سړی له اشرافو څخه و د عليه السلام په حضور کې تېر سو نو عليه الصلوة والسلام و يو سړي ته چې دلته ناست و داسې وويل ستا څه خيال دی د دغه سړي په باره کې چې تېر سو، هغه سړي ورته وويل چې دا خو د اشرافو څخه د خلګو دی، هذا والله حری ان خطب يعنې چاته مرکه د لور وکړي حتما يې په نکاح ورکوي او که د چا شفاعت ويل چاته وکړي هغه به يې شفاعت مني، نو عليه الصلوة والسلام ساکت سو او ورځ يې ونه کړی، وروسته بل سړی تېر سو، نو هغه سړي ته رسول الله ﷺ وويل مارایک في هذا؟ هغه سړي ورته وويل يا رسول الله هذا رجل من فقراء المسلمين هذا حري ن خطب ان لاینکح وان شفع لان لایشفع وان قال لایسمع لقوله فقال رسول الله ﷺ هذا خیر من ملئ الارض مثل هذا يعني الاول رواه البخاري

كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَّاحِدَةً

او وه خلګ يو امت يعنې متفقين في الايمان واتباع الحق من وقت آدم تر نبوت د نوح عليهم السلام پورې او په منځ کې د آدم او د نوح لس قرنه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وه هر قرن یې اتیا کاله و، وهذا هو مذهب الاکثرین، نو بیا چې اختلاف په منځ کې د خلګو په کفر او شرک سره پیدا سو.

فَبَعَثَ اللّٰهُ النَّبِیّٖنَ مُبَشِّرِیْنَ وَمُنْذِرِیْنَ

نو خدای ﷻ راواستول انبیاء علیهم السلام چې زیرې کونکي وه اهل ایمان او طاعت لره په جنت سره او بېرونکي د اهل کفر او عصیان وه په دوزخ سره.

پوه سه: چې اولین له رسولانو څخه چې د مذکورې وظیفې لپاره خدای پاک را استولی وه نوح ﷺ و، ولې چې کفر او شرک خپل اوج ته رسېدلی و، او خدای پاک د دفع د فتنې د شرک لپاره نوح ﷺ ته نهه نیم سوه (۹۵۰) کاله عمر ورکړی ثم وثم الی مبعث سید المرسلین خاتم النبیین محمد ﷺ.

فائده: وروسته تر وفات د علیه الصلوة والسلام که څه هم اختلاف د ایمان او کفر باقي و لکن رب العزت پر آنحضرت ﷺ دروازه د نبوت وتړله، یعني دده په بعثت سره یې دا دروازه او دا وظیفه د دفع د شرک او کفر یې پر غاړه د صحابه کرامو ﷺ وروا چول خصوصا الخلفاء الراشدین المهدیین ﷺ ثم وثم علی زمة العلماء الذین الصالحین ولهذا ورد علماء امتي کانبیاء بني اسرائیل.

وَاَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ

او نازل یې کړی له دوئ سره کتاب

پوه سه: چې ددې آیت معنا دانه ده چې هر نبي ته خدای ﷻ کتاب مستقل ورکړی دی، ولې چې په صحیح حدیث کې راغلي دي چې عدد د کتب الهیه وو یو سل او څلور (۱۰۴) دی، او عدد د انبیاء کرامو ﷺ یو لک څلورویشت زیات وکم دی، وانما قلنا زیات وکم لاختلاف الاحادیث المرویة في عدد الانبیاء، بلکه هر نبي ته یې یا کتاب مستقل ورکړی دی، او یا د مخکني کتاب د احکامو په مبلغ وي، او یا د بعض آیتو او احکامو څخه توضیح او یا بعضي احکامو ته د سابق څخه څه ناڅه تغیر او تبدیل

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

کوي په وحي الهي، ولهذا قال الله تعالی معهم لا علیهم فتفکر في هذین اللفظین، او بیضاوي رحمه الله یو تفسیر خو موافق د ماقلنا سره کړی دی. حیث قال متفقین علی الحق فیما بین آدم و ادریس ونوح علیهم السلام وزاد لفظ د ادریس، او بل تفسیر یې دا کړی متفقین علی الحق بعد طوفان نوح علیه السلام، او بل تفسیر یې دا کړی متفقین علی الجهالة والکفر في زمن فطرة ادریس ونوح ع، لکن اخیري تفسیر یې د منلو وړ نه دی ولې په هیڅ تاریخ کې او نه په هیڅ حدیث کې دا راغلې ده چې په یو عصر کې د اعصارو ټوله انسانان د کثرة الارض دي متفق پر کفر وه او هیڅ مؤمن دې په نړۍ کې نه وو، وماقیل في الجواب ان القلیل في حکم العدم بې ځایه جواب دی او د عقل صرف استعمال دی په مقابل کې د نص.

فائده: رسولان یعني چې صاحب د شریعت متجدد وي که مستقل کتاب لري او که نه درې سوه دیارلس (۳۱۳) دي او په علم اسم ذکر سوي نبیان په قرآن او حدیثو کې اته ویشت (۲۸) نفره دي، او هغه تفسیر چې مشهور دی د رسول چې رسول هغه سړی دی چې صاحب د کتاب متجدد وي منظور فیه دی ولې چې عدد د رسولانو کمامر درې سوه دیارلس دی، او کتب کمامر یو سل څلور (۱۰۴) دي نو څرنګه پر رسېږي، او فاضل خیالي رحمه الله چې دفع ددې سوال کړې ده هغه اوهن من بیت العنکبوت دی او هیڅ نقل شرعي او حدیث نبوي ﷺ یې تائید نه کوي.

فائده: د عقائدو په باب کې یحتمل ویمکن هیڅ مدخل نه لري، البته په عقلیاتو کې مروج دي، فطالع الخیالي وحواشي الفاضل اللاهوري رحمه الله.

فائده: الف او لام دِ لفظ د الکتاب لپاره د جنس دی فیشمل جمیع الکتب السماویة، او آلوسي د ابي بن کعب رضي الله عنه څخه روایت کړی دی کان الناس متفقین علی التوحید مقرین بالعبودیة حین اخذ الله منهم العهد بقوله الست بربکم قالوا بلی واسناده الی ابي بن کعب رضي الله عنه فیه ضعف عند المحدثین، ونقل المظهري رحمه الله عن الحسن وقتادة کان الناس من وقت وفات آدم الی مبعث

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نوح عليه السلام امة واحدة على الكفر امثال البهائم فبعث نوحا وغيره من النبيين.

درویش وايي: چي دا توجيه لکه توجيه د بيضاوي ده، لکن بيضاوي تول‌ه متفق پر کفر وبلل په فطرت کي د نوح او د ادریس، او په تېر سوي آنفاً روايت کي متفقين پر کفر وګڼل پسله وفات څخه د آدم عليه السلام تر مبعث نوح پوري، ويرد عليه مايرد على البيضاوي وكمامر عنقريب.

سوال: دا اوسني توجيه خو منقوله وه د حسن بصري او له قتاده رحمه الله څخه نو څرنګه دغه خبره مورد د سوال ګرځي؟

ځواب: مورد د سوال خو د تابعانو خبره نه ده بلکه مورد د سوال سند دی د دې خبري په منځ کي د مظهري رحمه الله او ددوی دوو تابعانو تر منځ، او بعض مفسران رحمه الله له "ناس" څخه عرب مراد بولي كماقال الحافظ عماد الدين بن كثير رحمه الله چي عرب ټول‌ه پر دين ابراهيمي حنفي وه تر هغه وخته پوري چي عمرو بن عامر الخزاعي د مکې والي وګرځېدی، نو هغه شرک وغيره منځ ته د عربو راوړی الى ان صاروا كلهم مشركين، لکن مظهري دا توجيه رد کړې ده، دی وايي چي له دې توجيه څخه اباء او منع کوي صيغه د جمع يعني، النبيين اذ لم يبعث في العرب غير محمد صلى الله عليه وسلم كمايدل عليه قوله تعالى لينذر قوما ما انذر آبائهم.

درویش وايي: وايضا في هذا التوجيه تخصيص العام اى لفظ الناس بلا دليل.

لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ

تاچي حکم وکړي خدای جل جلاله يا کتاب، يا نبي مبعوث، يعني په منځ کي د خلګو چي اختلاف من الحق والباطل، دا نبي يې مثلا فيصله وکړي.

وَمَا اخْتَلَفَ فِيهِ إِلَّا الَّذِينَ أُوتُوهُ مِن بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ

او اختلاف نه دی کړی په کتاب الله چي دمخه ذکر سو مګر نه هغو چي دا کتاب دوی ورکړه سوی و.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي "الذين" موصول لپاره د عهد دی او مراد ځني يهود او نصارى دي، او دا اختلاف به وروسته تردې و چې دوئ ته راغلي آيات واضحات او محكمات په تورات او انجيل چې هغه آيات امر بالمعروف وه او نهي کونکي د منکراتو وه، او په جمله کې د هغو آياتو هغه هم وه چې زيرى ورکونکي وه په بعثت د محمد ﷺ او صفات كريمه او حليه مباركه او مولد د هغه او مهجر د هغه تول پکښې ذكر وه "ومن آيات التوراة بلسانه. يناحي قاموخ الى وتسمعون الآية. قوله بغياً أى حسداً وظلماً وحب الرياسة.

پوه سه: چي بغياً مفعول له لقوله وما اختلف فيه الا الذين آه، وما اختلفوا فيه الا من بعد الخ وما كان الاختلاف الا للبغي آه. هذا الاعراب ذكره البرسوي في روح البيان.

فَهَدَى اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا لِمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِهِ ۗ وَاللَّهُ يَهْدِي مَن يَشَاءُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٢١٣﴾

نو خدای ﷻ هدايت وکړی و هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړی و، يعني امة محمد ﷺ هغه شي چې ددوئ يعني د يهود او نصارى وو پکښې اختلاف وو، من الحق بيان د "ما" موصوله دی په اراده او مهرباني خپل

پوه سه: چي يو امر د قبلې و، چا ومشرق ته لمونځ کاوه او چا ومغرب ته او بعضو وبيت المقدس ته، نو خدای ﷻ ومونږ ته هدايت وکړی د توجه الى الكعبة المباركة، او داغه رنګه ددوئ اختلاف و د روژې د نيولو په مياشت کې، نو امة محمديه ﷺ ته خدای ﷻ خدای هدايت وکړی وشهر رمضان ته او دغه رنګه ددوئ اختلاف و په هغه ورځ کې چې د عبادت لپاره يې خاصه يې کړې يهوديانو د شنبې ورځ مختاره کړه، او نصارى وو د يکشنبې ورځ او خدای ﷻ مونږ ته د جمعې ورځ وټاکل، او داغه رنګه ددوئ اختلاف و په ابراهيم ﷺ کې، يهوديانو به ويل چې ابراهيم ﷺ يهودي و، او نصارى وو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په ويل چي ابراهيم ﷺ نصراني و، نو موږ ته خداى ﷻ په قرآن پاک کي وښوول چي ﴿ماكان ابراهيم يهوديا ولا نصرانيا ولكن كان مسلما وماكان من المشركين﴾ او داغه رنګه ددوئ اختلاف په عيسى ﷺ کي و، يهودو به ويل چي ابن الزناء وو او نصارى وو ويل چي ابن الله و، موږ ته خداى ﷻ وويل چي عيسى عبدالله ورسوله، او خداى ﷻ هدايت وچاته چي اراده يې سي ولاري سمي او حقي ته.

فائده: مظهري رحمه الله په باره کي د قبلې د لفظ د مغرب هم راوړى دى او هيڅ مفسر د مغرب لفظ نه دى ذکر کړى بلکه ټوله دروېش ته معلوم مفسران وايي نصارى وو ومشرق ته لمونځ کاوه، او يهوديانو وبيت المقدس ته. والله اعلم من اين اخذ الامام المظهري مع علو كعبه لفظ المغرب.

أَمْ حَسِبْتُمْ

آيا ستاسي ګمان دى.

پوه سه: چي عمومي مفسران رح وايي چي لفظ د "ام" منقطعه دى ولي چي ام متصله خو همزه غواړي، او دلته نسته نو د "ام" منقطيه معنا بل دى، بل لپاره د اضراب دى له اختلاف څخه د يهودو او نصارى وو، او د همزه معنا انکار دى له حسبان څخه د مسلمانانو، او مقصود په دې آيت کي دلاور کول دي د مؤمنانو پر صبر او ثبات په وخت کي د جنګ د کفارو سره. لکه چي په شان نزول کي ددې آيت به راسي ،او فراء رحمه الله وايي چي ميم زائد دى او معنا د آيت احسبتم او زجاج وايي چي معنا د آيت بل حسبتم ده.

پوه سه: چي بيضاوي رحمه الله وايي چي مخاطب په دې آيت سره نبي ﷺ او مؤمنان دي.

سوال: نسبت د حسبان وعليه الصلوة والسلام ته څرنګه صحيح کېږي؟

ځواب: نسبت مذکوره پر طريقه د تغليب دى كذا في حاشية البيضاوي.

پوه سه: چي په شانزول کي ددې آيت اختلاف دى د بر مفسرانو وايي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دا آیت په غزا کي د احزاب چي غزوة الخندق یې هم بولي چي تفصیل او بیان به یې په دې تفسیر کي پخپل ځای کي راسي ان شاء الله تعالی، چي په دې غزاء کي نبي ﷺ او اصحابو کرامو ﷺ ته ډېر غمونه او تکلیفونه او سخت بېره له دښمنانو څخه او سخته لوږه او سخت یخ ورپېښ سوچي اجمالي بیان یې په دې آیت کي واوره ﴿وبلغت القلوب الحناجر وتظنون بالله الظنونا هنالک ابتلی المؤمنون وزلزلوا زلزالا شدیدا﴾ لکن بالآخر خدای ﷻ فتح مبین ورکړه بېله جنګه بلکه کافران او احزاب یې د شپې په باد په بدرنګ پسي واخستل کما سوف یاتي تفصیله ان شاء الله تعالی. او بعض مفسران وايي چي دا آیت په غزوه د احد کي نازل سوی دی او عطاء ﷫ وايي چي نبي علیه الصلوة والسلام او صحابه کرام چي مدینې منورې ته راغله، چونکه نه دوئ له ځان سره مالونه راوړي وه او نه یې کډې راوستلې وې، او کورونه او مالونه یې په لاسونو کي د مشرکینو د مکې پاته سوي وه، او له بلې خوا د یهودانو د مدینې د سختي دښمنۍ سره مخامخ سوه، نو ژوند یې ډېر په تکلیف وو، نو دا آیت نازل سو والله اعلم بشان کتابه.

اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَّثَلُ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَآءُ وَالضَّرَّآءُ وَزُلْزِلُوْا حَتّٰى يَقُوْلَ الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ ؕ اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ ﴿۲۱۴﴾

چي تاسي به داخلېږئ وجنت ته چي دار الکرامة الهي دی او نه به وي راغلي وتاسي ته.

یوه سه: چي چي "لما" او لم في المعنی والعمل کي سره یو شی دي، لکن په لما کي د توقع او امید سته چي په لم کي نسته یعني راتګ د مثل الذین متوقع دی.

یوه سه: چي ولما سره د مدخوله حال دی له ضمیره څخه د تدخلوا قوله مثل یعني حال او صفت د هغو کسانو چي تاسي ته د مخه تېر سوي دي من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الانبياء عليهم السلام وامعهم، چي هغسي احوال او شدائد پر تاسي امت محمدي تر اوسه نه دي راغلي كه څه توقع يې سته.

يوه سه: چي جمله د "مستهم" آه جمله مستانفه ده په استيناف بياني يعني جواب د سوال مقدر ده گويا سائل پوښتنه وكړه چي د هغو امم ماضيه حال نو څه و فاجيب چي وهغو ته رسېدلي وو باسا، يعني الخوف من اعداء الدين والفقرا اوضراء اى الامراض الشديدة. وزلزلوا او ښورول سوي وه دوئ په انواعو د شدائدو ليظهر ثباتهم في الدين.

يوه سه: چي كلمه د زلزلوا استعارةً دلته مستعمله ده اصلاً خو داده چي يو سړي يوه درخته او يا يو لرگی چي ده په مځكه كي ښخ كړی وي ښوره وي چي څومره په مځكه كي محكم دی حتى چي رسول ﷺ او هغه كسان چي دده سره يې ايمان راوړی وو د ډېر سختيو څخه بې زړونه تنگ سوه نو داسي په يې ويله متى نصرالله اى ياتي نصرالله يعني هغه نصر او كومک چي خدای ﷻ يې زموږ سره وعده كړې وه.

يوه سه: چي زمانه د بلايا او سختيو او امراض كه يې څه هم لنډوي لكن په نظر كي د مبتلى بها ډېره اوږده معلومېږي كماهو المجرب في ليالي المريض والصحيح وان كانت ليالي الصيف التي هي قصيرة جداً، نو خدای ﷻ ودوئ ته په دې زبري جواب وركړی.

آگاه او خبر اوسئ چي نصر او كومک د خدای ﷻ نژدې دی فان كل ماسناتي قريب والبعيد حقيقة هو الامر الماضي. حاصل الآية ان الفوز بالدرجات العلى والقرب الآلهي منوط بترک ماتشتهي انفسكم ومكابدة الشدائد والآثام، كماقيل براحتي نه رسيد آنكه زحمتي نه كشيد.

وقيل، بقدر الكد تكتسب المعاني. وقال عليه الصلوة والسلام حفت الجنة بالمكاره وحفت النار بالشهوات. د خباب بن الارت څخه روايت دی چي څه وخت چي موږ شكايت وكړی د شداندو د كفارو له خوا وعليه الصلوة والسلام ته، نو ده وويل چي هغه كسان چي تر تاسي له مخه تېر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوي دي له اسلامي امتونو څخه هغه په انواعو د بلاَيا مبتلاَ وه د کفارو له خوا څخه فلايصرف ذالک عن دينهم حتی چي د يو مؤمن پر سر به کافرانو اراه ورکښول او دوې ټوټې به يې کړې ومايصرف عن دينه ولکنکم تعجلون

درويش وايي: چي دا حديث په صحيح کتابو کي د حديثو مطول و مختصار پکښي وکړې،

درويش وايي: چي يوه له سختو غزاو څخه د عليه الصلوة والسلام غزاء د خندق او احزاب وه کما حکی الله عن ذالک في القرآن

يَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ ۖ قُلْ مَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۭ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿٢١٥﴾

پوه سه: چي ددې آيت په شان نزول کي اختلاف سته. بيضاوي، روح المعاني، روح البيان، مظهري رحمهم الله تعالی دا قول وايي چي سائل ددې سوال عمر بن الجموع ﷺ و، چي دی شيخ فاني و او ذامال کثير و. نو د عليه الصلوة والسلام څخه يې سوال وکړی، ما ننفق من اموالنا واين نضعها؟ يعني سوال يې د منفق او مصرف دواړو وکړی فنزل هذه الآية. او اوس دا سوال وارديږي چي سائل خو يو سړی و، نو يسئلونک په صيغه د جمع څرنګه وويل سوه؟

ځواب: چونکه عمر بن الجموع ﷺ په مجلس کي د صحابه کرامو ﷺ دا سوال وکړی، نو ګويا ټوله صحابه ﷺ غوښتونکي د جواب وه، او بل جواب دادی چي عمر بن الجموع ﷺ صيغه د متکلم مع الغير استعمال کړه حيث قال ما ننفق آه، نو سائل د ځانه سره نور مسلمانان په سوال کي ګډ کړه، نو ځکه خدای ﷻ په صيغه د جمع جواب ورکړی، او ابن جرير له ابن جريج څخه روايت کړی دی چي سئال المؤمنون عن ذالک، نو پر دې روايت جمعية د يسئلونک آه و توجيه ته ضرورت نه لري کما لايخفی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې سکاکي او بعض مفسران رح هم وايي لکه مظهري چې دا جواب د خدای ﷻ پر طريقه د اسلوب حکيم دی، يعني دوی خو سوال د منفق مالي کړی و، او جواب يې په بيان د مصارفو ورکړه سو تنبيهاً على ان ملاحظة المصرف اهم دی او بيان ته د منفق مال صرف خدای ﷻ اشاره په لفظ د خير وکړه، ولي خير مطلق مال ته وايي، له هر جنس څخه چې وي لکن حلال، لکن سوال دا دی چې مظهري رحمه الله بلکه ټولو مفسرانو رح په سوال کې د عمر بن الجموع رضي الله عنه دا لفظ هم راوړی دی واين نفعها چې معنا يې سوال د مصرف دی، فلم يکون الجواب من قبيل الاسلوب الحکيم لان المصرف ايضاً مسؤل، او روح البيان هم طريقه د مظهري خپله کړې ده ولقد احسن البيضاوي رحمه الله حيث اورد اولاً مثل تفسير البرسوي رحمه الله والمظهري ثم اورد جواباً آخر اجمالاً، ونقل علامة بغداد رحمه الله في تفسيره روح المعاني حديث ابن عباس رضي الله عنه برواية ابي صالح رضي الله عنه (کان عمر بن الجموع رضي الله عنه شيخا کبيراً ذا مال کثير فقال يا رسول الله بماذا نتصدق وعلى من ننفق فنزلت او بيا علامه بغداد رحمه الله داسي ويلي دي، چې ظاهر الآية انه سئل ای عمر بن الجموع رضي الله عنه عن المنفق فاجاب ببيان المصرف صريحا لانه اهم فان اعتداد النفقة باعتبار المصرف واشار الى بيان المنفق اجمالا فان قوله تعالى "من خير" يتضمن کونه حلالا اذا لايسمى ماعداه خيرا وانما تعرض لذالک وليس في السوال مايقتضيه لان السؤال للتعلم لا للجدال وحق المعلم فيه انيکون کطبيب شفيق يتحرى مافيه الشفاء طلبه المريض ام لم يطلبه، ولما کان حاجة السائلين الى من ينفق عليه کحاجتهم الى ماينفق بين الامرين وهذا کمن به صفراء فاستاذن الطبيب في شرب العسل فقال اشربه مع الخل فالکلام اذا من اسلوب الحکيم

درويش وايي: چې پر دې تقدير کلام د آلوسي او برسوي او مظهري رح سره برابر سوه، قال البغدادي رحمه الله ويحتمل ان يکون في السوال ذکر المصرف ايضا کمايدل عليه حديث ابن عباس رضي الله عنه کمامر في بيان شانزول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الآية الا انه لم يذكره اى سوال المصرف في الآية الايجاز في النظم وتعويلا على الجواب يعني ان الجواب يدل على المصرف فيكون الآية جوابا لامرين مسول عنهما، والاقتصار في جواب المنفق على الاجمال يعبر بقوله من خير، من غير تعرض للتفصيل كما في بيان المصرف للاشارة الى كون الثاني اى المصرف اهم. قال البغدادي رحمه الله بعد اسطر ان الآية حينئذ يخرج من الجواب على اسلوب الحكيم.

مسئله: اكثره مفسران پر دې عقيده دي چي دا آيت په انفاق تطوعي كي نازل دى..

درويش وايي: چي عطاء رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنه څخه دا هم نقل كړي دي چي يو سړى عليه الصلوة والسلام ته راغلى او ورته وه يې ويل چي زه يو دينار لرم څه په وكړم، عليه السلام ورته وويل انفقه على نفسك هغه سړي ورته وويل چي زه دوه دنياره لرم عليه السلام ورته وويل چي انفقها على اهلك، يعني پر ځان او اهل، هغه سړي ورته وويل چي زه درې ديناره لرم عليه السلام ورته وويل انفقها على خادمك يعني مع نفسك واهلك هغه سړي ورته وويل چي زه څلور ديناره لرم، عليه السلام ورته وويل انفقها على والديك، يعني مع مامر هغه سړي ورته وويل چي پنځه ديناره لرم عليه السلام ورته وويل انفقها على قرابتك هغه سړي ورته وويل چي زه شپږ ديناره لرم عليه السلام ورته وويل انفقها في سبيل الله، فنزلت هذه الآية ﴿قل ما انفقتم الآية﴾ والله اعلم بصحة الرواية.

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ

او فرض سوى دى پر تاسي باندي جهاد له كفارو سره.

پوه سه: چي د جمهورو علماؤ مذهب دادى چي جهاد فرض كفايي دى مثل صلوة الجنازة ورد السلام، او كه كفار بلادو ته د مسلمانانو داخل سوه بيا نو جهاد فرض عين دى كذا في التفاسير المعتبرة والكتب الفقهية

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وعليه انعقد الاجماع واتفقة الائمة ان الجهاد واجب على كل اهل بلدان كفاية او علينا عند النضير العام وعند هجوم الكفار على بلاد الاسلام فان عجز اهل تلك البلدان او جبنوا وجب من يليهم الاقرب فلاقرب.

مسئله: که پر سړي جهاد فرض عين سو کما عند هجوم الكفار على بلاد المؤمنين نو د هيڅ چا اجازې ته ضرورت نسته حتى الوالدين او که جهاد په درجه کې د فرض کفايي و، نو هيڅ چا ته رواه نه دی چې بېله اجازې د مور او پلار جهاد ته ولاړ سي، بشرط انيكون والداه مؤمنين والا فلاحاجة الى الاجازة، دليل د اجازې د مور او پلار بالشرط المذكور هغه حديث نبوي ﷺ صحيح دی چې يو سړی وعليه الصلوة والسلام ته راغلی چې زه جهاد ته ځم عليه الصلوة والسلام ورته وويل احي والداک؟ قال نعم، نو عليه السلام ورته وويل ففيهما فجاهد يعني ددوئ په خدمت کولو کي د جهاد ثواب حاصل کړه او کما قال عليه السلام.

مسئله: که پر سړي پور باندي و او جهاد په درجه کي د فرض کفايي و، دا سړی به بېله اجازې د پور والا جهاد ته ځي، او حديث چې درويش د والدينو د اجازې په باره کي ذکر کړی، د هغه حديث روايت بخاري او مسلم او ابي داؤد او نسائي او د ابن ماجه رحمهم الله په متقاربو الفاظو سره کړی دی.

فائده: د ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چې ما د عليه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه چي اي الاعمال افضل. قال الصلوة على ميقاتها اى على وقتها المستحب قلت ثم اي قال بر الوالدين. قلت ثم اي قال الجهاد في سبيل الله او ابن مسعود ﷺ وايي که ما طلب د زيادت د عليه الصلوة والسلام کړی وايي ده به ماته نور اعمال هم راښوولي وايي، رواه البخاري وغيره.

درويش وايي: چي په فضائلو کي د جهاد ډېر احاديث سته په کتب صحيحه وو کي فطالع تلك الكتب.

وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ

او دا قتال حال دادی چي پر تاسي شاق دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي "كره" مصدر دی په معنا د كراهة دی او حمل يې پر قتال مبالغةً دی كما في زيد عدل.

فائده: كراهة د قتال په سبب د نفرت د طبع انساني دی، ولي چي په قتال كي صرف المال سته او مشقت پر نفس انساني سته او خپل د روح محبوب په خطره كي اچول سته او دا معنا نه ده چي مسلمانان امر الهي د قتال ته په نظر د كراهة گوري لانه كفر وكراهة الطبع لايوجب الذم بلكه سره د كراهة الطبع چي مسلمانان جهاد ته ولاړ سي لپاره د متابعت د امر الله په مسلمان كي حقيقي معنا د عبوديت پيدا كوي او كراهة الاعتقاد خو صفت د منافقانو و، والمؤمنون بمراحل عنهم.

وَعَسَىٰٓ أَن تَكۡرَهُواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ

او شايد چي تاسي به يو شی مكروه بولئ يعني طبعاً او هغه شی به ستاسي لپاره خير وي.

پوه سه: چي ټوله ماكلف به المؤمنون من الامور الشاقة، او د هغو له جملې څخه قتال مع الكفار دی او هغه شی يعني هر امر شاق چي مؤمن په مكلف وي چي په مانحن فيه قتال دی ستاسي لپاره به خير وي، ولي چي په قتال مع الكفار كي يو له دوو ښوو شيانو څخه سته، اما الشهادة والجنة والظفر والغنيمة.

پوه سه: چي "عسى" په معنا د "لعل" دی چي نسبت يې وعبادو ته وسي معنا يې ترجي لازمي ده او چي نسبت يې وخدای ﷻ ته وسي معنا يې ترجيه متعدي ده.

وَعَسَىٰٓ أَن تُحِبُّواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ شَرّٞ لَّكُمۡۚ

او ښايي چي يو شی به ستا طبعاً خوښ وي، وهو جميع الامور المستلذة المنهى عنها كالزناء والخمر وغيرهما، او په مانحن في قعود عن القتال الكفرة، او هغه شی يعني ټوله منهيات به ستاسي لپاره شر وي ولي سبب د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غضب الهي او د عذاب اخروي دی لکه قعود عن القتال، ولي فائده د غنيمت او د ثواب اخروي مو د لاسه وزي، او کافران به غالبه سي او سبب د ذلت ستاسي او د تخريب د ديار ستاسي به وګرځي.

درویش وايي: چي دا خبره اوس په تجربه رسېدلې ده چي د سنه (۱۴۲۰) هـ ق يعني يو زر څلور سوه شل را هيسته تر اوسني سنه يعني (۱۴۲۶) پوري کفار متوجه دي و دول الاسلاميه وو ته چي متعدد دول اسلاميه يې د مسلمانانو له لاسه ويستل، او په بمبارۍ د طيارو او د توپو د مسلمانانو وطنونه خراب او برباد کړه خلګ يې وترک الاوطان ته مجبوره کړه اللهم نصرا منصورا.

وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿۲۱۶﴾

او خدای ﷻ ستاسي په خير او شر خبر دی څکه مو په خير سره امر کوي لکه جهاد مع الکفار فيما نحن في او له شره څخه مو منع کوي لکه قعود عن القتال په مانحن فيه کي.

درویش وايي: چي ذون المصري ﷫ وايي چي ضعف د دين او فساد د خلګو د شپږو شيانو څخه پيدا کېږي.

(۱) کمزوري د نيت په کارو کي د آخرت. يعني مسلمانان کارونه د آخرت په محبت او صدق نيت نه کوي.

(۲) د خلګو زړونه او بدنونه په شهواتو نفسيه وو کي ګرو دي.

(۳) پر خلګو طول الامل مع قرب الاجل غالب دی.

(۴) خلګو رضا د مخلوق پر رضا د خالق غوره کړې ده. يعني چي مخلوق په يو کار راضي کېږي هغه کار کوي که څه هم خالق ﷻ په ناراضه کېږي.

(۵) متابعت د اهوا نفسيه وو کوي او سنت نبوي ﷺ يې تر شا غورځولي وي

(۶) لږ زلت او ګناه صغيره اولياء الله او سلفو صالحينو دليل د خپلو ګناه کبائرو لپاره ګرځولې وي، او ددوئ مناقب يې په خاورو کي دفن کړي وي سعدي قدس سره وايي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مبر طاعت نفس شهوت پرست که هر ساعتش قبله دیگر است
کند مرد را نفس اماره خوار اگر هوشمندي عزیزش مدار

درویش وايي: چي قتل د نفس اماره سبب د حیوة ابدي دی، کما قال قدس سره

اقتلوني اقتلوني یاثقات ان في قتلي حیاتا في حیات

ولنعم ماقیل

خنجر وشمشیر شد ریحان من مرگ من شدبزم ونرگسدان من

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ

او صحابه کرام ﷺ له تاڅخه سوال کوي د شهر حرام په باره کي یعني د جنګ په باره کي.

پوه سه: شهر اسم جنس دی او مراد له شهر حرام څخه څلور میاشتي په کال کي دي یعني ذو القعدة، ذوالحجة، محرم، رجب.

پوه سه: چي "قتال فیه" بدل الاشتمال دی له "شهر الحرام" څخه یعني ددوئ صرف شهر الحرام مقصود نه و بلکه مقصود د سوال جنګ کول په دغو میاشتو کي، کما قالوا سلب زید ثوبه.

درویش وايي: ددې آیت په شان نزول کي د مفسرانو اختلاف سته. آلوسي، علامة بغداد دا شان نزول په روایت د ابن اسحاق او ابن جریر او د ابن ابي حاتم او بیهقي من طریق زید بن رومان عن عروة ﷺ رواړی دی، او مظهري رحمه الله په روایت د ابن جریر او ابن ابي حاتم او طبراني او ابن سعد او بیهقي عن جندب بن عبد الله ﷺ ددې آیت د شان نزول بیان کړی دی لکن په بعض ځایو کي دواړه سره متفق سي، او په بعض ځایو کي یې د اسمان او مځکي فرق دی کما یظهر من مطالعة التفسیرین المذکورین لکن درویش وايي چي روایت د روح البیان ډېر په زړه پوري دی ولي چي د قیل وقیل څخه خلاص دی، برسوي رحمه الله وايي چي علیه الصلوة والسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عبدالله بن جحش ﷺ چې د علیه الصلوة والسلام د عمه زوی و په جمادي الآخر کې د بدر تر غزاء دوې میاشتې دمخه، او د هجرت څخه (۱۷) میاشتې تیرې سوې وې، او اته نفره یې ورسره کړه له مهاجرینو څخه چې نومان یې داوه (۱) سعد بن ابي وقاص ﷺ چې د بني زهره له قومه څخه و (۲) عکاشه بن محض الاسدي ﷺ (۳) عتبه بن غزوان السلمي ﷺ (۴) ابو حذیفه بن ربیعه ﷺ (۵) سهیل بن بیضاء ﷺ (۶) عامر بن ربیعه ﷺ (۷) واقد بن عبدالله ﷺ (۸) خالد بن بکیر ﷺ، او علیه الصلوة والسلام وامیر ته چې عبدالله بن جحش ﷺ و یو مکتوب په لاس ورکړی او ورته وه یې ویل څه پر نامه د خدای ﷻ او مکتوب مه ګوره حتی چې دوې ورځې مزل مو وکړی چې یو ځای مو واړول بیا مکتوب وګوره او ملګرو ته دې د مکتوب مضمون ښکاره کړه، او بیا هغه کار وکړه چې ته ما په مکتوب کې امر کړی یې، او مه مجبوره کوه هیڅ څوک له ملګرو څخه چې ستا سره به همراهي کوي، عبدالله سره له ملګرو دوې ورځې مزل وکړی، نو بې مکتوب خلاص کړی په مکتوب کې دغسې نوشته وه بسم الله الرحمن الرحیم، اما بعد: فسر علی برکة الله بمن تبعک من اصحابک حتی تنزل بطن تخلة وترصد عیر قریش لعلک ان تاتینا منها بخیر، نو عبدالله بن جحش ﷺ چې مکتوب مطالعه کړی، وه یې ویل سمعا وطاعة او بیا یې و ملګرو ته وویل چې د خط مضمون خو دغه دی مګر علیه الصلوة والسلام زه نهي کړی یم چې کوم ملګري به زه پر تګ له ځانه سره نه مجبوره کوم، نو څکه چې څوک له شهادت سره محبت لري زما سره دې ولاړ سي، او که څوک تګ مکروه بولي یعني زړه یې نه غواړي هغه دې بیرته مدینې ته ولاړ سي، نو اصحابو او ملګرو هم په سمعاً وطاعةً ملګري دده مختاره کړه، نو خیر را رهي سوه ولم یتخلف منهم احد حتی یو ځای ته د حجاز ورسېدله چې نجران یې باله نو په دغه ځای کې د سعد بن وقاص او عتبه بن غزوان اوښ ورک سو چې دوئ دوه په نوبت پر سپرېدل، نو دغه دوه کسه په طلب کې د اوښ تر شا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پاته سوه ومضى بقية اصحابه حتى نزلوا ببطن نخلة چي په منځ کي د مکې او د طائف واقع و، نو دوئ دالته وه چي قافله د قريشو پر راغله چي وڅکې او نور تجارتي شيان چې په طائف کي يې رانيولي وه او مکې ته يې وړله چي په هغه قافله کي عمرو بن الحضرمي او حکم بن کيسان مولى د هشام بن مغيره او دده ورور نوفل بن عبدالله و، نو قافلې والا وو چي اصحاب د عليه السلام وليدل ډېر وارخطا سوه او دا ورځ اوله ورځ د رجب وه چي له اشهر الحرم څخه ده او د اصحابو دا خيال و چې دا ورځ آخيره ورځ د جمادي الآخير ده نو اصحابو ﷺ مشوره سره وکړه چي که ننه شپه موږ دوئ پرېږدو خو حرم مکي ته دخلېږي، نو بيا خو زموږ جنګ له دوئ سره ناجائز دى، او اخير اتفاق پر دې وسو چي هم دا ننه شپه به بريد پر کوو، نو يې جنګ شروع کړى، او واقد بن عبدالله السهمي ﷺ عمرو بن الحضرمي کافر په غشي وويشتى او مړ يې کړى، تاريخ وايي چي دا اول قتيل و د مشرکانو چي په لاس د مسلمانانو قتل سو. او دا هم اول قتيل و په زمانه کي د هجرت، او اصحابو ﷺ حکم بن کيسان او عثمان بن عبدالله ژوندي ونيول، او دا دوه کسه اول اسيران وه په اسلام کي او نوفل پر آس وتښتېدى تر يو ځاى مسلمانانو منډې پسي وکړې خو نوفل ځان خلاص کړى. نو مسلمانانو ټوله قافله او دوه بنديان له ځانه سره بوتله او مدينې ته ورسېدل او عليه الصلوة والسلام ته يې تسليم کړه، نو قريشو د مکې هاى هوئ شروع کړى چي محمد هتک د شهر الحرام وکړى يعنون رجب. او دا هغه مياشت وه چي هر خائف به په امن کي ژوند کاوه او دا هغه مياشت وه چي خلګو به په دې مياشته کي بېخوف او خطرې سفرونه کول د تجارت لپاره او قريشو دا هم ووېل چي دده ﷺ اصحابو په دې مياشت کي وينې وه بهولې، او لوټ مارې د قافلې يې هم وکړه، او قريشو د مکې به هغو مسلمانانو ته چي په مکه کي پاته وه پېغورونه ورکول چي ستاسي نبي داسي ناوړه کار وکړى، يعني استحلال د شهر حرام يې وکړى، او دا خبرې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وعلیه السلام ته ورسېدلې، نو عبدالله بن جحش او ملګرو ته یې وویل چې ما کله تاسي امر کړي واست چې تاسي په شهر حرام کي جنګ وکړئ، نو علیه الصلوة والسلام د قافلې راوړي مالونه او دا دوه بندیان تر امر الهي پوري معطل کړه او غانمینو ته یې هیڅ شی ورنه کړی. او دا موضوع پر عبدالله بن جحش او ملګرو دده ډېره سخته تمامه سوه، او ددوئ دا خیال سو موږ د اسلامي هلاکت سره مخامخ سوو، نو عبدالله بن جحش وعلیه السلام ته وویل چې موږ چې ابن الحضرمي قتل کړی دابله شپه موږ د رجب میاشت ولیدله، نو موږ نه پوهېږو چې ابن الحضرمي موږ په رجب کي قتل کړی دی یا په جماد الاخیر کي، نو پر دې موضوع د خلګ تر منځ د مسلمانانو او کافرانو ډېر بحثونه کېدل، فانز الله تعالی هذه الآیة، نو علیه السلام دقافلې له اموالو څخه خمس د بیت المال واخستی او داهم اول خمس و په اسلام کي چې بیت المال ته تحویل سو، او باقي څلور حصې یې په غانمینو ووېشلې او داهم اول غنیمت و په اسلام کي، او کفارو د مکې د بندیانو په باره کي فدیه راواستوله، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې ستاسي د دوو بندیانو کار موقوف دی ترڅو چې سعد او عتبه راځي او که هغه دوه را نه غله نو موږ ستاسي دوه بندیان در وژنو. نو حکم بن کیسان چې بندي و هغه خو اسلام راوړی او په مدینه منوره کي د علیه الصلوة والسلام سره پاته سوه فقتل ببیر معونة شهیداً، او عثمان بن عبدالله په اداء کولو سره د فدیې مکې ته ولاړی او کافر مړ سو، او هر چه نوفل چې د اصحاب السریة څخه په تېښته تللی و هغه په غزاء کي د خندق کوشش وکړی او آس یې پېښې ښورولې چې تر خندق د مسلمانانو وخواته ورتېر سي او جنګ وکړي او خپل شجاعت وکافرانو ته وښیي، نو آس چې یې کله له خندقه غورځېدی آس یې وخندق ته ولېدی چې هم دی مړ سو او هم یې آس، نو مشرکانو د علیه الصلوة والسلام څخه غوښتنه وکړه چې دا زموږ مړی په فدیه موږ ته په لاس راکړئ، نو علیه الصلوة والسلام ورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وویل چې یو یې سي یعني ببله فدیې فانه خبیث خبیث الجیفة والفدیة.

درویش وایي: داوه تمامه قصه د شان نزول د آیت مذکوره.

نو حاصل د آیت دادی چې صحابه کرام ستا څخه پوښتنه کوي د شهر حرام چې په اوسنی قصه کې شهر رجب وه یعني د جنګ له کارونو څخه سوال کوي

قُلْ قِتَالٌ فِیْهِ كَبِیْرٌ

نو ته ورته ووایې چې قتال په شهر حرام کې خو ګناه کبیره ده.

پوه سه: چې قتال مبتداء ده او کبیر یې خبر دی.

سوال: قتال خو نکره ده نو ابتدائیت یې څرنګه صحیح دی؟

ځواب: هو! لکن فیه صفت د قتال دی او د نکره موصوفي ابتدائیه صحیح کما تقرر في النحو، قال البرسوي رحمه الله في روح البیان ان الاکثر ای العلماء علی ان هذه الآیة منسوخة بقوله تعالی ﴿فاقتلوا المشرکین حیث وجدتموهم﴾ وقال المظهري رحمه الله ایضا ان اکثر العلماء علی ان هذه الآیة منسوخة بالآیة المذکورة.

پوه سه: چې لفظ د حیث چې واقع په آیت کې دی هلته ناسخه کېدای سي چې لپاره که د زماني سي، نو د آیت معنا داده چې تاسې وژنئ: کافران په هره زمانه کې چې وي یعني که اشهر الحرم وي او که نوري میاشتي وي. نو ناسخ کېدای سي، کمال الدین ابن الهمام رحمه الله په فتح القدیر کې وایي هذا ای النسخ بناء علی التجوز بلفظ حیث في الزمان ولاشک انه کثیر الاستعمال آه ای لفظ د حیث ډېر استعمالیږي په زمانه کې یعني مجاز متعارف دی.

درویش وایي: چې مظهري رحمه الله چې عادت یې دادی چې پر خلاف المذهب خبري کوي پر ابن الهمام رحمه الله په دغو الفاظو رد کړی دی، قلت لفظ حیث للمکان حقیقة واستعماله للزمان تجوزا لادلیل علیه آه، او ابن الهمام رحمه الله پر نسخ د حرمت دلیل په عوماتو سره د آیاتو او احادیثو ویلی دی نحو قوله تعالی ﴿قاتلوا المشرکین کافة﴾ وقوله علیه الصلوة والسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

﴿امرت ان اقاتل الناس حتى يقولوا لا اله الا الله﴾ مظهري دا دليل هم رد کړی دی فطالع تفسيره، او مظهري پر خلاف د اکثر العماء رح حرمت د قتال په اشهر الحرم کي باقي بولي او منسوخ يې نه بولي، گويا امام مظهري رحمه الله دعوه د اجتهاد کوي، او قول د اکثر العلماء نه مني او هر څو دلائل چي چا پر منسوخيت د حرمة القتال في الاشهر الحرم راوړی دی هغه ټوله مظهري رد کړی فطالع تفسيره.

درويش وايي: چي امام همام فخر الدين رازي رحمه الله په تفسير کبير کي وايي لکه چي بيضاوي وويل "الذي عندي ان الآية (يعني قوله تعالى قتال فيه کبير) لاتدل على حرمة القتال مطلقا في الشهر الحرام لان القتال فيها نکرة في حيز مثبت فلا تعم فلاحاجة حينئذ الى القول بالنسخ. انتهى قول الامام.

درويش وايي: چي دا قول د فخر الدين رحمه الله هم مردود په تبز د مظهري دی.

درويش وايي: چي ولله در علامة بغداد رحمه الله في تفسيره روح المعاني دی وايي والاكثرون على ان هذا الحكم يعني قتال فيه كبير منسوخ په دي قول د خدای ﷻ دی ﴿فاذا انسلخ الاشهر الحرم فاقتلوا المشركين حيث وجدتموهم﴾ فان المراد بالاشهر الحرم في هذه الآية اشهر معينة (يعني هغه اشهر حرم چي عليه السلام ددوئ سره قرارداد کړی و چي په اشهر حرم کي ددغه کال به موږ جنگ نه سره کوو) بدليل قوله تعالى ﴿فسيحوا في الارض اربعة اشهر﴾ وليس المراد الاشهر الحرم من كل سنة فالتفيد بها يفيد ان قتلهم بعد انسلاخها مامور به في جميع الازمنة قال الآلوسي رحمه الله بعد ذالک وفيه نسخ الخاص (يعني قوله تعالى قتال فيه كبير) بالعام (يعني قوله تعالى فاقتلوا المشركين حيث وجدتموهم) وساداتنا الحنفية يقولون به. اى بنسخ الخاص بالعام خلافا للشافعية رحمه الله.

درويش وايي: چي د دلائلو د مذهبينو او جوابونه د هغو په اصول الفقه کي مطالعه کړي ان شئتم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي چونکه زه نه مجتهديم او نه د اجتهاد دعوه کوم، نو ځکه زما مختاره مذهب د اکثر العلماء دی چي تول مفسرين يې مذهب العلماء بولي يعني چي دا آيت ﴿قل قتال فيه کبير﴾ منسوخ دی په هغه آيت چي ذکر يې مکرر تېر سو.

قال الشاعر

ومن مذهب حب الديار لاهلها وللناس فيما يعشقون مذاهب

بيت

اين قصه پايان نه دارد پيش رو دامن تفسير محکم گيرو ريش رو

وَصَدٌّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَكُفْرٌ بِهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِ مِنْهُ أَكْبَرُ عِندَ اللَّهِ وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ

او مخ اړول له لاري ښخه د خدای ﷻ چي اسلام او طاعات دي، او کفر په خدای سره يعني الشرک، والمسجد الحرام بحذف المضاف يعني صد المسجد الحرام بمعنی منع المسجد الحرام عن دخول المؤمنين فيه کمافي عام الحديبية او ايستل د اهل د مسجد حرام چي نبي ﷺ او اصحاب کرام دي يعني پر دوئ په ظلم کولو سره دوئ وهجرت ته مجبوره کول که څه هم مکې والو مشرکانو دوئ ته نه ويل چي ووزئ له مسجد حرام ښخه، ډېره غټه ګناه ده په نېز د خدای ﷻ تر فعل د سرية د عبدالله بن جحش چي کافر يې په شهر حرام کي مړ کړی، ولي چي د کفارو د مکې مذکوره کارونه عمداً او ازروي عناد وه او فعل د سريه خو خطاءً وو کمامر في شان النزول، او فتنة يعني شرک د اهل مکې سخت دی تر قتل د حضرمي، نو اهل مکة ولي پېغور و مسلمانانو ته ورکوي په قتل د حضرمي.

پوښتنه: خدای ﷻ مسلمانان اهل د مسجد حرام وېلل او سره ددې چي دوئ خو خارج المسجد الحرام وه په مدينه منوره کي، او کفار يې اهل د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسجد الحرام نه بلل او سره ددې چې دوئ خو په وخت د نزول الآیة په مسجد حرام کي وه؟

ځواب: مسلمانان که څه هم په خارج المسجد الحرام کي وه لکن حق د مسجد الحرام چې توحید الهي دی دوئ پر ځای کړی و. او یا یې مسلمانان اهل وبلل په اعتبار د مایؤول الیه کمافي فتح المکة. او کفار مکه که څه هم په مکه کي وه لکن حق د مکې چې یې نه و پر ځای کړی نو ګویا اهل یې نه دي، او یا په اعتبار ددې چې په عاقبة الامر کي اهلیت د مکي له دوئ څخه به واخستل سي کمافي فتح المکة المکرمة.

فائده: اکبر عندالله " خبر دی د امور معدوده و. ای هذه الاشیاء الاربعة اکبر اثما وعقوبةً من قتل المسلمین لابن الحضرمي في الشهر الحرام وان کان عمدا لان القتل یحل بحال والکفر لایحل مع ان المسلمین لم یکونوا عامدین لهتک حرمة الشهر الحرام بل مخطئین في الاجتهاد کمامر سابقاً

فائده: دا آیت چې نازل سو نو عبدالله بن انیس ﷺ ومسلمانانو ته د مکې خط نوشته کړی چې که چېري کفار مکه وتاسي ته پېغور د ابن حضرمي درکوي په شهر حرام کي، نو تاسي پېغور ورکوئ په شرک سره او په اخراج سره د رسول الله ﷺ او صحابه وو ﷺ من مکة ومنع المسلمین عن زیارة البیت الشریف في عام الحدیبیة.

وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتّٰى يَرُدُّوكُمْ عَنْ دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا

او همېشه کفار مکه له تاسي سره جنګ کوي تر هغو پرې چې تاسي له دین اسلام څخه رد کړي یعني کفر ته.

بوه سه: چې په دې آیت کي اشاره ودوام ته د عداوت د دوئ ده که ددوئ له طاقته پوره سي.

بوه سه: چې لفظ د ان لپاره د استیعاد د کفارو د استطاعت دی.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وَمَنْ يَّرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَاُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ

او چي څوک مرتد سي له تاسي څخه یعني د مسلمانانو څخه له خپله دینه یعني اسلام څخه، یعني هر نوع کفر که مشرک سي او یا یهود او نصاری سي، نو دی مړ سي په داسي حال کي چي کافر وي نو دغه کسان دي چي اعمال صالحه یې ټوله باطل سوه، یعني که فرائض وي او که نوافل وي نعوذ بالله من الارتداد بالقلب والعمل.

پوه سه: چي امام شافعي رحمه الله په دغه آیت سره دلیل وایي چي عمل د مرتد چي پر کفر مړ نه سي نه لغوه کېږي یعني که بیرته مسلمان سي اعمال صالحه یې پر ځای دي مثلاً، دی وایي که چا حج وکړی او وروسته مرتد سو او بیا بیرته مسلمان سو، نو پر هغه مسلمان د حج راګرځول نه دي واجب، حتی که یو سړي د ماپښین لمونځ وکړي او بیا مرتد سو نعوذ بالله من ذالک او وخت د ماپښین هم باقي و، او دی بیرته مسلمان سو د ماپښین د لمانځه راګرځول نسته باندي، دا دلیل امام شافعي رحمه الله په مفهوم د صفت وکړی یعني وهو کافر. او امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله ومفهوم ته د صفت اعتبار نه ورکوي او استدلال په هغه آیت وایي ﴿ومن یکفر بالایمان فقد حبط عمله﴾ والمطلق لایحمل علی المقید عند الحنفیة، نو د حج قضاء پر واجب ده وکذالک قضاء الصلوة المذکورة.

فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۱۷﴾

یعني پر اسلام سابق د مرتد محفوظ والی د قتل ده او د ویښو ده او د اموالو ده باطل سو نو قتل یې روا دی ولایجب علی الامام مهلت ورکول ومرتد ته تر درو ورځو پوري لکنه یستحب ذالک، او امام شافعي رحمه الله وایي چي دري ورځي مهلت ورکول واجب دی او دا آیت پر ده حجت دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زموږ له خوا او په آخرت کي یې هم عمل لغوه سو، یعني ثواب د عمل یې نسته او هم دغه مرتدان چي پر کفر مړه سي اصحاب النار دي، او هم دوئ به په اور کي به همېشه وي لکه نور اصلي کافران.

پوه سه: چي آیات سابقه چي نازل سو نو اصحاب السریة وویل یا رسول الله ﷺ هل نؤجر في السفر المذکور وهل یکون سفرنا هذا غزوةً فانزل الله تعالیٰ.

جمله معترضه وحکایة غریبة: حسن محمد بن السراج رحمه الله وایي چي ما له جنید بغدادي رحمه الله څخه واورېدل چي ما ابلیس په خوب کي ولیدی چي لغ پغ و، ما ورته وویل چي له خلګو نه شرمېږي، ابلیس راته وویل: که دا خلګ او انسانان وایی نو ما به په دوئ ساټ نه تېروی لکه کوچنیان چي په ګین ساټ تېروي، نو ما ورته وویل چي انسانان نو چېري دي، ده راته وویل چي یو څو کسان دي چي په مسجد شونیزي کي دي زما بدن دوئ راویلي کړی دی، او زما زړه یې را سوی دی، هر وخت چي زه ددوئ د اغوا لپاره ورسم دوئ اشاره وخدای ﷻ ته وکړي یعني ذکر د خدای ﷻ شروع کړي، نو قریب وي چي زه دي په نور د ذکر د دوئ وسوځم، جنید وایي چي راوېښ سوم نو مسجد شونېزي ته ور روان سوم چي دا کسان ووینم نو به خوب امتحان هم راته حاصل سي، نو هنوز شپه وه چي مسجد شونیزي ته ورداخل سوم، درې کسه ناست او سرونه یې په کالو کي پېچلي وه، نو دوئ چي احساس د سړي د راتګ وکړی په دوئ کي یوه سر لغ کړی او ماته یې وویل یا اباالقاسم تاته چي چا یو څه وویل ته د هغه خبره اوري او قبولوې یې انظر ایها التالي لصفائهم بنور ذکر الله حیث انکشف الله لهم ماریٔ جنید رحمه الله من المنام وقول ابلیس له في حق هولاء، وفي المثنوي

بود ګبري در زمان بایزید — ګفت اورا یک مسلمان سعید
که چه باشد ګرتو ایمان اوري — تا بیابي صد نجات وسروري
ګفت این اسلام اګر باشد ای مرید — انکه دارد شیخ عالم بایزید
مؤمن ایمان اویم در نهان — ګرچه مهرم هست محکم برزبان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

باز ایمان گر خود ایمان شماست نی بدان میلستم نی مشتها ست
انکه صد میلش سوی ایمان بود چون شما را دید زان فاتر شود
زانکه نامش دیدو ومعینش نی چون بیابان را مفازه گفتمي

درویش وايي: چي حکايت غريبه او جمله معترضه پای ته ورسېده. اوس وواره هغه آیت چي شان نزول يې درویش ذکر کړی.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ يَرْجُونَ رَحْمَتَ اللَّهِ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٢١٨﴾

په تحقيق هغه کسان چي ايمان يې راوړی وي او هغه کسان چي هجرت له مکې څخه ومديني ته کړی وي، او هغه کسان چي جهاد يې کړی وي په لاره کي د خدای ﷻ نو دغه کسان امید لري ورحمت ته د خدای ﷻ يعني ثواب ته او خدای ﷻ بخښونکی د عمل خطا دی لکه سريه چي قتل د ابن الحضرمي په شهر حرام کي د رجب وکړی، او او خدای ﷻ مهربان دی چي دوئ ته به ثواب ددغي غزاء ورکړي.

فائده: موصول يعني والذين هاجروا آه يې تکرار کړی يعني تر اول موصول لاندي يې داخل نه کړی لپاره د اظهار د عظمت د هجرت او جهاد.

فائده: خدای ﷻ يرجون وويل چي معنا يې اميد او طمع ده، له دې سببه چي عمل صالح پر خدای ﷻ ثواب واجب نه گرځوي بلکه ثواب ورکول يې فضل دی، نو به څوک يقين نه کوي چي ماته زما د عمل صالح ثواب خدای ﷻ راکوي لان الخاتمة مستورة والعبرة بالخواتم.

فائده: د "الذين آمنوا" معنا داده چي دوئ ثبات او دوام پر ايمان وکړي او مرتد نه سي ولي اهل سريه خو مؤمنان وه.

حکايت: متعلقة بمغفرة الله تعالى، تاريخ وايي چي يوه ورځ ابو عمر البيکندي رحمه الله چي لوی عالم او صالح سړی و، په يوه کوڅه کي تېرېدی او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اهل د هغې محلې یو ځوان تینګ کړی و چې ددې محلې څخه به وزې چې ته مفسد یې، او یوه سپین سرې ښځه وه هغې ژړل او خلګو ویل چې دا ښځه ددغه ځوان مور ده، نو د ابو عمر پر دغې سپین سري ښځې باندي زړه وسو، خلګو ته یې وویل چې دا ځوان دا پلا ماته راوبخښئ؛ که بیا هغه معتاد فساد وکړي بیا نو ستاسي اختیار هر څه چي په کوئ، خلګو د ابو عمر شفاعت قبول کړی او ځوان یې خوشي کړی، یو څو ورځي وروسته بیا ابو عمر په هغه کوڅه کي تیرېدی د ځوان له کوره یې دده د مور ژړا واورېدل، نو دده دا خیال سو لکه چي هغه ځوان بیا هغه کار معتاد کړی دی او خلګو له محلې فراره کړی دی، نو دروازه د کور یې ووټکول سپین سري ته یې وویل چې ولي ژاړې؟ هغې ورته وویل چې څه وخت چې زما د زوی زکندن سو نو ماته یې وصیت وکړی چي د محلې خلګ به زما په مرګ نه خبروې ولي چې ما دوئ پر زهیر کړي دي، او شاید چي زما جنازې ته به نه سي را، او ښراوي به هم کوي، او یوه ګوتمی یې راکړه چي په هغې کي بسم الله الرحمن الرحیم نوشته وه، نو یې وویل چي دغه ګتمی زما سره دفن کړه او موري زما شفاعت وخدای ﷻ ته وکړه او طلب د مغفرت هم زما لپاره وکړه لان الله غفور رحیم، خیر سپین سري ورته وویل چي ما له بله خایه خپلوان راوغوښتل محلې والا مي نه کړه خبر او زوي مي ښخ کړی او وروسته مي خلګ رخصت کړه، ما ورته ویل چي زه زوي ته یو ګړی دعاء د مغفرت کوم او طلب د شفاعت یې کوم، وروسته د قبر د سر له خوا نعره وسوه انصرفي یا اماه فلقد قدمت علی رب کریم فغفرني.

ولنعم ماقیل

بیها نمي بخشد وبیها نه مي بخشد، اللهم اغفرلي ذنوبي کلها کبائر وصغائر بمثل بهانة الشاب المذکور.

حکایت: یو سیاح عارف بالله د سیاحت په دوران کي د جمعې په ورځ یوه جامع مسجد ته ورغلی د جمعې د لمانځه لپاره په هغه جامع مسجد کي یو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عالم وعظ کاوه چي پر سامعینو یې ډېر تاثیر کاوه او زړونه د خلګو یې ببرولـه او تر سترګو د سامعانو بـه اوښکي توېـدلې، او پـه کمال توجه بـه سامعانو ددغه امام واعظ او خطیب صائب اورېدلې، او عارف سیاح ته یې هم ډېر خوند ورکړی او د زړه نورانیت یې هم اوج ته د کمال ورسېدی، خیر عارف سیاح تر څو چي دی په ښار کي ود جمعې لمانځه ته بـه هغه جامع مسجد ته ورتلی او ورځ پله ورځ بـه یې مینه او محبت د خطیب واعظ سره زیاتېدی، اخر الامر عـارف سیاح خپـل سیاحت تـه دوام ورکړی او له هغه ښاره ولاړی بلي خواته، یو کـال تېـر سـو چـي عـارف سیاح بیـا د هغـه واعظ وښار ته راغلی، او په مینه او محبت جامع مسجد تـه ولاړی هغـه خطیب او واعظ خو کما کان وعظ او تبلیغ کاوه لکن هیڅ تاثیر یې پر خلګو نه کاوه او نه یې د چا ژړا واورېدل او نه یې د چا توجه ولیدل. پخپله سیاح عارف ته هم د تېر کـال جذبه او نورانیت قلبي نه سو حاصـل خیر د جمعې لمونځ خو یې وکړی لکن د ځانه سره یې دا فکر وکړی چي دا خطیب واعظ په یوه ګناه کبیره اخته سوی دی، نو وروسته تر لمانځه یې د واعظ خطیب د کور پوښتنه وکړه پـه داسي حال کي چي واعظ خطیب په جامع مسجد کي د خلګو سره پـه ملاقـات اختـه و، کـور د خطیـب یـو چـا وروه ښـووی نـو عارف سیاح د کور دروازه وروټکول د کور له خوا د ښځي ږغ سو چـي څـوک دي پـه کار دی سیاح ورتـه وویـل چي ته د خطیب صاحب څه یې؟ ښځي ورتـه وویـل چي زه یې مـاینه یم نو سیاح ورتـه وویـل چـي ستا دي پـه خـدای ﷻ قسم وي ماتـه د تېر کـال وروستـه خطیب پـه یـوه کبیـره ګنـاه اختـه سـوی معلومېږي دغیس ده که نه؟ ښځي ورتـه وویـل چـي کـه زه حقیقة الحـال درتـه ووایـم تـه بـه وخطیب یعني زما ومېړه ته ووایې او ما به په غم اختـه کـړې. سیاح سوګند ورسره وکړی چي زه به ستا مېړه پـه تا نه خبروم، نو ښځي پـه مختصـره تو ګه ورتـه ویـل چـي خطیـب اوس د ماخستن د لمانځـه وروستـه راسـي د شرابو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوتل څښي په داسي حال بوتل ومخ ته کښېږدي يو ګړی فکر وهي او وروسته وايي خدايه ته غفور او رحيم يې، نو بوتل پر سر پورته کړي او شراب وڅښي. عارف سياح ورته وويل چي يو کار وکړه لپاره د خدای ﷻ چي څه وخت چي ستا مېړه شراب پر سر پورته کوي او دا ووايي چي خدايه ته غفور او رحيم يې، ته فوراً ورته ووايه چي خدای ﷻ خو غضبان هم دی سياح ورته وويل چي زه سبا ورځ راسم ته به د خپل مېړه کشف الحال راته وکړې، خير مابنام چي حسب المعتاد د خطيب د شرابو څښلو وخت راغلی او بوتل يې ومخ ته کښېښوی او دا يې وويل چي خدايه غفور او رحيم يې، ښځي فوراً ورته وويل چي خدای ﷻ خو غضبان هم دی خطيب چي دا واورېدل بوتل يې له مخکي وواهه شراب يې توی کړه، او ماينې ته يې وويل چي د کومه وخته چي زه په شرابو اخته سوی يم شيطان زما په زړه او خوله د غفور او رحيم نوم را اچولی دی د غضبان نوم يې مطلقا راڅخه هېر کړی دی. او خای پر خای يې د ښځي د مخه له شراب څښلو څخه توبه وکښل، دا بله ورځ چي سياح د خطيب کور ته ورغلی ماينې د خطيب وراء الحجاب د خطيب ټوله ماجرى ورته بيان کړه، نو دا بله د جمعې ورځ چي سياح د جمعې لمانځه ته ورغلی خطيب يې از سر نو پر پخواني يعني د تېر کال پر ډول وليدی لان من تاب تاب الله عليه. وان التائب من الذنب کمن لا ذنب له حديث صحيح

يَسْـَٔلُونَكَ

او صحابه ﷺ سوال کوي له تا څخه اې محمد ﷺ.

پوه سه: چي له ابن عباس ﷺ څخه روايت صحيح داسي راغلی دی چي مانه دی ليدلی يو قوم چي خير دي وه تر اصحابو ﷺ د رسول الله ﷺ ولي چي دوئ پوښتنه نه ده کړې له عليه الصلوة والسلام څخه مګر په دیارلس مسئلو کي چي ټولي يې په قرآن مبارک کي خای پر خای ذکر سوي دي چي دغو مسئلو خوابونه ودوئ او و ټولو مسلمانانو ته فائده سوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ

د شرابو په باره کي او د قمار په باره کي.

پوه سه: چي چونکه "حل" وحرمت او گناه وطاعت له عوارضو څخه د افعال د مکلف دی اذ لا اثم ولا ثواب في ذوات الاشياء او خمر او میسر خو ذوات دي، فلابد من حذف مضاف ای تعاطي الخمر والمیسر یعني څښل د شرابو او کول د قمار و لفظ التعاطي شامل لها.

پوه سه: چي د "تعاطي" معنا عامه ده نو شرب الخمر او بیع وشراء او جوړولوته د شرابو هم شامله ده، نو د تعاطي معنا تصرف دی په شي کي پر خلاف د امر د شرعي شریفي.

فائده: د خمر لفظ مصدر دی له خمره ای ستره شراب چي خمر بولي له دې سببه چي عقل پټوي او ادراک انساني سلبوي، حتی چي یو سړي چي شراب یې څښلي وه او د سکر چاپه پر راغلې وه، بولو نیولی و، نو بولي یې کولې او لاسونه یې ورته نیولي وه لکه سړی چي اودس تازه کوي او خپلې بولې به یې پر مخ واچولې او داسي به یې ویل الحمدلله الذي جعل الاسلام نورا والماء طهوراً یعني سلب عنه الفرق بين الماء الطهور والبول الجنس

پوه سه: چي ماهیت د خمر په نبز د حنیفیه رحمهم الله هغه نبتبخلي اوبه دي د انگورو چي په منگي یا بل ظرف کي واچول سي او په مرور د څو ورځو پخپله وه ایشېږي او خک د منگي پر خوله را توی سي او اوبه خټه سي

مسئله: دغه شراب نجاست غلیظه دي او یو ځاځکی که څه هم سکر نه راولي حرام دی لکه پوره بوتل چي سکر راولي، وقیاس الخمر في الزمان الحاضر المسكر المسمى به (هیروئین) نو ددي هیروئینو جوړول او خرڅول هم حرام دي او د تجارت روپۍ یې مرداري دي.

پوه سه: چي میسر مصدر میمي دی یقال یسرته اذا قمرته. او مشتق د یسر دی چي معنا یې آساني ده ولي چي په قمار کي خو چي وه یې گټي روپۍ به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

آساني سره لاس ته ورځي ببله مشقته، او يا مشتق له يسار څخه دی چي معنا يې غناء ده ولي چي قمار سلب د غنی د سړي راولي يعني چي بايلي، او په قمار کي ټولـه اقسـام د قمار داخل دي. کـه سپي سره جنګوي په قمار؛ يا کرکان جنګوي په قمار، يا اسپ دواني سره کوي په قمار، او يا زرکي سره جنګوي په قمار يا هګی سره جنګوي په قمار، او يا شطرنج يا قطار چي نرد يې بولي سره کويِ وعلی هذا سائر انواع القمار يعني هغه چي ګټل د روپو او بايلل د روپو پکښې وي، او هغه شی چي قمار وګټل سي هغه مردار دی.

قُلْ فِيهِمَآ إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ

ته ورته ووايه چي په شرابو کي او په قمار کي لوېـه ګناه سته او منافع د خلګو هم پکښې سته. اما الخمر فالاثم الکبير فيها انها مسلبة للعقول التي هي قطب الدين والدنيا وعلى العقول مدار القرب الى الله مع کون کل واحد من الخمر والميسر متلفة للاموال، او د شرابو منافع هضم د خوړلو دي او د قوة باه يعني د جماعو طاقت زياتوي، او کوم څوک چي غم جن وي غم يې سپکوي او بې زړه سړی دلاوره کوي، او رنګ د مخ او بدن صافوي، او منـافع د قمـار ګټـل د روپـو پـه اسـاني سـره، او د عربـو د جاهليـت پـه اصطلاح چي څو کسـانو بـه پـه شراکت اوښ رانيـوی او ذبـح بـه يې کـړی غوښي به يې کوټي کوټي کړې او بيا به يې قمار پر وکړی هر چا چي به څه غوښي وګټلې هغه به يې فقراء او مساکينو تـه ورکـولې، واقـدي ﷫ وايي چي داسي ګاهي پېښـه سوه چي يو سړي په قمار کي سل اوښـان وګټل او ټول يې پر محتاجانو ووېشل لپاره د نامه او رياء.

وَإِثْمُهُمَآ أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا

او ګناه د شرابو د څښلو او د قمـار د کولو لوېـه ده تر نفع ددوی، اما اثم الخمر فهو ايقـاع البغض والعداوة والقتـال والضرب بالنعال بـادنى کـلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وقت السکر کما سیاتي، او له ذکره څخه د خدای ﷻ او له لمانځه څخه چي معراج المؤمنین دی سړی پاسي، او هوښیار سړی بېعقل کوي حتی چي شارب الخمر حین ماسکر په پخپلو بولو او غلو او قي بازی کوي، کمامر عنقریب واما اثم المیسر، دادی چي هر سړی چي په قمار مال بایللي باره سوختي سي د هغه پل سړي پر ادنی خبره جنگ کوي، او نعوذبالله من ذالک وخدای ﷻ ته بښکنځل کوي، او نور د کفر الفاظ یې تر خوله وزي.

فائده: علامه برسوي رحمه الله وایي چي مفسرین رح وایي چي په خمرو کي څلور آیته نازل سوي دي، اول ایت نزل بمکة ﴿ومن ثمرات النخیل والاعناب تتخذون منه سکرا﴾ یعني خمرا ورزقا حسنا ای بالتجارة فیه. تر مسلمانانو څښل وهي حلال لهم یومئذ، ثم ان عمر ومعاذا ونفرا من الصحابة رض په مدینه منوره کي پوښتنه وکړه له علیه الصلوة والسلام څخه او دوئ وویل چي موږ ته فتوی راکړه په حق کي د خمرو فانها مذهبة للعقل فنزلت ﴿ویسئلونک عن الخمر والمیسر الآیة﴾ نو بعضو صحابه وو وڅښل او وه یې ویل چي موږ منفعت پر اخلو او گناه چي په خمرو کي سته هغه به نه کوو، او بعضو صحابه وو بالکلیة پرهېښوول، وقالوا لاحاجة لنا فیما في اثم کبیر، وروسته عبدالرحمن بن عوف یوه مهماني جوړه کړې وه چي په هغه مهماني کي ګڼ شمېر صحابه رض دعوت کړي وه نو وروسته تر ډوډۍ خوړلو یې شراب نوشي هم وکړه، او چي نشه سوله د ماښام په لمانځه کي یې یو صحابي دمخه کړی هغه په لمانځه کي د قرآئت الفاتحة وروسته داسي قرائت ووایه ﴿قل یا ایها اعبد ما تعبدون﴾ الی اخیر السورة یعني په حذف د لا، نو دا آیت نازل سو ﴿لاتقربوا الصلوٰة وانتم سکاری﴾ نو ددې آیت په نازلېدو سره شاربین د خمرو ډېر لږ سوه بلکه بعض صحابه وو یکلخته پرېښول او دوئ به وویله چي په شي کي خیر نسته چي زموږ او د لمانځه تر منځ حائل ګرځي او هغه خلګو چي څښل به یې هغو هم د لمونځو په نژدې وخت کي نه سوای څښلای، بلکه د ماخستن تر لمانځه وروسته به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې ځنبل چي د سهار تر لمانځه پوري به يې نشه او سکر ختم کيدی، او يا به يې د سهار تر لمانځه وروسته ځنبل چي تر ماپښينه به يې نشه ولاړه.
وروسته بيا عتبان بن مالک ﷺ يوه مېلمستيا جوړه کړې وه او ځو کسه د صحابه کرامو ﷺ يې په هغه کي دعوت کړي وه، چي په مېلمنو کي سعد بن ابي وقاص هم و او د اوښ د سر غوښې يې وربانديي کړي وې، نو دوی چي يې وخوړله شراب نوشي شروع سوه حتی چي حالت د نشې او سکر پر راغلی باره فخر بالآباء والاجداد شروع سو او غزلي او اشعار هم شروع سوه، نو سعد ﷺ يوه قصيده وويل چي په هغه کي ذم او هجو د انصارو وه او فخر د خپل قوم و، نو يو انصاري چي په حال کي د سکر و د اوښ ګرغښی يې راواخستی او سعد ﷺ يې پر دا سر په وواهه او سر يې سخت مات سو، نو سعد رسول الله ﷺ ته ورغلی او شکايت د انصاري يې ورته وکړی، او عمر ﷺ په مجلس کي د شکايت د آنحضرت ﷺ په حضور کي موجود و، نو عمر وويل اللهم بين لنا في الخمر بيانا شافيا" نو دا آيت چي په سورت مائده کي دی ﴿انما الخمر والميسر الى قوله فهل انتم منتهون﴾ فقال عمر ﷺ انتهينا يارب.

فائده: د شرابو قطعي حرمت په دريم کال د هجرت نازل سو، تر غزوة الاحزاب يو څو ورځي وروسته.

فائده: قفال ﷬ چي حکمت الهي په تدريج او کرار کرار حرامولو کي د شرابو دا و چي عربو د شرابو سره ډېر الفت درلودی او ډېري منافع تجارتي يې هم پکښي درلودې، نو که خدای ﷻ يو دم يکلخته حرام کړي وايي نو پر مسلمانانو به ډېره سخته پرېوتلې وايي، نو خدای ﷻ رفقابهم دا تدريج استعمال کړی.

درويش وايي: چي په تداوي بالخمر وغيره کي من المحرمات کي اختلاف شهير دی وفي کتب الفقه مذکور دي لکن دا خبره ضروري ده که تداوي بالمحرم متيقن يا مظنون وه خو روا ده لقول تعالى ﴿الا ما اضطررتم اليه﴾ وقال في موضع آخر ﴿فمن اضطر غير باغ (يعنی على مضطر آخر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولاعاد (سد الرمق) فلااثم عليه﴾ فمن غص بلقمة ولم يجد غير الخمر جازله ان يسقيها للتيقن بالخلاص من هذا الغص بالخمر عند ابي حنيفه والشافعي و احمدرح

مسئله: هل يجوز التداوي بالخمر فقال ابو حنيفة ومالک واحمد رح لايجوز وبه قال الشافعي رحمه الله في اصح قوليه اكذا في المظهري جزء سيقول ص (۲۷۱) ونقل المظهري عن صاحب الهداية في تلك الصفحة انه كره شرب دردي الخمر لان فيه اجزاء الخمر آه.

درویش وايي: چي په مانقل عن صاحب الهداية في التجنيس لو رعف فكتب الفاتحة بالدم على جبهته وانفه جاز للاستشفاء وبالبول ايضا ان علم فيه شفاء لاباس به انتهى، وكذا مانقل عن ابو بكر الاسكاف رحمه الله في جواز شيئا من القرآن بالدم ورعاف وكذالک بالبول ان كان فيه شفاء ففيها نظر.

درویش وايي: چي دا دواړه له منقول او معقوله څخه خلاف دي لان الدم نجس وكذا البول خصوصا بول الآدمي وكتابة القرآن او شيئا منه بالانجاس ان لم يكن كفرا لمكان الاختلاف فلايخلو عن كونه كبيرة. وقول صاحب الهداية رحمه الله ان علم فيه سفاء آه من قبيل قولهم ان كان زيد حمارا فهو ناهق لان العلم وان كان يعم المظنون، لكن في كتابة الفاتحة وغيرها من القرآن بالدم والبول لي فيه ظن الشفاء فضلا عن العلم به ولعل هذا الاستشفاء نقله بعض اهل التعاويز من اليهود ويدل على حرمة كتابة القرآن من الفاتحة وغيرها مافي الحاوي القدسي ان سال الدم عن انف انسان ولايقطع حتى يخشى عليه الموت وقد علم انه لو كتب الفاتحة او سورة الاخلاص بذالک الدم على جبهته ينقطع لايرخص له فيه وماقيل انه يرخص فيه كما رخص في شرب الخمر للعطشان واكل الميتة في حال المخمصة على مانص به القرآن آه قياس مع الفارق لان الشرب الخمر في حال العطش الذي خاف منه الموت حالة الاضطرار والخلاص منه بشرب الخمر متيقن، وكذا اكل الميتة في حال المخمصة الخلاص من المخمصة متيقن، فكيف يقاس عليها تلک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الکتابة بالدم والبول للقرآن لان الشفاء بها لامتیقن ولا مظنون بل موهوم بل کذب بحت، ومن اجل امثال قول الفقهاء اجترء اهل التعاویز علی کتابة الفاتحة وغیرها بدم الخفاش وغیره والی الله المشتکی.

درویش وایي: چي دغه اقوال د فقهاوؤ رح زما گران دوست مدرس العلوم العقلیة والنقلیة ماهر علم الفقة المولوي محمد اسمعیل الحاج القندهاري ماته را استولي وه چي د قرآن په یو مناسب ځای کي د تفسیر ایوبي یې درج کړه او خپله عقیده یې په دې باب کي ښکاره کړه.

درویش وایي: چي ما دغه اقوال چي مطالعه کول "قف شعري علی جسدي" هم دا وه د درویش عقیده په دغو دوو مسئلو کي والله المستعان وان شئت غایة التحقیق في امثال هذه المسائل فطالع التفسیر المظهري من جزء سیقول في تفسیر قوله تعالی ویسئلونک عن الخمر الی اخیر الآیة، ونقل کل مافیه من المسائل یضیق عنه نطاق هذه التفسیر.

روی ان جبرائیل ﷺ و آنحضرت ﷺ ته وویل ان الله تعالی شکر لجعفر الطیار ﷺ څلور خویه چي په ده کي ستة او دی په جاهلیت کي هم پر دغو خویو وو، او په اسلام کي هم پر هغو خویو دی، نو نبي ﷺ د جعفر ﷺ د هغو څلورو خویو پوښتنه وکړه، نو جعفر ﷺ ورته وویل که خدای ﷻ ته نه وایي خبر کړی مابه هغه خویونه تاته نه وایي ویلي یعني لخوف الریاء. یو خوی زما دادی چي مانه په جاهلیت کي او نه په اسلام کي شراب څښلي دي ولي چي شراب مزیل د عقل دي، او زه د عقل وقوت او زیادت ته ډېر محتاجه یم، او بل ما د بت عبادت نه دی کړی، ولي چي زه په دې پوهېږم چي بت ماته نفع نه سي رسولای او نه دفع د ضرر راڅخه کولای سي، او ما هیڅ وخت زناء نه ده کړې لغیرتي علی اهلي، او ما دروغ هیڅ کله نه دي ویلي لاني رئیته دنائة.

وَيَسْـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ ۥ قُلِ الْعَفْوَ

او صحابه له تاڅخه پوښتنه کوي چي موږ څه شی چاته ورکوو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یوه سه: چي بعض مفسران رح وايي دا سوال د جنس د منفق دی یعني خلګو ته ډوډی، ورکوو یا نقدي روپی، ورکوو وغیره، او بعض وايي چي دا سوال له مقدار څخه د منفق دی یعني څومره اندازه شی ورکوو، ولي هغه آيت چي نازل سو ﴿قل ماانفقتم من خير آه﴾ نو عمر بن الجموع ﷺ وويل چي په څه اندازه مال خلګو ته ورکوو او یا له کومه جنسه د مال یې ورکوو، نو خدای ﷻ وعلیه السلام ته وويل چي ته ورته ووايه چي هغه شی نفقه کوئ چي تاسي ته آسانه وي يعني از روئ جنس او از روئ مقدار چي هغه مال دی چي زائد تر ده او دده تر عیال وي.

یوه سه: چي د اعراب له لاري بعض قراء لفظ د عفو منصوب وايي والتقدير انفقوا العفو، او بعض قراء يې مرفوع وايي والتقدير الذي ينفقونه هوالعفو

یوه سه: چي صحابه کسب المال کاوه نو په قدر د نفقې به یې ساتی او بالابود به يې خیراتوی بحکم هذه الآية.

او بعض مفسران وايي چي دا آيت په باره کي د زکوة دی يعني نصاب د مال د زکوة به فاضل وي تر حاجت اصلي د صاحب المال کالدين والمسكن واثاث البيت والخادم وفرس الركوب الى غير مابين في كتب الفقه او اكثر مفسران رح پر دې دي چي د سائلانو غرض سوال د نفقه نافلې و، نو پر دې تقدير حاصل د جواب دادی چي افضل د صدقه نافلې دادی چي عن ظهر غني وي، وذهب اليه مجاهد دليل يې دادی که ظهر غني نه وي نو دا سړی به وروسته په پخپله وسوال ته مجبوره وي ويكون كلا على الناس، او عمر بن دينار وايي چي نه به سړی اسراف کوي او نه به ډېر تینګوالی کوي قال الله تعالی ﴿والذين اذا انفقوا لم يسرفوا ولم يقتروا﴾ الآية او د ابو هريره ﷺ څخه روايت دی ﴿قال قال رسول الله ﷺ خير الصدقة ماكان عن ظهر غنى وابدء بمن تعول﴾ رواه البخاري وابو داؤد والنسائي كذا في المظهري.

درویش وايي: چي تصدق په ټوله مال او یا په بعض مال يعني الفاضل عن الحاجة يختلف باختلاف المتصدقين ويدل ماروى عن عمر بن الخطاب ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي موږ ته علیه الصلوة والسلام امر کړو په تصدق سره یعني نفلي دی وایي چي زه په دغه وخت کي صاحب د مال وم نو زما په زړه کي دا وه چي که چیري تایو وخت سبقت پر ابو بکر په تصدق کي کاوه نننه ورځ به یې کوم، نو کور ته ولاړم تولـه اموال مي نیمی کړه، نیمی مي کور پرېښول او نیمی مي علیه الصلوة والسلام ته راوړه، چونکه علیه السلام زما راوړي اموال ډېر ولیدل نو یې ماته داسي وویل ماابقیت لاهلک یا عمر. فقلت نصف مالي یا رسول الله ﷺ، وروسته ابوبکر هم ډېر مختلف نوع اموال راوړه، نو هغه ته علیه الصلوة والسلام وویل ماابقیت لاهلک، قال ابوبکر رضی الله عنه الله ورسوله، عمر رضی الله عنه وایي چي زه به همېشه ستا سره سیالي نه کوم اې ابوبکر رضی الله عنه، روایت دی چي په دغه وخت کي علیه الصلوة والسلام داسي وویل مابینکما مابین کلامکما، نو حاصل دادی که سړي داسي وي چي تولـه مال خیرات کي او بیاېر خلګو سوال کوي او صبر پر فقر نه سي کولای نو هغه تصدق په تولـه مال نه دی روا، او که سړي پر فاقه کشي صبر کولايي سوایي او له حقوق الناس څخه دده پر ذمه یو شی نه و، یعني الدین ونفقة العیال والخادم، نو هغه ته تصدق په تولـه مال روا دی وذالک لان حقوق الناس فریضة والتصدق بکل المال نافلة والعمل الفرض اولی من النفل کمالایخفی. ولهذا قال سید الصابرین رسول رب العلمین ﷺ علی ماروی عن ابي هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ لوکان لي مثل احد ذهبا لسرني ان لایمر علي ثلاث لیال وعندي منه شیئ الاشیئ ارصده لدین، رواه البخاري

درویش وایي: چي رسول کریم ﷺ پر ابو بکر رضی الله عنه باندي راوړل د تولـه مال رد نه کړه ولي چي صبر او ثبات پر فاقه کښي باندي دده او د اهل بیت دده رضی الله عنه ورته معلومېده. لکن په روایت کي د جابر رضی الله عنه راغلي دي چي یو سړی وعلیه الصلوة والسلام ته یو هګی، مانندده شی د سرو زرو راوړی چي ده ته په بعض مغازي یا غنائم کي په لاس ورغلی و. فقال خذها مني صدقة فوالله لقد اصبحت ماالملک غیرها فاعرض عنه رسول الله ﷺ فاتاه من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الجانب الایمن فقال مثله فاعرض عنه ثم جاء من الجانب الایسر فقال رسول الله ﷺ هاتها (یعني رایې کړه) او په غضب یې ورته وویل، نو علیه السلام هغه بیضه خندي واخستل او هغه سړی یې په وویشتی نو خندي خطا سوه او که پر مبنتې وایي نو هغه سړی به یې تپې کړی وایي، وروسته رسول الله ﷺ وویل ﴿یجیئ احدکم بماله کله یتصدق به ویجلس یتکفف الناس انما الصدقة عن ظهر غنی خذها فلاحاجة لي فیها﴾

درویش وایي: چې دا روایت د روح البیان دی، او مظهري په نورو الفاظو سره روایت کړی دی، او تر روایت د روح البیان ډیر مختصر دی او په بعضو الفاظو کي ورسره موافق دی لکن حاصل د دواړو روایتونو یو دی نو شاید یوه به روایت باللفظ کړی وي او بل به روایت بالمعنی کړی وي. یعني حاصل د روایت به یې بیان کړی وي، لکن دومره تفاوت په روایت بالمعنی په احادیثو مبارکه وو کي نادر دی، والله اعلم بالصواب.

حسین الکاشفي رحمه الله په تفسیر حسني کي وایي:

مایه توفیق کرم کردن است	گنج یقین ترک درم کردن است
زاد ره مرگ زنان دادنست	زندگي عشق زجان دادن است

یعني سخاوت العوام بذل المال وسخاوة الخواص بذل الارواح، وقلیل ماهم

كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١٩﴾ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ

او هم دغسي بیانوي خدای جل جلاله وتاسي ته آیات لپاره ددې چې تاسي فکر ووهئ په دنیا او اخرت کي.

یوه سه: چې بیضاوي وایي ای مثل مابین یعني في الآیة السابقة چې عفوه مال صدقه کول بهتر دی تر تکلیف کولو په صدقه کي او یا تول هغه احکام چې دمخه تېر سوه.

الاعراب: کاف په معنا د مثل دی او محل یې نصب دی ولې چې صفت د مصدر محذوف دی، ای تبینا مثل ذالک التبیین یبین الله آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: په علم النحو کي وايي که مخاطب په اسم اشاره سره يو نفر و نو ذالک بالافراد للکاف بې وايي، او که مخاطب دوه کسان وه نو ذالکما به يې وايي په تثنيه سره، او که يې مخاطب جمع وه ذالکم بې وايي او په دې آيت کي مخاطبين ټوله انسانان دي نو ولي کاف مفرد ذکر سو؟

ځواب: ددې سوال په ځواب کي بيضاوي او روح البيان او روح المعاني داسي وايي چي افراد د علامه د خطاب په اعتبار د تاويل د مخاطبين دی په قبيل سره چي لفظا مفرد دی او معنا جمع دی، نو خدای ﷻ وايي چي بايد او شايد تاسي به د عقل سليم څخه کار واخلئ په دلائلو او احکامو کي د خدای ﷻ په دنيايي امورو کي او په اخروي امورو کي. نو هغه شی مختاره کړی چي تاسي ته انفع او اصلح وي، او پرهېز وکړ وکړئ له هغو کارو څخه چي ياخالص ضرر وي لکه شرک او زنا وغيرهما او يا ضرر تر نفع ډېروي کما في الخمر والميسر کمامر.

تبصره: د ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي رسول کريم ﷺ پر بوريا پرېوتی چي د بوريا تارو يې پر بغل مبارک تاثير کړی و. نو موږ ورته وويل چي موږ به تاته يو پوست فراش اواروه وو. نو عليه الصلوة والسلام راته وويل مالي وللدنيا ما انا والدنيا الا کراکب استظل تحت شجرة ثم راح وترکها، رواه احمد والترمذي وابن ماجه.

درېش وايي: که څوک تفصيل د عيش او ژوند د عليه الصلوة والسلام غواړي نو شمائل د ترمذي دي تر پايه پوري په غور سره مطالعه کړي، وايضا کتب الاحاديث المبارکة مملوة في مواضع ببيان عيش حيواته ﷺ الى يوم وفاته ﷺ.

وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ الْيَتٰمٰى ۖ قُلْ اِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ ۖ وَاِنْ تُخَالِطُوْهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ ۚ

او صحابه ﷺ له تا څخه سوال کوي په باره کي د يتيمانو چي موږ جلا ووځی ورکوو او که له خانه سره ووځی د يتيمانو ګډه کړو ته ورته ووايه چي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

هره خوا چې د یتیمانو خیر وي هغه ښه کار دی وه یې کړئ نو که په جلا والي کې د دوئ خیر وو، نو کوزه او خواړه ورجلا کړئ، او که تاسې دوړی د دوئ د خپلې دوړې یعني په دغه ګډون کې د دوئ خې وینئ، نو خو دوئ ستاسې ورونه دي یعني په دین کې او په نسب کې نو ورونه خو یو له بله سره کومک کوي او یو د بل مال په وجه د اصلاح خوري.

پوه سه: چې شان نزول ددې آیت مفسرینو رح په ګډه داسې بیان کړی دی په روایت د ابن عباس رضه چې دا روایت ابو داؤد، نسائي او حاکم راوړی دی اومحدیثنو صحیح هم ګڼلی دی چې څه وخت چې دا آیت نازل سو ﴿ولاتقربوا مال الیتیم الا بالتي هي احسن﴾ او بیا دا آیت هم نازل سو ﴿ان الذین یاکلون اموال الیتامی ظلما﴾ الی آخیرها، نو مسلمانان د عصر نبوي کارونو د یتیمانو ډېر د جرح سره مخامخ کړه حتی چې د چا په کور کې به یتیم و، د هغه کوزه وکاسه و دوړی به یې ټوله ورجلا کړه، نو ګاهې ګاهې چې په له یتیم څخه دوړی زیاتي سوه نو چا بـه نـه خوړلـه هغه طعام به اخیر فاسد سو، نو عبدالله بن روحه رضه وعلیه الصلوة والسلام ته وویل یا رسول الله ﷺ مونږ ټوله مسلمانان خو دومره خوني نه لرو چې یتیم ته جلا خونه ورکړو وهکذا الطعام والشراب، فنزلت هذه الآیة.

فائده: دا آیت په باره کې د هغو یتیمانو دی چې خپل موروثي باغ او مځکه لري وغیره نقود لري، او که چېرې یتیم داسې وو چې خپل مراثي هیڅ شی یې نه درلودی او د کور خاوند اکا وغیره مفت په خپله دوړی ساتي په هغه یتیم کې خو د نهي د مخالطت في الطعام والشراب سوال نه پیدا کېږي نو څکه ابن عباس رضه په تفسیر کې ددې آیت داسې وایې مخالطت دادی چې د یتیم د باغ مېوه خوري او دده د غوا وغیره شیدې خوري او دده په کاسه کې دوړی خوري او د یتیم د باغ مېوه خوري وهکذا الطعام والقصعة.

پوښتنه: که یتیم موروثي باغ او مځکه وغیره درلوده او دده اکا مثلا مسکین و، نو که یې دده باغ او مځکه روزلای د بل چا د مزدورۍ څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وتي، نو دا سړي به څه کوي؟

ځواب: ددې حکم خدای پاک په قرآن کریم کې داسې بیان کړی دی ﴿ومن کان غنیا فلیستعفف ومن کان فقیراً فلیاکل بالمعروف﴾ یعني که څوک غني وي د یتیم له باغه دې مثلاً خوراک نه کوي یعني مزدوري دې نه څندي اخلي بلکه مفت صلةً للقرابة دې باغ وغیره وروزي، او که څوک یعني مربي الیتیم مسکین وي نو له مال څخه د یتیم دې خوراک کوي او مزدوري دې څندي اخلي په هغه طریقه چې په خلګو کې رواج وي.

مسئله: پر اکل د مال یتیم عند فقر المربي ومخالطة الیتیم في الاکل والشرب، قیاس ده مسئله د شراکت د اندیوالانو مثلاً یو څوکسه په سفر یا بوې مبلې ته تله او اندازه د روپو یې بالسویه سره واچول، نو دا اندیوالان یو ډېره ډوډی او لږ ډوډی خوري، او یا یو مریض وي ډوډی ته یې اشتهاء نه کېږي الی غیر ذالک، نو په دې شراکت کې کوم حرج نشته بلکه په طریق اولی حرج نشته ولې دا ملګرې خو احرار بالغین دي.

﴿وَاللّٰهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ﴾

او خدای ﷻ خبر دی په هغه چا چې مال د یتیم د خپله ماله سره ګډوي پر طریقه د فساد یعني د یتیم مال په ناحقه وخوري او په هغه سړي چې مخالفت یې لپاره د اصلاح الیتیم وي، له حسن بصري رحمه الله څخه چې به چا پوښتنه وکړه په باره کې د مال الیتیم، ده مبارک به دغه آیت ورته تلاوت کړی ﴿والله یعلم المفسد من المصلح﴾ د حسن بصري رحمه الله مطلب داو، چې د عالم وپوښتني ته څه ضرورت نشته ته وخپل زړه ته رجوع وکړه چې ستا په اکل د مال د یتیم څه غرض دی.

﴿وَلَوْ شَاءَ اللّٰهُ لَأَعْنَتَكُمْ ۚ إِنَّ اللّٰهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ ﴿۲۲۰﴾

او که د خدای ﷻ اراده وایی نو تاسي به یې په عنت یعني مشقت کې اچولي وایی یعني مخالطة د یتیمانو به یې تاسي ته نه مباح کولای، لکن

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

خدای ﷻ ستاسي تخفیف وکړی چي مخالطة د یتیمانو یې وتاسي ته روا کړی چي پر وجه د اصلاح وي رحمة علیکم او په تحقیق خدای ﷻ غالب دی یعني هرڅه چي یې مشیت وي هغه کار کولای سي. او حکیم دی یعني هر کار د خدای ﷻ د حکمت او فائدې څخه خالي نه دی.

پوه سه: چي مفعول د "شاء" محذوف دی چي جواب دلالت پر کوي یعني لوشاء الله اعنتاتکم.

پوه سه: چي په حدیث صحیح کي راغلي دي علیه الصلوة والسلام وایي ﴿انا وکافل الیتیم کهاتین في الجنة﴾

پوه سه: چي مراد په دې حدیث کي د کافل الیتیم څخه هغه سړی دی چي په مصالحو کي د یتیم اخته وي، سواء کان من مال نفسه او من مال الیتیم سواء کان الیتیم قریباله او اجنبیاً. او په حدیث کي راغلي دي چي خدای ﷻ وموسیٰ ﷺ ته وویل چي گذاره کوه له یتیم سره لکه مهربانه پلار، او له کونډیانو سره همکاري کوه لکه مهربانه مېړه، او اوسه مسافر له لکه مهربانه ورور، خدای ﷻ وایي زه به ستاسره داسي سم، او علیه السلام به هاتینو سره اشاره د منځ د گوتي وسبابه ته وکړه.

پوه سه: چي مراد له معیت څخه د علیه السلام د کافل الیتیم معیت مکاني مراد دی، نه معیت د مرتبې او درجې، حافظ شیرازي وایي

تیمار غریبان سبب ذکر جمیلست — جانا مگر دین قاعده درشهر تمانیست

قال السعدي شیرازي

چوبیني یتمي سرافگنده پیش — مده بوسه بر روی فرزند خویش

الا تا نگیرد که عرش عظیم — بلرزد همي چون بگیرد یتیم

وفي الحدیث النبوي ﷺ من وضع یده علی راس یتیم ترحما علیه کانت له بکل شعرة تمر علیها یده حسنة. قالوا المخالطة والترحم علی الایتام من مساوات الاخلاق لسادات الانام وفیه فوائد کثیرة جلب رحمة الله وتکثیر الرزق ورقة القلب الی غیر ذالک من الفوائد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: یتیم که د چا سره وي باید داسي ادب او تعلیم ورته کوي لکه خپل زوی ته چي ادب او تعلیم کوي.

درویش وایي: چي طبائع د انسانانو مختلفو دي. بعض انسانان په لطف او نرمي سره ادب زدکوي، او بعض انسانان په تریو تندي او د خولي په سختو الفاظو سره ادب زدکوي او بعض انسانان په ضرب وکوب سره ادب زدکوي، نو په هره نوع چي ادب د یتیم مربي لازم وه باله په هغه قسم سره په ادب ورکوي، او خدای ﷻ له مربي څخه د یتیم د تربیة التعلیم پوښتنه کوي ولهذا قال رسول الله ﷺ کلکم راع وکلکم مسئول عن رعیته آه بخاري

وَلَا تَنكِحُوا الْمُشْرِكَٰتِ حَتَّىٰ يُؤْمِنَّ ۚ وَلَأَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ

او تاسي مه نکاح کوئ مشرکات ښځي تر هغو چي دوئ ایمان راوړي، او په تحقیق مینځه چي مؤمنه وي ښه ده د نکاح کولو لپاره تر مشرکي ښځي یعني که څه هم حره وي، که څه هم دي مشرکي ښځي په تعجب کي اچولي یاست تاسي، یعني په اعتبار د ښائیست.

پوه سه: چي شان نزول ددې آیت دا و چي علیه الصلوة والسلام مرثد الغنوي ﷺ مکې ته واستوی چي له مکې څخه بعض مسلمانان چي په مکه کي پاته دي په پټه له مکې څخه راوباسه، نو یوه ښځه چي نوم یې عناق و چي مرثد غنوي له هغې سره عشق درلودی ورته راغله او د خلوت د زنا دعوت یې ورکړی، یعني لکه د جاهلیت په زمانه کي، نو مرثد ﷺ ورته وویل چي اسلام زما مانع دی د خلوت د جاهلیت، نو هغې ورته وویل چي ته ما نه په نکاح کوې، مرثد ورته وویل چي په نکاح کوم خو دي. لکن په دې باره کي زه د علیه الصلوة والسلام سره مشوره کوم، نو مرثد چي دا موضوع وعلیه الصلوة والسلام ته پېش کړه نو دا آیت نازل سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي مظهري تبعا للبيضاوي تفسير د "امة" په مطلق ښځې سره كړې دى او داسي يې ويلي دي چي انسانان ټوله عبادالله دي يعني نر يې او اماء الله يعني ښځې يې، او روح البيان تفسير د "امة" په مينځه سره كړې دى حيث قال مع مابها من خساسة الرق، او تفسير روح المعاني پسله طويل بحث يې دا ويلي دي والحق ان الامة بمعنى الرقيقة كما هو المتبادر آه، او بيا د مخه سوالونه چي ده رواړي وه د هغو يې جوابونه وركړې دي فارجع الى تفسير روح المعاني.

درويش وايي: چي زما په عقيده رائيه د روح البيان او روح المعاني ډيره په زړه پوري ده.

الاعراب: كلمه د واو په ولو كي لپاره د حال ده د حاليت معنا يې داده چي دا كلمه معطوف پر يو محذوف ده چي هغه حال دى، والتقدير خير من مشركة على كل حال ولو في هذه الحالة اى حالة الاعجاب آه، او بيضاوي ﷫ تبعا للزمخشري صاحب الكشاف داسي وايي و الواو للحال ولو بمعنى ان او "ان" لپاره د مجرد فرض دى د شرط نه دى ځكه جزاء ته ضرورت نه لري، والتقدير مفروضا اعجابها لكم بالحسن والشمائل آه، او په تفسير كواشي كي وايي چي لو په معنا د ان شرطي دى والجواب مقدم والمعنى وان كانت المشركة تعجبكم وتحبونها فان الامة المومنة خيرلكم او تفيسر روح المعاني هم رايه د كواشي مختاره كړې ده حيث قال جواب لشرط محذوف دل عليه الجملة السابقة، او امام جرمي ﷫ وايي چي دا واو عاطفه دى او معطوف عليه مقدر دى اى لو لم تعجبكم ولو اعجبتكم

پوه سه: چي نكاح د كتابياتو ښځو يعني يهودية او نصرانية روا ده لقوله تعالى ﴿والمحصنت من الذين اوتوا الكتاب من قبلكم﴾ الآية.

پوښتنه: يهوديان خو عزير ابن الله بولي او نصارى عيسى ﷺ ابن الله بولي نو دوئ مشركان نه دي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: مراد په آیت کې معنا متعارفه د مشرک ده چې یا د بت عبادت کوي یا د ملکو یا د ستورو وغیره یهود او نصاری خو داغسې نه دي، حاصل دا چې حکمي مشرک نه دی پکښې داخل.

درویش وایي: فلاحاجة الی ماقال المظهري وهذه الآیة منسوخة في حق الکتابیات آه لانها غیر داخلة في المشرکات کمامر.

فائده: له ابن عباس ﷛ څخه ابن مالک روایت کړی دی چې یوه مینځه د عبدالله بن رواحة ﷛ چې په رنګ توره وه، نو یوه ورځ عبدالله ابن رواحه ته درد ورغلی او مینځه یې پر مخ په چپلاخه ووهل وروسته دی پښېمانه سو نو علیه الصلوة والسلام ته یې موضوع د وهلو د خپلې مینځې بیان کړه، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې په مینځه کې دي څه خویونه سته، عبدالله ورته وویل هي تشهد ان لا اله الا الله وانک رسول الله. وتصوم رمضان، وتحسن الوضوء، وتصلي. فقال علیه السلام هذه مؤمنة، نو عبدالله ابن رواحه ﷛ ورته وویل چې زه دا مینځه ازادوم، او بیا یې په نکاح کوم، او داغسې یې هم وکړه، نو بعض مسلمانانو ده ته پېغور ورکړی او دا یې ورته وویله چې تاخرنګه مینځه په نکاح کوله، او دوی یوه حره مشرکه ښځه وده ته پېش کړه، فانزل الله هذه الآیة.

مسئله: درویش وایي که څه هم نکاح د کتابیاتو روا ده لکن لاخیر فیه لان اختلاف الدین یذهب ببعض لوازم الزوجیة کما لایخفی.

مسئله: یوه ښځه چې تقوی داره وي او اخلاق حسنه لري که څه هم فقیره وي او په رنګ بدرنګه وي بهتره ده تر فاسقه ښځې که څه هم مسلمانه وي او غني هم وي او ښائسته هم وي، وبهذه المسئلة تاکد المسئلة السابقة لما روی عن ابي هریره قال قال رسول الله ﷺ تنکح المرئة لاربع لمالها، یعني چې غني وي "ولحسبها" یعني چې د لوړي کورنی وي "ولجمالها" یعني چې ښائسته وي "ولدینها" یعني چې دین داره او تقوی داره وي "فاظفر بذات

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

الدین" نو ته بړی پیدا کړه پر دین داره ښځه "تربت یداک" بخاري مسلم،
وعن عبدالله بن عمرو ﷺ خیر متاع الدنیا المرئة الصالحة رواه مسلم

درویش وایي: چي بعض مفسرانو ح تفسیر د "ربنا آتنا في الدنیا حسنة"
په صالح ماینه سره کړی دی ونسب ذالک الی علي ﷺ.

فائده: د ښځو خصوصاً د اخري زماني له فتنو څخه دي سړی خان نه ببغمه کوي، په تجربه ماته ثابته سوې ده چي ډېر عاقل خلگ بلکه ملایان ښځي يې داسي غلوي چي سړی ورته حیران سي، اول تګي د ښځو داده چي ځان پر جنیاتو واچوي او سر شکوي او ځان په غابنوي او خپلي غوښي پرېکوي، د نر دا موضوع وزړه ته ولوېږي او پر زیارتو او تعویذ گرانو بي روان کړې وي، دا خپل د سیل غرض لري او یا یوه دسیسه وزناء ته جوړوي د بعض څوانانو سره، او په دې کي عاقل کسان فکر ولي نه وهي چي په نرو کي یو فصد پیرانان نسته او په ښځه کي شل فصده پیري والا سته. او ښځه چي پیرانان ونسي دا نوري چي ورته ناستي وي ورته وایي چي تاسي څوک یاست او څه شی غواړئ پیراني ښځي سترگي پتمي نیولي وي او ورته گوره وي، العیاذ بالله من مکائد النساء في هذا الزمان.

وَلَا تُنكِحُوا

او په نکاح مه ورکوئ، مفعول محذوف دی ای امرئة مسلمة او مخاطب اولیاء د ښځي دي، یا حاکمان ددولت اسلامي دي.

الْمُشْرِكِينَ حَتَّىٰ يُؤْمِنُوا ۚ

ومشرکانو ته تر داسي چي ایمان رانه وړي.

پوه سه: چي دلته مراد له شرک څخه عام دی، که مشرک ظاهري وي کما مر مثاله او که مشرک حکمي وي لکه اهل کتاب یهود او نصاری، نو مسئله داده چي نکاح ده مسلماني ښځي که حره وي او که مینځه ومطلق کافر ته روا نه ده باجماع الامة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ وَّلَوْ اَعْجَبَكُمْ ط

پوهنه: چې په دې آیت کې هم د عبد په ترجمه کې هم هغه مخکني اختلاف د مفسرانو سته، او اعراب د "ولو اعجبکم" پر سابق منوال او طریقه دی فتذکر.

ترجمه: هر آئینه مریی چې مسلمان وي ښه دی تر مشرک چې حر هم وي که څه هم په تعجب کې اچولي یاست مشرک یعني په سبب د جاه وجلال او کثرة المال او ډېر جمال د هغه مشرک.

اُولٰٓئِكَ يَدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ ۖ

او دغه مشرکین او مشرکات تاسي بولي و اورته یعني موجباتو ته د اور من الکفر و المعاصي، او صحبت او دوستي په نفسونو کې د انسانانو تاثیر کوي، حتی ورد المرء علی دین خلیله وجلیسه.

وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا اِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِاِذْنِهٖ

او خدای ﷻ دعوت ورکوي یعني بولو خلګو ته د جنت او مغفرت یعني واسبابو ته د جنت او مغفرت من الایمان والاعمال الصالحة نو د خدای ﷻ د دوستانو سره باید مسلمان تزویج او تزوج وکړي.

وَيُبَيِّنُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ع ﴿۲۲۱﴾

او دا بلنه د خدای ﷻ وجنت او مغفرت ته په اراده او قضاء د خدای ﷻ ده او خدای ﷻ بیانوي خپل آیات او احکام وخلګو ته ددې لپاره چې دوی پند اخلي او عقائد او احکام الهیه پر ځان جاري او قبول کړي.

فائده: په لا تنکحوا کې کلمه د تاء مضمومه له بابه څخه د افعال ده ای الا نکاح.

فائده: په والله یدعوا کې مضاف محذوف دی ای اولیاء الله من المؤمنین والمؤمنات په دې سبب چې مخاطب په دې آیت کې مؤمنین او مؤمنات دي.

فائده: الف په پای کې د یدعوا تابع د رسم د مصحف عثماني دی ولي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي الف ساکنه لیکل په قانون صرفي کي په اخیر کي د جمع کوي او یدعوا په دې ځای کي مفرد دی ضمیر یې راجع و الله ته دی که څه هم مضاف محذوف دی کمامر ای اولیاء الله.

تنبیه: په دې آیت کي نهي د مواصلت او پیوند او محبت قلبي له کافرانو سره په هر نوع کافر چي وي، البته لپاره د تجارت یا د بلي فائدې دنیاوي رابطه له کفارو سره لفظي روا ده.

فائده: روح البیان له محیط څخه نقل کړی دی چي که یو مسلمان یوه چاغه ښائسته نصرانیه مثلاً ښځه ولیدل، او په زړه کي یې دا تمنا پیدا سوه چي کاشکي زه نصراني وایي نو دغه نصرانیه ښځه به مي په نکاح کړې وایی، یکفر في الحال، او دا تمنا دده له حماقت څخه ده ولي چي چاغي ښائستې ښځي په مسلمانانو کي هم سته، او دا تمنا دده د زړه خیانت ښکاره کوي، قال الله عزوجل ﴿الخبیثات للخبیثین، والطیبات للطیبین﴾

بیت

همه مرغان کنند باجنس پرواز   کبوتر باکبوتر باز باباز

وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡمَحِيضِۖ قُلۡ هُوَ أَذٗى فَٱعۡتَزِلُواْ ٱلنِّسَآءَ فِي ٱلۡمَحِيضِ

یوه سه: چي بخاري، ترمذي او مسلم د انس بن مالک ﷺ څخه روایت کړی دی چي دیهودیانو مسلک دا و چي ښځه به یې حائضه سوله په یوه کاسه کي به یې ډوډی، نه ورسره خوړله، او نه به د حائضې په خونه کي بیدېدل، نو اصحابو ﷺ د نبي ﷺ چي نامورې یې ابو الدحداح ﷺ و، پوښتنه وکړه چي موږ ته د حائضې په باره کي څه هدایت دی، نو دا آیت نازل سو.

فائده: بیضاوي، روح البیان، روح المعاني او مظهري رح وایي چي خدای ﷻ یسئلونک درې واره بیله واو عاطفه ذکر کړی او درې واره سره د واو ذکر کړه حکمت یې دادی چي اول درې سواله په اوقات متفرقه کي وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او اخیر درې سوالونه په یوه وخت کې وه.

سوال: په عطف کې خو اجتماع د جملو غوارې په نفس الامر کې مع وجود الجامع بينهما سواء كانت في وقت واحد اولا. او دغه رنګه دا سوال هم وارد برې چې واو عاطفه خو معيت في الوقت نه غوارې او دا خبره چې اتحاد الوقت يقتضى العطف وعدم اتحاد الوقت يقتض ترك العطف ممالم يقل به احد من النحات.

ځواب: درويش وايي چې بعض شراح د بيضاوي په لفظ د قيل ددغو دوو سوالو جواب داسې ورکړی دی چې د بيضاوي مراد دادی چې اول درې سواله چونکه مبتداء وه من غير تعلق بالآخر ولامقارنة في الوقت آخر لم يقصد الى جمعها يعني بحرف العطف بل اخبر الله عن كل واحد منها على حدة بخلاف السوالات الاخر حيث كانت في وقت واحد عرفا فقصد الى جمعها بحرف العطف تنبيها على اجتماعهما في الوقت.

درويش وايي: چې اجتماع د اخيرو درې سوالو په وخت کې کوم نقل شرعي دليل نه لرې من حديث النبوي ﷺ او اقوال الصحابة ﷺ بل هو مجرد احتمال عقلي لايعبابه. درويش ميګويد که علامه بغدادي در دفع اين دو سوال بحث طويل براه اندرخته لکن هيڅ بدستش نيامده فارجع الى تفسيره روح المعاني. وبنده هيچ مدان ميګويد که آوردن بعض سوالها بواو عاطفه وبعض آنها را بدون العطف نوعيت از تفنن كلام كه شعبه از بلاغت بې نهايت قرآن عظيم الشان است. وتخصيص بعض بالواو وبعضها بدونها مرجح را ضرورت ندارد زيراكه اراده خداوندي در ترجيح كافي خواهد بود كماهو مذهب اهل الحق من المتكلمين.

فائده: د يهوديانو چار چلند د حائضاتو ښځو سره خو هغه و چې تاسې واورېدی چې دې ته افراط په حق کې د حائضاتو وايي، او نصارى وو د تفريط ځنګه کار اخستی په حق کې د حائضاتو يعنې جماع يې هم ورسره کولې په حال کې د حيض او په حيض يې باک نه کاوه. نو موږ امت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محمديه ﷺ خداى ﷻ امر كړو په توسط بين افراط اليهود كما مر بين تفريط النصارى في حقهن، او توسط دادى چي جماعي په محل كي د حيض مه وسره كوئ نور په كور او خونه كي بلكه په يوه بستره كي ورسره بدېږئ او مچه وغيره څندي اخلئ، او په خېگر پوري يې نسي او تفخيذ يې هم روا دى، والاولى ان لايفعل التفخيذ لئلا يقع في الجماع.

فائده: زجاج وايي چي محيض مصدر ميمي دى كالمجئ والمبيت او اصل معنا يې سيلان ده.

درويش وايي: چي دا مذهب مختاره د الوسي دى په روح المعاني كي او د برسوي په روح البيان كي او د بيضاوي پخپل تفسير كي او د مظهري دى نو مراد څندي بهيدل د خيرو د رحم دي يعني ويني.

پوه سه: چي د سوال په الفاظو كي څه هم ابهام سته چي مراد د سائلانو مخالطة د ښځو سره دى په حال كي د حيض لكن مراد څندي حيض او جماع ده، او د امام المفسرين عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه منقوله ده چي محيض مكان الدم دى اى الفرج، او هم دا مذهب او تفسير مختاره د امام كبير فخر الدين الرازي رحمه الله في التفسير الكبير دى لكن پر دې تقدير حذف د مضاف ته ضرورت سته په دې قول د خداى ﷻ ﴿قل هو اذى﴾ اى موضع اذى، لان الضمير هو راجع الى المحيض وهو الفرج والاذى بمعنى النجاسة والفرج ليس بنجاسة بل محل النجاسة، والامام الرازي اعترف بهذا الحذف حيث قال اى مواضع المحيض وعلى تقدير المصدرية لايحتاج الى هذا الحذف لان سيلان الدم نجاسة.

پوه سه: چي له محيض ثاني څخه په آيت كي يعني فاعتزلوا النساء في المحيض معنى د محل د ظهور الحيض ده وهو الفرج نو يا محيض ثاني ظرف مكان دى او يا مضاف محذوف دى، وهذا اولى لان المعرفة اذا اعيدت يكون الثاني عين الاول.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ترجمه: او صحابه کرام سوال کوي له تا څخه د وینې بهېدلو د ښځو یعنې في وقت الحیض چي موږ څرنګه وکړو، نه ورته ووایه چي دا حیض مستقذر او منفور طبعا او مکروه شی دی، نو تاسي ګوښه والی له ښځو څخه یعني له جماع څخه ددوئ په دې مستقذر حالت کي او یا په محل کي د حیض چي فرج دی عند الامام الرازي رحمه الله کما مر آنفاً.

پوه سه: چي مراد له اعتزال څخه ترک الوطي دی اجماعا، ولهذا قال رسول الله ﷺ حین نزلت هذا الآیة اصنعوا کل شی الا النکاح الی الوطي. رواه البخاري ومسلم عن حدیث انس رضي الله عنه.

مسئله: که د سړي په غېږ کي ماینه حائضه ناسته وي او هغه سړی قرآن مبارک وایي روا دی، یعني حائض د سماع القرآن څخه ممنوع نه ده کذالک روت عائشة رضي الله عنها عن النبي ﷺ متفق علیه ﴿وعن عائشة رضي الله عنها قالت قال لي رسول الله ﷺ ناولیني الخمرة ای المصلی من المسجد فقلت اني حائض فقال ان حیضک لیست في یدک﴾ رواه مسلم

درویش وایي: چي ددې حدیث څخه دا معلومه سوه چي حائض ته دخول دٔ مسجد ناجائز دی او په لاس له مسجد څخه یو شي را اخیستل روا دی.

پوښتنه: که سړی پر لمانځه ولاړ وي او څنګ ته یې ماینه پرته وه او هغه حائضه وه او د پټو او یا بل کالي یوه حصه یې پر حائض واقع وه لمونځ ددغه سړي صحیح دی؟

ځواب: هو! لمونځ یې صحیح دی کما جاء ذالک بعینه في حدیث میمونة رضي الله عنها قالت ﴿کان رسول الله ﷺ یصلی تعنی صلوة التهجد في مرط بعضه علي وبعضه علیه﴾ رواه البخاري ومسلم

پوښتنه: د حائضي ښځي سره په یوه شړۍ یا توس یا تلتک کي پرته رواده که نه؟

ځواب: روا ده کما جاء في حدیث ام سلمة رضي الله عنها الذي رواه البخاري.

درویش وایي: وعلی هذا فقس المسائل الاخر من هذا الجنس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ

او تاسي مه نژدې کېږئ وحائضاتو ته يعني جماع مه ورسره کوئ تر هغو پورې چې دوئ پاکې شي له حيض څخه.

پوه سه: چې دا بيان دی د غايت او نهايت د حکم سابق يعني فاعتزلوا النساء في المحيض آه، او په عين حال کې تاکيد د حکم هم دی. يعني په اعتبار د لفظ د ولاتقربوهن.

فائده: قرائت د عاصم په روايت د ابي بکر او حمزه او کسائي په تشديد د طاء او هاء دی ای يتطهرن، او نور قاريان په سکون د طاء او په ضمه د هاء مخففا وايي، او د دواړو قرائتو معنا يوه ده په نيز د مالک، شافعي او احمد رح نو دوئ معنا داسې کوي حتى يغتسلن، نو د دوئ په مذهب وطي د حائض چې وينه يې قطع سي د مخه تر حيض نه دي روا مطلقا که پر اقله مده قطع سي او که پر اکثره مده، او امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله وايي معنا د قرائت د تخفيف داده چې صرف وينه قطع سي نو پر دې قرائت د امام اعظم رحمه الله په نيز وطي د حائض سره روا دي چې وينه يې قطع سي من قبل الاغتسال ايضا، او معنا د قرائت د تشديد داده چې غسل وکړي نو يې وطي روا دي، نو قبل الاغتسال يې وطي نه دي روا، واليسر فيه ان ابا حنيفة رحمه الله يحمل قرائة التخفيف على ما انقطع الدم بعد عشرة ايام التي هي اكثر مدة الحيض، نو دغه ښځه له حيض څخه په نفس انقطاع الدم سره پاکه سوه د وطي لپاره لعدم احتمال عود الحيض او قرائت د تشديد امام اعظم رحمه الله پر هغه صورت حمل کوي چې تر لسو ورځو کم يې وينه ودريږي لاحتمال عود الحيض، فلابد من تاكيد القطع بالاغتسال، لانها بعد القطع والاغتسال تجب عليها الصلوة فيجوز الوطي بالطريق الاولى.

مسئله: پر دې خو د څلورو امامانو اتفاق دی چې وطي په حال کې د حيض ناروا دي، نو که چا دغه وطي وکړې په حکم کې يې اختلاف دی، ابو

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

حنیفه او مالک رحمه الله وایي چي کفاره نسته باندي گناه کبیره ده توبه او استغفار باندي لازم دی وهو القول الجدید من الشافعي، او امام احمد رحمه الله وایي چي پر دغه سړي تصدق په یوه دینار سره لازم دی او که یې یو دینار نه درلودی بیا نصف دینار یې کفاره ده.

فائده: اهل السنة والجماعة پر دې خبره متفق دي چي حیض مانع د وجوب د لمانځه او د جواز د لمانځه دواړو دی، نو ځکه پر حائض قضاء د روژې واجبه ده.

پوښتنه: مېړه ته روا ده چي تر پرتاگه لاندي بېله فرجه پر ورنو یا کناتو د حائض نفع واخلي، یعني شهوت پر ځای کړي او که نه؟

ځواب: امام احمد رحمه الله وایي روا ده، او دلیل یې هغه حدیث د انس رضي الله عنه «اصنعوا کل شیئ الا الجماع وفي روایة الا النکاح» تاسي له حائضې مایني سره هر کار کوئ مگر نه نکاح یعني الجماع. او جمهور علماء وایي چي تحت الازار نفع نه ده پر روا، لحدیث معاذ بن جبل قلت یا رسول الله مایحل لي من امرئتي وهي حائض؟ قال: مافوق الازار والتعفف عن ذالک افضل القول الفیصل، که د سړي په ځان باور وچي جماع نه راځخه کېږي که زه تحت الازار نفع واخلم، نو هغه ته دا نفع اخستل روا دی لان المراد في الآیة الجماع فقط، او که یې په ځان باور نه و نو فترک ذالک النفع واجب، قال علیه الصلوة والسلام من رعی حول الحمی یوشک ان یقع فیه یعني د حائض فرج کرغ دی نو د کرغ پر شاوخوا دي نه گرځي.

﴿فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللَّهُ ۚ﴾

نو چي پاکي سي حائضات بیا نو دوئ ته ورځئ یعني وطي ورسره کوئ له هغه ځای ځخه چي خدای تعالی په امر کړي یاست یعني الفرج دون الدبر لانه اللواطة الصغری.

یوه سه: چي چونکه تهوله قراء دلته تطهرن په تشدید د ها وایي نو دلته د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تطهر څخه پر هر مذهب مراد غسل دی، اما عند ائمة الثلاثة رح فظاهر لانهم لا يفرقون بين التشديد والتخفيف بل يوجبون الغسل على كل تقدير لحل الوطي، واما عند ابي حنيفة رحمه الله فالتشديد ۃ محمول على ما اذا انقطع الدم لاقل من عشرة ايام والتفصيل قد مر.

اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ ﴿۲۲۲﴾

په تحقيق خداى ﷻ خوښ لري توبه كونكي يعني له كفر او معاصيو څخه او خوښ لري ځان پاكوونكي له مردار يو څخه لكه فيمانحن فيه وطي د حائض او يا وطي په دبره كي.

پوه سه: چي جماع له حائضي سره سبب د مرض د آتشک گرځي په ولد كي وبه ورد الخبر، وقاله الاطباء ايضا. او سبب د عقاب الهي دی په اخرت كي لما روى احمد والترمذي والنسائي عن ابي هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال من اتى حائضا فقد كفر بما انزل على محمد ﷺ.

درويش وايي: چي دا حديث محمول دی پر زجر او غايت الترهيب وليس المراد حقيقة الكفر لما اخرجه الطبراني رحمه الله عن ابن عباس رضي الله عنه قال جاء رجل الى النبي ﷺ فقال يا رسول الله اني اصبت امرئتي وهي حائض فامره رسول الله ﷺ ان يعتق نسمةً اى عبداً. راوي وايي چي قيمت د مريي په دغه وخت كي يو دينار و. ولهذا ورد في الخبر الآخر التصدق بدينار يعني ان كان الوطي في اول الحيض والدم احمر وان كان الوطي في اخير الحيض والدم اصفر فيجب التصدق بنصف الدينار كما ورد به الآثار. وجه دلالت هذا الحديث على عدم ارادة الكفر في الحديث السابق ان الكفر ليس له كفارة بالاجماع

پوه سه: چي حرمت د وطي د دبري له خوا د ماينې په اشاره ددې آيت ثابت دی "من حيث امركم الله" لان المامور به هو الفرج. او يا د دبري وطي قياس دي په حرمت كي پر وطي د حالة الحيض والجامع بينهما الاستقذار في كليهما بل في الدبر اشد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي وطي د رجل له رجل سره د هغه حرمت په قطعي نصوص سره ثابت دی وانعقد علیه الاجماع ویدل علي تلک الحرمة ماورد من الآیات في مواضع شتی ان قوم لوط ؑ هلکوا بتلک الفعلة ای مع کفرهم.

پوه سه: چي مظهري ؒ وایي چي وطي مطلقاً مستقذر دي سواء کان في قبل الزوجة او دبرها او في دبر الرجل، ومن ثم یجب الغسل به. لکن ابیح الوطي في القبل لضرورة ابقاء النسل، او خدای ﷻ د جواز د وطي د قبل لره هم شرائط ایښي دي من عدم المحرمیة، والنکاح، وبرائة الفرج من الحیض وغیرها ولاضرورة في الوطي في الدبر سواء کان مفعول رجلا او امرئة فبقی هذا الوطي علی الحرمة الاصلیة لفعلة الاستقذار. فاحفظ هذه القاعدة

نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنّٰى شِئْتُمْ

پوه سه: چي په دې آیت کي حذف د مضاف سته ای موضع حرث لکم آه او دا آیت بناء پر تشبیه دی یعني ښځي خدای ﷻ مشابه کړې له کښت د مځکو سره، او هغه نطفې د نرو چي په ارحامو کي ددوئ لوېږي مشابه يې له تخم سره کړې چي په مځکه کي يې سړی پاشي لپاره د حاصل او غلې.

فالمعنی ستاسي ښځي یعني رحمونه ستاسي د ښځو ستاسي د نطفو خای د کښت دی لپاره د اولاد ابقاءً للنسل نو تاسي ورځی وخای ته د کښت ددوئ چي فرج دی نه د دبري له خوا ولي چي دبره خای د فرث او مرداری ده د کښت خای نه ده، فیکون هذا کالبیان لقوله تعالی ﴿فاتوهن من حیث امرکم الله﴾ او پر هر کیفیت چي ورځي که په ولاړي وي که پر اړخ وي که د شا له خوا وي لکن په فرج کي.

پوه سه: چي کلمه د "انی" مشترکه ده په معنا د کیف هم راځي او په معنا د من این هم راځي اما الثاني فکما في قوله تعالی في قصة مریم ام عیسی ؑ حیث کان یاتیها ثمار الصیف في الشتاء وثمار الشتاء یاتیها في الصیف وهي صغیرة في تربیة ذکریاء ؑ زوج خالتها فسئالها

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذکریاﷺ "انی: یاتي ای من این یاتي هذا الرزق فقالت من عند الله. او دا معنا په دې آیت کې مراد نه ده ولې چې مفاد یې عموم ومحل د وطي یعني دبر نه هم شامل دی او سره ددې چې محل د حرث خو یو دی یعني الفرج فهذه الکلمة ههنا لعموم کیفیات الفرج کما ذکرنا

پوښتنه: حرمت د وطي د مایني په دبره کې آیا په اتفاقي خبره حرام دی او که څرنګه؟

ځواب: امام ابو حنیفه. امام احمد او جمهور د اهل سنتو رح خو یې حرام بولي، او د امام مالک رحمه الله څخه روایت دی چې اتیان د زوجې په دبره کې روا دی لکن اکثر اهل مذهب دده له دې خبرې څخه منکر دي چې دادې مذهب د مالک رحمه الله وي. قال المظهري رحمه الله والصحیح انه کان مذهبا فرجع عنه او رجع عنه اصحابه، او د امام شافعي رحمه الله څخه دوه قوله مروي دي. یو قول قدیم دی چې په هغه کې ده وطي د مایني په دبره کې حلال ګڼلی دی. او په قول جدید کې یې مرجوع الیه دادی چې حضرت الامام شافعي رحمه الله د جمهورو علماؤ سره موافقت کړی دی، په تحریم کې د وطي مذکور، والله اعلم

درویش وایي: چې امام مظهري رحمه الله په تحریم او تحلیل کې د اتیان د دبرې د مایني ډېر احادیث ضعیفه راوړي دي، او ډېر احادیث صحیحه یې هم راوړي دي تخمیناً څلور صفحې د خپل تفسیر یې په ډکې کړې دي من شاء التفصیل في هذه المسئلة فلیرجع الی تفسیره في تفسیر هذه الآیة والله الموفق. نو ځکه درویش پخپل تفسیر کې چې عوام او طالبان او امامان یې بلکه بعض خوانندہ ښځې یې مطالعه کوي دا احادیث د مظهري د پښتو ژباړې څخه صرف نظر کړه، ولې نباید عوام او امامان وغیرهم د خپل کم علمي په سبب په کنده کې د تحلیل د لواطت د ماینو واقع نه سي

درویش وایي: چې روایت د تحلیل د لواطت د مایني ابن عبدالحکم له امام شافعي رحمه الله کړی دی، لکن امام ربیع چې شافعي المذهب دی وایي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كذب ابن عبد الحكم والله الذي لا اله الاهو قد نص الشافعي رحمه الله على تحريم تلك اللواطة في سننه وحكاه عنه جماعة منهم الماوردي رحمه الله في الحاوي وابو نصر بن الصباح في كتاب الشامل وغيرهم.

درویش وايي: كه روايت د ابن الحكم صحيح هم سي فقد ذكرنا رجوع الشافعي رحمه الله عن ذالک نو اوس بايد د ټولو عوامو او خواصو نرو او ښځو عقيده دا وي چي لواطت د ماينې سره حرام دى په اجماع د ائمة الاربعة رحمهم الله الذين هم اساطين دين المبين.

وَقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُمْ

او تاسي له مخه استوئ يعني اخرت ته لپاره د خپلو ځانو يعني اعمال صالحه چي سبب د بخښي وګرځي ستاسي.

درویش وايي: چي وجه د ربط ددې آيت د مانحن فيه سره داده چي سړى په وطي كي د ماينې دي فقط قضاء شهوت مقصود نه وي بلكه داسي منافع دي مقصود وي چي راجع ودين ته وي ليكون الوطي عبادة مقدمة لانفسكم مثلا په وطي كي دا غرض وي چي زه خپل فرج له زناء او لواطت څخه وساتم او خداى ﷻ به ولد صالح راكړي چي ماته به دعاء كوي او طلب د مغفرت د ګنهو به راته كوي، وفي حديث مسلم قال رسول الله ﷺ وفي بضع احدكم صدقة يعني په عضو مخصوص كي ستاسي خيرات سته قالوا اياتي احدنا شهوته ويكون له فيها اجر، نو صحابه وو وويل چي يو زموږ به قضاء شهوت كوي او موږ لره به پر هغه اجر او ثواب هم وي، قال ارئيتم لو وضعها في حرام اكان عليه وزر قالوا نعم قال فكذالک اذا وضعها في حلال كان له اجر، نو عليه الصلوة والسلام ودوئ ته وويل چي تاسي خبر راكړئ كه سړي شهوت خپل په حرام ځاى كي ايښي وايي لكه زناء او لواطت آيا پر ده باندي به عذاب نه واى، صحابه وو رضي الله عنهم وويل چي هو! نو عليه الصلوة والسلام وويل چي داغه رنګه چي شهوت په حلال ځاى كي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

استعمال کړي نو ده لره ثواب سته، او په روایت د مسلم له ابو هریره ﷺ
څخه روایت دی چي علیه الصلوة والسلام وویل چي انسان چي مړ سي
یعني مسلمان عمل دده قطع کېږي، یعني لکه لمونځ، روژه، زکوة،
وغیرها، مګر نه له درېښانو څخه چي یا یې یوه صدقه جاریه پرې ایښې
وي لکه مسجد، پل مهمان خانه، وقفي مځکه یا باغ او یا وقفي کتابونه،
او علم ینتفع او یا علم پاته سي چي خلګ نفع څنځي اخلي لکه تصنیف
کړي کتابونه، او یا مدرس شاګردان او یا صالح عیال که نر وي او که ښځه
وي چي ده ته دعاء کوي.

درویش وایي: انما قال ﷺ یدعوله ترغیبا للولد علی دعاء الوالد والا
فالوالد شریک في ثواب جمیع الاعمال الصالحة للولد، یدعوا ولایدعوا
او مجاهد او عطاء ﷺ ددې آیت داسي ترجمه کوي چي تاسي دمخه تر
جماع عمل د خیر کوئ لپاره د ځانو یعني بسم الله او دعاء، کما ورد في
الحدیث النبوي ﷺ بروایة البخاري عن ابن عباس ﷺ قال رسول الله ﷺ که
یو څوک ستاسي اراده وکړي چي ماینې ته ورسي یعني جماع ورسره وکړي
نو له مخه تر جماعو دي وایي بسم الله اللهم جنبنا الشیطان وجنب الشیطان
مارزقتنا فانه ان یقدر بینهما ولد في ذالک لم یضره الشیطان ابداً.

درویش وایي: چي مراد په حدیث نبوي ﷺ والله اعلم ضرر خاص دی لکه
ارتداد، دوام پر معاصیو کبیره وو لامطلق الضرر بالمعصیة فتامل حتی
لاتقع في الشک في حدیث رسول الله ﷺ.

وَقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّكُم مُّلَاقُوهُ ۗ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٢٣﴾

او له خدای ﷻ څخه وېرېږئ، یعني معاصي مه کوئ خوفاً من الله ﷻ او
په دې پوه سئ چي تاسي به د خدای ﷻ سره ملاقي کېږي یعني په ورځ د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قیامت، یعني په هغه ورځ به تاسي ته جزاء د اعمالو درکول کېږي، که خیر وعمل ستاسي جزاء به په خیر درکول کېږي یعني الجنة، او که بد وه عملونه ستاسي جزاء به په بدو درکول کېږي یعني النار. او ته اې محمد ﷺ زېرى وکړه ومؤمنانوته په جنت او نعیم مقیم سره. وبروایت مسلم عن صهیب ﷺ قال قال رسول الله ﷺ چي تعجب دى وحال ته د مسلمان که ده ته یوشي د خوشحالي پیداسي کالصحة في البدن والغنى بالمال والاولاد الصالح وغیرها نو دى د هغه نعمت الهي شکر وایي فکان خیرا له. وان اصابته ضراء یعني بعکس ماقلنا في تفسیر السراء او دى پر هغه ضراء صبر وکړي کان خیرا له.

بیت

در آمان خانه ایمان بنشین وایمن باش گرآمان بایدت البته مرو ازین ماس

وَلَا تَجْعَلُوا اللّٰهَ عُرْضَةً لِّاَيْمَانِكُمْ

شان نزول الآیة: مظهري له بغوي څخه او روح البیان او روح المعاني هم دغسي وایي چي بشیر بن نعمان انصاري ﷺ خپله ماینه چي خور د عبدالله بن رواحه ﷺ وه طلاقه کړې وه. او د بشیر زړه غوښتل چي بیرته د خپلي طلاقي سوي ماینې سره نوې نکاح وکړي، او عبدالله بن رواحه ﷺ قسم اخستى و چي زه به د بشیر کور ته نه ورځم او خبري به هم نه ورسره کوم، او د بشیر او د خپلي خور تر منځ به صلح نه کوم. نو چا چي به د بشیر د خبرو او دده د خور تر منځ خبره مطرح کړه، نو عبدالله به ورته ویل چي ما سخت قسم کړى دى چي زه به دا کار نه کوم، او ماته دا نه ده روا چي زه په قسم سره ځان حانث کړم. فانزل الله هذه الآیة. نو عبدالله بن رواحة ﷺ سمعاً وطاعةً لامره تعالى خپل ځان په قسم کي حانث کړى او هغه کار یې وکړى. او روح المعاني د ابن جریر ﷺ او هغه د ابن جریج ﷺ څخه داسي نقل کړى دى چي دا آیت په باره کي د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ نازل سوى دى،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خرنګه چي په موضوع کي د تهمت د زناء پر سيدنا عائشة رضي الله عنها مسطح بن اثاثه رضي الله عنه چي له فقراو څخه د مهاجرينو و او د ابو بکر رضي الله عنه د خاله زوی هم و شرکت کړی و يعني دا موضوع يې رشتيا بلله، نو څه وخت چي په برائت کي د عائشه رضي الله عنها د قرآن مجيد څو آيتونه نازل سوه، نو ابوبکر رضي الله عنه قسم واخستی چي زه به آئينده مسطح رضي الله عنه ته نفقه نه ورکوم لکه چي پخوا مي ورکوله، نو چي دا آيت نازل سو، نو ابوبکر رضي الله عنه سمعاً وطاعةً لله جل جلاله خان په قسم کي حانث کړی، او نفقه د مسطح رضي الله عنه يې بيرته جاري کړه.

درويش وايي: چي ددې قصې پوره تفصيل او بيان به په خپل خای کي په تفسير ايوبي کي راسي ان شاء الله تعالی.

فائده: د درويش په خيال دا موجوده آيت فقط په شان کي د قسم د ابن رواحه رضي الله عنه نازل دی، او هغه شان نزول چي روح المعاني راوړی دی چي دا آيت په شان کي د ابوبکر رضي الله عنه نازل سوی دی په دې خای کي مناسب نه دی، ولي په قسم کي د ابوبکر رضي الله عنه چي مسطح د خاله زوی ته به نفقه نه ورکوي هغه په قصه کي د تهمت د عائشې رضي الله عنها په هغه آيت کي چي د هغه موضوع په راسي "ولا يأتل اولوا الفضل منکم والسعة الآية" په قرينه ددې چي په دې آيت کي "وتصلحوا بين الناس آه" راغلی دی صلح قسم خو ابن رواحه اخستی و چي زه به د بشير او د هغه د مطلقې مابينې صلح نه کوم. او په قصه کي د ابوبکر رضي الله عنه د قسم خو فقط دا وه چي زه به مسطح ته نفقه نه ورکوم د صلح بين الناس خو په هغه کي ګنجائش نسته. ولهذا اقصتر المحقق البيضاوي رحمه الله، او روح البيان، بغوي، مظهري او ګڼ شمېر مفسرانو رحمهم الله تعالی فقط يوازي د ابن رواحه رضي الله عنه شان نزول راوړی دی. او د درويش ذاتي رايه هم داده چي آيت مذکوره په شان کي د ابن رواحه رضي الله عنه د قسم نازل سوی دی والله اعلم بالصواب.

ترجمه: او تاسي مه ګرځوئ خدای جل جلاله، په حذف د مضاف ای يمين الله عرضة، يعني مانع د نېکو کارو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: "عرضة فعلة" په معنا د مفعول يعني معروض ميان ګرځي په منځ کي خپل او د ښېګو کارو "لايمانکم" جمع د يمين ده. او مراد له ايمانو څخه هغه کارونه دي چي سرې قسم خندي اخستي وي.

بوه سه: چي صاحب د روح البيان وايي چي "عرضة فعلة" په معنا د مفعول ده اى المعروض ثم جعل اسم لما يعرض دون الشيئ: اى يجعل قدامه بحيث يكون حاجزا ومانعا عنه. والمعنى لاتجعلوا ذكر الله والحلف به مانعا لماحلفتم عليه من انواع الخير كالبر والاصلاح ههنا فان الحلف بالله لايمنع ذالک نو لفظ د ايمانو مجاز مرسل دی په معنا د محلوف عليها يعني افعال الخير.

اَنْ تَبَرُّوْا وَتَتَّقُوْا وَتُصْلِحُوْا بَيْنَ النَّاسِ ؕ

چي تاسي کار د بر يعني يو نيک کار وکړئ، او يا تقوى داري وکړئ يعني د خداى ﷻ له بېرې کار وکړئ، او يا اصلاح وکړئ په منځ کي د خلګو.

بوه سه: چي دا درې معطوفات بيان د "ايمانکم" دي چي په معنا د محلوف عليه و، کمامر.

درويش وايي: چي په موضوع کي د عبدالله بن رواحه ﷺ بر دا و چي له بشير سره ده بنه کړې وايي او خندي ناراضه سوى نه وايي پر طلاق د خور دده لان الطلاق امر شرعي، او تقوى داوه چي عبدالله بن رواحه له بشير ﷺ سره قطع د خبرو نه وايي کړې، او اصلاح بين الناس دا وه چي عبدالله بن رواحه د خپلي خور او د بشير ﷺ اصلاح کړې وايي.

اشاره: په دې آيت کي دلالةً دا معلومه سوه چي ډېر قسمونه اخستل مکروه دي، او ډېر قسم اخيستونکى پر خداى ﷻ دلاور دى، او صاحب البر او متقي او مصلح بين الناس نه دى.

مسئله: که چا قسم واخستي چي زه فلانى بنه کار نه کوم فرضاً کان او واجباً او سنةً واجب ده پر هغه چي خپل قسم دې مانع د بنه کار کولو نه ګرځوي بلکه ځان دي حانث کړي او بنه کار دي وکړي او کفارة اليمين دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وركړي، وفي مسلم عن ابي هريرة ﷺ ان رسول الله ﷺ قال من حلف بيمين فرئ غيرها غير منها فليكفر عن يمينه وليفعل الذي هو خير.

مسئله: كه يو چا قسم واخستى پر يوه شي باندي او متصل د قسم سره ان شاء الله ووېل بيا د حنث كفاره نسته باندي، وعلى هذا فقس الطلاق والعتاق، لكن الاتصال شرط في جميعها عند ابي حنيفة رحمه الله.

وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٢٤﴾

او خداى ﷻ اورېدونكى دى ستاسي د اقوالو. او ښه خبر دى ستاسي په اعمالو او نياتو.

وفي المثنوي

از پى آن گفت حق خود را سميع | تا به بندى لب گفتار شنيع
از پى آن گفت حق خود را بصير | كه بود ديدويت هر د م نذير
از پى آن گفت حق خود را عليم | تانيفديشى فسادى تو زنيم

مسئله: في الشرعة دي ځوك وخپل مبيعې ته رواج نه وركوي په قسم سره لا صادقا ولا كاذبا لانه ان كان كاذبا فقد جاء باليمين الغموس وهي من الكبائر وسيأتي تفسير اليمين الغموس ان شاء الله. او كه صادقا وي فقد جعل الله عرضة لايمانه. او دا بد كار دى ولي چي دنيا يو خسيس شى ده بايد چي ددې د حصول لپاره ذكر د خداى ﷻ د پاک نامه ذريعه ونه گرځوي بېله ضرورته كما في مسئلة البينة على المدعي واليمين على من انكر كما جاء في الحديث المشهور القريب من التواتر. او كه څه هم سړى په قسم كي صادق وي خو بيا هم د ډېر قسمونه دي نه اخلي ولي د قسم تعظيم يې له زړه څخه وزي، نو نه ده بعيده چي باره به ايمان كاذبه هم اخلي، وفي الحديث قال رسول الله ﷺ ويل للتاجر من يلى والله، وفي الحديث النبوي ﷺ التجار هم الفجار، اصحابو ﷺ پوښتنه څندي وكړه چي ولي فجار دي وقد احل الله البيع فقال صلعم لانهم يحلفون ويأثمون. يعني دوئ قسمونه اخلي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او ګناه کوي یعني په درواغو قسمونه اخلي ویتحدثون فیکذبون او خبري کوي او درواغ وایي.

مسئله: څوک دي داسې قسم نه اخلي چي زما دي قسم په خدای ﷻ وي چي خدای ﷻ به فلانی کار کوي، لکن اولیاء الله المقربین رح له دې مسئلې څخه مستثنی دي لانه ورد في الحدیث النبوي ﷺ رب اشعث اغبر لو اقسم علی الله لابره او کما قال.

حکایت: ابو حفص رحمه الله چي یو د اولیاء الله څخه و، یوه ورځ پر یوه لاره روان و چي یو کلي وال په مخه ورغلی لکه مدهوش غونډي و نو ابو حفص رحمه الله ورته وویل چي ولي داسې مدهوش مانند روان یې؟ هغه ورته وویل چي خر مي ورک دی ولا املک غیره، نو ابو حفص رحمه الله ودرېدی او خدای ﷻ ته یې په دغو الفاظو خطاب وکړی چي زما دي ستا په عزت قسم وي که زه یو ګام واخلم چي ته اې ربه ددې صحرائي خر وده ته رد نه کړې فظهر الحمار في الوقت، کذا في شرح المشارق ولنعم ماقیل.

	گفته او گفته الله بود	گرچه از حلقوم عبدالله بود
وایضا قیل:	اولیاء راهست قدرت ازاله	تیر برجسته بگر داند زراه
وایضا قیل:	بر فلک بر تر بود اسرار او	شیئا لله شیئا کار او

درویش وایي: چي دا یو کرامت د رب ﷻ دی چي خپلو دوستانو ته یې ورکوي، وامثال هذه کثیرة شهیرة.

درویش وایي: که څه هم الفاظ د حدیث مروي سابقا یعني فلیکفر عن یمینه ولیفعل الذي هو خیر ددې تقاضی کوي چي کفاره تر حنث دمخه ورکوي، لکن مذهب د حنفیان رحمه الله دادی چي کفاره تر حنث دمخه نه ده روا بلکه یو وار به ځان حانثوي او بیا به کفاره ورکوي.

سوال: نو مذهب حنفي رحمه الله له حدیثه مخالف نه سو؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: يا نه دی مخالف ولي چي واو عاطفه چي په حديث نبوي ﷺ کي راغلی دی لپاره د تراخي نه دي بلکه لپاره د مطلق جمع دی كما تقرر في النحو نعم قدم الكفارة في لفظ الحديث اهتماماً بشانها.

لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ

او نه نسي خدای ﷻ تاسي په لغوه سره په قسمو کي ستاسي.

پوه سه: چي مراد له مواخذې څخه مواخذه اخروي ده په نيز د اكثرو مفسرينو رح يعني عذاب الهي، او مواخذه دنياوي عبارت دی له كفارې څخه كما سيأتي بيانها ان شاء الله تعالى.

فائده: لغوه په لغت کي هغه بې اعتباره خبره يا كار دی (قاموس) د امام شافعي، شعبي او عكرمه مذهب دادی چي يمين لغوه هغه قسم دی چي پر خوله د سړي بېله قصده جاري وي. نحو قول الرجل لا والله وبلى والله سواء كان في الاخبار اوالانشاء او الخبر الماضي او المستقبل. قال المظهري المؤيد لمذهب غير الاحناف ويظن انه مجتهد في الآحاديث (وهذا هو المناسب للمعنى اللغوى) نو په داسي قسم کي نه گناه سته كه په اخبارو كي وي او كه په انشاؤ كي او ځان يې حانث كړی كفاره هم نسته بانديٰ عند الشافعي رحمه الله، نو د شافعي په نيز يمين دوه قسمه دی. لغوه او منعقده، او د امام اعظم رحمه الله په نيز يمين لغوه په قسمو كي هغه دی چي عقد او قصد د زړه نه وي ورسره كقول الرجل والله انه فعل كذا او يفعل كذا ويظن انه صادق فيه وليس كذالك ففي هذا القسم من اليمين لا اثم ولا كفارة. واما ان حلف على الامر الماضي كاذبا يعني يعلم انه ليس كک فهو اليمين الغموس ولا كفارة فيه ولكنه كبيرة يغمس صاحبها في الاثم في الدنيا وفي النار في الآخرة، نو د حنفيانو په نيز يمين درې قسمه دی. لغوه، غموس ومنعقدة كما سيأتي، وقد بينا معنا هما.

پوه سه: چي يمين غموس په وروسته آيت كي داخل دی. يعني قوله تعالى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا كَسَبَتْ قُلُوْبُكُمْ ؕ

لكن تاسي نسي په هغه قسم سره چي ستاسو زړونو يې قسب كړي وي نو كه په كسب د زړه يعني په قصد د زړه كي پر ماضي كار قسم اخستى و كاذبا فهو اليمين الغموس، او كه په قصد د زړه يې پر مستقبل كار قسم واخستى فهو اليمين المنعقدة وفيه عند الحنث المعصية والكفارة.

درويش وايي: چي بيانو مظهري خپله مجتهدانه رويه مختاره كړې ده او احاديث داله پر مذهب حنفي يې ټوله ضعيف كړي دي، په قول د اصحاب الجرح والتعديل فطالع تفسيره. ولله در صاحب روح البيان، وصاحب المدارك وغيرهما حيث يبينون مذهبهم والمذهب الآخر. ايضاً ولايبينون الدلائل بالنفي والاثبات والجرح والتعديل لان دليل المقلد قول مجتهده لاظنه اى المقلد ولاظن مجتهده كذا في المسلم الثبوت للمحب البهاري رحمه الله

وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۲۲۵﴾

او خداى ﷻ بخښونكى دى د كبائرو گنهو بتوبة وبغير توبة ان شاء الله، او حليم دى چي وعاصي ته مهلت د توبې وركوي او ژر يې په گناه نه نسي

فائده: پوه سه چي قسم به يا په ذات د خداى ﷻ وي مثل ان يقول والذي خلقني او يا والذي نفسي بيده، او يا به په اسماؤ د خداى ﷻ وي نحو والرحمن والرحيم وغير ذالک، او يا به يو صفت د خداى ﷻ وي نحو بعزة وقدرته وجلاله الى غير ذالک.

مسئله: كه چا په غير ددې درو قسمو قسم واخستى لكه عوام الناس چي وايي چي زما دې په بيت الله شريفه قسم وي، او يا زما دې په نبي ﷺ قسم وي او يا دې زما پخپل پلار قسم وي، او يا عوام د پښتنو وايي چي زما دې په پيران پير صاحب قسم وي، او يا زما دې په شاه آغا قسم وي، او يا زما دې په خرقه مباركه قسم وي، نو دا د ايمانو قسم نه دى او په مخالفت سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې نه ګناه سته او نه کفاره بلکه دداسې قسمو اخستل مکروه دي، او امام شافعي رحمه الله وايي چې زه بېربږم چې داسې قسمونه به معصيت وي يعني ګناه کبيره بلکه درويش وايي چې بېره د کفر پکښې سته لما ورد في الحديث النبوي ﷺ من حلف بغير الله فقد اشرک بالله.

پوښتنه: ددې حديث تاويل چې علماء داسې کوي من حلف بغير الله معتقدا تعظيم ذالک الغير فقد اشرک المحلوف به مع الله في التعظيم المختص به تعالى؟

ځواب: درويش خو هم حکم په شرک سره نه دی کړی بلکه وه يې ويل چې زه بېربږم او دا ظاهره خبره ده چې په بعض مذکوره قسمو کې خو عوام تعظيم د غير الله يې مقصود دی، ولهذا امام علي رازي رحمه الله وايي چې که دا نه وايي چې عوام په ورته قسمو مبتلا او په پوهېږي نه لقلت انه الشرک لانه لايمين الا بالله اى باقسامه الثلاثة المذکورة.

مسئله: سړی دي داسې قسم نه اخلي که ما فلانی کار کړی وي نو زه به له اسلامه بېزاره يم لانه ان کان صادقا لن يرجع الى الاسلام سالماً وان کان کاذبا خيف عليه الکفر، ولهذا ورد في الحديث النبوي ﷺ الصحيح من حلف بملة بغير الاسلام کاذبا فهو کماکان.

درويش وايي: چې له ظاهره څخه د حديث مذکور داسې فهمېږي که يو مسلمان داسې ووايي که ما فلانی کار وکړی نو زه به يهودي يم او هغه کار يې وکړی نو يهودي سو، حضرت الامام الشافعي رحمه الله دغه حديث پر ظاهر حمل کوي يعني دغه سړی کافر سو، او حنفيه رحمهم الله وايي چې کافر نه دی البته ګناه کبيره ده، نو دوئ دا حديث محمول پر تهديد او زجر بولي له دې قسمه قسمو څخه.

مسئله: که يې پر ماضي کار دغسې قسم واخستی مثلا وه يې ويل که به ما فلانی کار کړي وي زه يې کافر يا يهودي. او هغه کار يې هم کړی و، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په حنفيانو رح کي اختلاف خو سته يعني بعض حنفيه رح وايي چي کافر سو يا يهودي سو، لکن صحيح داده چي ددغه سړي دا عقيده وه چي دا خو صرف قسم دی نو نه کافر کېږي، او که دده عقيده داوه چي په ورته قسم سره سړی کافر کېږي، نو کافر سو لانه رضي بالکفر والرضي بالکفر کفر عند الائمة. وهذا محمل الحديث المذكور عند اكثر المحدثين والفقهاء رح

مسئله: په فتاوی بزازيه کي وايي والفتوى على انه يمين يلزم عليه الکفارة فتامل فيه جداً.

لِلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِن نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ

او هغه کسانو لره چي قسم واخلي له جماع څخه د ماينو خپلو، انتظار سته د څلورو مياشتو.

پوه سه: چي قتاده رض وايي چي "ايلاء" طلاق و په جاهليت کي. والصحيح ماقال ابن المسيب رض چي ايلاء ظلم و د سړي پر ماينې باندي يعني چي د سړي به ماينه نه وه خوښه او دا به يې هم غيرت نه منل چي دی يې طلاقه کړي او بل ميړه وکړي، نو به يې ايلاء ورسره وکړه په داسي الفاظو چي والله لا اقربک ابداً، نو دا ښځه بيچاره مظلومه به نه کونډه وه چي بل ميړه يې کړی وايي او نه مړوښې وه ولي چي ميړه وطي نه ورسره کولې، نو اسلام چي د عدالت پر بنسټ ولاړ و دا ظلم يې له منځه يوړی، او فقط پر څلورو مياشتو يې محصور وګرځاوه.

پوه سه: چي د اعراب له لاري "تربص" مبتداء ده او للذين آه يې خبر دی، او اضافت تربص و ظرف زمان ته يعني اربعة اشهر ته مجاز دی يعني ظرف يې جاري مجرى المفعول به ګرځولی دی، نحو سيرة يوم اى سيرة شخص في يوم. والمعنى چي په دې څلورو مياشتو کي د ميړه ته مطالبه د رجوع سته او نه مطالبه د طلاق.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

پوه سه: چې د ايلاء شرعي صورت دادی چې مېړه ومايني ته ووايي والله لا اقربک اربعة اشهر، او يا بالا تر څلورو مياشتو. او يا داسي ورته ووايي لا اقربک بدون التقييد بالشهور. او ايلاء لغوي داده چې له جماعو څخه د مايني قسم واخلي کم تر څلورو مياشتو، نو دی مولي نه دی بلکه حالف دی، نو که ده جماعي په کم کې د مده مذکوره ورسره وکړې نو پر ده باندي کفارة اليمين لازمه ده، او که يې هغه مذکوره مدت پوره کړی بېله وطي نو هيڅ نسته باندي.

فائده: ايلاء شرعي لره دوه حکمه دي، يو حکم الحنث دی، او بل حکم البر دی. د حنث حکم وجوب د کفارې دی کي يې وطي ورسره وکړې په مده کي د ايلاء ان کان يمين بالله. او که يې قسم په عتاق او په نذر مسمی سره کړی و، نو هغه جزاء پر واقع کېږي يعني العتق والنذر. او د بر معنا داده چې دی خپل قسم سر ته ورسوي يعني څلور مياشتي بېله جماعو پر تېري سي، نو مايئه يې په طلاق بائن سره طلاقه سوه. وهذا اذا کانت الزوجة حرة وان کانت امة فايلائها الشرعي بشهرين.

فَإِنْ فَآءُو فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٢٦﴾

او که دوئ يعني ايلاء کونکو رجوع وکړه يعني له قسمه د ترک الجماع د څلور مياشتي يعني په دننه کي د څلورو مياشتو وطي ورسره وکړې. نو خدای ﷻ غفور دی يعني هغه گناه چې مېړه په ايلاء سره مايئه ازاره کړې وه ورو بخښي، او مهربانه دی.

پوه سه: چې مظهري په دې آيت کي يو وار بيا تائيد د مذهب د امام مالک، امام احمد او د امام شافعي رحمهم الله کړی دی او دا آيت يې پر مذهب د دغو حضراتو حمل کړی دی. او د امام اعظم رحمه الله مذهب يې پر قرائت شاذه د ابن مسعود رضي الله عنه حمل کړی دی چې په هغه کي داسي راغلي دي: فان فاوا فيهن او بيا يې په ډېره جگر خوني سره دا آيت پر قرائة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

متواتره موافق د امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله د مذهب سره كړی دی. زه ودې ته حيران يم چې ولي امام مظهري رحمه الله په اول كې د تفسير د آيت مذكوره دغه خبره چې په آخير كې يې كړې ده نه كوله لكه چې صاحب د روح البيان كړې ده. يعني اجمالا بدون الاشارة الى السوال والجواب. او زما په فكر ددوئ قول ته بيضاوي شافعي المذهب كتلي دي ولذالك قال الشافعي لا ايلاء الا في اكثر من اربعة اشهر انتهى ولله در صاحب روح المعاني رحمه الله حيث آتى في تفسير الآية المذكورة بتحقيق انيق واثبت مذهب الحنفية بتدقيق عجيب فطالع تفسيره في هذا المقام وطالع تفسير المظهري ايضا من هذا المقام يتبين لک الحال.

وَإِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَإِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٢٧﴾

درويش وايي: چې ترجمه د آيت پر مذهب د سيد الائمة ابو حنيفه رحمه الله داسې ده كه چېرې داسې چې ايلاء يې كړې ده عزم او ټينګ قصد ولري پر وقوع د طلاق يعني پر ترک د رجوع وماينې ته همېشه توب وكړي حتى چې څلور مياشتې تېرې سي طلاق واقع كېږي بېله د تطليق دده. نو په تحقيق خداى جل جلاله اورېدونكى دى دده د ايلاء او خبر دى دده په نيت چې دا څلور مياشتې ولې رجوع نه كوله. او د امام مالک، امام شافعي او امام احمد رحمهم الله په نيز يې ترجمه داسې ده چې كه دغه مولي رجوع پسله تېرېدو څخه د څلورو مياشتو ونه كړه او قصد يې د طلاق په زړه كې و او طلاقه يې كړه په خوله، نو خداى جل جلاله آه. والدليل على مذهب الحنفية على مافي المظهري والفتح انه لو لم يقع الطلاق بمضى اربعة اشهر لجاز له ايضاً بعد الاشهر فلايكون الفيئ بقوله فيهن على قرائة ابن مسعود رضي الله عنه معنى كما لايخفى او كه مونږ ووايو چې دته رجوع وروسته تر اشهر اربعه نه ده روا بلكه پر ده تطليق لازم دی حتماً يلزم خرق الاجماع المركب من اقوال الائمة الاربعة اذ لم يقل به احد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالْمُطَلَّقٰتُ

درويش وايي: چي علامه بغداد مرجع اهل العراق ومفتي بغداد العلامة ابي الفضل شهاب الدين السيد محمود الآلوسي البغدادي المتوفى في سنه (۲۷۰) رحمه الباري پخپل تفسير روح المعاني كي وايي چي له مطلقات څخه مراد دادي چي دوئ به حر وي، او ذوات الاقراء يعني ذوات الحيض به وي او وطي به هم ورسره سوي وي، او حوامل به هم نه وي لما قد بين في الآيات والاخبار اى الاحاديث النبويه ﷺ ولي چي د مينځي عده د طلاق په هغه حديث سره ثابته ده ﴿طلاق الامة تطليقتان وعدتها حيضتان﴾ رواه الترمذي و ابو داوٗد وابن ماجه والدارمي من حديث عائشة ؓ، وايضا اجمع الامة على ذالک. او پر غير مدخول بها خو عده نسته لقوله تعالى في سورة الاحزاب ﴿يا ايها الذين آمنوا اذا نكحتم المؤمنات ثم طلقتموهن من قبل ان تمسوهن فما لكم عليهن من عدة﴾ اود حواملو ښځو عدت خو وضع الحمل ده لقوله تعالى ﴿واولات الاحمال اجلهن ان يضعن حملهن﴾ او عده د هغو مطلقاتو چي حيض يې نه وي يا په سبب د صغر سن اويا په سبب د كبر سن د هغو عده په درو مياشتو سره ده كما سيئاتي في القرآن اى قوله تعالى ﴿واللاتي ينسن من المحيض ان ارتبتم فعدتهن ثلاثة اشهر﴾ وروسته علامه بغدادي ؒ وايي چي الف ولام په "المطلقات" كي لپاره د استغراق نه دي لانه متعذر لما بين فتحمل على الجنس كما قال الفقهاء في قوله الحالف لا اتزوج النساء. او حمل پر جنس يې په سبب د حكم آتي دى يعني يتربصن آه ثم قال وهذا مذهب ساداتنا الحنفية لان الكلام المستقل الغير الموصول ناسخ للعام والنسخ انما يصح اذا ثبت عموم الحكم السابق ولا عموم ههنا كما مر آنفا. وقال الشافعية ؒ ان المطلقات عام يعني ان اللام للاستغراق وقد خص البعض بكلام مستقل غير موصول فهو نسخ، انتهى كلامه الشريف وقد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قال المظهري رحمه الله هذا اللفظ عام ثم وثم الى ان قال ونسخ حكم هذه الآية في ذوات الاحمال ثم قال وفي غير المدخول بها وذكر المظهري في نسخ ذوات الاحمال وفي المدخول بها الآيتين المذكورتين.

درويش وايي: چي اوس نو تاسو غور وکړئ چي کوم يو ددې دوو امامانو يعني علامه بغدادي رحمه الله او مظهري رحمه الله څخه صحيح حنفي المذهب دی او کوم يو په واقع کي شافعي المذهب دی پر درويش صرف نقل د عبارت د دغو دوو تفسيرو و هغه مي وکړی والله اعلم بالصواب في كل باب.

يَتَرَبَّصۡنَ بِأَنفُسِهِنَّ

دوئ به انتظار کوي يعني د بل مېړه پخپلو ځانو سره که يې څه هم ومېړه او جماعو ته خواهش کېږي، لکن بيا هم مراعات د حکم د شرعي انور دي وکړي.

پوه سه: چي "يتربص" که څه هم لفظا جمله خبريه ده لکن دلته په معنا د امر ده يعني انتظار به کوي حتماً والسر في التعبير بالاخبار هو التاكيد في الامر كمابين في علم المعاني.

سوال: بعض نحات وايي چي انشاء خبر نه سي واقع کېدای بيله تاويله مثلا زيد اضربه. تاويل به يې داسي کوي مقول في حقه اضربه نو يتربصن چي په معنا د امر سي نو تاويل ته ضرورت نه لري که څرنګه؟

ځواب: قول د نحاتو په هغه انشاء کي دی چي لفظا ومعنی انشاء وي كما في المثال المذكور، او دلته خو يتربصن لفظا خبريه ده البته كناية يې معنا امر دی فلا يحتاج الى التاويل عند الكل، او بعض مفسران چي په مذکوره دقيقه نه دي خبر هغه په ځواب کي د سوال مذكور داسي وايي چي مجموع والمطلقات يتربصن جمله اسميه خبريه ده او په معنا د انشاء ده ای ليتربصن المطلقات فلا يكون للانشاء خبرا.

ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٖۚ

درې حيضه يعني په دغه مده کي دا مطلقه به بل مېړه نه کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي لفظ د "قروء" په اجماع د اهل لغت مشترک لفظي دی په منځ کي د دوو ضدو یعني الحیض والطهر، نو امام شافعي او امام مالک وايي چي مراد له "قرء" څخه په دې آیت کي طهر دی وهو المروي عن عائشة ﷺ وابن عمر وزید ابن ثابت رض، او ابو حنیفه او احمد رح وايي چي مراد له "قرء" څخه حیض دی په ډېرو دلائلو چي په کتابو د فقهي حنفي او د اصول الفقه کي مذکور دي.

الاول: ان لفظ د ثلاثة لفظ خاص دی په عدد معین پوري، او درې نه پوره کېږي مګر په حیضو کي، ولي چي طلاق سني خو هغه دی چي په طهر کي به وي، نو چي سړی بعض ورځي د طهر د ماینې يې تېري سوې طلاقه يې کړه، نو دغه باقي ورځي د طهر ددې په عده که اعتبار ونه لري دا خو خلاف الاجماع ده، او هیڅ چا هم قول نه دی په کړی، او که يې حساب کړي نو خو دوه طهره او بعض د طهر سوه درې نه سوه پوره.

سوال: ممکنه ده چي دغه دوه طهره او بعض ته د طهر دي مجازاً ثلاثة اطهار وويل سي؟

ځواب: که دا ممکنه وي نو په هغه آیت کي ﴿فعدتهن ثلاثة اشهر﴾ دوې میاشتي پوره او د دریمي بعض چي تېر سي باید د مطلقي عده پوره سي ولم یقل به احد.

پوښتنه: په هغه آیت کي ﴿الحج اشهر معلومات﴾ دوې میاشتي او لس ورځي لفظ د اشهر چي جمع دی نه دی ویل سوی؟

ځواب: هو! ویل سوی دی لکن په هغه آیت کي خو لفظ د ثلاثة نه دی راغلی نو په هغه کي خو مجاز روا دی، او د عده په باره کي خدای ﷻ داسي نه دي ویلي فعدتهن قروء بلکه ثلاثة قروء يې ویلي دي، نو دا آیت نص په درو کي مجاز نه دی پکښي روا.

سوال: مذکوره پوښتنه خو په هغه طلاق کي کېدای سي چي سړی ماینې ته چي بعض ورځي د حیض يې تېري سوي وي طلاق ورکړي آیا دغه باقي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورځي د حيض كه يې په عده كې حساب سي نو څو دري حيضه پوره نه سوه بلكه حيضان وبعض ثالث سوه او كه يې نه كې حساب بلكه دري حيضه مستقل غوښت غواړي بيا خو عده تر دري حيضه بالا سوه؟

ځواب: طلاق في الحيض خو طلاق بدعي دی بالاتفاق او خدای ﷻ خو بيان د طلاق سني كوي، فلاباس بالاعتداد بذالک البعض من الحيض من العدة.

والثاني: په حديث صحيح كي راغلي دي «طلاق الامة تطليقتان وعدتها حيضتان» او سره ددې چي د امت اجماع ده چي د حري او مينځي صرف په عدد كي د عدې فرق دی، په نفس عده كي يې فرق نسته، نو دا معلومه سوه چي عده د حري ښځي دري حيضه دي.

والثالث: مشروعيت د عدې خو لپاره ددې دی چي دا معلومه سي چي ښځه خو حامله نه ده چي دې ته په فقه كي برائة الرحم وايي، او دا معلومات خو په حيض سره كيږي ولي چي حاملې ښځي له حيض نه ورځي په طهر نه كيږي، لكه مينځه چي سري رانسي برائة الرحم به يې په حيض سره كوي بالاتفاق، مظهري ؒ وايي چي د حنفيانو مذهب منقول دی له خلفاء راشدينو ؓ څخه او د عبادلة ثلثة ؓ وو څخه، او ابي بن كعب، معاذ بن جبل، ابي الدرداء، عبادة بن الصامت، زيد بن ثابت، ابو موسى اشعري او معبد الجهني ؓ څخه او په تابعين كي منقول دی له سعيد بن المسيب، ابن جبير، عطاء، طاوس، عكرمه، مجاهد، قتاده، ضحاک، حسن بصري، مقاتل، شريک انفاضي، ثوري، اوزاعي، ابن شبرمة، ربيعه، والسدي، ابو عبيدةؓ، اسحاق او احمد بن حنبل رحمهم الله هم ودې مذهب ته رجوع كړېده

درويش وايي: چي زموږ د مذهب حنفي نور ډېر دلائل سته كه څوک غواړي چي زه ئې له دلائل زده كړم نو مفصلي شرحي د احاديث مباركه وو لكه شرح معاني الآثار د فقيه ابو جعفر طحاوي او عيني شرح د بخاري د بدر الدين او شرح د مشكوة لملا علي قاري او فيض الباري، او نوري شرحي د كتابو د احاديثو مباركه وو دي مطالعه كړي، او په كتابو كي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فقهي حنفي وو دي فتح القدير شرح الهداية او عيني شرح الهدايه او نور مفصل كتابونه د فقهي حنفي دي مطالعه كړي.

درويش وايي: چي د مذهب د امام شافعي رحمه الله هم متعدد دلائل سته او د حنفيانو له خوا د هغو ځوابونه سته چي د ټولو ذكر كول به ماته ډېر گران تمام سي، او ددې جزء د سيقول د تفسير به ډېر لوى حجم والا سي. نو ښه داده چي دا موضوع پر دغه ځاى ختم سي مشت نمونه خروار مثل داتر دى

وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَنْ يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللَّهُ فِي أَرْحَامِهِنَّ

او نه دى روا مطلقاتو ته چي دوى په پټوي هغه څه چي په رحمو كي ددوى خداى جل جلاله پيدا كړي دي، يعني الحمل او الحيض د يو غرض فاسد لپاره. مثلا ښځه مطلقه په ځان خبره وي چي د دوو مياشتو مثلا حمل لرم نو ددې عده خو ډېره ځنډېږي، نو دا ووايي چي زه حيضو والا يم غرض يې دا وي چي ژر مي عده تېره سي، تاچي حق د مېړه په رجوع كي د طلاق رجعي ژر وړباطل كړي

مسئله: ددې آيت څخه دا معلومه سوه چي قول د ښځي په باره كي د حمل يا حيض مقبول دى اذا لم يكذبه الظاهر مثلا د ښځي خېټه په حمل سره ډېره غټه وي چي هر څوک په پوهېدى چي دا حمل لري او دا وايي چي زه له ذوات الحيض څخه يم.

إِنْ كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ

كه ددوى ايمان وي پر خداى جل جلاله او پر ورځ د آخرت. ولې چي ايمان مذكور باعث دى د حق ويلو لپاره.

درويش وايي: چي دا جمله شرط دى او جزاء يې مادل عليه ما قبله يعني ان كن آه فلا يكتمن آه.

وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي ذَٰلِكَ

او مېړونه د مطلقاتو حقداره دي چي په ردلو سره د مطلقاتو مايېنو ونكاح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نه یعني په رجوع سره په زمانه کي د تربص یعني د عدې ولي چي عده تېره سي بیا مېړه ته حق د رجوع نسته بلکه نکاح جدید خواړي بالتراضي.

فائده: بعولة جمع د بعل ده او جمع د بعلة نه ده ولي بعلة خو ښځي ته وايي.

سوال: لفظ د بعل خو مذکر دی، نو تاء التانیث ځرنګه پکښې راغله؟

ځواب: لفظ تاء لپاره د تاکید د تانیث د جمعي دی، ولي چي جمع په اعتبار د تاویل بلفظ الجماعة مونث دی، او تاء یې لپاره د تاکید دغه تانیث ده.

فائده: بعل په لغت کي مالک او سید ته د مینځي وايي نو مېړه ته چي بعل وايي په دې سبب چي مېړه خو نفقه او کالي وغیره د ماینې ورکوي. نو ګویا دی یې سید او مالک دی.

فائده: احق په دې آیت کي په معنا د تفضیل نه دی ولي چي تر مېړه بل حقداره خو نسته. نو احق په تحقیق صفت مشبه دی.

فائده: رجوع ګاهي په ژبه وي او ګاهي په فعل لکه جماع وغیره.

فائده: ضمیر د "هن" دواړه ځایه راجع و مطلقاتو ته دي.

پوښتنه: مطلقات خو طلاق رجعي والا او طلاق بائن خفیف او بائن مغلظ والا ټولو ته شامل او حق د رجوع خو یوازي طلاق رجعي ورکونکو ته سته وبس؟

ځواب: د علامه بغدادي رحمه الله کلام دمخه تېر سو چي هغه د المطلقات لام د جنس وتهاکي او دا خبره عقلاً ونقلاً ثابته ده چي جنس ته نسبت د حکم د بعض افرادو روا دی نحو الانسان ضاحک بالفعل ای جنس الانسان باعتبار تحققه في بعض الافراد. ولهذا قال صاحب روح البیان والضمیر لبعض افراد المطلقات لان هن عام شامل للمطلقة بالطلاق رالرجعي والبائن لاحق لازاوج المطلقات البوائن في الرجعة.

فائده: رجوع د مېړه صحیح ده که ماینه راضي وي او که نه لانه حق مستقلاً له

إِنْ أَرَادُوٓا۟ إِصْلَٰحًا ۚ

که قصد وو د رجال په رجوع سره اصلاح د ذات البین ددوئ او د ماینو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ددوئ، يعني لا الاضرار بهن.

پوه سه: چې د اهل جاهليت به دا عادت و چې ماينو ته به يې درد راغلی نو به يې طلاق رجعي ورکړی څرنګه چې به د ښځې عده وتېرېدو ته نږدې سوه رجوع بالقول به يې ورته وکړه او بيرته به يې طلاقه کړه ثم وثم تر هغه وخته پورې چې ښځه او قرباء د ښځې به په ورکړه د مال راضي سوه يعني چې دغه مال واخله او رجوع مه ورته کوه، څه وخت چې اسلام چې د عدالت پر بنسټ ولاړ دی دا ظلم يې له منځه يووړی او حق د رجوع يې پر دوه طلاقه باندې ودراوه، يعني وروسته تر دريم طلاق حق د رجوع مېړه نه لري.

پوه سه: چې مفسرين ټول متفق دي چې اراده د اصلاح شرط د صحت د رجوع نه دی بلکه که په قصد د ضرر يې رجوع ورته وکړي رجوع يې صحيح ده بلکه دا شرط منع د نرو له قصد څخه ده اضرار او باعث کول دي پر اصلاح.

فائده: موږ د مخه وويل چې رجوع ګاهې په فعل سره وي لکه جماع، دا مذهب دی د امام اعظم رحمه الله او امام احمد رحمه الله، نو ددې معنا داده چې وطې د مطلقه رجعيه سره په عده کې روا دي، او مېړه په وطې سره مراجع ګرځي، او امام شافعي رحمه الله وايي چې وطې يې په عده کې نه دي روا ولې چې قاطع د زوجيت يعني طلاق موجود سو، موږ وايو چې نعم طلاق خو واقع کړه سو لکن حکم د طلاق چې فرقت دی د مېړه او د ماينې تر منځ خو متاخر دی تر انقضاء پورې د عدې په قرينه ددې چې د عدې په ورځو کې که يو له مېړه او ماينې څخه مړ سي هغه بل ميراث وړای سي اجماعا، نو که زوجيت قطع وايي نو خو ميراث يې نه سوای وړای، او بل قرينه داده چې مېړه رجوع ورته کولای سي بېله رضاء د ماينې که زوجيت قطع وايي نو رضا د ماينې به ضروري په رجعت کې وايي، او بله قرينه داده چې مېړه رجوع ورته کولای سي بېله رضاء د ماينې که زوجيت قطع وايي نو رضاء د ماينې به ضروري په رجعت کې وايي، او بله قرينه داده چې د عدې د ورځو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نفقه د ماینې پر مېړه واجبه ده که نکاح قطع وايي نو نفقه به يې ولي پر مېړه واجبه وايي، او تر ټولو قوي دلیل پر عدم قطع د نکاح د عدې په شپو داده چي خدای ﷻ سره د طلاق رجعي له مېړه څخه تعبیر په بعل سره کړی دی، نو معلومه داده چي بعيلة يعني مېړه والی دده باقي دی په ورځو کي د عدې، شافعیه وايي چي اطلاق د بعل مجاز دی په اعتبار د ماکان دی کما في قوله تعالى ﴿وآتوا اليتامى اموالهم﴾ موږ وايو چي څه ضرورت دی ودې مجازته ولا يجوز حل الفاظ القرآن على المجاز بدون الضرورة، او بله قرينه د مذهب حنفي داده قال الله تعالى ﴿فامساک بمعروف﴾ وايضا قال الله تعالى ﴿امسکوهن بمعروف﴾ ولي چي لفظ د امساک پر بقا دلالت کوي نو بايد چي نکاح باقي وي.

پوښتنه: آيا په رجوع کي شاهدان غواړي او که څرنګه؟

ځواب: امام احمد او شافعي رح وايي چي شاهدان شرط دي. ولي په سورة الطلاق کي داسي خدای ﷻ وايي ﴿واشهدوا ذوی عدل منکم﴾ وقال ابو حنيفة والشافعي رح في اصح قوليه چي اشهاد نه غواړي. او د آيت جواب دادی چي محمول پر استحباب دی، والدليل على المذهب الحنفي دادی چي که چېري اشهاد پر رجعت واجب وي. نو اشهاد پر فرقت باندي هم به واجب وي لقوله تعالى ﴿او فارقوهن بمعروف﴾ لمقارنته بقوله ﴿فامسکوهن بمعروف﴾ کذا قال المظهري رحمه الله.

وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ

او ماينو لره پر مېړو باندي حقوق سته لکه هغه حقوق چي مېړو لره پر ماينو سته.

پوه سه: چي تشبیه په منځ کي ددې دوو حقوقو په مطلق وجوب کي ده او په دې کي چي هر يو د ماينې او مېړه څخه حق د مطالبې د خپل حق لري له هغه بل طرف څخه. او دا دواړه حقه پر هغه لاره دي چي په شرعي شريفي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره ثابت دي، نو چونکه بناء د شريعت مطهره پر عدالت ده. نو بايد ميړه او ماينه يو وبل ته د اضرار قصد ونه کړي، له ابن عباس‌ ﷺ څخه روايت دی چې ده وويل چې زه دا خوښ لرم چې زه خپل ځان ښائسته او مزين کړم د ماينې لپاره، لکه زما ماينه چې ځان مزين کوي زما لپاره لقوله ولهن مثل الذي عليهن بالمعروف، له معاويه قشيري‌ ﷺ څخه روايت دی چې ما وويل يا رسول الله ﷺ څه شی حق دی د ماينو پر يوه زموږ باندې؟ نو عليه السلام وويل دوډی. به ورکوئ که دې دوډی. غوښتل، او کالي به ورکوئ که دې کالي غوښتل، يعني بقدر قدرة الزوج في الفقر والغنی. او بل حق يې دادی چې پر مخ به يې نه وهئ؛ يعني په وخت کې د غضب يعني له دې سببه چې مخ معدن د قوی شريفه وو دی. او دې ته به بد نه وايې، او که چېرې دا يو نافرماني وکړي او تا خوا بدی کړي ته به له دې څخه هجران نه کوې مګر نه په خون کې يعني په ځای کې يو ځای مه ورسره بد پره مګر د خونې به څنډې وزې رواه احمد وابو داوٗد وابن ماجه رح. وروی الترمذي عن ابي هريرة‌ ﷺ قال قال رسول الله ﷺ اکمل المؤمنين ايمانا احسنهم خلقاً، يعني چې اخلاق يې ډېر ښه وي، وخيارکم خبارکم لنسائکم قال الترمذي حديث صحيح، وفي البخاري عن ابي هريرة‌ ﷺ قال قال رسول الله ﷺ استوصوا بالنساء خيرا فانهن خلقن يعني اصلهن وهي حواء ﷺ من ضلع يعني من ضلع آدم ﷺ وان اعوج شيئ في الضلع اعلاء اعنی مايلي الصدر فان ذهبت تقيمه کسرته، يعني که ته قصد وکړې چې زه پوښتی سيده او مستقيمې کومه نو به يې اخير ماتې کړې، يعني ښځه که تر خپل طبعيت را واړوې، نو اخير به يې طلاقه کړې "وان ترکته لم يزل اعوج" او که پوښتی ته پرېږدې پر خپل حال نو د همېشه لپاره به کږه وي يعني که ښځه او خپل طبعيت سره پرېږدې نو همېشه به کوږ او ستا له طبعيته مخالف رفتار کوي "فاستوصوا بالنساء" نو قبول د وصيت وکړئ په باره کې د ښځو يعني د ماينو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يوه سه: چي حاصل د حديث مبارک دادی چي ماينه که سړی د خپلي لاري له رفتاره اړوي وخپل طبعيت ته، نو اخير به مجبوره سي وطلاق ته ددي، نو بايد چي مېړه پر دغه کاږه رفتار د مايني صبر وکړي او خپله گزاره ورسره کوي

درويش وايي: چي صدق رسول اللهﷺ د ښځو دومره حيلې او مکرونه زده دي چي عقل ورتـه حيرانېږي او ډېر عاقل حازم کسان دوئ پـه درواغـو ختايستلي دي گـاهي پـر کاذبانـه پيريـانو خان واچوي او د سـر وښنتيـان کاږي او خپلي غوښي په غاښو پرې کوي، او د مېړه يې يقين سي چي ماينه مي پيراني ده باره يې پر زيارتو گرځوي او يا پـه ملايانو تعويذونه ورکوي، او په حقيقت کي هيڅ شی نه وي تگي کوي د يو غرض لپاره او خپـل غـرض د هم دې لاري څخه لاس ته راولي، اهل تجربه پـه دې تگيو د ښځو پوهېږي، د تعجب خبره داده چي ولـي د ښځو سره جنات دومـره پـه کثـرت ملگـري کېږي چي پـه نـرو کي پنځه حصې د هغـو جنيـاتو نسـته، نـو څکـه سـړی مجبوره دی چي ماينـه دي لـه خپـل طبعيتـه نـه اړوي تـاچي نظـام د کـور او عيال په منظمه توگه روان وي.

وَلِلرِّجَالِ عَلَيۡهِنَّ دَرَجَةٞۗ

او نرو لره پر ښځو يعني پر ماينو درجه عظيمه سته.

درويش وايي: چي اصل فضيلت د نرو پر ښځو باندي پـه عقـل او ديـن کـي دی لما ورد في الحديث الصحيح هن ناقصات عقـل وديـن قلـن مـا نقصـان عقلها قال عليه الصلوة والسلام چي ستاسي د دوو ښځو شاهدي پـه ځـای کي د يوه نر د شاهدی نه ده ولاړه قلن بلی قال صلعم فذالک من نقصان عقلکن. بيا عليه السلام ورروسته ورتـه وويـل چي آيا تاسي پـه مياشـت کـي څو ورځي په کور کي ناستي يايست نه لمونځ کوئ نه روژه نسئ قلـن نعـم قال صلعم فـذالک مـن نقصـان دينکم او کمـا قـال رسـول اللهﷺ . ولـذا قـال النبيﷺ که ما امر کولای يو څوک چي سجده وکړي ويوه چا ته نو مـا بـه امـر

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

کولای مايني چي سجده دي کوي ومېړه ته لما جعل الله لهم عليهن من حق، رواه ابو داؤد والترمذي واحمد والبغوي رح، وعن ام سلمة ﷺ قالت قال رسول الله ﷺ ايما امرئة ماتت وزوجها عنها راض دخلت الجنة رواه الترمذي. او د طلق بن علي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وويل كه سړي وغوښتل مايينه دستي به ورځي كه څه هم پر تنور ناسته وي يعني ډوډۍ پخوي رواه الترمذي

درويش وايي: واين هذا القدر من الاطاعة للزوج في الدور الحاضر، قال الله تعالى ﴿الرجال قوامون "اى مسلطون" بما فضل الله بعضهم "اى الرجال" على بعض "اى النساء" اى بسبب كمال عقلهم وديانتهم ونقصان عقلهن وديانتهن كمامر، وبما انفقوا من اموالهم كالمهر والنفقة واللباس والمسكن والقيام بمصالحها وانفاق ماله عند مرضها الى غير ذالك.

درويش وايي: چي ددې آيت په سبب مېړه لكه مالك د مايني دی حتی چي مانيه چي مېړه يې پر كور وي نفلي روژه به نه نسي مگر په اجازه د مېړه، او له كوره به نه وزي بېله اجازې د مېړه، او مېړه خدای ﷻ قادر گرځولی دی پر طلاق د مايني، او چي طلاقه يې كړي بيا قادر دی پر رجوع ودې ته كه دا راضي وي او كه نه وي.

﴿وَاللّٰهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ۝٢٢٨﴾

او خدای ﷻ غالب دی يعني پر انتقام له هغه چا څخه چي مخالفت د امر الهي وكړي، او هر حكم د خدای ﷻ خالي له حكمت او مصلحت څخه نه دی.

درويش وايي: چي چونكه غالبه په ښځو كي شر دی نو ځكه يو سړي چي وويل چي زما كور ته هيڅ شر نه دی داخل سوی، نو حكيم ورته وويل چي ماينه دي له كومي خوا راغلې ده. سعدي شيرازي رحمه الله وايي

دلارام باشد زن نیک خواه — ولي از زني بد خدايا پناه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي روح البيان په زړه پورې قصه په دې باب کې راوړې ده دې وايي چې په بني اسرائيلو کې يو صالح او عابد بنده او دده يوه ماينه وه چې ده ډېر محبت ورسره درلودی، نو نبي ته د هغه عصر خدای ﷻ وحي وکړې چې ته فلاني صالح بنده در وغواړه، او ورته ووايي چې خدای ﷻ ستا درې خواستونه قبلوي، نو ته مختاره يې چې کوم سوالونه کوې. هغه نبي هم هغه سي وکړه، صالح سړي ورته وويل چې زه يوه ډېره محبوبه ماينه لرم د هغې سره به زه مشوره وکړم، نو کور ته چې راغلی او مايني ته يې مذکوره موضوع پېش کړه هغې ورته وويل چې يو خواست زما لپاره وکړه او دوه د خان لپاره، نو مېړه ورته وويل چې ستا څه حاجت دی؟ مايني ورته وويل چې ماته دې خدای ﷻ داسي ښائست فوق العادة راکړي چې چا تر اوسه په موجوده وخت کې نه وي ليدلی، نو صالح مېړه چې دا خواست وکړی، نو ماينه يې داسي نوراني او ښائسته سوه چې ټوله خونه په روښانه سوه. د ښځي چې دا ښائست په برخه سو باره ولاړه سوه مېړه يې ورته وويل چې چېري ځې، مايني ورته وويل چې سلطان الوقت مېړه کوم، او دا خدای داده حسن او جمال ستا سره نه ضائع کوم، مېړه د وتلو څخه منع ورته وکړه اخير الامر سلطان الوقت خبر سو او ښځه يې په زوره څنډي بوتله. نو صالح سړي وويل چې خدايه زما دوه خواستونه خو لا پاته دي. اول سوال مي دادی چې خدايه زما ياغي ماينه بيزو کړې، هغه چې بيزو سوه سلطان الوقت بيرته مېړه ته ورواستول. بيزو سوې ماينه چې د عبد صالح کورته راغله نو عبد صالح خدای ﷻ ته وويل چې خدايه زما يو خواست خو لا پاته دی، چې زما ماينه بيرته پخواني حالت ته رد کړې، ماينه يې پر پخواني حالت سوه فذهبت الحوائج کلها عبثا لاهي افلحت ولا هو انتهى کلامه روح الله روحه.

درويش وايي: چې که څه هم د خدای ﷻ د امر او نهي پوښتنه څوک نه سي کولای قال الله تعالى ﴿لا يسئل عما يفعل وهم يسئلون﴾ لکن بيا هم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خداى ﷻ د بعض احكامو حكم او مصالح او فوائد بيانول ډير زيبا دي، او د مسلمانانو په زړو كي نورانيت د ايمان پيدا كوي

پوښتنه: څه حكمت الهي دى چي تفويض د طلاق يې ورجالو ته كړى دى، او ښځي يې له طلاق وركولو څخه ومېړه ته بې برخي كړي دي؟

ځواب: نر څو خاصيته لري، يو غيرت لري او بل پوره عقل لري چي په هغه سره عواقب الامور ورته معلومېږي، او بل ديندارې لري چي له ضرره وبل ته خصوصا عاجزانو ته پر هېز كوي، او كه څه هم حسن پرست وي او ښائسته ښځه يې خوښه وي، خو بيا هم د عقل او دين پر بناء په دغه مقوله عمل كوي

بنده راسه د خداى خپل سه *** لكه پر خان داسي پر بل سه

نو د بل په ښځه پسي په شهوت نه گوري، او په داعيه د عقل او دين حتى الممكن ماينه چي عاجزه ده او دده لكه مينځه ده ضرر نه رسوي، او حتى المقدور يو ښه كالي او خوراك وماينې ته مهيا كوي الى غير ذالك من خواص الانسانية، او په سبب د غيرت خدا داده يې دا نه خوښېږي چي ماينې ته دي طلاق وركړي چي څو ورځي وروسته د بل سړي فراش وي، نو تر يوه حده پوري د ماينې پر نافرمانيو او بدو اخلاقو باندي صبر كوي او له تحمله څخه كار اخلي حتى چي سخت مجبوره سي، نو به ماينې ته طلاق وركوي

درويش وايي: چي بناءً على الاسباب المذكورة فوض الحكيم العليم الطلاق الى الرجال، لان النساء في جميع الامور المذكورة مخالفة للرجال بل هن متصفة باضداد تلك الخصال المذكورة فلهذا لم يفوض ذوالقدرة الباهرة الطلاق اليهن، نعم لهن حق الاعتراض والمرافعة الى الحكام في دفع ظلم بعض الازواج عليهن.

پوه سه: چي بيان د احوالو د رجال او نساء چي درويش وكړى بناء دى پر اعم اغلب فيهم وفيهن والا فقد يكون الرجل متصفا بصفات ذميمة مخلة مضرة بالازواج اضعاف متضاعفة والنساء متصفة بصفات حميدة داعية الى حسن الاجتماع ومراعات الزوجية والعلم عند الله علام الغيوب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ ص

پوه سه: چي طلاق چونکه صفت د ښځي دی نو دلته په معنا د تطليق دی چي صفت د نر دی او مراد څنډي طلاق رجعي دی چي له هغه قول څخه د خدای ﷻ وفهمېدی ﴿وبعولتهن احق بردهن﴾ او د مرتان معنی داده چي دا دوه طلاقه جلا جلا ورکړي يعني په يوه پلا دي نه ورته وايي انت طالق تطليقتين په قرينه ددې چي سړی دوې روپۍ وچاته ورکړي په يوه وار، داسي نه ويل کېږي چي اعطاه مرتان بلکه داسي ويل کېږي اعطاه درهمين، نو جمع کول د دوو طلاقو يا د دروو طلاقو په نېزد ابو حنيفه رحمه الله حرام دی، نو جمع د طلاقو که دوه او درې وي سني الوقوع دي او بدعي الايقاع دي، نو معنا د آيت داده چي هغه طلاق چي مېړه حي ده رجعت لري دوه دي ولي که دريم هم ورکړي بيا حق د رجعت نه لري بلکه په نکاح جديده لکه طلاق بائن هم نه رواکېږي بلکه زوج آخر غواړي.

پوه سه: چي "الطلاق مرتان" مبتداء او خبر دي نو ظاهراً جمله خبريه ده لکن دلته په معنا د انشاء ده يعني فرقوا بين التطليقتين، په دليل ددې که يې پر خبريه پرېږدي خلف په کلام کي د خدای ﷻ لازمېږي ولي چي دوه طلاقه جملة خو هم د خلگو تر خوله وزي، والخلف في کلامه تعالی محال کما تقرر في کتب العقائد.

مسئله: درې طلاقه پر يوه ځای ومايني ته ورکول بدعت دی او حرام دی يعني مېړه گناه کبيره وکړه لکن واقع کېږي، او چي دی درې طلاقه په درې طهرو کي ورکړي مباح او شرعي دی.

مسئله: ښه طلاق دا دی چي مېړه په يو عذر د اعذارو د مايني وطلاق ته مجبوره سي، نو يو طلاق دي ورکړي او رجوع دي نه ورته کوي چي عده تېره سي څنډي خلاص به سي وذالک لان الطلاق ابغض المباحات عند الله والضرورة تدفع بالواحدة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: الطلاق في الحيض يقع طلاقا باجماع الائمة الاربعة لكنه حرام ويجب الرجوع ثم الطلاق في الطهر.

پوښتنه: كه د ښځې سړی وكړي يعني رجوع يې ورته وكړه او بيا په طهر كي طلاق وركړي دا نو يو طلاق دی او كه دوه؟

ځواب: دوه طلاقه خو دي لكن له حرمت څخه خلاص سو.

فَإِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌۢ بِإِحْسَٰنٍ ۗ

يعني حكم الهي پسله دوه طلاقه دادی چي يا دي خوندي كړي يعني رجوع دي ورته وكړي پر شرعي طريقه يعني د مصاحبت او د ښه ژوند تېرولو لپاره نه قصد د ضرر كما في الجاهلية على مامر، او يا دي پرېږدي د احسان پر لاره يعني رجوع دي نه ورته كوي څو چي عده يې تېره سي پخپله به بائنه سي، او يو له احسانه څخه د مهره دا هم دی چي بل څوك به د ماينې له نكاح څخه نه متنفر كوي او ددې عيبونه دي وچاته نه وايي.

وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَأْخُذُوا۟ مِمَّآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ شَيْـًٔا إِلَّآ أَن يَخَافَآ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِ ۖ

او نه ده روا وتاسي ته چي اخلئ به له هغه ماله څخه چي تاسي مطلقاتو ماينو ته وركړی دی يعني من المهر، نو مخاطب په لكم سره مړونه دي، هيڅ شی يعني نه ډېر او نه لږ، مگر نه هغه وخت چي مېړه او ماينه پر دې بېرېدل چي كه مونږ خولعه ونه كړو حدود د خدایﷻ يعني د ازدواج به پر ځای نه كړو، روح البيان وايي چي مخاطب په لفظ د لكم سره حكام او قضات دي په دې قرينه چي په ان خفتم سره چي وروسته په آيت شريف كي به راسي مخاطب حكام دي

سوال: اخيستوني د مال او وركونكي د مال مېړه او ماينه دي حكام خو نه دي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: نعم لکن چونکه ورکول د مال او اخستل د مال د حکامو په حکم سره کېږي یعني عند الترافع الیهم. نو ګویا دوئ ورکونکي او اخیستونکي دي، انتهی.

یوه سه: چې دا اوله خلع چې په اسلام کي وسوه او شان نزول ددې آیت په اتفاق د مفسرینو دادی چې جمیله نامې یوه ښځه چې د عبدالله بن ابی بن سلول المنافق لور وه او د ثابت بن قیس ماینه وه، علیه الصلوة والسلام ته راغله او داسي یې وویل چې زما او د ثابت سر پر یوه شي یعني بالبنت به ابینده نه ابینوول کېږي، او زیاته یې کړه چې زه پر ثابت باندي نه په دین کي او نه په اخلاقو کي عیب وایم لکن د منافقت ګزاره مي نه ده خوښه او زه دده طاقت د مېړه توب نه لرم او بد مي خندي کېږي. او سبب د بد ورلو جمیلې داسي بیان کړی چې یوه ورځ زما مېړه ثابت د نورو خلګو سره روان و، ما چې پلو د خیمې پورته کړی ثابت تر ټولو ملګرو سخت تور و، او تر ټولو ملګرو لنډ قد یې و، او مخ یې تر ټولو خلګو بد معلومېدی. نو مي له دې سببه بد خندي راغله، نو جمیلې چې دا خبري د ثابت په مخ کي علیه السلام ته وکړې، نو ثابت وعلیه السلام ته وویل چې دا امر کړه چې هغه باغ چې ما ودې ته په مهر کي وکړی دی هغه دي بېرته ماته راکړي، نو زه به خلع ورسره وکړم. علیه الصلوة والسلام وجمیلې ته وویل چې په دې خبره کي د ثابت څه وایې؟ جمیلې وویل چې باغ خو یې ورکوم بلکه زائدي روپۍ به هم ورکړم. نو علیه السلام ورته وویل چې زائدي روپۍ مه ورکوه خو فقط هغه دده باغ ورکړه، نو علیه السلام وثابت ته وویل چې خپل باغ خندي واخله او ایله یې کړه او ثابت امر د علیه الصلوة والسلام ومانه او جمیله یې خوشي کړه او خلع پای ته ورسېدل.

فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ
فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ

او که تاسي بېربداست اې حاکمانو له شریعته پر دې چې دوئ دوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني مېړه او ماينه نسي پر ځاى كولاى حدود د خداى ﷻ يعني احكام الهيه په باره كي د ازدواج يعني پر احكامو د شرع شريفي گزاره نه سي سره كولاى، نو گناه نسته پر دوئ دوو يعني مېړه او ماينه باندي په هغه مال كي چي ماينه يې په فديه كي وركوي يعني په بدل الخلع كي يعني پر ماينه يې گناه نسته په وركړه كي او پر مېړه يې گناه نسته په اخستلو كي.

پوه سه: چي دا حكم چي پر دواړو گناه نسته په هغه صورت كي ده چي نشوز يعني نافرماني د ښځي له خوا وي هذا كما قاله صاحب روح البيان لكنه لم ياتي بالتفصيل التام.

درويش وايي: چي د خلع د مسئلې تفصيل على ماذكر في الكتب الفقهية وذكر في بعض كتب التفاسير ايضا دادى چي پر مېړه دا گناه وه چي مال د ماينې څخه غواړي مهر وغيره لقوله تعالى ﴿لايحل لكم ان تاخذوا مما آتيتموهن شيئا الآية﴾ او داغه رنگه پر ماينه باندي دا گناه ده چي دا مېړه ته مال وركوي پر طلب د طلاق، ولي چي طلب د طلاق معصيت دى لقوله عليه اسلام ﴿ايما امرئة سئلت زوجها الطلاق من غيرما باس فحرام عليها رائحة الجنة﴾ رواه احمد والترمذي وابو داوُد .ږ نو وركړه د مال پر معصيت حرامه ده لكن مع هذا كه پر دې دوو ببره وه چي حدود شرعيه او احكام الهيه په باب د ازدواج نسي پوره كولاى او په بقاء كي د زوجيت په گنهو اخته كېږي، نو دواړو ته روا ده وركول د مال او اخستل د مال، لكن دا هلته چي خوف د نشوز دو جانبه موجود وي. او كه نشوز خاص د مېړه له خوا و، نو اخذ د مال وده ته حرام دى قال صاحب الهداية ويكره اخذ المال في الصورة المذكورة اى تحريماً لانه اخذ مال المسلم بغير حق وامساكها لا لرغبة اضرار و تضييق لتقتع مالها وهو ايضا معصية. او كه نشوز د ښځي له خوا و بيا دا گناه كاره ده او اعطاء د مال حرامه ودې ته ده لما تلونا من الحديث، او پر مېړه يې په اخذ كي د مال هيڅ گناه نسته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: که نشوز له يوه طرفه ښځه نه و او نه دوئ بيرېدل پر عدم اقامة د حدود الله، نو نه مېړه ته روا دی اخذ المال او نه ماينې ته روا دی ورکړه د مال او طلب د طلاق، لکن که بيا هم دوئ معصيت ته ونه کتل او خلع يې وکړه، خلع يې واقع کېږي او پر ماينه ورکړه د مال موعود واجبه ده. قضاء اجماعاً في جميع الصورة المذکورة.

يوه سه: چي په دې موضوع کي چي خلع طلاق دی او که فسخ د نکاح ده، امام اعظم ابو حنفيه او امام مالک والمشهور من مذهب الشافعي رحمه الله دادی انه طلاق، او امام احمد وفي رواية عن الشافعي رحمه الله انه فسخ لا طلاق

فائده: هغه څوک چي خلع طلاق بولي هغه امامان وايي چي که يو چا ماينې ته دوه طلاقه ورکړي وه او بيا يې خلع ورسره وکړه درې طلاقه پوره سوه بېله زوج آخره نه ورته روا کېږي او که د عدې په ورځو کي يو مړ سي هغه بل يې ميراث وړلای سي، او هغه امامان چي فسخ يې بولي هغه وايي چي له بله ښځه په ورځو کي د عدې ميراث نه سي سره وړای، او دوئ وايي چي مېړه وروسته تر خلع بل طلاق نسي ورکولای لعدم النکاح بينهما والطلاق فرع للنکاح، او اوله ډله وايي چي که يو سړي وماينې ته يو طلاق ورکړی و او بيا يې خلع ورسره وکړه بيا هم بل طلاق ورکولای سي، ولې چي مېړه خو يو طلاق ورکړی و او په خلع سره دوه سوه نو يو طلاق يې پاته دی.

يوه سه: چي د تعجب خبره داده چي دواړي ډلي په دغه آيت سره دليل وايي هغه امامان چي خلع فسخ بولي هغه داسي وايي چي خدای ﷻ په اول د آيت کي داسي وويل الطلاق مرتان" او بيا يې خلع ذکر کړه او بيا يې دريم طلاق ذکر کړی په دې عبارت "فان طلقها فلا تحل له الآية" نو که خلع هم طلاق وايي نو خو عدد د طلاقو څلور کېږي وهو خلاف القرآن والحديث والاجماع.

يوه سه: چي دا دليل منقول دی له ابن عباس رضي الله عنه په احاديثو کي راغلي دي چي چا له ابن عباس رضي الله عنه ښځه پوښتنه وکړه چي يو سړي چي ماينې ته يې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوه طلاقه ورکړي کړي او بيا خلع ورسره وکړي نو بيې نکاح ورته روا ده؟ ابن عباس ﷺ ورته وويل ينكحها ان شاء ولي خلع خو فسخه ده، نو له طلاقو څخه خو يو پاته دی، نو بيې نکاح بېله زوج آخره ورته روا ده.

درويش وايي: چي استدلال د حنفيانو په آيت مذكوره سره دادی چي خدای ﷻ هغه طلاق چي وروسته يې زوجيت روا دی ذکر کړی چي په دوه واره سره به وي، او بيا يې اسناد د افتداء وبنځه ته وکړی بقوله فيما افتدت به او سره ددې چي سوق د کلام يعني قوله تعلی "فلا جناح عليهما" دا غواړي چي اسناد د فعل د افتداء يې ودواړو ته کړی وای يعني فيما افتديا به يعني ورکړه د فديه او قبول د فديه، دا دليل واضح ددې دی چي فعل د زوج هغه ماقبل فعل دی يعني الطلاق او وروسته يې وويل "فان طلقها فلا تحل له الآية" او لفظ د فاء لفظ خاص دی د تعقيب لپاره كما تقرر في النحو، نو كه طلاق بعد الخلع واقع نه سي نو مقتضى د فاء له منځه ځي، نو خدای ﷻ په دې آيت سره دواړي نوع د طلاق ذكر كړې چي بېله ماله وي او يا په مال سره وي چي افتداء د خلع ده، فتفكر غاية التفكر لدقة المرام، والتفصيل في المظهري وروح المعاني.

مسئله: د ټولو امامانو پر دې اتفاق دی چي خلع پر اکثر د مقدار ده، ولو روا ده لعموم الآية المذكورة لكن يكره عند ابي حنيفة واحمد رح او اكثره علماء پر دې دي چي مكروه نه ده وهو رواية جامع الصغير عن ابي حنيفة رحمه الله.

درويش وايي: چي هغه حديث چي په شان نزول كي ددې آيت تېر سو يعني د جميلې او د هغې د مېړه ثابت، چي جميلې وويل چي زه د ثابت باغ خو ورکوم او زياتي روپۍ هم ورکوم، او عليه السلام ودې ته وويل اما الزائد فلا پر دې دلالت کوي چي زيادت پر ولور مكروه دی، والله اعلم بالصواب في كل باب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَعْتَدُوهَا ۚ وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿٢٢٩﴾

او دغه اوامر او منهيات چي په دې آياتو كي ذكر سوه موانع د خداى ﷻ دي يعني چي تر هغو به تېرى نه كوي څوك يعني اما بترك الاوامر او بارتكاب المنهيات. او كه څوك تېرى وكړي، نو هغه ظالمان دي په حق سره.

مسئله: كه د سړي ماينه عفيفه وي يعني منهيات شرعيه نه وه پكښي او د اوامرو د خداى ﷻ پائبنده وه نو مېړه بايد بنه ژوند ورسره وكړي او پر نورو اوضاعو او سو اخلاقو ددې صبر وكړي او په ادابو او اخلاقو د رسول الله ﷺ خان موصوف كړي او په احاديثو مباركه دي حسن المعاشرة د عليه السلام د ازواجو مطهرة ؓ سره او صبر د عليه الصلوة والسلام د ازواجو مطهره پر اوضاعو په غور سره مطالعه كړي، نو به يې خداى ﷻ د مجاهدينو في سبيل الله په ډله كي حساب كړي.

پوښتنه: صبر د سړي پر عباداتو نفليه و او ځان ساتل له نكاح څخه په دې سبب چي كه ماينه وكړي نو په نفقه او مهر وركولو د هغې به له عباداتو نفليه وو څخه محرومه سي كومه خواه فائده ده؟

ځواب: نكاح كول افضل دى تر نفلي عباداتو عند ابي حنيفة رحمه الله لان النكاح سيرة الانبياء عليهم السلام كلهم الا يحى ﷺ وروى انه تزوج في آخير عمره اقتداء بسائر الانبياء ع م.

فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّىٰ تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ ۗ

نو كه طلاقه كړه مېړه دغه ماينه چي دمخه يې دوه طلاقه وكړي وه، نو نه ده روا دغه ماينه ودغه مېړه ته وروسته تر دريم طلاق، يعني نه په رجوع سره او نه په تجديد د عقد تر هغو پوري چي دغه ښځه په نكاح كوي بل مېړه يعني غير د سابق مېړه چي دې ته يې درې طلاقه وركړي وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: اجنبي سړي ته يې زوج ووايه په اعتبار د مايؤل اليه لانه بالعقد يصير زوجها كمافي قوله تعالى انى اعصر خمراً.

فائده: مراد له نكاح څخه نكاح صحيحه ده لان المطلق ينصرف الى الفرد الكامل.

فائده: د نكاح نسبت نر او ښځي دواړو ته روا دى لان النكاح ينعقد بالايجاب والقبول وهما يصدران منهما.

فائده: له نكاح څخه دلته مراد عقد دى، او وطي نه دي مراد. وعبارة القرآن يدل عليه لانه لايقال في العربية تطاء المرئة زوجها لان المرئة موطوئة لا واطئة او داغه په هره ژبه كي مثلا داسي په پښتو كي نه ويل كېږي چي ښځه مېړه غيږي بلكه بالعكس، نو بناء پر دې بايد په مقتضى د آيت ددغي مطلقه ښځي حرمت ممتد سي تر عقد د تزوج پوري او جماع د زوج ثاني شرط نسي واليه ذهب سعيد بن المسيب ﷺ يعني چي وطي د ثاني شرط نه دي، لكن اجماع د امت محمديه پر دې ده چي وطي د زوج ثاني شرط دي، ولي چي په حديث متفق عليه كي د ټولو محدثينو داسي راغلي دي چي ماينه د رفاعة ﷺ وعليه الصلوة والسلام ته راغله او داسي يې ورته وويل چي زما مېړه زه طلاقه كړم فبت طلاقي يعني قطعي طلاق چي درې طلاقه دي رايه يې كړه وروسته زه عبدالرحمن بن زبير (بفتح الزاء وليس في الصحابة ﷺ يعني بفتح الزاء غيره لان غيره بضم الزاء) وان مامعه يعني ذكره مثل هدبة ثوبي واخذت من جلبابها يعني ذكر يې لكه زما پوړني داسي دى يعني كلك نه دربږي او دخول نه سي كولاى فتبسم رسول الله ﷺ او ورته وه يې ويل چي ستا بيرته د رفاعة سره نكاح زړه غواړي؟ دې ورته وويل نعم! عليه السلام ورته وويل لا حتى تذوقي عسيلته ويذوق عسيلتك يعني نه سي رجوع ورته كولاى چي ته دده له عسلو څكه ونه كړې او دى ستا له عسلو څكه ونه كړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: رسول الله ﷺ خوند د جماعو مشابه کړی له خونده سره د عسلو.

درویش وایي: چي تولو شراح الاحادیث نبویه ﷺ وایي چي علیه السلام لفظ د ذوق وواپه چي معنا یې خوند کتل دي د شي، او لفظ د عسیلة په تصغیر سره راوړي چي لپاره د تحقیر دی اشاره یې ودې ته وکړه چي په وطي کي د زوج ثاني صرف دخول الفرج في الفرج شرط لپاره د تحلیل وزوج اول ته دی انزال شرط نه دی لان الانزال شبع بالوطي لا مجرد الذوق، او بعض مفسرین رح وایي چي معنا د نکاح جماع ده په آیت کي.

پوښتنه: جماع کونکی خو زوج دی او ښځه محل د جماع ده فکیف یصح اسناده الی المرئة؟

ځواب: اسناد د وطي او جماع وښځي ته مجازاً کېدای سي، والحاصل چي په آیت مبارک کي له مجاز څخه چاره نسته ولي که نکاح په معنا د عقد سي کما قال جمهور المفسرین رح نو مجاز په لفظ کي د زوج دی باعتبار مایؤل الیه کمامر سابقا، او که نکاح په معنا د وطي سي نو مجاز یې په اسناد کي وښځي ته دی.

درویش وایي: چي نکاح که په معنا د عقد سي نو خو مجاز په لفظکي د زوج لازم دی وهو مجاز في المفرد والمجاز في المفرد اسهل من المجاز في الاسناد کما یلزم علی التقدیر الثاني فتامل هداک الله.

فائده: د رفاعة ماینه تمیمه بنت وهب وه چونکه دی لکه دمخه چي تېره سوه د علیه السلام په مخ کي دا اقرار وکړی چي د عبدالرحمن بن الزَبیر ذکر لکه ددې د پوړنې د آشې رنګه دی یعني قابل نه دی چي ددې فرج ته دي داخل سي، او علیه السلام دا منع کړه چي رفاعة ته بیرته نه سي مېړه کولای چي د عبدالرحمن ذکر ستا فرج ته داخل نه سو، نو څه مده تمیمې رېغ نه کاوه، او بیا وعلیه السلام ته راغله چي زما مېړه عبدالرحمن زما سره جماع وکړې، نو اوس که مې دی طلاقه کړي بیا د رفاعه سره نکاح کولای سم، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عليه السلام ورته وويل چي كذبت بقولك الاول فلن تصدقك بالآخير. او دا بيرته نااميده ولاړه خو عليه الصلوة والسلام وفات سو. او حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه خليفه سو، نو تميمه ابوبكر رضي الله عنه ته راغله چي زما دوهم مېړه عبدالرحمن زما سره ښه سمي جماعي وكړې، نو زه اوس په سله طلاقه دله عبدالرحمن څخه ورفاعه ته روا يم. حضرت ابوبكر رضي الله عنه ورته وويل په هغه ورځ چي ته عليه السلام ته راغلې او بيان دي ورته وكړى او عليه السلام ستا تكذيب وكړى حاضروم څه ولاړه سه ورفاعه ته رجوع د نكاح نسي كولاى، بيا چي ابوبكر رضي الله عنه وفات سو او عمر فاروق رضي الله عنه خليفه سو. بيا تميمه وعمر رضي الله عنه ته راغله او هغه دمخه بيان يې ورته وكړى، عمر رضي الله عنه ورته وويل كه تا رجوع ورفاعه ته وكړه زه دي په رجم كوم، په دغه ارمان د رفاعه تميمه مړه سوه.

درويش وايي: چي بياد په دې قصه كي خلگ غور وكړي د ښخو په مكر او درواغو.

پوښتنه: چي د نكاح معنا عقدسي نو لكه ابن المسيب چي وايي بايد وروسته تر عقد بايد نكاح د اول مېړه سره روا سي، او شرطول د وطي په حديث مذكوره سره زيادت پر كتاب الله په خبر واحد سره نه لازمېږي، او دا زيادت كه څه هم په نبز د امام شافعي رحمه الله او د نورو امامانو روا دى لكن ابو حنيفه رحمه الله دا زيادت روا نه بولي فماتوجيه مذهب الى حنفية رحمه الله؟

ځواب: بعض فقهاء د مذهب حنفي وايي چي حديث مذكور مشهور دى، او زيادت په خبر مشهور سره پر كتاب الله په نبز د ابو حنيفه رحمه الله روا دى، وهذا جواب ليس بصحيح ولي چي محدثين ټوله دا حديث خبر واحد بولي، والصحيح ما رواه الطحاوي رحمه الله وغيره من فقهاء الحنفية چي دا حديث كه څه هم خبر واحد دى لكن چونكه اجماع د امت مرحومه پر موافق ددې حديث وسوه نو دا حديث مبارك ودرجې ته د شهرت ورسېدى فيجوز به الزيادة على الكتاب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: دومره تکلف ته ضرورت څه دی ولې زیادت پر کتاب الله باندې په اجماع الامة سره نه وايي؟

ځواب: په کتابو کې د اصول الفقه وايي چې زيادت پر کتاب الله څو نسخه د اطلاق د کتاب الله ده، وقد اجمعوا انه لايجوز نسخ كتاب الله بالاجماع والقياس ويجوز بالحديث الصحيح اما مطلقا يعني سواء كان خبرا واحدا او مشهورا كمامر من مذهب الشافعي رحمه الله وغيره، او بالحديث المشهور كماهو مذهب ابي حنيفة رحمه الله والسر في ذالک انه عليه الصلوة والسلام لاينطق عن الهوى بل هو وحي يوحى كما ورد في القرآن العزيز.

درویش وايي: فاحفظ هذا التحقيق لعلک لاتجده في مطاوي الكتب الكبار والله الموفق.

مسئله نادره: پوه سه چې دغه مطلقه ثلاثه نه په ملک یمین او نه په ملک نکاح زوج ته روا کېږي، تر څو چې بل مېړه او د هغه مېړه وطي ومنځ ته رانه سي، نو که یو سړی مابنه په درې طلاقه طلاقه کړي او هغه ښځه مرتده سوه او دار حرب ته ولاړه، بیا مسلمانانو پر دار حرب غلبه وکړه او هغه مطلقه يې په مينځه والي راوسته او هغه اول مېړه يې په ملک یمین مالک سو، نو په دغه ملک یمین سره زوج ته یې وطي نه دي روا تر څو چې زوج غیره ته يې په نکاح ورنه کړي او هغه هم وطي ورسره وکړي او بیا یې طلاقه کړي، نو وروسته تر مرور د عدې وزوج اول ته روا کېږي.

فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يَتَرَاجَعَا إِنْ ظَنَّا أَنْ يُقِيمَا حُدُودَ اللهِ ط

نو که طلاقه کړه زوج ثاني هغه ښځه یعني بعد الوطي معها، نو ګناه نسته پر ښځه او نر په دې سره چې دوئ یو له بله رجوع سره وکړي یعني په نکاح جدیده سره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښته: چي دليل د نكاح جديده دادى چي نسبت د رجوع يې ودواړو ته وكړى، ولي چي په نكاح جديد كي تراضي د نر او ښځي دواړه غواړي بخلاف مامر في الطلاق الرجعي لان الزوج مستقل في الرجعة څكه خداىﷻ نسبت هوري د رجعت ويوازي زوج ته كړى دى. فقال وبعولتهن احق بردهن" كه ددوىٔ غالب گمان دا وچي كه چيري موږ رجوع سره وكړو موږ به حدود د خداىﷻ پر ځاى كړو، ومن فسر الظن بالعلم فقد اخطاء لان العلم هو اليقين ولاطريق الى اليقين لانه غيب ولا يعلم الغيب الا الله، واما الظن فقد يحصل بالقرائن الدالة.

پوښتنه: حكمت الهي څه دى چي په تحليل كي وزوج اول ته يې جماع د زوج ثاني شرط كړې او په مجرد عقد سره يې اكتفاء ونه كړه؟

ځواب: د خلكو منع كول دي له مسارعته وطلاق مغلظه ته په دې معنا چي انسان او نر غيور بالطبع دى او دا يې نه خوښېږي چي زما ماينه يو شپه تر بل لاندي پرته وي او هغه دي هم وطي ورسره كوي، نو به مرونه له دري طلاقو څخه اجتماعا او انفرادا ځان ساتي تاچي ددغسي پېغور له كاره خلاص سي، او نفس عقد خو چندان د نفرت او د پېغور كار نه دى، نو نفس عقد زاجر د خلكو له درو طلاقو څخه نه گرځي

مسئله: كه د دوهم مېړه نكاح مشروطه وگرځوي په مجرد تحليل سره يعني په عقد كي د نكاح دا شرط وگرځوي چي ته چي جماع ورسره وكړې بېرته دا ښځه طلاقوې، نو دا نكاح فاسده ده په نېز د اكثرو فقهاؤ وعند ابى حنيفة رحمه الله نكاح ثاني خو صحيح ده مع الكراهة، وهذا محمل الحديث "لعن الله المحلل والمحلل له" او زوج ثاني او ښځه كه يې په زړه كي دا وه چي وروسته تر وطي زوج ثاني طلاق وركوي مگر تصريح يې نه په وكړه فلا كراهة.

درويش وايي: چي زيلعي رحمه الله په شرحه كي د كنز وايي چي كه ښځه پر دي بېرېده چي زوج ثاني به پر ما تېنگ سي يعني نه مي طلاقوي، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

داسي عقد دي ورسره وکړي چي زه ستا سره نکاح کوم په دې شرط چي زما کار به زما په لاس کي وي يعني په هر وخت کي چي زه خان طلاقوم طلاقولای به يې سم، او مېرمن چي دا شرط قبول کړي، نو پسله وطي د تحليل دا ښځه خان طلاقولای سي.

مسئله: پر دې خبره خو اجماع ده او وطي د زوج ثاني درې طلاقه د منځه ځخه وړي او دا ښځه چي وروسته تر تحليل زوج اول په نکاح کړي مېړه يې يو وار بيا مالک د دروو طلاقو ګرځي اجماعاً. او که داسي پېښه سي چي مېړه ومايني ته يو طلاق يا دوه طلاقه ورکړي او بيا رجوع نه ورته وکړي او عده يې تېره سي او ښځه بل مېړه وکړي، په نکاح صحيحه سره او هغه مېړه يو وار يا ډېر وارونه وطي ورسره وکړي او بيا يې طلاقه کړي او وروسته تر عدې به يې زوج اول په نکاح کړي، آيا په دې صورت کي مېړه بېرته مالک د درو طلاقو دی او که د نکاح اول د باقي طلاقو يعني يو يا دوو طلاقو مالک دی، امام اعظم ابو حنيفه او امام ابو يوسف رح وايي چي هغه يو طلاق يا دوه طلاقه له منځه ځخه چي اول مېړه بيا مالک د دروو طلاقو دی، او امام محمد رحمه الله وايي چي نکاح او وطي د زوج ثاني فقط هادم د دروو طلاقوو دي او هغه يو طلاق او يا دوه طلاقه چي په نکاح قبلي کي مېړه ورکړي وه هغه پر خای پاته دي.

درويش وايي: چي دلائل مفصله والجواب عنها خو په کتب د فقهي شريفي کي مذکور دي "زاوړل يې اطناب فحض دی" لنډ دليل د مذهب د شيخانو رح دادی چي وطي د ثاني مېړه چي هادم د حرمت غليظه سو اجماعاً نو هادم د حرمت خفيفه په طريق اولی دی.

وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٢٣٠﴾

او دغه احکام مذکوره حدود د خدای جل جلاله دي يعني چي تر دې حدود بايد څوک تېر نه سي او مخالفت يې څوک ونه کړي او نه څوک تغير پکښي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وكړي، او خداى ﷻ دغه احكام بيانوي وهغه قوم ته چي هغه د احكامو د خداى ﷻ په قدر پوهېږي او عمل په كوي.

پوښتنه: احكام قرآنيه خو عام التبليغ دي وټولو انسانانوته، نو تخصيص د قوم يعلمون يې ولي وكړی؟

ځواب: نعم لكن نفع پر احكامو الهيه وو او قرآنيه يوازي هغه قوم يعلمون اخلي ولهذا اخصهم بالذكر.

بيت

نكته گفتن پيش كرفهمان زحكمت بيگمان

جوهري چند از جواهر ريختن پيش خر است

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ

پوه سه: چي مراد له اجل څخه عده ده، او د اجل اطلاق پر مدې هم كېږي او پر منتهى هم، نو څكه اجل مده د عمر د انسان او پر منتهى د عمر ده چي مرگ دی هم كېږي.

پوه سه: چي ابتداء د عدې پسله طلاقه كېږي، او پاى د عدې په اختلاف د احوالو د مطلقه هم معلوم دی، لكن دلته مراد حقيقي معنا نه ده ولي چي عده وپاى ته ورسېږي بيا خو مېړه ته داسي نه سي ويل كېداى چي فامسكوهن آه څكه چي عده چي پاى ته ورسېږي بيا خو ماينه بائنه سوه او مېړه حق د رجوع نه لري، بلكه مراد په آيت كي نږدې والى وپاى ته د عدې مجازا.

ترجمه د آيت داده چي تاسي چي طلاقي كړئ ښځي يعني ماينې او دوئ نږدې سي وپاى ته د عدې، نو يې خوندي يعني رجوع نه وكړه پر شرعي لار، او يا پرېږده پر شرعي لار چي عده يې تېره سي بائنه به سي.

وحاصل الاية چي تاسي رجوع مه ورته كوئ په قصد د اضرار او ظلم كما في الجاهلية كمامر من قبل هذا.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وَلَا تُمۡسِكُوهُنَّ ضِرَارًا

يعني تاسي مه خوندي کوئ يعني رجوع مه ورته کوئ لپاره د ضرر، نو ضرارا" منصوب دی چي مفعول له دی د لاتمسکوهن، او يا ضرارا په معنا د مضارين دی، نو بيا منصوب دی او حال دی له ضميره څخه د فاعل په لاتمسکوهن کي.

لِّتَعۡتَدُوا۟ۚ

چي تاسي ظلم وکړئ پر دوئ يا په تطويل د عدې، او يا مجبوره کول د ماينو پر فديه او عوض مالي باندي، نو "لتعتدوا" هم مفعول به بلام التعليل دی، او په عين حال کي بيان د ضرار هم دی.

پوه سه: چي خدای ﷻ اول دوئ امر کړه په امساک بالمعروف سره او بيا يې نهي کړه له ضد څخه د امساک بالمعروف چي امساک لاجل الضرار دی وروسته يې دا آيت ذکر کړی دی.

وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ فَقَدۡ ظَلَمَ نَفۡسَهُۥۚ

يعني که څوک دغسي وکړي يعني که لپاره د ضرار وماينو ته رجوع وکړي نو په تحقيق هغه سړي ظلم وکړی پر خپل خان باندي ولي هغه خپل خان وعذاب الهي ته پېش کړی بارتکاب المنهي عنه. نو حاصل د آيت دادی چي رجوع لپاره د اضرار يوازي پر ښځو ظلم نه دی بلکه پر خپل خان باندي هم ظلم دی، نو عاقل او مسلمان کامل ته په کار ده چي داسي کار ونه کړي چي هم پر بل ظلم وي او هم پر خپل خان.

پوښتنه: د اصول الفقه په کتابو کي وايي چي امر په شي نهي دی د ضد د مامور به، نو د "لاتمسکوهن" څه فائده ده وروسته تر امسکوهن بالمعروف؟

ځواب: صاحب د روح البيان وايي چي امر په شي سره تکرار د مامور به نه غواړي کمابين في کتب اصول الفقه، نو امسکوهن آه پر دې دلالت نه کوي چي امساک بالمعروف دائماً مطلوب دی. نو لاتمسکوهن دلالت پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دې کوي چي امساک بالمعروف مطلوب دی في جمیع الاوقات، نو ګویا دا مبالغه ده په امساک بالمعروف کي.

وَلَا تَتَّخِذُوٓا۟ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ هُزُوًا

او تاسي مه ګرځوئ آیات د خدای ﷻ هزواً یعني سپکاوی یې مه کوئ، هزو مصدر دی په معنا د مهزو بها دی، او هزو د آیات الله داده چي اعراض خندي وکړي او سستي کوي په عمل بما فیهاکي. نو یا مراد فامساک بالمعروف دی او تسریح باحسان دی په قرینه د ماقبل او یا عموم مراد دی یعني کل من خالف الشرع تهاونا فهو متخذ آیات الله هزوا، او بعض يي معنا داکوي چي یو سړي به مانه طلاقه کړه خو وروسته به يې ویل چي ما محض سات تېراوه، یعني طلاق مي نه و مقصود، او یا به يې مریي ازاد کړی، وروسته به يې ویل ما طبعیت رستګي کوله. وقد ورد في الحدیث ثلاث جدهن جد وهزلهن جد، النکاح والطلاق والرجعة، وفي روایة ذکر العتاق موضوع الرجعة.

درویش وایي: چي حقیت هزو خو کفر دی، او مخاطب په دې آیتو کي خو مؤمنان دي، مؤمنان خو هزو بایات الله نه کوي، نو ځکه تړوله مفسران يي تفسیر په لازم سره کوي، ای ترک العمل بایات الله فافهم.

وَٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمَآ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ وَٱلْحِكْمَةِ يَعِظُكُم بِهِۦ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٣١﴾

او تاسي په یاد کړئ نعمت د خدای ﷻ پر تاسي چي له جملې ځنخه د نعمت الهي هدایتکم الی الاسلام وجعلکم من امة سید الرسول ﷺ وغیرها

یوه سه: چي له ذکر ځنخه مراد شکر د نعمت دی، او داغه رنګه په یاد کړئ هغه شی چي خدای ﷻ نازل کړی پر تاسي له کتاب ځنخه چي مراد

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

خندي قرآن عظيم الشان دى، يعني بالعمل بما في الكتاب، او له حكمت څخه چي مراد ځندي آحاديث نبويه ﷺ دي چي وحي غير متلو دي يعني د احاديث نبويه وو هم امتثال په اوامرو او نواهي كي، او خداى ﷻ وتاسي ته نصيحت كوي په ما انزل عليكم سره، او له خداى ﷻ څخه بېرېږئ چي تقوى مدار د ټولو اوامرو د امتثال ده او د انتهاء عن المنهيات ده. او پوه سئ چي خداى ﷻ په هر شي خبر دى ولايخفى عليه شيئ:

درويش وايي: كه څه هم آيات سابقه په خصوصيت د مېړه او مايني كي نازل سوي دى، يعني چي مېړه بايد ماينه ازاره نه كړي، او ضرر نه ور رسوي په طلاق او په رجوع كي، لكن د حرمت د ازار او اضرار حكم عام دى بايد هيڅ يو مسلمان وبل مسلمان ته ازار او ضرر ونه رسوي.

شيخ سعدي قدس سره وايي

مكن تا توانى دل خلق ريش وگرميكنى ميكنى بيخ خويش

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَنْ يَنْكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ

او چي تاسي طلاقي كړئ خپل مايني او دوئ ورسېږي وخپل اجل ته يعني عده يې تېره سي، نو تاسي يعني اې قريبانو د دغو ښځو منع مه كوئ چي دوئ بيرته نكاح كوي د خپلو په پخواني ازواجو سره چي دوئ طلاق كړي وي.

پوه سه: چي دا آيت په باره كي د جملاء بنت يسار چي خور وه د معقل بن يسار چي مېړه طلاق ودې ته وركړې و، چي مېړه يې بداح بن عاصم و كما روى البخاري وابو داوٗد والترمذي له معقل بن يسار څخه چي ماخپله خور يعني جملاء المذكورة ويوه سړي ته يعني بداح بن عاصم المذكورة ته په نكاح وركړه نو هغه زما خور طلاقه كړه، چي عده يې تيره سوه نو هغه سړي بيرته ماته مركه وكړه د هغې خور په باره كي، نو ما ورته وويل چي ما يو وار خور په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نکاح درکړه تاته او فراش مي وګرځوله او تاته ما عزت در کړی او بیا تا طلاقه کړه یعني زما بې عزتي دي وکړه او اوس بیرته رغلې او مرکه راته کوې؟ نه يې درکوم والله لا تعود اليک ابداً او مېړه بداح يې بنه سم سړی و، او دده د خور د اوضاعو څخه داسې معلومېده چې دا هم په رجوع وبداح ته راضي ده، نو دآیت نازل سو، نو معقل وايي چې ما رسول اللهﷺ ته وویل الآن افعل یا رسول اللهﷺ یعني اوس يې نو زه په نکاح ورکوم اې رسوله د خدایﷻ نو يې په نکاح ورکړه انتهی، نو د آیت اول خطاب وازاجو ته دی او دوهم خطاب واولیاء ته د ښځو دی کما دل علیه عبارت الحدیث المذکور صراحة.

سوال: څرنګه په یوه آیت یو خطاب به وه یوې ډلې ته وي او بل خطاب به وبلې ډلې ته وي، آیا دا به د بلاغت سره د قرآن منافي نه وي؟

ځواب: صاحب د روح البیان وايي چې چونکه ټوله خلګ په علم کې د خدایﷻ لکه یو جماعت دی صح توجیه احد الخطابین الواقعین في کلام الباريﷻ الى بعض، وتوجیه الآخر الى البعض الآخر.

درویش وايي: چې نوم د خور د معقل په تفسیر کې د مظهري جملاء ښوول سوی دی او په روح البیان کې جمیله ښوول سوی دی والصحیح ما في روح البیان ولعل مافي تفسیر المظهري من غلط الناسخ والله اعلم.

فائده: مظهري له سدي رحمه الله څخه نقل کړی دی چې دا آیت په باره کې د جابر بن عبدالله انصاريؓ نازل سوی دی چې دده د اکا لور وه مېړه طلاقه کړه او عده يې هم تېره سوه بیا يې مېړه وجابر بن عبدالله ته راغلی او دده د اکا د لور مرکه يې ورته وکړه، جابر بن عبدالله منع ورته وکړه، نو دا آیت نازل سو نو جابر بن عبدالله قناعت وکړی.

درویش وايي: چې دا دوې قصې ډېرې سره جلا دي نو څرنګه به صحیح وي چې دا آیت دي په دواړو قصو کې نازل سوی وي مظهري صرف دا وبلې دي ولعلها نزلت في القصتین مما انتهی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي څرنګه نزول په دوارو قصو کي صحیح کېږي ولي چي دا خو به ډېره نادره وي چي دا دواړي قصي په یوه وخت کي پېښي سوي وي او که یوه مقدمه وي او په هغې کي دا آیت نازل سوی و، او نزول د آیت په دوهمه قصه کي څه معنا لري.

درویش وایي: چي اول جواب خو دادی چي صحیح عند المحدثین خو قصه د معقل ده او سدي رحمه الله په نېز د محدثینو ضعیفه دی فلا اعتداد بحدیثه فلا تعارض وعلی تقدیر التسلیم جواب دادی چي قصه د معقل خو د مخه پېښه سوې وه لکن خبري د مهره د جمیلي په طلب کي د نکاح د خور د معقل او د منع دمعقل په جریان کي وي او تسلسل یې جاري و، چي واقعه د بنت عم جابر بن عبدالله رضي الله عنه پېښه سوه او طلب د مهره او منع د جابر بن عبدالله منځ ته راغله، نو خدای جلت قدرته دواړي واقعې په نزول د آیت مذکوره په یوه وار خلاصي کړې فاحفظ هذا التحقیق فانه سانح عزیز ' او په روح البیان کي وایي چي بعض مفسران وایي چي په آیت مذکوره کي دواړه خطابه وه ازواجو ته دي یعني اهل جاهلیت چي مانیه بې طلاقه کړه نور بېګانه خلګ به یې هم منع کول له نکاح څخه د دوئ د مطلقه مابنو څخه ظلما علی الزوجات ومراعاة لحمیة الجاهلیة، نو خدای جل جلاله مسلمانان منع کړه چي تاسي ورته کارونه د جاهلیت مه کوئ لان بناء دین الاسلام علی قمع اساس الظلم والجبر، او مظهري یوه داسي وجه د ارجاع د ضمیر وه اولیاو ته د ښځو او ازواجوا د ښځو راوړي دي چي زه نه په پوهېږم والله اعلم بمراد عباده.

پوښتنه: نکاح د حري ښځي چي عاقله بالغه وي. بېله ولي یعني قریبه. پلار، ورور وغیرهما روا ده او که څرنګه؟

ځواب: په نېز د امام ابو حنیفه وتلمیذه ابو یوسف رح روا ده نکاح د ښځي د خپل ځان لپاره په خپله خوله او یا د وکیل په ژبه په رضا ددې که څه هم ولي په خبر هم نه وي، که مهره یې کفو ددې وي او که نه وي غایة الامر چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په غیر کفو کي ولي حق ده اعتراض لري ولي چي پیغور د غیر کفو وه ولي ته راجع کېږي، او په یوه روایت کي لـه شیخینو رح راغلي دي چي د غیر کفو سره يې نکاح نه منعقد کېږي، وقد افتى بعض الفقهاء بهذه الرواية لفساد حال القضات في زماننا باخذ الرشوة من غير الكفو. او امام محمد رح وايي چي په کفو او په غیر کفو کي نکاح خو منعقده ده لکن موقوف ده پر اجازه د ولي، او امام مالک رحمه الله وايي چي که ښځه له شریف خاندانه ځنځه وه او ذات حسن او مال وه چي د هر چا يې ونکاح ته رغبت کېدی. نو نکاح يې بېله ولي نـه ده روا، او کـه دغسي نـه وه نو نکاح ددې پخپله خوله نه ده مګر اجنبي سړی تـه اجازه ددې پـه نکاح ورکولای سي، او امام شافعي او امام احمد رح وايي لا نكاح الا بولي وهو رواية عن ابي يوسف ايضا.

درویش وايي: چي په مختصره توګه دلیل د مذهب د امام اعظم او ابو یوسف رح دا آیت دی ﴿حتى تنكح زوجا غيره﴾ او بل دا آیت دی ﴿ان ينكحن ازواجهن﴾ وجه الاستدلال چي په دې دوو آیتو کي اسناد د نکاح وښځي ته سوی دی، او اصل په اسناد کي حقیقت دی، او حقیقت خو دادی چي ښځه پخپله نکاح وکړي.

درویش وايي: چي دلائل د نورو مذاهبو او نقص او ابرام او خوابونه او سوالونه د هر فریق له خوا پر بـل فریق باندي په مفصلو کتابونو کي د فقه مطالعه دي کړل سي خصوصا الفقه على المذاهب الاربعة، دا تفسیر ځای د تفصیل د مسائل فقهیـه وو نـه دی، البتـه صرف نقـل د مذاهبو روا دی لاطلاع المستفیدین علی مذهبهم والمذاهب المخالفة لمذهبهم.

إِذَا تَرَاضَوْا بَيْنَهُم بِالْمَعْرُوفِ

که راضي وه مرکه کونکي چي د مخه مړونه دي او ښځي چي پخواني مايني مطلقې وي پخپل منځ کي.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

پوه سه: چي "اذا" ظرف دی د "ان ينكحن" او "بينهم" ظرف دی د "تراضی" او "بالمعروف" حال دی له فاعل څخه د "تراضوا" ای متلبسين بالمعروف يعني بالعقد الصحيح والمهر الجديد الجائز، او په شهود د عادلانو. او هر يو پر خان باندي حسن معاشرة موافق د شرع شريفي سره لازمه وي.

پوه سه: چي معروف يو عام لفظ دی معنی يې مايعرفه الشرع واستحسنه المروة، ددې آيت څخه دا معلومه سوه چي كه پخوانی مېړه كفو نه و، او يا مهر المثل د ښځي يې نه وركاوه نو د ولي د ښځي منع د نكاح جديد عضل منهی عنه نه دی.

ذٰلِكَ يُوۡعَظُ بِهٖ مَنۡ كَانَ مِنۡكُمۡ يُؤۡمِنُ بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ ؕ

او دغه مامر د احكامو من الامر والنهي للاولياء والازواج په تاويل د كل واحد، او يا په تاويل د مامر ليصح الاشارة لتلك الاحكام المتعددة بلفظة ذالك. نصيحت كړه كېږي په هغه سره يعني له جانبه د خدای ﷻ وهغه چا ته چي ايمان لري پر خدای ﷻ او پر ورځ د آخرت، يعني پر ثواب او عقاب باندي د آخرت د ورځي.

پوه سه: چي تخصيص د من آمن آه په سبب ددې دی چي پر مواعظو د قرآن مبارك هم دغه من آمن آه نفع اخلي ورنه مواعظ قرآنيه عام دي.

ذٰلِكُمۡ اَزۡكٰى لَكُمۡ وَاَطۡهَرُ ؕ

او دغه ای الاتعاظ والعمل بمقتضاه پاكونكي ستاسي له گنهو څخه او انفع دي ستاسي، او پاكونكي دي ستاسي د ادناس بشريه وو څخه.

وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ وَاَنۡتُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۲۳۲﴾

او خدای ﷻ خبر دی په نفع او ضرر ستاسي په دنيا او آخرت كي، او تاسي پخپل خير او شر نه ياست خبر لقصور علمكم، سعدي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

برو علم یک ذره پوشیده نیست　　که پنهان و پیدا بنزدش یکی است

فائده: په دې کي اتفاق دی د مذاهبو چي بالغه چي کونډه وي اجبار يې پر نکاح نه دی روا، لقوله تعالى "اذا تراضـوبينهم" لانـه نزلت فـي الثيب كمامر في شان النزول، واختلف المذاهب في اجبار البكر البالغة، فقال الشافعي ﷫ چي پلار او نيكه ته دا روا ده چي دا ببله رضا ددې چاته په نكاح وركړي، او امام مالک ﷫ وايي چي يوازي پلار ته روا ده، وهو مذهب احمد ﷫ دوئ وايي چي آيت د "اذا تراضوا" خو د كونډي په باره كي نازل دی، مونږ وايو چي حديث مرفوع له ابن عباس ﷺ څخه داسي راغلی دی چي عليه الصلوة والسلام وويل ﴿الثيب احق بنفسها من وليها والبكر يستأمرها ابوها . والاجبار بينا في الاستيمار﴾ او آيت هم زمونږ دليل دی ولي خدای ﷻ په كونډيانو كي رضا شرط كړه او عضل يې حرام وباله چي د كونډي په عضل او اجبار كي مفاسد سته وتلک المفاسد في اجبار البكر والثيب سواء فيشترط التراضي في كليهما.

سوال: نو ولي په حديث شريف كي فرق د كونډي او بكري راغلی دی حيث قال الثيب احق آه كمامر؟

ځواب: فرق په اذن كي دی لقوله عليه الصلوة والسلام في البكر واذنها صماتها يعني اذن د بكر دادی چي پټه خوله سي په وخت كي د استيمار او مشورې. او د ثيب صمات اعتبار نه لري بلكه صريح اجازه او توكيل غواړي

فائده: قال ابن مسعود ﷺ السعيد من وعظ بغيره، كما قال الشاعر

پندگیر از مصائب دیگران　　تانه گیرند دیگران زتو پند

نرود مرغ سوی دانه فراز　　چو دیگر مرغ بیند اندر بند

فائده: ومن النصائح العامة لرسول ﷺ لامته المرحومة، قوله ﷺ علامة اعراض الله تعالى عن العبد اشتغاله بمالا يعنيه وان امرء ذهبت ساعته في غير ماخلق له جدير ان تطول عليه الحسرة ومن جاوز اربعين سنة ولم يغلب خيره شره فليتجهز الى النار، ولنعم ماقيل

چهل سال عمر عزیزت گذشت　　مزاج تو از طفل نه گشت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قال السعدي الشيرازي قدس سره

بگوی آنچه دانی سخن سودمند وگر هیچ کس را نیاید پسند

که فردا پشیمان بر آرد خروش که روح چرا نکردم بگوش

وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ

او مندي دي شيدې ورکوي و اولاد ته ددوی، اولاد نر او ښځو دواړو ته وايي.

پوه سه: چي ظاهر د قرآن کريم اخبار دی لکن په معنا د امر دی وفيه مبالغة کما في كتب المعاني.

پوښتنه: نسب خو د نر دی. نو څه حکمت دی چي نسبت يې وښځو ته يعني مندو ته وکړی؟

ځواب: په نسبت باعثه کول د ښځو او مندو پر ارضاع يعني ستاسي خپل عيالونه دي نو بايد منع د ارضاع څخه په ونه کړي

پوه سه: چي دا امر د وجوب دی لکن بشرائط. يو داچي مور به يې قادره پر ارضاع وي، يعني مريضه نه وي. او بل داچي پلار به قادر پر مزدور والي د بلي ښځي نه وي، او يا به کوچنی د بلي ښځي شيدې نه روي. لقوله تعالى (فان تعاسرتم فسترضع له اخرى) او که ښځه قدرت د ارضاع لري او کوچنی د بلي ښځي تی هم روي او پلار يې هم قدرت د استيجار د بلي ښځي لري، نو بيا دا امر ندب لپاره دی له دې سببه چي د مور شيدې د خپل عيال لپاره ډيري موزوني دي، او د مور شفقت پر عيال د بلي مرضعي تر شفقت ډير بالا دی، او مور په نظافت او پاکی د بدن او د کالو د خپل عيال ډيره سعي کوي تر بيگانه ښځي الى غير ذالک من الفوائد في ارضاع الام.

مسئله: امام اعظم رحمه الله وايي چي مور ته او يا معتدي يعني چي عده د طلاق وي حرام ده مزدوري اخستل پر ارضاع د خپل عيال. په دليل ددې چي ارضاع خو حق مستحق و پر دې از روی ديانت البته په سبب د عذر ددې دا ددې حق مستحق څخه خلاصه وه، نو دا چي په مزدوری ارضاع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کولای سي نو خو معذوره نه ده، نو حتما به بیله مزدوري تي ور کوي، او امام شافعي رحمه الله يې استيجار روا بولي.

سوال: ستاسي له بيان څخه خو داسي فهمېږي چي که مېره ښځه طلاقه کړې وه او عده يې هم تېره سوې وه، نو بايد هغې ته هم مزدوري غوښتل حرام دي مع انه جائز اتفاقا؟

ځواب: پسله عدې تېرېدو څخه خو دا بېگانه ښځه سوه، نو خو دا استيجار يې روا دی، او بل دليل د جواز د الاجرة في الصورة المذكورة دا قول د سدي رحمه الله دی ﴿فان ارضعن لكم فآتوهن اجورهن﴾ الآية. لان الآية وردت في الصورة المذكورة كما لايخفى.

حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ

دوه کاله پوره

پوه سه: چي د كاملين فائده داده چي په تثنيه کي گاهي تساهل او مجاز کېږي، مثلا يو سړی ووايي چي زه د فلانې سره دوه کاله اوسېدلی يم او سره ددې چي ده به دوه کاله په څه کم اقامت کړی وي.

پوښتنه: د "كاملين" له قيد څخه خو داسي فهمېږي چي پوره دوه کاله ارضاع واجبه ده او سره ددې چي حکم شرعي دغسي نه دی؟

ځواب: نعم! له قيد څخه خو داغه فهمېږي لکن چونکه وروسته خدای ﷻ وايي ﴿فان ارادا فصالاً عن تراض منهما وتشاور فلاجناح عليهما﴾ نو له دې آيت څخه دا معلومه سوه چي قيد ددې لپاره دی چي وروسته تر حولين ارضاع نه ده روا، او بل دليل د نفي د ارضاع دادی چي دغه نفي مذکوري پر اصل باقي دي، ولې چي نفع اخستل پر اجزاؤ د انسان نه ده روا لكرامته.

لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ

څوک چي اراده لري د اتمام او پوره کولو د رضاعت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې دا آيت هم پر دې دلالت کوي چې مده د رضاعَ دوه کاله ده لانه لا شيئ بعد تمام مدة الرضاع کما لايخفی.

فائده: چې مده د رضاع دوه کاله سي نو چې دوه کاله وروسته يوه ښځه يوه کوچني ته تې ورکړي د محرميت د رضاع احکام نه پر جاري کېږي.

اختلاف الائمة: پوه سه چې مذهب د امام ابي يوسف، امام محمد، امام احمد، او د امام شافعي رحمهم الله دادی چې مده د رضاع دوه کاله ده کما ذکرنا في تفسير الآية، او دا هم روايت دی له ابن عباس ﷺ او د عمر ﷺ کما رواه الدارقطني، او د ابن مسعود ﷺ او د علي ﷺ څخه هم روايت دی کما اخرجه ابن ابي شيبه ﷫، او امام مالک ﷫ وايي چې دوه (۲) کاله په يو څه بالا مده د رضاع ده ولم يعين الزيادة، او امام اعظم ﷫ وايي چې مده د رضاع د پرش مياشتي ده يعني دوه نيم کاله، او امام زفر ﷫ وايي چې پوره مده د رضاع درې کاله ده.

درويش وايي: چې دلائل د فريقينو او نقض او ابرام دې په مفصلو کتابو کې د فقهي شريفې مطالعه سي.

وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ

او پر هغه چا چې دده لپاره ولادت سوی دی يعني پلار ولي چې د اولاد نسبت خو پلار ته کېږي نفقه د مرضعاتو او کالي د هغو ښځو په اندازه د معروف في الشرع يعني بلا افراط وتفريط وحسب مقدور الآباء

پوښتنه: پر ځای د مولودله که ولد ذکر سوی وايي اخصر به نه وايي؟

ځواب: په لفظ کې د مولودله اشاره ودې ته ده چې ښځه چې عيال راوړي د نر لپاره يې راوړي ځکه نسبت د اولاد عرفا وشرعا وښځې ته نه کېږي الا عيسی بن مريم ﷺ لعدم الاب له.

حکايت: مامون ابن الرشيد چې د خلافة المومنين لپاره ځان وټاکه، نو هشام بن علي پر ده اعتراض وکړی چې ته خو د خلافت اهل نه يې ولي چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د مينځي زوی يې، نو مامون ورته وويل چي اسماعيلؑ خو هم د مينځي يعني هاجرې زوی و، او اسحقؑ د حرې زوی و يعني ساره، او سره له هغه خدای ﷻ په نسل کي د اسماعيلؑ سيد البشر ﷺ پيدا کړی.

درويش وايي: چي نران ټوله عبادالله دي، او ښځي ټولي اماء الله دي ولا فضيلة الا بالايمان والتقوی في غير الانبياء عليهم السلام.

پوه سه: که دغه مرضعه ښځه که د سړي ماينه وي او يا د طلاق په عده کي وي، نو دا نفقه او کالي يې پر سړي واجب دي من طريق الزوجية لا بطريق الاجرة، او که د ښځي يعني د ولد د مور عده تېره سوې وه او اجنبي ګرځېدلې وه، نو دا نفقه او کالي يې د مزدورۍ پر طريقه دي کما قال الله تعالی ﴿فآتوهن اجورهن﴾ ای المرضعات.

لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلَّا وُسْعَهَا ۚ

او تکليف نه ورکړه کېږي يعني د خدای ﷻ له خوا څخه پر هيڅ نفس مګر د نفس د طاقت سره برابر.

مسئله: تکليف په مالا يطاق سره اګر که جائز دی عقلاً لانه تعالی فاعل مختار يفعل ما يشاء ويحکم مايريد، لکن شرعا واقع نه دی تفضلاً من الله ﷻ کما قال لا يکلف الله نفسا الا وسعها وهذه المسئلة مبسوطة في کتب العقائد والکلام.

فائده: قاضي به د مېړه وحال ته ګوري په غنی او فقر کي، نو د هغه سره برابر نفقه او کالي به ورته ټاکي.

پوه سه: چي صيغه د "تکلف" مجهول ده او "نفس" يې مفعول مايسم فاعله دی، او "وسعها" يې مفعول ثاني دی، او دا جمله مستانفه ده په استيناف بياني کانه قيل لم تجب النفقة والکسوة علی الزوج بالمعروف فاجيب لا تکلف آه.

لَا تُضَآرَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُودٌ لَّهُ بِوَلَدِهِ ۚ

پوه سه: چي صيغه د تضار په سبب د ادغام د راء اولی په ثاني کي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

احتمال د معلومي صيغې هم لري چي اصل يې لا تضارر وي، او احتمال د مجهولي هم لري چي اصل يې تضارَر وي وعلى التقديرين كلمة الباء للسببية وعلى التقديرين صيغه د "لا تضار" نهي ده، والمعنى ضرر دې نه رسوي مابنه ومېړه ته په سبب د ولد ددې مثلا چي ښځه زائد تر قدرت د مېړه څخه نفقه او كالي غواړي، او يا مابنه د ولد په باره کي يعني په پاک ساتلو كي د ولد او يا پر وخت په تي وركولو کي تفريط نه کوي چي د مېړه زړه په غمجن كړي، او يا مابنه وروسته تر دې چي كوچني په دې پوري الفت ونيوی مېړه ته ووايي چي بالا شيدې نه وركوم بله ښځه دائي ور پيدا كړه وامثال ذالک، او داغه رنګه دې مېړه ضرر نه رسوي مابنې ته په سبب د ولد دده، مثلا مابنه خو ولد ته تی وركوي بمثل اجر الاجنبية مگر پلار لپاره د ضرر د مابنې كوچنی څنډي واخلي چي زه يې اجنبيه دائي ته په لاس وركوم، او يا پلار اجرت د اجنبيه دائي ومور ته نه وركوي بلكه كم تر هغه وركوي، او يا مور عاجزه وي د تي وركولو څخه په سبب د ناجوړی، او پلار قدرت او طاقت د بلي دائي د اجرت لري مگر سره د هغه مابنه مجبوره كوي پر ارضاع باندي وما اشبه ذالک.

درويش وايي: چي دا ترجمه خو پر تقدير ددې وه چي صيغه د "لا تضار" مبني للفاعل سي، او كه صيغه مذكوره مجهوله سي نو هم ترجمه خو داغه ده لكن په عكس د ترتيب فافهم.

فائده: خدای ﷻ په دې آيت كي اضافت د ولد يو وار ومور ته وكړی او بيا يې وپلار ته لپاره ددې چي مور او پلار دې دواړه فكر وكړي چي زه ولي بخپل ولد سره ضرر وبل ته ورسوم، او دا ضرر وبل ته خو نه دی زما وولد ته هم ضرر دی، نو بايد خپل د ولد ضرر مد نظر وګرځوي او بل چاته په سبب د ولد خپل ضرر ونه رسوي، او بعض مفسران ۞ وايي چي "لا تضار" په معنى مجرد دی كما في الشافية من ان باب المفاعلة قد يجيئ بمعنى المجرد نو پر دې تقدير او تفسير كلمه د باء دواړه ځايه زائده ده فالمعنى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لا تضر الوالدة ولدها چي د پلار تر اجر مثل د اجنبیه بالا اجرت غواړي او یا خپل ولد ورسته تر الفت ددې سره وپلار ته ورکړي چي بالا تی نه ورکوم او نه دي پلار وخپل ولد ته ضرر رسوي چي مور خو تی په اجر مثل ورکوي لکن پلار یې خندي واخلي چي زه په اجنبیه دایي تی ورکوم.

وَعَلَى الْوَارِثِ

او پر وارث د یتیم

پوه سه: چي مراد له وارثه ښځه د یتیم هغه څوک دي چي که صبي مړ سي عند عدم الاب هغه میراث وړي.

فائده: مراد لـه وارث ښځه د یتیم مطلق وارث نـه دی کـه ذا رحم محرم وي او که نه او که نر وي او که ښځه بلکه مراد هغه وارث دی چي ذا رحم محرم د یتیم وي یعني که یو ددوئ دوو ښځه نر فرض کې او هغه بل ښځه نو نکاح یې سره نا روا وي لکه ورور د یتیم یا اکا د یتیم.

مِثْلُ ذٰلِكَ

ای مثل ماوجب علی الاب من الرزق والکسوة واجر الرضاع.

مسئله: نفقه د محارمو زموږ د احنافو په نیز په دغه آیت سره ثابته ده

پوه سه: چي وعلی الوارث عطف دی علی قوله وعلی المولود لـه آه، او قوله لا تکلف آه وقوله لاتضار آه تفسیر د معروف دی او جملـه معترضه دی په منځ کي د معطوفینو.

درویش وایي: چي دا قدر کافي دی د متعلمینو د تفسیر ایوبي، او علامه مظهري رحمه الله تفصیل د مذاهبو او دلائلو د هغو او نقض ابرام یې ذکر کړی دی لکه دده چي عادت دی او چونکه زموږ د تفسیر مطالعه کونکو ته هیڅ فائده نه وه پکښي، نو ځکه هغه بیان درویش صرف نظر کړی ویظهر صدق ماقال الفقیر بمطالعة التفسیر المظهري رحمه الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي تفصيل د مسئلي د وجوب د نفقي او كسوة د ذوي المحارم په نبز د امام اعظمؒ دادی چي يو سړی چي غني وي پر هغه واجبه ده نفقه د ذی رحم محرم چي هغه صغير وي او فقير وي او يا ښځه وي كه څه هم بالغه وي چي فقيره وي، او يا نر وي مثلا شل يا ړوند وي فقير، ولي چي اگرچه مورد د نص مذكور يعني وعلى الوارث مثل ذالك كه څه هم صغير دی، نو هر څوك پوهيږي چي صغر سبب د احتياج دی ونفقي ته پر ده باندي، نو نور مذكوره كسان پر ده قياس دي والجامع الاحتياج والفقر، او كه سړی فقير وي لكن يو كسب يې زده وي د هغه نفقه پر غني قريب نه ده واجبه ولي چي دی غني په خپل كسب سره دی، وتفصيل هذا في كتب مذهب الفقه الحنفي.

فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا عَن تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا

او كه اراده وكړه مور او پلار د صغير رضيع يعني چي دمخه تر دوه كاله يې له تي څخه پرې كړي، ولي چي وروسته تر دوه كاله خو فصال واجب دی لقوله تعالى ﴿لمن اراد ان يتم الرضاعة﴾ على المذهب المفتى به او دا فصال صادر و د پلار او د مور د دواړو له رضا څخه نه ده يوه په رضا ولي چي مور كه يوازي راضي وي په فصال سره شايد دا به د تي وركولو څخه ستړې سوې وي او په عين حال كي د صغير به ضرر وي، او يا پلار يوازي راضي په فصال وي شايد په سبب د بخل بالاجرة به راضي وي او د رضيع به ضرر وي په سبب د فصال قبل الوقت، او دوئ دواړه په دې فصال كي مشوره هم وكړي يعني چي صغير ته نوره رضاع ضرر ده او په چائې او دوډۍ ښه گذاره بې ضرره كوي وهما اعلم بحال الصبي، نو گناه نسته پر دوئ باندي په فصال كي لانه لنفع الصبي وهما اشفق على ولدهما.

فائده: درويش قبل تر دوه كاله وويل موافقةً للتفسير القرطبي والبيضاوي وروح البيان و روح المعاني ومظهري وغيرها، او په مراعات د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مذهب د ابي يوسف او محمد المفتى به عند كثير من فقهاء المذهب الحنفي لكن تفسير مدارک چې يو معتبر تفسير دی حنفي المذهب هغه وايي چې آية د ان ارادا فصالاً خو مطلق دی يعني له قيد څخه د قبل الحولين. نو مراد هم مطلق فصال دی که قبل الحولين وي او که بعد الحولين وي الى سنتين ونصف يعني ثلثون شهرا، او مدارک په دې تفسير کې مراعات د مذهب د ابي حنيفه رحمه الله کړی دی کمامر من قبل، او تفسير مظهري رحمه الله ډېر سخت رد پر مدارک والا کړی دی ان شئت فطالع التفسير المظهري والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب.

وَإِنْ أَرَدْتُمْ أَنْ تَسْتَرْضِعُوا أَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِذَا سَلَّمْتُمْ مَا آتَيْتُمْ

او که تاسي اراده وکړئ يعني اې پلرو د صغير، چې تاسي طلب د رضاع وکړئ د خپلو اولادو لپاره يعني د اجنبيه وو ښځو بيله مندو ددوئ يا په سبب ددې چې مندو د رضاع څخه منع وکړه په سبب د مرض يا د ضعف، او يا شيدې وچې سوې او يا يې مزدوري ډېره غوښتل تر بېگانه ښځو يعني د ضرار غرض نه وي له يوه طرفه لما سبق لا تضار والدة الآية. نو گناه نسته پر تاسي چې تاسي ور کړئ وهغو مرضعاتو ته هغه اجرت چې تاسي يې اراده لرئ او د مرضعاتو سره مو وعده کړې وي.

تفريع: نو "ما اتيتم" په دې آيت کې په معنا د ارادې د ايتاء ده مجازاً كما في قوله تعالى ﴿اذا قمتم الى الصلوة فاغسلوا﴾ الآية اى اردتم القيام الى الصلوة او "ما اتيتم" د ماسميتم و وعدتم معهن من الاجرة على الارضاع الى مدة معلومة.

مسئله: تسليم د اجرت قبل الارضاع لپاره د اطمنان د زړو د مرضعاتو دی، او شرط د جواز د استيجار نه دی اجماعاً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بِالْمَعْرُوفِ ۗ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢٣٣﴾

او دا تسليم د اجرت به پر موافق د شرع وي يعني ببله نقصه او ببله احسان اچولو پر مرضعه باندي. او له خداى ﷻ څخه وېرېږئ په عمومي کارو کي خصوصاً په باره کي د اطفالو او د مراضع ددوئ كما بينه الله تعالى في الآيات السابقة، او په دې پوه سئ چي خداى ﷻ پر هر عمل چي تاسي يې کوئ دانا دی يعني عالم دی فلا ينبغي مخالفة احكامه.

فائده: پلار له پکار دی چي د اولاد د رضاع لپاره صالح، ديندار او هوښياره او د ښه نسل مرضعه پيدا كوي، ولي چي شيدې د مرضعې په کوچني کي تاثير کوي، كما ورد في الحديث الرضاع يغير الطباع. وفي التفسير الحسيني:

گر برهنه بره برون آيي — زود در تهمت جنون آيي
جامه ظاهري كه نيست به بر — تو فضيحت شوي ميان بشر
فكر آن كن كه بې لباس ورع — چه كني در مقام خوف وفزع
خويشتن درلباس تقوى دار — تاشوي در دو كون برخوردار

نصيحت: په حديث شريف کي راغلي دي چي يو سړی وعليه الصلوة والسلام ته وويل چي ما هيڅ كله خپل اولاد نه دی مچ کړی، نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل ان الله لا ينزع الرحمة الا من قلب شقي، وورد في الحديث النبوي حب الاولاد ستر من النار كراماتهم جواز على الصراط والاكل معهم برائة من النار. وفي الحديث النبوي ﷺ الصحيح اربع نفقات لايحاسب العبد بهن يوم القيامة نفقة على ابويه ونفقة على افطاره ونفقة على سحوره ونفقة على عياله او كما قال ﷺ.

وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا ۖ

او هغه چي قبض کړه سي روحان ددوئ په مرگ سره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دا ترجمه پر تقدير د صيغة المجهول كماهو القرائة المتواترة وقد قرئ بصيغة المعلوم، نو ترجمه يې داده چې دوئ پوره كړي خپل عمرونه او آجال والمآل واحد والتوفي اخذ الشيئ كاملا فمن مات فقد اخذ عمره وافيا كاملا ، او پرېږدي دوئ مايني جمع د د زوج ده او مايني ته زوج هم وايي او زوجه هم وايي، او زوج يې اكثر دى په استعمال عربي كي حيث ورد في الكلام البليغ اسكن انت وزوجك الجنة، او جمع يې پر لغت د تزكير ازواج راځي، او پر لغت د تانيث زوجات راځي، نو دا مايني به انتظار كوي د خپلو مړو چې مړه سوه په خپلو ځانو سره يعني د نكاح د زوج آخر ځلور مياشتي اولس شپې او يا مضاف د مبتداء سره چې "والذين" محذوف دى اى زوجات الذين يتوفون آه، يتربصن بعدهم والمآل واحد.

پوښتنه: په نحو كي وايي چې عشر بلا تاء د موئث لپاره راځي او د مذكر لپاره عشرة راځي، نو دلته ولي عشر راغلى او سره ددې چې نهار خو مذكر و؟

ځواب: چونكه اول د مياشتو په نېږ د عربو له شپې شخه دى او ليلة موئث وه نو ځكه يې عشر بلا تاء راوړى، او د عربو قانون د ژبې دادى چې يو عدد مبهم راوړي په منځ كي د ليالي او ايامو لكه عشر فيما نحن فيه، نو دوئ غلبه وركوي شپو ته پر ورځو ولا يستعمل في امثلته التذكير قط كذا في المظهري.

فائده: كه څه هم لفظ د آيت يعني ازواجا شامل دى حواملو مايني او غيرها ته لكن دا آيت په حاملو مايني كي چې مېړه يې مړ سي منسوخ دى په هغه آيت سره چې تر دې مذكوره آيت وروسته نازل سوى دى اعني قوله تعالى ﴿و اولات الاحمال اجلهن ان يضعن حملهن﴾ لان الآية المذكورة تعم المطلقات، والمتوفى عنهن ازواجهن، كذا قال ابن مسعود ﷺ وهو مذهب الحنفية، او د عمر ﷺ شخه روايت دى كه مېړه د ښځي پر تخته د غسل پروت وي او دا لنګه سي عدده يې تېره سوه، رواه مالك والشافعي وابن ابي شيبه ح

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

مسئله: د مینځې ماینې عده د وفات دوې میاشتې او پنځه شپې ده بالاجماع.

پوه سه: چي عده د وفات په ابتداء کي د اسلام یو کال وه فنسخت بهذه الآية، فهذه الآية ناسخة لعدة السنة ومنسوخة في حق الحوامل كمامر آنفاً نو ځکه بعض ملایان سوال کوي امتحاناً چي په قرآن کریم کي هغه کوم آیت دی چي ناسخ او منسوخ دواړه یکښي جمع وي فیجاب بهذه الآية.

درویش وایي: چي که څه هم لفظ د تربص په په آیت کي مجمل دی يعنى انها تربص في اى شئ لكن مراد ځندي ځان منع کول دي د بل مېړه د نکاح وهذا الحكم مجمع عليه الامة المرحومة، او بل حکم امتناع د خروج ځخه د بيت الزوج ليلاً مطلقا ونهارا عندنا الا لضرورة لان الضرورات تبيح المحذورات. او دا امتناع واجبه ده پر ښځه چي په عده کي د وفات وي.

پوه سه: چي په عده کي د وفات د مېړه پر ښځه باندي احداد يعني ترک الزينة واجب دی بالاجماع او په عده کي د طلاق رجعي احداد بالاجماع نه دی لازم لجواز وطيها للزوج او په عده د طلاق بائن اختلاف دی په وجوب الاحداد على المطلقة، نو امام ابو حنيفه رحمه الله وايي چي احداد پر واجب دی ولي په تزين کي خو دا جلب د مېړه کوي وجماع ته او جماع ددې حرام دي وقال مالك رحمه الله لايجب الاحداد والتفصيل في كتب الفقه.

پوه سه: چي احداد پر صغيره ښځې چي مېړه يې مړ سي واجب نه دی عند الاحناف، ولي چي دا خو مكلفه بالاحكام الشرعية نه ده ولا على زوجة الميت اذا كانت زوجته من اهل الكتاب لانهم غير مخاطبين بشرائع الاسلام اى احكام الشريعة على المذهب الصحيح كما تقرر في كتب الكلام والفقة.

تفصيل الاحداد: خوشبوی به نه لګوي، ګتمی، ښنګړي او نور د زرو شيان به نه اغوندي، او سترګي به نه توروي او لاسونه او پښي به په نکريزو نه سرې کوي. او وربښميني جامې به نه اغوندي، او د زينت لپاره جوړي سوي جامې به هم نه اغوندي، او سر او مخ به په خوشبوی او بې خوشبويه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تېلو نه غوړوي، حاصل دا چې د زينت د کارو او جامو او زېوراتو ښځه دا ممنوع ده، وفي الحديث الصحيح المتفق عليه عن ام حبيبة ﵂ وزينب بنت جحش ﵂ عن رسول الله ﷺ قال لا يحل لامرئة (نه ده رواه ښځي لره) تؤمن بالله واليوم الآخر (چې ايمان يې وي پر خداى ﷻ او پر ورځ د آخرت) ان تحد على ميت فوق ثلث ليال الا على زوج اربعة اشهر وعشراً (چې احداد به کوي يعني ترک د زينت به کوي پر هيڅ مړي يعني که يې پلار او که يې زوی وغيرهما بالا تر درې شپې، مګر نه پر مېړه څلور مياشتې او لس شپې

پوه سه: چې متوفى الزوج ښځه به د جاهلت له کارو څخه سخت پرهېز کوي، لکه ګريبان څرل، مخ په لاسو وهل او سر خريل كما كان عادة العرب في زمان الجاهلية وعادة هنود الهند اليوم، او داغه رنګه په زوره چغې او بغاري وهل، په حديث مبارک کې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام بېزاري کړې ده له هغه چا څخه چې يو له دغو کارو څخه وکړي لانها من افعال الجاهلية.

فائده: درويش له دې سببه چې موضوع د بحث په دې ځاى کې متوفى الزوج وه نو دا شيان ما ودې ته ممنوع وبلل ورنه اکثره ددغو کارو نه په هر مړي وه نر او ښځه ته ممنوع دي فتفكر في تمييز الامور الخاصة بالمتوفى الزوج والامور العامة.

بدعت سيئه: په ډېرو پښتنو کې خصوصا په کندهار کې دا رواج دی چې په کال کې چې د يو چا په کور کې يو غټ څوک مړسي لکه پلار، مور. او څوان ورور وغيرهم، نو هر وخت چې اول اختر پسله مرګه د هغه مړي راسي، نو قريبان د مړي په ورځ د اختر نر او ښځي نوي کالي كما هو المعتاد في الاعياد نه اغوندي او نه يې ښځي لاسونه سره کوي، او از سر نو د غم او فاتحه خوانی کمبلې اوارې کړې او ټوله شناختګان فاتحه خواني او از سر نو سوګ ورسره کوي، وهذا فعل افحش من افعال الجاهلية وكذا فعل الرافضة والشيعة في يوم قتل الحسين ﵁ كما هو المعلوم لكل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

احد ممنوع جدا ليس لفعلهم ذالک في الشريعة المطهرة سند لا ضعيف ولا قوي ولا في المذاهب لفعلهم المذكور جواز اصلاً.

فَاِذَا بَلَغۡنَ اَجَلَهُنَّ

چي ددوئ يعني متوفى الزوج عده تېره سي.

فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ

نو ګناه نسته پر تاسي اې قريبانو د ښځو کنډيانو، او اې حکامو د شريعت مطهره.

فِيۡمَا فَعَلۡنَ فِيۡۤ اَنۡفُسِهِنَّ

په هغه کارو کي چي دغه کونډيانې يې پخپلو ځانو کي کوي، يعني که زينت کوي او که له کوره وزي او که مېره کوي، ولي چي کونډه د خپل سر ده.

د پښتنو غلط رواج: پوه سه چي د اکثرو پښتنو دا رواج دی چي په کور کي يې کونډه ښځه پيدا سوه خامخوا به دغه کونډه ددغه کور د يو سړي سره نکاح کوي که څه هم هغه سړی ددې ښځي خوښ نه وي، او که کونډې د بل چا سره نکاح وکړه، او يا قريبانو ددې دا بل ځای ورکړه، نو تياره بدي ده او مړي پر کوي.

بِالۡمَعۡرُوۡفِ

يعني هر هغه طريقه چي په شرع کي معروفه وي.

مسئله: له قيد څخه د معروف دا معلومېږي که کونډې خلاف الشريعة کار کاوه کالنکاح بغير الشهود مثلا يا يې د نامحرمه خلګو سره ملاقاتونه درلوده، نو پر قريبانو ددې او حکامو باندي لازمه ده چي دا به منع کوي ولي چي نهي عن المنكر واجب دی، نو که يې دوئ نه کي منع نو دوئ ګناه کاره دي.

وَاللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ خَبِيۡرٌ ﴿۲۳۴﴾

او خدای ﷻ په هغو عملو چي تاسي يې کوئ خبر دی يعني تاسي ته به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جزاء در کړي موافق د عملو ستاسي ان كان خير فخير وان كان شرا فشر.

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُم بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ

او گناه نسته پر تاسي باندي چي تاسي تعریض وکړئ په مرکه کي د ښځو يعني کونډيانو يعني د عدې په شپو کي.

پوه سه: چي "خطبه" بکسر الخاء طلب د نكاح دى چي په پښتو يې مركه بولي، او تعريض داسي الفاظ مستعملول دي چي مخاطب خو په مراد د متكلم پوهېږي لكن حقيقي او صريحي لفظ نه وي، نو صريحي لفظ په طلب كي د نكاح د كونډي دادی ارید ان انکحک زما اراده ده چي ستاسره نكاح وكړم او اورید ان اتزوجک او اخطبتک زما خيال دی چي تاته مركه وكړم. دا له دې سببه روا نه دي لكه نكاح چي په عده كي روا نه ده. نو الفاظ صريحه د نكاح هم نه دي روا، مگر فقهاؤ د تعريض په باره كي عجيبه الفاظ راوړي دي مثلاً كونډي ته په عده كي ووايي چي ته ډېره ښائسته او صالح ښځه يې، او يا ورته ووايي چي زما قصد دی چي نكاح وكړم او يا ورته ووايي چي زما داسي ښځه خوښه ده لكه ستا غوندي، او يا كونډي ته ووايي چي زه ډېر ښه اخلاق لرم او د ماينې سره ښه گذاره كوم او ښه نفقه او كالي وركوم، او يا كونډي ته ووايي چي ستا د نكاح خواهش مندان ډېر دي الى غير ذالک.

أَوْ أَكْنَنتُمْ فِي أَنفُسِكُمْ

او يا تاسي په خپلو زړو كي پټه ساتلې وي چي كونډي زه به دي تر عده وروسته په نكاح كوم، لكن په عده كي به تصريح په نكاح نه ورته كوي.

عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ سَتَذْكُرُونَهُنَّ

او خداى ﷻ خبر دی چي تاسي په زړونو كي ددې كونډيانو سره محبت لرئ او صبر نه سئ خندي كولاى، نو ځكه يې تعريض درته مباح كړی ولا مؤاخذة على الاضمار بل على الاظهار.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلٰكِنْ لَّا تُوَاعِدُوْهُنَّ سِرًّا

لکن وعده مه کویٔ د کوندیانو سره د پټ شي یعني نکاح بالصراحة او یا د وطي بعد العدة والنکاح.

پوه سه: چي سر خو وطي ته وايي، ولي چي وطي خو مېره او مابینه په پټه سره کوي، او وروسته تعبیر له عقد نکاح څخه وګرځېدی لانه سبب للوطي.

فائده: لکن استدار دی له محذوف څخه چي ستذکرونهن دلالت پر کوي یعني فاذکرونهن في القلوب وعرضوهن بالخطبة ولکن لا تواعدوهن آه.

اِلَّآ اَنْ تَقُوْلُوْا قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ۚ

لکن داسي ویلای سئ قول معروف یعني التعریض لا التصریح لانه منهی عنه فلا یکون قولا معروفا.

پوه سه: الا ان تقولوا استثناء مفرغه ده یعني مستثنی منه یې محذوف دی والتقدیر لا تواعدوهن مواعدة ما الا مواعدة معروفة.

وَلَا تَعْزِمُوْا عُقْدَةَ النِّكَاحِ

او تاسي ټینګ قصد مه کوئ پر عقد د نکاح یعني في العدة.

پوه سه: چي ظاهرا که څه هم منهي عنه عزم د نکاح دی الا انه لیس مراد لان العزم في القلب لا مواخذة علیه اجماعا بلکه مراد نهي دی له عقد څخه د نکاح بذکر اللازم وارادة الملزوم لان العزم لازم لعقد النکاح. وهذا النهي ابلغ من النهي الصریح ای لا تعقدوا النکاح کما تقرر في علم المعاني فهو من قبیل قولهم زید طویل النجاد وکثیر الرماد، نو دا قول کاذب نه دی چي زید جګ سړی وي او یا مهمان پرسته سړی وي که څه هم نه توره لري او نه یې بند، او بعض مفسران وایي چي منهي عنه عزم دی لکن نهي تنزیهي دی، لئلا یقع بسبب العزم في المنهي عنه یعني العقد کما ورد في الحدیث النبوي ﷺ من یحوم حول الحمی یوشک ان یقع فیه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حَتّٰى يَبْلُغَ الْكِتٰبُ اَجَلَهٗ

پوه سه: چي كتاب په معنی د مكتوب دی او د مكتوب په معنی مفروض دی چي مراد ځنې عده ده، فالمعنی چي تاسي عقد د نكاح د كوندي مه كوئ تر ځو پوري چي عده وپای ته رسېږي، نو د اجل معنی منتهی ده.

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ فَاحْذَرُوْهُ ۚ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿٢٣٥﴾

او تاسي پوه سئ چي په تحقيق خدای ﷻ خبر دی په هغه شي چي ستاسي په زړه كي و چي عزم د نكاح و د كوندي، په دې آيت كي اشاره ودې ته ده چي دا عزم د نكاح په وخت كي د عدې څه ناڅه مكروه و، او له دې سببه خدای ﷻ وويل چي له خدايه وبېرېږئ يعني عزم د نكاح مه كوئ په عده كي، او په دې پوه سئ چي خدای ﷻ غفور دی يعني د هغه چا چي عزم د نكاح يې په عده وكړی مگر د خدای ﷻ له بېري يې عقد نه وكړی، او خدای ﷻ حلم لري چي گناه كار ته ژر عقوبت نه وركوي، نو مسلمان بايد د خدای ﷻ په حلم خطانه وزي چي گناه ته دوام وركړي، يعني شيطان وسړي ته دا وسوسه ورواچوي چي دا كار كه گناه وای نو به خدای ﷻ تا ته عذاب دركړی وایې "اعوذ بالله من غضب الحليم" بايد مسلمان هغه كار ونه كړي چي په ورځ كي د قيامت له عذابه د آخرت بيا حسرت او پښېماني كوي ولنعم ما قيل في هذا المعنى

چون توانستم نه دانستم چه سود چون بدانستم توانستم نبود

لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ مَا لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ

پوه سه: چي روح البيان وايي چي مراد له جناح څخه په دې آيت كي وجوب المهر دی، يعني طلب د مهر نه كېږي له تاسي څخه، او روح المعاني

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وايي لا تبعة من مهر وهو الظاهر، او بيضاوي هم وايي لا تبعة من مهر يعني طلب د مهر نه در څخه کېږي له تاسي څخه، نو پر دې تقدير معنا د آيت داده چي طلب د ولور نه کېږي له تاسي څخه چي تاسي طلاقي کړئ مابيني تر هغه وخته پوري چي تاسي جماع او وطي نه وي ورسره کړي، او مظهري تفسير د جناح په گناه سره کړی دی حيث قال ولما كان الطلاق ابغض المباحات ذكر ههنا بلفظ لا جناح آه، او روح المعاني او بيضاوي ترجمه د مظهري په قيل سره راوړې ده حيث قال صاحب روح المعاني وقيل كان النبي ﷺ كثيرا ما ينهى عن الطلاق فظن ان فيه جناحا فنفى ذالک بهذه الآية.

پوه سه: چي طلاق قبل الجماع لا بدعة فيه ولو كان في الحيض، نو معنا د آيت د قيل پر مسلک او د مظهري پر تفسير داده چي گناه نسته پر تاسي که تاسي طلاقي کړئ مابيني د مخه تر جماع.

فائده: کلمه د ما مصدري ده او ظرفي ده والزمان محذوف نو تقدير يې داسي دی مدة عدم المسيس قاله ابن الشيخ او روح المعاني او روح البيان د مالم تمسوهن ترجمه داسي کړې ده اى غير مماسين ومجامعين آه.

درويش وايي: چي ددې بناء پر دې ده چي کله د ما مصدري ده او مصدر په معنا د اسم فاعل دی او حال دی له ضميره څخه د "طلقتم" ومآل المعنيين واحد كما لايخفى.

اَوْ تَفْرِضُوْا لَهُنَّ فَرِيْضَةً ۚ

پوه سه: چي ددې آيت تقدير او ترجمه پر قياس ددې قول د عربو دی لا لزمنک او تعطيني حقي فانهم قالوا ان كلمة او في الكلام المذكور اما بمعنى الى الجارة و ان فالمعنى لالزمنک الى ان تعطيني حقي، وقيل بمعنى حتى ان فالعمنى لالزمنک حتى ان تعطيني حقي، وقيل بمعنى الا ان فالمعنى لالزمنک الا ان تعطيني حقي فالمعنى ههنا الا ان تفرضوا لهن فريضة عند العقد اى مهرا ، وحاصل المعنى انه لا تبيعة على المطلق قبل المسيس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والجماع بمطالبة المهر عن كل حال الا في حال تسمية المهر فان عليه حينئذ نصف المهر المسمى وفي عدم المهر عليه المتعة لا نصف المهر واما اذا كان الطلاق بعد المسيس والجماع ففي صورة تسمية المسمى عليه تمام المهر المسمى وفي صورة عدم التسمية وجب عليه تمام مهر المثل.

فائده: لفظ د فريضة فعيلة دى بمعنى المفعول اى مفروضة والتاء فيه للنقل من الوصفية الى الاسمية اى المهر فهو منصوب على المفعولية.

فائده: وجوب د ټوله مهر مسمى بعد الجماع په دې قول د خداى ﷻ ثابت دى "فآتوهن اجورهن بالمعروف" اى مهورهن او وجوب د مهر مثل عند المسيس والجماع مع عدم تسمية المهر عند العقد ثابت دى په اجماع د امت.

پوه سه: چي مظهري ددې آيت "اوتفرضوا الخ" موافق د جمهور مفسرينو پر رقم ترجمه کړې ده، او د مظهري پر تفسير چي ده د جناح ترجمه په گناه سره کړې وه دا ترجمه مذکوره نه صحيح کيږي کما لايخفى. بلکه کلمه د "او" په معنى د "لکن" ده او مستثنى منقطع ده فالمعنى گناه نسته پر تاسي لکن که تاسي مهر په وخت کي د عقد ټاکلى و نو پر تاسي نصف د مهر مسمى دى.

درويش وايي: چي داسي تقدير مبني پر دې دى چي "او" په معنى د "لکن" راتلاى سي ولم يقل به احد. او بل داسي تقدير مناسب له بلاغت سره نه دى ولهذا اورد المحققين من المفسرين و تفسير المظهري بلفظ قيل.

پوښتنه: عبيد الله تاخو ددې آيت تقريبا ټوله ترجمه په عربي عبارت وکړه، نو عوام او بعض امامان به له دې بيان څخه ستا څه فائده واخلي؟

ځواب: هو! لکن که د ايت تفسير ما په پښتو ژبه هم کړى وايى، نو هم دغو دوو ډلو هيڅ فائده نه سواى پر اخستلاى ولهذا اخترت العبارة العربية بعبارات سهلة لينتفع بها اهلها.

وَمَتِّعُوهُنَّ

او دوى ته يعني مطلقاتو قبل المسيس ته ورکړئ ستاسي له مالو څخه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

هغه کالي چي دوئ نفع پر واخلي چي يو پراخه قميص دی چي ددې تولـه
بدن په پټ سي، او يو پوړنی دی چي ملحفه يې بولي چي ښځه لـه کوره
ووزي پر سر کوي يې او بل خمار بولي چي ښځه يې په کور کي پر سر کوي
پوښتنه: څه حکمت الهي دی په ورکړه کي د متعې ودغي مطلقې تـه او
سره له دې چي مېړه هيڅ نفعه نه ده پر اخستې؟
ځواب: دا متعه جبيره ده هغه وحشت چي مېړه ودې ته پېښ کړی دی په
طلاق کي.
مسئله: دا متعه واجبه ده په نېز د امام ابو حنيفه، امام شافعي او د امام احمد
رحمهم الله ويدل على الوجوب قوله تعالى ﴿ومتعوهن﴾ لانـه امر والامر للوجوب
اذا لم يكن هناک قرينة يصرفه عن الوجوب كما تقرر في اصول الفقه. او ددې
وجوب تائيد کوي قوله تعالى ﴿حقا على المحسنين﴾ بكلمة على الالزام.
فائده: قولـه تعـالى "ومتعـوهن" عطف دی پـر محـذوف ای فطلقـوهن
ومتعوهن.
فائده: دا درې جامې به دومره قيمت لري چي تر نصف مهر مثـل بـه بالا
نه وي او تر پنځه درهمه به کمي نه وي.

عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ

پـر خاونـد د وسـعة او د غنـی پـه اندازه د غنـی دده متعـه او پـر فقير
مسکين مېړه پر اندازه د حال دده متعه ده.
پوه سه: چي تقدير سابق د متعه پـه قول د ابن الهمام مروي عن عائشة
وابن عباس وسعيد بن المسيب وعطاء والشعبي رضي الله عنهم. او بعض
امامان وايي چي تقدير د متعي مفوض ورايه ته د حاکم الوقت دی.

مَتَاعًا بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِينَ ﴿٢٣٦﴾

او دا متاع ده حق پر محسنينو خلګو.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

پوه سه: چي متاعاً مفعول مطلق دی د "متعوهن" او "حقا" منصوب دی په فعل محذوف سره ای حق حقاً.

درویش وایي: چي مظهري داسي ویلي دي چي اعتبار د متعي په حال پوري د ښځي دی عند ابي حنیفة رحمه الله لکن درویش وایي چي دا روایت د کرخي رحمه الله دی والصحیح من المذاهب ان الاعتبار بحال الزوج کما یدل علیه قوله تعالی علی الموسع قدره الآیة.

وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ

او که تاسي طلاقي کړئ ښځي یعني مایني د مخي تر دې چي تاسي ددوئ سره جماع کړې وایی، او حال دا و چي تاسي فرض کړی و یعني ټاکلی و ددوئ ته فریضه یعني ولور، نو پر تاسي لازم او واجب دی نیمی ولور مفروض.

اعراب: ان شرطیه دی او "فنصف ما فرضتم" یې جزاء ده من قبل متعلق په ماقبل فعل پوري دی "واو" په قد فرضتم کي لپاره د حال دی او لفظ د "نصف" چي مضاف و "مافرضتم" ته دی مبتداء ده او خبر یې محذوف دی ای علیکم.

مسئله: مذهب د جمهورو امامانو دادی چي سره د نصف مهر وجوب متعه واجبه نه ده او داغه نصف مهر په ځای کي متعه ولاړ دی، ولي چي بضع د ښځي ودې ته سالمه پاته سوه صرف د ایحاش الزوج دې لره په سبب د طلاق متعه واجبه وه په صورت سابقه کي او په دې مسئله کي خو دفع د ایحاش ددې په نصف مهر سره وسوه فلایجب المتعة، البته علماء وایي چي په دې صورت کي متعه مستحب ده.

مسئله: که قبل المسیس وبعد فرض المهر یو له مېړه او مایني مړه سي بیا نو له مهر مسمی واجب دی، لما قال الفقهاء ان الموت کالدخول في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تقرير المسمی، او که مهر مسمی نه وي نو بيا مړ سو تو له مهر مثل واجب دی.

إِلَّآ أَن يَعۡفُونَ

مګر نيمې ولور هم نسته پر مېړه که مطلقاتو ماينو مېړه ته عفوه وکړه د خپل نصف مهر المستحق لهن، نو ټوله ولور و مېړه ته راجع سو.

أَوۡ يَعۡفُوَاْ ٱلَّذِي بِيَدِهِۦ عُقۡدَةُ ٱلنِّكَاحِۚ

او يا عفوه وکړي هغه څوک چي په لاس کي دده غوټه د نکاح ده.

پوه سه: چي مراد "بالذي بيده آه" مېړه دی. يعني چي مېړه ټول مهر مسمی په وخت کي د عقد ماينې ته ورکړی وي. لکن مېړه قبل المسيس ماينه طلاقه کړه، نو خو لازما بايد ښځه نيم ولور بيرته ور رد کړي مېړه ته لکن مېړه هغه نيمې ولور چي دده مستحق ور وه يې بخښي ماينې ته نو ټوله ولور د ماينې سو.

درويش وايي: چي دا تفسير يعني بالزوج مذهب دی د ابو حنيفه رحمه الله او قول جديد صحيح د امام شافعي رحمه الله هم دی، وهذا التفسير مروي عن علي رضي الله عنه وابن عباس رضي الله عنه او ګڼ شمېر تابعين هم ودې تفسير ته تللي دي، په حديث کي د جبير بن مطعم رضي الله عنه چي د ماينې پوره ولور ور کړي په وخت کي د عقد لکن قبل المسيس يې طلاقه کړه، نو ولور يې ټوله ماينې ته ور پرېښو او داسي يې وويل انا احق بالعفو، رواه البيهقي رحمه الله. او امام مالک رحمه الله وايي چي مراد له الذي بيده عقدة النکاح ښځه ولي او قريب د ماينې دی. يعني هغه ولي عفو د نيم ولور مېړه ته د ښځي وکړي، او دا قول قديم د شافعي رحمه الله هم و چي ده رجوع څني وکړه، او د بعض تابعانو قول هم دی، موږ وايو چي مهر خو خالص حق د ښځي دی نو بل چاته تصرف نه دی پکښي روا، ولهذا لايجوز للولي هبة مهر المرئة التي هو وليها قبل الطلاق بالاجماع، نو تاويل د آيت مذکوره بېله زموږ د قول نه دی روا کذا في روح المعاني والمظهري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَأَن تَعْفُوٓا أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ۚ وَلَا تَنسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢٣٧﴾

پوه سه: چي "ان تعفوا" محلا مرفوع دی مبتداء ده واقرب للتقوی يې خبر دی او مخاطب په آيت نر او ښځي دواړه دي وفيه تغليب المذكر علی المؤنث والمعنی چي تاسي يا نر يا ښځي عفو وكړئ د نصف المهر نژدې د خدای وېري ته، او تاسي مه هېروئ فضل او احسان تر خپل منځ يعني يا دي نر احسان وكړي پر ښځه چي نصف المهر دي ور پرېږدي، او يا دي ښځه پر نر احسان وكړي چي نصف مهر دي نه خندي غواړي، او په تحقيق خدای ﷻ ستاسي په عملو دانا او خبر دی او علم پر لري، فيجازيكم باعمالكم، وفي الحديث الصحيح النبوي ﷺ كفی بالمرء من الشح ان يقول اخذ حقي لا اترك منه شيئا. كافي ده سړي لره له بخل څخه چي دا وايي چي زه خپل حق اخلم او هيڅ شی له خپل حقه څخه چاته نه پرېږدم، يعني بايد مسلمان احسان د بل مسلمانه سره په نظر كي ونسي او څه ناڅه تر خپل حق ومسلمان ته ورتېر سي، كه مسلمان د خدای ﷻ د بندګانو سره احسان كوي په دنياوي معاملاتو او پورو كي، خدای ﷻ به له ده سره احسان وكړي په اخروي معاملاتو كي بلك ګاهي په دنياوي معاملاتو كي هم احسان ورسره وكړي.

حَٰفِظُوا۟ عَلَى ٱلصَّلَوَٰتِ

تاسي محافظت وكړئ پر خپلو لمونځو په اوقاتو معلومه وو كي او همېشه توب وكړئ پر دغو لمونځو او اركان او واجبات ددغو لمونځو هم پر ځای كوئ.

پوه سه: چي مراد له دغو لمونځو څخه په اتفاق د مفسرانو ه دغه پنځه فرضي لمونځونه دي چي په نورو آياتو سره اشارةً راغلي دي او په نورو احاديثو متواتره و سره صراحةً معلوم سوي دي.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

مسئله: په اجماع او اتفاق د امت مرحومه دغه پنځه لمونځونه فرض قطعي دي چي منكر د يوه يا د ټولو كافر دى، او تارک الصلوة المذكورة عمدا بلا عذر په نيز د امام احمد كافر دى، او په نيز د امام مالک او امام شافعي ؒ كافر خو نه دى لكن طلب د توبې دي څندي وكړه سي كه يې توب وكښل خو خبره خلاصه سوه، او كه يې توبه نه كښل ودي وژل سي، او په نيز د امام اعظم ابو حنيفه ؒ وژني دې نه بلكه بندي دي يې كړي چي يا توبه وكاږي او يا په بنده خانې كي مړ سي.

يوه سه: چي په فضائلو ددغو پنځو لمونځو احاديث كبيره په صحاح سته او په كتابو د سنن نبويه وو موجود دي چي د ټولو بيانول به منجر و ډېر لوى بحث ته وګرځي، نو پر دوو حديثو چي يو يې متفق عليه د مسلم او بخاري دى وهو هذا عن ابي هريرة ؓ قال قال رسول الله ﷺ «ارئيتم» تاسي خبر راكړئ «لو ان نهرا بباب احدكم يغتسل فيه كل يوم خمسا» كه چيري يوه واله وي په دروازه كي د يوه ستاسي چي دى په هغ واله كي په ورځ كي پنځه واره غسل كوي «هل يبقى من درنه شيئ» آيا پاته به سي له خيرو څخه يعني پر بدن دده يو شى «قالوا لا يبقى من درنه شيئ» صحابه كرامو ؓ وويل چي نه پاتېږي له خيرو څخه دده هيڅ شى «قال فذالک مثل الصلوة الخمس» نو عليه الصلوة والسلام وويل چي دغه دى مثال د پنځو لمونځو «يمحوالله بهن الخطايا» چي محو كوي په دغو پنځو لمونځو ګناهونه د مصلي، او بل حديث دى چي روايت يې احمد، ابو داوٗد، مالک او نسائي رحمهم الله كړى دى وهو هذا عن عبادة ثابت ؓ قال قال رسول الله ﷺ خمس صلوات افترضهن الله تعالى" پنځه لمونځونه دي چي خداى تعالى فرض ګرځولي دي يعني پر مسلمانانو «من احسن وضوئهن» كه چا ښه اودس ددغو لمونځو لپاره تازه كړى يعني پر شريعت برابر «وصلاهن لوقتهن» او اداء يې كړه دغه لمونځونه پر خپل وخت باندي «واتم ركوعهن وخشوعهن» او پوره يې كړه ركوع ددغو لمونځو وقس عليه السجود وغيره من اركانها وواجباتها او په عاجزى د زړه يعني په حضور

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

القلب سره ﴿كان له على الله عهدا ان يغفرله﴾ پر خداى ﷻ دى وعده لري چي گنهونه به يې وروبخښي ﴿ومن لم يفعل فليس على الله عهدا ان شاء غفرله وان عذبه﴾ او كه دا مذكوره كارونه ده ونه كړه نو ده لره عهد الهي نسته بلكه ان شاء بخښنه به ده ته وكړي ددغو نقائصو او كه يې اراده سي دى به په عذاب كړي په دغه نقائصو كي.

وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى

پوه سه: چي دا عطف د عام دى پر خاص باندي لمزيد الاهتمام بشان هذه الصلوة كماهو القانون الكلي في عطف الخاص على العام في لسان العرب.

پوه سه: چي په تعين كي د الوسطى ډېر اقوال دي (١) اول مذهب دى د حنفيه او شافعيه رح چي صلوة وسطى د مازديگر لمونځ دى وهو المروي عن علي والحسن وابن عباس وابن مسعود ﷺ وخلق كثير (٢) د ماپښين لمونځ دى (٣) د ماښام لمونځ دى (۴) د ماخستن لمونځ دى (۵) د سهار لمونځ دى (۶) صلوة والوتر دي (٧) د څاښت لمونځ دى (٨) د كوچني اختر لمونځ دى (٩) د لوى اختر لمونځ دى (١٠) د تهجد لمونځ دى (١١) د جمعي لمونځ دى (١٢) صلوة الخوف دى (١٣) د جماعت لمونځ دى، په روح المعاني كي ددغو اقوالو تر نقل وروسته يې داسي ويلي دي وقيل وقيل.

درويش وايي: چي اكثره فقهاؤ او محدثينو او مفسرينو ودې ته ترجيح وركړې ده چي صلوة الوسطى د مازديگر لمونځ دى، وقد اطال الكلام فيها صاحب روح المعاني ونسب الى الامام الاعظم ﷺ خلاف ما عند عامة الحنفية وهو انها الظهر.

پوه سه: چي وسطى كه صفت مشبه سي نو معنا يې داده چي متوسط لمونځ په منځ كي د پنځو لمونځو، نو هغه د مازديگر لمونځ دى لانها متوسطة بين صلاتي الليل اى المغرب والعشاء وصلوتي النهار اى الفجر وظهر. او كه وسطى افعل تفضيل سي يعني مونث د اوسط چي معنا يې افضل دى قالوا وسط الشئ افضله واعدله، نو پر دې تقدير هم د مازديگر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لمونځ دی وسبب فضلها دادی چي عام خلګ په خپلو تجاراتو او کسبو اخته وي نو په داسي وخت کي لمونځ بلا شک افضل دی ولذالک قال رسول اللهﷺ من فاتته صلوة العصر فکانما وتر اهله وماله د حدیث حاصل دادی چي سړی باید د قضاء کولو څخه د صلوة العصر دونه حذر وکړي لکه د هلاک څخه د اهل او مال، ویدل علیه ما ورد في الحدیث الطویل چي علیه السلام په غزاء کي د احزاب چي د مازدیګر لمونځ ځندي قضاء سو داسي یې وویل «شغلونا» کفارو موږ مشغوله کړو «عن صلوة الوسطی صلوة العصر ملا الله قبورهم وبیوتهم نارا» رواه البخاري ومسلم، او بل دلیل چي صلوة الوسطی د مازدیګر لمونځ دی هغه حدیث د ابي یونس دی چي ازاد کړه سوی مریی د سیدنا عائشةؓ و، دی وایي چي ماته عائشةؓ وویل چي ماته مصحف شریف راولیکه او چي دغه آیت ته یعني صلوة الوسطی ته ورسیدې ما خبره کړه، نو زه چي آیت مذکوره ته ورسېدم دامي خبره کړه نو دې وویل چي داسي نوشته کړه "حافظوا علی الصلوات والصلوة الوسطی وصلوة العصر" دې وویل چي ما دغسي د علیه الصلوة والسلام څخه اورېدلي دي رواه مسلم.

پوه سه: چي په حدیث کي د براء بن عاذب راغلي دي چي ده وویل نزلت هذه الآیة حافظوا علی الصلوات وصلوة العصر، نو څه موده موږ دغه آیت هم پر دغه ډول وایه او بیا خدایﷻ دا آیت نسخ کړی او په ځای کي ې داسي نازل کړی، حافظوا علی الصلوات وصلوة الوسطی رواه مسلم.

سوال: له حدیث څخه د عائشةؓ چي هم دا اوس تېر سو دا معلومېږي چي صلوة وسطی غیر د صلوة العصر څخه دی لان العطف یقتضی التغایر؟

ځواب: دا خو عطف تفسیري دی نو تغایر نه غواړي.

فائده: بعض مفسران وایي چي صلوة وسطی یو لمونځ دی د شبانه روزي پنځو لمونځو څخه لکن خدایﷻ مبهم کړی تاچي مسلمانان په طلب کي د صلوة وسطی پر ټولو لمونځو دوام وکړي، او دا مفسران وایي چي دا ابهام داسي دی لکه ابهام د لیلة القدر او یا اسم اعظم یا ساعت د اجابت د جمعې د ورځي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي دا مذهب خلاف دی د احادیث مذکوره سابقاً څخه او اکثره علماء هم ددې مذهب پر خلاف دي والله اعلم بالصواب في کل باب واليه المرجع والمآب.

وَقُومُوا لِلَّهِ قَٰنِتِينَ ﴿۲۳۸﴾

درویش وایي: چي تفسير ددې آیت هم معرکة الآراء دی، روح البيان صرف دا قدر ویلي دي چي قنوت ذکر ته وایي یعني تاسي په ولاړه کي ذکر کوي چي مراد څندي قرآن دی، او بل تفسير ده دا کړی دی چي په خشوع او عجز وخدای ﷻ ته درېږئ په لمانځه کي یعني شا وخوا مه ګورئ په شګو کي لاس مه وهئ او په امورو کي د دنیا فکر مه وهه الا ناسیا انتهی، او روح المعاني تفسير په مطيعين سره کړی وهو المروي عن ابن عباس ؓ او بل تفسير يې دا کړی دی چي لمونځونه پر احسنه وجه پای ته رسوئ چي خلل يې په هيڅ شي د فرائضو او واجباتو او سنتو او مستحباتو رانه سي، وهذا صلوة الکاملين المستغرقين في محبته جل سلطانه. او امام بخاري ؒ يې تفسير په ساکتين کړی دی.

درویش وایي: چي دا تفسير احسن التفاسير دی او موافق له هغه حديث سره دی چي بخاري او مسلم وجماعة المحدثين يې روايت کړی له زيد ابن ارقم ؓ څخه چي موږ په زمانه کي د عليه الصلوة والسلام يو له بله سره خبري کولې چي پر بغل به يې ولاړ و په لمانځه کي حتی نزل قوله تعالی وقوموا لله قانتين، نو موږ عليه السلام امر کړو په سکوت په لمانځه کي ونهينا عن الکلام. او تفسير مظهري دا تفسير اول ذکر کړی او دليل يې حديث د زيد بن ارقم ؓ راوړی دی او اصحاب د امام شافعي ؒ په دعاء قنوت تفسير کوي، او نور تفاسير ضعيفه يې هم راوړي او بيا يې رد کړي دي ان شئت فارجع الی التفسير المظهري وتفسير روح المعاني.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَاِنۡ خِفۡتُمۡ فَرِجَالًا اَوۡ رُكۡبَانًا

پوه سه: چي رجال جمع د راجل ده لکه صحاب جمع د صاحب د یا قیام جمع د قائم ده یا نیام جمع د نائم ده او رکبان جمع د راکب ده.

فائده: امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله په دغه آیت سره دلیل وایي چي لمونځ په حال کي د مسابقه او جنگ روا دی یعني جنگ به هم کوي او لمونځ هم، او امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله وایي چي لمونځ په حال کي د مشي او مسابقې نه دی روا او دا آیت دلیل د ماقال الشافعي واحمد نه سي کېدای ولي چي معنی د راجل خو ماشي نه ده بلکه معناه القائم علی الرجلین.

پوښتنه: په صلوة خوف کي ولي بدلي ده د مسلمانانو غازیانو او تگ راتگ یعني چي په حدیث کي د بخاري او مسلم او ټولو صحاح ستة وو داسي ترتیب د صلوة خوف راغلی دی چي امام دي مجاهدین دوې ډلي کړي یوه ډله دي مخامخ ودښمن ته ودروي او بله ډله دي امام له څانه سره پر لمانځه ودروي، نو چي دې ډلي د امام سره یو رکعت په جماعت وکړی دا ډله دي ولاړه سي د اولي ډلي په ځای کي دي مقابل العدو ودرېږي او هغه مخنی ډله دي راسي د امام سره دي په جماعت دوهم رکعت د جماعت وکړي کما سیجیئ بیان الکیفیات المختلفة لصلوة الخوف في تفسیر سورة النساء ان شاء الله تعالی؟

ځواب: پر هغه فعل چي شرعا ثابت سي لکه مشي په صلوة الخوف کي چي د رایه او د عقل دخل نه وي پکښې پر هغه د بل فعل قیاسول نه دی روا کالصلوة في حال المسابقة کما تقرر في اصول الفقه.

سوال: چي د سړي په لمانځه کي اودس مات سي نو ولي مشي لاجل الوضوء ورته روا دي؟

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ځواب: هغه مشي خو هم شرعا ثابت دي وهذا المشي اهون وادنی حالا دي تر مشي په حال کي د لمانځه په وخت کي د جنګ فلا یجوز قیاس الاعلی علی الادنی کما في کتب الفقه والاصول.

مسئله: که خوف د دښمن سخت و خلګو ته روا دی چي د سپر تيا په حالت کي لمونځ وکړي او په رکوع او سجده کي اشاره کوي او که توجه وقبلي ته نه وه ورته ممکنه نو پر هر طرف د قدرت يې لمونځ روا دی، لکن امام اعظم رحمه الله وايي چي په جماعت سره په داسي حالت کي لمونځ نه دی روا، او امام محمد رحمه الله وايي چي په جماعت به لمونځ کوي، قال في الهداية وليس لصحيح لانعدام الاتحاد في المكان آه.

فائده: فان خفتم شرط دی او جزاء يې محذوفه ده ای فصلوا او رجالا او رکبانا حال دی له ضمیره څخه د صلوا فافهم.

تبصره: درويش وايي چي ددغه آيت څخه او له اختلاف څخه د امامانو د مذاهبو اربعه وو په تفسير کي ددې آيت بايد مسلمانان لوړ مقام او لوی فضيلت د صلوات خمسه وفهموي، حتی چي تاسي وارېده چي بعض ائمه په حال کي د جنګ او مسايقه او د تګ او ځغاستي په حال کي لمونځ روا بولي، او مستقبل القبلة وغيرها يې هم روا بولي چي حتی بعض امامان د رکوب په حال کي د جماعت لمونځ روا بولي، نو که د لمانځه يو وخت ترک روا وايی په داسي خوف کي به روا وايی، او که ترک د جماعت په يو وخت کي روا وايی نو بايد باتفاق الائمة په داسي حالت کي د خوف د جماعت کول ناجائز وايی.

درويش وايي: که زه هغه آيات قرآنيه او احاديث نبويه چي په صحاح سته وغيرها کي راغلي دي راغونډ کړم بايد مستقل جلد ته د تفسير ځان آماده کړم، لکن په ضرورت ددې چي جلدونه د تفسير به ببخي ډېر سي دا جمع الآيات القرآنيه والاحاديث النبويه مي صرف نظر کړه، عاقل لره اشاره کافي ده او جاهلانو تارکانو لره د لمونځو او تارک الجماعة کسانو لره مجلدات په دې باب کي فائده نه کوي، سعدي رحمه الله

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

روز محشر که جان گداز بود　　　اولین پرسش نماز بود

پوه سه: چي پنځه لمونځونه پر منزله د مهمانی. د رب العالمین دي لعباده المؤمنین، نو لکه چي په ضیافت کي چي رنګارنګ خوراکي شیان راوړه کېږي او د هر طعام جلا جلا رنګ وي او جلا جلا خوند وي. داغه رنګه لمونځ مشتمل دی پر رنګ رنګ واجباتو او سننو وغیرها چي د هر یوه جلا جلا خوند دی عند اهل الله، او د تکفیر د ګنهو جلا جلا فوائد پکښي نغښتي دي.

فائده: هغه مسلمان چي عذر شرعي نه لري او اذان اوري ترک د جماعت ورته نا روا دی لانها سنة موکدة غایة التاکید حتی که په یو کلي او ناحیه کي لمونځ په جماعت نه کوي امام المسلمین به پر هغه کلي او ناحیه مسلح حمله کوي لانها من شعائر الاسلام، او که یو سړی تارک الجماعة وي بالکلیة قاضي الوقت دې تعزیر ورکړي او شاهدي دې نه قبلوي، او امام المسجد او همسایه ګان د تارک الجماعة ګناه کار دي چي وده ته دعوت د جماعت نه ورکوي.

فَإِذَآ أَمِنتُمۡ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمۡ تَكُونُواْ تَعۡلَمُونَ ﴿٢٣٩﴾

چي تاسي په امن کي سئ یعني خوف د دښمن مو ولاړ سي بیا نو ذکر د خدای ﷻ کوئ. یعني لمونځونه کوئ پوره سره له ټولو شرائطو او ارکانو او واجباتو او مندوباتو. یعني په حال کي د امن، نو بیا داسي لمونځونه مه کوئ لکه په حال کي د عذر د دښمن چي مو کوله لانه قد زال عذرکم فارجعوا الی اصل الصلوة الشروعة لکم لکه چي تاسي ته تعلیم کړی و خدای ﷻ د لمانځه پر ژبه د علیه الصلوة والسلام. کلمه د "ما" مصدریه ده هغه شی چي تاسي علم نه پر درلودی یعني قبل تعلیم الله چي کیفیت د لمانځه دی من تکبیر الافتتاح الی اخیر الصلوة علی الوجه المشروع المعهود.

Maktaba Tul Ishaat.com　Scanned by CamScanner

وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا ۚۖ وَّصِيَّةً لِّاَزْوَاجِهِمْ مَّتَاعًا اِلَى الْحَوْلِ

او هغه كسان چي مره سي يعني قريب الموت سي له تاسي څخه اې نرانو، او پرېږدي دي ماينې، نو دوئ به وصيت كوي لپاره د ماينو.

پوه سه: چي "صية" منصوب دى په فعل مقدر سره اى فليوصوا وصية ددوئ نفع شيان يعني نفقه او كالي تر يوه كاله پوري له وخته څخه د مرگ.

پوه سه: چي "مطاعا" منصوب دى په مقدر فعل يعني مفعول مطلق دى والتقدير ومتعوهن متاعا، او يا مفعول به د فعل محذوف دى اى فليوصوا متاعا.

غَيْرَ اِخْرَاجٍ ۚ

او له كوره به يې ورثه د ميت مېره نه باسي.

پوه سه: چي غير اخراج حال دى له "زوجات" څخه او اخراج په معنا د مفعول دى اى حال كون الزوجات غير مخرجات، او يا "غير" منصوب دى په نزع د حرف جر اى من غير اخراج، وحاصل هذه الآية چي د سړي د زكندن وخت ورسېږي پر ده واجب ده چي دى به وصيت كوي وورثه ووته خپل چي زما ماينې ته زما له ماله نفقه او كالي وركوئ تر تمامه د كال پورې، او له كوره به يې نه باسئ، لكن دا حكم په ابتداء كي د اسلام و او په ايت الميراث سره منسوخ سو، ولهذا قال عليه الصلوة والسلام لا وصية لوارث، او په آيت الميراث كي خو ماينه وارث د مېړه يا په ربع المال سره عند عدم الولد للميت ذكرا كان او انثى منها او من غيرها، او يا په ثمن سره ده عند وجود الولد مطلقا للزوج الميت، نو په هغه وخت كي عده د متوفى الزوج ښځي هم يو كال او احداد يعني ترک الزينة يې هم يو كال واجبه و. ثم كما نسخت الوصية لهن بآية الميراث كذالک نسخ العدة الحولية والاحداد بقوله تعالى ﴿اربعة اشهر وعشرا﴾.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَإِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِي مَا فَعَلْنَ فِي أَنْفُسِهِنَّ مِنْ مَّعْرُوفٍ

او كه دغه كونډيانې ووتلې له كوره څخه د مخه تر كال يعني بېله اخراجه د ورثه ووء، نو ګناه نسته پر تاسي اې حاكمانو د اسلام او يا مخاطب اولياء د ميت دي په هغه كار كي چي دغه كونډيانې يې كوي په ځانو كي من ترك الحداد والتزيين، او يا مېړه كول پسله څلورو مياشتو او لسو شپو د عدې، او هغه كار چي دوئ كوي معروف في الشرع به وي،

وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٤٠﴾

او خداى ﷻ غالب دى چي څوک دده له حكمه څخه مخالفت وكړي له هغه څخه انتقام واخلي، او حكيم دى چي د مصالحو سره د عبادو برابر كار او حكم كوي، فلاينبغي للمؤمن ان يخالف حكمه تعالى لانه مصلحة محضة وفائدة خالصة في الدنيا والآخرة.

وَلِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ ﴿٢٤١﴾

او اجب دى د مطلقاتو ښځو لپاره د نفع شى ددوئ يعني انفقه والكسوة په معروف سره يعني على الموسع قدره وعلى المقتر قدره.

پوه سه: چي حقا مفعول مطلق دى د فعل محذوف اى حق حقا پر هغه كسانو چي متقين وي له شرک څخه يعني مسلمانان وي.

فائده: بعض مفسران وايي چي مراد له متاع څخه په دې آيت كي نفقه د ايام د عدې ده.

پوښتنه: ددې آيت او د دمخه آيت يعني "والذين يتوفون الآية" څه مناسبت دى چي سبب د عطف ګرځېدلى دى؟

ځواب: مناسبت يې دادى چي په دمخه آيت كي متوفى الزوج ښځه د مېړه په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حقوق کي یو کال په عده کي ناسته وه او مطلقه ښځه هم په حق کي د میړه په عده کي ده فیجب الانفاق في کلا الصورتین في مال المیت او في مال المطلق

پوه سه: چي حکم د وجوب الانفاق اتفاقي دی که طلاق رجعي و او که طلاق بائن و، د امام اعظم رحمه الله په نیز هم نفقه د ایام د عدې واجب ده په دلیل ددې چي لفظ د مطلقاتو عام دی ولقوله تعالی في حق المطلقات ﴿اسکنوهن من حیث سکنتم من وجدکم﴾

سوال: په دې آیت کي خو صرف سکنی ذکر سوې ده او د نفقه ذکر نسته؟

ځواب: دغه آیت په قرائت کي د ابن مسعود رضي الله عنه داسي راغلی دی چي نبي علیه الصلوة والسلام ووېل چي المطلقة ثلاثا لها السکنی والنفقة رواه الدار قطني رحمه الله.

كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٢٤٢﴾

دغه رنګه یعني احکام د طلاق او د عدې بیانوي خدای جل جلاله وتاسي ته آیات خپل.

پوه سه: چي په صیغه کي د مضارع اشاره ودې ته ده چي وروسته به هم خدای جل جلاله داسي دلائل او احکام بیان کړي چي ستاسي به د دنیا او آخرت فائدې پکښي درج وي الی ان یتم الدین المبین الاسلام، کما قال الله تعالی عند ذالک ﴿الیوم اکملت لکم دینکم واتممت علیکم نعمتي ورضیت لکم الاسلام دنیا﴾ قال المولوي المعنوي في المثنوي

کشتي بې لنګر آمد مرد شر | که ز باد کژ نیابد او حذر
لنګر عقلست عاقل را امان | لنګری دریوزه کن از عاقلان

درویش وایي: چي عاقل سړی په نیز د اهل الله هغه سړی دی چي له اعراض ځخه د دنیا غافله وي او په اخروي امورو کي غریق او مشتغل وي شدائد د دنیا پر غاړه وړي الی ان یصل الی الباري جل جلاله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حکايت: شقيق بلخي قدس سره چي د تاريخ په پاڼو راغلی ولي الله دی، ده يو وخت درې ورځي مسلسل کوم خوراکي شی نه کړی پيدا چي وه يې خوري، نو چي له عبادته ضعيفه سو، نو لاسونه يې د اسمان پر خوا پورته کړه او وه يې ويل يا رب اطعمني، نو چي له دعاء څخه فارغه سو يو سړی يې وليدی چي شقيق ته گوري شقيق ﷫ چي هغه سړي ته وکتل هغه سړي السلام عليکم ورته ووايه او وروسته تر سلام يې ورته وويل يا شيخ تعال معي يعني ښځه له ما سره راځه، نو شقيق ﷫ ورسره را رهي سو، نو هغه سړي دی يوې خوني ته ورووستی چي په هغه خونه کي پر مېزو قسم قسم طعامونه پراته وه او هورې بعض مريان او مينځياني ولاړې وې د خدمت لپاره، نو شقيق ﷫ چي د درو ورځو وږی و په ښه مزه يې ووډی، وخوړله او هغه بل سړی ورته ولاړ دی، نو شقيق ﷫ چي موړ سو ولاړ سو يعني له خوني څخه ووتی، هغه بل سړي ورته وويل الی اين يا شيخ چېري ځي ښځه؟ شقيق ﷫ ورته وويل: چي ځم مسجد ته د خدای ﷻ عبادت کوم هغه سړي ورته وويل يا شقيق پوه سه چي دا سرای ستا دی او دا مريان او مينځياني هم ستا دي او زه هم ستا مريی يم په دې معنا چي زه ستا د پلار مريی وم زه يې په تجارت پسې له ډېري زماني استولی وم زه چي اوس له تجارت څخه راغلم ستا پلار خدای بخښلی وفات سوی و، نو مي له خلگو څخه ستا پوښتنه وکړه هغو راته وويل چي هغه په دغه مسجد کي د خدای ﷻ په عبادت مشغوله دی، هغه و چي زه تاته درغلم او ته مي دلته راوستلې، نو هغه سړي ورته وويل الدار وما فيها لک، نو شقيق ﷫ ورته وويل که چېري مريان او مينځياني زما وي فهم احرار کلهم لوجه الله، او دا اموال هم زما وي ما وتاسي ته بخښلي دي تاسي يې سره ووېشئ يعني تقسيم يې کړئ فاني لا اريد شيئا يمنعني من العبادة.

درويش وايي: هذا هو حقيقة المحبة لله ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قال السعدي رحمه الله

تعلق حجابست وبي حاصلی | چوپیوندها بگسلی واصلی

قال عارف بالله خواجه عبد الله انصاري هروي قدس سره العالي

ای طالبی که دعوه عشق خدا کنی | بغیر او نظر بسحبت چرا کنی
از جستجوئی خلق تو بیگانه شو اگر | خواهی که دل بحضرت او اشنا کنی
حقا که شور ولوله در اسمان فتد | آن دم که تو زبیم خدا یک ندا کنی
ملک دو عالم از تو شود گرزروی عجز | خود را فدای خاطر یک بینوا کنی
انصاریا چو روز شوی روشن از شبی | که خود را بعجز بر در سبحان گدا کنی

درویش: هیچمدان میگوید که مردم بیگانه از عشق الهي در دنیا که سجن المؤمن است قرار فرموده واز عذر عمرهای دراز خواهند ومیجونید نه برای انکه عمر دراز را وسیله بگردانند مزرعه آخرت را یعني عملا بقول سرور کائنات فخر موجودات ﷺ که الدنیا مزرعة الآخرة بلکه برای آن میخواهند که روزی چند از مستلذات دنیاوی وخواهشات نفسانی نصیبی وافر گرفته از محبت الهي خیل دور افتند. پس در زمان حاضر یعني در سنوات که از یکهزار وچهار صد از هجرت نبوي ﷺ بالاتر شده و ابرهای فتن و شرور بر بالای اسمان مسلمانان میبارند قطع تعلق از مردم خیلي زیبا وفشنگ است بلکه النائم فیها خیر من الیقظان البته اگر در عین وقت قطع تعلق بخدمت دین احمدی ﷺ مشتغل باشد نور علی نور خواهد بود.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا مِن دِيَارِهِمْ

درویش وايي: چي ټوله مفسران پر دې خبره متفق دي چي "دیار" جمع د دار ده مراد ځندي منازل دي، د قوم آتي ذکرقصتهم کما ستسمع ان شاء الله تعالی، او پر دې هم متفق دي چي استفهام د تعجب دی یعني مخاطبین په تعجب کي اچول، او لپاره د تشویق ددوئ دي وروسته قصه ته او پر دې هم متفق دي چي هر ځای چي په قرآن مبارک کي "الم تر" راسي هم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورته معنا يې ده، لكن په دې كې اختلاف دی چې مراد له روئيت څخه روئيت بصري دی او که علمي، بعض مفسران وايي چې روئيت بصري دی.

سوال: دا قصه خو د سمع كار دی يعني د اورېدو نه د ليدو كار دی دا قصه خو ډېره پخوا تېره سوې ده؟

ځواب: هو مقتضی د ظاهر خو داوه الم تسمع، لكن چونكه دغه قصه د آيته په اهل كتابو كې او په تواريخو كې ډېر شهرت درلودی، نو سماع ددغې قصې نازل منزلة الروية وګرځاوه او "الم تر" يې وايه، ولې چې چشم ديد شی په تيقن كې قوي دی تر مسموع شي كمايدل عليه قوله تعالى حكاية عن حال ابراهيم﷤ ﴿ربي ارني كيف تحی الموتی. قال اولم تؤمن، قال بلی ولكن ليطمئن قلبی﴾ الی آخير الآيات، او امام احمد ﷬ وايي چې روئيت په آيت كې روئيت قلبي دی چې معنا يې علم دی.

پوښتنه: علم چې معنا د رؤية قلبي ده په الی سره نه متعدي كېږي يعني لا يقال علمت اليه، بلكه رؤيت بصري په الی متعدي كېږي فيقال بصرت اليه؟

ځواب: چې روئيت علم يې متضمن معنا لره د انتها او اصول ګرځولی دی فالمعنی الم ينتهی علمک الی قصة هولاء، او په دې كې هم اختلاف دی چې مخاطب په الم تر كې څوک دي، بعض مفسران وايي چې دا خطاب عام لكل من يتاتی منه الرؤية، لپاره ددې چې چونكه دا قصه غايت شهرت لري بايد هر څوک په خبر وي او د تعجب په سترګو ورته وګوري او يا يې واوري، او روح البيان والا وايي الخطاب بحسب الظاهر وان كان متوجها الی النبي ﷺ الا انه بحسب المعنی متوجه الی جميع من سمع قصتهم من اهل الكتاب وارباب التواريخ. او تفسير كواشي وايي چې همزه د استفهام چې پر نفي داخله سي معنا يې ايجاب دی فالمعنی قد علمت خبر الذين خرجوا الآية. او ابن تمجيد ﷬ وايي چې لفظ د "الم تر" ګاهي خطاب وهغه چاته وي چې د مخه په قصه خبر وي او ګاهي مخاطب هغه كسان وي چې د مخه په قصه نه وي خبر، نو مخاطب دلته يا هغه كسان دي چې دا قصه يې له

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

مخه او ربدلې وي من اهل الکتاب واصحاب التواریخ، نو مقصود له خطاب څخه ودوئ ته وریپادول د قصې دي او په تعجب کې اچول ددوئ دي، او یا مخاطب هغه کسان دي چې دا قصه یې نه وي اوربدلې، نو خدای ﷻ دا قصه ودوئ ته بیانوي او دوئ په تعجب کې اچوي له حال څخه ددغو کسانو.

درویش وایي: چې یوه ترجمه د آیت داده چې ته نه ګورې یعنې اې علیه الصلوة والسلام هغه کسانو ته چې دوئ ووتل د خپلو ځایو او کورو څخه وعلی هذا قس التراجم الاخر التي مرت في التفصیل المذکور فافهم هداک الله لدرک مطالب الکتاب المجید

وَهُمْ اُلُوْفٌ

او دوئ په زرووه

پوه سه: چې عطاء خراساني ﷫ وایي چې درې زره کسه وه، او وهب ﷫ وایي چې څلور زره کسه وه، او بعض وایي چې اته زره کسه وه.

درویش وایي: چې روح البیان دا درې سره قوله ضعیفه ګڼلي دي، دی وایي چې الوف جمع کثرت د الف ده، نو باید تر لس زره کسه بالا وي فلا یقال في عشر آلاف فما دونها الوف آه. او سدي ﷫ چې قول یې د اعتبار وړ نه دی وایي چې تر دېرش زره کسه څه بالا وه، او ابن جریح وایي چې څلوېښت زره وه، او عطاء بن رباح وایي چې اویا زره کسه وه.

حَذَرَ الْمَوْتِ

له بېرې د مرګ، هذا مفعول له لقوله خرجوا

فَقَالَ لَهُمُ اللّٰهُ مُوْتُوْا ثُمَّ اَحْيَاهُمْ

نو خدای ﷻ ورته وویل چې مړه سئ، یعنې نو ټول له مړه سوه کمایدل علیه مابعده، او وروسته یې بېرته ژوندي کړه.

پوه سه: چې د موتوا ویېنا خو خدای ﷻ بالذات ودوئ ته نه ده کړې بلکه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

قائل د قول مذكور ملكه وه لكن لفظاً يې اسناد وخداى ﷻ ته وكړى لان الامر القادر الجبار نافذ لامحالة.

درويش وايي: چې دا امر تكليفي نه دى لانه لايقدر احد على موت نفسه بل هذا امر تكويني فتفكر في الفرق بينهما.

درويش وايي: چې قصه ددغو كسانو چې مفسرينو ذكر كړې ده داسې ده چې دوئ يو قوم وه له بني اسرائيلو څخه په يوه قريه كې له قريو څخه د واسط چې د هغې قريه نوم د اوردان و، نو په دې قريه كې طاعون يعني وباء ګډه سوه، نو پيدالانو او غنيان چې د وتلو وس يې درلودى قريه يې پرېښوله او بلې خواته ولاړه، او فقرا او مساكين او بې طاقته كسان پاته سوه، نو په دې وباكې ډېر باقيمانده كسان د قرې هلاک سوه او هغه كسان چې وتلي وه هغه سالم پاته سوه، چې وباء ارامه سوه او ورکه سوه نو هغه غنيان بېرته قرې ته راغله په ښه سلامتيا سره، نو باقي مانده ژوندي كسانو د قريې وويل وګورئ زموږ اغنياء تر موږ هوښياران وه هغه تې سالم پاته سوه، او دوئ وويل چې كه زموږ د قريې مړو كسانو هم دغسې كړي وايې يعني له وباء څخه تښتېدلي وايې، نو دوئ به هم باقي پاته سوي وايې، او دا يې هم وويل چې كه بل وار وباء واقع سوه موږ به داسې وطن ته تښتو چې هلته وباء نه وي، نو راوي وايې چې راتونكى كال هم وباء واقع سوه، نو اكثره خلګ له هغې قريې وتښتېدل او وطن يې پرېښو، نو د افيح په نامه يوه شېله چې د دوو غرو په منځ كې وه مقيم سوه او خېمې وغيرها يې ودرولې، او ددوئ دا ګمان و چې دا ځاى ښه د نجات ځاى دى له وباء څخه، نو دوې ملكي خداى ﷻ راواستولې چې يوه د شېلې په سر كې او بله يې په پاى كې ودرېدل او دواړو نعره وكړه چې مړه سئ ټوله، نو په اراده او قدرت د خداى ﷻ داسې مړه سوه لكه يو سړى چې مري او ددوئ چارپايان هم ټوله مړه سوه، او اته ورځې چې پر تېرې سوې بدنونه يې وپړسېده او غوښې يې وشوړېدلې او تر اندازه ډېره بد بوئي يې ولاړېدل، نو د كلي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خلک چې ورته راغله د دوئ له دفن څخه عاجزه سوه، نو یو د بوال یې پر راوګرځاوه تاچې له درندهٔ ګانو څخه محفوظه وي. نو دا مړي ډېره زمانه په دغه ځای کې پراته وه حتی چې غوښې یې توی سوې او رګونه او هډوکي یې سره جلا سوه. والله اعلم چې څو سوه کاله به پر تېر سوي وي حتی چې یو نبي د بني اسرائیلو چې نوم یې خرقیل و او وروسته تر موسی ﷺ دریم خلیفه او نبي د بني اسرائیلو و. ولې چې تاریخ وایي چې وروسته تر موسی ﷺ نائب الوقت والنبي یوشع بن نون ﷺ و او وروسته تر هغه کالب بن یوحنا ﷺ و او وروسته تر هغه خرقیل ﷺ نبي سو. او خرقیل ﷺ ته به خلګو ابن العجوز وایه یعنې د سپین سري زوی ولې چې دده مور وچه وه نو چې ډېره سپین سرې سوه خدای ﷻ ته یې زارۍ وکړې چې ماته نر اولاد راکړې، نو خدای ﷻ ورته خرقیل زوی ورکړی.

فائده: حسن بصري ﷫ وایي چې دغه خرقیل په نامه د ذا الکفل هم یادېدی، ولې چې یهودیانو اویا (۷۰) کسه نبیان نیولي وه چې قتل یې کړي. نو خرقیل ﷺ د یو څو ورځو مهلت ورکولو لپاره د دوئ ضمانت وکړی، نو خرقیل ﷺ دوئ ته وویل چې تاسې ځانونه خوندي کړئ، نو بیوازې ما به مړ کړې نو د اویاو کسه تر مرګه زما یوازې مرګ ښه دی، نو پسله میعاد معلومه چې یهود وخرقیل ﷺ ته راغله چې هغه نبیان په لاس راکړه، خرقیل ﷺ ورته وویل چې هغه خو پر خپل مخ ولاړه او ماته یې ځای هم نه دی معلوم، او یهود خدای ﷻ د خرقیل ﷺ له وژلو څخه پخپل فضل او کرم سره منع کړه او دی یې خندی وساتی، راوي وایي چې یوه ورځ خرقیل ﷺ پر دغه شپله تېرېدی، نو دا ډېر هډوکي د انسانانو چې یې ولیدل نو په دریاب کې د تعجب غرق سو او فکر یې په دې مړو کې واهه چې دا هډونه دانه دانه سره پراته په ورځ کې د قیامت به څرنګه سره پیوند ېږي او بیا به ژوندي کېږي، نو د خدای ﷻ له خوا څخه وحي ورته راغلې چې د قدرت یوه علامه په تا ووینم خرقیل ﷺ ورته وویل نعم، نو د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ له خوا څخه یعنې په ذریعه د ملکي یو آواز چې خرقیل ﷺ واورېدی یا ایها العظام ان الله یامرکم ان تجتمعوا. فاجتمعت من اعلی الوادي واسفله. او یو له بله لګه په اصل خلقت چې وه سره جمع سوه. نو له هډوکو انسانان جوړ سوه بیله غوښو او وینو. او بعض مفسران ؒ وایي چې امر دد غي نعرې خدای ﷻ وخرقیل ﷺ ته ورکړی حیث قال له نادا ایتها العظام آه وروسته یې خرقیل ته ووېیل نادا ایتها الارواح ان الله یامرکم ان تقوموا. روای وایي چې پر هغو هډوکو غوښو پیدا سوې او وینې پکښې جاري سوې او ژوندي انسانان سوه. یقولون سبحانک اللهم وبحمدک لا اله الا انت ثم رجعوا الی بلادهم او اوطانهم وعاشوا دهرا الی ان ماتوا الی آجالهم واحدا واحدا.

فائده: پر دغه ژوندي سوي انسانانو د مړي رنګ پر مخانو یې ښکاره و. او د مړي بوی به یې تلی حتی د دغه سبط په اولاد کي دغه نخښه تر اوسه پوري پاته ده. یعني رنګونه یې د مړو دي او چې نوي کالي واغوندي د کفن غوړتیا پر معلومېږي.

درویش وایي: چې د دې قصې په راوړلو سره خدای ﷻ مسلمانان دلاوره کوي پر جهاد باندي په دې معنا چې د اجل وخت معین دی له مرګه څخه خو سړی په تېښته نه خلاصېږي نه داسي ده چې جهاد ته سړی ولاړ سي نو به حتما شهید کېږي، او نه داسي ده چې سړی پر کور کښېني جهاد ته نه خي نو به هغه نه مري، ولي چې د احادیثو مبارکوو په کتابو کي راغلي دي چې بعض صحابه کرام ﷺ په ټولو مغازیو کي د رسول کریم ﷺ سره شامل سوي وه لکن تر پایه پوري نه دي شهیدان سوي، او په خپلو کورو کي په شهادت ورسېدل لکه عمر بن خطاب ﷺ او عثمان ﷺ او علي ﷺ او بعض په خدایي مرګ عند انقضاء الاجل مړه سوي دي.

مسئله شرعیه: که وباء د چا په وطن کي واقع سوه له هغه وطن څخه په قصد د فرار له مرګه به نه وزي، او که چېري په یو وطن کي وباء واقع وه د بل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وطن سره به هغه وبائي وطن ته نه ورځي، د دوارو مسئلو دليل دادی چې عقيده اسلامي د مسلمان پر ځای پاته سي فتفكر في هذا هداك الله.
والدليل على ذالك هو الحديث الذي رواه احمد والبخاري ومسلم والنسائي رح عن اسامه بن زيد رض عن النبي ﷺ قال اذا سمعتم بالطاعون في ارض فلاتدخلوا عليه واذا وقع في ارض فلا تخرجوا من ها وانتم فيها فرارا منه.

ترجمه: عليه الصلوة والسلام وايي چې تاسي واورېده د طاعون په يو وطن كي نو پر طاعون مه داخلېږئ، يعني د طاعون ځكي ته مه ورځئ، او كه طاعون په يو وطن كي واقع سو او تاسي په هغه وطن كي اوسېدلاست، له هغه وطنه مه وزئ په قصد د فرار له طاعون څخه، او بغوي رح پخپل سند يو حديث طويل راوړی دی چې حاصل يې دادی چې امير المؤمنين عمر رض چې غزاء ته د شام روان و نو د سرغ مقام ته چې ورسېدل، نو عمر رض ته چا خبر وركړی چې په شام كي وباء واقع ده، نو عمر رض وروسته تر ډېرو مشورو د صحابه كرامو رض په دې باب كي چې موږ پر دې وباء باندې ورسو او كه بېرته ولاړ سو، نو اخير چې عبد الرحمن بن عوف رض هغه مذكوره آنفاً حديث ورته ذكر كړی، نو عمر رض د سرغ له مقام څخه بېرته مدينې منورې ته ستون سو سره د فوج خپل.

إِنَّ اللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٢٤٣﴾

په تحقيق خدای ﷻ د لوی فضل څښتن دی پر خلكو چې دا قصه يې ورته وكړه لكن ډېر خلگ يعني كفار د خدای ﷻ شكر نه وايي يعني ايمان نه راوړي.

پوه سه: چې فرار له طاعونه څخه گناه كبيره ده او نهي چې په حديث نبوي كي راغلي دي لپاره د تحريم دي ويدل عليه قوله عليه الصلوة والسلام الفار من الطاعون كالفار من الزحف يعني له جنگه څخه د كفارو، په تاريخ كي د عبد الملك بن مروان راغلي دي چې يوه وخت سخته وباء دده په قيام گاه يعني په ښار كي واقع سوه، نو دی د شپې سپور سو د تېښتي په نيت او يو مريی يې له ځانه سره ملگری كړی، نو عبد الملك ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چونکه پر آس خوب ورتلی، نو مريي ته يې وويل چې ته يوه قصه راته وکړه چې خوب راځخه ولاړ سي نو مريي ورته وويل چې زه به څه يم چې امير المؤمنين ته قصه کوم، عبدالملک ورته وويل چې په هر صورت هر څه قصه چې دي اورېدلې وي راته وه يې کړه، مريي ورته وويل چې داسې قصه ما اورېدلې ده چې يوه ګيدړه وه چې د زمري خدمت يې کاوه په دې شرط چې ته به ما له دښمنانو څخه ساتې چې زما د ښکار نيت لري زمري وعده ورکړه چې صحيح ده د دښمن دې زه ضامن يم، يو وخت ګيدړي عقاب مرغه چې ګيدړي او چغالان وغيره کوچني حيوانات ښکاروي وليدی نو پناه يې وزمري ته ورووړه، نو زمري دا پر خپل شا کښېنول، عقاب پر راښوه سو او ګيدړه يې د زمري له شا څخه پورته کړه ګيدړي وزمري ته ور بږغ کړه چې تا چې زما سره وعده کړې وه چې له دښمنه دې خلاصوم هغه وعده پر ځای کړه او له عقاب څخه مې خلاصه کړه، زمري ورته وويل چې ما خو ستا سره د مځکې د دښمنانو د خلاصون وعده کړې وه، د اسماني دښمنانو څخه خو دې نه سم خلاصولای، عبدالملک ومريي ته وويل چې وعظتني واحسنت فرجع ورضی بالقضاء، سعدي رحمه الله

قضاء کشتي آنجا که خواهد برد وگر ناخدا جامه برتن درد

در آبی که پيدا نباشد کنار غرور شفاور نيايد به کار

يوه سه: چې هغه قضاء الهي چې قضاء مبرم يې بولي يعني حتما مقضيا وي د هغې رد په هيڅ شي نه کېږي، نه په دوا نه په دعاء او نه په صدقه وغيره قال عليه الصلوة والسلام الحذر لا ينفع عن القدر، او يوه قضاء معلقه په يو شي ده هغې قضاء ته دوا يا دعاء يا صدقه وغيره نفع کوي، کما قال عليه السلام الصدقة والصلة يعني صلة الرحم تعمران الديار وتزيدان في الأعمار.

وَقَٰتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٤٤﴾

او تاسي اې مسلمانانو جهاد کوئ له کافرانو سره في سبيل الله يعني په لاره

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

کي د خداى ﷻ چي صرف او صرف لپاره د اعلاء کلمة الله وي او په دې پوه سی چي خداى ﷻ او ربدونکی ستاسي د خبرو او عالم دی ستاسي په احوالو باطنه او ظاهره و، حاصل دادی چي فرار له مرگه خو فائده نه کوي کمامر، نو ښه داده چي په قتال في سبيل الله کي ژوند صرف کي نو که اجل مقدر راغلی خو في سبيل الله به وي، او که ژوندی پاته سوې نو نصر او ثواب دی.

پوه سه: چي امام بخاري پخپل صحيح کي د عبدالله بن عمر ﷺ څخه داسي روايت کړی دی، چي څه وخت هغه آيت نازل سو يعني ﴿مثل الذين ينفقون اموالهم في سبيل الله كمثل حبة انبتت سبع سنابل في كل سنبلة مائة حبة الآية﴾ چي حاصل دادی چي ثواب د نفقې في سبيل الله يو په اوه سوه دی، نو عليه الصلوة والسلام داسي ووېل رب زد امتي يعني يو تر اوه سوه بالا ثواب ورکړې منفق في سبيل الله ته، نو دا آيت نازل سو.

مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا كَثِيرَةً ط

څوک دی هغه سړی چي خداى ﷻ ته قرض ورکړي قرض حسن چي له حلال ماله او ښه شی وي او مقرون بالاخلاص او د زړه په خوشحالی سره وي، نو خداى ﷻ هغه قرض يعني ثواب د هغه مال به ورده ته دوه چنده کړي په ډېرو دوو چنديو سره، چي هغه يو خداى ﷻ په خبر دی چي څو ضعفه به وي، او هغه څوک چي يې تفسير يو په اوس کوي هغه خطاء دی ولې چي په حديث کي د بخاري چي ددې آيت په شان نزول کي راغلی وکمامر عليه الصلوة والسلام طالب د زيادت پر يو په اوه سوه باندي کمامر ايضاً.

پوه سه: چي کلمه د "من" استفهامي ده او مرفوع محلاً مبتداء ده او کلمه د "ذا" يې خبر دی او "الذي" صفت د "ذا" دی.

پوه سه: چي بعض مفسرين مراد له "قرض" څخه قرض حقيقي بولي، نو قرض حقيقي وخداى ﷻ ته خو محال دی لاستحالة احتياج الباري ﷻ، نو مضاف محذوف دی يعني يقرضون عباد الله، نو خداى ﷻ له قرضه څخه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عباد الله تعبير په قرض خپل وکړی لوصول ثوابه منه تعالی کما جاء في
الحديث المرفوع عن ابي هريرة ﷺ ان الله تعالى يقول يوم القيامة يا ابن آدم
استطعمتک فلم تطعمني قال يارب کيف اطعمک وانت رب العالمين،
قال استطعمک عبدي فلان فلم تطعمه واما علمت انک لو اطعمته
لوجدت ذالک عندي ای ثوابه الی اخير الحديث الطويل رواه مسلم

درویش وايي: چي په فضيلت کي د قرض په ډېرو احاديثو صحيحه وو
کي راغلي دي عن ابن مسعود ﷺ عن النبي ﷺ کل قرض صدقة رواه
الطبراني، او له ابن مسعود ﷺ څخه داسي روايت هم راغلی دی ما من
مسلم يقرض مسلما قرضا مرة الا کان کصدقته مرتين، رواه ابن ماجه
وهکذا الاحاديث الآخر وفي ايراد جميعها اطناب، او يا له قرض څخه
وخدای ﷻ ته معنا مجازي مراد ده وهو تقديم عمل صالح يطلب به ثوابه
تعالی عليه کمايدل عليه شان نزول البخاري.

وَاللَّهُ يَقْبِضُ وَيَبْصُطُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٤٥﴾

او خدای ﷻ تنګول کوي د رزق او پراخي کوي د رزق يعني لمن يشاء
القبض والبسط لانه الخالق والمعطی لمايشاء بيده الملک، او خدای ﷻ ته
تاسي راجع کړه کېږي يعني په ورځ د قيامت، فيجازيکم باعمالکم، په
حديث متفق عليه کي للبخاري ومسلم د ابو هريرة ﷺ څخه روايت دی چي
عليه السلام وويل ما من يوم يصبح العباد فيه الا ملکان ينزلان من السماء
فيقول احدهما اللهم اعط منفقا خلفآ ويقول الآخر الله اعط ممسکاً تلفاً،
معنا داسي ورځ نسته چي بندګان وهغې ورځي ته په صبا داخل سي مګر
دوې ملکي له اسمانه څخه نازلېږي، او وايي چي خدايه ورکړه ونفقه
کونکي ته دا مال په لارو کي د خير عوض، او بله ملکه وايي چي خدايه
ورکړه و ممسک ته يعني بخيل ته تلف يعني د مال.

پوه سه: چي دا قول د خدای ﷻ ﴿واليه ترجعون﴾ هم وعد دی د منفقينو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره په ثواب کي او هم وعيد دی د بخيلانو سره په عذاب کي.

فائده: يو غني او فقير سړي يوه ورځ بحث سره کاوه د خپل شرافت په باره کي، نو غني ورته وويل چي زموږ د اغنياوؤ درجې پورته دي ولي چي خدای ﷻ زموږ څخه قرض غوښتی دی، او فقير ورته وويل چي زموږ درجې پورته دي، ولي چي زموږ لپاره خدای ﷻ ستاسي څخه قرض غوښتی دی او قرض خو سړی ګاهي له غير دوست څخه هم غواړي، مګر قرض غوښتل نه کوي څوک مګر د دوست لپاره. وفي المثنوي

روی خوبان ز آينه زيبا شود	روی احسان از ګدا پيدا شود
چون ګدا آينه جود است هان	دم بود بر روي آينه زيان
پس ازين فرمود حق در والضحی	بانګ کم زن ای محمد بر ګدا

اشارة الى قوله تعالى واما السائل فلا تنهر

أَلَمْ تَرَ إِلَى الْمَلَإِ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ مِنْ بَعْدِ مُوسَىٰ إِذْ قَالُوا لِنَبِيٍّ لَهُمُ ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۖ

درويش وايي: چي چونکه تحقيق د "الم" دمخه په ډکه پيمانه تېر سو نو اوس لفظي ترجمه د آيت داسي ده.

آيا ستا علم نه دی رسېدلی وهغه جماعت ته يعني الى قصة الملاء بحذف المضاف او استفهام انکاري دی نفي د نفي اثبات دی. ای علمت يا محمد ﷺ خبرهم باعلامي اياک.

پوه سه: چي "ملاء" هغه جماعت ته وايي چي د مشورې لپاره سره جمع سي، وانما سموا بهذا الاسم لانهم اشراف يملئون العيون بمهابتهم. د بني اسرائيل څخه کلمه د "من" لپاره د تبعيض ده او "من بني اسرائيل حال له "ملاء" څخه ای کائنون من بني اسرائيل وروسته تر موسی بحذف المضاف يعني وروسته تر مرګ د موسی ؑ هغه وخت چي دوئ وويل ونبي ته ددوئ، روح البيان وايي چي دا نبي شموئيل نومېدی وهو الاظهر والاشهر آه. او قتاده ؓ وايي چي

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

یوشع بن نون یې نوم و، او سدي رحمه الله وایي چې نوم یې شمعون و، والله اعلم، چې ته مورږ ته ودروه او وټاکه یو بادشاه یعنې مورږ به د هغه سره جمع سو.

پوه سه: چې وهب بن منبه او ابن ابي اسحاق او کلبي وایي چې موسی علیه السلام چې وفات سو نو پر ځای یې یوشع بن نون خدای جل جلاله نبي کړی، او یوشع چې وفات سو په ځای کي یې کالب مقرر سو، او چې هغه مړ سو په ځای کي یې خرقیل علیه السلام نبي سو، او خرقیل چې رحلت وکړی په بني اسرائیلو کي نوي نوي کارونه خلاف الشریعة د موسی علیه السلام وخلاف التوارة شروع سوه رفته رفته په دوئ کي بت پرستي رواج سوه، نو خدای جل جلاله الیاس علیه السلام نبي کړی چې تجدید د تورات او د شریعت د موسی علیه السلام په دوئ کي شروع کړی مقرر کړی او وروسته تر وفات د الیاس علیه السلام خدای جل جلاله جای نشین د هغه الیسع وګرځاوه، د هغه تر وفات وروسته نو نا اهله یهودیان سره پاته سوه، او په لویو منهیاتو یې لاسونه پوري کړه، نو خدای جل جلاله عذابا لهم پر دوئ قوم د جالوت چې عمالقه ي بلل او پر کناره د دریاب په منځ کي د مصر او فلسطین اوسېدله مسلط کړه او پر دغو یهودیانو باندي غالبه سوه، او ټوله مځکه د دوئ یې ونیوله او اولادونه د دوئ یې سبي کړه او د دوئ د بادشاهانو او اغنیاؤ څلور سوه او څلوېښت نفره د غلامۍ په توګه بوتله او پر ټولو یې جزیه مقرره کړه او تورات شریف یې ځندي یو وړي او پر بني اسرائیلو یې ناوړه ناوړه ظلمونه شروع کړه او دوئ په دغه وخت کي کوم نبي نه درلودی چې دوئ رجوع ورته وکړي او پر هغه سره راټول سي، او هغه قوم او سبط د یهودیانو چې په هغه کي به نبي همېشه پیدا کېدی ختم سوی و، مګر یوه ښځه د هغه سبط امیدواره وه یهود ورته خوشحاله وه چې ګوندي دا ښځه زوی راوړي، او هغې ښځي هم زوی راوړی، نو نوم یې اشموئیل یا شموئیل پر کېښېښود، نو چې شموئیل د سبق او د تعلیم ودرجې ته ورسېدی نو یې په بیت المقدس کي یوه شیخ او عالم ته وسپاری چې تورات په زده کړي، تاریخ وایي چې څه وخت چې شموئیل بالغ سو او د خپل شیخ استاذ له څنګه سره بیده و، نو جبرائیل علیه السلام په لهجه د شیخ ورناره کړه یا شموئیل،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شموئیل له خوبه داسي وارخطا را وغورځېدی او شیخ ته یې وویل ابتاه دعوتني یعني یا پلاره تا نعره راوکړه، شیخ له ځانه سره فکر وواهه که زه ورته ووایم چي ما نعره نه ده درته کړې شموئیل به نور وارخطا سي او که ورته ووایم چي هو ما نعره درته وکړه نو خو درواغ به سي، نو لا یا نعم یې نه ورته وویل دا قدر یې ورته وویل یا بني ارجع فنم زویه ورسه بیده سه، دویم وار چي شموئیل بیده سو بیا په لهجه د شیخ ږغ پر وسو یا شموئیل دی بیا وار خطا راوېښ سو او شیخ ته یې وویل یاابتاه تا نعره راوکړه شیخ لا یا نعم نه ورته وویل بلکه دا یې ورته وویل چي ته بیده سه که دریمه نعره درباندي وسوه ماته ږغ مه کوه، دریم وار چي شموئیل بیده سو، نو جبرائیل ځان ورښکاره کړی چي ولاړ سه قوم ته فبلغهم رسالة ربک فان ربک جعلک نبیا، نو ده چي یهودو ته تبلیغ شروع کړی هغو یې تکذیب وکړی او دا یې ورته وویل ان کنت نبیا فابعث لنا ملکا الآیة.

درویش وایي: چي په دې شان نزول کي چي ما دغه لفظ استعمال کړی چي شموئیل بالغ سو ددې دا مراد نه دی چي په اول کي د بلوغ شموئیل نبي سو، بلکه مراد دادی چي شموئیل وروسته تر بلوغ نبي سو ولو بعد عدة سنین فالله اعلم بسن نبوة شموئیل.

پوه سه: چي په یهودو کي د هغې زمانې دا رواج و چي نبي به یې له یوه سبط څخه و او بادشاه به یې له بل سبط څخه و، نو بادشاه به سیاسي او جنګي چاري پر مخ بېولې لکن د نبي په مشوره او نبي به دیني او شرعي کارونه پر مخ بیول، نو له دې سببه یهودیانو وشموئیل ته وویل انت کنت نبیا فابعث لنا الآیة، نو شموئیل ودوئ ته داسي وویل کما حکی الله تعالی.

قَالَ هَلۡ عَسَيۡتُمۡ إِن كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِتَالُ أَلَّا تُقَٰتِلُواْۖ

شموئیل وویل آیا ښایي تاسي ته که پر تاسي جنګ یعني له کفارو سره فرض سي، نو بیا به تاسي جنګ نه کوئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې مقصود په دې استفهام کې اقرار اخستل وه له یهودیانو څخه د جنګ اذا فرض علیکم او دوئ يې وجنګ ته اماده کول عند فريضة القتال.

قَالُوا وَمَا لَنَا أَلَّا نُقَاتِلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِن دِيَارِنَا وَأَبْنَائِنَا ۖ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ ﴿٢٤٦﴾

دوئ ورته وویل چې څه سبب او غرض دی چې موږ به جنګ نه کوو په لاره کې د خدایﷻ.

پوه سه: چې کلمه د "ما" استفهامي ده او استفهام انکاري دی "ولنا" يې خبر دی، او حال دادی چې موږ ایستل سوي یو له خپلو وطنو څخه او شړل سوي یو له خپلو زامنو څخه.

پوه سه: چې له زامنو څخه مراد هغه زامن د بادشاهانو ددوئ دي چې عمالقه وو په غلامی، څندي بېولي وه کمامر في شان نزوله عنقريب، نو حاصل د جواب ددوئ دادی چې مانع د جهاد في سبيل الله خو نسته بلکه موجب د قتال موجود دی ایجاباً قوياً وهو اخراجنا آه، خدایﷻ وايي چې څه وخت چې فرض کړه سو يعني له جانبه څخه د خدایﷻ پردوئ په سوال د نبي شموئيل او په درلو د بادشاه لکه دوئ چې يې غوښتنه کوله کما سيئاتي بيانه ان شاء الله، نو دوئ شا وګرځوله وجنګ ته او اعراض يې وکړی له جنګه څخه مګر نه لږ کسانو ددوئ، او هغه قليل کسان هغه وه چې د طالوت سره تر والله تېر سوه چې درې سوه دیارلس (۳۱۳) کسان وه په عدد د اهل بدر، او خدایﷻ خبر دی په ظالمانو سره.

پوه سه: چې والله اعلم آه وعيد دی دوئ لره پر ترک د جهاد او پر مخالفت د قول او د فعل ددوئ له قوله څخه ددوئ کمامر آنفاً.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فائده: دا اعراض د یهودیانو له قتال څخه هلته منځ ته راغلی چې دوی د جالوت ډېر قوت او ډېر فوجونه ولیدل کما سیئاتي في القرآن الکریم.

درویش وایي: چې چونکه یهودیان له خپل نبي شموئیل څخه مطالبه کړې وه چې دی دې موږ ته ملک وټاکي چې موږ د هغې تر قومنده لاندې د عمالقه وو سره جنګ وکړو، نو شموئیل ﷺ خدای ﷻ ته خواست وکړی چې ته دوی ته یو بادشاه وټاکه او د ملکي په واسطه یوه لکړه او یو قرن چې په هغه دهن القدس وه راوړه سوه او ورته وویل سوه چې د هر سړي طول چې د لکړې سره برابر وا و دغه سړی چې تاته راتلی دغه روغن پخپله وه ایشبدل، نو سر یې په هغو غوړو ورغوړ کړه او هغه سړی د بني اسرائیلو باچا ودوی ته معرفي کړه، نو طالوت نامی چې خر یې ورک و او په طلب کې د خره د دعاګوي لپاره د شموئیل دربار ته ورغلی، نو هغه روغن پخپل وه ایشبدل شموئیل ورولاړ سو په لکړه یې دی ګچه کړی دی د لکړې سره برابر و، او بعض وایي چې طالوت سقاو و، او بعض وایي رنګ ریز و، او پخونکی د پوستکو و، نو شموئیل دده سره ورغوړ کړی او بني اسرائیلو یې اعلان د بادشاهي وکړی ددې آیت په مضمون سره.

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا

خدای ﷻ وتاسي ته مقرر کړی طالوت په سلطنت سره.

پوه سه: چې چونکه سبط د نبوت په بني اسرائیلو کې قوم د لاوي بن یعقوب ﷺ و او سبط د سلطنت قوم د یهود ابن یعقوب و. او طالوت د سبط څخه د بن یامین و او په عین حال کې فقیر او مسکین سړی و.

فائده: طالوت لفظ عجمي دی او غیر منصرف دی په سبب د تعریف او عجمة، نو قوم د بني اسرائیلو دده یعني طالوت د سلطنت څخه یې انکار وکړی.

فائده: بعض علماء وایي چې دغه بني اسرائیل چونکه انکار یې وکړی د حکم د نبي نو کافران سوه. والصحیح انهم لم ینکروا حکم النبي بل تعجبوا من ذالک وطلبوا کشف الحکمة الالهیة في ذالک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالُوٓا اَنّٰی یَکُوۡنُ لَہُ الۡمُلۡکُ عَلَیۡنَا

یهودیانو ورته وویل چي له کومه ځایه طالوت د سلطنت حق لري پر موږ باندي.

وَنَحۡنُ اَحَقُّ بِالۡمُلۡکِ مِنۡہُ

او حال دادی چي موږ چي موږ حق داره یو د مملکت تر ده ولي چي موږ له سبط څخه د سلطنت یو.

وَلَمۡ یُؤۡتَ سَعَۃً مِّنَ الۡمَالِ ؕ

او ده ته نه ده ورکړه سوې فراخي د مال، او سلطان باید مالداره سړی وي چي د کونډیانو او یتیمانو او فقیرانو سره مرسته کولای سي او موږ تر ده اغنیاء یو.

قَالَ اِنَّ اللّٰہَ اصۡطَفٰىہُ عَلَیۡکُمۡ وَ زَادَہٗ بَسۡطَۃً فِی الۡعِلۡمِ وَ الۡجِسۡمِ ؕ

نبي شموئیل ورته وویل چي خدای ﷻ دی خوښ کړی دی د سلطنت لپاره پر تاسي، یعني باید تاسي د خدای ﷻ اصطفاء ته غاړه کښېږدئ او سبب د اصطفاء داهم دی چي دته خدای ﷻ فراخي ورکړې ده په علم کي یعني په علم کي د حرب، کلبي ﷬ وایي چي طالوت اعظم الیهود في عصره بامور الحرب، یعني تاسي خو بادشاه لپاره د جنګ د عمالقه غوښتی او په حربي امورو کي طالوت تر تاسي ټولو بالا دی، نو دی احق په مملکت سره دی تر تاسي، او خدای ﷻ وده ته فراخي د جسم او قد ورکړې ده، تاریخ وایي چي د طالوت د بر بنه رنګ و او دونده جګ قده انسان و چي نورو خلګو به لاسونه تر سرونو پورته کړه نو به د طالوت سر ته رسېدله، والفرض منه ان السلطان ینبغي انیکون اهیب في قلوب الناس والهیبة منوط بطول القامة وهو موجود ي طالوت.

وَاللّٰہُ یُؤۡتِیۡ مُلۡکَہٗ مَنۡ یَّشَآءُ ؕ وَاللّٰہُ وَاسِعٌ عَلِیۡمٌ ﴿۲۴۷﴾

او خدای ﷻ ورکوي خپل سلطنت وهغه چاته چي دده خوښه وي او اراده یې وي، او خدای ﷻ فراخه دی فضل یې په فقراء او اغنیاء وو پوري اړه نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لري، او بنه خبر دی په حال د خپلو عبادو یعني چي په چا کي اهلیت د سلطنت سته او په چا کي نسته، نو باید بندګان د خدای ﷻ و اصطفاء ته سر کښته کړي او چون وچرا ونه وایي کریمه لایسئل عما یفعل وهم یسئلون.

درویش وایي: چي خدای ﷻ ویهودو ته په سبب ظاهري د سلطنت د طالوت جواب ورکړی وهو قوله تعالی "وزاده بسطة آه وروسته یې سبب حقیقي د سلطنت د طالوت بیان کړی بقوله تعالی والله یوتي آه یعني په سلطنت کي د طالوت مشیت الهي او فضل الهي او علم الهي په احوالو د عبادو کاربګر دی وبس، شیخ سعدي قدس سره وایي

یکی قطره باران ز ابری چکید — خجل شد چوپهنائي دریابدید

که جای که دریاست من کیستم — گراوهست حقا که من نیستم

چو خود را به چشم حقارت بدید — صدف در کنارش بجان پرورید

سپهرش بجایي رسانید کار — که شد نامور لولوی شاهوار

بلندی ازان یافت کوپست شد — درنیستي کوفت تا هست شد

وفي الحديث من تواضع لله رفعه الله تعالى فعل للعاقل التسليم لامر الله وترك البحث.

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ اٰيَةَ مُلْكِهٖٓ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ التَّابُوْتُ

ورته ووېل نبي ددوئ یعني چي دوئ طلب د دلیل وکړی پر سلطنت د طالوت چي په تحقیق سره دلیل د سلطنت د طالوت ډادی چي تاسي ته به راسي تابوت.

پوه سه: چي تابوت صندوق ته وایي وزن یې فعلوت دی مشتق دی له توب څخه چي معنا یې رجوع ده چي د صندوق بعض شیان چي څوک راوکاږي بیرته یې صندوق ته راجع کوي، بعض مفسرین رح وایي چي دا صندوق له لرګي څخه د شمشاد جوړ سوی و، په سرو زرو ښائسته سوی و چي طول یې درې ګزه او عرض یې دوه ګزه و. محدثین وایي چي دا تابوت آدم ؑ له جنت څخه راوړی و او په تابوت کي عکسونه د ټولو انبیاؤ علهیم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

السلام موجود وه من لدن آدم علیه السلام الی محمد مصطفی ﷺ نو دا تابوت له آدم علیه السلام سره و او وروسته تر آدم له شیث علیه السلام سره و ثم وثم څو موسی علیه السلام ته راورسېدی او موسی علیه السلام په هغه تابوت کي تورات هم ایښوولی او بعض نور متاع دده، بیا چي موسی علیه السلام وفات سو دا تابوت په لاس د انبیاوُ د بني اسرائیلو کي و، او بیا عمالقه چي بني اسرائیلو ته یې شکست ورکړی دا تابوت یې هم ورسره یو وړی، او د بني اسرائیلو به عادت دا و چي په وخت کي د جنګ د کافرانو به یې دا تابوت د مخه د خلګو پر اوږو ورکړی او هغه به یې د مخه روان کړه چي په برکت ددې تابوت به دوئ ته فتح پر دښمن پیدا کوله ، نو تابوت چي به روان و دوئ به هم پسي روان و او چي تابوت به ودرېدی دوئ به هم ودرېدل، وقیل کان صندوقا للتوارت فقط.

فِيهِ سَكِينَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ

یعني چي په راتلو کي د تابوت به ستاسي د زړونو اطمنان وسي پر سلطنت د طالوت، او یا معنا داده چي په تابوت کي هغه شی پروت دی چي ستاسي به سکون د خاطر په کېدی یعني تورات.

پوه سه: چي ابن عباس رضی الله عنه وایي چي دا تابوت د تورات و عند موسی علیه السلام ومن بعده من انبیاء بني اسرائیل الی ان فعل بنو اسرائیل المنکرات فرفعه الله الی السماء فلما طلب من النبي اشموئیل علیه السلام آیة علی سلطنت طالوت قال ان آیة ملکه الآیة فاتي الملائکة بالتابوت من السماء وهم ینظرون الیه حتی وضعه عند طالوتز

درویش وایي: چي په دې قول کي د ابن عباس رضی الله عنه نسبت د ایتان و تابوت ته حقیقت نه دی ولي خو ملکو راوړی، او هغه بعض مفسرین وایي چي دا تابوت د شمشاد و کمامر آنفا دوئ وایي چي دا تابوت د خدای ﷻ د قدرت یوه علامه وه ولي چي دا تابوت چي په لاس کي د بني اسرائیلو وو ددوئ چي به په یو شي کي اختلاف سو نو به دې تابوت ته ورغله تابوت به خبري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کولې او ددوئ تر منځ به يې فيصله کوله، او چې وخت به د جنګ له کافرانو سره راغلی دا تابوت به ملکو فوق العسکر ګرځاوه، څه وخت چې په تابوت کې يو آواز دوئ واوريدی نو ددوئ به يقين سو پر نصرت الهي، او بيا څه وخت چې عمالقه وو پر بني اسرائيلو غلبه وکړه هم دغه تابوت يې ځنډي يو وړی او د غولو او بولو په ځای کې يې کېښښووی او بولې به يې پر کولې څه وخت چې خدای ﷻ ملک وطالوت ته وسپاری نو پر عمالقه وو يې دا بلا مسلطه کړه چې چاچې به پر تابوت بولې وکړې د بواسيرو په مرض به خدای ﷻ مبتلاء کړی چې ګڼ شمېر عمالقه په دې آفت کې مړه سوه، نو عمالقه ته دا يقين سو چې دا مرض چې پر موږ مسلط سو په سبب د اهانت او سپکاوي زموږ د تابوت دی. نو عمالقه تابوت پر خره باندې وتاړه او خر يې په دوو غويو پسې روان کړی، او خدای ﷻ څلور ملکې ورسره کړې چې غوايي يې راشړل څو چې يې د طالوت کور ته وروستل، نو يې په دې صورت د بني اسرائيلو پر سلطنت د طالوت يقين سو چې من عند الله دی زموږ سلطان مقرر سوی دی. لکن پر آخيري تقدير نسبت د اتيان وتابوت ته هم مجاز دی لانه لم يات هو بنفسه بل آتي به الملائكة بل الثورين فيكون هذه النسبة من قبيل قولهم ربحت تجارة فلان.

فائده: د تابوت په باره کې داسې ضعيفه اقوال مروي دي چې هيڅ د منولو وړ نه دي خصوصا ما رواه الكلبي وما ذكرنا هو اشهر الاقوال واقواها في باب التابوت والعلم عندالله علام الغيوب.

وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ آلُ مُوسَىٰ وَآلُ هَارُونَ

پوه سه: چې بعض مفسرين ؒ وايي چې "آل" زائد دی لپاره د تعظيم د موسی او هارون ع م، او بعض مفسرين وايي چې مراد له آل موسی او آل هارون نور انبياء د بني اسرائيلو دي، علماء وايي چې په دې تابوت کې يوه پيمانه د من وه چې پر بني اسرائيلو په بيابان کې د تيه پر دوئ نازليده، او عصا د موسی ؑ او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چوتي دده، او لنگوټه د هارونؑ او څه ماتي تختې د تورات وې.

تَحْمِلُهُ الْمَلٰٓئِكَةُ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۲۴۸﴾

او دا تابوت به را اخستي وي ملكو په تحقيق سره په دغه تابوت يعنې په راوړو كي د تابوت دليل دى حقيقت د سلطنت د طالوت دى پر تاسي كه تاسي مؤمنان ياست خو دا دليل او علامه د قدرت ومنئ او د طالوت تر قومنده لاندې د عمالقه و سره جنگ شروع كړئ.

فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوْتُ بِالْجُنُوْدِ ۙ

نو هغه وچي ووتى طالوت له خپله ښاره څخه.

پوه سه: چي لفظ د "بالجنود" حال دى له طالوت څخه اى مختلصا بالجنود، ولي چي يهوديانو چي تابوت وليدى نو يې يقين سو چي موږ ته به خداى ﷻ فتح پر دښمن راكوي، نو طالوت اعلان وكړى چي زما سره دي جنگ ته نه وزي مگر ځوانه طبقه چي هغه هيڅ عذر نه لري، نو بعض راويان وايي چي اويا زره نفر ځوانان وه، او بعض راويان وايي چي اتيا زره كسان وه لكن چونكه ډېر د گرمۍ موسم و او دوئ تږي سوه، نو دوئ نبي شموئيلؑ او حكمران طالوت ته وويل چي خداى ﷻ ته دوئ خواست وكړي چي موږ ته جاري واله راپيدا كړي.

قَالَ اِنَّ اللّٰهَ مُبْتَلِيْكُمْ بِنَهَرٍ ۚ

قال: يعني طالوت يعني بارشاد النبي اشموئيلؑ، وما قال المظهري اما بوحي ان كان نبيا، يعني يا طالوت دا خبره په وكړه كه طالوت نبي وي فهو ليس بشيئ لانه لم يقل احد بنبوته وقد مر التفصيل في ذالک، چي په تحقيق خداى ﷻ امتحان كوي ستاسي په يوه واله سره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یوه سه: چي حقیقت امتحان پر خدای ﷻ محال دی لانه یقتضی الجهل بحال العباد ولهذا فسر الابتلاء المفسرون بقولهم ای یعا ملکم معاملة المنتجز په یوه واله سره. ابن عباس ﷺ وايي چي دا واله په فلسطین کي ده. او قتاده وايي چي دا واله په منځ کي د اردن او فلسطین ده.

فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّيْ

نو که چا اوبه وڅښلې له ولې څخه زما له ډلي او اتباعو څخه نه دی

وَمَنْ لَّمْ يَطْعَمْهُ فَاِنَّهٗ مِنِّيْٓ

او که چا يې څوند ونه کتی یعني وه يې نه څښلې، نو هغه زما له ډلي او اتباعو څخه دی.

اِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةًۢ بِيَدِهٖ

مګر هغه څوک چي یوه لپه یعني په یوه لاس وڅښي یعني زما له ډلي څخه خارج نه دی.

درویش وايي: چي بعض مفسرين ددې حکمت یعني یوه غرفه به څښي او ډیري به نه څښي دادی چي ډيري اوبه په سخته ګرمي کي انسان ته تاوان رسوي او له جنګه يې ضعیفه کوي.

درویش وايي: چي هذا لیس بشيئ لان الغرفة الواحدة لاتکفی للعطشان في الحر الشدید فما معنی اشتراط الغرفة الواحدة مع ان الغرفتین بل الغرفات الثلثة او الاربعة لا یفضی الی الضعف عن القتال بالمرة کمالایخفی، ثم قال ذالک المفسر چي احتمال لري چي دا تحریم یعني تر یوې غرفې بالا څښل له ددوئ جریان د نهر له طالوت څخه وغوښتي وهذا ایضا لیس بشيئ لان طلب الماء عند العطش والحر عن النبي ونائبه وهو طالوت لس بامر مستنکر حتی یستحق الطالب العذاب وقد جاء في الآحادیث ان الصحابة الکرام ﷺ طلبوا الماء من النبي ﷺ کرات ومرات فلم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يستوجبوا بذالك للعقاب فتامل، بل الحق ماقاله صاحب روح البيان حيث قال وذالك الاختبار ليظهر الله تعالى عند طالوت من كان مخلصا في نية الجهاد من غيره ليميز هم من العسكر لان من لايريد الجهاد من قلبه واخلاصه اذا خالط عسكرا مخلصين في النية والقصد فينهزمون بشوم نيته، كما قال السعدي الشيرازي رحمه الله

آنكه جنگ آردبخون خويش بازى ميكند | روز ميدان آنكه بگريزد بخون لشكرى

وهذا مثل الذهب والفضة يميز الخبث فيهما من الصافي بالنار.

فَشَرِبُوا مِنْهُ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ فَلَمَّا جَاوَزَهُ هُوَ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ

نو ولې ته چي ورسېده نو ډېر خلگ ورته پرېوته او خولې يې پر اوبو كښېښوولې او اوبه يې څښلې چي وداسي څښلو ته په عربي كي كرع وايي لكه حيوانات چي ددغه ډول څښلو عادت لري.

پوه سه: چي اهل لغت وايي چي د شربت من النهر معنى هم دغه كرعه ده ولي چي كلمه د "من" ابتدائيه ده يعني ابتداء د څښلو له ولې څخه ده هغه په دغه كرعه كي راځي، او كه سړى په واسطه د لوښي او يا د لاسونو اوبه له ولې وڅښي عربي لفظ د هغه دادى شربت من ماء النهر، او د من النهر استعمال پر دې تقدير نه دى روا.

پوښتنه: په آيت سابقه كي خداى جل جلاله فمن شرب منه ووايه نو چي د من شرب منه معنى كرعه ده په لغت كي، نو استثناء الا قليلا منهم څرنگه څنډي روا ده، ولې چي قليل څښل خو په كرعه نه و بلكه په لپه سره و؟

ځواب: په "فمن شرب منه" كي عموم مجاز دى يعني مطلق څښل مراد دي كه په كرعه وي او كه په لپه وي فصح الاستثناء لدخول المستثنى في المستثنى منه باليقين.

پوه سه: چي سدي رحمه الله وايي چي دا قليل څلور زره كسه وه لكنه ليس بصحيح لما روى البخاري عن البراء بن العاذب رضي الله عنه قال كنا نتحدث اصحاب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محمد ﷺ ان عدة اصحاب بدر على عدة اصحاب طالوت الذين جاوزوا معه النهر ولم يجازوا معه الا مؤمن وكانوا بضعة عشر وثلث مائة وروي الا ثلثمائة وثلثة عشر، په حديث مبارک کي راغلي دي چي هغه کسان چي اکتفاء يې پر يوه غرفه وکړه تنده يې ماته سوه او زړونه يې قوي سوه، او هغه کسان چي مخالفت د امر الهي يې وکړی يعني چي په کرغه يې اوبه ښبل شروع کړه تنده يې هيڅ نه ماتېدل، او له ډېرو اوبو ښبلو څخه يې نسونه يو بام ودربدل او شونډان يې تور سوله او په زړو کي يې خدای ﷻ جبن او بزدلي وريبدا کړه له جنگه څخه، نو هغه پر هم هغه غاړه د ولې پاته سوه او طالوت سره د دري سوه او ديارلس کسانو تر وانه پوري وتله.

قَالُوا لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ ۚ

هغه وخت چي تېر سو طالوت تر ولې او هغه کسان چي دده سره يې ايمان راوړی وو يعني متابعت دده يې کړی په شرب کي د يوې غرفې، او داسي ترجمه يې غلطه ده ايمان يې راوړی پر طالوت ولې چي طالوت خو نبي نه و، نو ووېل هغه کسانو چي د ولې پر هغه بله غاړه پاته وه چي طاقت نسته موږ لره نن ورځ په جنگ کي د جالوت او د لښکر دده غرض ددوئ په دې قول کي معذرت دوئ خپل وايه او د طالوت د مګرو په زړو کي يې بزدلي ور اچول وه.

درويش وايي: چي دا توجيه اظهره ده او هغه توجيه چي روح البيان والا کړې ده چي هغه کسان چي د طالوت سره د ولې بلې غاړې ته پريوتلي وه هغه دوې ډلې سوه چي چي يوې ډلې دا ويله لاطاقة آه، او هغه بلې ډلې ويل کم من فئة قليلة هغه توجيه صحيح نه ده، ولې چي د طالوت کوم کسان تر واله پريوتلي وه هغه ټوله کامل الايمان خلګ وه چي پر نصرت د خدای ﷻ يې مع قلة العدد ايمان و.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوا اللّٰهِ كَمْ مِّنْ فِئَةٍ قَلِيْلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيْرَةً بِاِذْنِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۲۴۹﴾

وویل هغه کسانو چي ظن يې درلودی يعني يقين يې درلودی چي مونږ ملاقي کېږو له خدای ﷻ سره او اميد د ثواب يې درلودی او هغه دغه دري سوه ديارلس کسه وه چي د طالوت سره يې اکتفاء بشرب الغرفة را پوري وته چي ډېر خلي يو جماعت قليله غالب ګرځي پر لوی ډلي په اراده د خدای ﷻ، او خدای ﷻ ملګری دی د هغه کسانو چي صبر کونکي وي پر قتال مع قلة العدد.

پوه سه: چي د ملګری، څخه د خدای ﷻ مراد فتح او ثواب دی.

فائده: لفظ د کم خبري دی په معنا د اخبار د مطلق کثرت دی فتامل فيه.

وَلَمَّا بَرَزُوْا لِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ قَالُوْا رَبَّنَآ اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَّثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۵۰﴾

او هر وخت چي ښکاره سوله يعني طالوت وجنوده او جالوت او دده لښکر يعني دوئ وخپل قلة العدد ته وکتل او د دښمن وقوت او کثرت ته يې وکتل نو داسي خواست يې خدای ﷻ ته وکړی، اې زمونږ ربه تو‌ی کړې يعني راکړې مونږ ته صبراً (تنوين لپاره د تعظيم دی ای صبرا عظيما) او ټينګې کړې پښې زمونږ يعني په ميدان کي د جنګ چي فرار ونه کړو او مرسته راسره وکړې پر کفارو يعنون جالوت وجنوده.

درويش وايي: چي راغب اصفهاني رحمه الله وايي چي په دې قصه کي اشاره د وحال ته د دنيا او او د طالبانو د دنيا په دې معنا په مثال د ولې د طالوت دده او دنياوال لکه لښکر د طالوت دي. نو که چا طلب د دنيا کاوه له حلال او حرام څخه او په حرص د دنيا کي غرق وچي نه يې د ناصح خبره منله او د دنيا په طلب کي يې له منهياتو څخه ډډه نه کوله نو ددغو دنياوالو مثال د هغو

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

عسکرو د طالوت په شان دی د اولی الامر طالوت او د نبي شموئيل په خوله يې ونه کړه او اوبه د ولې يې په کرغه سره وڅښلې هغه و شر الدنيا والآخرة وګرځېدل، او دغه دنياوال طالبان او حريصان د دنيا من الحلال والحرام هم دغسي په خسران کي د دنيا او آخرت واقع سي. او هغه طالبان د دنيا چي لږ دنيا حلاله خپل قوت کوي او نه په طلب کي د دنيا محرمات شرعيه کوي او نه په طلب کي د دنيا و اوامرو شرعيه وو ته تغير ورکوي، او امر او نهي ته د خدای ﷻ او د رسول ﷺ يې صبر کړی وي په مثال د هغو دري سوه ديارلس کسانو دي چي يوه غرفه اوبه يې وڅښلې او د طالوت سره تر واله پوري وته.

درويش وايي: چي پوهان د دين وايي چي د دنيا مثال د مالګي دی، مالګه که سرې وښوروا وغيره ته لږ په اندازه د ښوروا ورواچوي، نو ښوروا به يې مزه داره وي او د بدن به ښه غذاء وي، او که تر قدر لازم مالګه وګټو وغيره ته ورواچوي طعام به يې بد مزه وي، او که يې وه هم خوري سبب د ناجوړی د فشار مثلا به وګرځي چي علاج بې بيا په دواء او پرهېز سره کېږي، وفي الحدث الصحيح النبوي ﷺ ﴿لو ان لابن آدم واديين من ذهب لابتغي اليهما ثالثا فلا يملأ جوف ابن آدم الا التراب ای تراب القبر ويتوب الله على من تاب﴾ ای چي توبه وکاږي له خپل حرص مذموم څخه په طلب کي د دنيا وغيره من الافعال المذمومة.

درويش وايي: چي محمل ددې حديث طبع انساني د بني آدم ده يعني بني آدم چي پر خپل طبعيت پاته وي او په امور شرعيه وو سره پاک سوی نه وي، خو نس يې بيله د خوارو د قبر نه ډکېږي، او جوف ددغسي بن آدم همېشه لکه دوږخ د هل من يزيد نعرې وهي، نو انبياء عليهم السلام او اولياء الله الكرام له دغه څخه مستثنى دي، في المثنوي

بر فلک برتر بود اسرار او شيئاالله شيئاالله کار او

جامي رحمه الله د خپل مرشد خواجه عبيدالله احرار رحمه الله چي ډېر متمول سړی و داسي وايي

چوفقر اندرقبائی شاهی آمد بتدبير عبيد الله آمد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مثنوي

گفته او گفته الله بود   گرچه از حلقوم عبد الله بود

وفي الحديث النبوي ﷺ رب اشعث اغبر مدفوع عن الابواب لو اقسم على الله لابره او كما قال ﷺ، او یا دا حدیث مبارک قضیه مهمله په قوت کې د جزیې ده خو بیا هم انبیاء علیهم السلام او صلحاء د امت مرحومه پکښې داخل نه دي، روى انه عليه الصلوة والسلام قال في وصية لابي هريرة ﷺ عليك يا ابا هريرة (پر تا لازمه ده) بطريق اقوام (لار د هغو اقوامو) اذا فزع الناس لم يفزعوا (چې خلگ بېرېږي دوئ نه بېرېږي) واذا طلب الناس الامان من النار لم يخافوا (او چې خلگ امان له اوره غواړي دوئ نه بېرېږي) قال ابو هيرة ﷺ من هم يا رسول الله ﷺ (ابو هریره ووېل چې څوک دي دغه کسان اې رسوله د خدای ﷺ) قال قوم من امتي في آخير الزمان (یو قوم دی زما له امت څخه په اخیره زمانه کې) يحشرون يوم القيامة محشر الانبياء (حشر کړه کېږي لکه حشر د انبیاؤ) اذا نظر اليهم الناس ظنوهم انبياء (چې خلگ ودوئ ته وګوري د انبیاؤ گمان یې پر کېږي) مما يرون حالهم (له دې سببه چې د دوئ حال او رفعت شان ته وګوري) حتى اعرفهم فاقول امتي امتي (حتی چې وه پېژنم نو زه ووایم دا زما د امت خلگ دي دا زما امتیان دي) فيعرف الخلائق انهم ليسوا بانبياء (نو اهل محشر ويوهېږي چې دا خو انبياء نه دي) فيمرون مثل البرق او الريح تغشي ابصار اهل الجمع من انوارهم (دوئ به تېرېږي لکه برق او یا باد چې پټې به سي سترګي د جماعت حاضره له انوارو څخه د دوئ) فقلت مرني بمثل عملهم لعلي الحق بهم (ماورته ووېل یا رسول الله ما امر کړه په مثل د عملو د دوئ شاید زه به هم ملحق سم په دوئ سره) فقال يا ابا هريره ركب القوم طريقا صبا (علیه السلام ووېل چې دا قوم روان پر یوه سخته لار وو) اثروا لجوع بعد ما اشبعهم الله والعرى بعد ما كساهم الله، والعطش بعد ما ارواهم الله (دې خلگو مختاره کړې وه لوږه وروسته تر دې چې خدای ﷻ دوئ ماړه کړي وه او دوئ مختاره کړی و لڅ والی د ابدانو پس له دې خدای ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ودوئ ته کالي ورکړي وه او دې خلګو خوښه کړې وه تنده پس له دې چې خدای ﷻ دوئ ته اوبه ورکړي وې. والغرض چې دغه قوم ته خدای ﷻ مالونه او مطعومات ورکړي وه لکن دوئ لوږه په سبب د روژو مثلا مختاره کړې وه. او دوئ ته خدای ﷻ فاخره جامې ورکړي وې او دوئ پخپل اختیار د فقراء جامې اغوستې. او دوئ ته خدای ﷻ ډېرې ښې لذیذې اوبه ورکړي وې لکن دوئ تنده مختاره کړه لکه د دوبي په نفلي روژو سره مثلا) ترکوا ذالک رجاء ما عندالله (دوئ پرې ایښې وه تول دغه شیان په امید د ما عند الله من نعیم الجنان من المطعومات فیها والملبوسات فیها والمشروبات منها، ترک الحلال مخافة حسابه (دوئ حلال شیان پرې ایښي وه له بېرې د حسابه په قیامت) صحبو الدنیا بابدانهم ولم یشتغلوا بشیءٍ منها (د دنیا سره ملګري وه په بدونو سره یعني په ظاهره سره او مشغوله نه وه په هیڅ شي د دنیا یعني په زړو سره) عجبت الملائکة والانبیاء بطاعتهم لربهم طوبی لهم (او تعجب کوي ملکي او انبیاء په طاعت سره ددوئ لپاره د رب ددوئ خوشحالي ده دوئ لره) ولوددت ان الله جمع بیني وبینهم (او زما خوښ او محبت مې دی ددې چې ما اودوئ خدای ﷻ سره جمع کړی) ثم بکی رسول الله ﷺ شوقا الیهم (بیا علیه السلام وژړل له جهته د شوق ودوئ ته) قال علیه الصلوة والسلام اذا اراد الله باهل الارض عذابا فنظر الیهم صرف العذاب عنهم فعلیک یا ابا هریرة بطریقهم (او علیه السلام وویل چې څه وخت چې خدای ﷻ اراده وکړي د عذاب مخکې والا وو ته او دې خلګو ته وګوري د اهل الارض عذاب پورته کړي؛ نو ته پر خان لازمه وګرځوه ای ابو هریره طریقه ددوئ) هذا ماروه صاحب روح البیان في تفسیره او درویش ي ترجمه وکړه په پښتو ووطنوالو ترو او ښخو ته. شیخ عطار رحمه الله درحال اینفریق چنین میگوید.

در راه تو مراد اند از خویش نهان مانده	بی جسم وجهت کشته بی نام ونشان مانده
تن شان بشریعت هم ودل شان بحقیقت هم	هم دل شده وهم جان نه این ونه آن مانده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش مېګويد كه شيخ بزرګوار خواجه عبدالله انصاري هروي كمک اشاره نموده ودر صد احوال اينفريق را چنان نمودار ساخته اند

حبذا قومي كه داد بنده گي را داده اند
ترک دنيا گفته اند واز همه ازاده اند

روزها باروزها در گوشها بنشسته اند
با زشبها د رقيام بنده گي استاده اند

نفس خودراقهر كرده روح خودرابرفتوح
زادتقوى برگرفته بهر مرگ اماده اند

طرفة العينى نبوده از حضرت ولى
سيلها بااين همه از ديدها بگشاده اند

يكزمان از نوحه همچون نوح فارغ نيستند
همچو يحى گويا از بهرزارى زاده اند

زآب تاب تب الى الله غسل كرده آن كسان
روى خود برخاكپاى اسجدوا نهاده اند

ربنا گويند از ان لبيک عبدى بشنوند
جمله سرمست الست از جرعه آن باده اند

راحتى ديدند وزوقى يافتند از انس وجان
روزوشب دركنج خلوت برسر سجاده اند

تابدنيا آمدند از كلبه كتم علدم
سوى حضرت جزنيازوناله نفرستاده اند

پير انصارى تو ميدانى كه ايشان كيستند
فرقه بى كرر فروز مره دلى ساده اند

فَهَزَمُوهُم بِإِذْنِ اللَّهِ

نو شكست وكړى بني اسرائيلو وجالوت او قوم دده عمالقه وو ته په اجازه د خداى ﷻ او نصرت د خداى ﷻ كمانصر الله محمدا ﷺ واصحابه ﷺ وهم ۳۱۳ ببدر الفا من المشركين من اهل مكة وقتل منهم سبعون واسر سبعون.

وَقَتَلَ دَاوُدُ جَالُوتَ

او مړ كړى داؤد جالوت راس العمالقه.

پوه سه: چي جالوت يو ډېر غټ ظالم له اولاده ځخه د عمليق بن عاد و، او په جنګ كي داسي غښتلى وچي په يوازي سر يې د دښمن ولښكر ته شكست وركاوه او كوم جنګي خول چي به ده پر سر اېښووى په جنګو كي دري سوه رطله وسپنه وه، او دده سايه به يو ميل پر مخكه وه لطول قامته، تاريخ وايي چي ايشا نامى چي د داؤد پلار و له هغه ډلي ځخه و چي سره د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اوو زامنو د طالوت سره تر ولې تېر سو، او داوډ دده کشری زوی و چي د پسو د پولو لپاره پلار پر کور پرې ايښی و، نو نبي ته يعني شمونيل ته خدای ﷻ وحي وکړې چي داوډ بن ايشا به جالوت ووژني فطلبه من ابيه فجاء به، فقال النبي اشمونيل ﷺ لداوډ قد جعل الله قتل جالوت على يدك فاخرج معنا. نو داوډ هم ورسره رهي سو، نو په لار کي د داوډ يوه ډبره پرته وه هغې ډبري ور ناره کړه او ورته وه يې ويل چي زه حجر ذ هارون يم چي ده په ما ډېر جباران وژلي دي ما درسره واخله. بيا داوډ پر بله ډبره تېرېدی هغې ورته وويل چي ما در سره واخله زه حجر موسى ﷺ يم چي په ما سره يې دونده دونده کفار وژلي دي. نو هغه هم داوډ هم راواخستل. او بيا د داوډ په مخه بله ډبره ورغله هغې ورته وويل چي ما درسره واخله په مابه ته جالوت وژنې نو هغه هم داوډ وبغل ځولۍ ته واچول.

پوه سه: چي د داوډ عادت دا و چي په مچلوغه به يې هر شی ويشتی که به زمری وايي او که به لېوه وای او که به پرانګ ځای پر ځای به يې هلاک کړی. نو پر ميدان د جنګ د جالوت جبار او دده فوج بې عدده وو او د طالوت فوج چي درې سوه ديارلس (٣١٣) کسه وه مقابله شروع کېدله جالوت په خپل غرور ميدان ته راغلی نو يې نعره وکړه چي ځوک دی چي زما مقابلې ته راسي هيڅ چا د بني اسرائيلو د جواب طاقت نه درلودی. نو جالوت وويل ای بني اسرائيلو که تاسي پر حق ياست نو زما مقابلې ته ولي ځوک نه راوځي. نو داوډ خپلو ورونو ته وويل چي ددې منحوس مقابلې ته به زه ور ووزم، نو ورونو يې هيڅ رغ ونه کړی، بيا طالوت ملک بني اسرائيل و داوډ ته وويل او وعده يې ورسره وکړه چي زه به تاته خپله لور درکوم او نيمی سلطنت به هم درکړم، نو طالوت خپل آس ورکړی او زغره يې ورکړه او توره يې ورکړه، نو داوډ چي پر آس سپور سو د دوارو خواوو فوجونه يې ننداره کوي داوډ تر مقابلې د جالوت نارسيده بيرته طالوت ته راغلی خلګو نارې کړې جبن الغلام ځوان بې زړه سو، نو طالوت پوښتنه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

خندي وكړه چي څه كوې چي بيرته راغلې داؤد ورته وويل كه خداى ﷻ زما كومك ونه كړي نو دا سلاح او آس او زغره هم په درد نه خوري، نو ما او خپل كار سره پرېږده طلوت ورته وويل نعم، نو داؤد خپل بغل خولى وغاړي ته واچول او مچلوغه يې ورسره واخسته او د جالوت پر خوا روان سو. راوي وايي چي جالوت چي داؤد وليدى په زړه كي يې ډېر رعب پيدا سو، نو داؤد ته يې وويل ارجع يا فتى فاني ارحمك ان اقتلك، داؤد ورته وويل چي زه به تا وژنم، جالوت ورته وويل چي په څه شي مي وژنې، داؤد ورته وويل په دغو ډبرو او په مچلوغه، جالوت ورته وويل چي په دې خو سړي سپي وژني، داؤد ورته وويل چي انت شر من الكلب، جالوت ورته وويل چي زما دي قسم وي چي ستا غوښي به زه د درندګانو د مځكي او د هوا پر مرغانو تقسيم كړم، داؤد ورته وويل چي ستا غوښي به داغسي تقسيم سي ان شاء الله، نو داؤد وويل باسم اله ابراهيم يوه ډبره يې له توبرې څخه راوكښل ثم اخرج آخر باسم اله اسحق او بيا يې ډبره راوكښل وقال باسم اله يعقوب او درې سره يې په مچلوغه كي كښېښوولې، او هغه سره يوه ډبره سوې، نو يې مچلوغه پر سر وګرځوله او د جالوت پر خوا يې وروغوځول، خداى ﷻ وباد ته امر وركړى چي دا ډبره د جالوت پر خول چي د اوسپني و وه يې لګوه، نو ډبره چي پر خول ومښتل په مغزو كي يې ولاړه او تر څټ يې ووتل، او جالوت چي غوځار سو ډېرش كسه تر ده لاندي سوه او د جالوت لښكر وتښتېدى، داؤد راغلى جالوت يې تر پښو كش كړى د طالوت ومخ ته يې وغورځاوه ففرح المسلمون فرحا شديدا ورجعوا الى مدينتهم سالمين غانمين فزوجه طالوت ابنته او دده مهر ته يې اعتبار وركړى په نيم مملكت كي حسب وعدته، او د طالوت تر وفات وروسته ټوله سلطنت د داؤد سو، او د شموئيل ﷺ د وفات وروسته خداى ﷻ داؤد نبي هم كړى او زبور كتاب يې پر نازل كړى، تاريخ وايي چي د بني اسرائيلو همېشه نبوت په يوه سبط كي و او سلطنت به يې په بل سبط كي و لكن په داؤد كي سلطنت او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نبوت خدای ﷻ دواړه سره جمع کړه لله الامر یفعل مایشاء یحکم مایورید.

وَآتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ

او ورکړه خدای ﷻ وداوُد ته پادشاهي د بني اسرائیلو او حکمت یعني نبوت

وَعَلَّمَهُ مِمَّا يَشَاءُ

او داوُد ته خدای ﷻ وروښوول بعض هغه شیان چي د خدای ﷻ خوښ وه یعني اراده یې وه.

(۱) جوړول د زغرو چي جنګي قمیص و قال الله تعالى في موضع آخر من القرآن والنالہ الحدید کما سیجیئ تفصیله في هذا التفسیر في موضه ان شاء الله العزیز الکریم، نو د داوُد ﷺ خوراک له عمل څخه د خپل لاس و، او له بیت المال څخه یې هیڅ شی نه اخستی، په حدیث شریف کي چي بخاري یې روایت کړی دی علیه السلام وایي ماأکل احد طعاما خیرا من ان یاکل من عمل یدیه وان نبي الله داوُد کان یاکل من عمله یدیه، یعني زغري به یې جوړولې او بیا به یې خرڅولې او د ځان او د کور ګذاره به یې په کوله.

(۲) په خبرو د مرغانو او مېږیانو پوهېدی. (۳) او خدای ﷻ دومره ښه صوت حسن ورکړی و چي ده به زبور وایه ټوله وحشي حیوانات به پر راغونډ سوه، او مرغان به یې پر سر سایه بان سوله او جاري اوبه به پر ځای ودرېدلې، او که به باد و هغه به هم ساکن سو وغیرها من المکرمات.

درویش وایي: چي بعض مفسرانو یوه قصه رانقل کړې ده په مخالفت کي په منځ کي طالوت او د داوُد چي نه یې عقل تائید کوي او نه یې تاریخ او امام مظهري هغه قصه په سختئ سره رد کړې ده والله اعلم بالصواب.

وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَفَسَدَتِ الْأَرْضُ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿۲۵۱﴾

او که نه وایي دفع کول د خدای ﷻ بعض لکه کفار په بل بعض سره چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مؤمنان دي، نو به فاسده سوې وايي مځکه يعني مشركانو به غلبه کړې وايي، نو ددوئ به فساد په مځکه کي کولای او ښارونه به يې د مسلمانانو خرابولای او عبادالله چي مسلمانان دي هغه به يې وژلای، او ظلم به يې پر کولای، او خلګ د ايمان بالله او د عبادت الهي څخه منع کولای، او بعض مفسران رح يې داسي ترجمه کوي که خدای ﷻ نه دفع کولای په مؤمنانو او ابرارو سره عذاب د كفارو او فجارو څخه، نو مځکه به بر باد سوې وايي، ولي مځکه د خدای ﷻ غالبا په كفارو او فجارو سره آباده ده، نو چي پر دوئ عذاب الهي نازل سوی وايي او له منځه تتلي وايي لخربت الدنيا، ولهذا قيل لولا الحمقى لخربت الدنيا لكن خدای ﷻ له كافر څخه عذاب دفع کوي په مؤمن سره، او په ابرارو له فجارو څخه كمامر في الحديث الطويل عن ابي هريرة رضي الله عنه او دغه په حديث کي د ابن عمر رضي الله عنه چي مروي دي قال چي رسول الله ﷺ ووبل ان الله يدفع بالمسلم الصالح عن مائة اهل بيت من جيراته البلاء ثم قرء ولولا دفع الله الناس آه

پوښتنه: څه سبب دی چي تعمير ظاهري د مځکي غالبا بل كليا د كافرانو په لاس کي دی؟

ځواب: چونکه كافران له قيامته څخه منكر دي حقيقة كالمشركين من هنود الهند والجابان وغيرهما، او يا حكما منكر دي كاليهود والنصارى بعد بعثة النبي ﷺ، نو دوئ ټوله خپل همت مبذول وتعمير ته د دنيا ګرځولی وكذا من في حكمهم من فجار المؤمنين، واما المؤمنون الصالحون فجل سيعهم مبذول في تعمير الآخرة ويعمرون الارض بقدر الضرورة.

تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ۭ وَاِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۲۵۲﴾

پوه سه: چي "تلك" مبتداء ده او مابعد يې خبر دی يعني دغه قصه د الوف چي خرجوا من ديارهم آه او قصه د اتيان د تابوت وتمليک طالوت او شكست د جبابره د عمالقه و، او قتل د داؤد د جالوت لره واتيان الملک والحكمة

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

لداوُد د آياتو او د دلائلو د قدرت د خدایﷻ دی، او ستا پر نبوت هم دلائل دي مورږ يې تلاوت کوو پر تابانديې په حق سره، يعني برابر د واقع او د کتابو سره د اهل کتابو او په تحقيق ته له رسولانو څخه د خدایﷻ يې.

درويش وايي: چي دغه قصه معجزه د رسول اللهﷺ هم ده او دليل د نبوت د عليه السلام ده، ولي چي عليه السلام نبي امي و، نو څرنګه دا قصص مطابقه للواقع بېله وحي الهي ده کولای سوای.

درويش وايي: چي الحمد لله الذي وفقني لتفسير جزء سيقول بالخير والعافية والصحة والسلامة، وصلوته وسلامه على خير البرية محمد وآله وصحبه البررة وعلى تابيعهم وتبعهم الى يوم القيامة وهذا من عظيم من رب العالمين على هذا العبد الجهول الظلوم.

درويش وايي: چي په ورځ د دوشنبې د ماپښين پر څلور بجې د جمادي الاول پر اته ويشت (۲۸) تاريخ سنه (۱۴۲۶) هجري قمري تفسير د جزء د سيقول چي په حساب د جلدو د تفسير ايوبي دريم جلد دی ختم سو ان شاء الله په تفسير د جزء ثالث تلک الرسل به شروع وکړه سي، زما کار صرف او صرف اراده او بذل الهمة دی او اتمام يې پر رب العزت دی مرزا غالب وايي

همت بلند دار که نزد خدا وخلق باشد بقدر همت تو اعتبار تو

وفي المثنوي

علم چون بردل زند یاری شود علم چون برتن زند ماری شود

از خوانندگان محترم امید دارم که بنظر حسد علمی یا قومی باهم عصری تفسیر درویش را مطالعه ننماید بلکه براه انصاف بجای غیبت درویش را دعا کنید که خدا توفیق بدهد واین تفسیر را تابه پایان برساند بر کریمان کارها دشوار نیست

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او

pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۱	د سیقول السفهاء تفسیر	۸
۲	د قل لله المشرق والمغرب تفسیر	۱۰
۳	د وکذالک جعلنکم تفسیر	۱۱
۴	درویش وایي	۱۴
۵	د وما جعلنا القبلة تفسیر	۱۸
۶	حکایت	۲۳
۷	د قد نری تقلب وجهک تفسیر	۲۶
۸	اختلاف العلماء	۲۷
۹	د فلنولینک قبلة ترضها تفسیر	۲۹
۱۰	درویش وایي	۳۰
۱۱	فائده	۳۲
۱۲	د وحیث ماکنتم تفسیر	۳۴
۱۳	د ولئن اتیت الذین تفسیر	۳۵
۱۴	د ولئن اتبعت اهواء هم تفسیر	۳۶
۱۵	د الذین اتینهم الکتب تفسیر	۳۸
۱۶	د وان فریقا منهم تفسیر	۴۰
۱۷	د ولکل وجهة هومولیها تفسیر	۴۲
۱۸	د ومن حیث خرجت تفسیر	۴۴
۱۹	فائده نحویه	۴۵
۲۰	د کما ارسلنافیکم تفسیر	۵۱
۲۱	د فاذکروني اذکرکم تفسیر	۵۶
۲۲	د یاایها الذین امنوا استعینوا تفسیر	۵۹
۲۳	د ولاتقولوا لمن یقتل في سبیل الله تفسیر	۶۲
۲۴	درویش وایي	۶۴
۲۵	د ولنبلونکم بشی تفسیر	۶۶
۲۶	فائده نحویه	۶۹
۲۷	د اولئک علیهم صلوت من ربهم ورحمة تفسیر	۷۲
۲۸	مسئله	۷۳
۲۹	مثنوي	۷۶
۳۰	د ان الصفا والمروة من شعائر الله تفسیر	۷۷

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	فهرست
۳۱	درویش وایي	۸۴
۳۲	د ان الذین یکتمون ما انزلنا تفسیر	۸۶
۳۳	د الا الذین تابوا واصلحوا تفسیر	۸۸
۳۴	د ان الذین کفروا وماتوا وهم کفار تفسیر	۹۱
۳۵	د خلدین فیها لایخفف عنهم تفسیر	۹۲
۳۶	د والهکم اله واحد تفسیر	۹۴
۳۷	د ان في خلق السموات والارض تفسیر	۹۷
۳۸	فائده	۹۹
۳۹	د ومن الناس من یتخذ من دون الله تفسیر	۱۰۵
۴۰	مسئله	۱۰۷
۴۱	د والذین امنوا اشدحبا لله تفسیر	۱۰۸
۴۲	تجدید نظري	۱۰۹
۴۳	د ولو یری الذین ظلموا تفسیر	۱۱۰
۴۴	د اذ تبرا الذین اتبعوا تفسیر	۱۱۲
۴۵	د وقال الذین اتبعوا لو ان لنا کرة تفسیر	۱۱۳
۴۶	د یاایها الناس کلوا مما في الارض تفسیر	۱۱۴
۴۷	پوښتنه	۱۱۵
۴۸	د ولا تتبعوا خطوات الشیطن تفسیر	۱۱۸
۴۹	د انما یامرکم بالسوء والفحشاء تفسیر	۱۲۰
۵۰	تحقیق اصولي	۱۲۲
۵۱	د واذا قیل لهم اتبعوا تفسیر	۱۲۵
۵۲	د ومثل الذین کفروا تفسیر	۱۲۸
۵۳	لویه فائده په تیوله عربیت کي په بنه	۱۳۰
۵۴	د یاایها الذین امنوا کلوا من طیبت تفسیر	۱۳۲
۵۵	د انما حرم علیکم المیتة تفسیر	۱۳۵
۵۶	مسئله	۱۳۶
۵۷	درویش وایي	۱۳۹
۵۸	د فمن اضطر غیر باغ ولاعاد تفسیر	۱۴۲
۵۹	د ان الذین یکتمون ما انزل الله تفسیر	۱۴۵
۶۰	د اولئک الذین اشتروا الضللة بالهدی تفسیر	۱۴۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۶۱	د ذالک بان الله نزل الکتب بالحق تفسير	۱۵۰
۶۲	القصه	۱۵۲
۶۳	د ليس البر ان تولوا وجوهکم قبل المشرق والمغرب تفسير	۱۵۳
۶۴	د يا ايها الذين امنوا کتب عليکم القصاص في القتلى تفسير	۱۶۴
۶۵	مسئله	۱۶۶
۶۶	درويش وايي	۱۶۸
۶۷	د ولکم في القصاص حيوة ياولي الالباب تفسير	۱۷۴
۶۸	د کتب عليکم اذا حضر احدکم الموت تفسير	۱۷۶
۶۹	درويش وايي	۱۷۹
۷۰	د فمن بدله بعد ما سمعه تفسير	۱۸۰
۷۱	د فمن خاف من موص جنفا او اثما تفسير	۱۸۲
۷۲	حکايت	۱۸۴
۷۳	درويش وايي	۱۸۵
۷۴	د ياايها الذين امنوا کتب عليکم الصيام تفسير	۱۸۷
۷۵	د اياما معدودات تفسير	۱۸۸
۷۶	د شهر رمضان الذي انزل في القرآن تفسير	۲۰۰
۷۷	مسئله	۲۱۲
۷۸	د واذا سالک عبادي عني فاني قريب تفسير	۲۱۸
۷۹	فوائد شتى	۲۲۰
۸۰	حکايت	۲۲۴
۸۱	اداب الاجابت	۲۲۵
۸۲	د احل لکم ليلة الصيام الرفث الى نسائکم تفسير	۲۲۶
۸۳	ثم اتموا الصيام الى الليل تفسير	۲۳۴
۸۴	فوائد الاعتکاف	۲۳۸
۸۵	د عوامو غلطيا	۲۳۹
۸۶	د ولا تاکلوا اموالکم بينکم بالباطل تفسير	۲۴۲
۸۷	حکايت	۲۴۵
۸۸	د يسئلونک عن الاهلة تفسير	۲۴۷
۸۹	وقاتلوا في سبيل الله الذين يقاتلونکم تفسير	۲۵۲
۹۰	د واقتلواهم حيث ثقفتموهم واخرجوهم تفسير	۲۵۳

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۹۱	د فان انتهوا فان الله غفور رحيم تفسير	۲۵۵
۹۲	د وقتلوهم حتى لاتكون فتنة تفسير	۲۵۶
۹۳	درويش وايي	۲۵۷
۹۴	د وانفقوا في سبيل الله تفسير	۲۶۰
۹۵	حکايت	۲۶۲
۹۶	د واتموا الحج والعمرة لله تفسير	۲۶۵
۹۷	فائده	۲۶۸
۹۸	مسئله	۲۷۱
۹۹	پوښتنه	۲۷۶
۱۰۰	د فمن كان منكم مريضا تفسير	۲۷۷
۱۰۱	د فمن لم يجد فصيام ثلثة ايام تفسير	۲۸۱
۱۰۲	د الحج اشهر معلومات تفسير	۲۸۸
۱۰۳	د ليس عليكم جناح ان تبتغوا فضلا من ربكم تفسير	۲۹۴
۱۰۴	د فاذا افضتم من عرفات تفسير	۲۹۵
۱۰۵	درويش وايي	۲۹۷
۱۰۶	تنبيه	۲۹۸
۱۰۷	د ثم افيضوا من حيث افاض الناس تفسير	۳۰۱
۱۰۸	د فاذا قضيتم مناسككم تفسير	۳۰۲
۱۰۹	د ومنهم من يقول ربنا اتنا في الدنيا حسنة تفسير	۳۰۴
۱۱۰	د اولئک لهم نصيب مماكسبوا تفسير	۳۰۵
۱۱۱	د واذكروا الله في ايام معدودات تفسير	۳۰۹
۱۱۲	د ومن الناس من يعجبک قوله تفسير	۳۱۳
۱۱۳	مسئله	۳۱۶
۱۱۴	د واذا تولى سعى في الارض تفسير	۳۱۸
۱۱۵	د واذا قيل له اتق الله تفسير	۳۲۰
۱۱۶	د ومن الناس من يشترى نفسه تفسير	۳۲۱
۱۱۷	درويش وايي	۳۲۴
۱۱۸	د تعجب خبره	۳۳۲
۱۱۹	د يا ايها الذين امنوا ادخلوا في السلم كافة تفسير	۳۳۴
۱۲۰	د فان زللتم من بعد ماجاءتكم البينت تفسير	۳۳۵

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۱۲۱	د هل ينظرون تفسير	۳۳۵
۱۲۲	فائده مهمه	۳۳۶
۱۲۳	د سل بني اسرائيل كم اتينهم تفسير	۳۳۶
۱۲۴	د زين للذين كفروا الحيوة الدنيا تفسير	۳۳۸
۱۲۵	حکایت	۳۴۱
۱۲۶	د كان الناس امة واحدة تفسير	۳۴۲
۱۲۷	د ليحكم بين الناس فيما اختلفوا فيه تفسير	۳۴۵
۱۲۸	د ام حسبتم تفسير	۳۴۷
۱۲۹	د يسئلونک ماذا ينفقوان تفسير	۳۵۰
۱۳۰	د كتب عليكم القتال تفسير	۳۵۲
۱۳۱	د يسئلونک عن الشهر الحرام تفسير	۳۵۶
۱۳۲	د قل قتال فيه كبير تفسير	۳۶۰
۱۳۳	جمله معترضه وحكاية غريبه	۳۶۵
۱۳۴	د ان الذين امنوا والذين هاجروا تفسير	۳۶۶
۱۳۵	حکایت	۳۶۷
۱۳۶	د يسئلونک عن الخمر تفسير	۳۶۹
۱۳۷	مسئله	۳۷۴
۱۳۸	د ويسئلونک ماذا ينفقون تفسير	۳۷۵
۱۳۹	د في الدنيا والآخرة تفسير	۳۷۸
۱۴۰	تبصره	۳۷۹
۱۴۱	د والله يعلم المفسد من المصلح تفسير	۳۸۱
۱۴۲	ولاتنكحوا المشركت حتى يؤمن تفسير	۳۸۳
۱۴۳	د ويسئلونک عن المحيض تفسير	۳۸۸
۱۴۴	د ولاتقربوهن حتى يطهرن تفسير	۳۹۳
۱۴۵	د نسائكم حرث لكم تفسير	۳۹۵
۱۴۶	د وقدموا لانفسكم تفسير	۳۹۷
۱۴۷	د ولاتجعلوا الله عرضة لايمانكم تفسير	۳۹۹
۱۴۸	مسئله	۴۰۲
۱۴۹	حکایت	۴۰۳
۱۵۰	د لايؤاخذكم الله باللغو في ايمانكم تفسير	۴۰۴

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۱۵۱	د للذين يولون من نسائهم تفسير	۴۰۷
۱۵۲	د وان عزموا الطلاق فان الله تفسير	۴۰۹
۱۵۳	د والمطلقت يتربصن بانفسهن تفسير	۴۱۱
۱۵۴	د لهن مثل الذي عليهن بالمعروف تفسير	۴۱۷
۱۵۵	د الطلاق مرتن تفسير	۴۲۳
۱۵۶	د فان طلقها فلاتحل له تفسير	۴۲۹
۱۵۷	مسئله نادره	۴۳۳
۱۵۸	مسئله	۴۳۵
۱۵۹	د واذا طلقتم النساء فبلغن اجلهن تفسير	۴۳۶
۱۶۰	د واذا تراضوا بينهم بالمعروف تفسير	۴۴۲
۱۶۱	د والوالدات يرضعن اولادهن تفسير	۴۴۵
۱۶۲	اختلاف الائمة	۴۴۷
۱۶۳	د والذين يتوفون منكم تفسير	۴۵۳
۱۶۴	تفصيل الاحداد	۴۵۶
۱۶۵	بدعت سيئة	۴۵۷
۱۶۶	د پښتو غلط رواج	۴۵۸
۱۶۷	د ولاجناح عليكم فيما عرضتم تفسير	۴۶۰
۱۶۸	د لاجناح عليكم ان طلقتم النساء تفسير	۴۶۴
۱۶۹	د حافظوا على الصلوة تفسير	۴۶۶
۱۷۰	د فان خفتم فرجالا او ركبانا تفسير	۴۷۱
۱۷۱	د والذين يتوفون منكم تفسير	۴۷۵
۱۷۲	د وللمطلقت متاع بالمعروف تفسير	۴۷۵
۱۷۳	حكايت	۴۷۷
۱۷۴	د الم تر الى الذين خرجوا من ديارهم تفسير	۴۷۸
۱۷۵	فائده حسن بصري وايي	۴۸۲
۱۷۶	مسئله شرعيه	۴۸۳
۱۷۷	د ان الله لذو فضل على الناس تفسير	۴۸۴
۱۷۸	د الم تر الى الملا من بني اسرائيل تفسير	۴۸۵
۱۷۹	د وقاتلوا ومالنا الا نقاتلوا تفسير	۴۸۸
۱۸۰	د وقال لهم نبيهم ان الله قد بعث تفسير	۴۹۱

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۱۸۱	د وقال لهم نبيهم ان اية ملکه تفسير	۴۹۲
۱۸۲	د فلما فصل طالوت بالجنود تفسير	۴۹۴
۱۸۳	د ولما برز والجالوت وجنوده تفسير	۴۹۷
۱۸۴	درویش میگوید	۵۰۱
۱۸۵	د فهزموهم باذن الله تفسير	۵۰۵
۱۸۶	د ولولا دفع الله الناس تفسير	۵۰۵
۱۸۷	د تلک اية الله نتلوها عليک بالحق تفسير	۵۰۸



د چاپ کمپوز، ژباړې (ترجمې) او سمون (تصحيح) لپاره!

حقاني کمپيوټر:- ستاسو کتابونه، مجلې، خبري پاڼې او نور طباعتي توکي په ښه ځرنګوالي او معيار کمپوزوي. که غواړئ چې پښتو، پارسي، أردو، عربی او انګرېزي ليکنې مو په خپلو خپلو معياري تورو او پروګرامو کمپوز شي، که غواړئ چې خپل کتابونه په ښه سټينډرډ چاپ کړئ؛ نو حقاني کمپيوټر ته مراجعه وکړئ. په کوټه کې د ښه کمپوز او چاپ يوازينی مرکز.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د آخر الزمان فخر موجودات سردار کل عالم د ټر ټولي غتې او ژوندی معجزې یعني قرآن مجید په زړه پورې تاریخ په کتابي شکل کې په معیاري پښتو سره لیکل سوی یعني

قصص القرآن

چې د پیش امامانو لپاره د نصیحت یوه غټه ذریعه ده، همدارنګه د مطالعې او په ژوند کې د سفر لپاره ډېر ښه ملګری دی

خپرونکې اداره

مکتبة القرأة و التجوید

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د اسلامي تاريخ يو مشهور او مستند كتاب په كوم كې چې د انبياء عليهم السلام قصص له آدم ﷺ څخه بيا تر نبي آخر زمان ﷺ پورې ډېرې باسنده قصې له قرآن او احاديثو څخه رانقل سوي دي په ښه خوږه پښتو يې زموږ اداره وړاندې كوي

قصص الانبياء

ښه رنګ، ښه كاغذ، ښه چاپ او د كمپيوټر په بنانسته ليكني سره ليكل سوى، دا به هم ډېر ژر ومينه والو ته وړاندې سي

خپرونكې اداره

مكتبة القرآة والتجويد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د حضرت مولانا محمد زکریاء علیه الرحمه یو

مشهور او گټور کتاب یعني

فضائل اعمال

چي د وعظ او تقریر لپاره د هر پیش امام لپاره ضروري دی ولي چي په دې کتاب کې پر مختلفو اعمالو باندې ښه او په زړه پورې بحثونه سته چي د قرآن او احادیثو په رڼا کې ورباندې روښنایي اچول سوې ده .

له اردو څخه په خوږه پښتو د وخت د تکړه او ځوان عالم قاري محمد فضل حق حقاني په خوږې او روانې ژبارې ژباړل سوی دی او ډېر ژر به مینه والو ته وړاندې سي ان شاء الله

خپرونکې اداره

مکتبة القراة و التجوید

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

تفسیر ایوبي حنفي3 ټوک

د نصیراحمد احمدي لـخوا

سکین او pdf سـو.

تاریخ. ۳-۴-۱۳۹۹

واتساپ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

د دعـا محـتـاج احـمـدي!

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner